د علماوو، طلباوو، مقررینو او عامو مسلمانانو لپاره په مختلفو موضوعګانو مدللو

د تقریرونو یوه مُفصّله، مُعتمَده، علمي، او تحقیقي ذخیره!

# اِصلاحي

# مُدلّل تقریرونه

نهم جلد


تالیف:

اَبُو الشّمس مولانا نُور الهُدیٰ عفی عنه

مُدرّس دارالعلوم فیض القرآن اکاخیل کالونی، مردان



زیر اهتمام

کفایت الله ارمانی

0344-9995990

مکتبه اعزازیه محله جنگی پشاور

کابل: 0764857797

د عُلماؤ، طُلباؤ، مُقرِرينو او عامو مسلمانانو د پاره په مختلفو موضوع ګانو باندې

د تقريرونو يوه مُفصّله، مُعتَمَده، عِلمي، او تحقيقي ذَخِيره:

# اِصلاحِيْ مُدَلّلْ تَقرِيرُونه

جلد ۹

تاليف

اَبُوالشَّمس مولانا نُورُالهُدیٰ عُفِيَ عَنهُ

مُدَرِّس دارُالعلوم فيضُ القرآن اکاخيل کالونی، مردان

بِسْمِ اللّٰهِ الرَّحْمٰنِ الرَّحِيْمِ

**د كتاب نوم :** اِصْلَاحِيْ مُدَلَّلْ تَقْرِيْرُوْنه جلد ۹

**مؤلف :** اَبُوالشَّمْس مولانا نُوْرُالْهُدٰی عُفِيَ عَنْهُ

مُدَرِّس دَارُالعلوم فيضُ القُرآن اكاخيل كالونى مر دان

فون نمبر ۰۳۰٦ ۵۴۴۷۱۷۴

**كمپوزر :** مؤلف پخپله

**د چاپ كال :** ۱٤٤٠هـ ق ، ۱۳۹۷هـ ش، مطابق ۲۰۱۸ ء

**مكتبه اعزازيه**

محله جنگي پشاور

**زير اهتمام** كفايت الله ارماني ۰۳٤٤-۹۹۹۵۹۹۰

**نوټ :** د كتاب ټول حقوق د مكتبه اعزازيه سره محفوظ دي

بِسْمِ اللهِ الرَّحْمٰنِ الرَّحِيْمِ

# سریزه ( د نهم جلد )

نَحْمَدُهٗ وَنُصَلِّيْ عَلٰى رَسُوْلِهِ الْكَرِيْمِ ، اَمَّابَعْدُ!

اَلْحَمْدُ لِلّٰهِ ، اَلشُّكْرُ لِلّٰهِ . نهم(۹) جلد هم د الله ﷻ په توفيق سره پوره شو ، په دې کې مې د رمضان المبارک د مياشتې ، د روژو او تراويحو متعلق مختلف تقريرونه د بې شماره مُعتمدو کتابونو نه په ډير کوشش او مِحنت سره راجمع کړي ، او ورسره مې په آخر کې د روژو او تراويحو متعلق ټول ضروري فِقهي مسائل هم ذکر کړي .

**مشوره** : که د جُماتونو اِمامان په رمضان المبارک کې د مازيگر يا بل مانځه نه پس په خپلو جُماتونو کې مقتديانو ته په هره ورځ ددې فِقهي مسائلو نه يو څو مسائل بيانول شروع کړي نو فائده به يې ډيره عامه شي ، ځکه ما په خپله په دې باندې ډيره تجربه کړې ، ډير ښه اثر کوي .

**خوشخبري** : د رمضان المبارک متعلق باقي پاتې تقريرونه او څه نورې آهمې موضوع گانې په لسم جلد کې ذکر دي ، **د لسم (۱۰) جلد مُسَوّده تياره شوې ده اِنْ شَاءَ الله هغه به هم ډير زر را اُووځي ، د الله ﷻ په توفيق سره به دا سلسله همداسې جاري وي** ځکه تر اوسه ډيرې آهمې موضوع گانې د ليکلو نه پاتې دي .

الله تعالى دې دا ټول کتابونه په خپل دربار کې قبول کړي ، د معاشرې د اِصلاح سبب دې اُوگرځوي ، او ربِ کريم دې دا کتابونه زما ، زما د والدينو ، اُستاذانو او ټول اُمتِ مُسلمه د پاره د مغفرت او نِجات ذريعه اوگرځوي . آمِيْن يَارَبَّ الْعَالَمِيْن .

رَبَّنَا تَقَبَّلْ مِنَّا اِنَّكَ اَنْتَ السَّمِيْعُ الْعَلِيْمُ

**ابوالشمس نُورُالهُدٰى عفى عنه**

**نوټ** : که د کتاب متعلق يا بله څه مفيده مشوره وي نو په دې ۵۴۴۷۱۷۴ ۰۳۰۶ نمبر راسره رابطه کولې شئ

بِسۡمِ اللّٰهِ الرَّحۡمٰنِ الرَّحِیۡمِ

# اجمالي فهرست



| نمبرشمار | موضوع | صفحه |
|---|---|---|
| .۱ | سريزه (د نهم جلد) | ت |
| .۲ | ۱. د رمضانُ المبارک د مياشتي فضيلت | ۱ |
| .۳ | ۲. د رمضان المبارک د رُوژو اهميت او بغير عُذره د پريخودو سزاګاني | ۵۴ |
| .۴ | ۳. د رمضانُ المبارک د روژو فضائل، فوائد او حِکمتونه | ۱۱٦ |
| .۵ | ٤. د شل رکعته تراويحو ثبوت او فضائِل | ۱٦٦ |
| .٦ | ۵. د روژې متعلق فِقهي مسائل | ۲۰٦ |
| .۷ | ٦. د تراويحو متعلق ضروري فِقهي مسائل | ۳۲۵ |

بِسۡمِ اللّٰهِ الرَّحۡمٰنِ الرَّحِيۡمِ

# تفصيلي فهرست



| نمبرشمار | موضوع | صفحه |
|---|---|---|
| ۱. | سريزه ( د نهم جلد ) | ت |
| | **۱. د رمضانُ المبارک د مياشتې فضيلت** | ۱ |
| ۲. | د رمضان المبارک د مياشتې فضيلت | ۲ |
| ۳. | رمضان ته د ''رمضان'' ويلو وجه | ۴ |
| ۴. | د ''صَوم'' لغوي او اِصطلاحي معنٰی | ۴ |
| ۵. | د رمضان المبارک د روژو د فرضيت تاريخ | ٦ |
| ٦. | د روژې تعلق د مياشت ليدلو سره دی | ٦ |
| ۷. | خوَنده وَر معلومات | ۷ |
| ۸. | د رمضان المبارک مياشت د نورو مياشتو سَردار ده ده | ۷ |
| ۹. | د شعبان په آخِري ورځ باندې نبي ﷺ د رمضانُ المبارک د اَهميت په باره کې خطبه او فرمايله | ۷ |
| ۱۰. | چې رمضان داخل شي نو د جنت دروازې کلاؤ شي او شيطانان اوتړلې شي | ۱۰ |
| ۱۱. | يو اعتراض او د هغې جواب | ۱۳ |
| ۱۲. | د ملاعلي قاريؒ جواب | ۱۴ |
| ۱۳. | د شاه محمد اسحاق دهلويؒ جواب | ۱۴ |
| ۱۴. | د بعضې علماؤ جواب | ۱۵ |
| ۱۵. | دې اُمت ته د رمضان المبارک د شرافت په وجه پنځه خصوصي شيان ورکړل شوي | ۱۵ |
| ۱٦. | قرآن کريم او نور آسماني کتابونه په رمضانُ المبارک کې نازل شوي | ۱۷ |

| نمبرشمار | موضوع | صفحه |
|---|---|---|
| ۱۷. | د قرآن کريم او نورو کتابونو په نزول کې فرق | ۱۸ |
| ۱۸. | د رمضان او قرآن کريم په خپل مينځ کې نزدې تعلق دی | ۱۹ |
| ۱۹. | نبي عليه السلام به هر کال په رمضان کې د حضرت جبريل عليه السلام د وړاندې قرآن کريم لوستلو | ۲۰ |
| ۲۱. | حضرت جبريل عليه السلام به هر کال د رمضان په مياشت کې نبي عليه السلام ته قرآن کريم لوستلو | ۲۰ |
| ۲۲. | په دواړه قسمه احاديثو کې تطبيق | ۲۱ |
| ۲۳. | رمضانُ المبارک د برکتونو او رَحمتونو مياشت ده | ۲۱ |
| ۲۴. | د رمضان المبارک د برکتونو حاصلولو شرط | ۲۱ |
| ۲۵. | د رمضان په برکت سره د يوولس(۱۱) مياشتو گناهونه معاف کيدل | ۲۲ |
| ۲۶. | د رمضان المبارک د اَدب په وجه مَجُوسي ته اِسلام نصيبه کيدل او مغفرت | ۲۲ |
| ۲۷. | د رمضان مثال | ۲۴ |
| ۲۸. | روژه د نيکو اَعمالو گټلو سِيزَن دی | ۲۵ |
| ۲۹. | په روژه کې د حرامې گټې او دُهوکې نه ځان ساتل په کار دي | ۲۵ |
| ۳۰. | په روژه کې د کنځلو او جګړو کولو نه ځان ساتل په کار دي | ۲۶ |
| ۳۱. | په رمضان کې په نفقه کې فراخي په کار ده | ۲۷ |
| ۳۲. | د رمضان په مياشت کې د روژو فرض کيدو حِکمت | ۲۸ |
| ۳۳. | **روژه دار ته د روژه ماتې د پاره څه ورکولو کې ثواب** | ۳۰ |
| ۳۴. | ۱. د روژه دار په مقدار ثواب ملاويدل | ۳۰ |
| ۳۵. | ۲. د فرښتو او حضرت جبريل عليه السلام دُعا حاصلول | ۳۱ |
| ۳۶. | ۳. درې اِنعامات ملاويدل | ۳۱ |
| ۳۷. | يوه غلط فهمي ختمول | ۳۲ |

| | | |
|---|---|---|
| ۳۸. | **د نمر غورځیدلو نه پس په روژه ماتي کې تادي کول مستحب ده** | ۳۲ |
| ۳۹. | نبي ﷺ به په روژه ماتي کې تادي (جَلتي) کوله | ۳۳ |
| ۴۰. | په روژه ماتي کې تادي کوونکې الله ﷻ ته محبوب دی | ۳۴ |
| ۴۱. | وجوهات : | ۳۴ |
| ۴۲. | په روژه ماتي کې روستو والې کول د یهود او نصارىٰ طریقه ده | ۳۶ |
| ۴۳. | د الله ﷻ او د رسول ﷺ حُکم منل دِین دی | ۳۷ |
| ۴۴. | مسئله | ۳۸ |
| ۴۵. | د رُوژه ماتي په وخت دُعا | ۳۸ |
| ۴۶. | **په قجورو یا اُوبو سره روژه ماتول مستحب ده** | ۴۰ |
| ۴۷. | نبي ﷺ به په قجورو یا اُوبو سره روژه ماتوله | ۴۰ |
| ۴۸. | په قجورو یا اُوبو سره د روژې ماتولو حِکمت | ۴۱ |
| ۴۹. | په قجورو سره د روژې ماتولو سائنسي او طِبي فوائد | ۴۲ |
| ۵۰. | **پیشمنې کول مستحب دی** | ۴۲ |
| ۵۱. | په پیشمني کولو کې برکت دی | ۴۳ |
| ۵۲. | پیشمني کوونکو ته د نبي ﷺ دُعا | ۴۴ |
| ۵۳. | زمونږ او د اهلِ کتابو د روژو په مینځ کې فرق پیشمنې کول دي | ۴۵ |
| ۵۴. | د پیشمني فوائد | ۴۶ |
| ۵۵. | په پیشمني کې قجورې خوړل مستحب دي | ۴۷ |
| ۵۶. | پیشمنې د شپې په آخِري وخت کې کول بهتر دی | ۴۷ |
| ۵۷. | د پیشمني نه روستو اُوده کیدل او د سهر جَمعه پریخودل ، یا مونځ قضاء کول نقصاني دي | ۴۹ |
| ۵۷. | په جَمعې سره د سهَر مونځ کول د ټولې شپې هغه نفلي عبادت نه بهتر دی چې بیا د سهَر جَمعه ورنه پاتې شي | ۵۰ |

| نمبرشمار | موضوع | صفحه |
|---|---|---|
| ۵۸. | مسئله : د پیشمني خوراک بندولو کې اِعتبار د وخت داخلیدو ته دی | ۵۱ |
| ۵۹. | د غونډ تقریر خلاصه | ۵۲ |
| ۶۰. | دُعا | ۵۳ |

## ۳. د رمضان المبارک د رُوژو اَهمیت او بَغیر عُذره د پریخودو سزاګانې


| نمبرشمار | موضوع | صفحه |
|---|---|---|
| | | ۵۴ |
| ۶۱. | د رمضان المبارک د رُوژو حکم | ۵۶ |
| ۶۲. | د روژې فرضیت او ثبوت د قرآن کریم نه | ۵۷ |
| ۶۳. | د آیت تشریح | ۵۷ |
| ۶۴. | روژې په مخکني اُمتونو هم فرض کړې شوې وی | ۵۸ |
| ۶۵. | د روژې په وجه تقوی پیدا کیږي | ۶۱ |
| ۶۶. | روژه د تقوی یوه پُوړی ده | ۶۲ |
| ۶۷. | په روژو فرض کیدلو کې زمونږ فائده ده | ۶۳ |
| ۶۸. | د تقوی اَهمیت | ۶۳ |
| ۶۹. | په رمضان کې تقوی حاصلول آسان دي | ۶۴ |
| ۷۰. | روژه د اسلام په بنیادي اَرکانو کې اَهم رُکن دی | ۶۴ |
| ۷۱. | د اسلام په ټولو احکاماتو باندې عمل کول لازمي دی | ۶۵ |
| ۷۲. | د روژې برابر هیڅ عمل نشته | ۶۶ |
| ۷۳. | روژه بې مِثله او بې رِیا عبادت دی | ۶۷ |
| ۷۴. | د روژې خصوصیت | ۶۷ |
| ۷۵. | د رمضان د راتلو اِنتظار کول | ۶۸ |
| ۷۵. | صحابه کرامو ته د رمضان د راتلو زیرې ورکول | ۶۸ |
| ۷۶. | د رمضان په راتلو یو بل ته مبارکي ورکول | ۶۸ |

| صفحه | موضوع | نمبرشمار |
|---|---|---|
| ٦٩ | د رمضان د راتلو نه مخکې دعا کول | ۷۷. |
| ۷۰ | د رمضان نسبت الله تعالى ته شوى | ۷۸. |
| ۷۰ | **د صحابه کرامو د روژو سره شوق** | ۷۹. |
| ۷۳ | اِطمينان او سکون د الله ﷻ په حُکمونو مَنلو کې دى | ۸۰. |
| ۷۳ | په رمضان کې د عبادت کولو اَجر زيات وي | ۸۱. |
| ۷۳ | په رمضان کې د اَسلافو معمول | ۸۲. |
| ۷۴ | ۱. امام اعظم ابوحنيفه رحمه الله | ۸۳. |
| ۷۵ | ۲. امام شافعي رحمه الله | ۸۴. |
| ۷۵ | ۳. مولانا زکريا رحمه الله | ۸۵. |
| ۷۵ | ۴. د يوې وينځې د عبادت سره شوق | ۸٦. |
| ۷۷ | ۵. په رمضان کې د حضرت رائې پوري رحمه الله معمول | ۸۷. |
| ۷۷ | ٦. په رمضان کې د شيخ الهند ؒ ټوله شپه عبادت کول | ۸۸. |
| ۷۸ | روژه د عباداتو دروازه ده | ۸۹. |
| ۷۹ | د ديرش روژو فرض کيدو حِکمت | ۹۰. |
| ۸۰ | **بَغير عُذره د فرضي روژو خوړلو سزاګاني** | ۹۱. |
| ۸۱ | هر صحت مَند انسان د روژې نيولو طاقت لري | ۹۲. |
| ۸۱ | چې بغَير عُذره د رمضان روژه ماته کړي نو د ټول عُمر نفلي روژو سره ددې ثواب نه راګرځي | ۹۳. |
| ۸۳ | د حضرت جبرائيل عليه السلام خبرې او د نبي ﷺ پرې آمين ويل | ۹۴. |
| ۸۵ | د نبي عليه السلام خبرې (بَد دُعا) | ۹۵. |
| ۸۵ | په روژه کې ګناه کولو سره انسان د روژې د ثواب او برکت نه محرومه کيږي | ۹٦. |
| ۸۷ | په روژه کې ګناه کولو سره بيا د روژې مقصد (تقوٰى) نه حاصليږي | ۹۷. |
| ۸۸ | د روژه دار د پاره د دروغو نه ځان ساتل په کار دي | ۹۸. |

| نمبرشمار | موضوع | صفحه |
|---|---|---|
| ۹۹ | غیبت کول گویا د مړورور مسلمان غوښه خوړل دي | ۹۰ |
| ۱۰۰ | په روژه کې د دوه زنانه وُ د غیبت واقعه | ۹۱ |
| ۱۰۱ | د غیبت ګناه د زنا نه هم سخته ده | ۹۲ |
| ۱۰۲ | د غیبت په وجه په عذاب قبر کې مبتلا کیدل | ۹۳ |
| ۱۰۳ | په روژه کې د ګناه کولو سزا د نورو میاشتو په نسبت ډیره ده | ۹۴ |
| ۱۰۴ | د ځای په بدلیدلو د عبادت اجر زیاتیدو مثال | ۹۴ |
| ۱۰۵ | د ځای په بدلیدلو سره د ګناه سزا زیاتیدو مثال | ۹۵ |
| ۱۰۶ | د وخت په بدلیدو سره د ګناه سزا زیاتیدل | ۹۶ |
| ۱۰۷ | مقصدي ځای | ۹۶ |
| ۱۰۸ | د ګناهونو په وجه د روژې نورانیت ختمیږي | ۹۶ |
| ۱۰۹ | په روژه کې ګناه کوونکي د پاره په قیامت کې سخته سزا | ۹۷ |
| ۱۱۰ | په قیامت کې د رمضان دعویٰ او جګړه | ۹۸ |
| ۱۱۱ | الله ﷻ ته هغه روژه مقبول ده چې د هغې د آدابو لحاظ اوساتلې شي | ۱۰۰ |
| ۱۱۲ | د هر اندام روژه په کار ده | ۱۰۱ |
| ۱۱۳ | د فرښتو د ګناه نه بچ کیدل کمال نه دی | ۱۰۱ |
| ۱۱۴ | د روژې مراتب | ۱۰۳ |
| ۱۱۵ | د روژې آداب | ۱۰۴ |
| ۱۱۶ | د روژې میاشتې د عبادت اثر ټول کال موجود وي | ۱۰۶ |
| ۱۱۷ | په روژه کې انسان د الله ﷻ قرب حاصلولې شي | ۱۰۷ |
| ۱۱۸ | د روژې میاشت غنیمت ګڼړل په کار دي | ۱۰۷ |
| ۱۱۹ | په رمضان کې څنې کارونه په اهتمام سره کول په کار دي | ۱۰۸ |
| ۱۲۰ | نصیحت | ۱۱۰ |
| ۱۲۱ | خلاصه | ۱۱۱ |
| ۱۲۲ | دُعا | ۱۱۱ |
| ۱۲۳ | **د اسلافو د روژو سره مینه** | ۱۱۲ |

| نمبرشمار | موضوع | صفحه |
| --- | --- | --- |
| | **۳. د رمضانُ المبارک د روژو فضائل فوائد او حکمتونه** | ۱۱٦ |
| ۱۲۴ | تمهيدي خبره | ۱۱۷ |
| ۱۲۵ | مسلمان به هر حُکم بغير د چُون و چرا مَني | ۱۱۸ |
| ۱۲٦ | ۱. د روژې په وجه تقوی پيدا کيږي | ۱۱۸ |
| ۱۲۷ | ۲. د روژې په وجه مخکني گناهونه معاف کيږي | ۱۱۹ |
| ۱۲۸ | د الله ﷻ رحمت د بندگانو گناهونو بَخلو د پاره معمولي ذريعه گوري | ۱۲۲ |
| ۱۲۹ | ۳. روژه دار ته الله ﷻ په خپله بې حسابه اجر ورکوي | ۱۲۳ |
| ۱۳۰ | د روژه دار د پاره دوه خوشحالۍ | ۱۲۴ |
| ۱۳۱ | د روژې د فضيلت وجه | ۱۲۴ |
| ۱۳۲ | د علامه طيبي رحمه الله تحقيق | ۱۲۴ |
| ۱۳۳ | د ابن الملک تحقيق | ۱۲۵ |
| ۱۳۴ | روژه هيچا د بتانو د پاره نده نيولې | ۱۲٦ |
| ۱۳۵ | د امام غزالي رحمه الله تحقيق | ۱۲٦ |
| ۱۳٦ | هر کس د خپل طاقت موافق ورکړه کوي | ۱۲۷ |
| ۱۳۷ | ۴. روژه او قرآن کريم به د دې بنده د پاره شفاعت کوي | ۱۲۷ |
| ۱۳۸ | ۵. د روژې په وجه د جهنم د اُور نه نِجات ملاويدل | ۱۲۸ |
| ۱۳۹ | ٦. د روژې په وجه د جهنم نه لرې کيدل | ۱۳۰ |
| ۱۴۰ | ۷. د روژې په وجه جنت ته داخليدل | ۱۳۲ |
| ۱۴۱ | يو اعتراض او د هغې جواب | ۱۳۴ |
| ۱۴۲ | ۸. روژه دار به د قيامت په ورځ د صِدّقينو او شهداؤ سره ملگرې وي | ۱۳۵ |
| ۱۴۳ | ۹. د روژه دار د خُلې بَدبوئي الله ﷻ ته د مشکو نه هم زياته خوَښه ده | ۱۳٦ |
| ۱۴۴ | د قيامت په ورځ د مسلمانانو خاص نَخه | ۱۳۷ |

| | | |
|---|---|---|
| ۱۴۵ | د روژه دار د خُلې بَدبوئي نه کوم بُوئ مراد دی ؟ | ۱۳۸ |
| ۱۴۶ | ۱۰. روژه حفاظتي ډال دی | ۱۳۸ |
| ۱۴۷ | د روژې په وجه انسان د شیطان نه محفوظ کیږي | ۱۴۰ |
| ۱۴۸ | واقعه : د اُوده روژه دار نه د شیطان یَره | ۱۴۰ |
| ۱۴۹ | ۱۱. د روژه دار دُعا قبلیږي | ۱۴۱ |
| ۱۵۰ | هیڅوک مزدور خالي لاس نه واپس کوي | ۱۴۲ |
| ۱۵۱ | د نبي ﷺ په وړنا کې هیڅ شک نشته | ۱۴۲ |
| ۱۵۲ | د روژه ماتي په وخت انسان الله ﷻ ته ډیر مُقرّب وي | ۱۴۲ |
| ۱۵۳ | چې حرام خوراک په خېټه کې وي نو دُعاګانې نه قبلیږي | ۱۴۳ |
| ۱۵۴ | مستجابُ الدّعوات خلقو ته د حجاج بن یوسف دعوت | ۱۴۵ |
| ۱۵۵ | ۱۲. د روژه دار خُوب عبادت دی | ۱۴۵ |
| ۱۵۶ | ۱۳. د روژه دار سره د خوراک حِساب نشته | ۱۴۶ |
| ۱۵۷ | ۱۴. د روژې په وجه صِحت ښه کیدل | ۱۴۶ |
| ۱۵۸ | **د روژې نیولو سائنسي او طِبي فوائد** | ۱۴۸ |
| ۱۵۹ | ۱. د روژې په وجه د انسان په خوراک هضمولو نِظام باندې بهترین اَثر غورځیږي | ۱۴۸ |
| ۱۶۰ | ۲. د روژې په وجه د وِینې جوړولو نِظام بهتر کیږي ، او وِینه پیدا کیږي | ۱۴۸ |
| ۱۶۱ | ۳. د روژې په وجه مِعده د فاسدې مادې نه پاکیږي | ۱۴۹ |
| ۱۶۲ | د روژې متعلق د غیر مسلمو اِقرار | ۱۴۹ |
| ۱۶۳ | د روژې په وجه د یو اَمریکائي غیر مُسلم اِقرار | ۱۴۹ |
| ۱۶۴ | د روژې په باره کې د آکسفورډ یونیورسټی د پروفیسر حیرانتیا او تجرِبه | ۱۵۰ |
| ۱۶۵ | د روژې په باره کې د ډاکټر لوتهر جیم (آف کیمرج) اِقرار | ۱۵۱ |
| ۱۶۶ | د روژې په باره کې د یو ماهِر نفسیات ډاکټر اِقرار | ۱۵۱ |

| نمبرشمار | موضوع | [illegible] |
|---|---|---|
| ۱۶۷ | ۱۵. د قيامت په ورځ د روژه دارو د پاره د عرش د سيوري لاندې دَسترخوان غوړيدل | ۱۵۱ |
| ۱۶۸ | ۱۶. د قيامت په ورځ د روژه دارو اِکرام کول | ۱۵۲ |
| ۱۶۹ | ۱۷. د روژې په حالت کې وفات کيدلو سره د جنت مستحق کيدل | ۱۵۲ |
| ۱۷۰ | ۱۸. په قيامت کې به د روژې ثواب د انسان نه نشي اخيستلی | ۱۵۳ |
| ۱۷۱ | ۱۹. د روژې په وجه په مسلمان کې د همدردۍ جَذبه پيدا کيږي | ۱۵۴ |
| ۱۷۲ | ۲۰. د روژې په وجه د انسان سره د رِزق قدر پيدا کيږي | ۱۵۵ |
| ۱۷۳ | ۲۱. د روژې په وجه بيا ټول کال په دِين باندې عمل کول آسانيږي | ۱۵۵ |
| ۱۷۴ | ۲۲. د روژې په وجه نفسي خواهشات او شهوتونه کنټرول کيږي | ۱۵۶ |
| ۱۷۵ | د روژې نور فوائد او حِکمتونه | ۱۵۷ |
| ۱۷۶ | خلاصه | ۱۶۰ |
| ۱۷۷ | د روژې د فضائلو او حِکمتونو متعلق د يو څو کتابونو عبارتونه | ۱۶۱ |
| | **٤. د شل رکعته تراويحو ثبوت او فضائل** | ۱۶۶ |
| ۱۷۸ | تمهيدي خبره | ۱۶۷ |
| ۱۷۹ | د "تراويح" لغوي او اِصطلاحي معنٰی | ۱۶۸ |
| ۱۸۰ | شل رکعته تراويح کول سنتِ مؤکد دي | ۱۶۸ |
| ۱۸۱ | که د يو ښار ټول خلق تراويح پريږدي نو بادشاه به ورسره جنګ کوي | ۱۷۱ |
| ۱۸۲ | د تراويحو په کولو سره د ګناهونو مغفرت | ۱۷۱ |
| ۱۸۳ | په رمضان کې د مونځ کولو اجر زيات وي | ۱۷۲ |
| ۱۸۴ | د فرائضو سره سره د سُنتو او نوافلو ذخيره هم ضروري ده | ۱۷۳ |
| ۱۸۵ | **د زَر زَر تراويح کولو سزا ګانې** | ۱۷۴ |
| ۱۸۶ | خُوش طبعي | ۱۷۷ |

| نمبرشمار | موضوع | صفحه |
|---|---|---|
| ۱۸۷ | غلط تلاوت کوونکي باندې د قرآن کريم لعنت | ۱۷۷ |
| ۱۸۸ | د تلاوت اَوريدو بې حِسابه اَجر | ۱۷۷ |
| ۱۸۹ | په مانځه کي د تلاوت کولو اَجر زيات وی | ۱۷۸ |
| ۱۹۰ | د اَسلافو معمول | ۱۸۱ |
| ۱۹۲ | په رمضان کي د رسول الله ﷺ طرزِ عمل | ۱۸۱ |
| ۱۹۳ | د غير مُقلدينو فتنه | ۱۸۲ |
| ۱۹۴ | **د شل (۲۰) رکعته تراويحو ثبوت** | ۱۸۳ |
| ۱۹۵ | د نبي عليه السلام تراويح کول | ۱۸۴ |
| ۱۹۶ | حضرت عُمر رضي الله عنه په جَمعه تراويح شروع کړی | ۱۸۵ |
| ۱۹۷ | د خلفائې راشدينو په سُنتو باندې هم عمل کول لازم دی | ۱۸۷ |
| ۱۹۸ | په شل رکعته تراويحو باندې د ټولو صحابه کرامو او د ټول اُمتِ مُسلمه اِتفاق دی | ۱۸۸ |
| ۱۹۹ | په شل رکعته تراويحو باندې پو څو دلائل | ۱۸۸ |
| ۲۰۰ | د امام ترمذي رحمه الله قول | ۱۸۹ |
| ۲۰۱ | د ملا علي قاري رحمه الله قول | ۱۹۰ |
| ۲۰۲ | د علامه بدرالدين عيني رحمه الله قول | ۱۹۰ |
| ۲۰۳ | د شيخ عبدالقادر جيلاني رحمه الله قول | ۱۹۱ |
| ۲۰۴ | د علامه ابنِ تيميه رحمه الله قول | ۱۹۱ |
| ۲۰۵ | نتيجه | ۱۹۲ |
| ۲۰۶ | غير مقلدين شل رکعته تراويحو ته بِدعت وايي | ۱۹۲ |
| ۲۰۷ | د حضرت عمر رضي الله عنه په دورِ خلافت کې شل رکعته تراويح کيدلی | ۱۹۲ |
| ۲۰۸ | د حضرت عثمان رضي الله عنه په زمانه کې شل رکعته تراويح کيدلی | ۱۹۳ |
| ۲۰۹ | د حضرت علي رضي الله عنه په زَمانه کې شل رکعته تراويح کيدلی | ۱۹۳ |

| نمبرشمار | موضوع | صفحه |
|---|---|---|
| ۲۱۰ | جمهور و صحابه کرامو هم شل رکعته تراویح کولی | ۱۹۵ |
| ۲۱۱ | حضرت عبدالله ابن مسعود ﷺ به هم شل رکعته تراویح کولی | ۱۹۶ |
| ۲۱۲ | حضرت أبي بن کعب ﷺ به هم شل رکعته تراویح کولی | ۱۹۶ |
| ۲۱۳ | تابعینو هم شل رکعته تراویح کولی | ۱۹۷ |
| ۲۱۴ | د ائمه اربعهٔ په کتابونو کې هیچرته هم د أته رکعته تراویحو ذکر نشته | ۱۹۷ |
| ۲۱۵ | شل رکعته تراویح په اُمتِ مسلمه کې مسلسل راروانې دي | ۱۹۸ |
| ۲۱۶ | أته (۸) رکعته تراویح د نبي علیه السلام نه ثابتې ندي | ۱۹۸ |
| ۲۱۷ | أته رکعته تراویح کوونکې دوه سُنتونه پرېږدي | ۱۹۹ |
| ۲۱۸ | د غیر مُقلدینو مُغالطې (او دُهوکې) | ۲۰۰ |
| ۲۱۹ | د غیر مقلدینو اوله مُغَالطه | ۲۰۰ |
| ۲۲۰ | جواب | ۲۰۰ |
| ۲۲۱ | که شل رکعته تراویح بِدعت وی نو بیا په دوه څلویښت (۴۲) کاله کې حضرت عائشې رضي الله عنها وربانديې ولې رَد نه کولو ؟ | ۲۰۱ |
| ۲۲۲ | دغیر مقلدینو دویمه مُغَالطه | ۲۰۲ |
| ۲۲۳ | جواب | ۲۰۲ |
| ۲۲۳ | د غیر مقلدینو نه دیو څو خبرو پوښتنه | ۲۰۳ |
| ۲۲۴ | اوله پوښتنه | ۲۰۳ |
| ۲۲۵ | دویمه پوښتنه | ۲۰۴ |
| ۲۲۶ | دریمه پوښتنه | ۲۰۴ |
| ۲۲۷ | د غونډ تقریر خلاصه | ۲۰۴ |
| ۲۲۸ | دُعا | ۲۰۵ |
| | **د روژې متعلق فِقهي مسائل** | ۲۰۶ |
| ۲۲۹ | د ظاهر مذهب موافق اِختلاف د مَطالِعو ته اِعتبار نشته | ۲۰۷ |

| نمبرشمار | موضوع | صفحه |
|---|---|---|
| ۲۳۰ | د شرعي ثبوت نه پس د مخالفت اجازت نشته | ۲۱۱ |
| ۲۳۱ | په روژه او اختر کې د سعودي په اعلان باندې اعتماد کول د علماؤ مَنصب دی، نه د عوامو | ۲۱۲ |
| ۲۳۲ | د يَومُ الشک (يعنی د شَکي روژې) تعريف | ۲۱۳ |
| ۲۳۳ | په يَومُ الشک (شَکي ورځ) د روژې نيولو حُکم | ۲۱۳ |
| ۲۳۴ | د خواصو د پاره د يومُ الشک روژه نيول جائز ده | ۲۱۶ |
| ۲۳۵ | د رمضان د روژو د فرضيت نه مُنکِر کافر دی | ۲۱۷ |
| ۲۳۶ | بغير عُذره روژه خوَړونکې فاسِق دی | ۲۱۷ |
| ۲۳۷ | قصداً روژې خوَړلو سره قضاء او کفاره دواړه لازميږي | ۲۱۹ |
| ۲۳۸ | په روژې پورې توقې کول د کُفر سبب دی | ۲۱۹ |
| ۲۳۹ | د روژې فرض کيدلو د پاره د عُمر حَد | ۲۲۰ |
| ۲۴۰ | **ځنې خلقو ته د عُذر په وجه روژه نه نيول (خوَړل) جائز دي** | ۲۲۱ |
| ۲۴۱ | **(اِجمالي بيان)** | ۲۲۱ |
| ۲۴۲ | **(تفصيلي بيان، سره د دلائلو)** | ۲۲۲ |
| ۲۴۳ | مسافر او مريض ته روژه خوَړل جائز دي | ۲۲۲ |
| ۲۴۴ | که مسافر په سفر کې يا مريض په مريضتيا کې وفات شي | ۲۲۷ |
| ۲۴۵ | کوم ډرائيور چې هميشه په سفر کې وي د هغه د پاره د روژو حکم | ۲۲۸ |
| ۲۴۶ | چې په روژې سره د مرګ، يا آندام ضائع کيدلو، يا مرض زياتيدلو خطره وي | ۲۲۹ |
| ۲۴۷ | روژه خوَړلو کې د عادِل ډاکټر خبره معتبر ده، نه د بې دِينه | ۲۳۰ |
| ۲۴۸ | چې په روژې سره حامِلې يا ماشوم ته خطره وي | ۲۳۱ |
| ۲۴۹ | حائضې او نِفاسې ښځې ته روژه خوَړل جائز دي | ۲۳۳ |
| ۲۵۰ | شيخ فاني ته روژې خوَړل جائز دي | ۲۳۳ |
| ۲۵۱ | **په بعضې صورتونو کې نيولې روژه ماتول جائز دي** | ۲۳۵ |
| ۲۵۲ | **(اِجمالي بيان)** | ۲۳۵ |

| نمبرشمار | موضوع | صفحه |
|---|---|---|
| ۲۵۳ | ( **تفصيلي بيان** ) | ۲۳٦ |
| ۲۵۴ | په اِضطراري حالت کې روژه ماتول ضروري ده | ۲۳٦ |
| ۲۵۵ | د بيمارۍ سختيدو په وخت روژه ماتول | ۲۳۷ |
| ۲۵٦ | نا قابلِ برداشت تکليف په وخت روژه ماتول په کار دي | ۲۳۸ |
| ۲۵۷ | حاملې او ماشوم ته سِينه ورکوونکې ښځې سره چې د ځان يا ماشوم په باره کې سخته خطره پيدا شي | ۲۳۹ |
| ۲۵۸ | چې د ډيرې وَلږې او تندې په وجه د هلاکت يا سخت نقصان خطره وي | ۲۴۰ |
| ۲۵۹ | چې د روژې په نه ماتولو سره د قتل يا سخت نقصان دَهمکي ورکړې شي | ۲۴۰ |
| ۲٦۰ | چې د زَنانه حيض يا نِفاس راشي | ۲۴۲ |
| ۲٦۱ | **په کومو شيانو سره چې روژه نه ماتيږي د هغې بيان** | ۲۴۳ |
| ۲٦۲ | **اِجمالي بيان** | ۲۴۳ |
| ۲٦۳ | **تفصيلي بيان** | ۲۴۷ |
| ۲٦۴ | په هېره خوراک، څکاک او جِماع سره روژه نه ماتيږي | ۲۴۷ |
| ۲٦۵ | چې څوک په ځان کنټرول نه لري د هغه د پاره د بعضې کارونو نه ځان ساتل په کار دي | ۲۴۹ |
| ۲٦٦ | د محبوب کس د لاړو تيرولو حکم | ۲۵۲ |
| ۲٦۷ | خپلې لاړې تيرولو سره روژه نه ماتيږي | ۲۵۲ |
| ۲٦۸ | په روژه کې د گرمۍ يا تَندې په وجه په سَر باندې اُوبه اچول جائز دي | ۲۵۳ |
| ۲٦۹ | د لامبلو په وخت په غوَږ کې اُوبه تللو سره روژه نه ماتيږي | ۲۵۴ |
| ۲۷۰ | د روژه دار د پاره د ورځې په سترگو کې رانجه کول جائز دي | ۲۵۵ |
| ۲۷۱ | په روژه کې هر قِسم مسواک استعمالول جائز دی | ۲۵٦ |
| ۲۷۲ | تازه مسواک | ۲۵۷ |
| ۲۷۳ | چې حَلق ته وِينه لاړه شي ددې حکم | ۲۵۸ |
| ۲۷۴ | په روژه کې د غاښ وِيستلو حکم | ۲۵۹ |

| نمبرشمار | موضوع | صفحه |
|---|---|---|
| ۲۷۵ | روژه دار چې د بیمارۍ په وجه اُلټۍ اوکړي نو په دې روژه نه ماتیږي | ۲۶۰ |
| ۲۷۶ | چې اُلټۍ دوباره تېرې شي ، ددې حکم | ۲۶۱ |
| ۲۷۷ | د ورځې اِحتلام سره روژه نه ماتیږي | ۲۶۲ |
| ۲۷۸ | په سترګو کې دوائي اچولو سره روژه نه ماتیږي | ۲۶۳ |
| ۲۷۹ | د خاوند د سخت مِزاجۍ په وجه په ژبه د خوراک څیز معلومول (څکل) | ۲۶۴ |
| ۲۸۰ | په هر قسمه اِنجکشن لګولو سره روژه نه ماتیږي | ۲۶۵ |
| ۲۸۱ | په روژه کې د ګلوکوز اِنجکشن لګول ، یا ډَراپ خیجول جائز دي | ۲۶۷ |
| ۲۸۲ | په اِنجکشن سره د روژې ماتولو حکم د اصولِ مُسلمهٔ خلاف دی | ۲۶۸ |
| ۲۸۳ | په روژه کې د وِینې ډَراپ خیجول | ۲۶۹ |
| ۲۸۴ | مور د بچي د پاره په خپله خُله کې خوراک ژویلې شي | ۲۶۹ |
| ۲۸۵ | چې بې اِختیاره حَلق ته ماشې ، مَچ ، ګرد او لوګې لاړ شي | ۲۷۰ |
| ۲۸۶ | چې د بَنګو او چَرسو ګرد بې اِختیاره حلق ته لاړ شي | ۲۷۰ |
| ۲۸۷ | خوشبوئي او عطرو بُویولو سره روژه نه ماتیږي | ۲۷۱ |
| ۲۸۸ | په سَر غوَړولو سره روژه نه ماتیږي | ۲۷۲ |
| ۲۸۹ | **په کومو صورتونو کې چې روژه ماتیږي د هغې بیان** | ۲۷۲ |
| ۲۹۰ | په کومو صورتونو کې چې د قضاء سره کفاره هم لازمیږي د هغې بیان | ۲۷۲ |
| ۲۹۱ | د کفارې واجب کیدلو شرائط | ۲۷۳ |
| ۲۹۲ | **هغه صورتونه چې په هغې کې د قضاء سره کفاره هم لازمیږي** | ۲۷۶ |
| ۲۹۳ | د کفارې بیان | ۲۸۰ |
| ۲۹۴ | په مذکوره مسائلو کې د یو څو مسائلو تشریح او تحقیق | ۲۸۰ |
| ۲۹۵ | په رمضان کې قصدًا د روژې نه نیولو حُکم | ۲۸۰ |
| ۲۹۶ | په رمضان کې قصدًا جِماع کولو سره قضاء او کفاره دواړه لازمیږي | ۲۸۱ |
| ۲۹۷ | په روژه کې په زُوره د خپلې ښځې سره د جِماع کولو حُکم | ۲۸۲ |
| ۲۹۸ | په لِواطت کولو سره قضاء او کفاره دواړه لازمیږي | ۲۸۳ |

| نمبرشمار | موضوع | صفحه |
|---|---|---|
| ۲۹۹ | په نسوارو اَچولو سره قضاء او کفاره دواړه لازميږي | ۲۸۳ |
| ۳۰۰ | په سِگريټ څکلو سره قضاء او کفاره دواړه لازميږي | ۲۸۴ |
| ۳۰۱ | **په کومو صورتونو کې چې صرف قضاء لازميږي او کفاره نه لازميږي** | ۲۸۶ |
| ۳۰۲ | په روژه کې مُوتي وهلو سره صرف قضاء لازميږي | ۲۹۳ |
| ۳۰۳ | که د ګربتي لوګي قصدًا راکاږي نو روژه ماتيږي | ۲۹۴ |
| ۳۰۴ | **په کومو شيانو سره چې روژه مکروهه کيږي د هغې بيان** | ۲۹۴ |
| ۳۰۵ | په روژه کې د ټوتهـ پيسټ استعمالولو حُکم | ۲۹۸ |
| ۳۰۶ | **د رمضان المبارک د روژو کفاره** | ۲۹۹ |
| ۳۰۷ | که تسلسل باطل شو نو دوباره به دوه مياشتې روژې نيسي | ۳۰۰ |
| ۳۰۸ | د زَنانه په حيض راتلو سره تسلسل نه باطليږي | ۳۰۱ |
| ۳۰۹ | که د روژو نيولو طاقت يې نه وُ | ۳۰۱ |
| ۳۱۰ | د روټۍ په ځای قيمت ورکول | ۳۰۳ |
| ۳۱۱ | د کفارهٔ صوم اداء کولو آسانه طريقه | ۳۰۳ |
| ۳۱۲ | په کفاره کې که د روژو نيولو طاقت يې وُ نو په خوراک ورکولو سره کفاره نه آداء کيږي | ۳۰۴ |
| ۳۱۳ | د يو رمضان يا د ډيرو رمضانونو د کفارو په مينځ کې تداخُل | ۳۰۴ |
| ۳۱۴ | **د رمضان المبارک د روژو قضاء راوړلو بيان** | ۳۰۶ |
| ۳۱۵ | **د قضاء روژو د پاره مُعين وخت نشته** | ۳۰۶ |
| ۳۱۶ | که مسافر په سفر کې او مريض په مريضتيا کې وفات شي | ۳۰۷ |
| ۳۱۷ | چې قضاء رانه وړي نو د مرګ په وخت د فِديې وصيت لازمي دی | ۳۰۸ |
| ۳۱۸ | چې ډير عُمر يې روژې نه وي نيولی، د هغې د راګرځولو طريقه | ۳۰۹ |
| ۳۱۹ | په قضاء روژو کې تتابع شرط نده | ۳۱۰ |
| ۲۳۰ | **د فِديې بيان** | ۳۱۱ |

| نمبرشمار | موضوع | صفحه |
| --- | --- | --- |
| ۳۳۱ | د فِديې د وُجوب عِلت | ۳۱۱ |
| ۳۲۳ | د فِديې مِقدار | ۳۱۲ |
| ۳۳۳ | ټوله فِديه يو كس ته وركول | ۳۱۲ |
| ۳۳۴ | شيخِ فاني به د روژو په ځاى فِديه وركوي | ۳۱۴ |
| ۳۳۵ | د فِديې وركولو نه پس چې په روژه قدرت حاصل شي | ۳۱۴ |
| ۳۳۶ | فِديه د رمضان په اول او آخر دواړو كې وركولې شي | ۳۱۵ |
| ۳۳۷ | فِديه دِينداره عالِم ته وركول افضل ده | ۳۱۵ |
| ۳۳۸ | فِديه به د ميراث دريمې حصې نه اداء كولې شي | ۳۱۵ |
| ۳۳۹ | كه د فِديې طاقت يې نهٔ نو استغفار به وايي | ۳۱۶ |
| ۳۴۰ | **د رمضان متعلق مُتفرّق فقهي مسائل** | ۳۱۷ |
| ۳۴۱ | د رمضان په مياشت كې د حيض بندولو دوائي استعمالول | ۳۱۷ |
| ۳۴۲ | په رمضان كې د فصل رِيبلو د پاره روژه پريخودل جائز نده | ۳۱۸ |
| ۳۴۳ | چې څوك مونځ نه كوي او روژه نيسي د هغه روژه صحيح ده | ۳۲۰ |
| ۳۴۴ | په رمضان كې د رُوژه ماتي په وجه د ماښام مونځ لږ روستو كول | ۳۲۰ |
| ۳۴۵ | د ماښام د وخت مقدار | ۳۲۱ |
| ۳۴۶ | د رمضان په آخِري جُمعه كې مُروّجه قضاء عُمري كول بدعت ده | ۳۲۲ |
| ۳۴۷ | د رمضان په درويشتمه (۲۳) شپه باندې د سورة عنكبوت او سورة رُوم تخصيص بِدعت دى | ۳۲۲ |
|  | **د تراويحو متعلق ضروري فِقهي مسائل** | ۳۲۵ |
| ۳۴۸ | د تراويحو د جَماعت حُكم | ۳۲۶ |
| ۳۴۸ | په كور كې په جَمعه د تراويحو كولو حُكم | ۳۲۷ |
| ۳۵۰ | تراويح د ماسخوتن د مانځه نه مخكې نه كيږي | ۳۲۸ |
| ۳۵۱ | پاتې شوې تراويح د وِتر واجبو نه پس اداء كول هم صحيح دي | ۳۲۸ |

| نمبرشمار | موضوع | صفحه |
|---|---|---|
| ۳۵۲ | د هر څلور رکعته تراویحو کولو نه پس کیناستل مستحب دي | ۳۲۹ |
| ۳۵۳ | په پیشمني کې د تراویح کولو حکم | ۳۲۹ |
| ۳۵۴ | چې تراویح مکمل فوت شي نو ددې قضاء نشته | ۳۳۰ |
| ۳۵۵ | د ښځې د پاره د تراویحو اِمامت کول مکروه دی | ۳۳۱ |
| ۳۵۶ | په تراویحو کې د نابالغه ماشوم، او مُراهق د اِمامت حُکم | ۳۳۱ |
| ۳۵۷ | د یو کس د پاره په دوه ځایونو کې د تراویحو اِمامت کول ناجائز دی | ۳۲۳ |
| ۳۵۸ | په تراویحو کې یو پیره د قرآن کریم ختم کول سُنت دی | ۳۳۲ |
| ۳۵۹ | په رمضان کې یو قاري ډیر ختمونه کولې شي | ۳۳۳ |
| ۳۶۰ | **خوشخبري** | ۳۳۴ |
| ۳۶۱ | **د تقریر شروع کولو نه مخکې یو څو نورې خطبې** | ۳۳۵ |

بِسْمِ اللّٰهِ الرَّحْمٰنِ الرَّحِيْمِ

﴿ شَهْرُ رَمَضَانَ الَّذِیٓ اُنْزِلَ فِيْهِ الْقُرْاٰنُ هُدًی لِّلنَّاسِ وَ بَيِّنٰتٍ مِّنَ الْهُدٰی وَ الْفُرْقَانِ فَمَنْ شَهِدَ مِنْكُمُ الشَّهْرَ فَلْيَصُمْهُ وَمَنْ كَانَ مَرِيْضًا اَوْ عَلٰی سَفَرٍ فَعِدَّةٌ مِّنْ اَيَّامٍ اُخَرَ﴾ البقرة آية ١٨٥.

# د رمضانُ المبارک د میاشتې فضیلت

**تالیف**


## اَبُو الشَّمْس مولانا نُورُ الْهُدٰی عُفِيَ عَنْهُ

مُدَرِّس دارُالعلوم فیضُ القُرآن اکاخیل کالونی، مردان

بِسْمِ اللّٰهِ الرَّحْمٰنِ الرَّحِيْمِ

# د رمضان المبارک د میاشتې فضیلت

اَلْحَمْدُ لِلّٰهِ رَبِّ الْعَالَمِيْنَ، وَالصَّلاَةُ وَالسَّلاَمُ عَلٰى خَاتَمِ الْأَنْبِيَآءِ وَأَشْرَفِ الْمُرْسَلِيْنَ، وَعَلٰى آلِهٖ وَأَصْحَابِهٖ وَمَنْ تَبِعَهُمْ بِإِحْسَانٍ إِلٰى يَوْمِ الدِّيْنِ.

اَمَّا بَعْدُ فَأَعُوْذُ بِاللّٰهِ مِنَ الشَّيْطٰنِ الرَّجِيْمِ بِسْمِ اللّٰهِ الرَّحْمٰنِ الرَّحِيْمِ. قَالَ اللّٰهُ تَبَارَكَ وَتَعَالٰى فِي الْقُرْآنِ الْمَجِيْدِ وَالْفُرْقَانِ الْحَمِيْدِ:

﴿ شَهْرُ رَمَضَانَ الَّذِيْٓ أُنْزِلَ فِيْهِ الْقُرْاٰنُ هُدًى لِّلنَّاسِ وَ بَيِّنٰتٍ مِّنَ الْهُدٰى وَالْفُرْقَانِ ۚ فَمَنْ شَهِدَ مِنْكُمُ الشَّهْرَ فَلْيَصُمْهُ ۚ وَمَنْ كَانَ مَرِيْضًا اَوْ عَلٰى سَفَرٍ فَعِدَّةٌ مِّنْ اَيَّامٍ اُخَرَ ۚ يُرِيْدُ اللّٰهُ بِكُمُ الْيُسْرَ وَلَا يُرِيْدُ بِكُمُ الْعُسْرَ ۚ وَلِتُكْمِلُوا الْعِدَّةَ وَلِتُكَبِّرُوا اللّٰهَ عَلٰى مَا هَدٰىكُمْ وَلَعَلَّكُمْ تَشْكُرُوْنَ ﴾.(۱)

وَقَالَ رَسُوْلُ اللّٰهِ صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ .... هُوَ شَهْرٌ أَوَّلُهُ رَحْمَةٌ، وَأَوْسَطُهُ مَغْفِرَةٌ، وَآخِرُهُ عِتْقٌ مِنَ النَّارِ. (۲) صَدَقَ اللّٰهُ الْعَظِيْمُ

## د رمضان المبارک د میاشتې فضیلت

زما قابلِ قدر مُعزّزو مسلمانانو ورونو ! د رمضان المبارک میاشت د رحمتونو برکتونو او مغفرت میاشت ده ، د غمخوارۍ او صبر میاشت ده ، د جهنم نه د نِجات موندلو میاشت ده ، په دې میاشت کې د جنت دروازې کلاؤولې شي ، د جهنم دروازې بندولې شي، او سَرکشه شیطانان په کې ترلې شي .

(۱) سورة البقرة آية ۱۸۵ .

(۲) شعب الايمان رقم الحديث ۳۳۳۶ الصيام لفضائل شهر رمضان ، مشكاة المصابيح كتاب الصوم الفصل الثالث رقم الحديث ۱۹۶۵ (۱۰) ، صحيح ابن خزيمة باب فضائل شهر رمضان ... رقم الحديث ۱۸۸۷ ، كنزالعمال رقم الحديث ۲۳۷۱۴ ، ورقم ۲۴۲۷۶ ، معارف الحديث ج۴ ص ۳۴۶ كتاب الصوم .

په دې مياشت کې د روژو په نيولو سره مسلمانانو ته د الله ﷻ قُرْب حاصليږي ، په نفس يې کنټرول پيدا کيږي ، خواهشات يې کمزوري کيږي ، د ګناهونو نه يې نفرت پيدا کيږي ، په عبادت کې ورته لِذت حاصليږي ، په مسکينانو باندې يې رَحم پيدا کيږي ، او په خوراک نه کولو سره انسان د فرښتو مُشابِه ګرځي .

اعتکاف او ليلة القدر هم په دې مياشت کې دي ، مشهور آسماني کتابونه ( تورات ، اِنجيل ، زبور او قرآن مجيد ) هم په همدې مياشت کې نازل شوي .

ددې مياشت نِسبت هم الله ﷻ ته شوی ، ځکه دې مياشت ته " شَهْرُ الله " يعنی د الله مياشت ويل شوی . (۱)

او د کوم شي نِسبت چې الله ﷻ ته اوشي نو د هغې ډير لوي مقام وي ، اګر چې ټولې مياشتې د الله ﷻ دي خو چې په خصوصي طريقې سره ددې مياشتې نسبت الله ﷻ ته اوشو نو ددې نه دا معلوميږي چې دا مياشت د نورو مياشتو په نسبت ډيره بهتره ده ، ځکه په دې مياشت کې د الله رب العزت خاص تَجَلّيات او رحمتونه د تيز باران په شان راوريږي ، چاته چې الله تعالی د بصيرت سترګې ورکړې وي هغه ددې مُشاهده کولې شي ، او ددې د فيوضاتو او برکاتو نه استفاده کولې شي ، البته چې د چا د زړه سترګې ړَندې وي هغه د خپل ړُوند باطن په وجه ددې تَجَلّياتو نه محرومه پاتې کيږي .

دا باقي يوولس (۱۱) مياشتې د رمضان المبارک ددې يوې مياشتې مقابله نشي کولی ، ځکه په دې مياشت کې د الله ﷻ د رَحمتونو او برکتونو دريابونه بهيږي .

نبي عليه السلام فرمايي :

لَوْ يَعْلَمُ الْعِبَادُ مَا رَمَضَانَ لَتَمَنَّتْ أُمَّتِيْ أَنْ تَكُوْنَ السَّنَةُ كُلُّهَا . (۲)

که چيرته دا خلق په دې پوهيدی چې د رمضان په مياشت کې څومره اَنوارات او برکتونه

---

(۱) په حديث کې ذکر دي : شَهْرُ رَمَضَان شَهْرُ اللهِ ... د رمضان مياشت د الله ﷻ مياشت ده . ابن عساكر عن عائشة ، كنزالعمال رقم الحديث ۲۳٦۸۵ كتاب الصوم من قسم الأقوال الفصل الثاني في فضل صوم شهر رمضان .

(۲) مرقاة المفاتيح ج۴ ص ۱۳۷۱ في تشريح حديث ۱۹٦۸ ، شعب الايمان رقم الحديث ۳۳٦۱ ، صحيح ابن خزيمة رقم الحديث ۱۸۸٦ ، كنزالعمال رقم الحديث ۳۲۷۱۵ .

دي نو زما اُمت به دا آرزو کړي وه چې ټول کال دي رمضان وی .

## رمضان ته د ”رمضان“ ویلو وجه

دې میاشتې ته په عربۍ کې ” رمضان “ وایي ، ځکه رمضان د ” رمض “ نه مشتق دی ، او د رمض ډیرې معاني دي خو یوه معنی یې ”سوزول “ هم ده ، دا میاشت هم د مسلمانانو ګناهونه سوزوي او ختموي ، خو شرط دا دی چې مسلمانان د دې میاشتې روژې اونیسي او د دې احترام اوکړي . (۱)

## د ”صَوم“ لغوي او اِصطلاحي معنیٰ

روژې ته په عربۍ کې ” صَوْم “ وایي ، د دې لغوي معنی ده ”اِمْسَاک “ یعنی مطلقًا منع کیدل . (۲)

او د شریعت په اصلاح کې د صَوم (یعنی روژې) تعریف دا دی :

هُوَ الْإِمْسَاكُ عَنِ الْأَكْلِ وَالشُّرْبِ وَالْجِمَاعِ وَسَائِرِ الْمُفْطِرَاتِ يَوْمًا كَامِلًا بِنِيَّةِ الصِّيَامِ مِنْ طُلُوْعِ الْفَجْرِ الصَّادِقِ إِلٰى غُرُوْبِ الشَّمْسِ. (۳)

د صُبح صادق نه تر د نمر پریوتلو پورې پوره ورځ د روژې په نیت باندې د خوراک ، څکاک ، جِماع او نورو مُفطراتو نه منع کیدل .

---

(۱) سمّي ”رمضان“ لانّه یرمض الذنوب اي یمحوها . الروض الفائق في المواعظ والرقائق ص ۳۷ المجلس الخامس في فضل شهر رمضان وقيامه .

(۲) الصوم لغة: مصدر صام يصوم صوما وصياما، مأخوذ من مادّة (ص وم) الّتي تدلّ على « إمساك و ركود في مكان » من ذلك صوم الصّائم، وهو إمساكه عن مطعمه ومشربه وسائر ما منعه، ويكون الإمساك عن الكلام صوما. قال أهل اللّغة في قوله تعالى: إِنِّي نَذَرْتُ لِلرَّحْمٰنِ صَوْماً (مريم/ ۲۶) : إنّه الإمساك عن الكلام أي الصّمت، وأمّا الرّكود فيقال للقائم صائم. والصّوم أيضا: ركود الرّيح، والصّوم: استواء الشّمس انتصاف النّهار كأنّها ركدت عند تدويمها ، وكذلك يقال صام النّهار. وقال ابن منظور: الصّوم ترك الطّعام والشّراب والنّكاح والكلام. نضرة النعيم في مكارم اخلاق الرسول الكريم صلى الله عليه وسلم ۷ / ۲۶۴۵ الصوم .

(۳) نضرة النعيم ۷ / ۲۶۴۵ الصوم .

چا د روژې اصطلاحي تعريف داسې کړی:

هُوَ إِمْسَاكٌ مَخْصُوصٌ فِيْ زَمَنٍ مَخْصُوصٍ بِشَرَائِطَ مَخْصُوصَةٍ. (۱)

په مخصوص وخت کې، په مخصوصو شرائطو سره، د مخصوصو شيانو نه بنديدلو ته روژه وايي.

مفسّرينو هم د روژې تعريفونه په مختلف انداز باندې کړي. (۲)

---

(۱) نضرة النعيم ۷ / ۲۶۴۵ الصوم. / وقال الجرجاني: اَلصَّوم في الشّرع عبارة عن إمساك مخصوص وهو الإمساك عن الأكل والشّرب والجماع من الصّبح إلى المغرب مع النّية. مختصر منهاج القاصدين (ص ۴۴)، والتعريفات للجرجاني (۱۴۱)، وانظر في شرح هذا التعريف الأخير كشاف اصطلاحات الفنون (۴/ ۲۶۹).

**اکثرو فقهاؤ** د روژې تعريف داسې کړی: اَلصَّوْمُ عِبَارَةٌ عَنْ تَرْكِ الْأَكْلِ وَالشُّرْبِ وَالْجِمَاعِ مِنَ الصُّبْحِ إِلَى غُرُوبِ الشَّمْسِ بِنِيَّةِ التَّقَرُّبِ إِلَى اللّٰهِ. الفتاوى الهندية ۱ / ۱۹۴ كِتَابُ الصَّوْمِ اَلْبَابُ الْأَوَّلُ فِي تَعْرِيفِهِ وَتَقْسِيمِهِ... مراقي الفلاح مع حاشية الطحطاوي كتاب الصوم ص ۵۲۱.

(۲) **د يو څو تفاسيرو نه درته د روژې لغوي او اصطلاحي تعريف رانقل کوم:**

په **تفسير مظهري** کې ذکر دي: الصّوم في اللغة الإمساك ... وفي الشرع عبارة عن الإمساك عن الاكل والشرب والجماع مع النية في وقت مخصوص. التفسير المظهري ۱ / ۱۸۸ سورة البقرة آية ۱۸۳.

په **تفسير قرطبي** کې ذکر دي: اَلصَّوْمُ فِي الشَّرْعِ: اَلْإِمْسَاكُ عَنِ الْمُفْطِرَاتِ مَعَ اقْتِرَانِ النِّيَّةِ بِهِ مِنْ طُلُوعِ الْفَجْرِ إِلَى غُرُوبِ الشَّمْسِ. وَتَمَامُهُ وَكَمَالُهُ بِاجْتِنَابِ الْمَحْظُورَاتِ وَعَدَمِ الْوُقُوعِ فِي الْمُحَرَّمَاتِ. تفسير القرطبي ۲ /۲۷۳ سورة البقرة آية ۱۸۳.

په **تفسير ابن كثير** کې ذکر دي: وَهُوَ: اَلْإِمْسَاكُ عَنِ الطَّعَامِ وَالشَّرَابِ وَالْوِقَاعِ بِنِيَّةٍ خَالِصَةٍ لِلّٰهِ عَزَّ وَجَلَّ. تفسير ابن كثير ۱/ ۴۹۷ سورة البقرة آية ۱۸۳.

په **تفسير روح المعاني** کې ذکر دي: وهو لغة الإمساك... وشرعا إمساك عن أشياء مخصوصة على وجه مخصوص في زمان مخصوص ممن هو على صفات مخصوصة. تفسير روح المعاني ۱/۴۵۳ البقرة آية ۱۸۳.

په **تفسير كبير** کې ذکر دي: اِعْلَمْ أَنَّ الصِّيَامَ مَصْدَرُ صَامَ كَالْقِيَامِ، وَأَصْلُهُ فِي اللُّغَةِ الْإِمْسَاكُ عَنِ الشَّيْءِ وَالتَّرْكُ لَهُ. وَفِي الشَّرِيعَةِ هُوَ الْإِمْسَاكُ مِنْ طُلُوعِ الْفَجْرِ إِلَى غُرُوبِ الشَّمْسِ عَنِ الْمُفْطِرَاتِ حَالَ الْعِلْمِ بِكَوْنِهِ صَائِمًا مَعَ اقْتِرَانِ النِّيَّةِ. مفاتيح الغيب (التفسير الكبير) ۵/۲۳۹ البقرة آية ۱۸۳.

## د رمضان المبارک د روژو د فرضيت تاريخ

د هجرت نه اتلس (۱۸) مياشتې (يعنی يو نيم کال) پس د شعبان په مياشت کې د تَحويلِ قبله (يعنی قبله بدليدو) نه لس (۱۰) ورځې پس د رمضانُ المبارک روژې فرض شوي.

د بعضو علماؤ په نزد باندې د رمضان المبارک د روژو نه مخکې نورې هيڅ روژې فرض نه وې، او بعضې علماء وايي چې ددې نه مخکې د عاشورې او اَيّامِ بيض روژې فرض وې. خو د رمضان المبارک د روژو په فرضيت سره ددې نورو روژو فرضيت منسوخ شو.

اګر چې د رمضان المبارک روژو د فرضيت په ابتدائي ورځو کې بعضې احکامات ډير سخت وو: مثلًا د ماښام نه پس د اُوده کيدلو نه مخکې د خوراک اجازت ؤ خو د اُوده کيدلو نه پس به د خوراک څکاک اجازت بالکل نه ؤ، همدا رنګې د رمضان المبارک په مياشت کې به د شپې هم سړي ته دنفسي خواهِش پوره کولو (يعنی جِماع کولو) اجازت نه ؤ. دا اَحکام مسلمانانو ته سخت وو نو منسوخ کړې شو، اوس ددې اجازت شته. (۱)

## د روژې تعلق د مياشت ليدلو سره دی

د روژې تعلق د سپوږمۍ سره دی، د شمسي نظام سره نه دی، او الله رب العزت د روژې تعلق د مياشت سره ځکه اوتړلو چې زمونږ دا دِين د ټول عالَم د پاره دی، د سپوږمۍ راختلو پته هر چاته لږي، هر څوک يې ګوري، ددې د پاره د کالج يا يونيورسټو د تعليم ضرورت نشته، په دې کې د ښار او باندو خلق يو شان برابر دي.

بهر حال د روژې تعلق د مياشت سره دی، دغه وجه ده چې د رمضان روژې مختلف موسمونو ته بدليږي، کله روژه په اُوړي کې راځي او کله په ژمي کې. ځکه د سپوږمۍ واله کال کې هر کال کې لس ورځې او شپږ ګِهنټې فرق راځي، د نمر ديرش (۳۰) کاله د

---

(۱) مظاهر حق ج۳ ص ۴۴۲ کتاب الصوم.

ملا علي قاري رحمه الله ليکلي: ثُمَّ كَانَتْ فَرْضِيَّةُ صَوْمِ رَمَضَانَ بَعْدَمَا صُرِفَتِ الْقِبْلَةُ إِلَى الْكَعْبَةِ بِشَهْرٍ فِي شَعْبَانَ عَلَى رَأْسِ ثَمَانِيَةَ عَشَرَ شَهْرًا مِنَ الْهِجْرَةِ. كَذَا ذَكَرَهُ الشُّمُنِّيُّ، وَقِيلَ: لَمْ يُفْرَضْ قَبْلَهُ صَوْمٌ، وَقِيلَ: كَانَ ثُمَّ نُسِخَ، فَقِيلَ: عَاشُورَاءُ، وَقِيلَ: الْأَيَّامُ الْبِيضُ ... وَلَمَّا فُرِضَ كَانَ يُبَاحُ بَعْدَ الْغُرُوبِ تَعَاطِي الْمُفْطِرِ مَا لَمْ يَحْصُلْ نَوْمٌ أَوْ يَدْخُلْ وَقْتُ الْعِشَاءِ، وَإِلَّا حُرِّمَ ثُمَّ نُسِخَ ذَلِكَ، وَأُبِيحَ تَعَاطِيهِ إِلَى طُلُوعِ الْفَجْرِ. مرقاة ۴/ ۱۳۶۰ کتاب الصوم.

سپوږمۍ یو دیرش (۳۱) کاله جوړیږي ، نو په دیرش کالو کې یو کال اوړي . مثلاً چې اوس روژه په اوړي کې وي نو دیرش کاله پس به دا بیا په اوړي کې راځي .

نو که چیرته روژه په شمسي کال باندې وی نو په دې کې خو تبدیلي نه راځي ، مثلاً که روژه د اوړي په میاشت کې وی نو بیا به تول عُمر په اوړي کې وی ، او که د ژمي په میاشت کې وی نو بیا به تول عُمر په ژمي کې راتلی چې دا به د مسلمانانو د پاره سخته گرانه وی ، نو الله تعالی د روژې تعلق د سپوږمۍ سره اوتړلو چې هر کس یې په آسانه معلومولې شي ، او مختلفو موسمونو ته په بدلیدو سره مسلمانانو ته آساني هم وي .

**خوندہ وَر معلومات** : نمَر د زمکې نه دیارلس لاکهه (۱۳۰۰۰۰۰) چنده غټ دی ، او دا د زمکې نه نهه کروړه درې دیرش لاکهه (۹۳۳۰۰۰۰۰) مِیله لرې دی .

او سپوږمۍ د زمکې په شپږمه (٦) حصه ده ، دا د زمکې نه دوه لاکهه او نهه ویشت زره (۲۲۹۰۰۰) مِیله لرې ده . دا دومره لوي نظام صرف او صرف الله ﷻ چلوي . (۱)

# د رمضان المبارک میاشت د نورو میاشتو سَرداره ده

حضرت عبد الله بن مسعود رضي الله عنه فرمایي :

سَیِّدُ الشُّهُوْرِ شَهْرُ رَمَضَانَ، وَسَیِّدُ الْأَیَّامِ الْجُمُعَةُ . (۲)

د ټولو میاشتو سَرداره د رمضان میاشت ده ، او د ټولو ورځو سرداره د جُمعې ورځ ده .

# د شعبان په آخري ورځ باندې نبي ﷺ د رمضانُ المبارک د اَهمیت په باره کې خطبه اُوفرمایله

حضرت سلمان فارسي رضي الله عنه فرمایي :

خَطَبَنَا رَسُوْلُ اللهِ صَلَّی اللهُ عَلَیْهِ وَسَلَّمَ فِيْ آخِرِ یَوْمٍ مِنْ شَعْبَانَ . فَقَالَ : "یَآ أَیُّهَا النَّاسُ قَدْ أَظَلَّکُمْ شَهْرٌ عَظِیْمٌ، شَهْرٌ مُبَارَكٌ ، شَهْرٌ فِیْهِ لَیْلَةٌ خَیْرٌ مِنْ أَلْفِ شَهْرٍ ، جَعَلَ اللهُ صِیَامَهُ فَرِیْضَةً،

(۱) خطبات حضرت شیخ ( شیخ الحدیث حضرت مولانا محمد حسن جاني مدني شهید نوّر الله مرقده ) .

(۲) شعب الایمان رقم الحدیث ۳۳٦۵ الصیام فضائل شهر رمضان ، فضائل رمضان لابن ابي الدنیا رقم الحدیث ۳۳ ، فضائل شهر رمضان لعبد الغني المقدسي رقم الحدیث ۳۴ .

وَقِيَامَ لَيْلِهٖ تَطَوُّعًا، مَنْ تَقَرَّبَ فِيْهِ بِخَصْلَةٍ مِنَ الْخَيْرِ كَانَ كَمَنْ أَدّٰى فَرِيْضَةً فِيْمَا سِوَاهُ، وَمَنْ أَدّٰى فَرِيْضَةً فِيْهِ كَانَ كَمَنْ أَدّٰى سَبْعِيْنَ فَرِيْضَةً فِيْمَا سِوَاهُ، وَهُوَ شَهْرُ الصَّبْرِ، وَالصَّبْرُ ثَوَابُهُ الْجَنَّةُ، وَشَهْرُ الْمُوَاسَاةِ، وَشَهْرٌ يُزَادُ فِيْ رِزْقِ الْمُؤْمِنِ، مَنْ فَطَّرَ فِيْهِ صَائِمًا كَانَ لَهُ مَغْفِرَةً لِذُنُوْبِهٖ وَعِتْقَ رَقَبَتِهٖ مِنَ النَّارِ، وَكَانَ لَهُ مِثْلُ أَجْرِهٖ مِنْ غَيْرِ أَنْ يُنْقَصَ مِنْ أَجْرِهٖ شَيْءٌ" قُلْنَا: يَا رَسُوْلَ اللّٰهِ! لَيْسَ كُلُّنَا يَجِدُ مَا يُفْطِرُ الصَّائِمَ. فَقَالَ رَسُوْلُ اللّٰهِ صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ: "يُعْطِي اللّٰهُ هٰذَا الثَّوَابَ مَنْ فَطَّرَ صَائِمًا عَلٰى مَذْقَةِ لَبَنٍ أَوْ تَمْرَةٍ أَوْ شَرْبَةٍ مِنْ مَاءٍ، وَمَنْ أَشْبَعَ صَائِمًا سَقَاهُ اللّٰهُ مِنْ حَوْضِيْ شَرْبَةً لَا يَظْمَأُ حَتّٰى يَدْخُلَ الْجَنَّةَ، وَهُوَ شَهْرٌ أَوَّلُهُ رَحْمَةٌ، وَأَوْسَطُهُ مَغْفِرَةٌ، وَآخِرُهُ عِتْقٌ مِنَ النَّارِ. مَنْ خَفَّفَ عَنْ مَمْلُوْكِهٖ فِيْهِ غَفَرَ اللّٰهُ لَهُ وَأَعْتَقَهُ مِنَ النَّارِ. (۱)

رسولُ الله صلى الله عليه وسلم مونږ ته د شعبان په آخري ورځ باندي دا خطبه وويله : اي خلقو ! په تاسو باندي يوې عظيمې مياشتې سورې کړې دی ( يعنی د رمضان المبارک مياشت درباندې راتلونکي ده ) ، دا ډيره برکت ناکه مياشت ده ، په دې کې يوه شپه ( د ليلة القدر ) ده چې هغه د زرو (۱۰۰۰) مياشتو نه ډيره بهتره ده ، الله تعالى د دې مياشتې روژې فرض کړي دي ، او د دې په شپو کې يې قِيام ( يعنی د تراويحو د پاره اُودريدل يې ) نفل ( يعنی د فرضو نه لږ کم ) ګرځولي دي (۲)

مَنْ تَقَرَّبَ فِيْهِ بِخَصْلَةٍ مِنَ الْخَيْرِ كَانَ كَمَنْ أَدّٰى فَرِيْضَةً فِيْمَا سِوَاهُ، وَمَنْ أَدّٰى فَرِيْضَةً فِيْهِ كَانَ كَمَنْ أَدّٰى سَبْعِيْنَ فَرِيْضَةً فِيْمَا سِوَاهُ.

څوک چې د رمضان په دې مياشت کې د الله ﷻ د رَضا او قُرب حاصلولو د پاره نفلي عبادت اوکړي نو دا ذ هغه کس په شان دی چې هغه په نورو مياشتو کې فرض اداء کړي ( يعنی په دې مياشت کې د نفلو ثواب په نورو مياشتو کې د فرضو د ثواب برابر دی ) ، او

---

(۱) شعب الايمان الصيام لفضائل شهر رمضان رقم الحديث ۳۳۳۶ ، مشكاة المصابيح كتاب الصوم الفصل الثالث رقم الحديث ۱۹۶۵ (۱۰) ، صحيح ابن خزيمة باب فضائل شهر رمضان ... رقم الحديث ۱۸۸۷ ، كنز العمال رقم الحديث ۲۳۷۱۴ ، و رقم ۲۴۲۷۶ ، معارف الحديث ج۴ ص ۳۴۶ كتاب الصوم.

(۲) ځکه تراويح سُنتِ مؤکده دي . د دې تفصيل روستو د تراويحو په موضوع کې را روان دی .

څوک چې په دې مياشت کې يو ( بدني يا مالي ) فرض اداء کړي نو دا د هغه کس په شان دی چې هغه په نورو مياشتو کې اويا ( ۷۰ ) فرض اداء کړي وي ( يعنی په دې مياشت کې د يو فرض ثواب د نورو مياشتو د اَويا فرضو برابر دی ) .

دا د صبر مياشت ده ( ځکه روژه دار په کې د خوراک ، څکاک او نفسي خواهشاتو نه ځان منع کوي ) او د صبر بدله جنت دی ، دا د همدردۍ ( او غمخوارۍ ) مياشت ده ( نو په دې کې د فقيرانو سره احسان کوئ ) ، دا داسې مياشت ده چې په دې کې د مؤمن زياتيږي .

مَنْ فَطَّرَ فِيْهِ صَائِمًا كَانَ لَهُ مَغْفِرَةً لِذُنُوبِهِ، وَعِتْقَ رَقَبَتِهِ مِنَ النَّارِ، وَكَانَ لَهُ مِثْلُ أَجْرِهِ مِنْ غَيْرِ أَنْ يُنْقَصَ مِنْ أَجْرِهِ شَيْءٌ .

څوک په دې مياشت کې ( د الله ﷻ د رَضا د پاره ) په يو روژه دار باندې روژه ماتې اُوخوروي نو دا به ده د پاره د ګناهونو د مغفرت او د جهنم نه د آزاديدو ذريعه اوګرځي ، او ده ته به د روژه دار هومره ثواب حاصليږي خو د روژه دار په ثواب کې به هيڅ کمې نشي کولی .

صحابه کرام فرمايي چې مونږ نبي عليه السلام ته عرض وکړو : اې د الله رسوله ! په مونږ کې خو هر کس دا قدرت نه لري چې په روژه دار باندې روژه ماتې اُوخوري ( نو آيا دا غريبانان به د دې عظيم ثواب نه محروم وي ؟ ) رسول الله صلی الله عليه وسلم وفرمايل : الله تعالی دا ثواب هغه چا ته هم ورکوي چې هغه په روژه دار باندې د شودو په يو ګوټ ( معمولي لسَۍ ) يا صرف په اُوبو باندې روژه ماتې اوکړي ، او کوم کس چې په روژه دار باندې په مړه خېټه خوراک اوکړي :

سَقَاهُ اللهُ مِنْ حَوْضِيْ شَرْبَةً لَا يَظْمَأُ حَتّٰى يَدْخُلَ الْجَنَّةَ .

الله تعالی به ده له زما په حوضِ کوثر باندې داسې سېراب ( موړ ) کړي چې د دېنه پس به دې هيڅ کله نه تږې کيږي تر دې پورې چې دې جنت ته داخل شي .

وَهُوَ شَهْرٌ أَوَّلُهُ رَحْمَةٌ، وَأَوْسَطُهُ مَغْفِرَةٌ، وَآخِرُهُ عِتْقٌ مِنَ النَّارِ .

دا داسې مياشت ده چې د دې اِبتدائي حصه ( د مسلمانانو د پاره ) رحمت دی ، مينځنۍ حصه يې مغفرت دی ، او آخِري حصه يې د جهنم نه د آزادۍ ده .

او څوک چې په دې مياشت کې د خپل غلام او خادِم نه بُوج سپک کړي (يعنی د هغه په کار کې تخفيف راولي) نو الله تعالى به د ده مغفرت اوکړي او د جهنم د اُور نه به ورته نجات ورکړي.

## چې رمضان داخل شي نو د جنت دروازې کلاؤ شي او شيطانان اوتړلې شي

۱ . د بخاري شريف حديث دی، رسول الله صلى الله عليه وسلم فرمايي:

إِذَا دَخَلَ رَمَضَانُ فُتِّحَتْ أَبْوَابُ الْجَنَّةِ، وَغُلِّقَتْ أَبْوَابُ جَهَنَّمَ، وَسُلْسِلَتِ الشَّيَاطِيْنُ. (۱)

چې کله رمضان داخل شي نو د جنت دروازې کلاؤ کړې شي، د جهنم د روازې بندې کړې شي، او شيطانان په زنځيرونو کې اُوتړلې شي. (۲)

۲ . د ترمذي شريف په حديث کې د دې سره نوره اِضافه هم ذکر ده، رسول الله صلى الله عليه وسلم فرمايي:

إِذَا كَانَ أَوَّلُ لَيْلَةٍ مِنْ شَهْرِ رَمَضَانَ صُفِّدَتِ الشَّيَاطِيْنُ، وَمَرَدَةُ الْجِنِّ، وَغُلِّقَتْ أَبْوَابُ النَّارِ، فَلَمْ يُفْتَحْ مِنْهَا بَابٌ، وَفُتِّحَتْ أَبْوَابُ الْجَنَّةِ، فَلَمْ يُغْلَقْ مِنْهَا بَابٌ، وَيُنَادِيْ مُنَادٍ: يَا بَاغِيَ الْخَيْرِ أَقْبِلْ، وَيَا بَاغِيَ الشَّرِّ أَقْصِرْ، وَلِلّٰهِ عُتَقَاءُ مِنَ النَّارِ، وَذٰلِكَ كُلُّ لَيْلَةٍ. (۳)

---

(۱) صحيح البخاري رقم الحديث ۳۲۷۷ كِتَابُ بَدْءِ الْخَلْقِ بَابُ صِفَةِ إِبْلِيْسَ وَجُنُوْدِهِ.

و في رواية: قَالَ رَسُوْلُ اللهِ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ: إِذَا دَخَلَ شَهْرُ رَمَضَانَ فُتِّحَتْ أَبْوَابُ السَّمَاءِ، وَغُلِّقَتْ أَبْوَابُ جَهَنَّمَ، وَسُلْسِلَتِ الشَّيَاطِيْنُ. صحيح البخاري رقم الحديث ۱۸۹۹ كِتَابُ الصَّوْمِ.

(۲) په مسلم شريف کې دا حديث په دې الفاظو ذکر دی، رسول الله صلى الله عليه وسلم فرمايي: إِذَا جَاءَ رَمَضَانُ فُتِّحَتْ أَبْوَابُ الْجَنَّةِ، وَغُلِّقَتْ أَبْوَابُ النَّارِ، وَصُفِّدَتِ الشَّيَاطِيْنُ. صحيح مسلم رقم الحديث ۱۰۷۹ كِتَابُ الصِّيَامِ بَابُ فَضْلِ شَهْرِ رَمَضَانَ. چې کله رمضان راشي نو د جنت دروازې کلاؤ کړې شي، د جهنم دروازې بندې کړې شي، او شيطانان په زنځيرونو کې اوتړلې شي.

(۳) إسناده قوي. رجاله ثقات. سنن الترمذي أَبْوَابُ الصَّوْمِ عَنْ رَسُوْلِ اللهِ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ بَابُ مَا جَاءَ فِيْ فَضْلِ شَهْرِ رَمَضَانَ رقم الحديث ۶۸۲، صحيح ابن حبان محققا، شعب الايمان رقم الحديث ۳۳۲۷، مشكاة المصابيح كتاب الصوم الفصل الثاني رقم الحديث ۱۹۶۰ (۵).

چې کله د رمضان المبارک اوله شپه راشي نو شيطانان او سرکشه جِنّات اُوتړلې شي ، د جهنم دروازې بَندې کړې شي په دې کې يوه دروازه هم نشي کلاوُولی ، د جنت دروازې کلاوُ کړې شي په دې کې يوه دروازه هم نشي بندولی ، يوه اعلان کوونکې فرښته دا اعلان کوي : يَا بَاغِيَ الْخَيْرِ ! أَقْبِلْ . وَيَا بَاغِيَ الشَّرِّ ! أَقْصِرْ .

اې د نېکۍ ( او ثواب ) طلب ګاره ! راوړاندې شه ( الله ﷻ طرف ته متوجِّه شه ) ، او اې د بَدۍ اِراده کوونکيه ! د بدۍ نه منع شه .

ځکه الله رب العزت ( ددې مياشتې د برکته ) ډير خلق د جهنم د اُور نه آزادوي ، او دا اعلان د رمضان په هره شپه باندې کيږي .

۳ . د مشکوة شريف حديث دی ، رسول الله ﷺ صحابه کرامو ته وفرمايل :

أَتَاكُمْ رَمَضَانُ شَهْرٌ مُبَارَكٌ فَرَضَ اللهُ عَلَيْكُمْ صِيَامَهُ تُفْتَحُ فِيهِ أَبْوَابُ السَّمَاءِ وَتُغْلَقُ فِيهِ أَبْوَابُ الْجَحِيمِ وَتُغَلُّ فِيهِ مَرَدَةُ الشَّيَاطِينِ لِلّٰهِ فِيهِ لَيْلَةٌ خَيْرٌ مِنْ أَلْفِ شَهْرٍ مَنْ حُرِمَ خَيْرَهَا فَقَدْ حُرِمَ . (۱)

په تاسو باندې د رمضان المبارک مياشت راغله دا ډيره برکت ناکه مياشت ده ، الله تعالی په تاسو باندې ددې روژې فرض کړي دي ، په دې مياشت کې د آسمان دروازې کلاوُولې شي ، د جهنم دروازې بندولې شي ، او سرکشه شيطانانو ته په کې طوق اچولې شي (يعنی قيد کولې شي) ، په دې کې يوه شپه ( د ليلة القدر ) ده چې هغه د ( د ثواب په اعتبار سره د ) زرو مياشتو نه بهتره ده (۲) څوک چې ددې شپې د خير نه محرومه شو هغه د هر خير نه محرومه شو .

---

(۱) مشكاة المصابيح كتاب الصوم الفصل الثالث رقم الحديث ۱۹۶۲(۷) ، ورواه احمد ، والنسائي رقم الحديث ۲۱۰۶، وقال الالباني : هذا حديث صحيح .

(۲) يعنی د ليلة القدر په شپه عبادت کوونکي ته د زرو (۱۰۰۰) مياشتو د عبادت نه ډير ثواب ملاويږي ، الله تعالی فرمايي : لَيْلَةُ الْقَدْرِ خَيْرٌ مِّنْ أَلْفِ شَهْرٍ . سورة القدر آية ۳ . ترجمه : ليلة القدر د زرو مياشتو نه ډيره بهتره ده . (نوټ : د ليلة القدر تفصيلي بحث روستو راروان دی . ابوالشمس علي عنه)

**د بخاري شريف د حديث تشريح** : د بخاري شريف د حديث تشريح درته کوم :

فُتِحَتْ أَبْوَابُ الْجَنَّةِ : ( د جنت دروازې کلاؤ کړې شي ) :

د جنت د روازې کلاؤيدل کِنايه ده ددينه چې مسلمانانو ته د هغه نېکو کارونو توفيق ملاويږي کوم چې جنت ته د داخليدو ذريعه جوړيږي .

د بخاري شريف په بعضې احاديثو کې فُتِحَتْ أَبْوَابُ السَّمَاءِ راغلی ( د آسمان دروازې کلاؤ کړې شي ) :

نو د آسمان د دروازو کلاويدو مطلب دادی چې پرله پسې د الله جَلَّ جَلَالُهُ رحمتونه رانازليږي، او د بندګانو نېک اعمال او دُعاګانې قبليږي .

وَغُلِّقَتْ أَبْوَابُ جَهَنَّمَ : (د جهنم د روازې بندې کړې شي ) :

د جهنم دروازې بَنديل کِنايه ده ددينه چې روژه دار دداسې کارونو نه بچ وي کوم چې جهنم ته د داخليدو ذريعه جوړيږي، ځکه دا ظاهره خبره ده چې روژه دار د کبيره ګناهونو نه بچ وي ، او صغيره ګناهونه ده ته د روژې د برکته بَخلې شي .

وَسُلْسِلَتِ الشَّيَاطِيْنُ : (او شيطانان په زنځيرونو کې اُوتړلې شي ) :

د شيطانانو تړل کنايه ده ددينه چې سرکشه شيطانان په زنځيرونو کې اوتړلې شي او د دوی نه هغه قوت ختم کړي شي د کوم په وجه چې دوی مسلمانان دُهوکه کوي .

د شيطانانو او پېريانو په تړلو کې حِکمت هم دادی چې دوی د روژه دارو په زړونو کې وَسوسه وا نه چوي ، او ګناهونو طرف ته يې را او نه بلي .

بل دا چې د روژې په وجه د انسان هغه قوّتِ حيواني مغلوبه کيږي کوم چې د غُصې، شهوت او ګناهونو بُنياد دی ، او هغه قوّتِ عقلي غالبه کيږي کوم چې د نېکو اعمالو بنياد دی ، دغه وجه ده چې په رمضان کې د نورو مياشتو په نسبت ګناهونه کم کيږي، او عباداتو کې ديروالې راځي .

ملاعلي قاري رحمه الله په " مرقاة " کې ددې حديث پوره تشريح کړې ده. (۱)

همدارنګې علامه ابن حجر رحمه الله په " فتح الباري " کې ددې حديث پوره تشريح کړې. (۲)

## يو اعتراض او د هغې جواب

**اعتراض** : چې کله په دې مياشت کې شيطانان تړل شوي دي نو بيا د خلقو نه ګناهونه څنګه کيږي ؟

**جواب** : داخبره صحيح ده چې داسې بَدبخته خلق هم شته چې هغوی په رمضان المبارک کې هم د ګناهونو نه نه منع کيږي ، نو اګر چې په روژه کې سرکشه شيطانان تړل شوي وي خو چونکه د رمضان نه مخکې دا خلق د شيطان د دُهوکه کولو په وجه دې اندازې

---

(۱) " فُتِحَتْ " بِالتَّخْفِيفِ، وَهُوَ أَكْثَرُ كَمَا فِي التَّنْزِيلِ، وَبِالتَّشْدِيدِ لِتَكْثِيرِ الْمَفْعُولِ " أَبْوَابُ السَّمَاءِ " قِيلَ: فَتْحُهَا كِنَايَةٌ عَنْ تَوَاتُرِ نُزُولِ الرَّحْمَةِ وَتَوَالِي طُلُوعِ الطَّاعَةِ، وَيُؤَيِّدُهُ رِوَايَةُ أَبْوَابِ الرَّحْمَةِ. (وَفِي رِوَايَةٍ: "«فُتِحَتْ أَبْوَابُ الْجَنَّةِ» ") ، وَهُوَ كِنَايَةٌ عَنْ فِعْلِ مَا يُؤَدِّي إِلَى دُخُولِهَا " وَغُلِّقَتْ " بِالتَّشْدِيدِ أَكْثَرُ " أَبْوَابُ جَهَنَّمَ " وَهُوَ كِنَايَةٌ عَنِ امْتِنَاعِ مَا يَدْخُلُ إِلَيْهَا، لِأَنَّ الصَّائِمَ يَتَنَزَّهُ عَنِ الْكَبَائِرِ، وَيُغْفَرُ لَهُ بِبَرَكَةِ الصِّيَامِ الصَّغَائِرُ، وَقَدْ وَرَدَ: «اَلصِّيَامُ جُنَّةٌ» . قَالَ التُّورِبِشْتِيُّ: فَتْحُ أَبْوَابِ السَّمَاءِ كِنَايَةٌ عَنْ تَنْزِيلِ الرَّحْمَةِ، وَإِزَالَةِ الْغَلْقِ عَنْ مَصَاعِدِ أَعْمَالِ الْعِبَادِ تَارَةً بِبَذْلِ التَّوْفِيقِ، وَأُخْرَى بِحُسْنِ الْقَوْلِ، وَغَلْقُ أَبْوَابِ جَهَنَّمَ عِبَارَةٌ عَنْ تَنَزُّهِ أَنْفُسِ الصَّائِمِ عَنْ رِجْسِ الْفَوَاحِشِ، وَالتَّخَلُّصِ مِنَ الْبَوَاعِثِ عَلَى الْمَعَاصِي بِقَمْعِ الشَّهَوَاتِ . «وَسُلْسِلَتِ الشَّيَاطِينُ» " أَيْ قُيِّدَتْ بِالسَّلَاسِلِ مَرَدَتُهُمْ، وَقِيلَ: كِنَايَةٌ عَنِ امْتِنَاعِ تَسْوِيلِ النُّفُوسِ، وَاسْتِعْصَائِهَا عَنْ قَبُولِ وَسَاوِسِهِمْ، إِذْ بِالصَّوْمِ تَنْكَسِرُ الْقُوَّةُ الْحَيَوَانِيَّةُ الَّتِي هِيَ مَبْدَأُ الْغَضَبِ وَالشَّهَوَاتِ الدَّاعِيَيْنِ إِلَى أَنْوَاعِ السَّيِّئَاتِ، وَتَنْبَعِثُ الْقُوَّةُ الْعَقْلِيَّةُ الْمَائِلَةُ إِلَى الطَّاعَاتِ، كَمَا هُوَ مُشَاهَدٌ أَنَّ رَمَضَانَ أَقَلُّ الشُّهُورِ مَعْصِيَةً، وَأَكْثَرُهَا عِبَادَةً . مرقاة المفاتيح شرح مشكاة المصابيح ۴/۱۳۶۰ في تشريح حديث ۱۹۵۶ كِتَابُ الصَّوْمِ الْفَصْلُ الْأَوَّلُ .

(۲) علامه ابن حجر رحمه الله د څه تحقيق نه پس ليکلي : وَيَحْتَمِلُ أَنْ يَكُونَ فَتْحُ أَبْوَابِ الْجَنَّةِ عِبَارَةً عَمَّا يَفْتَحُهُ اللهُ لِعِبَادِهِ مِنَ الطَّاعَاتِ وَذٰلِكَ أَسْبَابٌ لِدُخُولِ الْجَنَّةِ . وَغَلْقُ أَبْوَابِ النَّارِ عِبَارَةٌ عَنْ صَرْفِ الْهِمَمِ عَنِ الْمَعَاصِي الْآيِلَةِ بِأَصْحَابِهَا إِلَى النَّارِ وَتَصْفِيدُ الشَّيَاطِينِ عِبَارَةٌ عَنْ تَعْجِيزِهِمْ عَنِ الْإِغْوَاءِ وَتَزْيِينِ الشَّهَوَاتِ .

فتح الباري شرح صحيح البخاري ۴/۱۱۴ في تشريح حديث ۱۸۹۸ كِتَابُ الصَّوْمِ

ته رسیدلي وي چې هماغه خراب اَثرات دده په بَد طبیعت کې داسې مضبوط شوي وي چې د ګناهونو سره دده نفس عادتي شوې وي نو اوس چې په رمضان کې دا خلق ګناهونه کوي نو دا د هماغه زُوړ خراب عادت نه مجبوره وي.

**د ملاعلي قاريؒ جواب**: ملا علي قاري رحمه الله د يو حديث د الفاظو " وَتُغَلُّ فِيْهِ مَرَدَةُ الشَّيَاطِيْنِ (۱) " نه دا معلومه کړې چې په دې میاشت کې صرف سرکشه شيطانان تړلې شي، نور شيطانان آزاد وي، دوی دا خلق دُهوکه کوي نو ځکه ورنه ګناهونه کيږي.

ليکن د نورو احاديثو نه معلوميږي چې په رمضان المبارک کې هر قِسمه شيطانان تړلې شي، څه تخصيص په کې نشته، لهذا د ملا علي قاري رحمه الله جواب دومره مُؤثِر نه معلوميږي.

**د شاه محمد اسحاق دهلويؒ جواب**: د شاه محمد اسحاق دهلوي رحمه الله جواب دير بهتر دی چې په دې سره په دواړه قِسمه احاديثو کې تطبيق هم راځي، هغه جواب دادی: په کومو احاديثو کې چې راځي چې "په دې مياشت کې سرکشه شيطانان قيد کولې شي" نو دا د خاص خلقو په نسبت سره دی، يعنی د فاسقه خلقو نه سرکشه شيطانان خو تړلې شي چې ددې په وجه دوی ګناهونه کم کوي، خو نور (غير سرکشه) شيطانان د دوی نه نه وي تړل شوي، هغوی مسلمانان دُهوکه کوي، ځکه څه نا څه ګناهونه د فاسقانو نه صادريږي.

او په کومو احاديثو کې چې د مطلقِ شيطانانو تړلو خبره راغلې نو دا د صُلحاؤ او نېکانو خلقو متعلق ده، چې مطلقِ شيطانان د دوی د دُهوکې نه منع کولې شي، دغه وجه ده چې دوی د کبيره ګناهونو نه منع وي، او که صغيره ګناهونه ورنه اوشي نو توبه اوباسي چې په دې سره دا هم معاف شي.

---

(۱) وَتُغَلُّ فِيْهِ مَرَدَةُ الشَّيَاطِيْنِ. په دې مياشت کې سرکشه شيطانانو ته طَوق اچولې شي، يعنی قيد کولې شي.
مشكاة المصابيح كتاب الصوم الفصل الثالث رقم الحديث ۱۹۶۲(۷). ورواه احمد، والنسائي رقم الحديث .، وقال الالباني: هذا حديث صحيح.

**د بعضې علماؤ جواب** : بعضې علماؤ دا جواب هم کړی : بعضې ګناهونه داسې دي چې هغه د انسان نه د شيطان د دُهوکې په وجه صادرېږي ، او بعضې داسې دي چې هغه د خپل نفس د تقاضا په وجه دده نه صادرېږي .

نو کوم ګناهونه چې د شيطان د دُهوکه کولو په وجه د انسان نه صادرېږي د هغې نه مسلمانان په رمضان کې محفوظ وي ، او کوم ګناهونه چې د خپل نفس د تقاضا په وجه د انسان نه صادرېږي نو هغه په رمضان کې هم کيږي . (۱)

(نوټ : په نزهة النّاظرين کې هم دغه شان اعتراض او ددې جوابات ذکر دي ) . (۲)

## دې اُمت ته د رمضان المبارک د شرافت په وجه پنځه خصوصي شيان ورکړل شوي

په مسند احمد او نورو د احاديثو په کتابونو کې دا حديث ذکر دی ، رسول الله صلى الله عليه وسلم فرمايي :

أُعْطِيَتْ أُمَّتِيْ خَمْسَ خِصَالٍ فِيْ رَمَضَانَ لَمْ تُعْطَهَا أُمَّةٌ قَبْلَهُمْ : خُلُوْفُ فَمِ الصَّائِمِ أَطْيَبُ عِنْدَ اللهِ مِنْ رِيْحِ الْمِسْكِ ، وَتَسْتَغْفِرُ لَهُمُ الْمَلَائِكَةُ حَتّٰى يُفْطِرُوْا، وَيُزَيِّنُ اللهُ عَزَّ وَجَلَّ كُلَّ يَوْمٍ جَنَّتَهُ، ثُمَّ يَقُوْلُ : يُوْشِكُ عِبَادِيَ الصَّالِحُوْنَ أَنْ يُلْقُوْا عَنْهُمُ الْمَئُوْنَةَ وَالْأَذٰى وَيَصِيْرُوْا إِلَيْكَ، وَيُصَفَّدُ فِيْهِ مَرَدَةُ الشَّيَاطِيْنِ، فَلَا يَخْلُصُوْا فِيْهِ إِلٰى مَا كَانُوْا يَخْلُصُوْنَ إِلَيْهِ فِيْ غَيْرِهِ ، وَيُغْفَرُ لَهُمْ فِيْ آخِرِ لَيْلَةٍ . قِيْلَ : يَا رَسُوْلَ اللهِ ! أَهِيَ لَيْلَةُ الْقَدْرِ؟ قَالَ : لَا، وَلٰكِنَّ الْعَامِلَ إِنَّمَا يُوَفّٰى أَجْرَهُ

---

(۱) مظاهر حق شرح مشکوة کتاب الصوم الفصل الثالث .

(۲) **سؤال** : قد نرى الشرّ والمعاصي تقع في رمضان كثيرًا . **فجوابه من وجوهٍ** ذكرها ابن الملقن في شرح البخاري : احدها : أنها تغل عن الصائمين في الصوم الذي حوفظ على شروطه بخلاف غيره . ثانيها : أنّ الشرّ واقع من غيرهم كالنّفس الخبيثة ، والعادات الركيكة ، والشياطين الإنسية . ثالثها : أنه إخبار عن غالب الشيطاطين والمردة منهم ، و أمّا مَن ليس مِن المردة فقد لايصفد ، و المقصود تقليل الشر ، و هو موجود في شهر رمضان . نزهة الناظرين في الاخبار والآثار المرويّة عن الأنبياء والصالحين كتاب الصيام ص ۲۰۹

إِذَا قَضَى عَمَلَهُ . (۱)

زما اُمت ته په رمضان المبارک کې (ددې د شرافت په وجه) پنځه داسې خاص شيان ورکړل شوي چې هغه مخکني يو اُمت ته هم نه وو ورکړل شوي: (اول دا چې) د روژه دار د خُلې بُوئ (کوم چې د ولږې د وجې پيدا شوې وي دا) الله ﷻ ته د مشکو د بُوئ نه هم ډير خوښ دی. (دويم دا چې) فرښتې د دوی د پاره د روژه ماتي پورې د مغفرت دُعاګانې غواړي. (دريم دا چې) الله تعالى د دوی د پاره په هره ورځ جنت ښائسته کوي، بيا الله رب العزت (جنت ته) فرمايي: قريبه ده چې زما نېکان بندګان به د خپل ځان نه مشقتونه او تکليفونه لرې کړي او تاته به راشي. (څلورم دا چې) په دې کې سرکشه شيطانان تړلې شي نو هغه ګناهونو طرف ته نشي رسيدی کومو طرف ته چې دوی په نورو مياشتو کې رسيدې شو. او (پنځم دا چې) په آخِري شپه د روژه دارو بَخنه کولې شي.

صحابه کرامو عرض اوکړو: آيا دا د ليلة القدر شپه ده؟ (چې په دې کې د دوی بخنه کولې شي؟) نبي عليه السلام ورته وفرمايل: نه، بلکه (قانون دادی چې) مزدور ته مزدوري هغه وخت ورکولې شي کله چې کار پوره کړي (يعنی د هرې روژې په آخر کې د

(۱) مسند احمد رقم الحديث ۷۹۱۷، الترغيب والترهيب ج۲ ص ۹۱، شعب الايمان رقم الحديث ۳۳۳۰، کنزالعمال رقم الحديث ۲۳۷۰۸. وأخرجه البزار (۹۶۳)، ومحمد بن نصر في "قيام رمضان" ص ۱۱۲.

**نوټ**: دې حديث ته اګر چې علماؤ ضعيف ويلی، ليکن ددې حديث مضمون په نورو صحيح احاديثو کې ذکر دی لکه په مسند احمد کې رقم (۷۱۴۸) ورقم (۷۷۸۰) ورقم (۷۷۸۸) کې د همدې حديث مضامين ذکر دي.

وفي رواية: قَالَ رَسُوْلُ اللهِ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ: أُعْطِيَتْ أُمَّتِيْ فِيْ شَهْرِ رَمَضَانَ خَمْسًا لَمْ يُعْطَهُنَّ نَبِيٌّ قَبْلِيْ، أَمَّا وَاحِدَةٌ: فَإِنَّهُ إِذَا كَانَ أَوَّلُ لَيْلَةٍ مِنْ شَهْرِ رَمَضَانَ نَظَرَ اللهُ عَزَّ وَجَلَّ إِلَيْهِمْ، وَمَنْ نَظَرَ اللهُ إِلَيْهِ لَمْ يُعَذِّبْهُ أَبَدًا. وَأَمَّا الثَّانِيَةُ: فَإِنَّ خُلُوْفَ أَفْوَاهِهِمْ حِيْنَ يُمْسُوْنَ أَطْيَبُ عِنْدَ اللهِ مِنْ رِيْحِ الْمِسْكِ. وَأَمَّا الثَّالِثَةُ: فَإِنَّ الْمَلَائِكَةَ تَسْتَغْفِرُ لَهُمْ فِيْ كُلِّ يَوْمٍ وَلَيْلَةٍ. وَأَمَّا الرَّابِعَةُ: فَإِنَّ اللهَ عَزَّ وَجَلَّ يَأْمُرُ جَنَّتَهُ فَيَقُوْلُ لَهَا: اِسْتَعِدِّيْ وَتَزَيَّنِيْ لِعِبَادِيْ أَوْشَكَ أَنْ يَسْتَرِيْحُوْا مِنْ تَعَبِ الدُّنْيَا إِلَى دَارِيْ وَكَرَامَتِيْ. وَأَمَّا الْخَامِسَةُ: فَإِنَّهُ إِذَا كَانَ آخِرُ لَيْلَةٍ غَفَرَ لَهُمْ جَمِيْعًا. فَقَالَ رَجُلٌ مِنَ الْقَوْمِ: أَهِيَ لَيْلَةُ الْقَدْرِ؟ فَقَالَ: لَا، أَلَمْ تَرَ إِلَى الْعُمَّالِ يَعْمَلُوْنَ فَإِذَا فَرَغُوْا مِنْ أَعْمَالِهِمْ وُفُّوْا أُجُوْرَهُمْ. شعب الايمان الصيام فضائل الصوم رقم الحديث ۳۳۳۱

دوی مغفرت کولې شي) .

## قرآن کريم او نور آسماني کتابونه په رمضانُ المبارک کې نازل شوي

الله رب العزت فرمايي : ﴿ شَهْرُ رَمَضَانَ الَّذِيٓ أُنْزِلَ فِيْهِ الْقُرْاٰنُ ﴾ .(۱)

ترجمه : مياشت د رمضان هغه (مياشت) ده چې په دې کې قرآن کريم نازل شوی .

په دې آيت کې د رمضان المبارک اعلیٰ فضيلت او غوره والې بيان شوی ، هغه دا چې قرآن کريم په دې مياشت کې نازل شوې دی . (۲)

او دا د رمضانُ المبارک د پاره لوي عظمت او شرافت دی .

په مسند احمد او تفسير ابن کثير کې دا حديث ذکر دی ، رسولُ الله ﷺ فرمايي :

أُنْزِلَتْ صُحُفُ إِبْرَاهِيْمَ فِيْ أَوَّلِ لَيْلَةٍ مِنْ رَمَضَانَ. وَأُنْزِلَتِ التَّوْرَاةُ لِسِتٍّ مَضِيْنَ مِنْ رَمَضَانَ، وَالْإِنْجِيْلُ لِثَلَاثَ عَشَرَةَ خَلَتْ مِنْ رَمَضَانَ (۳) وَأَنْزَلَ اللهُ الْقُرْآنَ لِأَرْبَعٍ وَعِشْرِيْنَ خَلَتْ مِنْ رَمَضَانَ . (۴)

---

(۱) سورة البقرة آية ۱۸۵ .

(۲) علامه ابن کثير رحمه الله فرمايي : يَمْدَحُ تَعَالىٰ شهرَ الصِّيَامِ مِنْ بَيْنِ سَائِرِ الشُّهُوْرِ، بِأَنِ اخْتَارَهُ مِنْ بَيْنِهِنَّ لِإِنْزَالِ الْقُرْآنِ الْعَظِيْمِ فِيْهِ. وَكَمَا اخْتَصَّهُ بِذٰلِكَ. قَدْ وَرَدَ الْحَدِيْثُ بِأَنَّهُ الشَّهْرُ الَّذِيْ كَانَتِ الْكُتُبُ الْإِلٰهِيَّةُ تَنْزِلُ فِيْهِ عَلَى الْأَنْبِيَاءِ. تفسير القرآن العظيم (تفسير ابن كثير) ۱ /۵۰۱ في تشريح سورة البقرة آية ۱۸۵ .

(۳) وأنزل الزبور لثماني عشرة خلت من رمضان. تفسير ابن كثير ۱ /۵۰۱

(۴) اخرجه احمد ۴ /۱۰۷ ، والطبراني في الكبير والاوسط كما في المجمع ۱ /۱۹۷ ، تفسير ابن كثير ۱ /۵۰۱ في تشريح سورة البقرة آية ۱۸۵ ، تفسير روح المعاني ج۲ ص ۶۱ .

په تفسير مظهري کې ذکر دي : و روى عن ابي ذر رضي الله عنه عن النبي صلى الله عليه وسلم قال انزل صحف ابراهيم في ثلث مضين من رمضان ، ويروى في أول ليلة من رمضان ، وأنزلت تورية موسى في ست ليال مضين من رمضان ، وانزال الإنجيل في ثلث عشرة مضت من رمضان ، وانزل زبور داود في ثمان عشرة ليلة من رمضان وانزل القران على النبي صلى الله عليه وسلم في اربعة وعشرين لست بقين بعدها . التفسير المظهري ۱۰ / ۳۱۱ سورة القدر .

د حضرت ابراهیم علیه السلام صحیفې په اوله شپه د رمضان نازلې شوي ، تورات په شپږم (٦) د رمضان نازل شوی ، انجیل په دیارلسم (۱۳) د رمضان نازل شوی ، ( زبور په اتلسم د رمضان نازل شوی ) او قرآن کریم په څلیریشتم (۲۴) د رمضان نازل شوی .

په یو روایت کې دا هم دي چې زبور په دولسم (۱۲) د رمضان نازل شوی ، او انجیل په اتلسم (۱۸) د رمضان نازل شوی .(۱)

**د قرآن کریم او نورو کتابونو په نزول کې فرق** : د قرآن کریم او نورو کتابونو په نزول کې فرق دادی چې دا نور کتابونه او صحیفې په رمضانُ المبارک کې په یو ځل باندې نازلې شوي ، خو قرآن کریم د لوحِ محفوظ نه آسمانِ دُنیا ته په یو ځل باندې د لیلة القدر په شپه نازل شوی ، دیته په عربی کې "اِنْزَال" وایي .

الله تعالی فرمایي : ﴿اِنَّآ اَنْزَلْنٰهُ فِيْ لَيْلَةِ الْقَدْرِ﴾.(۲)

ترجمه : بیشکه مونږ دا قرآن کریم په لیلة القدر ( شَب قدر ) کې نازل کړی .

بیا د آسمانِ دُنیا نه په رسولُ الله صلی الله علیه وسلم باندې د ضرورت موافق په درویشت (۲۳) کاله کې نازل شوی ، دیته په عربی کې "تَنْزِيْل" وایي .(۳)

**نوټ** : د سورة القدر د آیت نه صفا معلومه شوه چې قرآن کریم د لوحِ محفوظ نه آسمانِ دُنیا ته په لیلة القدر کې نازل شوی ، او د پاس مذکوره حدیث نه معلومه شوه چې قرآن کریم په

---

(۱) وَقَدْ رُوِيَ مِنْ حَدِيْثِ جَابِرِ بْنِ عَبْدِ اللهِ وَفِيْهِ: أَنَّ الزَّبُوْرَ أُنْزِلَ لِثِنْتَيْ عَشْرَةَ [لَيْلَةً] خَلَتْ مِنْ رَمَضَانَ، وَالْإِنْجِيْلُ لِثَمَانِيْ عَشْرَةَ، وَالْبَاقِيْ كَمَا تَقَدَّمَ. رَوَاهُ ابْنُ مَرْدُوْيَه. تفسير ابن كثير ۱ /۵۰۱ في تشريح سورة البقرة آية ۱۸۵

(۲) سورة القدر آية ۱ .

(۳) په تفسیر ابن کثیر کې ذکر دي : أَمَّا الصُّحُفُ وَالتَّوْرَاةُ وَالزَّبُوْرُ وَالْإِنْجِيْلُ فَنَزَلَ كُلٌّ مِنْهَا عَلَى النَّبِيِّ الَّذِيْ أُنْزِلَ عَلَيْهِ جُمْلَةً وَاحِدَةً، وَأَمَّا الْقُرْآنُ فَإِنَّمَا نَزَلَ جُمْلَةً وَاحِدَةً إِلَى بَيْتِ الْعِزَّةِ مِنَ السَّمَاءِ الدُّنْيَا، وَكَانَ ذٰلِكَ فِيْ شَهْرِ رَمَضَانَ، فِيْ لَيْلَةِ الْقَدْرِ مِنْهُ، كَمَا قَالَ تَعَالَى: ﴿إِنَّا أَنْزَلْنَاهُ فِيْ لَيْلَةِ الْقَدْرِ. القدر آية ۱﴾ . وَقَالَ: ﴿إِنَّا أَنْزَلْنَاهُ فِيْ لَيْلَةٍ مُّبَارَكَةٍ. الدخان: ۳﴾ ثُمَّ نَزَلَ بَعْدُ مُفَرَّقًا بِحَسْبِ الْوَقَائِعِ عَلَى رَسُوْلِ اللهِ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ. تفسير ابن كثير ۱ /۵۰۱ في تشريح سورة البقرة آية ۱۸۵

څلیریشتم (۲۴) شپه د رمضان نازل شوی ، نو ددې نه علماؤ دا معلومه کړې چې لیلة القدر په څلیریشتمه (۲۴) شپه د رمضان راځي ، او همدا د حضرت حسن رضي الله عنه قول هم دی . (۱)

اګر چې د ځنې روایاتو مطابق د لیلة القدر شپه په اووه ویشتم (۲۷) یا درویشتمه (۲۳) شپه د رمضان راځي . (۲)

بهرحال لیلة القدر چې په کومه شپه وي نو د قرآن کریم نزول به په هماغه شپه وي .

## د رمضان او قرآن کریم په خپل مینځ کې نزدې تعلق دی

د قرآن کریم په رمضان المبارک کې د نازلیدلو نه دا معلومیږي چې د رمضان او قرآن کریم په خپل مینځ کې نزدې تعلق دی ، دغه وجه ده چې نبي کریم صلی الله علیه وسلم به په رمضان کې د قرآن کریم تلاوت ډیر کولو ، حضرت جبریل علیه السلام به هر کال په رمضان کې نبي علیه السلام ته دا آورولو ، او نبي عليه السلام به هم ورته آورولو . تر دې چې په تراویحو کې ددې ختم سُنت ګرځول شوی .

زمونږ اَسلافو به هم په رمضان کې د قرآن کریم تلاوت ډیر کولو .

لیکن افسوس چې نن صبا داسې خلق شته چې هغوی د رمضان په دې مبارکه میاشت کې صرف د وخت تېرولو د پاره د لډُو لوبه کوي او وایي چې په دې باندې صرف خپل ټائم پاس کوو ، بعضې په کې وِي سِي آر یا نور فِلمونه ګوري ، بعضې په کې فضول مجلسونه کوي په دې مجلسونو کې دروغ ، غِیبت او بې فائدې بحثونه وي نو دداسې کارونو نه ځان ساتل په کار دي ، بلکه د وخت تېرولو د پاره بهترین څیز تلاوت دی ، که تلاوت چا له نه ورځي نو ذِکر و اَذکار او نوافل دې کوي ثواب به یې هم کیږي او د ګناهونو نه به هم محفوظ وي .

---

(۱) معارف القرآن البقرة آیة ۱۸۵ .

په تفسیر مظهري کې د څه احادیثو ذکر کولو نه روستو ذکر دي ... وبناء علی تلك الأحاديث قال بعض العلماء انّ لیلة القدر لیلة اربع وعشرين من رمضان و روی هذا القول عن ابن مسعود والشعبي والحسن وقتادة . التفسير المظهري ۱۰ / ۳۱۲ سورة القدر .

(۲) د لیلة القدر فضائل ، او تفصیلي بحث روستو په مستقله موضوع کې راروان دی . ابوالشمس علي عنه

## نبي ﷺ به هر کال په رمضان کې د حضرت جبریل علیه السلام د وړاندې قرآن کریم لوستلو

د بخاري شریف حدیث دی، حضرت عبدالله بن عباس رضي الله عنهما فرمایي:

كَانَ النَّبِيُّ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ أَجْوَدَ النَّاسِ بِالْخَيْرِ، وَأَجْوَدُ مَا يَكُونُ فِي شَهْرِ رَمَضَانَ. لِأَنَّ جِبْرِيلَ كَانَ يَلْقَاهُ فِي كُلِّ لَيْلَةٍ فِي شَهْرِ رَمَضَانَ، حَتَّى يَنْسَلِخَ يَعْرِضُ عَلَيْهِ رَسُولُ اللهِ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ الْقُرْآنَ ... (۱)

رسول الله صلی الله علیه وسلم به د خېر خیګړې (او نورو ته د نفعې رسولو) په معامله کې ډېر سخي و، بیا خاصکر په رمضان المبارک کې خو به یې ډېر سخاوت کولو، ځکه حضرت جبریل علیه السلام به د رمضان په هره شپه راتلو او نبي علیه السلام به د هغه د وړاندې (په تجوید سره) قرآن کریم لوستلو...

ددې حدیث نه دا ثابته شوه چې پیغمبر علیه السلام به د حضرت جبریل علیه السلام د وړاندې قرآن کریم لوستلو، خو د یو بل حدیث نه ثابتیږي چې حضرت جبریل علیه السلام به د نبي علیه السلام د وړاندې قرآن کریم لوستو، لکه په دې راتلونکي حدیث کې ذکر دي:

## حضرت جبریل علیه السلام به هر کال د رمضان په میاشت کې نبي علیه السلام ته قرآن کریم لوستلو

د بخاري شریف حدیث دی، حضرت ابو هریرة رضي الله عنه فرمایي:

كَانَ يَعْرِضُ عَلَى النَّبِيِّ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ الْقُرْآنَ كُلَّ عَامٍ مَرَّةً، فَعَرَضَ عَلَيْهِ مَرَّتَيْنِ فِي الْعَامِ الَّذِي قُبِضَ فِيهِ (۲)

---

(۱) صحیح البخاري كِتَابُ فَضَائِلِ الْقُرْآنِ بَابُ كَانَ جِبْرِيلُ يَعْرِضُ الْقُرْآنَ عَلَى النَّبِيِّ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ رقم الحدیث ۴۹۹۷.

(۲) صحیح البخاري كِتَابُ فَضَائِلِ الْقُرْآنِ بَابُ كَانَ جِبْرِيلُ يَعْرِضُ الْقُرْآنَ عَلَى النَّبِيِّ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ رقم الحدیث ۴۹۹۸. مشکاة المصابیح رقم الحدیث ۲۰۹۹ (۳) باب الاعتکاف الفصل الاول، المعجم الکبیر للطبراني رقم ۱۰۴۷۳.

حضرت جبريل عليه السلام به هر كال نبي عليه السلام ته قرآن كريم آورولو ، خو په کوم كال چې رسولُ الله ﷺ د دُنيا نه تشريف وَړلو نو په هغه كال ورته حضرت جبريل ؑ دوه پېرې قرآن كريم واورولو .

**په دواړه قسمه احاديثو کې تطبيق** : د بخاري شريف د اول حديث نه ثابته شوه چې نبي عليه السلام به هر كال د حضرت جبريل ؑ د وړاندې قرآن كريم لوستلو ، او د دويم حديث نه ثابته شوه چې حضرت جبريل ؑ به نبي عليه السلام ته لوستلو ، خو په دې دواړو احاديثو کې هيڅ تعارض نشته ، بلکه په دې کې تطبيق داسې کيدې شي چې اول به حضرت جبريل ؑ قرآن كريم اولوستلو ، بيا به نبي ؑ اولوستلو ، لکه څنګه چې نن صبا حافظان يو بل ته دَوَر كوي ( او يو بل ته يې آوروي ) . ددې دواړو احاديثو نه دا هم ثابته شوه چې دَوَر كول هم سُنت دى .

## رمضانُ المبارک د برکتونو او رَحمتونو مياشت ده

امام ربّاني مُجدّدِ الف ثاني رحمه الله فرمايي چې په رمضان المبارک کې دومره ډير برکتونه نازليږي چې د باقي ټول كال د برکتونو نسبت ددې مياشتې د برکتونو سره داسې هم نه دى لکه د سمندر چې د يو څاڅكي قطرې سره وي . يعنى په دې مياشت کې ډير برکتونه رانازليږي .

**د رمضان المبارک د برکتونو حاصلولو شرط** : په دې کې هيڅ شک نشته چې په رمضان کې د الله ﷻ رحمتونه او برکتونه د تېز باران نه هم زيات راوريږي ، بيا لکه څرنګې چې د تېز باران په وجه هر څيز سيراب کيږي او هر لوخې چې ورته کيږدى په هغې کې اُوبه جَمع کيږي خو شرط دادى چې دا لوخې باران ته صَحيح پروت وي ، څکه که لوخې باران ته اُلټه (پَړمخ) پروت وي نو که مسلسل يوه مياشت باران اوشي خو بيا به هم په دې لوخي کې يو څاڅكي اُوبه هم جَمع نه شي .

همدغه شان د رمضان المبارک مياشت د رحمتونو او برکتونو مياشت ده خو دا رحمتونه او برکتونه هغه کس حاصلولې شي چې د هغه د زړه لوخې سِيده ( صحيح ) وي ،

يعنی د رمضان المبارک روژې اونيسي ، تراويح اوکړي ، تلاوت ذکر و أذکار او عبادات اوکړي ، او د ګناهونو نه ځان اوساتي .

او که يو کس بغير عُذره روژې نه نيسي ، دګناهونو نه ځان نه ساتي ، او د رمضان المبارک د آدابو لحاظ نه ساتي نو که ټوله مياشت رحمتونه او برکتونه را اُو وريږي دې به د هغې نه څنګه مستفيد شي ؟

## د رمضان په برکت سره د يوولس (۱۱) مياشتو ګناهونه معاف کيدل

علامه ابن جوزي رحمه الله په " بستان الواعظين " کې ليکلي چې : د دولس (۱۲) مياشتو مثال داسې دی لکه د حضرت يعقوب عليه السلام اولاد . (ځکه د حضرت يعقوب عليه السلام هم دولس ځامن وو) . بيا لکه څرنګې چې حضرت يعقوب عليه السلام ته په ټولو ځامنو کې دير محبوب حضرت يوسف عليه السلام وُ ، او د همدې يو يوسف عليه السلام په دُعا سره الله جل جلاله ددې يوولس (۱۱) ورونو بخّنه اوکړه ، نو همدغه شان د رمضان المبارک مياشت هم الله جل جلاله ته په دې ټولو مياشتو کې ډيره محبوب ده ، او د همدې يوې مياشتې په برکت سره الله جل جلاله د انسان د يوولس مياشتو ګناهونه بَخي . (۱)

## د رمضان المبارک د اَدب په وجه مَجُوسي ته اِسلام نصيبه کيدل او مغفرت

چا چې د رمضان المبارک د آدابو لحاظ ساتلی نو الله تعالی ده ته ددې په عِوض کې بهترينه بدله ورکړی ، او دده مغفرت يې نصيبه کړی .

په کتابونو کې يوه واقعه ذکر ده چې يو مجوسي په رمضان کې د ورځې خپل ځوي اُوليد چې د مسلمانانو د وړاندې يې خوراک کولو ، دې مجوسي دا خپل ځوي ووهل ، او ورته وې

---

(۱) قال ابن الجوزي رحمه الله تعالی في " بستان الواعظين " مثل الشهور الإثني عشر كمثل أولاد يعقوب فكما أن يوسف أحبّ أولاد يعقوب إليه كذلك رمضان أحبّ الشهور إلى الله فيغفر الله لهم بدعوة واحد منهم وهو يوسف كذلك يغفر الله ذنوب أحد عشر شهرا ببركة رمضان . نزهة المجالس ومنتخب النفائس ۱/۱٦٥ باب فضل رمضان والترغيب في العمل الصالح فيه وما فيه من الفضل . بستان الواعظين ورياض السامعين لابن جوزي رحمه الله ۱/۲۳۰ مجلس في فضل الصيام تمثيل الشهور كأخوة يوسف .

ویل چې ته ولې په رمضان کې د مسلمانانو او د رمضان لحاظ نه ساتې ؟
( یعنی تا ته حَیاء نه درځي چې د رمضانُ المبارک په میاشت کې ته د مسلمانانو د وړاندې په ښکاره طریقې سره خوراک کوې ، او د رمضان د آدابو لحاظ نه ساتې ؟ )

بهر حال ، دا مجوسي په همدې جُمعه کې وفات شو ، ددې ښار یو عالِم دا مجوسي په خوب کې اُولید چې جنت ته داخل شوی ، نو ده ورنه پوښتنه اوکړه :

اَلَسْتَ کُنْتَ مَجُوْسِیًّا ؟ آیا ته مجوسي نه وې ؟ ( نو بیا څنګه جنت ته داخل شوی ؟ )

هغه ورته وویل : بَلٰی وَلٰکِنْ لَمَّا حَضَرَتْ وَفَاتِیْ اَدْرَکَنِیَ اللهُ بِالْاِسْلَامِ لِاِحْتِرَامِیْ شَهْرَ رَمَضَانَ .(۱)

آو ، زه مجوسي ووم لیکن کله چې زما د مرګ وخت رانزدې شو نو الله تعالی ما ته د رمضان المبارک د میاشتې د اِحترام په وجه اسلام رانصیبه کړو ( نو زه مسلمان وفات شوې یم ).

**عبرت** : محترمو مسلمانانو ! تاسو سوچ اوکړئ چې دې مجوسي د رمضان المبارک احترام اوکړو نو الله ﷻ ته دده دا عمل دومره خوښ شو چې د مرګ نه مخکې یې ورته اسلام نصیبه کړو او جنت ته یې داخل کړو ، نو اوس چې کوم کس په حقیقي معنو کې د رمضان المبارک آدب کوي یعنی ددې روژې نیسي ، عبادات کوي ، او د هر قِسمه ګناهونو

(۱) رأی مجوسيٌّ ابنَه یأکُلُ في رمضان بحضرة المسلمین فضربه وقال : لِمَ لَمْ تحفظ حرمةَ المسلمینَ في رمضان ؟ فمات في ذلك الأسبوع . فرآه عالِم البلد في النوم وهو في الجنة . فقال : أَلَسْتَ کُنْتَ مَجُوْسِیًّا ؟ قال : بَلٰی وَلٰکِنْ لَمَّا حَضَرَتْ وَفَاتِیْ اَدْرَکَنِیَ اللهُ بِالْاِسْلَامِ لِاِحْتِرَامِیْ شَهْرَ رَمَضَانَ . نزهة المجالس ومنتخب النفائس ۱/۱۶۵ باب فضل رمضان والترغیب في العمل الصالح فیه وما فیه من الفضل .

دا واقعه په درّة الناصحین کې په دې الفاظو ذکر ده : حکي أنّ مجوسیًا رأی ابنَه في رمضانَ یأکُلُ في السوق فضَرَبَه و قال : لِمَ لَمْ تحفظ حرمةَ المسلمینَ في رمضان ؟ فَمَاتَ المجوسيُّ . فرآه عالِمٌ في المنام علی سریر العزّة في الجنة . فقال : أَلَسْتَ مَجُوْسِیًّا ؟ فقال : بَلٰی وَلٰکِنْ سَمِعْتُ وَقْتَ الْمَوْتِ نِدَاءً مِنْ فَوْقِيْ : یَا مَلَائِکَتِيْ لَاتَتْرُکُوْهُ مَجُوْسِیًّا فَاَکْرِمُوْهُ بِالْاِسْلَامِ بِحُرْمَةِ رَمَضَانَ . فالإشارة انّ المجوسيّ لما احترم رمضانَ وَجَدَ الإیمانَ ، فکیف بِمَنْ صامه و احترمه ؟ . درّة الناصحین ص ۲۰ فضیلة الصوم .

نه ځان ساتي نو الله ﷻ به په داسې کس باندې څومره ډیره مهرباني کوي ؟

# د رمضان مثال

علامه ابن جوزي رحمه الله په "بستان الواعظين" کې ليکلي چې د رمضان المبارک د مياشتې مثال داسې دی لکه د دُنيا يو بادشاه چې يو قوم ته خپل اَستازې (پيغام وړونکې) اوليږي ، پس که دا قوم ددې اَستازي اِکرام او تعظيم اوکړي او دده مرتبه اوپيژني نو دا اَستازې چې کله بادشاه ته راشي او ددې خلقو صفت ورته بيان کړي چې دوی زما ډير تعظيم اوکړو نو دا بادشاه به لازمي ددې قوم سره محبت کوي ، او د دوی سره به اِحسان کوي. او که چيرته دا خلق ددې بادشاه د اَستازي سپکاوې اوکړي ، دده مرتبه او نه پيژني ، دده سره بَد سلوک اوکړي نو چې کله دا اَستازې دې بادشاه ته راشي او ددې خلقو مُذمت ورته بيان کړي چې دې خلقو زما بې عِزتي اوکړه او زما يې څه قدر اونکړو نو بادشاه به خامخا ددې خلقو نه خفه کيږي او هيڅ اِحسان به ورسره ونکړي.

همدغه شان رمضان المبارک هم ګويا د الله ﷻ د طرف اَستازې دی ، پس څوک چې ددې حقوق اَداء کړي (يعنی د رمضان روژې اونيسي ، عبادات په کې اوکړي او د ګناهونو نه ځان اوساتي ) نو الله رب العزت هم ددې خلقو نه خوشحاليږي ، او په دوی باندې رحمتونه او برکتونه نازلوي ، او څوک چې د رمضان حقوق اداء نکړي ( يعنی روژې اونه نيسي ، عبادات اونکړي ، او مختلف قِسمه ګناهونه په کې کوي ) نو الله تعالی په داسې خلقو باندې غضب نازلوي او جهنم ته يې داخلوي. (١)

(١) قيل مثل هَذَا الشَّهر كَمثل رَسُولٍ أرسلهُ سُلطَان إِلَى قوم فَإِنْ أكرمُوا شَأْنه وعظموا مَكَانَهُ وشرفوا مَنْزِلَته وَعرفُوا فضيلته رَجَعَ الرَّسُول إِلَى السلطان شاكرا لأفعالهم ، مادحًا لأحوالهم ، رَاضِيا لأعمالهم فيحبّهم السُّلْطَان على ذَلِك فَيحسن إِلَيْهِم كلّ الْإِحْسَان ، وَإِن استخفوا برعايته وهونوا العنايته وَلم ينزلوه مَنْزِلَته من الْإِكْرَام وفعلوا بِهِ فعل اللئام فَيرجع الرَّسُول إِلَى السُّلْطَان وَقد غضب عَلَيْهِم من قَبِيح أفعالهم . سيء أَعْمَالهم فيغضب السُّلْطَان لغضبه ، كَذَلِك يغْضب الله سُبْحَانَهُ وَتَعَالَى على من استخف بِحرْمَة شهر رَمَضَان .

بستان الواعظين ورياض السامعين ١ /٢٣٦ مجْلِس فِي فضل الْقيام رَمَضَان رَسُول من الله

# روژه د نېکو اَعمالو ګټلو سِيزَن دى

په دُنيا کې د هر يو کاروبار د پاره د ګټې يو سِيزَن وي، چې کله دا سِيزَن راشي نو تاجران په دې ورځو کې ځان مکمل همدې کار د پاره فارغ کړي، په ځان ډيرې سختې تيروي، د خوراک څکاک او خوب هيڅ پرواه نه ساتي، که څوک دوی مصروفه کول غواړي نو عُذر ورته پيش کوي چې دا زمونږ د کاروبار سِيزَن دی.

دا ځکه چې دوی ته پته وي چې که په دې سيزن کې کار اوکړو نو ددې د ګټې نه به بيا ټول کال فائده اخلو.

همدغه شان رمضان هم د نېکو اعمالو ګټلو سيزَن دی، که يو انسان په دې کې روژې اونيسي، عبادت اوکړي او د ګناهونو نه ځان اوساتي نو ددې ښه اَثر به د کال په باقي يوولسو (۱۱) مياشتو هم وي، او د آخرت دائمي ژوند يې هم ښه کيږي.

حضرت علي رضي الله عنه فرمايي:

لَوْ أَرَادَ اللهُ أَنْ يُعَذِّبَ أُمَّةَ مُحَمَّدٍ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ مَا أَعْطَاهُمْ رَمَضَانَ وَ قُلْ هُوَ اللهُ أَحَد. (۱)

که چيرته الله تعالى د رسولُ الله صلى الله عليه وسلم اُمت ته عذاب ورکول غوښتى نو دوی ته به يې رمضان او قُلْ هُوَاللهُ أَحَد ... (يعنى سورة اخلاص) نه وې ورکړې.

# په روژه کې د حرامې ګټې او دُهوکې نه ځان ساتل په کار دي

د رمضان المضارک مياشت د غمخوارۍ او د يو بل سره د همدردۍ مياشت ده، چې په دې کې به مسلمانان د يو بل سره اِحسان کوي، خو افسوس چې بعضې خلق په دې مياشت کې هم د خلقو نه د څرمن وِيستلو په فکر کې وي، کوشش دا کوي چې په څه طريقې سره روپۍ راپيدا کړي، د جائزو ناجائز، حلال و حرام هيڅ تمييز نه کوي، بلکه د يو څو روپو ګټلو په خاطر دُهوکه او ملاوټ کوي، نو مسلمان ته په کار دي چې په دې بابرکته مياشت کې خپل ځان د حرامې ګټې او دُهوکې نه اوساتي.

(۱) نزهة المجالس ومنتخب النفائس ۱/۱٦٥ باب فضل رمضان والترغيب في العمل الصالح فيه وما فيه من الفضل

## په روژه کې د کنځلو او جګړو کولو نه ځان ساتل په کار دي

بعضې خلق چې روژه اونیسي نو د ځان نه سَم فرعون جوړ کړي ، په هر چا باندې غصه کوي ، او د هر چا سره په معمولي معمولي خبره جګړه کوي ، حالانکه روژه خو د صبر او غمخوارۍ میاشت ده ، په دې کې به یو مسلمان د بل مسلمان سره د نرمۍ او احسان معامله کوي ، د غصې او جګړو نه به ځان ساتي .

د بخاري شریف او مسلم شریف حدیث دی ، رسول الله صلی الله علیه وسلم فرمایي :

... وَإِذَا كَانَ يَوْمُ صَوْمِ أَحَدِكُمْ فَلَا يَرْفُثْ وَلَا يَصْخَبْ، فَإِنْ سَابَّهُ أَحَدٌ أَوْ قَاتَلَهُ، فَلْيَقُلْ إِنِّي امْرُؤٌ صَائِمٌ . (۱)

په کومه ورځ چې په تاسو کې د چا روژه وي نو هغه دې فحش خبرې نه کوي ، او نه دې بې هوده خبرو سره خپل آواز اوچتوي ، پس کوم کس چې ( اِبتداءً ) ده ته کنځل کوي ، یا دده سره جنګ کوي نو دا دې ورته ووایي چې "زه روژه داریم" .

ګویا دا سړې ده ته دا ویل غواړي چې زما روژه ده زما دپاره دا جائز نه دي چې زه د تاسره جنګ اوکړم ، او تا د پاره هم دا مناسب ندي چې ته د ماسره جنګ اوکړې ، نو په دې طریقې سره به جګړه ختمه شي . (۲)

---

(۱) صحیح البخاري كِتَابُ الصَّوْمِ بَابٌ: هَلْ يَقُولُ إِنِّي صَائِمٌ إِذَا شُتِمَ رقم الحدیث ۱۹۰۴ ، صحیح مسلم باب فضل الصیام رقم الحدیث ۱۶۳ (۱۱۵۱) ، مشکاة المصابیح کتاب الصوم الفصل الاول رقم الحدیث ۱۹۵۹ (۴) .

وفي رواية : .... وَإِنْ جَهِلَ عَلَى أَحَدِكُمْ جَاهِلٌ وَهُوَ صَائِمٌ فَلْيَقُلْ : إِنِّي صَائِمٌ. سنن الترمذي رقم الحدیث ۷۶۴ أَبْوَابُ الصَّوْمِ عَنْ رَسُولِ اللهِ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ بَابُ مَا جَاءَ فِي فَضْلِ الصَّوْمِ ، صحیح الترغیب والترهیب کتاب الصوم رقم الحدیث ۹۷۸ (۱) الترغیب فی الصوم مطلقا ، مسند احمد رقم الحدیث ۹۳۶۳ .

(۲) " فَإِنْ سَابَّهُ أَحَدٌ " أَيِ ابْتَدَأَهُ بِسَبٍّ أَوْ شَتْمٍ " أَوْ قَاتَلَهُ " أَيْ أَرَادَ قَتْلَهُ بِحَرْبٍ أَوْ ضَرْبٍ أَوْ مُخَاصَمَةٍ وَمُجَادَلَةٍ " فَلْيَقُلْ: إِنِّي امْرُؤٌ صَائِمٌ " وَهُوَ إِمَّا بِاللِّسَانِ لِيَنْزَجِرَ خَصْمُهُ فَكَأَنَّهُ قَالَ لَهُ: إِذَا كُنْتُ صَائِمًا لَا يَجُوزُ لِي أَنْ أُخَاصِمَكَ بِالشَّتْمِ وَالْهَذَيَانِ، فَلَا يَلِيقُ بِكَ أَنْ تُعَارِضَنِي فِي هَذَا الْوَقْتِ، لِأَنَّهُ عَلَى خِلَافِ الْمُرُوءَةِ عَادَةً. فَيَنْدَفِعُ خَصْمُهُ. أَوْ مَعْنَاهُ: فَلَا يَنْبَغِي مِنْكَ التَّطَاوُلُ عَلَيَّ بِلِسَانِكَ، أَوْ بِيَدِكَ لِأَنِّي فِي ذِمَّةِ اللهِ تَعَالَى، وَمَنْ يَخْفِرِ اللهَ فِي ذِمَّتِهِ يُهْلِكْهُ. وَلَا مِنِّي بِأَنْ أَغْضَبَ وَأُجَازِيَكَ. أَوْ يَقُولُ فِي نَفْسِهِ لِيَعْلَمَ أَنَّهُ لَا يَجُوزُ لَهُ الْفُحْشُ وَالْغَضَبُ. مرقاة المفاتیح ۴ /۱۳۶۳ فی لشریح حدیث ۱۹۵۹ .

په احاديثو کې مسلمان ته کنځلې کولو ته فِسق ويل شوی . د ترمذي شريف حديث دی، نبي ﷺ فرمايي : سِبَابُ الْمُسْلِمِ فُسُوقٌ . (۱) مؤمن ته کنځل کول فِسق دی .

په قرآن کريم کې د مُتّقيانو يو صفت دا هم ذکرشوی چې "دوی غصه برداشت کوي ، او خلقو ته معافي کوي" الله تعالی فرمايي ﴿ وَالْكَاظِمِينَ الْغَيْظَ وَالْعَافِينَ عَنِ النَّاسِ ﴾ . (۲)

ترجمه : ( مُتّقيان هغه خلق دي چې ) دوی غصه برداشت کوي ، او خلق معاف کوي .

بل دا چې دا څه غېرت ، بهادري او پهلواني نده چې انسان هر وخت بې ځايه په خلقو غصې کوي ، بلکه قوي او پهلوان هغه کس دی چې د غصې په وخت خپل ځان کنټرول کړي .

همدا مضمون په صحيح احاديثو کې هم راغلی . (۳)

## په رمضان کې په نفقه کې فراخي په کار ده

د رمضانُ المبارک په مياشت کې په نَفَقه کې فراخي په کار ده ، همدارنګې د غريبانانو سره مدد کول په کار دي ، ځکه په دې مياشت کې خرچ کول داسې دی لکه د الله جَلَّ جَلَالُهُ په لاره کې خرچ کول . (۴)

---

(۱) سنن الترمذي أَبْوَابُ الإِيمَانِ عَنْ رَسُولِ اللهِ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ بَابُ مَا جَاءَ سِبَابُ المُؤْمِنِ فُسُوقٌ رقم الحديث ۲۶۳۵ ، مسند احمد رقم ۴۱۷۸ ، مسند ابي داؤد الطيالسي رقم ۲۴۵ ، صحيح الترغيب والترهيب رقم ۲۸۱۲(۸) .

(۲) آل عمران آية ۱۳۴ .

(۳) عَنْ أَبِي هُرَيْرَةَ رَضِيَ اللهُ عَنْهُ أَنَّ رَسُولَ اللهِ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ قَالَ: « لَيْسَ الشَّدِيدُ بِالصُّرَعَةِ، إِنَّمَا الشَّدِيدُ الَّذِي يَمْلِكُ نَفْسَهُ عِنْدَ الغَضَبِ » . صحيح البخاري كِتَابُ الأَدَبِ بَابُ الحَذَرِ مِنَ الغَضَبِ رقم الحديث ۶۱۱۴ ، صحيح مسلم رقم ۱۰۷(۲۶۰۹) باب فضل من يملک نفسه عند الغضب ، السنن الكبرى للنسائي رقم ۱۰۱۵۴ ، موطاء امام مالک رقم ۱۲ ، مسند احمد رقم ۷۲۱۹ .

(۴) قَالَ رَسُولُ اللهِ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ : اِنْبَسِطُوا فِي النَّفَقَةِ فِي شَهْرِ رَمَضَانَ، فَإِنَّ النَّفَقَةَ فِيهِ كَالنَّفَقَةِ فِي سَبِيلِ اللهِ فضائل رمضان لابن ابي الدنيا ۱/ ۵۲ رقم الحديث ۲۴ ذِكْرُ شَهْرِ رَمَضَانَ وَفَضْلِهِ .

عَنْ أَبِي بَكْرِ بْنِ أَبِي مَرْيَمَ، قَالَ: سَمِعْتُ مَشْيَخَتَنَا، يَقُولُونَ: " إِذَا حَضَرَ شَهْرُ رَمَضَانَ، قَدْ حَضَرَ مُطَهِّرٌ، وَيَقُولُونَ: اِنْبَسِطُوا بِالنَّفَقَةِ فِيهِ، فَإِنَّهَا تُضَاعَفُ كَالنَّفَقَةِ فِي سَبِيلِ اللهِ عَزَّ وَجَلَّ، وَيَقُولُونَ: اَلتَّسْبِيحَةُ فِيهِ أَفْضَلُ مِنْ أَلْفِ تَسْبِيحَةٍ فِي غَيْرِهِ " . فضائل رمضان لابن ابي الدنيا ۱/ ۵۳ رقم الحديث ۲۵ ذِكْرُ شَهْرِ رَمَضَانَ وَفَضْلِهِ .

# د رمضان په مياشت کې د روژو فرض کيدو حکمت

په دې اُمت باندې روژې د رمضان په مياشت کې فرض شوي.

اوس **سوال** دادی چې ددې روژو د پاره د رمضان مياشت ولې مُنتخب شوه؟ (ولې په نورو مياشتو کې نه دي فرض شوي؟)

**جواب**: ددې په اصلِ حقيقت باندې خو الله ﷻ پوهيږي ليکن قرآن کريم او احاديثو ته په نظر کولو سره معلوميږي چې په دې مياشت کې داسې خصوصيات شته چې هغه په نورو مياشتو کې نشته نو ځکه د روژو د پاره همدا مياشت مُنتخَب شوه، هغه خصوصيات دادي:

۱. په دې مياشت کې قرآن کريم او نور آسماني کتابونه نازل شوي، او په دې کې د روژې اصل مقصد کوم چې په ﴿لَعَلَّكُمْ تَتَّقُوْنَ﴾ سره ذکر شوی هغه په کاملې طريقې سره حاصليږي نو ځکه په دې مياشت کې روژې فرض شوي.(۱)

۲. په دې مياشت کې سرکشه شيطانان په زنځيرونو کې تړلې شي، د جنت دروازې کلاؤ وي، او د جهنم دروازې بندې وي.

۳. په دې مياشت کې د نفلو درجه د فرضو برابر وي، او يو فرض د اَوياؤ (۷۰) فرضو برابر وي.

٤. په دې مياشت کې الله رب العزت دې اُمت ته پنځه داسې خاص شيان ورکړي چې هغه يې مخکني اُمتونو ته ندي ورکړي، هغه پنځه خصوصي شيان دادي:

اول: د روژه دار د خُلې بُویٔ الله ﷻ ته د مشکو نه زيات خوَښ دی.

دويم: د روژه ماتي پورې ماهيان د دوی د پاره د مغفرت دُعاګانې غواړي.

(۱) احکام اسلام عقل کے نظر میں لمولانا اشرف علي تهالوي رحمه الله ص ۱۳۵ .

دريم : د روژه دار د پاره په هره ورځ جنت ښائسته کولې شي .

څلورم : په رمضان کې سرکشه شيطانان تړلې شي .

پنځم : د رمضان په آخري شپه د روژه دارو مغفرت کولې شي . (۱)

بل دا چې په دې مياشت کې د هر عبادت اجر د نورو مياشتو په نسبت زيات وي .

رسولُ الله ﷺ فرمايي :

... وَكَانَ لَهُ بِكُلِّ سَجْدَةٍ يَسْجُدُهَا فِيْ شَهْرِ رَمَضَانَ بِلَيْلٍ أَوْ نَهَارٍ شَجَرَةٌ يَسِيْرُ الرَّاكِبُ فِيْ ظِلِّهَا خَمْسَ مِائَةَ عَامٍ . (۲)

او دا چې د رمضان المبارک په مياشت کې د ورځې يا شپې څومره سجدې کوي د هرې سجدې په عِوض کې به ده ته په جنت کې داسې اُونه ورکولې شي چې د هغې په سُوري کې به د اَس سور کس پنځه سوه (۵۰۰) کال مزل کولې شي .

همدا رنګې په رمضان کې د تسبيحانو ويلو اجر هم زيات وي . (۳)

چونکه په دې مياشت کې ډير خصوصيات جَمع وو نو ځکه دا د روژو د پاره مُنتخب شوه .

---

(۱) دا ټولې خبرې په احاديثو کې مذکور دي ، تفصيلي احاديث څه مخکې د مختلفو عنواناتو په ضِمن کې ذکر شوي او څه روستو راروان دي . ابوالشمس علي عنه

(۲) شعب الايمان للبيهقي رقم الحديث ۳۳۶۲ الصيام فضائل شهر رمضان ، الترغيب والترهيب كتاب الصوم الترغيب في صيام رمضان احتسابًا و قيام ليله رقم الحديث ۱۲ ، و رواه السيوطي في الدر ۱۸۶/۱ ، والهندي في الكنز رقم ۲۳۵۰۶ ، والخطيب البغدادي في التاريخ ۱۸۶/۱ ، المعجر الرابح في ثواب العمل الصالح ابواب الصوم ص ۱۶۷ .

(۳) عن الزهريِّ قال : تَسْبِيْحَةٌ فِيْ شَهْرِ رَمَضَانَ أَفْضَلُ مِنْ أَلْفِ تَسْبِيْحَةٍ فِيْ غَيْرِهِ . فضل شهر رمضان لابن عساكر ۱۳۷/۱ رقم ۱۰۱ . فضائل رمضان لابن ابي الدنيا ۵۳/۱ رقم الحديث ۲۵ ذِكْرُ شَهْرِ رَمَضَانَ وَفَضْلِهِ .

# روژه دارته د روژه ماتي د پاره څه ورکولو کې ثواب

کوم کس چې روژه دار ته د روژه ماتي د پاره خوراک، څکاک، قجوري وغیره ورکړي نو په احادیثو کې ددې ډیر زیات اَجر راغلی، مُحدِّثینو په دې باندې مستقل بابونه لیکلي.

یو څو احادیث درته د مختلفو عنواناتو په ضمن کې ذکر کوم

## ۱. د روژه دار په مقدار ثواب ملاویدل

د ترمذي شریف حدیث دی، رسول الله صلی الله علیه وسلم فرمايي:

مَنْ فَطَّرَ صَائِمًا كَانَ لَهُ مِثْلُ أَجْرِهِ، غَيْرَ أَنَّهُ لَا يَنْقُصُ مِنْ أَجْرِ الصَّائِمِ شَيْئًا. (۱)

څوک چې یو روژه دار ته روژه ماتې ورکړي نو ده ته به هم د هغه د روژې هومره ثواب ملاویږي، خو د روژه دار د روژې د ثواب نه به څه شی نشي کمولی.

**فائده**. الله تعالی ډیر غیرتي او کریم ذات دی، دا قانون یې مقرر کړی چې کوم کس بل چاته د یو نیک کار ترغیب ورکړي، یا د هغه سره په دې کار کې مدد اوکړي نو ده ته هم د هغه هومره اَجر ورکوي، او د هغه په ثواب کې هم کمې نه راولي.

دغه شان که یو کس روژه دار ته د روژه ماتي د پاره څه ورکړي نو دې کس ته هم د روژه دار د روژې په مقدار ثواب ورکوي، او د هغه د روژې د ثواب نه هیڅ نشي کمولی.

---

(۱) سنن الترمذي أَبْوَابُ الصَّوْمِ عَنْ رَسُولِ اللهِ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ بَابُ مَا جَاءَ فِي فَضْلِ مَنْ فَطَّرَ صَائِمًا رقم الحديث ۸۰۷ وقال الترمذي: هَذَا حَدِيثٌ حَسَنٌ صَحِيحٌ. السنن الكبرى للنسائي رقم الحديث ۳۳۱۷، صحيح ابن حبان رقم الحديث ۳۴۲۹، المعجم الكبير للطبراني رقم ۵۲۷۵، مسند احمد رقم الحديث ۱۷۰۳۳.

وفي رواية: قَالَ رَسُولُ اللهِ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ: «مَنْ فَطَّرَ صَائِمًا كَانَ لَهُ مِثْلُ أَجْرِهِمْ. مِنْ غَيْرِ أَنْ يَنْقُصَ مِنْ أُجُورِهِمْ شَيْئًا». سنن ابن ماجة كِتَابُ الصِّيَامِ بَابٌ فِي ثَوَابِ مَنْ فَطَّرَ صَائِمًا رقم الحديث ۱۷۴۶ وقال الالباني: هذا حديث صحيح، المعجم الكبير للطبراني رقم الحديث ۵۲۶۷.

وفي رواية: قَالَ رَسُولُ اللهِ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ: «مَنْ فَطَّرَ صَائِمًا أَوْ جَهَّزَ غَازِيًا أَوْ جَهَّزَ حَاجًّا فَإِنَّ لَهُ مِثْلَ أُجُورِهِمْ مِنْ غَيْرِ أَنْ يَنْقُصَ مِنْ أُجُورِهِمْ شَيْءٌ». المعجم الكبير للطبراني رقم الحديث ۵۲۶۸، ورقم ۵۲۷۲.

## ۲ . د فرښتو او حضرت جبريل عليه السلام دُعا حاصلول

څوک چې په روژه دار باندې حلال خوراک څکاک اوکړي نو داسې کس ته فرښتې او حضرت جبريل عليه السلام د مغفرت دُعاګانې کوي . رسول الله ﷺ فرمايي :

مَنْ فَطَّرَ صَائِمًا عَلٰى طَعَامٍ، وَشَرَابٍ مِنْ حَلَالٍ، صَلَّتْ عَلَيْهِ الْمَلَائِكَةُ فِيْ سَاعَاتِ شَهْرِ رَمَضَانَ، وَصَلّٰى عَلَيْهِ جِبْرِيْلُ عَلَيْهِ السَّلَامُ فِيْ لَيْلَةِ الْقَدْرِ . (۱)

چا چې د روژه دار د پاره د خپل حلال خوراک څکاک نه د روژه ماتي اِنتظام اوکړو ( او په هغه يې خوراک اوکړو ) نو فرښتې د رمضان د مياشتې په دې ساعتونو کې په ده باندې رحمت راليږي ( يعنی ده د پاره د مغفرت دُعاګانې کوي ) ، او د ليلة القدر په شپه باندې حضرت جبريل عليه السلام په خپله په ده باندې رحمت راليږي ( يعنی ده د پاره د مغفرت او بَخنې دُعا غواړي ) .

## ۳ . درې اِنعامات ملاویدل

څوک چې په روژه دار باندې خوراک ، څکاک اوکړي نو ده ته ددې په عِوض کې درې انعامات ملاويږي : اول : د ګناهونو مغفرت . دويم : د جهنم نه آزاديدل . دريم : د هغه د روژې هومره ثواب ملاويدل . رسول الله صلى الله عليه وسلم فرمايي :

مَنْ فَطَّرَ فِيْهِ صَائِمًا كَانَ لَهُ مَغْفِرَةً لِذُنُوْبِهِ، وَعِتْقَ رَقَبَتِهِ مِنَ النَّارِ، وَكَانَ لَهُ مِثْلُ أَجْرِهِ مِنْ غَيْرِ أَنْ يُنْقَصَ مِنْ أَجْرِهِ شَيْءٌ . (۲)

څوک په دې مياشت کې ( د الله ﷻ د رَضا د پاره ) په يو روژه دار باندې روژه ماتې اُوخوروي نو دا به ده د پاره د ګناهونو د مغفرت او د جهنم نه د آزاديدو ذريعه اوګرځي ، او ده ته به د روژه دار هومره ثواب ملاويږي خو د روژه دار په ثواب کې به هيڅ کمې نشي کولی .

---

(۱) المعجم الكبير للطبراني رقم الحديث ۶۱۶۲ ، كنز العمال رقم الحديث ۲۳۶۵۷ ، الترغيب والترهيب ج۲ ص ۹۲ .

(۲) شعب الايمان رقم الحديث ۳۳۳۶ الصيام فضائل شهر رمضان ، مشكاة المصابيح كتاب الصوم الفصل الثالث رقم الحديث ۱۹۶۵ (۱۰) ، صحيح ابن خزيمة باب فضائل شهر رمضان ... رقم الحديث ۱۸۸۷ ، كنز العمال رقم الحديث ۲۳۷۱۴ ، ورقم ۲۴۲۷۶ ، معارف الحديث ج۴ ص ۳۴۶ كتاب الصوم .

دغه وجه ده چې زمونږ اسلافو به روژه دار ته د خوراک ورکولو پوره اهتمام کولو .

په " تفسیر روح البیان " کې ذکر دي چې حماد بن سلمه رحمه الله یو مشهور بزرګ تېر شوی، هغه به د رمضان په هره شپه پنځوس (۵۰) روژه دارو ته د روژه ماتي د پاره خوراک ورکول ، او د اختر په شپه به یې هریو ته یوه یوه جوړه جامې هم ورکولی . (۱)

**یوه غلط فهمي ختمول** : بعضې خلق روژه دار ته د روژه ماتي د پاره څه ورکړي یا ورته وایي چې " ته به روژه زما په دې څیز ماتوی " په دې سره دده مقصد داوي چې کله دې زما په دې څیز سره روژه ماته کړي نو ماته به دده د روژې هومره ثواب ملاؤ شي .

خبردار ، ددې وینا هیڅ ضرورت نشته ځکه الله رب العزت ډېر رحیم کریم ذات دی څوک چې روژه دار ته د روژه ماتي د پاره څه ورکړي که روژه دار په دې څیز سره روژه ماته کړي ، یا یې د خوراک په مینځ کې اوخوري ، یا یې په آخر کې اوخوري په دې ټولو صورتونو کې دې ورکوونکي ته د روژه دار د روژې هومره اجر و ثواب ملاویږي ، لهذا روژه دار ته د څه ورکولو په وخت کې دا ویل ندي په کار چې " ته به خامخا زما په دې څیز روژه ماتوی " . (۲)

# د نمر غورځیدلو نه پس په روژه ماتي کې تادي کول مستحب ده

کله چې نمر یقیني طریقې سره ډُوب شي نو بیا فورًا روژه ماتول په کار دي . (۳)

په احادیثو مبارکه وُ کې ددې ډېر ترغیب هم راغلی . او دا اُمت به تر هغه وخته پورې کامیابه وي چې تر څو پورې دوی د نمر غورځیدو نه پس په روژه ماتي کې تادي کوي .

---

(۱) وكان حماد بن سلمة الامام الحافظ يفطر في كل ليلة من شهر رمضان خمسين إنسانا وإذا كانت ليلة الفطر كساهم ثوبا ثوبا وكان يعد من الابدال . تفسير روح البيان ۲۹۵/۱ في تشريح سورة البقرة آية ۱۸۵ .

(۲) تحفه رمضان لمولانا اشرف علي تهالوي رحمه الله .

(۳) د بخاري شريف حديث دی ، رسول الله صلى الله عليه وسلم فرمايي : إِذَا أَقْبَلَ اللَّيْلُ مِنْ هَاهُنَا، وَأَدْبَرَ النَّهَارُ مِنْ هَاهُنَا، وَغَرَبَتِ الشَّمْسُ فَقَدْ أَفْطَرَ الصَّائِمُ . صحيح البخاري كِتَابُ الصَّوْمِ بَابٌ: مَتَى يَحِلُّ فِطْرُ الصَّائِمِ رقم الحديث ۱۹۵۴ . کله چې شپه د ديخوا ( يعنی مشرق د طرف ) نه راشي ، او ورځ د ديخوا ( يعنی مغرب د طرف ) نه لاړه شي او نمر ډوب شي نو ( د روژه ماتي وخت داخل شو ) روژه دار دې روژه ماته کړي .

امام بخاري رحمه الله په دې باندې مستقل باب قائم کړی " بَابُ تَعْجِيْلِ الْإِفْطَارِ " او بيا يې ددې لاندې دا حديثِ مبارکه رانقل کړی، رسول الله صلى الله عليه وسلم فرمايي:

لَا يَزَالُ النَّاسُ بِخَيْرٍ مَا عَجَّلُوا الْفِطْرَ. (۱)

خلق به تر هاغه وخته پورې هميشه په خير (آرام، راحت او فراخی) کې وي تر څو پورې چې دوی (د نمر ډوبيدو نه پس) په روژه ماتي کې تادي کوي. (۲)

په فتاوی حقانيه کې ذکر دي چې د نمر پريوتل قطعي او بديهي څيز دی، ددې نه پس د غلبه ظن او احتياط دعوی کول بې بُنياده ده، دغه وجه ده چې په شريعت کې په روژه ماتي کې تادي کول افضل ده. (۳)

## نبي ﷺ به په روژه ماتي کې تادي (جلتي) کوله

حضرت انس بن مالک رضي الله عنه فرمايي:

مَا رَأَيْتُ رَسُوْلَ اللهِ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ قَطُّ صَلَّى صَلَاةَ الْمَغْرِبِ حَتَّى يُفْطِرَ وَلَوْ عَلَى شَرْبَةٍ مِنْ مَاءٍ. (۱)

---

(۱) صحيح البخاري كِتَابُ الصَّوْمِ بَابُ تَعْجِيْلِ الإِفْطَارِ رقم الحديث ۱۹۵۷، صحيح مسلم كِتَابِ الصِّيَامِ بَابُ فَضْلِ السُّحُوْرِ وَتَأْكِيْدِ اِسْتِحْبَابِهِ، وَاسْتِحْبَابِ تَأْخِيْرِهِ وَتَعْجِيْلِ الْفِطْرِ رقم الحديث ۴۸ (۱۰۹۸).

(۲) لَا يَزَالُ: أي يبقون في سعة و راحة إذا هم أفطروا عقب تحقق الغروب. لأنه أرفق بهم وأقوى لهم على العبادة وكذلك يحصل لهم مزيد من الأجر والمثوبة لتمسكهم بسنّة رسول الله صلى الله عليه وسلم. تعليق مصطفى البغا على البخاري

ملا علي قاري رحمه الله ددې حديث په تشريح کې ليکلي: لَا يَزَالُ النَّاسُ بِخَيْرٍ: أَيْ مَوْصُوْفِيْنَ بِخَيْرٍ كَثِيْرٍ، أَوِ الْمُرَادُ بِالْخَيْرِ ضِدُّ الشَّرِّ وَالْفَسَادِ "مَا عَجَّلُوا الْفِطْرَ" أَيْ مَا دَامُوْا عَلَى هَذِهِ السُّنَّةِ. وَيُسَنُّ تَقْدِيْمُهُ عَلَى الصَّلَاةِ لِلْخَبَرِ الصَّحِيْحِ بِهِ. قَالَ التُّوْرِبِشْتِيُّ: فَإِنَّ فِي التَّعْجِيْلِ مُخَالَفَةَ أَهْلِ الْكِتَابِ فَإِنَّهُمْ يُؤَخِّرُوْنَهُ إِلَى اشْتِبَاكِ النُّجُوْمِ أَيِ اخْتِلَاطِهَا، ثُمَّ صَارَ عَادَةً لِأَهْلِ الْبِدْعَةِ فِيْ مِلَّتِنَا. مرقاة المفاتيح شرح مشكاة المصابيح ۱۳۸۱/۴ كتاب الصوم باب في مسائل متفرقة من كتاب الصوم في تشريح رقم الحديث ۱۹۸۴.

(۳) ويستحبّ للصائم تعجيل الافطار قبل طلوع النجوم. فتاوى تاتارخانية ج۲ ص ۳۸۱ الفصل السادس في الاسباب المبيحة. خلاصة الفتاوى ج۱ ص ۲٦٦ كتاب الصوم الفصل الخامس في الحظر والاباحة، ومثله في مراقي الفلاح على صدر الطحطاوي ص ۵٦۲ كتاب الصوم. فتاوى حقانيه ج۴ ص ۱۵۸.

ما رسول الله صلی الله علیه وسلم هیڅ کله داسې ندي لیدلی چې هغوی د روژه ماتي نه بغیر د ماښام مونځ کړې وي (بلکه اول به یې روژه ماته کړه بیا به یې د ماښام مونځ کولو) اګر چې دا (روژه ماتول) به د اُوبو په یو غړپ (ګوټ) سره وو. (یعنی که نور به څه نه وو نو اول به یې په اُوبو سره روژه ماته کړه بیا به یې مونځ کولو).

## په روژه ماتي کې تادي کوونکې الله ﷻ ته مَحبوب دی

۱. حدیث قدسي دی، الله تعالی فرمایي: إِنَّ أَحَبَّ عِبَادِيْ إِلَيَّ أَعْجَلُهُمْ فِطْرًا. (۲)

بیشکه په بندګانو کې ماته ډیر محبوب هغه کس دی چې هغه (د نمر پریوتلو نه پس) په روژه ماتي کې تادي (جَلتي) کوي.

۲. په یو بل حدیث کې ذکر دي، نبي کریم صلی الله علیه وسلم فرمایي:

ثَلَاثَةٌ يُحِبُّهَا اللهُ: تَعْجِيْلُ الْفِطْرِ، وَتَأْخِيْرُ السُّحُوْرِ، وَضَرْبُ الْيَدَيْنِ إِحْدَاهُمَا عَلَى الْأُخْرٰى فِي الصَّلَاةِ. (۳)

درې خبرې الله تعالی ډیرې خوښوي: ۱. په روژه ماتي کې تادي کول. ۲. په پیشمني کې روستوالې کول (یعنی په آخري وخت کې کول). ۳. په مانځه کې (د قِیام په حالت کې) یو لاس په بل لاس باندې ایخودل. (یعنی لاسونه د نامه نه لاندې ترل).

## وجوهات:

په روژه ماتي کې د تادي کولو په وجه انسان ځکه د الله ﷻ محبوب جوړیږي چې د دې

(۱) صحیح ابن حبان رقم الحدیث ۳۵۰۴ کتاب الصوم بَابُ الْإِفْطَارِ وَتَعْجِيْلِهِ ذِكْرُ الْاِسْتِحْبَابِ لِلصُّوَّامِ تَعْجِيْلُ الْإِفْطَارِ قَبْلَ صَلَاةِ الْمَغْرِبِ. صحیح الترغیب والترهیب ج۱ ص ۶۲۲ رقم الحدیث ۱۰۷۶(۴) کتاب الصوم الترغیب في تعجیل الفطر وتأخیر السحور، المستدرک علی الصحیحین للحاکم کتاب الصوم رقم الحدیث ۱۵۷۷، واخرجه ابن خزیمة "۲۰۶۳"، والبزار "۹۸۴"، والحاکم ۴۳۲/۱، والبیهقي ۲۳۹/۴.

(۲) سنن الترمذي أَبْوَابُ الصَّوْمِ عَنْ رَسُوْلِ اللهِ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ بَابُ مَا جَاءَ فِي تَعْجِيْلِ الْإِفْطَارِ رقم الحدیث ۷۰۰، مشکاة المصابیح بَابٌ فِي مَسَائِلَ مُتَفَرِّقَةٍ من کتاب الصَّوْم الفصل الثاني رقم الحدیث ۱۹۸۹ (۸)، کنز العمال رقم الحدیث ۲۳۸۸۰، ورقم ۲۳۸۹۲.

(۳) المعجم الاوسط للطبراني رقم الحدیث ۷۴۷۰ باب المیم مَن اسمُه: محمد، کنز العمال رقم الحدیث ۴۳۲۵۷،

يو څو وجوهات دي:

**اوله وجه**: په دې کې د نبي عليه السلام د سُنتو تابعداري راځي، ځکه د پيغمبر ﷺ خپله طريقه دا وه چې د نمر پريوتلو نه پس به يې په روژه ماتي کې تادي (جَلتي) کوله.

نبي کريم صلى الله عليه وسلم فرمايي:

لَا تَزَالُ أُمَّتِيْ عَلٰى سُنَّتِيْ مَا لَمْ تَنْتَظِرْ بِفِطْرِهَا النُّجُوْمَ. (۱)

زما اُمت به تر هاغه وخته پورې زما په سُنتو قائم وي تر څو پورې چې دوی د روژې ماتولو د پاره د ستورو راختلو اِنتظار نه کوي.

او دا يقيني خبره ده چې د رسول الله صلى الله عليه وسلم د سُنتو په اِتباع سره انسان د الله ﷻ محبوب جوړيږي، الله رب العزت فرمايي:

﴿ قُلْ إِنْ كُنْتُمْ تُحِبُّوْنَ اللهَ فَاتَّبِعُوْنِيْ يُحْبِبْكُمُ اللهُ ﴾. (۲)

ترجمه: (اې پيغمبره!) ته (خلقو ته) ووايه که چيرته تاسو د الله ﷻ سره په رښتيا محبت کوئ (او د دې محبت په وجه دا هم غواړئ چې الله ﷻ هم د تاسو سره محبت وکړي) نو (د دې مقصد حاصلولو د پاره) تاسو زما تابعداري وکړئ، نو الله به د تاسو سره محبت وکړي.

**دويمه وجه**: په روژه ماتي کې د تادئ په وجه د يهودو او نصارئ‌ؤ مخالفت راځي، ځکه دوی د نمر ډوبيدلو نه پس په روژه ماتي کې ډير روستو والې کوي.

**دريمه وجه**: په دې کې آساني ده، او د بنده عِجز هم ښکاره کيږي.

**څلورمه وجه**: د ماښام مونځ به په اطمينان او سکون سره اوکړي. ځکه په روژه ماتولو سره به د ولږې او تندې اثر ختم شوې وي.

ملاعلي قاري رحمه الله په "مرقاة شرح مشکوة" کې دا مذکوره او څه نور وجوهات

---

(۱) إِسنادُهُ صحيحٌ. صحيح ابن حبان بَابُ الْإِفْطَارِ وَتَعْجِيلِهِ رقم الحديث ۳۵۱۰، صحيح الترغيب والترهيب رقم الحديث ۱۰۷۴ (۲) الترغيب في تعجيل الفطر وتاخير السحور، كنز العمال رقم ۲۳۸۸۱، و رقم ۲۳۸۹۱.

(۲) آل عمران آية ۳۱.

ذکر کړي دي. (۱)

## په روژه ماتي کې روستو والې کول د یهود او نصارئ طریقه ده

کله چې نمر په یقیني طریقې سره ډوب شي نو بیا په روژه ماتي کې روستو والې کول د یهود او عیسایانو طریقه ده، او نن صبا دا د روافضو طریقه هم ده.

د ابوداؤد شریف حدیث دی، رسول الله صلی الله علیه وسلم فرمایي:

لَا يَزَالُ الدِّيْنُ ظَاهِرًا مَا عَجَّلَ النَّاسُ الْفِطْرَ، لِأَنَّ الْيَهُوْدَ، وَالنَّصَارٰى يُؤَخِّرُوْنَ. (۲)

دا دِین به همیشه غالب وي تر څو پورې چې خلق په روژه ماتي کې تادي (جَلتي) کوي ځکه چې یهود او نصاریٰ په روژه ماتي کې روستو والې کوي.

**فایده**: ددې حدیث نه معلومه شوه چې په روژه ماتي کې روستو والې کول د یهود او نصارئ طریقه ده، دوی به دومره ډیر اِنتظار کولو چې ستوري به ډیر ګڼړ راأوختل او بنه به روښانه شول نو بیا به یې روژه ماتوله، نن صبا همدا طریقه د رواِفضو هم ده.

(۱) قَالَ الطِّيْبِيُّ: وَلَعَلَّ السَّبَبَ فِيْ هٰذِهِ الْمَحَبَّةِ الْمُتَابَعَةُ لِلسُّنَّةِ وَالْمُبَاعَدَةُ عَنِ الْبِدْعَةِ وَالْمُخَالَفَةُ لِأَهْلِ الْكِتَابِ اهـ. وَفِيْهِ إِيْمَاءٌ إِلَى أَفْضَلِيَّةِ هٰذِهِ الْأُمَّةِ لِأَنَّ مُتَابَعَةَ الْحَدِيْثِ تُوْجِبُ مَحَبَّةَ اللهِ تَعَالٰى { قُلْ إِنْ كُنْتُمْ تُحِبُّوْنَ اللهَ فَاتَّبِعُوْنِيْ يُحْبِبْكُمُ اللهُ . آل عمران: ۳۱} وَإِلَيْهِ الْإِشَارَةُ بِالْحَدِيْثِ الْآتِيْ: " « لَا يَزَالُ الدِّيْنُ ظَاهِرًا مَا عَجَّلَ النَّاسُ الْفِطْرَ لِأَنَّ الْيَهُوْدَ وَالنَّصَارٰى يُؤَخِّرُوْنَ » ". وَسَبَبُهُ وَاللهُ تَعَالٰى أَعْلَمُ أَنَّ هٰذِهِ الْمِلَّةَ الْحَنِيْفِيَّةَ سَمْحَاءُ سَهْلَةٌ لَيْسَ فِيْهَا حَرَجٌ لِيَسْهُلَ قِيَامُهُمْ بِهَا وَالْمُدَاوَمَةُ عَلَيْهَا، وَلِذَا قِيْلَ: عَلَيْكُمْ بِدِيْنِ الْعَجَائِزِ. بِخِلَافِ أَهْلِ الْكِتَابِ فَإِنَّهُمْ شَدَّدُوْا عَلٰى أَنْفُسِهِمْ فَشَدَّدَ اللهُ عَلَيْهِمْ، فَغُلِبُوْا وَلَمْ يَقْدِرُوْا أَنْ يُقِيْمُوا الدِّيْنَ. وَقَالَ ابْنُ الْمَلَكِ: وَلِأَنَّهُ إِذَا أَفْطَرَ قَبْلَ الصَّلَاةِ يُؤَدِّيْهَا عَنْ حُضُوْرِ قَلْبٍ وَطُمَأْنِيْنَةِ نَفْسٍ، وَمَنْ كَانَ بِهٰذِهِ الصِّفَةِ فَهُوَ أَحَبُّ إِلَى اللهِ مِمَّنْ لَمْ يَكُنْ كَذٰلِكَ اهـ وَلِذَا قِيْلَ: اَلطَّعَامُ الْمُمْتَزِجُ بِالصَّلَاةِ خَيْرٌ مِنَ الصَّلَاةِ الْمُخْتَلِطَةِ بِالطَّعَامِ. مرقاة المفاتيح شرح مشكاة المصابيح ۱۳۸۴/۴ في تشريح حديث ۱۹۸۹ باب في مسائل متفرقة من كتاب الصوم.

(۲) سنن ابي داؤد رقم الحديث ۲۳۵۳ كِتَابُ الصَّوْمِ بَابُ مَا يُسْتَحَبُّ مِنْ تَعْجِيلِ الْفِطْرِ، مسند احمد رقم الحديث ۹۸۱۰. صحيح ابن حبان رقم ۳۵۰۹ ذكر العلة التي من اجلها كان يُحبّ صلى الله عليه وسلم تعجيل الفطر، المستدرك على الصحيحين للحاكم كتاب الصوم رقم ۱۵۷۳ وقال الحاكم: هٰذَا حَدِيْثٌ صَحِيْحٌ عَلٰى شَرْطِ مُسْلِمٍ. وَلَمْ يُخَرِّجَاهُ. السنن الكبرى للبيهقي رقم ۸۱۱۹، مشكوة المصابيح رقم ۱۹۹۵(۱۴)، صحيح الترغيب والترهيب رقم ۱۰۷۵(۳) الترغيب في تعجيل الفطر وتاخير السحور قال الالباني: هذا حديث حسن.

نو اوس چې څوک د نمر غورځيدو نه پس په روژه ماتې کې تادي کوي نو دا د نبي عليه السلام په سُنتو باندې عمل کوي ، او د اهلِ باطلو مخالفت کوي ، او دا خبره يقيني ده چې د دين مضبوطوالې هم په دې کې دى چې د اهلِ کتابو مخالفت اوکړې شي ، ځکه د دوى سره موافقت او دوستې د دِين د نقصان ذريعه ده .(۱)

الله رب العزت د دوى سره د دوستې نه منع کړې :

﴿ يٰٓاَيُّهَا الَّذِيْنَ اٰمَنُوْا لَا تَتَّخِذُوا الْيَهُوْدَ وَالنَّصٰرٰٓى اَوْلِيَآءَ ﴾ .(۲)

ترجمه : اې مؤمنانو ! تاسو يهود او نصارىٰ دوستان مه جوړوئ .

## د الله ﷻ او د رسول ﷺ حُکم منل دِين دى

محترمو ! د دِين دارومدار په دې باندې دى چې انسان د الله ﷻ او د هغه د رسول حُکم اومني ، دوى چې څنګه حُکم کړې وي هماغه حکم منل دِين دى ، خپل خواهشات پوره کول دِين نه دى ، مثلاً د الله رب العزت يو حکم دادى چې " په روژه کې د صُبح صادق نه تر د نمر پريوتلو پورې د خوراک ، څکاک او نفسي خواهِش ( يعنى جِماع ) نه ځان اوساته " نو اوس دِين دادى چې انسان په دې وخت کې د مذکوره شيانو نه ځان اوساتي ، دغه وجه ده چې که يو کس د نمر پريوتلو نه يو مِنټ مخکې خوراک اوکړي نو روژه يې ماتيږي او کفاره ( شپيته روژې ... ) هم ورباندې لازميږي ، ځکه ده د الله ﷻ حُکم پوره نه کړو .

---

(۱) ملا علي قاري رحمه الله د مذکوره حديث تشريح داسې کړې : "لَا يَزَالُ الدِّيْنُ ظَاهِرًا" : أَيْ غَالِبًا وَعَالِيًا أَوْ وَاضِحًا وَلَائِحًا "مَا عَجَّلَ النَّاسُ الْفِطْرَ" : أَيْ مُدَّةَ تَعْجِيْلِهِمُ الْفِطْرَ "لِأَنَّ الْيَهُوْدَ وَالنَّصَارٰى يُؤَخِّرُوْنَ" : أَيِ الْفِطْرَ إِلَى اشْتِبَاكِ النُّجُوْمِ وَتَبِعَهُمُ الْأَرْفَاضُ فِيْ زَمَانِنَا . قَالَ الطِّيْبِيُّ: فِيْ هٰذَا التَّعْلِيْلِ دَلِيْلٌ عَلٰى أَنَّ قِوَامَ الدِّيْنِ الْحَنِيْفِيِّ عَلٰى مُخَالَفَةِ الْأَعْدَاءِ مِنْ أَهْلِ الْكِتَابِ، وَأَنَّ فِيْ مُوَافَقَتِهِمْ تَلَفًا لِلدِّيْنِ، قَالَ تَعَالٰى ﴿ يٰٓاَيُّهَا الَّذِيْنَ اٰمَنُوْا لَا تَتَّخِذُوا الْيَهُوْدَ وَالنَّصٰرٰٓى اَوْلِيَآءَ ﴾ . مرقاة المفاتيح شرح مشكاة المصابيح ۱۳۸۷/۴ في تشريح حديث ۱۹۹۵ كتاب الصوم باب في مسائل متفرقة من كتاب الصوم .

(۲) المائدة آية ۵۱ ./ همدا مضمون په نورو آيتونو کې هم ذکر شوى : يٰٓاَيُّهَا الَّذِيْنَ اٰمَنُوْا لَا تَتَّخِذُوا الْكٰفِرِيْنَ اَوْلِيَآءَ مِنْ دُوْنِ الْمُؤْمِنِيْنَ النساء آية ۱۴۴ . يٰٓاَيُّهَا الَّذِيْنَ اٰمَنُوْا لَا تَتَّخِذُوْا عَدُوِّيْ وَعَدُوَّكُمْ اَوْلِيَآءَ . الممتحنة آية ۱ . يٰٓاَيُّهَا الَّذِيْنَ اٰمَنُوْا لَا تَتَّخِذُوا الَّذِيْنَ اتَّخَذُوْا دِيْنَكُمْ هُزُوًا وَّلَعِبًا مِّنَ الَّذِيْنَ اُوْتُوا الْكِتٰبَ مِنْ قَبْلِكُمْ وَالْكُفَّارَ اَوْلِيَآءَ . المائدة آية ۵۷ .

بيا چې کله د ماښام وخت داخل شي نو په دې وخت کې د شريعت حُکم دادی چې " اوس تادي (جَلتي) اوکړه او روژه ماته کړه " اوس ثواب هم په همدې خوړلو کې دی ، لهذا که يو کس د نمر پريوتلو نه پس روژه نه ماتوي او ډير انتظار کوي نو دا د شرعي حُکم خلاف وَرزي او گناه ده .

خلاصه دا چې اصل حُکم دادی چې انسان د الله ﷻ او د هغه د رسول ﷺ حُکم او مني . که هغوی په کوم وخت کې د خوراک څکاک وغيره نه منع کړې وي نو همدا منع کيدل ترې ثواب دی ، او که په کوم وخت کې يې د خوراک څکاک حکم کړې وي نو بيا په همدې خوراک څکاک کولو کې ثواب دی ، او همدا د بندگۍ تقاضا هم ده . (۱)

## مسْئله :

په روژه ماتي کې تادي (جَلتي) کول هلته مستحب ده چې انسان ته يقيني معلومه شي چې نمر غورځيدلې دی ، او د ماښام وخت داخل شوې دی .

البته که چيرته په نمر غورځيدو کې شک وي ، يا په آسمان کې وريځ وي ، د نمر غورځيدو پوره پته نه لږي نو بيا به يو څو منټه اِنتظار کوي .

همدغه رنگې که د ماښام آذان اوشي خو دده په زړه کې شک وي " چې تر اوسه وخت ندې داخل شوی او دې مؤذِن لږ مخکې آذان اوکړو " نو بيا به هم دا کس په روژه ماتي کې يو څو منټه انتظار کوي ، چې کله يې يقين راشي چې اوس وخت داخل شو نو بيا به روژه ماته کړي . (۲)

## د رُوژه ماتي په وخت دُعا

د ابوداؤد شريف حديث دی ، حضرت مُعاذ بن زُهره ﷺ فرمايي : ماته دا روايت رارسيدلی چې نبي کريم صلی الله عليه وسلم به کله روژه ماتوله نو دا دُعا به يې ويله :

---

(۱) خطبات عثماني (لمولانا تقي عثماني دامت برکاتهم العالية) .

(۲) بهشتي زيور لمولانا اشرف علي تهانوي رحمه الله .

اَللّٰهُمَّ لَكَ صُمْتُ، وَعَلٰى رِزْقِكَ أَفْطَرْتُ .(۱)

اې الله ! ما ستا د پاره روژه اونيوه ، او ستا په رزق مې ماته کړه .(۲)

اول دا پاس مذکوره دُعا ويل په کار دي ، بيا ورپسې دا لاندې کلمات ويل په کار دي :

د ابوداؤد شريف حديث دی چې کله به نبي ﷺ روژه ماتوله نو دا کلمات به يې ويل :

ذَهَبَ الظَّمَأُ وَابْتَلَّتِ الْعُرُوْقُ، وَثَبَتَ الْأَجْرُ إِنْ شَاءَ اللّٰهُ .(۳)

تنده لاړه ، رګونه لامده شو ، او که الله ﷻ اوغواړي نو ( د آخرت نه ختميدونکې ) اَجر و ثواب ثابت شو .

په بعضو رواياتو کې د نبي ﷺ نه د روژه ماتي په وخت کې نورې دُعاګانې هم نقل دي (۴)

---

(۱) عَنْ مُعَاذِ بْنِ زُهْرَةَ، أَنَّهُ بَلَغَهُ "أَنَّ النَّبِيَّ صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ كَانَ إِذَا أَفْطَرَ قَالَ: « اَللّٰهُمَّ لَكَ صُمْتُ. وَعَلٰى رِزْقِكَ أَفْطَرْتُ » . سنن ابي داؤد كِتَابُ الصَّوْمِ بَابُ الْقَوْلِ عِنْدَ الْإِفْطَارِ رقم الحديث ۲۳۵۸ ، مشكوة المصابيح كتاب الصوم الفصل الثاني رقم الحديث ۱۹۹۴(۱۳) ، شعب الايمان رقم الحديث ۳۶۱۹ ، شرح السنّة للبغوي باب يقول عند الفطر رقم الحديث ۱۷۴۰ ، السنن الكبرى للبيهقي باب ما يقول اذا الفطر رقم الحديث ۸۱۳۴ .

وفي رواية : عَنِ ابْنِ عَبَّاسٍ رضي الله عنهما قَالَ: كَانَ النَّبِيُّ صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ: إِذَا أَفْطَرَ قَالَ: «لَكَ صُمْتُ، وَعَلٰى رِزْقِكَ أَفْطَرْتُ فَتَقَبَّلْ مِنِّيْ إِنَّكَ أَنْتَ السَّمِيْعُ الْعَلِيْمُ» . المعجم الكبير للطبراني رقم الحديث ۱۲۷۲۰ ، كنزالعمال الفصل الرابع في الصوم رقم الحديث ۱۸۰۵۷ .

(۲) نوټ : عام طور باندې په دې مذکوره دُعا کې د اَللّٰهُمَّ لَكَ صُمْتُ نه پس دا الفاظ "وَبِكَ آمَنْتُ وَعَلَيْكَ تَوَكَّلْتُ" هم لوستلې شي ، دا الفاظ اګر چې په حديث کې نشته خو د معنی په اعتبار سره صحيح دي . مظاهر حق كتاب الصوم ج۳ في تشريح حديث ۱۳ .

(۳) سنن ابي داؤد كِتَابُ الصَّوْمِ بَابُ الْقَوْلِ عِنْدَ الْإِفْطَارِ رقم الحديث ۲۳۵۷ وقال الالباني : هذا حديث حسن . المعجم الكبير للطبراني رقم ۱۴۰۹۷ ، المستدرك على الصحيحين للحاكم رقم ۱۵۳۶ وقال الحاكم : هذا حديث صحيح على شرط الشيخين ، السنن الكبرى للبيهقي رقم ۸۱۳۳ ، شرح السنّة للبغوي باب ما يقول عند الافطار رقم ۱۷۴۰ ، مشكوة المصابيح كتاب الصوم الفصل الثاني رقم ۱۹۹۳ (۱۲) ، كنزالعمال الفصل الرابع في الصوم رقم الحديث ۱۸۰۵۵ .

(۴) دا دُعا هم د نبي ﷺ نه نقل ده : يَا وَاسِعَ الْفَضْلِ اغْفِرْ لِيْ . اې د فراخه فضل واله ! زما مغفرت اوکړه . معارف الحديث ج۴ ص ۳۶۸ كتاب الصوم ./ دا دُعا هم د نبي ﷺ نه نقل ده : اَلْحَمْدُ لِلّٰهِ الَّذِيْ أَعَانَنِيْ فَصُمْتُ وَرَزَقَنِيْ فَأَفْطَرْتُ . ټول تعريفونه هغه الله ﷻ لره دي چې هغه زما مدد اوکړو چې ما روژه اونيوه ، او ماته يې رزق راکړو چې ما پرې روژه ماته کړه . مظاهر حق ج۳ كتاب الصوم .

## په قجورو یا اُوبو سره روژه ماتول مستحب ده

د ترمذي شریف حدیث دی، رسول الله صلی الله علیه وسلم فرمايي:

إِذَا أَفْطَرَ أَحَدُكُمْ فَلْيُفْطِرْ عَلَى تَمْرٍ. فَإِنْ لَمْ يَجِدْ فَلْيُفْطِرْ عَلَى مَاءٍ فَإِنَّهُ طَهُورٌ. (۱)

کله چې په تاسو کې یو کس روژه ماتوي نو دا دې په قجورو سره ماته کړي (ځکه په قجورو سره روژه ماتولو کې برکت دی (۲))، که چیرته قجورې او نه مومي نو بیا دې په اُوبو روژه ماته کړي ځکه اُوبه پاکوونکي دي.

## نبي ﷺ به په قجورو یا اُوبو سره روژه ماتوله

نبي کریم صلی الله علیه وسلم به هم په قجورو یا اُوبو سره روژه ماتوله.

د ابوداؤد شریف حدیث دی، حضرت انس بن مالک رضي الله عنه فرمايي:

كَانَ رَسُوْلُ اللهِ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ يُفْطِرُ عَلَى رُطَبَاتٍ قَبْلَ أَنْ يُصَلِّيَ. فَإِنْ لَمْ تَكُنْ رُطَبَاتٌ فَعَلَى تَمَرَاتٍ. فَإِنْ لَمْ تَكُنْ حَسَا حَسَوَاتٍ مِنْ مَاءٍ. (۳)

رسول الله ﷺ به د ماښام مانځه نه مخکې په یو څو تازه (لمدو) قجورو باندې روژه ماتوله، که تازه قجورې به نه وې نو په اُوچو قجورو به یې روژه ماتوله، او که اُوچې قجورې

---

(۱) سنن الترمذي أَبْوَابُ الصَّوْمِ عَنْ رَسُوْلِ اللهِ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ بَابُ مَا جَاءَ مَا يُسْتَحَبُّ عَلَيْهِ الإِفْطَارُ رقم الحديث ۶۹۵ وقال الترمذي: هَذَا حَدِيثٌ حَسَنٌ صَحِيحٌ، مسند احمد رقم الحديث ۱۶۲۲۵، و رقم ۱۶۲۳۲، سنن ابن ماجة باب ما جاء على ما يستحب الفطر.

(۲) وفي رواية: قَالَ رَسُوْلُ اللهِ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ: «إِذَا أَفْطَرَ أَحَدُكُمْ فَلْيُفْطِرْ عَلَى تَمْرٍ فَإِنَّهُ بَرَكَةٌ فَإِنْ لَمْ يَجِدْ فَلْيُفْطِرْ عَلَى مَاءٍ فَإِنَّهُ طَهُورٌ». رَوَاهُ أَحْمَدُ وَالتِّرْمِذِيُّ وَأَبُو دَاوُدَ وَابْنُ مَاجَهْ وَالدَّارِمِيُّ. وَلَمْ يَذْكُرْ: «فَإِنَّهُ بَرَكَةٌ» غَيْرُ التِّرْمِذِيِّ. مشكوة المصابيح كتاب الصَّوْم بَابٌ فِي مَسَائِلَ مُتَفَرِّقَةٍ من كتاب الصَّوْم الفصل الثاني رقم الحديث ۱۹۹۰(۹)، سنن الترمذي كتاب الزكاة بَابُ مَا جَاءَ فِي الصَّدَقَةِ عَلَى ذِي الْقَرَابَةِ رقم الحديث ۶۵۸ شرح السنة للبغوي رقم الحديث ۱۶۸۴.

(۳) سنن ابي داؤد كِتَابُ الصَّوْمِ بَابُ مَا يُفْطَرُ عَلَيْهِ رقم الحديث ۲۳۵۶ وقال الالباني: حسن صحيح. مسند احمد رقم الحديث ۱۲۶۷۶، سنن الترمذي باب ماجاء ما يستحب عليه الافطار رقم الحديث ۶۹۶، المستدرک على الصحيحين للحاكم رقم ۱۵۷۶، صحيح ابن حبان رقم ۳۵۱۵، مشكوة المصابيح كتاب الصوم بَابٌ فِي مَسَائِلَ مُتَفَرِّقَةٍ من كتاب الصَّوْم الفصل الثاني رقم ۱۹۹۱(۱۰).

به هم نه وي نو يو څو (يعنى درې) ګوټه (چُونګه) اوبه به يې اوڅکلى.

**په قجورو یا اوبو سره د روژې ماتولو حکمت** : په قجورو يا اوبو سره روژه ماتول مستحب ده ، نبي عليه السلام په قجورو سره د روژې ماتولو حُكم ځکه کړی چې قجورې د عربو بهترينه غِذا وه ، دا عامې پيدا كيدى ، غريبانانو هم خوړلې شوى نو ځکه په دې سره د روژې ماتولو حکم اوشو .

بل دا چې په قجورو سره روژه ماتولو کې ډير حِکمتونه هم شته : يو ظاهري حِکمت په کې دادى چې كله د مابنام په وخت معده خالي وي په دې وخت کې چې كوم څيز اوخوړل شي نو معده هغه په ښه شان قبلوي او هضموي نو كه په دې وخت کې معدې ته خوږ (شِيرين) څيز لاړ شي نو معدې ته ډير قوت وركوي ، بيا خاصكر قوّتِ باصِره (يعنى د سترګو قوت) ته ډيره فائده وركوي .

بيا كه قجورې پيدا نشي نو د اوبو سره دې روژه ماته کړي ، ځکه د اوبو خصوصيت دادى چې ديته الله تعالى طهور (ډيرې پاکې اوبه) ويلي .(۱)

نو په اوبو سره روژه ماتولو کې د ظاهري او باطني پاکوالي نېک فالي هم شته .(۲)

---

(۱) الله تعالى فرمايي : وَاَنْزَلْنَا مِنَ السَّمَاءِ مَاءً طَهُوْرًا . الفرقان آية ۴۸ .

(۲) " إِذَا أَفْطَرَ أَحَدُكُمْ فَلْيُفْطِرْ " الْأَمْرُ لِلنَّدْبِ "عَلَى تَمْرٍ" أَيْ عَلَى تَمْرَةٍ اِكْتِفَاءً بِأَصْلِ السُّنَّةِ، وَإِلَّا فَأَدْنَى كَمَالِهَا ثَلَاثٌ كَمَا سَيَأْتِي. مَعَ أَنَّ التَّمْرَ اِسْمُ جِنْسٍ "فَإِنَّهُ" أَيِ التَّمْرُ "بَرَكَةٌ" أَيْ ذُوْ بَرَكَةٍ وَخَيْرٍ كَثِيْرٍ. أَوْ أُرِيْدَ بِهِ الْمُبَالَغَةُ. وَلَعَلَّ الْحِكْمَةَ فِيْهِ أَنَّ الْحَلَاءَ يُسْرِعُ الْقُوَّةَ إِلَى الْقَوِيِّ، وَفِيْهِ إِيْمَاءٌ إِلَى حَلَاوَةِ الْإِيْمَانِ، وَإِشَارَةٌ إِلَى زَوَالِ مَرَارَةِ الْعِصْيَانِ ...

وَقَالَ ابْنُ الْمَلَكِ: اَلْأَوْلَى أَنْ تُحَالَ عِلَّتُهُ إِلَى الشَّارِعِ، وَأَمَّا مَا يَجْرِيْ فِي الْخَاطِرِ وَهُوَ أَنَّ التَّمْرَ حُلْوٌ وَقُوْتٌ، وَالنَّفْسُ قَدْ تَعِبَتْ بِمَرَارَةِ الْجُوْعِ فَأَمَرَ الشَّارِعُ بِإِزَالَةِ هٰذَا التَّعَبِ بِشَيْءٍ هُوَ قُوْتٌ وَحُلْوٌ.

وَقَالَ ابْنُ حَجَرٍ: وَمِنْ خَوَاصِّ التَّمْرِ أَنَّهُ إِذَا وَصَلَ إِلَى الْمَعِدَةِ إِنْ وَجَدَهَا خَالِيَةً حَصَلَ بِهِ الْغِذَاءُ وَإِلَّا أَخْرَجَ مَا هُنَاكَ مِنْ بَقَايَا الطَّعَامِ. وَقَوْلُ الْأَطِبَّاءِ إِنَّهُ يُضْعِفُ الْبَصَرَ مَحْمُوْلٌ عَلَى كَثِيْرِهِ الْمُضِرِّ دُوْنَ قَلِيْلِهِ فَإِنَّهُ يُقَوِّيْهِ "فَإِنْ لَمْ يَجِدْ" أَيِ التَّمْرَ وَنَحْوَهُ مِنَ الْحَلْوِيَّاتِ "فَلْيُفْطِرْ عَلَى مَاءٍ فَإِنَّهُ" أَيِ الْمَاءَ "طَهُوْرٌ" أَيْ بَالِغٌ فِي الطَّهَارَةِ فَيُبْتَدَأُ بِهِ تَفَاؤُلًا بِطَهَارَةِ الظَّاهِرِ وَالْبَاطِنِ. مرقاة المفاتيح شرح مشكاة المصابيح ۱۳۸۵/۴ في تشريح حديث ۱۹۹۰ كتاب الصوم باب في مسائل متفرقة من كتاب الصوم .

# په قجورو سره د روژې ماتولو سائنسي او طبي فوائد

۱ د روژې په وجه چونکه د انسان قوت کميږي نو د روژه ماتي په وخت داسې ځيز خوړل په کار دي چې هغه قوي وي او زر هضم شي ، نو قجوره داسې جامع او مُعتدل ځيز دی چې دا قوي هم ده ، زر هم هضميږي ، او د انسان د بدن د پاره چې په دې وخت کې ځومره اَجزاءضروري دي هغه ټول په دې کې شته .

۲ . د ځا په وجود کې چې وينه کمه وي نو د روژه ماتي په وخت ده ته د فولاد ( Iron ) سخت ضرورت وي ، حالانکه فولاد په قجوره کې قدرتي طور باندې موجود وي . لهذا ځوک چې په قجوره باندې روژه ماته کړي نو دده دا ضرورت هم پوره شي .

۳ . په ګرمۍ کې خلقو ته د روژې په وجه تَنده اُولږي نو که د روژه ماتي په وخت دوی فورًا يخې اُوبه اوڅکي نو په دې کې دا خطره شته چې ده ته د معدې ګېس ، تَبخير ، او د ځګر پَړسوب ( Liver inflamation ) مرضونه پيدا شي ، خو که روژه دار اول په قجورو سره روژه ماته کړي او بيا اُوبه اوڅکي نو د مذکوره ټولو مرضونو نه محفوظ کيږي .

٤ . د بعضې خلقو په وجود کې خُشکي وي نو قجوره چونکه مُعتدله ده که په دې سره روژه ماته کړې شي نو د خُشکۍ دا بيماري هم ختميږي . (۱)

# پيشمنې کول مستحب دي

د شپې په آخِري حصه کې پيشمنې کول مستحب دی ، که د يو انسان خوراک ته زړه نه کيږي خو بيا هم مستحب داده چې پيشمنې اوکړي ، يو ځو قجورې اُوخوري يا ځه اُوبه اوڅکي .

علامه بدرالدين عيني رحمه الله د بخاري شريف په شرح کې ليکلي :

قَالَ الْقَاضِيْ عِيَاضٌ : أَجْمَعَ الْفُقَهَاءُ عَلٰى أَنَّ السَّحُوْرَ مَنْدُوْبٌ إِلَيْهِ لَيْسَ بِوَاجِبٍ . (۲)

---

(۱) سنت نبوی اور جدید سائنس ج ۱ ص ۱۸۶ .

(۲) عمدة القاري شرح صحيح البخاري ۱۰/۳۰۰ كتاب الصَّوم باب بَرَكَةِ السَّحُورِ مِنْ غَيْرِ إِيْجَابٍ .

قاضي عِياض رحمه الله فرمايي : د فقهاء کرامو په دې باندې اتفاق دی چې پیشمنې مستحب دی، واجب نه دی.

همدغه شان خبره امام نووي رحمه الله هم ذکر کړی :

وَأَجْمَعَ الْعُلَمَاءُ عَلَى اسْتِحْبَابِهِ وَأَنَّهُ لَيْسَ بِوَاجِبٍ. (۱)

علماؤ د پیشمني په مستحب والي باندې اتفاق کړی، او په دې چې دا واجب نه دی.

## په پیشمني کولو کې برکت دی

په احادیثو مبارکه وُکې د پیشمني کولو ډیر فضیلت راغلی :

۱. د بخاري شريف او مسلم شريف حديث دی، رسول الله ﷺ فرمايي :

تَسَحَّرُوا فَإِنَّ فِي السَّحُورِ بَرَكَةً. (۲)

تاسو پیشمنې کوئ ځکه په پیشمني کولو کې برکت دی. (یعنی په دې کې دُنیوي برکت هم شته چې انسان ته د روژې په نیولو قوت حاصلیږي ، او د نبي عليه السلام په سُنتو باندې د عمل کولو په وجه انسان ته د آخرت اَجرونه او ثوابونه هم ملاویږي). (۳)

۲. په مسند احمد کې دا حديث ذکر دی، رسول الله صلی الله علیه وسلم فرمايي :

اَلسَّحُورُ أَكْلُهُ بَرَكَةٌ، فَلَا تَدَعُوهُ، وَلَوْ أَنْ يَجْرَعَ أَحَدُكُمْ جُرْعَةً مِنْ مَاءٍ، فَإِنَّ اللهَ عَزَّ وَجَلَّ وَمَلَائِكَتَهُ يُصَلُّونَ عَلَى الْمُتَسَحِّرِينَ. (۴)

---

(۱) شرح النووي على مسلم ۲۰٦/۷ باب فضل السحور وتأكيد استحبابه واستحباب تأخيره وتعجيل الفطر في تشريح حديث ۱۰۹۵.

(۲) صحيح البخاري رقم الحديث ۱۹۲۳ كِتَابُ الصَّوْمِ بَابُ بَرَكَةِ السَّحُورِ مِنْ غَيْرِ إِيجَابٍ ، صحيح مسلم باب فضل السحور و تاكيد استحبابه واستحباب تاخيره وتعجيل الفطر رقم الحديث ۴۵ (۱۰۹۵) ، سنن ابن ماجة رقم الحديث ۱٦۹۲ ، سنن الترمذي رقم ۷۰۸.

(۳) (تَسَحَّرُوا) من السحور والأمر للندب. (بَرَكَة) دنيوية في التقوى على صيام النهار وأخروية بمزيد الأجر والثواب. تعليق مصطفى البغا على البخاري.

(۴) مسند احمد رقم الحديث ۱۱۰۸٦ ، و رقم ۱۱۳۹٦ ، كنزالعمال الفصل السادس في السحور و وقته رقم الحديث ۲۳۹۵۷ ، صحيح ابن حبان محققا رقم ۳۴٦۷ ، و اخرجه ابونعيم في الحلية ۳۲۰/۸ ، و ذكره الهيثمي في المجمع ۱۵۰/۳ ، والزبيدي في الاتحاف ۳۳۰/۴ ، المتجر الرابح ص ۱۷۳ ثواب السحور ، و حسّنه الالباني في صحيح الجامع رقم ۱۸۴۴.

د پيشمني خوراک برکت دی ، لهذا تاسو دا مه پرېږدئ ، اګر چې تاسو کې يو کس ته د اُوبو يو غړپ (ګوټ) هم نصيب شي (خو بيا هم په دې سره پيشمنې کوئ) ، بيشکه الله ﷻ او دده فرښتې په پيشمني کوونکو باندې رحمتونه نازلوي (يعنی الله ﷻ وربانديې رحمت نازلوي ، او فرښتې د دوی د پاره د مغفرت او بخنې دُعاګانې کوي) . (۱)

**فائده** : په دې حديث کې دا هم ذکر شو په پيشمني کوونکو باندې الله ﷻ او فرښتې رحمت نازلوي نو دا څومره د خوش قسمتی خبره ده .

۳ . د ابوداؤد شريف حديث دی ، حضرت عِرباض بن سارية رضی الله عنه فرمايي چې رسول الله صلى الله عليه وسلم په رمضان کې زه د پيشمني خوراک د پاره را اُوبللم ، او راته وې فرمايل: هَلُمَّ إِلَى الْغَدَاءِ الْمُبَارَكِ . (۲)

دې برکت ناک خوراک د پاره راشه (او وې خوره) .

## پيشمني کوونکو ته د نبي عليه السلام دُعا

رسول الله صلى الله عليه وسلم پيشمني کوونکو ته دُعا کړې :

(۱) وفي رواية : اَلسَّحُوْرُ كُلُّهُ بَرَكَةٌ ... قال المنذري : رواه احمد وإسناده قوي ، صحيح الترغيب والترغيب رقم الحديث ۱۰۷۰(۸) كتاب الصوم الترغيب في السحور سيما بالتمر.

(۲) عَنِ الْعِرْبَاضِ بْنِ سَارِيَةَ قَالَ: دَعَانِيْ رَسُوْلُ اللهِ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ إِلَى السَّحُوْرِ فِيْ رَمَضَانَ، فَقَالَ: « هَلُمَّ إِلَى الْغَدَاءِ الْمُبَارَكِ » . سنن ابي داؤد كِتَابُ الصَّوْمِ بَابُ مَنْ سَمَّى السَّحُوْرَ الْغَدَاءَ رقم الحديث قال الالباني: صحيح . مسند احمد رقم الحديث ۱۷۱۵۲ ، سنن النسائي تسمية السحور غداءً رقم الحديث ۲۱۶۵ ، مشكوة المصابيح كتاب الصوم رقم الحديث ۱۹۹۷(۱۶) ، صحيح ابن حبان رقم الحديث ۳۴۶۵ .

وفي رواية : عَنْ رَجُلٍ مِنْ أَصْحَابِ النَّبِيِّ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ، قَالَ: دَخَلْتُ عَلَى النَّبِيِّ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ وَهُوَ يَتَسَحَّرُ، فَقَالَ: « إِنَّهَا بَرَكَةٌ أَعْطَاكُمُ اللهُ إِيَّاهَا فَلَا تَدَعُوْهُ » . قال الالباني: صحيح. سنن النسائي رقم الحديث ۲۱۶۲ كتاب الصِّيَامِ فَضْلُ السُّحُورِ . صحيح الترغيب والترهيب رقم ۱۰۶۹(۷) كتاب الصوم الترغيب في السحور سيما بالتمر.

يَرْحَمُ اللّٰهُ الْمُتَسَحِّرِيْنَ . (۱)

الله تعالی دې په پیشمني کوونکو باندې رحم اوکړي .

**فائده** : چې کله د پیشمني کولو دومره لوي اجر دی چې الله ﷻ په پیشمني کوونکي باندې رحمت نازلوي ، فرښتې ورته دُعا کوي ، او نبي علیه السلام هم ده ته دُعا کړی حالانکه پیشمنې د روژې د پاره مدد کوونکې دی نو اوس تاسو په خپله اَندازه اولږوئ چې د روژې به څومره ډیر فضائل وي ؟ (۲)

## زمونږ او د اهلِ کتابو د روژو په مینځ کې فرق پیشمنې کول دي

زمونږ او د اهلِ کتابو د روژو په مینځ کې دا فرق دی چې هغوی پیشمنې نه کوي او مونږ یې کوو ، د اهلِ کتابو په نزد د اُوده کیدلو نه پس خوراک حرام دی نو ځکه دوی پیشمنې نه کوي ، اګر چې د اسلام په ابتدائي دوَر کې د مسلمانانو د پاره هم د اُوده کیدو نه پس خوراک ناجائز وُ خو بیا روستو دا مباح شو ، لهذا اوس مسلمانانو ته پیشمنې کول په کار دي ددې د پاره چې د اهلِ کتابو نه زمونږ فرق راشي .

د مسلم شریف حدیث دی ، رسولُ الله صلی الله علیه وسلم فرمایي :

فَصْلُ مَا بَيْنَ صِيَامِنَا وَصِيَامِ أَهْلِ الْكِتَابِ أَكْلَةُ السَّحَرِ . (۳)

زمونږ او د اهلِ کتابو د روژو په مینځ کې فرق کوونکې څیز د پیشمني خوراک دی ( چې

(۱) المعجم الکبیر للطبراني رقم الحدیث ٦٦٨٩ ، صحیح ابن حبان ، کنزالعمال رقم الحدیث ۲۳۹۸۰ ، و رواه الهیثمي فی المجمع ۳/ ۱۵۱ ، والمنذري فی الترغیب ۲/ ۱۳۹ ، المتجر الرابح في ثواب العمل الصالح ص ۱۷۴ ثواب السحور .

(۲) فإنّ كان الله وملائكته يصلون على المتسحرين، والسحور عَونٌ على الصيام فما ظنّك بالصيام؟ فأكرم . بها من عبادة يصلي الله عليك بها والملأُ الأعلى. يا هذا: تبيع صلاة الله والملائكة بشبع وتخمة، ولا تصوم عن لقمة !! . نداء الريان في فقه الصوم وفضل رمضان ۱ / ٣٦ الفضيلة الثامنة تشريف الله والملائكة له بالصلاة عليه

(۳) صحیح مسلم كِتَاب الصِّيَامِ بَابُ فَضْلِ السُّحُورِ وَتَأْكِيدِ اسْتِحْبَابِهِ رقم الحدیث ۴٦ ( ۱۰۹٦ ) ، سنن ابي داؤد باب في توكيد السحور رقم ۲۳۴۳ ، مشكوة المصابيح رقم ۱۹۸۳(۲) كتاب الصوم باب في مسائل متفرقة من كتاب الصوم الفصل الاول ، صحيح ابن حبان ذكر العلة التي من اجلها امر بهذا الامر رقم ۳۴۷۷ ، السنن الكبرى للبيهقي رقم ۸۱۱۵ ، شرح السنّة للبغوي رقم ۱۷۲۹ .

مونږ پيشمني کوو او هغوی يې نه کوي). (۱)

## د پيشمني فوائد

مخکې حديث ذکر شو ، رسول الله ﷺ فرمايي : تاسو پيشمني کوئ ځکه په پيشمني کولو کې برکت دی . علامه ابن حجر رحمه الله په ''فتح الباري'' کې د پيشمني د برکت ډير وجوهات ذکر کړي ، يو څو دادي :

۱ . په پيشمني کولو سره د سُنتو تابعداري راځي . ۲ . د اهلِ کتابو مخالفت راځي ، ځکه هغوی پيشمني نه کوي . ۳ . په عباداتو باندې قوت حاصليږي . ۴ . کله د ډيرې اُولږې په وجه بَد اخلاقي او غصه هم پيدا کيږي ، نو د پيشمني کولو په وجه ډيره اُولږه نه راځي . ۵ . په پيشمني کې په خصوصيت سره دُعاګانې قبليږي . ۶ . پيشمني ته د راپاڅيدو په وجه د عبادت او ذکر و اذکار توفيق هم ملاويږي .

د دينه علاوه په پيشمني کولو کې نور ډيرې دُنيوي او اُخروي ګټې هم شته . (۲)

---

(۱) (فَصْلُ مَا بَيْنَ ...) معناه الفارق والمميز بين صيامنا وصيامهم السّحور فإنهم لا يتسحّرون ونحن يستحب لنا السحور ، وأكلة السّحر هي السحور . شرح محمد فؤاد عبد الباقي على صحيح مسلم

ملا علي قاري رحمه الله ددې حديث په تشريح کې ليکلي : قَالَ التُّورِبِشْتِيُّ: وَالْمَعْنَى أَنَّ السَّحُورَ هُوَ الْفَارِقُ بَيْنَ صِيَامِنَا وَصِيَامِ أَهْلِ الْكِتَابِ، لِأَنَّ اللهَ تَعَالَى أَبَاحَهُ لَنَا إِلَى الصُّبْحِ بَعْدَ مَا كَانَ حَرَامًا عَلَيْنَا أَيْضًا فِي بَدْءِ الْإِسْلَامِ، وَحَرَّمَهُ عَلَيْهِمْ بَعْدَ أَنْ يَنَامُوا أَوْ مُطْلَقًا، وَمُخَالَفَتُنَا إِيَّاهُمْ تَقَعُ مَوْقِعَ الشُّكْرِ لِتِلْكَ النِّعْمَةِ . مرقاة المفاتيح شرح مشكاة المصابيح رقم الحديث ۴ /۱۳۸۱ كِتَابُ الصَّوْمِ باب في مسائل متفرقة من كتاب الصوم الْفَصْلُ الْأَوَّلُ

(۲) ... وَالْأَوْلَى أَنَّ الْبَرَكَةَ فِي السُّحُورِ تَحْصُلُ بِجِهَاتٍ مُتَعَدِّدَةٍ وَهِيَ اتِّبَاعُ السُّنَّةِ وَمُخَالَفَةُ أَهْلِ الْكِتَابِ وَالتَّقَوِّي بِهِ عَلَى الْعِبَادَةِ وَالزِّيَادَةُ فِي النَّشَاطِ وَمُدَافَعَةُ سُوءِ الْخُلُقِ الَّذِي يُثِيرُهُ الْجُوعُ وَالتَّسَبُّبُ بِالصَّدَقَةِ عَلَى مَنْ يَسْأَلُ إِذْ ذَاكَ أَوْ يَجْتَمِعُ مَعَهُ عَلَى الْأَكْلِ وَالتَّسَبُّبُ لِلذِّكْرِ وَالدُّعَاءِ وَقْتَ مَظِنَّةِ الْإِجَابَةِ وَتَدَارُكُ نِيَّةِ الصَّوْمِ لِمَنْ أَغْفَلَهَا قَبْلَ أَنْ يَنَامَ . قَالَ ابْنُ دَقِيقِ الْعِيدِ هٰذِهِ الْبَرَكَةُ يَجُوزُ أَنْ تَعُودَ إِلَى الْأُمُورِ الْأُخْرَوِيَّةِ فَإِنَّ إِقَامَةَ السُّنَّةِ يُوجِبُ الْأَجْرَ وَ زِيَادَتَهُ وَيُحْتَمَلُ أَنْ تَعُودَ إِلَى الْأُمُورِ الدُّنْيَوِيَّةِ كَقُوَّةِ الْبَدَنِ عَلَى الصَّوْمِ وَتَيْسِيرِهِ مِنْ غَيْرِ إِضْرَارٍ بِالصَّائِمِ قَالَ وَمِمَّا يُعَلَّلُ بِهِ اسْتِحْبَابُ السُّحُورِ الْمُخَالَفَةُ لِأَهْلِ الْكِتَابِ لِأَنَّهُ مُمْتَنِعٌ عِنْدَهُمْ وَهٰذَا أَحَدُ الْوُجُوهِ الْمُقْتَضِيَةِ لِلزِّيَادَةِ فِي الْأُجُورِ الْأُخْرَوِيَّةِ . فتح الباري ۴ /۱۴۰ قَوْلُهُ بَابُ بَرَكَةِ السُّحُورِ في تشريح حديث رقم ۱۹۲۳

امام نووي رحمه الله د مسلم شريف په شرح کې هم د پيشمني ډير فوائد ذکر کړي. (۱)

## په پيشمني کې قجورې خوړل مستحب دي

نبي کريم صلی الله عليه وسلم فرمايي:

نِعْمَ السُّحُوْرُ التَّمْرُ. (۲) بهترين پيشمني قجورې دي.

په ابوداؤد شريف کې دا حديث په دې الفاظو ذکر دی، رسول الله ﷺ فرمايي:

نِعْمَ سَحُوْرُ الْمُؤمِنِ التَّمْرُ. (۳) د مؤمن بهترين پيشمني قجورې دي.

## پيشمنې د شپې په آخري وخت کې کول بهتر دی

پيشمنې د شپې په آخري وخت کې کول افضل دی، وختي پيشمنې کول او بيا اُوده کيدل د سُنت طريقې خلاف دی، د صحابه کرامو معمول هم دا وُ چې د شپې په آخري وخت کې به يې پيشمنې کولو. نبي کريم صلی الله عليه وسلم فرمايي:

ثَلَاثَةٌ يُحِبُّهَا اللهُ: تَعْجِيْلُ الْفِطْرِ، وَتَأْخِيْرُ السُّحُوْرِ، وَضَرْبُ الْيَدَيْنِ إِحْدَاهُمَا عَلَى الْأُخْرٰى فِي الصَّلَاةِ. (۴)

---

(۱) ... وَأَمَّا الْبَرَكَةُ الَّتِيْ فِيْهِ فَظَاهِرَةٌ لِأَنَّهُ يُقَوِّي عَلَى الصِّيَامِ وَيُنَشِّطُ لَهُ وَتَحْصُلُ بِسَبَبِهِ الرَّغْبَةُ فِي الْإِزْدِيَادِ مِنَ الصِّيَامِ لِخِفَّةِ الْمَشَقَّةِ فِيْهِ عَلَى الْمُتَسَحِّرِ فَهٰذَا هُوَ الصَّوَابُ الْمُعْتَمَدُ فِيْ مَعْنَاهُ، وَقِيْلَ لِأَنَّهُ يَتَضَمَّنُ الْإِسْتِيْقَاظَ وَالذِّكْرَ وَالدُّعَاءَ فِيْ ذٰلِكَ الْوَقْتِ الشَّرِيْفِ وَقْتِ تَنَزُّلِ الرَّحْمَةِ وَقَبُوْلِ الدُّعَاءِ وَالْإِسْتِغْفَارِ وَ رُبَّمَا تَوَضَّأَ صَاحِبُهُ وَصَلّٰى أَوْ أَدَامَ الْإِسْتِيْقَاظَ لِلذِّكْرِ وَالدُّعَاءِ وَالصَّلَاةِ أَوِ التَّأَهُّبِ لَهَا حَتّٰى يَطْلُعَ الْفَجْرُ. شرح النووي على مسلم ۲۰۶/۷ باب فضل السحور وتأكيد استحبابه واستحباب تأخيره وتعجيل الفطر في تشريح حديث ۱۰۹۵.

(۲) المعجم الكبير للطبراني رقم الحديث ۶۶۸۹، كنزالعمال الفصل السادس في السحور و وقته رقم ۲۳۹۸۰، و رقم ۲۳۹۸۳.

(۳) سنن ابي داؤد كِتَابُ الصَّوْمِ بَابُ مَنْ سَمَّى السَّحُوْرَ الْغَدَاءَ رقم الحديث ۲۳۴۵، قال الالباني: صحيح. مشكوة المصابيح كتاب الصوم رقم الحديث ۱۹۸۹(۱۷)، صحيح الترغيب والترهيب ج۱ رقم الحديث ۱۰۷۲(۱۰) كتاب الصوم الترغيب في السحور سيما بالتمر، السنن الكبرى للبيهقي رقم ۸۱۱۷، كنزالعمال رقم ۲۳۹۸۱.

(۴) المعجم الاوسط للطبراني رقم الحديث ۷۴۷۰ باب الميم مَنِ اسمُه: محمد، كنزالعمال رقم الحديث ۴۳۲۵۷، الترغيب والترهيب ج۲ ص ۱۴۰.

درې خبرې الله تعالی ډيرې خوښوي : ۱. په روژه ماتي کې تادي کول. ۲. په پيشمني کې روستووالې کول (يعنی په آخِري وخت کې کول). ۳. په مانځه کې (د قِيام په حالت کې) يو لاس په بل لاس باندې ايخودل. (يعنی لاسونه د نامه نه لاندې تړل).

د بخاري شريف او مسلم شريف حديث دی، حضرت انس ﷺ د حضرت زيد بن ثابت ﷺ نه روايت کوي، حضرت زيد بن ثابت ﷺ فرمايي :

تَسَحَّرْنَا مَعَ النَّبِيِّ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ، ثُمَّ قَامَ إِلَى الصَّلَاةِ.

مونږ د نبي عليه السلام سره پيشمنې اوکړو، بيا نبي ﷺ د سهر مانځه د پاره پاڅيد.

حضرت انس ﷺ فرمايي چې ما د حضرت زيد ﷺ نه پوښتنه اوکړه چې د پيشمني د خوراک او د سهر مانځه په مينځ کې به څومره فاصله وه؟ هغه راته وفرمايل :

قَدْرُ خَمْسِيْنَ آيَةً. (۱)

د پنځوسو (۵۰) آيتونو د تلاوت په مقدار فاصله به وه.

**فائده** : د تجويد قواعدو موافق پنځوس (۵۰) آيتونه د پنځه مِنټه نه په کم وخت کې ويلې شي، ددې د وجې نه مونږ دا ويلې شو چې د پيغمبر عليه السلام د پيشمني او د سهر د آذان په مينځ کې به صرف څلور يا پنځه مِنټه فاصله وه. (۲)

**تنبيه** : پيشمنې د شپې په آخري حصه کې کول بهتر دی ليکن دومره به يې نه روستو

(۱) عَنْ أَنَسٍ ﷺ عَنْ زَيْدِ بْنِ ثَابِتٍ رَضِيَ اللهُ عَنْهُ، قَالَ: « تَسَحَّرْنَا مَعَ النَّبِيِّ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ. ثُمَّ قَامَ إِلَى الصَّلَاةِ »، قُلْتُ: كَمْ كَانَ بَيْنَ الأَذَانِ وَالسَّحُورِ؟ قَالَ: « قَدْرُ خَمْسِيْنَ آيَةً ». صحيح البخاري كِتَابُ الصَّوْمِ بَابٌ: قَدْرِ كَمْ بَيْنَ السَّحُورِ وَصَلَاةِ الفَجْرِ رقم الحديث ۱۹۲۱، صحيح مسلم كِتَابُ الصِّيَامِ بَابُ فَضْلِ السُّحُورِ وَتَأْكِيدِ اسْتِحْبَابِهِ. وَاسْتِحْبَابِ تَأْخِيرِهِ وَتَعْجِيلِ الفِطْرِ.

وفي رواية: عَنْ أَنَسِ بْنِ مَالِكٍ ﷺ. أَنَّ زَيْدَ بْنَ ثَابِتٍ ﷺ، حَدَّثَهُ: " أَنَّهُمْ تَسَحَّرُوا مَعَ النَّبِيِّ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ. ثُمَّ قَامُوا إِلَى الصَّلَاةِ، قُلْتُ: كَمْ بَيْنَهُمَا؟ قَالَ: قَدْرُ خَمْسِيْنَ أَوْ سِتِّيْنَ ". يَعْنِي آيَةً. صحيح البخاري رقم الحديث ۵۷۵ كِتَابُ مَوَاقِيتِ الصَّلَاةِ بَابُ وَقْتِ الفَجْرِ.

(۲) معارف الحديث حصه چهارم ص ۳۶۶ كتاب الصوم افطار ميں تعجيل اور سحری ميں تاخير کا حکم.

کوي چې سهر را اوخیجي، بلکه د سهر راختلو نه مخکې مخکې به خوراک بندوي.

که د یو سړي شک شو چې ګني سهَر راختلې دی نو بیا مستحب داده چې خوراک دې نه کوي، همدا خبره فقهاء کرامو هم ذکر کړی. (۱)

## د پیشمني نه روستو اُوده کیدل او د سهر جَمعه پریخودل .یا مونځ قضاء کول نقصاني دي

بعضې خلق پیشمنې د مستحب وخت نه مخکې (یعنی ډیر وختي) اوکړي بیا چونکه د سهر آذان ته وخت ډیر وي، دوی له خوب ورځي نو اُوده شي چې ددې په وجه ورنه د سهر جَمعه لاړه شي، یا بالکل د سهر مونځ ورنه قضاء شي، دا دواړه خبرې سختې نقصاني دي، ځکه بغیر د جَمعې نه مونځ ناقص دی، پوره ثواب انسان ته نه ملاویږي، او قضاء کول خو یې سخته ګناه ده، د همدې د وجې نه فقهاء کرامو داسې خوب ته مکروه ویلی، او ددې خرابۍ اصل وجه همدا ده چې دې خلقو پیشمنې د خپل مستحب وخت نه مخکې کړې وي.

که یو کس په مستحبو باندې عمل اوکړي او پیشمنې د شپې په آخِري وخت کې اوکړي، بیا د سهَر مونځ د جَمعې سره اوکړي نو دا خرابي هیڅ کله نه لازمیږي.

اګر چې د سهر مونځ په رڼا کې کول بهتر دی لیکن که چیرته په رمضان کې خلق د پیشمني کولو نه روستو د سهر په داخلیدلو سره په جَمعه کې ډیر شریکیدل نو بیا په تیاره کې مونځ کول هم صحیح دی، ځکه په رڼا کې د مونځ کولو مقصد هم دادی چې خلق ډیر په جَمعه کې شریک شي، اوس که په دې تیاره کې خلق ډیر په جَمعه کې شریکیدل نو بیا په تیاره کې مونځ کول په کار دي. علامه انورشاه کشمیري رحمه الله په فیض الباري کې د سهر مونځ په تیاره کې کولو واله احادیث په رمضان محمول کړي (یعنی په کومو احادیثو کې چې د سهر مونځ په تیاره کې راغلی نو هغه حمَل دي په رمضان باندې). (۲)

---

(۱) وَلَوْ شَكَّ فِي طُلُوْعِ الْفَجْرِ فَالْمُسْتَحَبُّ لَهُ أَنْ لَا يَأْكُلَ هٰكَذَا رَوَى أَبُوْ يُوْسُفَ عَنْ أَبِي حَنِيْفَةَ أَنَّهُ قَالَ: إِذَا شَكَّ فِي الْفَجْرِ فَأَحَبُّ إِلَيَّ أَنْ يَدَعَ الْأَكْلَ لِأَنَّهُ يُحْتَمَلُ أَنَّ الْفَجْرَ قَدْ طَلَعَ فَيَكُوْنُ الْأَكْلُ إِفْسَادًا لِلصَّوْمِ فَيُتَحَرَّزُ عَنْهُ. بدائع الصنائع في ترتيب الشرائع ۱۰۵/۲ كِتَابُ الصَّوْمِ فَصْلٌ بَيَانُ مَا يُسَنُّ وَمَا يُسْتَحَبُّ لِلصَّائِمِ وَمَا يُكْرَهُ لَهُ أَنْ يَفْعَلَهُ

(۲) تحفه رمضان لمولانا اشرف علي تهانوي رحمه الله.

لهذا انسان ته په کار دي چې د پيشمني کولو نه روستو اُوده نه شي ، بلکه د سهر په جَمعه کې شريک شي .

پيشمنې کول مستحب دی ، اوس چې يو کس د دې مستحبو په وجه جَمعه پريږدي ( چې دا واجب ده ) يا مکمل مونځ قضاء کوي نو دا خو سخت نقصان دی .

## په جَمعې سره د سهَر مونځ کول د ټولې شپې هغه نفلي عبادت نه بهتر دی چې بيا د سهَر جمعه ورنه پاتې شي

که يو کس ټوله شپه نوافِل کوي خو د سهَر مونځ په جَمعې سره نه کوي نو د دې نه دا بهتره ده چې دې ټوله شپه اُوده شي او د سهَر مونځ په جَمعې سره اوکړي . په موطاء امام مالک او مشکوة شريف کې يوه واقعه نقل ده :

حضرت ابوبکر بن سُليمان فرمايي چې يوه ورځ حضرت عُمر ﷺ د سهَر په مونځ کې ( زما پلار ) سُليمان بن حَثمَه او نه ليد ، کله چې حضرت عُمر ﷺ سهَر ( څه وخت پس ) بازار ته تللو نو چونکه ( زما د پلار يعنی ) د سُليمان بن حَثمَه کور د جُمات او بازار په مينځ کې وُ نو د حضرت عُمر ﷺ تيريدل د سُليمان په مور "شفاء" اوشو . پوښتنه يې ورنه اوکړه :

لَمْ أَرَ سُلَيْمَانَ فِي الصُّبْحِ .

ما سُليمان د سهَر په مانځه کې او نه ليد ( څه وجه وه ؟ )

هغې ورته وويل :

إِنَّهُ بَاتَ يُصَلِّي ، فَغَلَبَتْهُ عَيْنَاهُ .

هغه ټوله شپه په عبادت کې تېره کړې ده ، د سهَر په وخت يې سترګې پټې شوی ( نو ځکه د سهَر جَمعې ته ندې دَرغلی )

حضرت عُمر ﷺ وفرمايل :

لَأَنْ أَشْهَدَ صَلَاةَ الصُّبْحِ فِي الْجَمَاعَةِ أَحَبُّ إِلَيَّ مِنْ أَنْ أَقُومَ لَيْلَةً . (١)

زه چې د سهَر جَمعې ته حاضر شم ( يعنی د سهَر مونځ په جَمعې سره اوکړم ) دا ماته د ټولې شپې د عبادت نه ډير بهتر دی .

**فائده** : سُليمان بن حَثمَه اگر چې ټوله شپه عبادت کړې وُ ليکن د خوب د غلبې په وجه ورنه د سهَر جَمعه پاتې شوې وه . د حضرت عُمر ﷺ د وينا مقصد دا وُ چې که يو کس ټوله شپه عبادت اوکړي او بيا ورنه د سهَر مونځ پاتې شي نو ددې نه زما دا خوښه ده چې زه ټوله شپه اُوده شم او د سهَر مونځ د جَمعې سره اوکړم .

البته که يو سړې د شپې عبادت هم کوي او ورسره د سهَر مونځ هم په جَمعې سره کوي نو دا خو بيا ډيره بهتره ده .

بهر حال ، پيشمنې د شپې په آخري وخت کې کول مستحب دی ، ددې ډير اجرونه او ثوابونه دي ، که د يو کس خوراک ته زړه نه کيږي خو بيا هم پيشمنې کول په کار دی يو څو قجورې دې اوخوري يا دې يو څو غړپه ( گوټه ) اُوبه اوڅکي چې د پيشمني برکتونه او ثوابونه ورته ملاؤ شي ، خو د پيشمني په وجه د سهر جَمعه پريخودل يا د سهر مونځ قضاء کول ندي په کار .

## مسئله : د پيشمني خوراک بندولو کې اِعتبار د وخت داخليدو ته دی

د پيشمني خوراک بندولو کې اعتبار د صبح صادق داخليدو ته دی (يعنی تر هغه وخته پورې خوراک جائز دی چې تر څو پورې صبح صادق نه وي داخل شوی ) لهذا د صبح صادق

(١) عَنْ أَبِي بَكْرِ بْنِ سُلَيْمَانَ بْنِ أَبِي حَثْمَةَ . أَنَّ عُمَرَ بْنَ الْخَطَّابِ فَقَدَ سُلَيْمَانَ بْنَ أَبِي حَثْمَةَ فِي صَلَاةِ الصُّبْحِ . وَأَنَّ عُمَرَ بْنَ الْخَطَّابِ غَدَا إِلَى السُّوقِ ، وَمَسْكَنُ سُلَيْمَانَ بَيْنَ السُّوقِ وَالْمَسْجِدِ النَّبَوِيِّ . فَمَرَّ عَلَى الشِّفَاءِ أُمِّ سُلَيْمَانَ . فَقَالَ لَهَا : « لَمْ أَرَ سُلَيْمَانَ فِي الصُّبْحِ » . فَقَالَتْ : إِنَّهُ بَاتَ يُصَلِّي . فَغَلَبَتْهُ عَيْنَاهُ . فَقَالَ عُمَرُ : « لَأَنْ أَشْهَدَ صَلَاةَ الصُّبْحِ فِي الْجَمَاعَةِ أَحَبُّ إِلَيَّ مِنْ أَنْ أَقُومَ لَيْلَةً » . موطا مالک كِتَابُ صَلَاةِ الْجَمَاعَةِ بَابُ مَا جَاءَ فِي الْعَتَمَةِ وَالصُّبْحِ رقم الحديث ٧ . مشكوة المصابيح باب الجماعة وفضلها الفصل الثالث رقم الحديث ١٠٨٠ ( ٢٩ ) ، صحيح الترغيب والترهيب رقم ٤٢٣ ( ٩ ) ، شعب الايمان رقم ٢٦١٧ .

نه مخکې خوراک بندول واجب دي . (د پيشمني بندولو تعلق د آذان سره نشته) البته که د سهر آذان په صحيح وخت باندې کولې شو نو بيا آذان د سهر داخليدو دليل جوړيدې شي. خو چا آذان د وخت داخليدو نه ډير روستو کولو ،يا يې د وخت داخليدو نه ډير مخکې کولو نو دا به د پيشمني کولو اِنتهاء نشي شمارلی (يعني ديته به اعتبار نه وي) .

نن صبا خلق د سهر آذان هغه وخت کوي چې کله وخت داخل شي ،لهذا د آذان په دَوران کې خوراک څکاک کول صحيح نه دی ، بلکه د آذان نه يو څو منټه مخکې خوراک بندول په کار دي . (۱)

## د غونډ تقرير خلاصه

د غونډ تقرير خلاصه دا راأووته چې د رمضانُ المبارک مياشت ډيره د برکتونو ، رحمتونو او مغفرت مياشت ده ، دا د ټولو مياشتو سَرداره ده ، په دې مياشت کې الله رب العزت په دې اُمت باندې ډير احسانونه کړي ، په احاديثو مبارکهٔ کې د دې مياشتې ډير فضائل بيان شوي ، په دې مياشت کې د جنت دروازې کلاؤ وي ، د جهنم دروازې بندې وي، سرکشه شيطانان تړل شوي وي ، قرآن کريم او نور آسمانونه کتابونه په دې مياشت کې نازل شوي. لهذا مسلمان ته په کار دي چې دا مياشت په غفلت کې تېره نه کړي ، بلکه په دې کې د روژې نيولو سره سره نور عبادات او نېک اعمال هم اوکړي ، همدارنګې د غريبانانو او روژه دارو سره احسان اوکړي .

---

(۱) قال أصحابنا رحمهم الله : وقت الصوم من حين يطلع الفجر الثاني، وهو الفجر المستطير المنتشر فى الأفق إلى وقت غروب الشمس خروج وقت الصوم، ولم ينقل عنهم أنّ العبرة لأول طلوع الفجر الثاني أو لاستطارته وانتشاره، وقد اختلف المشايخ فيه، بعضهم قالوا: العبرة لأوّله، وبعضهم قالوا: العبرة لاستطارته. قال الشيخ الإمام شمس الأئمة الحلواني رحمه الله: القول الأول أحوط، والثاني أوسع. فتاوى تاتارخانية ج۲ ص ۳۴۶ كتاب الصوم الفصل الأول في بيان وقت الصوم وما يتصل به

قال ابن عابدين : (قَوْلُهُ: وَهُوَ الْيَوْمُ) أَيِ الْيَوْمُ الشَّرْعِيُّ مِنْ طُلُوعِ الْفَجْرِ إلَى الْغُرُوبِ. وَهَلِ الْمُرَادُ أَوَّلُ زَمَانِ الطُّلُوعِ أَوِ انْتِشَارُ الضَّوْءِ؟ فِيهِ خِلَافٌ كَالْخِلَافِ فِي الصَّلَاةِ وَالْأَوَّلُ أَحْوَطُ وَالثَّانِي أَوْسَعُ . رد المحتار على الدر المختار ۲ /۳۷۱ كِتَابُ الصَّوْمِ ، و مثله في الهندية ج۱ ص ۱۹۴ كتاب الصوم الباب الاول تعريفه وتقسيمه . فتاوى حقانيه ج۴ ص ۱۴۸ .

## دُعا

الله تعالی دې زمونږ په زړونو کې د رمضان المبارک قدر و عظمت پیدا کړي ، په دې میاشت کې دې راته د عباداتو کولو توفیق رانصیبه کړي ، د ګناهونو نه دې مونږ محفوظ اوساتي ، ربِّ کریم دې مونږ په صحیح طریقې سره ددې میاشتې د اَنواراتو او رحمتونو نه مُستفید اُوګرځوي .

آمِين يَارَبَّ الْعَالَمِيْن

وَآخِرُ دَعْوَانَا أَنِ الْحَمْدُ لِلّٰهِ رَبِّ الْعَالَمِينَ

نوټ د روژې متعلق ټول ضروري فقهي مسائل په تفصیل سره روستو ذکر دي ، د صفحه ۲۰۶ نه تر د صفحه ۳۲۴ پورې ، هلته یې اوګوره. ابوالشمس عفي عنه

بِسۡمِ اللّٰهِ الرَّحۡمٰنِ الرَّحِيۡمِ

﴿ يٰٓاَيُّهَا الَّذِيۡنَ اٰمَنُوۡا كُتِبَ عَلَيۡكُمُ الصِّيَامُ كَمَا كُتِبَ عَلَى الَّذِيۡنَ مِنۡ قَبۡلِكُمۡ لَعَلَّكُمۡ تَتَّقُوۡنَ ﴾

البقرة آية ۱۸۳.

# د رمضان المبارک د رُوژو اَهمیت او بَغیر عُذره د پریخودو سزاګاني

تالیف

اَبُو الشَّمس مولانا نُورُالهُدٰی عُفِيَ عَنهُ

مُدَرِّس دَارُالعلوم فیضُ القُرآن اکاخیل کالونی مردان

بِسْمِ اللّٰهِ الرَّحْمٰنِ الرَّحِيْمِ

# د رمضان المبارک د روژو اهمیت او بغیر عذره د پریخودو سزاګانې

اَلْحَمْدُ لِلّٰهِ نَحْمَدُهٗ وَنَسْتَعِيْنُهٗ وَنَسْتَغْفِرُهٗ وَنُؤْمِنُ بِهٖ وَنَتَوَكَّلُ عَلَيْهِ، وَنَعُوْذُ بِاللّٰهِ مِنْ شُرُوْرِ اَنْفُسِنَا وَمِنْ سَيِّئَاتِ اَعْمَالِنَا مَنْ يَّهْدِهِ اللّٰهُ فَلَامُضِلَّ لَهٗ وَمَنْ يُّضْلِلْهُ فَلَاهَادِيَ لَه، وَنَشْهَدُ اَنْ لَّآ اِلٰهَ اِلَّا اللّٰهُ وَحْدَهٗ لَاشَرِيْکَ لَهٗ وَنَشْهَدُ اَنَّ سَيِّدَنَا وَنَبِيَّنَا وَمَوْلَانَا مُحَمَّدًا عَبْدُهٗ وَرَسُوْلُه.

اَمَّابَعْدُ فَأَعُوْذُبِاللّٰهِ مِنَ الشَّيْطٰنِ الرَّجِيْمِ بِسْمِ اللّٰهِ الرَّحْمٰنِ الرَّحِيْمِ. قَالَ اللّٰهُ تَبَارَکَ وَتَعَالٰی فِی الْقُرْآنِ الْمَجِيْدِ وَالْفُرْقَانِ الْحَمِيْدِ:

﴿ يٰٓاَيُّهَا الَّذِيْنَ اٰمَنُوْا كُتِبَ عَلَيْكُمُ الصِّيَامُ كَمَا كُتِبَ عَلَى الَّذِيْنَ مِنْ قَبْلِكُمْ لَعَلَّكُمْ تَتَّقُوْنَ ﴾. (۱)

وَقَالَ رَسُوْلُ اللّٰهِ صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ: مَنْ أَفْطَرَ يَوْمًا مِنْ رَمَضَانَ مِنْ غَيْرِ عُذْرٍ وَلَا مَرَضٍ، لَمْ يَقْضِهِ صِيَامُ الدَّهْرِ وَإِنْ صَامَهُ. (۲)

صَدَقَ اللّٰهُ الْعَظِيْم

(۱) البقرة آية ۱۸۳.

(۲) صحيح البخاري كِتَابُ الصَّوْمِ بَابُ إِذَا جَامَعَ فِي رَمَضَانَ.

وفي رواية: عَنْ أَبِي هُرَيْرَةَ رَضِيَ اللّٰهُ عَنْهُ قَالَ: قَالَ رَسُوْلُ اللّٰهِ صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ: « مَنْ أَفْطَرَ يَوْمًا مِنْ رَمَضَانَ مِنْ غَيْرِ رُخْصَةٍ وَلَا مَرَضٍ لَمْ يَقْضِ عَنْهُ صَوْمُ الدَّهْرِ كُلِّهِ وَإِنْ صَامَهُ ». مشكاة المصابيح بَابُ تَنْزِيهِ الصَّوْمِ الفصل الثالي رقم الحديث ۲۰۱۳ (۱۵)، سنن ابي داؤد باب التغليظ في من افطر عمداً رقم الحديث ۲۳۹۶، سنن الترمذي باب ماجاء في الافطار متعمداً رقم الحديث ۷۲۳، سنن ابن ماجة باب ماجاء في كفارة من افطر يوما من رمضان رقم الحديث ۱۶۷۲، صحيح ابن خزيمة رقم الحديث ۱۹۸۷، المعجم الكبير للطبراني رقم الحديث ۹۵۷۴، شعب الايمان رقم الحديث ۳۳۸۱، كنزالعمال رقم الحديث ۲۳۷۹۶

# د رمضان المبارک د رُوژو حکم

زما خوږو قدرمنو او عزت مندو مسلمانانو ورونو ! د اِسلام په بُنيادي اَرکانو کې يو اَهم رُکن روژه هم ده . د رمضان المبارک روژې فرضِ عين دي ، ددې فرضيت په کتابُ الله ، سُنتِ رسول ، اِجماعِ اُمت او قياس سره ثابت دی . (۱)

څوک چې ددې د فرضيت نه اِنکار کوي هغه کافر دی ، د هغه قتلول جائز دي . (۲)

همدارنګې د روژې پورې ټوقې کوونکې او ددې سپکاوې کوونکې کس هم کافر دی .

د نبي عليه السلام په صحابه کرامو کې يو کس هم روژه خُور نهٔ ، بلکه ټولو روژې نيوی .

او څوک چې بغير عُذره روژې نه نيسي نو هغه فاسق و فاجر او د ګناهِ کبيره کوونکې دی (۳)

---

(۱) وَالدَّلِيْلُ عَلٰى فَرْضِيَّةِ صَوْمِ شَهْرِ رَمَضَانَ: اَلْكِتَابُ، وَالسُّنَّةُ، وَالْإِجْمَاعُ، وَالْمَعْقُوْلُ . أَمَّا الْكِتَابُ: فَقَوْلُهُ تَعَالٰى { يَاأَيُّهَا الَّذِيْنَ اٰمَنُوْا كُتِبَ عَلَيْكُمُ الصِّيَامُ . . . البقرة: ۱۸۳ } وَقَوْلُهُ "كُتِبَ عَلَيْكُمْ" أَيْ: فُرِضَ . وَقَوْلُهُ تَعَالٰى { فَمَنْ شَهِدَ مِنْكُمُ الشَّهْرَ فَلْيَصُمْهُ . البقرة: ۱۸۵ } .

وَأَمَّا السُّنَّةُ: فَقَوْلُ النَّبِيِّ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ « بُنِيَ الْإِسْلَامُ عَلٰى خَمْسٍ: شَهَادَةِ أَنْ لَا إِلٰهَ إِلَّا اللهُ، وَأَنَّ مُحَمَّدًا رَسُوْلُ اللهِ، وَإِقَامِ الصَّلَاةِ، وَإِيْتَاءِ الزَّكَاةِ، وَصَوْمِ رَمَضَانَ، وَحَجِّ الْبَيْتِ مَنِ اسْتَطَاعَ إِلَيْهِ سَبِيْلًا » وَقَوْلُهُ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ عَامَ حَجَّةِ الْوَدَاعِ: « أَيُّهَا النَّاسُ اُعْبُدُوْا رَبَّكُمْ وَصَلُّوْا خَمْسَكُمْ وَصُوْمُوْا شَهْرَكُمْ وَحُجُّوْا بَيْتَ رَبِّكُمْ وَأَدُّوْا زَكَاةَ أَمْوَالِكُمْ طَيِّبَةً بِهَا أَنْفُسُكُمْ تَدْخُلُوْا جَنَّةَ رَبِّكُمْ » .

وَأَمَّا الْإِجْمَاعُ : فَإِنَّ الْأُمَّةَ أَجْمَعَتْ عَلٰى فَرْضِيَّةِ شَهْرِ رَمَضَانَ، لَا يَجْحَدُهَا إِلَّا كَافِرٌ. وَأَمَّا الْمَعْقُوْلُ فَمِنْ وُجُوْهٍ .... بدائع الصنائع في ترتيب الشرائع ۲/ ۷۵ كِتَابُ الصَّوْمِ . وهكذا ذكر في " نضرة النعيم في مكارم أخلاق الرسول الكريم - صلى الله عليه وسلم " ۲۶۴۷/۷ الصوم حكم الصوم .

(۲) په درمختار کې ذکر دي : وَلَوْ أَكَلَ عَمْدًا شُهْرَةً بِلَا عُذْرٍ يُقْتَلُ . الدرالمختار ۴۱۳/۲ كِتَابُ الصَّوْمِ بَابُ مَا يُفْسِدُ الصَّوْمَ وَمَا لَا يُفْسِدُهُ . که يو کس د رمضان المبارک مياشت کې قصدًا بلاعُذره په ښکاره باندې خوراک څکاک کوي نو دا به قتلولې شي .

قال ابن عابدين رحمه الله : قَالَ الشُّرُنْبُلَالِيُّ صُوْرَتُهَا: تَعَمَّدُ مَنْ لَا عُذْرَ لَهُ الْأَكْلَ جِهَارًا يُقْتَلُ؛ لِأَنَّهُ مُسْتَهْزِئٌ بِالدِّيْنِ أَوْ مُنْكِرٌ لِمَا ثَبَتَ مِنْهُ بِالضَّرُوْرَةِ وَلَا خِلَافَ فِيْ حِلِّ قَتْلِهِ وَالْأَمْرِ بِهِ . رد المحتار على الدر المختار ۴۱۴/۲ كِتَابُ الصَّوْمِ بَابُ مَا يُفْسِدُ الصَّوْمَ وَمَا لَا يُفْسِدُهُ

(۳) قال ابن عابدين رحمه الله: اِعْلَمْ أَنَّ الْفَرْضَ مَا ثَبَتَ بِدَلِيْلٍ قَطْعِيٍّ لَا شُبْهَةَ فِيْهِ كَالْإِيْمَانِ وَالْأَرْكَانِ الْأَرْبَعَةِ.... حَتّٰى يَكْفُرَ جَاحِدُهُ وَيَفْسُقَ تَارِكُهُ بِلَا عُذْرٍ . رد المحتار على الدر المختار ۳۱۳/۶ كِتَابُ الْأُضْحِيَّةِ

# د روژې فرضيت او ثبوت د قرآن کريم نه

د قرآن کريم د مختلفو آيتونو نه د روژې فرضيت ثابت دی ، الله رب العزت فرمايي :

﴿ يَآيُّهَا الَّذِيْنَ اٰمَنُوْا كُتِبَ عَلَيْكُمُ الصِّيَامُ كَمَا كُتِبَ عَلَى الَّذِيْنَ مِنْ قَبْلِكُمْ لَعَلَّكُمْ تَتَّقُوْنَ ﴾ . (۱)

ترجمه : اې مؤمنانو ! په تاسو باندې روژې فرض کړې شوې لکه څرنګې چې په هغه خلقو باندې فرض کړې شوې وې کوم چې د تاسو نه وړاندې تېر شوي ، ددې د پاره چې تاسو پرهيزګار (متّقيان) شئ . (او په زړه کې مو د الله ﷻ نه يَره پيدا شي) .

## د آيت تشريح

په دې آيتِ مبارکه کې مؤمنانو ته د روژو د فرضيت اعلان شوی خو که تاسو ددې آيت اَنداز ته اوګورئ نو په ډير بهترين اَنداز باندې مؤمنانو ته دا حکم شوی ، ځکه په دې آيت کې مؤمنانو ته براهِ راست (يعنی نيغ په نيغه) خطاب شوی : "يَآيُّهَا الَّذِيْنَ اٰمَنُوْا" اې مومنانو . او دا د مؤمنانو د پاره ډير لوي عزت او شرافت دی چې خالقِ کائنات الله رب العزت ورته براهِ راست خطاب کوي .

په دُنيا کې که مونږ اوګورو چې کله يو بادشاه خپل يو خادِم سره براهِ راست خبرې اوکړي او د څه کار حُکم ورته اوکړي نو خادِم دا د خپل ځان د پاره ډير لوي عزت ګڼړي چې بادشاه په خپله د ماسره خبرې اوکړی .

تاسو سوچ اوکړئ چې په تورات کې الله ﷻ صرف يو ځل بني اسرائيلو ته براهِ راست خطاب کړی نو هغوی په دې دومره خوشحاله شول او داسې په تکبّر کې راغلل چې دا دعویٰ يې اوکړه :

---

(۱) البقرة آية ۱۸۳ .

په يو بل آيت کې الله جل جلاله ددې بيان داسې کړی : شَهْرُ رَمَضَانَ الَّذِيْٓ اُنْزِلَ فِيْهِ الْقُرْاٰنُ هُدًى لِّلنَّاسِ وَبَيِّنٰتٍ مِّنَ الْهُدٰى وَالْفُرْقَانِ ، فَمَنْ شَهِدَ مِنْكُمُ الشَّهْرَ فَلْيَصُمْهُ وَمَنْ كَانَ مَرِيْضًا اَوْ عَلٰى سَفَرٍ فَعِدَّةٌ مِّنْ اَيَّامٍ اُخَرَ ... البقرة آية ۱۸۵ .

نَحۡنُ أَبۡنَـٰٓؤُا۟ ٱللَّهِ وَأَحِبَّـٰٓؤُهُۥ .(۱)

ترجمه: (نَعُوۡذُ بِالله) مونږ د الله ﷻ زامن او د هغه محبوب بندګان يو.

حالانکه الله رب العزت په قرآن مجيد کې د اُمتِ محمّديه مؤمنانو ته آته آتيا (۸۸) پېرې براهِ راست خطاب کړی، چې دا د مؤمنانو د پاره لوي عزت او شرافت هم دی.

ورسره ددينه دا هم معلومېږي چې دا کوم حُکم مونږ ته راکولې شي دا به هم ډېر آهم وي.

دغه وجه ده چې حضرت عبدالله بن عباس رضي الله عنهما فرمايي چې کله د قرآن مجيد لوستلو په وخت د "يَٰٓأَيُّهَا ٱلَّذِينَ ءَامَنُوا۟" الفاظ راشي نو لوستونکي ته په کار دي چې پوره متوجِّه شي چې اوس الله ﷻ دده سره براهِ راست خطاب کوي.

بهر حال، کله چې په دې آيت کې مؤمنانو سره د "يَٰٓأَيُّهَا ٱلَّذِينَ ءَامَنُوا۟" په ذريعه براهِ راست خطاب اوشو اوس ورته الله تعالى دا حکم بيانوي:

كُتِبَ عَلَيۡكُمُ ٱلصِّيَامُ . په تاسو باندې روژې فرض کړې شوې دي.

## روژې په مخکني اُمتونو هم فرض کړې شوې وې

ددې حُکم بيانولو نه روستو د مسلمانانو د زړه ساتلو لحاظ هم ساتلې شوی. ځکه ددې حکم په آوريدو سره کيدې شي د چا ذِهن ته دا خبره راشي چې ګني الله تعالى د مونږ نه خفه دی او د سزا په طور يې مونږ د خوراک، څکاک وغيره نه منع کړي يو، او دومره د مشقت واله عبادت يې راباندې فرض کړی. نو الله تعالى ددې خراب تصوّر د ختمولو او د مسلمانانو د خوشحالولو د پاره وفرمايل:

كَمَا كُتِبَ عَلَى ٱلَّذِينَ مِن قَبۡلِكُمۡ . لکه څرنګې چې روژې په هغه خلقو باندې فرض کړې شوې وې کوم چې ستاسو نه وړاندې وو.

په دې آوريدو سره د مسلمانانو تسلي کيږي چې الله تعالى د مونږ نه خفه نه دی، او دا روژې په مونږ باندې د سزا په طور نه دي فرض کړې شوي بلکه دا يو آهم عبادت دی چې د مونږ نه علاوه په مخکيني اُمتونو باندې هم فرض کړې شوې وُ، او دا د الله ﷻ د نزديکت

---

(۱) المائدة آية ۱۸.

ذريعه ده .

بل دا چې اګر چې په دې روژه کې مشقت دی خو دا مشقت مخکيني اُمتونو هم برداشت کړې وُ ، او دا طبعي خبره ده چې کله په يو مشقت کې ډير خلق اخته وي نو هغه بيا آسان معلوميږي . (۱)

بهر حال ، ددې آيت نه د روژې فرضيت معلوم شو ، او ورسره دا هم ورنه معلومه شوه چې لکه څرنګې چې روژې په دې اُمت فرض کړې شوي نو همدغه شان په مخکيني امتونو هم فرض کړې شوې وی ، اګر چې د روژو په تعداد ، کيفيت او طريقه کې فرق وُ خو نفسِ روژې په هغوی باندې هم فرض وی . همدا خبره مُفسّرينو په خپلو تفسيرونو کې هم ذکر کړی . (۲)

---

(۱) وفيه تأكيد للحكم وترغيب فيه وتطييب لأنفس المخاطبين فيه، فإنّ الأمور الشاقة إذا عمت طابت . روح المعاني في تفسير القرآن العظيم والسبع المثاني ۱ /۴۵۳ سورة البقرة آية ۱۸۳ . تفسير ابوسعود ج۱ ص ۱۵۳ طبع مصر

(۲) په تفسير روح المعاني کې ذکر دي : مِنْ قَبْلِكُمْ : أي الأنبياء والأمم مِن لدن آدم عليه الصلاة والسلام إلى يومنا كما هو ظاهر عموم الموصول . وعن ابن عباس ﷺ ومجاهد انهم أهل الكتاب . وعن الحسن والسدي والشعبي أنهم النصارى . روح المعاني ۱ /۴۵۳ سورة البقرة آية ۱۸۳ .

په تفسير بحر محيط کې ذکر دي : مِنْ قَبْلِكُمْ : ظَاهِرُهُ عُمُومُ الَّذِينَ مِنْ قَبْلِنَا مِنَ الْأَنْبِيَاءِ وَأُمَمِهِمْ مِنْ آدَمَ إِلَى زَمَانِنَا. وَقَالَ عَلِيٌّ ﷺ : أَوَّلُهُمْ آدَمُ. فَلَمْ يَفْتَرِضْهَا عَلَيْكُمْ . يَعْنِي: أَنَّ الصَّوْمَ عِبَادَةٌ قَدِيمَةٌ أَصْلِيَّةٌ مَا أَخْلَى اللهُ أُمَّةً مِن افْتِرَاضِهَا عَلَيْهِمْ، فَلَمْ يَفْتَرِضْهَا عَلَيْكُمْ خَاصَّةً، وَقِيلَ: الَّذِينَ مِنْ قَبْلِنَا هُمُ النَّصَارَى... البحر المحيط في التفسير ۲ / ۱۷۹ سورة البقرة آية ۱۸۳ .

په تفسير ابوسعود کې ذکر دي : مِنْ قَبْلِكُمْ : مِن الأنبياء عليهم الصلاة والسلام والأمم من لدُنْ آدمَ عليه السلام . تفسير أبي السعود ( إرشاد العقل السليم إلى مزايا الكتاب الكريم ) ۱/ ۱۹۸ سورة البقرة آية ۱۸۳ .

په تفسير كبير کې ذکر دي : كَمَا كُتِبَ عَلَى الَّذِينَ مِنْ قَبْلِكُمْ : فِي هَذَا التَّشْبِيهِ قَوْلَانِ . أَحَدُهُمَا: أَنَّهُ عَائِدٌ إِلَى أَصْلِ إِيجَابِ الصَّوْمِ . يَعْنِي هٰذِهِ الْعِبَادَةُ كَانَتْ مَكْتُوبَةً وَاجِبَةً عَلَى الْأَنْبِيَاءِ وَالْأُمَمِ مِنْ لَدُنْ آدَمَ إِلَى عَهْدِكُمْ. مَا أَخْلَى اللهُ أُمَّةً مِنْ إِيجَابِهَا عَلَيْهِمْ لَا يَفْرِضُهَا عَلَيْكُمْ وَحْدَكُمْ . وَفَائِدَةُ هٰذَا الْكَلَامِ أَنَّ الصَّوْمَ عِبَادَةٌ شَاقَّةٌ. وَالشَّيْءُ الشَّاقُّ إِذَا عَمَّ سَهُلَ تحمله . التفسير الكبير ( مفاتيح الغيب) ۵ / ۲۳۹ سورة البقرة آية ۱۸۳ .

په تفسير مظهري کې ذکر دي : مِنْ قَبْلِكُمْ : مِنَ الأنبياء والأمم والظاهر ان التشبيه في نفس الوجوب . التفسير المظهري ۱/ ۱۸۸ سورة البقرة آية ۱۸۳ .

په کال کې مخصوص ورځې روژې هر مذهب والـه نيسي :

حضرت موسى عليه السلام په کوه طور کې څلويښت ورځې د ولږې او تَندې په حالت کې تېرې کړې نو ځکه يهود څلويښت ورځې روژې نيول ښه ګڼړي ، ليکن د څلويښتمې ورځ روژه په دوى فرض وه .

په " انجيل متى " کې ذکر دي چې حضرت عيسى عليه السلام په ځنګل کې څلويښت روژې اونيوى .

په " انجيل مرقس " کې ذکر دي چې حضرت يحيىٰ عليه السلام او دده قوم به هم روژې نيوى .

د هندوانو په مذهب کې هم روژه شته چې هغې ته دوى " برت " وايي ، خو د دوى روژه صرف په اُور باندې د پَخ شوي څيز نه وي ، يعنى کوم څيز چې په اُور باندې پُوخ شوې وي دوى صرف هغه نه خوري ، نورې ميوې او فروټ خوري .

" برهَمن " په کال کې څليريشت (۲۴) روژې نيسي .

" جيني دهرم " په هرو څلويښتو ورځو کې يوه روژه نيسي .

د مکې قريشتو به هم د جاهليت په زمانه کې د عاشورې (لسم د محرم) روژه نيوله .

معلومه شوه چې روژه په هر مذهب کې شته ، اګر چې په تعداد ، کيفيت او طريقه کې يې فرق شته . (۱)

په عيسايانو روژه فرض وه خو دوى په کې د خپلې خوښې موافق تبديلي اوکړه ، د دوى روژې به هم په مختلفو موسمونو کې بدليدلى ، کله ګرمۍ ته ، او کله يَخنۍ ته ، ځکه په ديرش (۳۰) کاله کې يو کال اُوړي ، مثلاً چې اوس روژه په اُوړي کې وي نو ديرش کاله پس دا بيا په اُوړي کې راځي . خو دې عيسايانو به په خپله خوښه باندې دا روژې په سپَرلي کې نيولى .

(۱) صداى ممبر و محراب ج۵ ص ۱۱۵ .

يهوديان په كال كې څلور ځل روژې نيسي خو د غم په شكل باندې ، دغه وجه ده چې دوی روژې ته د غم عبادت وايي ، صفا جامې نه اغوندي .

اَلْحَمْدُ لِلّٰه ، د مسلمانانو په نزد روژه د خوشحالۍ عبادت دی . (۱)

## د روژې په وجه تقوی پيدا كيږي

محترمو ! د روژې په اهمو مقاصدو يو مقصد دا هم دی چې ددې په وجه په انسان كې تقوی (د الله ﷻ نه يره ) او د گناهونو نه بچ كيدل پيدا شي ، د مذكوره آيت په آخر كې الله ربّ العزت د روژې مقصد همدا تقوی بيان كړی :

لَعَلَّكُمْ تَتَّقُوْنَ. ددې د پاره چې تاسو متّقيان (پرهيزگار) جوړ شئ .

**د حافظ ابن كثير رحمه الله وينا :** حافظ ابن كثير رحمه الله د روژې مقصد داسې بيان كړی چې : د روژې په وجه نفسونه پاكيږي ، پاكيزگي حاصليږي ، نفس د بېكاره طبعيتونو او رزيل اخلاقو نه صفا كيږي ...... لِأَنَّ الصَّوْمَ فِيْهِ تَزْكِيَةٌ لِلْبَدَنِ وَتَضْيِيْقٌ لِمَسَالِكِ الشَّيْطَانِ (۲) ځكه په روژه كې بدن صفا كيږي ، او د شيطان لارې تنگيږي .

مفسّرينو د " لَعَلَّكُمْ تَتَّقُوْنَ " په تشريح كې همدا مضمون په مختلفو تعبيراتو سره بيان كړی . (۳)

---

(۱) خطبات حضرت شيخ ( شيخ الحديث شهيد حضرت مولانا حسن جان مدني نوّر الله مرقده ) ص ۲۴۳ .

(۲) لِمَا فِيْهِ مِنْ زَكَاةِ النَّفْسِ وَطَهَارَتِهَا وَتَنْقِيَتِهَا مِنَ الْأَخْلَاطِ الرَّدِيْئَةِ وَالْأَخْلَاقِ الرَّذِيْلَةِ..... لِأَنَّ الصَّوْمَ فِيْهِ تَزْكِيَةٌ لِلْبَدَنِ وَتَضْيِيْقٌ لِمَسَالِكِ الشَّيْطَانِ. تفسير ابن كثير (تفسير القرآن العظيم) ۱ /۴۹۷ سورة البقرة آية ۱۸۳ .

(۳) په **تفسير ابوسعود** كې ذكر دي : لَعَلَّكُمْ تَتَّقُوْنَ : أي المعاصيَ فإنّ الصومَ يكسِرُ الشهوةَ الدّاعيةَ إليها كما قالَ عليهِ الصّلاةُ والسلام... « فَعَلَيْهِ بِالصَّوْمِ فَإِنَّ الصَّوْمَ لَهُ وِجَاءٌ» . أو تَتَّقُوْنَ الإخلالَ بأدائه لأصالته أو تصِلون بذلك إلى رتبة التقوى . تفسير ابي السعود ۱/ ۱۹۸ سورة البقرة آية ۱۸۳ .

په **تفسير خازن** كې ذكر دي : لَعَلَّكُمْ تَتَّقُوْنَ : يعني ما حرم عليكم في صيامكم لأنّ الصوم وصلة إلى التّقوى لما فيه من كسر النّفس وترك الشّهوات من الأكل والجماع وغيرهما ← ← ← ← ← ← ← ← ← ← ← ← ←

علماء ليکي چې د روژې په وجه تقوی ځکه پيدا کيږي چې کله انسان اوږې وي نو ددې په وجه د انسان حيواني او بَهيمي قوت ماتيږي ، د ګناهونو خواهش او جذبه کميږي .

## روژه د تقوی يوه پوړۍ ده

مولانا اشرف علي تهانوي رحمه الله ليکلي چې که يو انسان په صحيح طريقې سره روژه اونيسي نو دا روژه په خپله د تقولی يوه پوړۍ ده ، ځکه د تقویٰ معنی داده : " د الله ﷻ د عَظمت او اِستحضار په وجه د ګناهونو نه بچ کيدل " يعنی انسان دا سوچ اوکړي چې " زه د الله ﷻ بنده يم ، هغه ما ګوري ، زه به يوه ورځ د هغه د وړاندې اودريږم ، هغه ته به جواب ورکوم " نو ددې سوچ په وجه به په خپله ګناه پرېږدي او همدې ته تقویٰ وايي .

په روژه کې هم همدا خبره ده ځکه چې کله يو کس روژه نيولې وي ، دې تږې شي ، دده سره په کمره کې هيڅوک نه وي ، يَخې اوبه موجودې وي ، که چيرته دې دا اوبه اوڅکي نو هيچا ته هم پته نه لږي ، او هيڅوک يې نه ګوري ، ليکن دې بيا هم دا اوبه نه څکي ځکه دې دا

←←←← وقيل: معناه لَعَلَّكُمْ تَتَّقُوْنَ ما فعله النصارى من تغيير الصوم وقيل: لعلكم تنتظمون في زمرة المتقين لأنّ الصوم من شعارهم. تفسير الخازن (لباب التأويل في معاني التنزيل) ١ / ١١٠ سورة البقرة آية ١٨٣ .

په تفسير **روح البيان** کې ذکر دي : لَعَلَّكُمْ تَتَّقُوْنَ : المعاصي فانّ الصوم يكسر الشهوة الّتي هي مبدأها كما قال عليه السلام (يا معشر الشباب من استطاع منكم الباءة فليتزوّج فانه اغضّ للبصر وأحصن للفرج ومن لم يستطع فعليه بالصوم فان الصوم له وجاء) . تفسير روح البيان ١ /٢٨٩ سورة البقرة آية ١٨٣ .

په تفسير **قرطبي** کې ذکر دي : لَعَلَّكُمْ تَتَّقُوْنَ : قِيْلَ: مَعْنَاهُ هُنَا تَضْعُفُوْنَ. فَإِنَّهُ كُلَّمَا قَلَّ الاكل ضعفت الشهوة. وكلما ضعفت الشَّهْوَةُ قَلَّتِ الْمَعَاصِيْ. وَهٰذَا وَجْهٌ مَجَازِيٌّ حَسَنٌ. وَقِيْلَ: لِتَتَّقُوا الْمَعَاصِيَ. وَقِيْلَ: هُوَ عَلَى الْعُمُوْمِ. لِأَنَّ الصِّيَامَ كَمَا قَالَ عَلَيْهِ السَّلَامُ: ( اَلصِّيَامُ جُنَّةٌ وَوِجَاءٌ ) وَسَبَبُ تَقْوٰى، لِأَنَّهُ يُمِيْتُ الشَّهَوَاتِ . تفسير القرطبي (الجامع لأحكام القرآن) ٢/ ٢٧٥ سورة البقرة آية ١٨٣ .

په تفسير **بحرمحيط** کې ذکر دي : لَعَلَّكُمْ تَتَّقُوْنَ : أَيْ: سَبَبُ فَرْضِيَّةِ الصَّوْمِ هُوَ رَجَاءُ حُصُوْلِ التَّقْوٰى لَكُمْ. فَقِيْلَ: الْمَعْنٰى تَدْخُلُوْنَ فِيْ زُمْرَةِ الْمُتَّقِيْنَ. لِأَنَّ الصَّوْمَ شِعَارُهُمْ. وَقِيْلَ: تَجْعَلُوْنَ بَيْنَكُمْ وَبَيْنَ النَّارِ وِقَايَةً بِتَرْكِ الْمَعَاصِيْ. فَإِنَّ الصَّوْمَ لِإِضْعَافِ الشَّهْوَةِ وَرَدْعِهَا. كَمَا قَالَ عَلَيْهِ السَّلَامُ « فَعَلَيْهِ بِالصَّوْمِ فَإِنَّ الصَّوْمَ لَهُ وِجَاءٌ» . البحر المحيط في التفسير ٢ /١٨٩ سورة البقرة آية ١٨٣ .

سوچ کوي چې اګر چې ما نور څوک نه ګوري ليکن الله ﷻ خو مې ضرور ګوري ، يوه ورځ به د هغه مخې ته ورځم ، هغه ته به ددې جواب ورکوم ، په همدې سوچ باندې دا د روژې خوړلو نه ځان ساتي ، کله چې دا احساس پيدا شي نو همدا تقوى ده .

پس ثابته شوه چې په خپله روژه د تقوى يوه پوړۍ ده ، ځکه خو الله ﷻ د روژې د فرض کيدو فائده تقوى ذکر کړى ، ګويا روژه د تقوى پيدا کولو عملي تربيت دى .

خو په روژې سره دا تقوى هله پيدا کيږي چې انسان په روژه کې د ګناهونو نه هم ځان اوساتي . په دُنيا کې که مونږ اوګورو نو د علاج سره پرهيز هم ضروري دى ، که يو کس علاج کوي خو پرهيز ورسره نه کوي نو دا علاج پوره اثر نه کوي ، همدغه شان چې انسان په روژه کې د ګناهونو نه ځان نه ساتي نو بيا تقوى نه پيدا کيږي .

## په روژو فرض کيدلو کې زمونږ فائده ده

په مسلمانانو باندې د روژې په فرض کولو ، يا د مسلمانانو په اُولږه او تَنده برداشت کولو کې خو د الله تعالى هيڅ فائده نشته ، بلکه په دې کې خو همدا زمونږ فائده ده چې په دې سره په مونږ کې تقوى او پرهيزګاري پيدا کيږي .

**مثال** : ددې مثال داسې دى چې بعضې وخت په کور کې مور ماشومانو ته د خوراک د پاره بعضې شيان نه ورکوي ، اګر چې ماشومان ورپسې ژاړي خو مور يې بيا هم نه ورکوي ، ځکه ددې څيز نه په منع کيدو کې د همدې ماشومانو فائده وي ، مور د دوى دُشمنه نه وي خو د دوى د فائدې لحاظ ساتي ، همدغه شان الله تعالى په مونږ باندې روژې فرض کړي ، او په دې کې يې مونږ د خوراک ، څکاک وغيره نه منع کړي يو نو په دې کې همدا زمونږ فائده ده چې په دې سره په مونږ کې تقوى پيدا شي ، او همدا د روژې حِکمت او فلسفه هم ده چې ددې په وجه په انسان کې تقوى او پرهيزګاري پيدا شي .

## د تقوى اَهميت

تقوى يو بُنيادي عمل دى ، دا د ټولو نيکو کارونو جَرړه ده ، که يو انسان د نبي عليه السلام د ټولو تعليماتو خلاصه او نچوړ په يو لفظ کې بيانول غواړي نو هغه دا ''تقوىٰ'' ده ، ځکه د ټولو عباداتو مقصد هم همدا تقوىٰ ده .

په چا کې چې تقوىٰ پيدا شي نو داسې کس په دُنيا او آخرت دواړو کې کامياب دی ، دغه وجه ده چې په قرآن کريم او احاديثو کې د تقوىٰ ډير تاکيد او اهميت بيان شوی . (۱)

## په رمضان کې تقوىٰ حاصلول آسان دي

په رمضان کې تقوى حاصلول آسان دي ځکه هر طرف ته د عباداتو ماحول برابر وي ، سرکشه شيطانان تړل شوي وي ، د جنت دروازې کلاؤ وي ، د جهنم دروازې بندې وي ، د الله ﷻ رحمتونه په شپږو شپږو راوريږي ، لهذا که انسان معمولي محنت اوکړي نو ډير اجرونه او ثوابونه حاصلولې شي .

## روژه د اسلام په بنيادي اَرکانو کې اَهم رُکن دی

په قرآن کريم او احاديثو مبارکهؤ کې د رمضان المبارک د روژو ډير اَهميت او تاکيد بيان شوی .

د بخاري شريف حديث دی ، رسول الله صلى الله عليه وسلم فرمايي :

بُنِيَ الْإِسْلَامُ عَلَى خَمْسٍ : شَهَادَةِ أَنْ لَّآ إِلٰهَ إِلَّا اللّٰهُ وَأَنَّ مُحَمَّدًا رَّسُوْلُ اللّٰهِ ، وَ إِقَامِ الصَّلَاةِ ، وَإِيْتَاءِ الزَّكَاةِ ، وَالْحَجِّ ، وَصَوْمِ رَمَضَانَ . (۳)

د اِسلام بُنياد په پنځو (۵) شيانو قائم کړې شوی : ۱. د ''لَآ إِلٰهَ إِلَّا اللّٰهُ مُحَمَّدٌ رَّسُوْلُ اللّٰهِ'' ګواهي ورکول (يعنى د دې خبرې ګواهي ورکول چې : نشته دې لائق د عبادت مګر يو الله ﷻ دی ، او محمد ﷺ د الله ﷻ رسول دی) . ۲. مونځ کول . ۳. زکوة ورکول ۴. حج کول ۵. او د رمضان المبارک روژې نيول .

---

(۱) **نوټ** : تقوىٰ يوه مستقله موضوع ده ، ان شاء الله که موقع پيدا شوه نو د تقوى په اَهميت ، فضائلو او فوائدو باندې به مستقل تقرير ليکم . ابوالشمس علي عنه

(۳) صحيح البخاري بَابُ قَوْلِ النَّبِيِّ صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ : « بُنِيَ الْإِسْلَامُ عَلَى خَمْسٍ » رقم الحديث ۸ ، صحيح مسلم بَابُ قَوْلِ النَّبِيِّ صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ : بُنِيَ الْإِسْلَامُ عَلَى خَمْسٍ رقم ۱۹ (۱۶) ، ورقم ۲۱ (۱۶) ، سنن الترمذي باب ما جاء بُنِيَ الْإِسْلَامُ عَلَى خَمْسٍ رقم الحديث ۲۶۰۹ ، سنن النسائي رقم ۵۰۰۱ ، مشكاة المصابيح كتاب الايمان الفصل الاول رقم الحديث ۴ (۳) .

**د حديث تشريح** : علامه عيني رحمه الله د بخاري شريف په شرح "عمدة القاري" کې د دې حديث وضاحت داسې کړی چې : په دې حديث کې د اسلام د پنځو (۵) ارکانو تشبيه د داسې يوې خېمې سره ورکړې شوې چې هغه په پنځو ستنو باندې ولاړه وي ، د "أَشْهَدُ أَنْ لَا إِلٰهَ إِلَّا اللهُ" ګواهي ورکول دې د مينځنۍ ستنې په شان دی چې دا نور ارکان د دې نه ګېر چاپېره ګرځي ، او دا څلور ارکان د خېمې د څلورو ستنو ( او مېخونو ) په شان دي کوم چې د خيمې څلور واړه طرفونو ته لګېدلي وي .

لهذا که چېرته د خېمې درمياني ستن نه وي نو خېمه بالکل نشي اودرېدی ، ليکن که چېرته په څلورو طرفونو کې کومه ستن نه وي نو د دې خېمې د غه طرف به راغور ځيدلې وي .

د غه شان که يو کس د اسلام په څنې ارکانو باندې عمل کوي خو روژه نه نيسي نو د ده ايمان به هم کامل نه وي . علامه عيني رحمه الله دا هم ليکلي :

إِنَّ الْإِسْلَامَ مَبْنِيٌّ عَلٰى هٰذِهٖ ، وَإِنَّمَا هٰذِهِ الْأَشْيَاءُ مَبْنِيَّةٌ عَلَى الْإِسْلَامِ . (۱)

بيشکه د اسلام بُنياد په همدې ( پنځو ارکانو ) باندې دی ، او د دې ارکانو بُنياد په اسلام باندې دی .

## د اسلام په ټولو احکاماتو باندې عمل کول لازمي دی

هر عاقل بالِغ مسلمان د پاره د اسلام په ټولو احکاماتو باندې عمل کول لازمي دی ، نبي عليه السلام فرمايي :

أَرْبَعٌ فَرَضَهُنَّ اللهُ فِي الْإِسْلَامِ ، فَمَنْ جَاءَ بِثَلَاثٍ لَمْ يُغْنِيْنَ عَنْهُ شَيْئًا حَتّٰى يَأْتِيَ بِهِنَّ جَمِيْعًا اَلصَّلٰوةُ ، وَالزَّكٰوةُ ، وَصِيَامُ رَمَضَانَ ، وَحَجُّ الْبَيْتِ . (۲)

(۱) ... وَيجوز أَنْ يكون اسْتِعَارَة تمثيلية بِأَنْ تُمَثَّلَ حَالَة الْإِسْلَامِ مَعَ أَرْكَانِهِ الْخَمْسَة بِحَالَة خباء أُقِيمَتْ على خَمْسَة أَعْمِدَةٍ وقطبها الَّذِي تَدور عَلَيْهِ الْأَركان هُوَ شَهَادَة أَنْ لَا إِلٰه إِلَّا الله وَبَقِيَّة شُعَبِ الْإِيمَان كَالْأَوْتَادِ لِلخباء ... وَقَالَ التَّيْمِيّ قَوْله : بُنِي الْإِسْلَام على خمس كَانَ ظاهره أَنَّ الْإِسْلَامَ مَبْنِيٌّ عَلٰى هٰذِه ، وَإِنَّمَا هٰذِه الْأَشْيَاءُ مَبْنِيَّةٌ عَلَى الْإِسْلَامِ . عمدة القاري شرح صحيح البخاري ۱ /۱۲۰ كتاب الإيمان باب دعاؤكم إيمانكم

(۲) احمد ، وطبراني ، كنزالعمال ج۱ ص ۳۰ رقم الحديث ۳۳ . فتاوى حقانية ج۴ ص ۱۱۳ . الزواجر ۱ /۳۲۴ .

(د ایمان نه روستو) څلور (۴) شیان داسې دي چې الله تعالی په اسلام کې فرض کړي دي، پس څوک چې په دې څلورو کې درې (۳) اداء کوي (او د څلورم د فرضیت نه منکِر وي) نو دا درې به دده په کار رانشي تر څو پورې چې ټول اداء نه کړي (یعنی په ټولو باندې ایمان او یقین اونه لري). هغه څلور شیان (د ایمان نه روستو) لمونځ، زکوة، د رمضان روژې او د بیت الله حج کول دي.

معلومه شوه چې د لمونځ، زکوة اوحج غوندې روژه هم د اسلام اَهم رُکن دی.

## د روژې برابر هيڅ عمل نشته

حضرت ابو امامة رضي الله عنه فرمايي چې ما نبي عليه السلام ته عرض اوکړو:

دُلَّنِيْ عَلٰى عَمَلٍ. اې د الله رسوله! ما ته یو عمل اوښایه (چې هغه ما ته نفع راکړي، او زه پرې جنت ته داخل شم).

رسول الله صلى الله عليه وسلم ورته وفرمايل:

عَلَيْكَ بِالصَّوْمِ فَإِنَّهُ لَا عِدْلَ لَهُ. (۱)

---

(۱) عَنْ أَبِي أُمَامَةَ رضي الله عنه قَالَ: قُلْتُ يَا رَسُوْلَ اللهِ ! دُلَّنِيْ عَلٰى عَمَلٍ، قَالَ: «عَلَيْكَ بِالصَّوْمِ فَإِنَّهُ لَا عِدْلَ لَهُ». المستدرک على الصحيحين للحاكم رقم الحديث ۱۵۳۳ وقال الحاكم: هَذَا حَدِيثٌ صَحِيحُ الْإِسْنَادِ، وَلَمْ يُخَرِّجَاهُ. شعب الايمان رقم الحديث ۳۳۱۵، صحيح ابن حبان رقم الحديث ۳۴۲۶، صحيح ابن خزيمة رقم الحديث ۱۸۹۳.

وفي رواية: عن أَبِي أُمَامَةَ الْبَاهِلِيِّ، قَالَ: قُلْتُ: يَا رَسُولَ اللهِ ! مُرْنِيْ بِأَمْرٍ يَنْفَعُنِي اللهُ بِهِ، قَالَ: «عَلَيْكَ بِالصِّيَامِ فَإِنَّهُ لَا مِثْلَ لَهُ». سنن النسائي رقم الحديث ۲۲۲۱ كتاب الصيام. قال الالباني: هذا حديث صحيح.

وفي رواية: .... يَا رَسُولَ اللهِ ! فَمُرْنِيْ بِعَمَلٍ أَدْخُلُ بِهِ الْجَنَّةَ، فَقَالَ: "عَلَيْكَ بِالصَّوْمِ، فَإِنَّهُ لَا مِثْلَ لَهُ". قَالَ: فَكَانَ أَبُو أُمَامَةَ لَا يُرَى فِي بَيْتِهِ الدُّخَانُ نَهَارًا إِلَّا إِذَا نَزَلَ بِهِمْ ضَيْفٌ، فَإِذَا رَأَوُا الدُّخَانَ نَهَارًا، عَرَفُوا أَنَّهُ قَدِ اعْتَرَاهُمْ ضَيْفٌ. صحيح ابن حبان محققا رقم الحديث ۳۴۲۵۴ ذِكْرُ الْبَيَانِ بِأَنَّ الصَّوْمَ لَا يَعْدِلُهُ شَيْءٌ مِنَ الطَّاعَاتِ. إسناده صحيح على شرط مسلم، رجاله ثقات رجال الشيخين غير رجاء بن حيوة، فمن رجال مسلم، وأخرجه ابن أبي شيبة ۳/۵ عن يزيد بن هارون، بهذا الإسناد. صحيح الترغيب والترهيب رقم الحديث ۹۸۶(۹).

وفي رواية: عَنْ أَبِي أُمَامَةَ، أَنَّهُ سَأَلَ رَسُوْلَ اللهِ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ أَيُّ الْعَمَلِ أَفْضَلُ؟ قَالَ: «عَلَيْكَ بِالصَّوْمِ فَإِنَّهُ لَا عِدْلَ لَهُ». سنن النسائي رقم الحديث ۲۲۲۲ كتاب الصيام. قال الالباني: هذا حديث صحيح.

ته په ځان باندې روژه لازم کړه (یعنی روژه نیسه) ځکه ددې برابر (او مقابله کوونکې) بل هیڅ عمل نشته.

**د حدیث تشریح**: اګر چې مونځ، روژه، زکوة، حج او نور نیک اعمال دا ټول د الله ﷻ د رَضا او نزدیکت ذریعه ده لیکن بیا هم ددې هر عبادت ځانله ځانله خصوصیات او اثرات دي چې په دې کې دا ددې نورو نه ممتاز او جدا دي، د همدې اِمتیازي خصوصیاتو د وجې نه ددې هر عبادت په باره کې دا ویلې شي چې: "ددې په شان بل عبادت نشته"

مثلا مونږ دا ویلې شو چې "د نفس مغلوبه کولو د پاره او خواهشاتو کنټرول کولو د پاره د روژې په شان بل هیڅ عمل نشته" او دا صحیح هم ده.

بل دا چې د حضرت ابوامامة رضي الله عنه د پاره په خاصو حالاتو کې همدا روژه افضله وه نو ځکه رسول الله ﷺ ورته د روژې نیولو حکم اوکړو.(۱)

## روژه بې مِثله او بې رِیا عبادت دی

که حقیقت ته اوکتلې شي نو روژه بې مِثله او بې رِیا عبادت دی، تاسو سوچ اوکړئ چې یو کس روژه نیولې وي او هغه کله د اَودس کولو په وخت په خُله کې اُوبه واچوي نو که دې دا اُوبه نیمې تېرې کړي او نیمې رااُوغورځوي نو هیچا ته پته نه لګي، همدا رنګې که دې ځان له پټې اُوبه څکي نو هم هیچاته پته نه لګي، خو باوجود ددینه دې بیا هم اُوبه نه څکي نو معلومیږي چې ده بغیر د رِیا نه خالِصه د الله ﷻ د رَضا د پاره روژه نیولې ده.

## د روژې خصوصیت

په روژه کې داسې خصوصیت دی چې هغه په بل عبادت کې نشته، حضرت شاه عبدالعزیز دهلوي رحمه الله لیکلي چې روژه یو داسې عبادت دی چې مشرکانو به په نورو عبادتونو کې شِرک کولو خو روژه به یې خالِص د الله ﷻ د رَضا د پاره نیوله.

ددینه معلومه شوه چې په روژه کې داسې خصوصیت شته چې هغه په نورو عباداتو کې نشته.

---

(۱) معارف الحدیث حصه چهارم ص ۳۵۱.

# د رمضان د راتلو انتظار کول

کومو خلقو چې د رمضان المبارک د روژو قدر او عظمت پيژندلې وُ هغوی به د ډير مخکې نه د رمضان المبارک د راتلو انتظار کولو .

۱ . مشهور تابعي معلی بن الفضل رحمه الله د صحابه کرامو متعلق فرمايي :

كَانُوا يَدْعُونَ اللهَ سِتَّةَ أَشْهُرٍ أَنْ يُبَلِّغَهُمْ رَمَضَانَ ثُمَّ يَدْعُونَهُ سِتَّةَ أَشْهُرٍ أَنْ يَتَقَبَّلَ مِنْهُمْ. (۱)

صحابه کرامو به د شپږو مياشتو نه د الله ﷻ نه دا دُعا کوله چې اې الله ! مونږ رمضان ته اورسوه ، ( چې کله به رمضان رااُورسيدو نو ) بيا به يې شپږ مياشتې دا دُعا کوله چې اې الله ! زمونږ روژې او عبادات قبول کړه .

**صحابه کرامو ته د رمضان د راتلو زيرې ورکول :** په خپله نبي عليه السلام به صحابه کرامو ته د رمضان المبارک د راتلو زيرې ورکول :

په مسند احمد او نسائي کې دا حديث ذکر دی چې نبي اکرم صلی الله عليه وسلم د رمضان په راتلو صحابه کرامو ته دا زيرې ورکړو :

قَدْ جَاءَكُمْ رَمَضَانُ، شَهْرٌ مُبَارَكٌ، اِفْتَرَضَ اللهُ عَلَيْكُمْ صِيَامَهُ .... (۲)

اې خلقو په تاسو باندې د رمضان مياشت راغله ، دا ډيره برکتي مياشت ده ، الله تعالی په تاسو باندې ددې روژې فرض کړې دي .

**د رمضان په راتلو يو بل ته مبارکي ورکول :** علامه ابن رجب رحمه الله ددې حديث نه معلومه کړې چې د رمضان په راتلو سره يو بل ته مبارکي ورکول جائز دي . (۳)

(۱) نداء الريان في فقه الصوم وفضل رمضان ج۱ ص ۱۶۴ الباب السادس بين يدي رمضان التهنئة بقدوم رمضان .

(۲) إسناده صحيح: "رواه النسائي والبيهقي، كلاهما عن ابي قلابة، انظر "مسند احمد" رقم الحديث (۷۱۴۸، ۹۴۹۳، ۸۹۷۹)

(۳) قال ابن رجب: هذا الحديث أصل في تهنئة النّاس بعضهم بعضًا بشهر رمضان ،كيف لا يبشر المؤمن بفتح أبواب الجنان. كيف لا يبشر المذنب بغلق أبواب النيران ، كيف لا يبشر العاقل بوقت يغلّ فيه الشيطان من أين يشبه هذا الزمان زمان؟ . نداء الريان في فقه الصوم وفضل رمضان ج۱ ص ۱۶۴ الباب السادس بين يدي رمضان التهنئة بقدوم رمضان .

همدا خبره ملاعلي قاري رحمه الله په مرقات کې هم ذکر کړې . (۱)

**د رمضان د راتلو نه مخکې دعا کول :** چې کله به د رجب میاشت راغله نو نبي کريم صلی الله عليه وسلم به دا دُعا کوله : اَللّٰهُمَّ بَارِكْ لَنَا فِي رَجَبٍ وَشَعْبَانَ وَبَلِّغْنَا رَمَضَانَ . (۲)

اې الله ! مونږ ته د رجب او شعبان په مياشت کې برکت واچوه او رمضان ته مو اورسوه .

بيا به چې کله د شعبان مياشت راغله نو پيغمبر عليه السلام به د رمضان روژو ته دومره په شوق کې وُ چې د شعبان نه به يې نفلي روژې نيول شروع کړې .

تاسو اَندازه اولږوئ چې نبي عليه السلام به د رمضان نه دوه مياشتې مخکې د رمضان د راتلو اِنتظار کولو ، او د رمضان په شوق کې به وُ .

د دې حديث نه بله دا خبره هم معلومه شوه چې د نيک عمل د پاره د عُمر د زياتوالي دُعا کول هم جائز ده ، لهذا داسې دعا کول جائز ده چې : يا الله ! زما په عُمر کې اضافه اوکړه (برکت په کې واچوه ) چې ستا د رَضا مطابق نيک اعمال اوکړم . همدارنګې نبي عليه السلامْ د څه تکليف رسيدو په وخت د مرګ تمنّی کولو نه منع فرمايلې ده . (۳)

---

(۱) عَنْ أَبِي هُرَيْرَةَ رَضِيَ اللهُ عَنْهُ قَالَ: قَالَ رَسُوْلُ اللهِ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ: أَتَاكُمْ رَمَضَانُ شَهْرٌ مُبَارَكٌ فَرَضَ اللهُ عَلَيْكُمْ صِيَامَهُ ..... رواه احمد والنسائي ، مشكاة المصابيح رقم الحديث ۱۹۶۲ (۷) كتاب الصوم الفصل الثالث

د دې حديث د لاندې ملا علي قاري رحمه الله ليکلي : وَهُوَ أَصْلٌ فِي التَّهْنِئَةِ الْمُتَعَارَفَةِ فِي أَوَّلِ الشُّهُوْرِ بِالْمُبَارَكَةِ . مرقاة المفاتيح شرح مشكاة المصابيح ۴ /۱۳۶۵ في تشريح حديث رقم ۱۹۶۲(۷) .

(۲) عَنْ أَنَسٍ رضي الله عنه قَالَ: كَانَ النَّبِيُّ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ إِذَا دَخَلَ رَجَبٌ ، قَالَ: اَللّٰهُمَّ بَارِكْ لَنَا فِي رَجَبٍ ، وَشَعْبَانَ ، وَبَلِّغْنَا رَمَضَانَ . شعب الايمان رقم الحديث ۳۵۳۴ الصيام تخصيص شهر رجب بالذكر . فضائل رمضان لابن ابي الدنيا ج۱ ص ۲۳ رقم الحديث ۱ ، كنزالعمال باب فضل الازمنة رقم الحديث ۳۸۲۸۹ ، و رقم الحديث ۱۸۰۴۹ . و روه البزار في "مسنده" والطبراني في "الاوسط" والبيهقي في "فضائل الاوقات" .

نوټ : ابن حجر رحمه الله دې حديث ته ضعيف وايي : تبيين العجب ۳۰-۳۲ ، لداء الريان ۱/ ۴۱۵ .

(۳) عَنْ أَنَسِ بْنِ مَالِكٍ رضي الله عنه عَنِ النَّبِيِّ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ أَنَّهُ قَالَ: "لَا يَتَمَنَّى أَحَدُكُمُ الْمَوْتَ لِضُرٍّ أَصَابَهُ . فَإِنْ كَانَ لَا بُدَّ فَاعِلًا فَلْيَقُلْ: اَللّٰهُمَّ أَحْيِنِي مَا كَانَتِ الْحَيَاةُ خَيْرًا لِي ، وَتَوَفَّنِي إِذَا كَانَتِ الْوَفَاةُ خَيْرًا لِي . إسناده صحيح على شرط الشيخين . مسند احمد رقم الحديث ۱۳۰۲۰ ، واخرجه البخاري (۵۶۷۱) ، ومسلم (۲۶۸۰) (۱۰) ، وابن السني في "عمل اليوم والليلة" (۵۶۳) ، والطبراني في "الصغير" (۲۰۸) ، وأبو نعيم في "تاريخ اصبهان" ۱/ ۱۴۰ ، والبيهقي في "السنن الكبرى" ۳/ ۳۷۷ ، وفي "الآداب" (۹۱۹) ، وفي "شعب الإيمان" (۱۰۱۴۸) ، وأبو محمد البغوي في "شرح السنة" (۱۴۴۴) .

## د رمضان نسبت الله تعالی ته شوی

نبي عليه السلام او صحابه کرامو به د رمضان المبارک انتظار ځکه کولو چې ددې مياشتې نسبت الله تعالی ته شوی ، ديته '' شَهْرُ الله '' يعنی د الله مياشت ويل شوی .(۱) او د کوم څيز نِسبت چې الله تعالی ته اوشي نو د هغې ډير غټ مقام وي ، اګر چې ټولې مياشتې د الله تعالی دي خو په رمضان المبارک کې د الله تعالی خاص تجليات او رحمتونه راوريږي او انسان ته د الله ﷻ نزديکت حاصليږي نو ځکه ددې نسبت الله تعالی ته شوی.

## د صحابه کرامو د روژو سره شوق

د صحابه کرامو د روژو سره دومره شوق ؤ چې د فرضي روژو نيولو سره سره به يې نفلي روژې هم نيولی ، د بعضي صحابه کرامو متعلق نقل دي چې دوی به د اَيّامِ مَنهيه نه علاوه ټول کال هميشه روژه وه ، ددې يو څو نمونې تاسو ته پيش کوم :

۱ . د حضرت عُمر رضي الله عنه متعلق نقل دي چې دوی به هميشه روژه نيوله . (۲)

۲ . حضرت عثمان رضي الله عنه به هم هميشه روژه نيوله ، تر دې چې کله شهيد کيدلو نو هم روژه يې وه ، همدارنګې ټوله شپه به يې عبادت کول ، صرف د شپې په اوله حصه کې به لږ اُوده کيدو .(۳)

۳ . حضرت ابو طلحة رضي الله عنه به د نبي کريم صلی الله عليه وسلم په زمانه کې په جهاد کې د مشغولتيا په وجه نفلي روژې ډيرې نه نيولی خو چې کله رسولُ الله ﷺ وفات شو نو بيا

---

(۱) په حديث کې ذکر دي : شهر رمضان شهر الله وشهر شعبان شهري .... ابن عساکر عن عائشة ، کنزالعمال رقم الحديث ۲۳٦۸۵ ، و رقم ۲۳۷۲۳ . کتاب الصوم من قسم الأقوال الفصل الثاني: في فضل صوم شهر رمضان .

(۲) عن ابن عمر ( رضي الله عنهما) قال: ما مات عمر حتّٰی سرد الصوم . "صفة الصفوة" لابن الجوزي ۲۸٦/۱ ، والأثر اخرجه ابن ابي شيبة في "مصنفه" ۱۲۱/۱ ، والبيهقي في "سننه" ۳۰۱/۴ ، وابن حزم في " المحلى" ۱۴/۷ .

(۳) وعن الزبير بن عبد الله، عن جدة له يقال لها هيمة قالت: " كان عثمان يصوم الدهر ، ويقوم الليل إلا هجعة من أوّله" رضي الله عنه فقتلوه وقد كان صائماً . "الحلية" (۵٦/۱) ، و"صفة الصفوة" (۳۰۲/۱) .

به يې (د ايّامِ مَنهيه نه علاوه) هميشه روژه وه. (۱)

۴. حضرت عائشې رضي الله عنها به هم هميشه روژه نيوه. (۲)

۵. د حضرت حفصه بنت عُمر رضي الله عنها به هم هميشه روژه وه. (۳)

۶. حضرت حمزه بن عمرو الاسلمي رضي الله عنه به هم همشيه روژه نيوله، تر دې پورې چې په شرعي سفر کې انسان ته د روژې خوړلو اِجازت وي خو ده به بيا هم په سفر کې

---

(۱) عن أنس رضي الله عنه قال: كان أبو طلحة لا يصوم على عهد رسول الله صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ من أجل الغزو. فلما قبض النبي صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ لم أره يفطر إلّا يوم أضحى أو يوم فطر. "المعجم الكبير" للطبراني (۵/ ۹۱)، وأشار الشيخ حمدي عبد المجيد السلفي إلى صحته.

وقال الذهبي: كان قد سرد الصوم بعد النبي صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ. "سير أعلام النبلاء" (۱/ ۲۷).

قال أبو زرعة الدمشقي: إن أبا طلحة عاش بعد رسول الله صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ أربعين سنة يسرد الصوم. "تاريخ دمشق" لأبي زرعة (۵۶۲).

وعن أنس: "أن أبا طلحة صام بعد رسول الله صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ أربعين سنة لا يفطر إلا يوم فطر أو أضحى". "المستدرک" (۳/ ۳۵۳)، وقال على شرط مسلم.

(۲) عن عبد الرحمن بن القاسم: أن عائشة كانت تصوم الدهر. "سير أعلام النبلاء" (۱/ ۱۸۷)، ورجاله ثقات أخرجه ابن سعد (۸/ ۶۸).

وأخرجه ابن سعد عن القاسم بلفظ: أن عائشة كانت تسرد الصوم. أخرجه ابن سعد (۸/ ۷۵).

عن عروة: أن عائشة (رضي الله عنها) كانت تسرد الصوم، وعن القاسم أنها كانت تصوم الدهر، لا تفطر إلا يوم أضحى أو يوم فطر. "السمط الثمين" (ص ۹)، و"صفة الصفوة" (۲/ ۳۱).

والمعنى: أنها كانت تصوم غير الأيام المنهي عنها: كالعيدين، وأيام التشريق والحيض.

(۳) عن قيس بن زيد أن النبي صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ طلق حفصة بنت عمر فدخل عليها خالاها قدامة وعثمان ابنا مظعون، فبكت وقالت: والله ما طلقني عن شِبَع، وجاء النبي صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ فتجلببت، قال: فقال لي جبريل عليه السلام: راجع حفصة فإنها صوامة قوامة وإنها زوجتك في الجنة. حسن. أخرجه الحاكم في "المستدرک" عن انس وقيس بن زيد. أيّ شهادة أعظم من شهادة الله وجبريل لحفصة رضي الله عنها، وأنعم بها من عبادة كانت سببًا لرجوع أم المؤمنين حفصة إلى رسولنا صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ لتبقى له زوجة في الجنة. وعن نافع قال: "ماتت حفصة حتى ما تفطر". نداء الريان في فقه الصوم وفضل رمضان ۱/ ۱۱۶ الباب الخامس سادات الصائمين

روژه نيوه. (۱)

۷. د حضرت عبد الله بن عمرو بن العاص رضي الله عنه به هم هميشه روژه نيوله. په احاديثو کې اُوږده واقعه ذکر ده، د هغې خلاصه داده چې حضرت عبد الله بن عمرو بن العاص رضي الله عنه به په هره ورځ روژه نيوله، بيا نبي عليه السلام ده ته وفرمايل چې ته په هره مياشتې کې صرف درې (۳) روژې نيسه نورې مه نيسه، خو ده ورته وفرمايل چې زه ددينه د زياتو روژو نيولو طاقت لرم، پيغمبر عليه السلام ورته وفرمايل چې په جُمعې (يعنى اُووه ورځو) کې صرف درې روژې نيسه، ده ورته وويل: زه ددينه د زياتو روژو نيولو طاقت لرم، نبي عليه السلام ورته وفرمايل چې يوه ورځ روژه نيسه او دوه ورځې يې مه نيسه. خو ده بيا هماغه خبره اوکړه چې زه ددينه د زياتو روژو طاقت لرم. نبي عليه السلام ورته وفرمايل چې يوه ورځ روژه نيسه او بله ورځ يې مه نيسه... (۲)

۸. حضرت زيد بن سهل رضي الله عنه د رسول الله صلى الله عليه وسلم د وفات نه پس مسلسل څلويښت کاله روژې اونيولى، صرف د اَخترونو د ورځو روژې به يې نه نيولى (ځکه د اَختر په ورځ او اَيّامُ النّحر کې روژه منع ده) ددې نه علاوه په هره ورځ به يې روژه وه.

قدرمنو! څوک چې د روژو په قدر او عظمت باندې پوهه شوى نو هغوى ته په بهترين خوراک خوړلو کې دومره خوَند او لِذت نه حاصليږي څومره چې په روژه نيولو کې ورته حاصليږي، هغوى ته په يَخو اُوبو څکلو او خوَږو مَشروباتو څکلو کې دومره خوَند نه حاصليږي څومره چې د روژې په وجه تندې برداشت کولو کې ورته حاصليږي.

همدغه رنګې زمونږ د اَسلافو هم د روژو سره ډير شوق وُ، هميشه به يې روژې نيولى.

(۱) روى الإمام أحمد عن عائشة رضي الله عنها أن حمزة بن عمرو الأسلمي سأل رسول الله صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ فقال: يا رسول الله! إنّي رجل أسرد الصوم فأصوم في السفر قال: "صم إنْ شئتَ وأفطر إن شئتَ".

قال النووي: ....وهذا محمول على أن حمزة بن عمرو كان يطيق السرد بلا ضرر ولا تفويت حق، كما في الرواية التي بعدها (أجد بي قوة على الصيام في السفر). صحيح: مسلم بشرح النووي.

(۲) رواه البخاري في كتاب فضائل القرآن باب "في كم يقرأ القرآن" (۷۱۲/۸، ۷۱۳). نداء الريان في فقه الصوم وفضل رمضان ۱۱۸/۱ الباب الخامس سادات الصائمين

( نوټ : د اَسلافو مسلسل روژو نيولو واقعات د همدې تقرير په آخر کې په صفحه ۱۱۲ ذکر دي ، هلته يې اوګوره . ابوالشمس عفي عنه ) .

## اطمينان او سکون د الله ﷻ په حُکمونو مَنلو کې دی

دا ياد ساتئ چې اطمينان ، سکون او راحت په دُنيوي اسبابو کې نه دی بلکه د الله ﷻ په حکمونو مَنلو کې دی ، راحت ځانله شی دی ، او اسباب د راحت ځانله شی دی ، ډير کرتې به د يو انسان سره د راحت اَسباب ( دُنيوي وسائِل ) موجود وي ليکن بيا به هم ورته اِطمينان او سکون نه وي نصيب .

تاسو اوګورئ ډير داسې مالداره خلق شته چې د هغوی سره دُنياوي وسائل ټول برابر دي ( په بَنګلو کې اُوسيږي ، ښه ښه خوراکونه کوي ، په نَرمو بسترو کې څملي ) ليکن بيا هم ورته اِطمينان او سکون نه وي حاصل ، ليکن بل طرف ته نېکان خلق اوګورئ چې غريبانان وي ، په جونګړو کې اوسيږي ، اُوچه روټۍ ( ډوډۍ ) خوري ، اُولږې او تندې برداشت کوي ، په زمکه څملي ليکن بيا هم د اطمينان او سکون واله ژوند تېروي ، دا ځکه چې اصل سکون په دُنياوي وسائلو کې نه دی بلکه په شريعت باندې عمل کولو کې دی . دغه شان که يو کس د رمضان المبارک روژې نيسي او په شرعي احکاماتو باندې عمل کوي نو په ظاهره باندې اګر چې دې په تکليف کې معلوميږي ليکن په حقيقت کې دې ښه مطمئن وي .

## په رمضان کې د عبادت کولو اَجر زيات وي

امام بيهقي رحمه الله او نورو مُحدّثينو دا حديث رانقل کړی ، رسولُ الله ﷺ فرمايي :

إِذَا كَانَ أَوَّلُ لَيْلَةٍ مِنْ رَمَضَانَ فُتِحَتْ أَبْوَابُ السَّمَاءِ فَلَا يُغْلَقُ مِنْهَا بَابٌ حَتَّى يَكُونَ آخِرُ لَيْلَةٍ مِنْ رَمَضَانَ، وَلَيْسَ مِنْ عَبْدٍ مُؤْمِنٍ يُصَلِّي فِي لَيْلَةٍ إِلَّا كَتَبَ اللهُ لَهُ أَلْفًا وَخَمْسَمِائَةِ حَسَنَةٍ بِكُلِّ سَجْدَةٍ، وَبَنَى لَهُ بَيْتًا فِي الْجَنَّةِ مِنْ يَاقُوتَةٍ حَمْرَاءَ لَهَا سِتُّونَ أَلْفَ بَابٍ لِكُلِّ بَابٍ مِنْهَا قَصْرٌ مِنْ ذَهَبٍ مُوَشَّحٍ بِيَاقُوتَةٍ حَمْرَاءَ. فَإِذَا صَامَ أَوَّلَ يَوْمٍ مِنْ رَمَضَانَ غُفِرَ لَهُ مَا تَقَدَّمَ مِنْ ذَنْبِهِ إِلَى مِثْلِ ذٰلِكَ الْيَوْمِ مِنْ شَهْرِ رَمَضَانَ، وَاسْتَغْفَرَ لَهُ كُلَّ يَوْمٍ سَبْعُونَ أَلْفَ مَلَكٍ مِنْ صَلَاةِ الْغَدَاةِ إِلَى أَنْ تُوَارَى بِالْحِجَابِ، وَكَانَ لَهُ بِكُلِّ سَجْدَةٍ يَسْجُدُهَا فِي شَهْرِ رَمَضَانَ بِلَيْلٍ أَوْ نَهَارٍ شَجَرَةٌ يَسِيْرُ

الرَّاكِبُ فِي ظِلِّهَا خَمْسَ مِائَةَ عَامٍ . (۱)

چې کله د رمضانُ المبارک اوله شپه شي نو د آسمان ( جنت ) دروازې کلاؤ شي ، د رمضان تر آخِري شپې پورې په دې کې يوه دروازه هم نه بنديږي ، کوم مؤمن بنده چې د رمضان په شپو کې يوه شپه مونځ (يعنی تراويح وغيره) اوکړي نو ده ته الله تعالی د هرې سجدې په عوض کې پنځلس سوه (۱۵۰۰) نيکئ ليکي ، او ده ته په جنت کې د سرو ياقوتو نه داسې کور جوړوي چې د هغې به شپيته زره (۶۰۰۰۰) دروازې وي ، د هرې دروازې سره به د سرو زرو يو مَحل وي چې هغه به په سرو ياقوتو باندې بنائسته شوې وي .

بيا چې کله روژه دار د رمضان المبارک اوله روژه اونيسي نو الله تعالی ده ته د تېر رمضان نه تر ددې رمضان پورې ټول گناهونه اُوبخي ، او اَويا زره فرښتې په هره ورځ د سهَر نه تر د نمر پرېوتلو پورې دده د پاره د مغفرت او بخنې دُعاگانې غواړي .

او دا چې د رمضان المبارک په مياشت کې د ورځې يا شپې څومره سجدې کوي د هرې سجدې په عِوض کې به ده ته په جنت کې داسې اُونه ورکولې شي چې د هغې په سُوري (سايه) کې به د اَس سور کس پنځه سوه (۵۰۰) کال مزَل کولې شي .

## په رمضان کې د اَسلافو معمول

که مونږ د خپلو اَسلافو واقعات اوگورو نو دا به راته معلومه شي چې هغوی به د رمضان په راتلو سره نور کارونه کمول او ټوله توَجّه به يې عباداتو طرف ته راگرځوله . د يو څو اسلافو واقعات درته د نمونې په طور ذکر کوم :

۱ . **امام اعظم ابوحنيفه رحمه الله** : د امام اعظم ابوحنيفه رحمه الله په باره کې نقل دي چې په هر رمضان المبارک کې به يې يو شپيته (۶۱) ختمونه کول : يو به يې د ورځې کول ، دويم به يې د شپې کول ، او يو به يې په تراويحو کې کول . (۲)

---

(۱) شعب الايمان للبيهقي رقم الحديث ۳۳۶۲ الصيام فضائل شهر رمضان ، الترغيب والترهيب كتاب الصوم الترغيب في صيام رمضان احتساباً و قيام ليله رقم الحديث ۱۲ ، و رواه السيوطي في الدر ۱/۱۸۶ ، والهندي في الكنز رقم ۲۳۵۰۶ ، والخطيب البغدادي في التاريخ ۱/۱۸۶ ، المتجر الرابح في ثواب العمل الصالح ابواب الصوم ص ۱۶۷ .

(۲) الخيرات الحسان ص ۸ .

او تول يې اَويازره ( ۷۰۰۰۰ ) پېرې قرآن مجيد ختم کړې وُ . (۱)

۲ . **امام شافعي رحمه الله** : د امام شافعي رحمه الله په باره کې هم راځي چې دوی به هم په رمضان کې يوشپيته (٦١ ) ختمونه کول ، يو د ورځې ، بل د شپې ، او يو په تراويحو کې . (۲)

۳ . **مولانا زکريا رحمه الله** : حضرت مولانا زکريا رحمه الله په خپله فرمايي چې ما په رمضان المبارک کې کومه سيپاره په ترايحو کې ويله هغه به ما د ورځې ديرش (۳۰ ) پېرې د ځان سره اَړوله . (۳)

## ٤ . د يوې وينځې د عبادت سره شوق

محمد بن ابوالفرج وايي چې په رمضان کې زما يوې وينځې ته ضرورت پيدا شو چې ما له روټۍ پَخوي ، نو زه د وينځې اخيستلو د پاره بازار ته لاړم ، په بازار کې مې يوه وينځه اُوليده چې يو کس په ډېر کم قيمت خرڅوله ، زيړ رنګ يې وُ ، او کمزوري جسم واله وه ، زما وريانديې زړه اوسوزيد ، نو ما واخيسته .

کله چې کورته راغلو نو يوه ورځ مې دې وينځې ته وويل : راځه چې بازار ته لاړ شو او د رمضان د پاره ضروري شيان واخلو . هغې راته وويل : زه مخکې د داسې خلقو سره ووم چې د هغوی به هر وخت روژه وه .

محمد بن ابوالفرج وايي چې دا ډيره نېکه وينځه وه توله شپه به يې عبادت کولو ، کله چې اختر ته يوه ورځ پاتې شوه نو ما ورته وويل :

اِمْضِيْ بِنَا اِلَى السُّوْقِ لِنَشْتَرِيَ حَوَائِجَ الْعِيْدِ .

د مونږ سره بازار ته لاړه شه چې د اختر د پاره ضروري حوائج واخلو .

دې وينځې راته وويل :

---

(۱) سير اعلام النبلاء ج٦ ص ۴۰۰ . قرآن کريم ايک عظيم معجزه ص ۱۰۸ .

(۲) فضائل قرآن ص ۱ .

(۳) يادِ ايّام .

يا مولاي ! أيّ حوائج العيد؟ حوائج العوام أم حوائج الخواص؟
اې مولا ! د اختر کوم حوائج؟ د عوامو حوائج او که د خواصو حوائج ؟
ما ورته وويل : د عوامو او خواصو حوائج کوم کوم دي ؟ تفصيل يې راته وکړه . دې راته وويل : اې مولا ! د عوامو حوائج هغه معلوم خوراکونه دي کوم چې خلق په اخترونو کې کوي ، او د خواصو حوائج دا دي چې انسان د خلقو نه يو طرفته شي او د الله ﷻ عبادت په بهترينې طريقې او عاجزۍ سره اوکړي .

ما ورته وويل : إنّما أريدُ حوائجَ الطعام . زما مقصد د خوراک حوائج دي .

دې راته وويل : ياسيّدي ! أيّ الطعام تَعْنِيْ؟ طعامَ الأجساد أم طعام القلوب؟
اې مولا ! ستا مقصد کوم خوراک دی ؟ د بدَنونو د پاره خوراک او که د زړونو د پاره خوراک ؟

ما ورته وويل : ته ددې تشريح وکړه . هغې وويل : د بدَنونو خوراک خو دا معلوم دی ( کوم چې روزانه خلق کوي ) ، او د زړونو د پاره خوراک ( او قوّت ) دا دی چې انسان گناهونه پرېږدي ، د خپلو عېبونو اِصلاح اوکړي ، خُشوع او تقوٰی په ځان کې پيدا کړي ، تکبّر پرېږدي ، په ښکاره او پټه په الله ﷻ باندې توکّل اوکړي .

محمد بن ابوالفرج وايي چې بيا دا وينځه په مانځه باندې اُودريده نو په اول رکعت کې يې سورة البقرة شروع کړه ، کله يې چې ختمه کړه نو سورة آل عمران يې شروع کړو ، مسلسل يې د يو سورة ختمولو نه پس بل سورة شروع کولو ، تر دې پورې چې کله په ديارلسمه (۱۳) سيپاره کې د سورة ابراهيم دې آيت ته رااُورسيده :

﴿ مِنْ وَرَآئِهِ جَهَنَّمُ وَيُسْقَىٰ مِنْ مَّآءٍ صَدِيدٍ . يَتَجَرَّعُهُ وَلَا يَكَادُ يُسِيغُهُ وَيَأْتِيهِ الْمَوْتُ مِنْ كُلِّ مَكَانٍ وَمَا هُوَ بِمَيِّتٍ وَمِنْ وَرَآئِهِ عَذَابٌ غَلِيظٌ ﴾ . (۱)

ترجمه : ( الله تعالی د متکبّر ، سرکشه او کافر په باره کې فرمايي چې ) دده مخې ته جهنم دی ( چې دا به هغې ته داخلولې شي ) او په ده باندې به د نوَوُونو اُوبه څکولې شي

(۱) سورة ابراهيم آية ۱۶ ، ۱۷ .

چې دا به په ګوټ ګوټ ځکي خو د ستوني نه به يې ښکته نشي تيرولی ، او ده ته به د مرګ اَسباب ( قِسما قِسم عذابونه ) د هر ځای نه راځي خو هغه به مړ کيږي نه ، او ددې عذاب پسې به بل سخت عذاب وي .

دې وينځې به دا آيت بار بار ويل او ژړل به يې ، تر دې پورې چې بيهوشي ورباندې راغله او په زمکه رااُوغورځيده .

محمد بن ابو الفرج وايي چې کله ما دا وينځه اوخوزوله نو وفات شوې وه . (۱)

## ۵ . په رمضان کې د حضرت رائ پوري رحمه الله معمول

حضرت رائ پوري رحمه الله مشهور عالِم تېر شوی ، دده په معمولاتو کې ليکل شوي چې کله به د شعبان نهه ويشتمه (۲۹) ورځ شوه نو ده به خپل مريدان او متعلقين راجمع کړل او ورته به يې ويل چې د رمضان مياشت راغله ، دا مياشت ما د خپل ځان د پاره خاص کړې چې په دې کې به د روژې سره سره ټوله مياشت په عبادت کې تيروم ، او ټوله مياشت اعتکاف ته کينم ، لهذا که بيا ژوند باقي ؤ نو د رمضان المبارک تيريدو نه روستو به ملاقات کوو .

بيا به يې خادم ته يوه بُوجۍ ورکړه او ورته به يې وويل چې زما کوم خطونه راځي هغه په دې بوجۍ کې اچوه ، دا به د رمضان تيريدلو نه روستو ګورم . نو ده به ټوله مياشت په اعتکاف ، ذِکر و اَذکار او عبادت کې تېره کړه . (۲)

## ٦ . په رمضان کې د شيخ الهندؒ ټوله شپه عبادت کول

د شيخ الهند حضرت مولانا محمود الحسن ديوبندي رحمه الله معمول په رمضان کې دا ؤ چې ټوله شپه تر پيشمني پورې به يې په تراويحو کې د يو قاري نه قرآن کريم اوريدو ، چې تراويح به يې څنګه ختمې کړې نو پيشمنې به يې اوکړو ، بيا به يې د سهر مانځه د پاره تياري کولو .

(۱) الروض الفائق في المواعظ والرقائق ص ۴۱ المجلس الخامس في فضل شهر رمضان و صيامه .

(۲) خطبات فقير ج۱ ص ۱۵۹ .

يو څو ورځې چې تېرې شوی نو د مسلسل شَب بيداری په وجه کمزورې شو ، د کور زَنانه وُ محسوسه کړه چې حضرت صاحب د روژو او مسلسل شَب بيداری په وجه کمزورې شوی نو دوی ورته سوال زاری اوکړی چې ته يوه شپه آرام اوکړه تر د پيشمني پورې ځان په عبادت کې مه مشغوله کوه ، ددې د پاره چې څه آرام درته ملاؤ شي ، ده ورته وويل :

هيڅ معلومه نده چې په آئنده رمضان کې به څوک ژوندې وي او څوک به نه وي ؟ لهذا زه دا موقع نه ضائع کوم .

د کور زَنانه وُ ته دا معلومه وه چې حضرت صاحب د بل چا عُذر زر قبلوي ، نو دوی د يو هلک په ذريعه باندې قاري صاحب ته خبر وروليږلو چې ته نن حضرت صاحب ته عُذر پيش کړه چې زه نن شپه ډير ستړې شوې يم او تر د پيشمني پورې نه شم اُودريدی ، نو په دې طريقه به حضرت صاحب ته څه آرام ملاؤ شي .

قاري صاحب هم دا خبره اومنله ، ځکه قاري صاحب هم محسوسه کړې وه چې حضرت صاحب د ډيرې شَب بيداری په وجه ډير کمزورې شوی ، نو عُذر يې ورته پيش کړو ، حضرت صاحب دده عُذر اومنل . کله چې قاري صاحب دوه سيپارې په تراويحو کې وويلی نو حضرت صاحب ورته وويل چې ته اوس زما په بستره څمله او آرام اوکړه .

قاري صاحب وايي چې کله زه په کټ کې څملاستم نو حضرت صاحب په خپله راغی زما خپې چاپي کول يې شروع کړل . ما ورته وويل : حضرت ! دا خو بې اَدبي ده ، تاسو زما پير او مُرشِد يی ، تاسو ولې زما خپې چاپي کوئ ؟ هغوی راته وويل :

چونکه ته نن ډير ستړې شوې يې نو ځکه زه ستا خپې چاپي کوم چې څه آرام و راحت درته ملاؤ شي ، بيا حضرت صاحب د تلاوت او عبادت کولو اِراده اوکړه . ما ورته صحيح حال وويل چې زما مقصد خو تاسو ته آرام و راحت رسول وو خو چې تاسو زما نه بغير هم تر د پيشمني پورې د تلاوت او عبادت اِراده لری نو بيا خو بهتره داده چې زه درته قرآن کريم په تراويحو کې اُولولم . نو قاري صاحب راپاڅيد او تر د پيشمني پورې يې په تراويحو کې ورته قرآن کريم اولوست .

## روژه د عباداتو دروازه ده

د هر شي د پاره دروازه وي ، د عباداتو د پاره دروازه روژه ده .

همدا خبره د کعب الاحبار رضي الله عنه نه هم نقل ده . (۱)

## د ديرش روژو فرض کيدو حکمت

**سوال** : که څوک دا وو ايي چې ديرش (۳۰) روژې ولې فرض کړې شوي ؟ (کمې يا زياتې ولې ندي فرض کړې شوي ؟ )

**جواب** : ( ددې په اصل حقيقت باندې الله ﷻ خبردار دی خو ) علامه ابن جوزي رحمه الله ددې جواب دا ورکړی چې په پُلِ صراط باندې ديرش کاله اُودريدل دي ، اوس چې څوک ديرش روژې اونيسي نو الله تعالی به په دې ديرش کاله کې دده په عافيت او سلامتيا سره مدد اوکړي . (۲)

چا ددې نه علاوه نورې وجهې هم ذکر کړي . (۳)

(۱) رُوِيَ عَنْ كَعْبِ الْأَحْبَارِ رَضِيَ الله عَنهُ أَنه قَالَ لَيْسَ فِي الْعِبَادَاتِ أفضل من الصّيام لِأَنَّهُ بَاب الْعِبَادَة . وَقد جعل الله تبَارك وَتَعَالَى هَذَا الشَّهْر الْعَظِيم كَفَّارَة للذنب وَلَيْسَ فِي الذُّنُوب إِلَّا عَظِيم لأننا إِنَّمَا نعصي بهَا الرب الْعَظِيم .وَقد قَالُوا لَا تنظر إِلَى صغر ذَنْبك وَلَكِن انْظُر من عصيت تَابَ الله علينا حَتَّى لَا نعصيه . بستان الواعظين ورياض السامعين ۱ / ۲۳۴ الصّيام بَاب الْعِبَادَة طبع مؤسسة الكتب الثقافية - بيروت - لبنان

(۲) فَإِن قيل لم فرض رَمَضَان ثَلَاثِينَ يَوْمًا ؟ فَالْجَوَاب أَنه قيل إِن الْوُقُوف على الصِّرَاط ثَلَاثِينَ سنة فَإِذا صمت ثَلَاثِينَ يَوْمًا أعانك الله فِي الْموقف بالعافية والسلامة والسعادة والكرامة ثَلَاثِينَ سنة . بستان الواعظين ورياض السامعين ۱ / ۲۳۶ سَبَب فَرِيضَة الصّيام طبع مؤسسة الكتب الثقافية - بيروت - لبنان

(۳) فإن قيل كيف كان رمضان ثلاثين يوما فالجواب ؟ أن اليهود سألوا النبي صلى الله عليه وسلم عن ذلك فقال لأن آدم أكل من الشجرة بقي الطعام في بطنه ثلاثين يوما ، ذكره أبو الليث السمرقندي . ۱ / ۱۶۸ باب فضل رمضان والترغيب في العمل الصالح فيه وما فيه من الفضل طبع المطبعه الكاسعلية مصر ، تنبيه الغافلين بأحاديث سيد الأنبياء والمرسلين للسمرقندي ۱ / ۵۱۲ بَابُ: فَضْلِ أُمَّةِ مُحَمَّدٍ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ طبع دار ابن كثير، دمشق بيروت

# بغیر عُذره د فرضي روژو خوړلو سزاګاني

د رمضان روژې فرضِ عین دي ، ددې د فرضیت نه انکار کُفر دی ، او که بغیر د څه شرعي عُذر نه انسان روژې نه نیسي نو دا سړې فاسق و فاجر دی او د ګناهِ کبیره مُرتکب دی .

دغه وجه ده چې امام ذهبي رحمه الله په خپل کتاب " الکبائر " کې بغیر عُذر د رمضان روژه ماتول مستقل ګناهِ کبیره شمار کړی ، دې لیکي : " اَلْکَبِیْرَةُ السَّادِسَةُ : إِفْطَارُ یَوْمٍ مِنْ رَمَضَانَ بِلَا عُذْرٍ " شپږمه کبیره ګناه " بغیر عُذره د رمضان روژه ماتول " ده . (۱)

همدارنګې علامه ابن حجر رحمه الله هم په خپل کتاب " الزواجر عن اقتراف الکبائر " کې بغیر عُذره د رمضان روژه پریخودل په ګناهِ کبیره کې شمار کړی ، او ددې یې سختې سزاګانې ذکر کړي . (۲)

د مسلمان د پاره دا ضروري ده چې دې به د اسلام ټول احکامات مني ، الله رب العزت فرمایي :

﴿ یَآ أَیُّهَا الَّذِیْنَ اٰمَنُوا ادْخُلُوْا فِي السِّلْمِ کَآفَّةً ﴾ . (۳)

ترجمه : اې مؤمنانو ! تاسو په اسلام کې پوره پوره داخل شئ .

بیا خاصکر د اسلام په بُنیادي اَرکانو باندې خو عمل کول ډیر لازمي دي ، که یو کس په بعضې اَرکانو باندې عمل کوي او په بعضو یې نه کوي نو دداسې کس ایمان کامل نه دی ، په احادیثو کې دا مضمون صراحتًا ذکر شوی . (۴)

---

(۱) الکبائر للذهبي ص ۳۷ اَلْکَبِیْرَةُ السَّادِسَةُ : إِفْطَارُ یَوْمٍ من رَمَضَان بِلَا عذر

(۲) الزواجر عن اقتراف الکبائر ۱ /۳۲۳ اَلْکَبِیْرَةُ الْأَرْبَعُونَ وَالحَادِیَةُ وَالْأَرْبَعُونَ بَعْدَ المِائَةِ تَرْکُ صَوْمِ یَوْمٍ مِنْ أَیَّامِ رَمَضَانَ. وَالإِفْطَارُ فِیهِ

(۳) البقرة آیة ۲۰۸ .

(۴) قَالَ رَسُولُ اللّٰهِ صَلَّی اللّٰهُ عَلَیْهِ وَسَلَّمَ : أَرْبَعٌ فَرَضَهُنَّ اللّٰهُ فِي الْإِسْلَامِ . فَمَنْ جَاءَ بِثَلَاثٍ لَمْ یُغْنِیْنَ عَنْهُ شَیْئًا حَتّٰی یَأْتِيَ بِهِنَّ جَمِیْعًا اَلصَّلٰوةُ ، وَالزَّکٰوةُ ، وَصِیَامُ رَمَضَانَ ، وَحَجُّ الْبَیْتِ . مسند احمد رقم الحدیث ۱۷۷۷۸۹ ، وطبراني ، کنزالعمال الکتاب الاول من حرف الهمزة في الایمان والاسلام رقم الحدیث ۳۳ . فتاوی حقانیة ج۴ ص ۱۱۳ . الزواجر عن اقتراف الکبائر ۱ /۳۲۳ .

## هر صحت مَند انسان د روژې نيولو طاقت لري

بعضې بَدبخته خلق داسې هم شته چې هغوی په صِحت باندې ښه روغ وي ، هيڅ شرعي عُذر نه لري ( نه مريض وي ، نه مسافر وي ، او نه څه بل شرعي عُذر لري ) خو بيا هم روژې نه نيسي او بهَانه دا جوړوي چې : " زه روژې نه شم نيولی "

محترمو ! دا يادساتئ چې دا ددې کس هسې بهَانه ده ځکه تر قيامته پورې الله ﷻ داسې کس نه پيدا کوي چې هغه په صحت باندې ښه روغ وي خو په هغه کې د روژو يا نورو عباداتو کولو توفيق نه وي ، بلکه الله رب العزت چې هر څوک پيدا کوي او په صِحت باندې روغ وي نو هغه ته به خامخا ددې عباداتو توفيق هم ورکوي .

اوس چې کوم صِحت مَند کس دا وايي چې " په ما کې د روژو نيولو طاقت نشته " نو ګويا دا کس په الله تعالی باندې (نَعوذُ بالله) دا اعتراض کوي چې زه الله تعالی په داسې کار باندې مُکلف کړې يم چې په ما کې د هغې طاقت نشته ، حالانکه الله ﷻ هيڅ کله انسان د خپل طاقت نه زيات نه مُکلف کوي ، الله تعالی فرمايي :

﴿ لَا يُكَلِّفُ اللّٰهُ نَفْسًا إِلَّا وُسْعَهَا ﴾ . (۱)

ترجمه : الله تعالی هيچا ته د هغه د وَس نه زيات تکليف نه ورکوي .

همدا خبره د قرآن کريم په نورو آيتونو کې هم ذکر ده . (۲)

لهذا د صِحت مند کيدو او شرعي عُذر نه موجوديدو باوجود روژه نه نيول هسې بهَانه ده، البته د معذورو خلقو اِستثناء الله ﷻ په خپله باندې کړې ده . (۳)

### چې بغير عُذره د رمضان روژه ماته کړي نو د ټول عُمر نفلي روژو سره ددې ثواب نه را ګرځي

۱ . د بخاري شريف حديث دی ، رسول الله صلی الله عليه وسلم فرمايي :

---

(۱) البقرة آية ۲۸٦ .

(۲) ﴿ لَا تُكَلَّفُ نَفْسٌ إِلَّا وُسْعَهَا ﴾ البقرة آية ۲۳۳ . ﴿ لَا نُكَلِّفُ نَفْسًا إِلَّا وُسْعَهَا ﴾ الانعام آية ۱۵۲ ، الاعراف آية ۴۲ ، المؤمنون آية ٦۲ .

(۳) ﴿ فَمَن كَانَ مِنكُم مَّرِيضًا أَوْ عَلَىٰ سَفَرٍ فَعِدَّةٌ مِّنْ أَيَّامٍ أُخَرَ ﴾ . البقرة آية ۱۸۴ .

مَنْ أَفْطَرَ يَوْمًا مِنْ رَمَضَانَ مِنْ غَيْرِ عُذْرٍ وَلَا مَرَضٍ، لَمْ يَقْضِهِ صِيَامُ الدَّهْرِ وَإِنْ صَامَهُ. (۱)

څوک چې بغير عُذره او بغير د مرض نه روژه ماته کړي نو که دا ددې په عوض کې ټول عُمر نفلي روژې اونيسي خو ددغې يوې فرضي روژې ثواب نشي پوره کولی .

**فائده** : په دې حديث کې د رمضان د روژې ډير عظمت او اهميت بيان شوی چې که يو کس بغير د رخصت (سفر) او شرعي عُذر نه د رمضان روژه او نه نيسي نو دا د الله ﷻ د خاص رحمتونو ، برکتونو او ثوابونو نه محرومه شو ، اوس که دا ددې يوې روژې په عوض کې ټول عُمر نفلي روژې اونيسي نو ددې يوې فرضي روژې ثوابونه او برکتونه نشي حاصلولی .

اګر چې ددې روژې په قضاء راوړلو او کفارې اداء کولو سره دده ذِمه د فرضي روژې نه فارغيږي خو هغه د فرضي روژې ثواب نشي حاصلولی . (۲)

۲ . حضرت عبدالله بن مسعود رضي الله عنه فرمايي :

مَنْ أَفْطَرَ يَوْمًا مِنْ رَمَضَانَ مِنْ غَيْرِ رُخْصَةٍ لَقِيَ اللهَ بِهِ، وَإِنْ صَامَ الدَّهْرَ كُلَّهُ، إِنْ شَاءَ غَفَرَ لَهُ، وَإِنْ شَاءَ عَذَّبَهُ . (۳)

---

(۱) صحيح البخاري كِتَابُ الصَّوْمِ بَابُ إِذَا جَامَعَ فِي رَمَضَانَ .

وفي روايةٍ : عَنْ أَبِي هُرَيْرَةَ رَضِيَ اللهُ عَنْهُ قَالَ : قَالَ رَسُولُ اللهِ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ : « مَنْ أَفْطَرَ يَوْمًا مِنْ رَمَضَانَ مِنْ غَيْرِ رُخْصَةٍ وَلَا مَرَضٍ لَمْ يَقْضِ عَنْهُ صَوْمُ الدَّهْرِ كُلِّهِ وَإِنْ صَامَهُ » . مشكاة المصابيح بَابُ تَنْزِيهِ الصَّوْمِ الفصل الثالي رقم الحديث ۲۰۱۳ (۱۵) ، سنن ابي داؤد باب التغليظ في من افطر عمداً رقم الحديث ۲۳۹۶ ، سنن الترمذي باب ماجاء في الافطار متعمداً رقم الحديث ۷۲۳ ، سنن ابن ماجة باب ماجاء في كفارة من افطر يوما من رمضان رقم الحديث ۱۶۷۲ ، صحيح ابن خزيمة رقم الحديث ۱۹۸۷ ، المعجم الكبير للطبراني رقم الحديث ۹۵۷۴ ، شعب الايمان رقم الحديث ۳۳۸۱ ، كنزالعمال رقم الحديث ۲۳۷۹۶ .

(۲) يعنى لم يَجِد فضيلةَ الصوم المفروض بصوم النافلة وليس معناه لوصام الدّهرَ بنيّة قضاءِ يومٍ مِن رمضانَ لايَسقُطُ عنه قضاءُ ذلكَ اليومِ بل يُجزِئُهُ قضاءُ يومٍ بدلًا مِن يومٍ . شرح طيبي ج۴ ص۱۶۴ .

(۳) المعجم الكبير للطبراني رقم الحديث ۹۵۷۴ ، مجمع الزوائد للهيثمي ج۳ ص۱۶۸ ، وقال الهيثمي : رجاله ثقات .

څوک چې د رمضان المبارک روژه بغیر د رخصت نه ماته کړي نو که دا ددې په عِوض کې د ټول عُمر روژې اونیسي ( خو بیا هم ددې فرضي روژې ثواب نشي حاصلولی ) کله چې د الله ﷻ سره مخامخ کیږي نو که الله ﷻ اوغواړي نو معاف به یې کړي ، او که اوغواړي نو عذاب به ورته ورکړي .

## د حضرت جبرائیل ﷺ خبرې او د نبي ﷺ پرې آمین ویل

روژه د الله ﷻ د رحمتونو ، برکتونو او مغفرت میاشت ده ، په دې کې د الله ﷻ رحمتونه داسې په شېبو شېبو راوریږي چې که مسلمان هِمت اوکړي نو په دې کې قدم په قدم داسې نیک اعمال شته چې د هغې په کولو سره دده ګناهونه معاف کیدې شي ، او د جنت مستحق کیدې شي . خو بعضې داسې بدبخته خلق شته چې هغوی بغیر د څه شرعي عُذر نه روژې نه نیسي ، او نېکو اعمالو طرف ته هیڅ توجّه نه ورکوي نو په شریعت کې د داسې کس د پاره سخت وعید هم ذکر شوی .

حضرت کعب بن عجرة ﷺ فرمایي چې ( یوه ورځ ) رسولُ الله صلی الله علیه وسلم وفرمایل : أُحْضُرُوا الْمِنْبَرَ . تاسو ممبر ته راحاضر ( یعنی رانزدې ) شئ .

نو مونږ ممبر ته رانزدې شو ، کله چې نبي کریم صلی الله علیه وسلم د ممبر په رومبی پوړۍ باندې قدم مبارک کیښود ، نو وې فرمایل " آمِیْن " ، بیایې په دویمه پوړۍ قدم مبارک کیښود نو وې فرمایل " آمِیْن " بیا یې په دریمه پوړۍ قدم مبارک کیښود نو وې فرمایل : " آمِیْن " .

کله چې نبي کریم ﷺ د خطبې نه فارغ شو ، او ښکته راکوز شو ، نومونږ ورته عرض وکړو :

يَارَسُوْلَ اللّٰهِ ! لَقَدْ سَمِعْنَا مِنْكَ الْيَوْمَ شَيْئًا مَا كُنَّا نَسْمَعُهُ ؟

اې د الله تعالی رسوله ! مونږ تاسو نه نن ( ممبر ته د ختلو په وخت ) داسې خبره واوریده چې مخکې مو چیرته نه وه اوریدلې ؟

نو حضور ﷺ اوفرمایل چې (کوم وخت ما د ممبر په رومبۍ پوړۍ باندې قدم کیښود نو دغه وخت) حضرت جبرائیل علیه السلام زما مخې ته راغی، او وې فرمایل:

بَعُدَ مَنْ أَدْرَكَ رَمَضَانَ فَلَمْ يُغْفَرْ لَهُ.

هلاک دې شي هغه سړی چې په چا باندې د رمضان میاشت راشي، اوبیاهم دهغه مغفرت اونشي.

نو ما وویل: "آمِیْن". بیا چې کله دویمې پوړۍ ته اوختم نو هغه وویل:

بَعُدَ مَنْ ذُكِرْتَ عِنْدَهُ فَلَمْ يُصَلِّ عَلَيْكَ.

هلاک دې شي هغه سړی چه د هغه مخکې ستاسو ذکر اوشي او هغه په تاسو باندې درود شریف اونه وایي.

نوما وویل: "آمِیْن". بیاچې کله دریمې پوړۍ ته اوختم نوهغه وویل:

بَعُدَ مَنْ أَدْرَكَ أَبَوَيْهِ الْكِبَرَ أَوْ أَحَدَهُمَا فَلَمْ يُدْخِلَاهُ الْجَنَّةَ.

هلاک دې شي هغه سړی چې چا خپل مور او پلار دواړه یا یو دبوډا والي په حالت کې اوموندل اوهغوي دې جنت ته داخل نکړي (یعنې دهغوي خدمت اونکړي چې جنت ته پرې داخل شي) نو ما وویل: "آمِیْن". (۱)

---

(۱) عَنْ كَعْبِ بْنِ عُجْرَةَ رَضِيَ اللهُ عَنْهُ قَالَ: قَالَ رَسُوْلُ اللهِ ﷺ: "أُحْضُرُوا الْمِنْبَرَ" فَحَضَرْنَا. فَلَمَّا ارْتَقَىٰ دَرَجَةً قَالَ: "آمِيْن" فَلَمَّا ارْتَقَىٰ الدَّرَجَةَ الثَّانِيَةَ قَالَ: "آمِيْن" فَلَمَّا ارْتَقَىٰ الدَّرَجَةَ الثَّالِثَةَ قَالَ: "آمِيْن" فَلَمَّا نَزَلَ عَنِ الْمِنْبَرِ قُلْنَا: يَارَسُوْلَ اللهِ! لَقَدْ سَمِعْنَا مِنْكَ الْيَوْمَ شَيْئًا مَا كُنَّا نَسْمَعُهُ؟ قَالَ: إِنَّ جِبْرِيْلَ عَرَضَ لِيْ فَقَالَ: بَعُدَ مَنْ أَدْرَكَ رَمَضَانَ فَلَمْ يُغْفَرْ لَهُ. فَقُلْتُ "آمِيْن" فَلَمَّا رَقِيْتُ الثَّانِيَةَ قَالَ: بَعُدَ مَنْ ذُكِرْتَ عِنْدَهُ فَلَمْ يُصَلِّ عَلَيْكَ. فَقُلْتُ "آمِيْن" فَلَمَّا رَقِيْتُ الثَّالِثَةَ قَالَ: بَعُدَ مَنْ أَدْرَكَ أَبَوَيْهِ الْكِبَرَ عِنْدَهُ أَوْ أَحَدَهُمَا فَلَمْ يُدْخِلَاهُ الْجَنَّةَ فَقُلْتُ: "آمِيْن". الترغيب والترهيب ج۴ ص ۳۳۰ الترغيب في اكثار الصلاة على النبيّ ﷺ، حديث نمبر ۳۳، و رواه الحاكم في المستدرک ج ۴ ص ۱۷۰ رقم: ۷۲۵۶، وقال هذا حديث صحيح الأسناد ولم يخرجاه ووافقه الذهبي والبخاري في برالوالدين، وابن حبان في صحيحه، ورواه الهيثمي في مجمع الزوائد ج ۱۰ ص ۱۶۶ وعزاه للطبراني.

**فایده** محترمو مسلمانانو ! تاسو سوچ اوکړئ چې چاته د فرښتو سردار " حضرت جبریل علیه السلام " خېرې (بَددُعا) اوکړي او په دې باندې د ټولو انبیاؤ سردار " محمّدٌ رّسولُ الله صلی الله علیه وسلم " آمین ووایي نو بیا دداسې دُعا په قبلیدو کې هیڅ شک نشته ، بلکه الله ﷻ به دا دُعا خامخا قبلوي . نو هاغه کس به ډیر بدبخته وي چې بغیر عُذره د رمضان المبارک فرضي روژې خوري او ددې خېرو ځان په خپله مستحق جوړوي .

## د نبي علیه السلام خېرې (بَد دُعا)

په چا باندې چې د رمضان المبارک د رحمتونو او برکتونو ډکه میاشت راشي او دې په کې بیا هم نېک اعمال اونکړي او دده مغفرت اونشي نو دداسې کس په باره کې نبي علیه السلام خېرې کړي .

د ترمذي شریف حدیث دی ، رسولُ الله صلی الله علیه وسلم فرمایي :

رَغِمَ أَنْفُ رَجُلٍ دَخَلَ عَلَيْهِ رَمَضَانُ ثُمَّ انْسَلَخَ قَبْلَ أَنْ يُغْفَرَ لَهُ . (۱)

د هغه سړي پوزه دې په خاورو ککړه شي (یعنی ذلیل او تباه دې شي) چې په هغه باندې د رمضان المبارک میاشت راشي بیا د هغه د مغفرت نه بغیر د رمضان میاشت اووځي (یعنی دا په دې میاشت کې داسې نېک اعمال اونکړي چې دده مغفرت پرې اوشي) .

## په روژه کې ګناه کولو سره انسان د روژې د ثواب او برکت نه محرومه کیږي

چې کله د رمضان المبارک میاشت راداخله شي نو د خلقو مختلفې ډلې جوړې شي :

بعضې خلق داسې وي چې هغوی د رمضان المبارک د روژو د فرضیت نه انکار کوي او نه یې نیسي نو داسې خلق بې د شک و شبهې نه کافر دي ، ځکه د فرائضو نه انکار کول کفر

---

(۱) عَنْ أَبِي هُرَيْرَةَ رضي الله عنه قَالَ: قَالَ رَسُولُ اللهِ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ: رَغِمَ أَنْفُ رَجُلٍ ذُكِرْتُ عِنْدَهُ فَلَمْ يُصَلِّ عَلَيَّ وَرَغِمَ أَنْفُ رَجُلٍ دَخَلَ عَلَيْهِ رَمَضَانُ ثُمَّ انْسَلَخَ قَبْلَ أَنْ يُغْفَرَ لَهُ، وَرَغِمَ أَنْفُ رَجُلٍ أَدْرَكَ عِنْدَهُ أَبَوَاهُ الْكِبَرَ فَلَمْ يُدْخِلَاهُ الْجَنَّةَ . سنن الترمذي رقم الحديث ۳۵۴۵ بَابٌ فِي فَضْلِ التَّوْبَةِ وَالاِسْتِغْفَارِ وَمَا ذُكِرَ مِنْ رَحْمَةِ اللهِ بِعِبَادِهِ باب ۱۰۱ ، صحيح ابن حبان محققا رقم الحديث ۹۰۸ ، اسناده صحيح ، رجاله رجال الصحيح ، مشكاة المصابيح رقم الحديث ۹۲۷(۹) ، المسند احمد ۲/ ۲۴۵ ، صحيح الترغيب والترهيب رقم الحديث ۱۶۸۰ (۲۵) .

دی. (۱)

بعضې داسې خلق وي چې هغوی د روژو د فرضيت نه انکار نه کوي، روژې نيسي خو ورسره ورسره ګناهونه هم کوي: مثلا دروغ وايي، غيبت کوي، خيانت کوي، په ناپ تول کې تګي کوي، يا نور ګناهونه کوي نو داسې خلق د روژو د برکتونو او ثوابونو نه محرومه وي.

بعضې داسې خلق وي چې روژې نيسي، ګناهونه نه کوي خو په نېکو اعمالو کې سستي کوي نو داسې خلق د روژې د سل فيصده نفعې نه نشي مُستفيد کيدی.

لهذا په رمضان المبارک کې د ګناهونو نه پوره ځان ساتل په کار دي، ځکه په دې سره د روژې کامل ثواب نه ملاوېږي.

د مشکوة شريف حديث دی، رسول الله صلی الله عليه وسلم فرمايي:

كَمْ مِنْ صَائِمٍ لَيْسَ لَهُ مِنْ صِيَامِهِ إِلَّا الظَّمَأُ وَكَمْ مِنْ قَائِمٍ لَيْسَ لَهُ مِنْ قِيَامِهِ إِلَّا السَّهَرُ. (۲)

ډير روژه دار داسې دي چې هغوی ته د خپلې روژې په عوض کې بغير د تندې نه بل هيڅ شی نه ملاوېږي، او ډير د شپې عبادت کوونکي داسې دي چې هغوی ته د شپې د عبادت په وجه د ويښ پاتې کيدو نه علاوه بل هيڅ شی نه حاصلېږي.

په ابن ماجه کې دا حديث په دې الفاظو ذکر دی، نبي کريم ﷺ فرمايي:

رُبَّ صَائِمٍ لَيْسَ لَهُ مِنْ صِيَامِهِ إِلَّا الْجُوعُ، وَرُبَّ قَائِمٍ لَيْسَ لَهُ مِنْ قِيَامِهِ إِلَّا السَّهَرُ. (۱)

---

(۱) قال ابن عابدين رحمه الله: اِعْلَمْ أَنَّ الْفَرْضَ مَا ثَبَتَ بِدَلِيْلٍ قَطْعِيٍّ لَا شُبْهَةَ فِيْهِ كَالْإِيْمَانِ وَالْأَرْكَانِ الْأَرْبَعَةِ.... حَتَّى يَكْفُرَ جَاحِدُهُ وَيَفْسُقُ تَارِكُهُ بِلَا عُذْرٍ. رد المحتار على الدر المختار ۳۱۳/۶ كِتَابُ الْأُضْحِيَةِ.

وَلَوْ أَكَلَ عَمْدًا شُهْرَةً بِلَا عُذْرٍ يُقْتَلُ. الدر المختار ۴۱۳/۲ كِتَابُ الصَّوْمِ بَابُ مَا يُفْسِدُ الصَّوْمَ وَمَا لَا يُفْسِدُهُ.

قال ابن عابدين رحمه الله: قَالَ الشُّرُنْبُلَالِيُّ صُوْرَتُهَا: تَعَمُّدُ مَنْ لَا عُذْرَ لَهُ الْأَكْلَ جِهَارًا يُقْتَلُ، لِأَنَّهُ مُسْتَهْزِئٌ بِالدِّيْنِ أَوْ مُنْكِرٌ لِمَا ثَبَتَ مِنْهُ بِالضَّرُوْرَةِ وَلَا خِلَافَ فِيْ حِلِّ قَتْلِهِ وَالْأَمْرِ بِهِ. رد المحتار على الدر المختار ۴۱۴/۲ كِتَابُ الصَّوْمِ بَابُ مَا يُفْسِدُ الصَّوْمَ وَمَا لَا يُفْسِدُهُ.

(۲) هذا حديث صحيح. رَوَاهُ الدَّارِمِيُّ، مشكوة المصابيح رقم الحديث ۲۰۱۴ (۱۶) بَابُ تَنْزِيْهِ الصَّوْمِ الفصل الثاني.

دير روژه دار داسې دي چې هغوی ته د خپلې روژې په عِوض کې د ولږې او تندې نه علاوه بل هيڅ نه ملاويږي ، او دير د شپې عبادت کوونکي داسې دي چې هغوی ته د بې خوابۍ نه علاوه بل هيڅ نه ملاويږي .

**د حديث تشريح** : علامه طيبي رحمه الله ددې حديث تشريح داسې کړې چې : کومه روژه خالصه د الله ﷻ د رَضا د پاره نه وي ، او روژه دار په کې د دروغو ، غِيبت ، بُهتان ، حرام مال او نورو ګناهونو نه ځان نه ساتي يَحْصُلُ لَهُ الْجُوْعُ وَالْعَطَشُ ، وَلَاتَحْصُلُ لَهُ الثَّوَابُ . داسې کس ته صرف اُولږه او تنده حاصليږي ليکن د روژې ثواب ورته پوره نه ملاويږي .
همدغه شان حکم د شپې عبادت کوونکي کس هم دی ( يعنی چې کله دده مقصد د الله ﷻ رَضا نه وي او د ګناهونو نه ځان نه ساتي نو ده ته هم ددې عبادت پوره ثواب نه ملاويږي ) . (۲)

## په روژه کې ګناه کولو سره بيا د روژې مقصد (تقوی) نه حاصليږي

که انسان په روژه کې هم د ګناهونو نه منع نه شي نو الله ﷻ چې د روژې کوم مقصد په "لَعَلَّكُمْ تَتَّقُوْنَ" سره بيان کړی نو دا بيا هيڅ کله نه حاصليږي ، ځکه د روژې په وجه چې کومه تقوٰی او رُوحانيت پيدا کيږي نو هغه د لاس ، خپو ، سترګو ، غوږونو او د ژبې ګناه سره واپس ختميږي .

---

(۱) سنن ابن ماجه رقم الحديث ۱۶۹۰ كِتَابُ الصِّيَامِ بَابُ مَا جَاءَ فِي الْغِيْبَةِ وَالرَّفَثِ لِلصَّائِمِ . و رواه النسائي وابن خزيمة في صحيحه ، والحاكم ، وقال الحاكم : هذا الحديث صحيح على شرط البخاري .

إِلَّا الْجُوْعُ : أي ليس لصومه قبول عند الله فلا ثواب له . شرح محمد فؤاد عبد الباقي على سنن ابن ماجة .

(۲) يعني كلّ صومٍ لايكونُ خالصًا لِلّه تعالى ولا مُجتَنِبًا عن قولِ الزُّورِ والكِذْبِ والبُهتانِ والغِيْبَةِ و نحوها من المناهي يحصُل له الجوعُ والعَطَشُ ، ولاتحصُل له الثّوابُ ، وكذا الحكمُ لِلقائم باللّيل ، أقولُ ونحوها الصّلوةُ فى الدّار المغصوبةِ واداءها بغير جماعةٍ من غير عذرٍ فإنّها تُسقِطُ القضاءَ ولايُرتّبُ عليها الثّوابُ . شرح الطيبي على مشكاة المصابيح المسمى ب " الكاشف عن حقائق السنن " ج۴ ص ۱۶۴

ددې داسې مثال دی لکه يو کس په کمره کې اِيئرکنډيشن لږولې وي نو دا به دا کمره هله يَخوي چې کله ددې کمرې کړکۍ او دروازه بنده وي ، ځکه که کړکۍ او دروازه کلاؤ وي نو اِيئرکنډيشن چې کومه يَخه هوا پيدا کوي هغه به واپس په دې کړکۍ او دروازه باندې اوځي .

همدغه شان د روژې په وجه تقوىٰ هلته پيدا کيږي چې د انسان اَندامونه د ګناهونو نه محفوظ وي ، که يو طرف ته د روژې په وجه تقوىٰ او نُورانيت پيدا کيږي او بل طرف ته د دروغو ، غِيبت ، چُغل خُورۍ او نورو ګناهونو په وجه دا واپس ختميږي نو د روژې اصل مقصد به هيڅ کله حاصل نشي .

يا مثلاً که يو کس حرام څيز خوړلو سره روژه نيولې وي او ماښام بيا په حرام مال روژه ماته کړي نو ده ته به د روژې مقصد څنګه حاصل شي ؟

لهذا که د چا آمدني حرامه وي نو دا دې کوشش اوکړي چې په دې مياشت کې په خصوصي طريقې سره حلال خوراک راپيدا کړي ، يا کم از کم د چا نه دې قرض راواخلي او په هغې باندې دې د روژې د خوراک انتظام اوکړي . (۱)

## د روژه دار د پاره د دروغو نه ځان ساتل په کار دي

دروغ ويل په عامو حالاتو کې هم ګناه ده خو بيا خاصکر د روژې په حالت کې د دروغ ويلو نه سخت ممانعت راغلې دی .

۱ . د بخاري شريف حديث دی ، رسول الله صلى الله عليه وسلم فرمايي :

مَنْ لَمْ يَدَعْ قَوْلَ الزُّوْرِ وَالعَمَلَ بِهِ، فَلَيْسَ لِلّٰهِ حَاجَةٌ فِيْ أَنْ يَدَعَ طَعَامَهُ وَشَرَابَهُ . (۲)

څوک چې ( په روژه کې ) دروغ خبرې او په دې باندې عمل کول ( يعنى غلط کارونه ) پرې نه ږدي نو الله تعالى ته دده د خوراک او څکاک پريخودو هيڅ ضرورت نشته .

(۱) اصلاحي خطبات ج۱ ص ۱۳۵ .

(۲) صحيح البخاري رقم الحديث ۱۹۰۳ كِتَابُ الصَّوْمِ بَابُ مَنْ لَمْ يَدَعْ قَوْلَ الزُّورِ وَالعَمَلَ بِهِ فِي الصَّوْمِ . و رقم الحديث ۶۰۵۷ ، سنن ابى داؤد باب الغيبة للصّائم رقم الحديث ۲۳۶۲ ، سنن ابن ماجة باب ما جاء فى الغيبة والرّفث للصائم ، سنن الترمذي باب ما جاء فى التشديد فى الغيبة للصّائم رقم الحديث ۷۰۷ .

يعنى الله تعالى د داسې كس روژې ته هيڅ توجّه نه كوي ، او نه يې قبلوي . (۱)
اګر چې د جمهورو علماوو په نزد باندې په دروغو ، غيبت ، چُغل خورى او نورو ګناهونو سره روژه نه ماتيږي خو د روژې په ثواب کې ضرور کمې راځي ، او داسې کس د روژې د برکتونو او ثوابونو نه محرومه كيږي . (۲)

۲ . نبي عليه السلام فرمايي : لَيْسَ الصِّيَامُ مِنَ الْأَكْلِ وَالشُّرْبِ إِنَّمَا الصِّيَامُ مِنَ اللَّغْوِ وَالرَّفَثِ، فَإِنْ سَابَّكَ أَحَدٌ، وَجَهِلَ عَلَيْكَ فَقُلْ: إِنِّي صَائِمٌ . (۳)

---

(۱) ( فَلَيْسَ لِلَّهِ حَاجَةٌ ) أي إن الله تعالى لا يلتفت إلى صيامه ولا يقبله . تعليق مصطفى البغا على صحيح البخاري في تشريح رقم الحديث ۱۹۰۳ .

(۲) علامه قسطلاني رحمه الله ددې حديث تشريح داسې كوي : والجمهور على أن الكذب والغيبة والنميمة لاتفسد الصوم ..... وكذلك حذر الصائم من قول الزور والعمل به ليتم له أجر صيامه . إرشاد الساري لشرح صحيح البخاري ۳۵۳/۳ كتاب الصوم باب مَنْ لَمْ يَدَعْ قَوْلَ الزُّورِ وَالْعَمَلَ بِهِ فِي الصَّوْمِ في تشريح حديث ۱۹۰۳ .

علامه بدرالدين عيني رحمه الله ددې حديث تشريح داسې كوي : وَاخْتلف الْعلمَاء فِي أَن الْغِيبَة والنميمة وَالْكذب هَل يفطر الصَّائِم؟ فَذهب الْجُمْهُور من الْأَئِمَّة إِلَى أَنه لَا يفْسد الصَّوْم بذلك، وَإِنَّمَا التَّنَزُّه عَن ذَلِك من تَمام الصَّوْم..... فَكَذَلِك من اغتاب أَو شهد زورا أَو مُنْكرا لم يُؤمر بِأَن يدع صِيَامه، وَلكنه يُؤمر باجتناب ذَلِك ليتم لَهُ أجر صَوْمه. عمدة القاري شرح صحيح البخاري ۱۰ / ۲۷۶ كتاب الصوم بَابُ مَنْ لَمْ يَدَعْ قَوْلَ الزُّورِ وَالعَمَلَ بِهِ فِي الصَّوْمِ.

ملا علي قاري رحمه الله په مرقاة کې ددې تشريح داسې کړی : قَالَ الْقَاضِي: اَلْمَقْصُودُ مِنَ الصَّوْمِ كَسْرُ الشَّهْوَةِ وَتَطْوِيعُ الْأَمَّارَةِ، فَإِذَا لَمْ يَحْصُلْ مِنْهُ ذَلِكَ لَمْ يُبَالِ بِصَوْمِهِ، وَلَمْ يَنْظُرْ إِلَيْهِ نَظَرَ عِنَايَةٍ، فَعَدَمُ الْحَاجَةِ عِبَارَةٌ عَنْ عَدَمِ الِالْتِفَاتِ وَالْقَبُولِ، وَكَيْفَ يُلْتَفَتُ إِلَيْهِ وَالْحَالُ أَنَّهُ تَرَكَ مَا يُبَاحُ مِنْ غَيْرِ زَمَانِ الصَّوْمِ مِنَ الْأَكْلِ وَالشُّرْبِ وَارْتَكَبَ مَا يَحْرُمُ عَلَيْهِ فِي كُلِّ زَمَانٍ؟ مرقاة المفاتيح شرح مشكاة المصابيح ۱۳۸۸/۴ بَابُ تَنْزِيهِ الصَّوْمِ الْفَصْلُ الْأَوَّلُ في تشريح حديث ۱۹۹۹ .

(۳) المستدرک على الصحيحين للحاكم رقم الحديث ۱۵۷۰ وقال الحاكم : هَذَا حَدِيثٌ صَحِيحٌ عَلَى شَرْطِ مُسْلِمٍ، وَلَمْ يُخَرِّجَاهُ. صحيح ابن خزيمة رقم الحديث ۱۹۹۶ باب النهي عن اللغو في الصيام ، السنن الكبرى للبيهقي باب الصائم ينزه صيامه عن اللغط والمشاتمة رقم الحديث ۸۳۱۲ ، صحيح الترغيب والترهيب رقم الحديث ۱۰۸۲ (۴) ترهيب الصائم من الغيبة والفحش والكذب ونحو ذلک .

روژه (صرف) د خوراک څکاک نه د منع کيدلو نوم نه دی بلکه (کامل) روژه داده چې د لغوه او فضول خبرو نه هم منع شي، که يو کس تا ته په روژه کې بَد وايي يا د تاسره جهالت کوي نو ته ورته ووايه چې " زه روژه داريم ".

همدغه شان مضمون په نورو احاديثو کې هم ذکر دی. (۱)

**فائده**: په دروغو، غِيبت، فضول خبرو او نورو ګناهونو سره د روژې ثواب ختميږي، لهذا د روژې مقبول کيدو د پاره دا ضروري ده چې انسان د هر قسمه ګناهونو نه ځان اوساتي.

## غِيبت کول ګويا د مَړ ورور مسلمان غوښه خوړل دي

په قرآن کريم کې غيبت کولو ته د مَړ ورور مسلمان غوښه خوړل ويل شوي، الله تعالی فرمايي:

﴿ وَلَا يَغْتَب بَّعْضُكُم بَعْضًا أَيُحِبُّ أَحَدُكُمْ أَن يَأْكُلَ لَحْمَ أَخِيهِ مَيْتًا فَكَرِهْتُمُوهُ ﴾. (۲)

ترجمه: او په تاسو کې دې بعضې خلق د بعضې نورو غِيبت نه کوي، آيا په تاسو کې يو کس دا خوښوي چې هغه د خپل مَړ ورور غوښه اوخوري؟ پس تاسو خو ددې نه کرکه کوئ (او دا بده ګنړئ، نو همدغه شان غِيبت هم بَد اوګنړئ، او ددې نه ځان اوساتئ).

**فائده**: په دې آيت کې غِيبت کولو ته د مَړ ورور مسلمان غوښه خوړل ويل شوی، نو لکه څرنګې چې د يو مړي غوښه خوړل غټه ګناه ده نو همدغه شان غِيبت کول هم غټه ګناه ده.

---

(۱) وفي رواية: قال رسول الله صلى الله عليه وسلم: إِذَا أَصْبَحَ أَحَدُكُمْ صَائِمًا، فَلَا يَرْفُثْ وَلَا يَجْهَلْ، فَإِنِ امْرُؤٌ شَاتَمَهُ أَوْ قَاتَلَهُ، فَلْيَقُلْ: إِنِّي صَائِمٌ إِنِّي صَائِمٌ. إسناده صحيح على شرط الشيخين، مسند احمد رقم الحديث ۷۳۴۰، و رقم (۷۴۹۲) و (۹۹۹۸)، واخرجه الشافعي في "السنن المأثورة" (۲۹۵)، والحميدي (۱۰۱۴)، ومسلم (۱۱۵۱) (۱۶۰)، والنسائي في "الكبرى" (۳۲۶۹)، وابو يعلى (۶۲۶۶)، وابن حبان (۳۴۸۲).

قَالَ عُمَرُ رضي الله عنه: لَيْسَ الصِّيَامُ مِنَ الطَّعَامِ وَالشَّرَابِ وَحْدَهُ، وَلَكِنَّهُ مِنَ الْكَذِبِ، وَالْبَاطِلِ، وَاللَّغْوِ، وَالْحَلِفِ. شعب الايمان رقم الحديث ۸۸۸۲ كِتَابُ الصِّيَامِ مَا يُؤْمَرُ بِهِ الصَّائِمُ مِنْ قِلَّةِ الْكَلَامِ، وَتَوَقِّي الْكَذِبِ، كنز العمال رقم الحديث ۲۴۳۸۹ كتاب الصوم فصل في ادب الصوم والإفطار.

(۲) الحجرات آية ۱۲.

# په روژه کې د دوه زَنانهؤ د غِيبت واقعه

په احاديثو کې يوه واقعه ذکر ده (دا واقعه په مجمع الزوائد، مسند احمد او الترغيب والترهيب کې ذکر ده):

حضرت عبيد رضي الله عنه فرمايي چې (د نبي عليه السلام په زمانه کې) دوه ښځو روژه نيولې وه (او ورسره دې ښځو د خلقو غِيبت هم کولو)، يو کس نبي عليه السلام ته راغی او وې ويل:

يَا رَسُولَ اللّٰهِ! إِنَّ هَاهُنَا امْرَأَتَيْنِ قَدْ صَامَتَا، وَإِنَّهُمَا قَدْ كَادَتَا أَنْ تَمُوتَا مِنَ الْعَطَشِ.

اې د الله رسوله! دلته دوه ښځو روژه نيولې ده او قريبه ده چې دوی د سختې تَندې د وجې نه مړې شي.

پيغمبر عليه السلام دې کس طرف ته توجّه ورنکړه يا چپ شو. دې کس بيا عرض وکړو: اې د الله رسوله! قسَم په الله دا دواړه ښځې (د سختې تَندې د لاسه) مړې کيږي، يا قريبه ده چې مړې شي، نبي ﷺ ورته وفرمايل:

اُدْعُهُمَا. دا دواړه ښځې ماته راوله.

کله چې دا دواړه ښځې راغلې، بيا يوه وړه پياله يا غټه پياله راوړل شوه، نبي عليه السلام دې يوې زَنانه ته وفرمايل:

"قِيْئِيْ". په دې پياله کې اُلټی (کانګې، قې) اوکړه.

نو دې ښځې په دې پياله کې د نو، وِينو، زَوُو او کچه غوښې اُلټی اوکړی، تر دې پورې چې دې ښځې نيمه پياله ددينه ډکه کړه.

بيا رسول الله صلی الله عليه وسلم دې دويمې ښځې ته وفرمايل:

قِيْئِيْ. (اوس) ته په دې پيالی کې اُلټی اوکړه.

نو دې هم (په دې پيالی کې) د نَوُونو، وينې، زَوُو، او کچه غوښې اُلټی اوکړی، تر دې پورې چې دا پيالی مکمل ډکه شوه. بيا پيغمبر عليه السلام وفرمايل:

إِنَّ هَاتَيْنِ صَامَتَا عَمَّا أَحَلَّ اللهُ لَهُمَا، وَأَفْطَرَتَا عَلَى مَا حَرَّمَ اللهُ عَلَيْهِمَا، جَلَسَتْ إِحْدَاهُمَا إِلَى الأُخْرَى، فَجَعَلَتَا تَأْكُلَانِ لُحُومَ النَّاسِ . (۱)

بيشکه دې دوه ښځو په هغې څيز سره روژه نيولې وه کوم چې الله تعالى دوى ته حلال کړې وُ ، خو په هغه څيز سره يې روژه ماته کړه چې کوم الله تعالى په دوى باندې حرام کړې دى، په دوى کې يوه د بلې سره ناسته وه او دواړو ښځو د خلقو غوښې خوړې ( يعنى د خلقو غِيبت يې کولو نو دا ګويا د هغوى غوښې خوړل دي ) .

## د غِيبت ګناه د زِنا نه هم سخته ده

په يو حديث کې غِيبت ته د زِنا نه هم سخته ګناه ويل شوى ، د مشکوة شريف حديث دى ، رسول الله صلى الله عليه وسلم وفرمايل :

اَلْغِيْبَةُ أَشَدُّ مِنَ الزِّنَا . د غيبت ګناه د زِنا نه هم سخته ده .

صحابه کرامو پوښتنه اوکړه :

يَا رَسُوْلَ اللهِ ! وَكَيْفَ الْغِيْبَةُ أَشَدُّ مِنَ الزِّنَا؟

اې د الله رسوله ! د غيبت ګناه څنګه د زِنا نه سخته ده ؟

رسول الله ﷺ ورته وفرمايل :

إِنَّ الرَّجُلَ لَيَزْنِيْ فَيَتُوْبُ فَيَتُوْبُ اللهُ عَلَيْهِ ... وَإِنَّ صَاحِبَ الْغِيْبَةِ لَا يُغْفَرُ لَهُ حَتَّى يَغْفِرَهَا لَهُ

---

(۱) عَنْ عُبَيْدٍ مَوْلَى رَسُوْلِ اللهِ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ قَالَ: « إِنَّ امْرَأَتَيْنِ صَامَتَا وَأَنَّ رَجُلًا قَالَ: يَا رَسُوْلَ اللهِ ! إِنَّ هَاهُنَا امْرَأَتَيْنِ قَدْ صَامَتَا، وَإِنَّهُمَا قَدْ كَادَتَا أَنْ تَمُوْتَا مِنَ الْعَطَشِ. فَأَعْرَضَ عَنْهُ أَوْ سَكَتَ. ثُمَّ عَادَ وَأُرَاهُ قَالَ: بِالْهَاجِرَةِ قَالَ: يَا نَبِيَّ اللهِ ! إِنَّهُمَا وَاللهِ قَدْ مَاتَتَا، أَوْ كَادَتَا أَنْ تَمُوْتَا ؟ قَالَ : " اُدْعُهُمَا ". قَالَ: فَجَاءَتَا. قَالَ: فَجِيْءَ بِقَدَحٍ أَوْ عُسٍّ. فَقَالَ لِإِحْدَاهُمَا: " قِيْئِيْ ". فَقَاءَتْ قَيْحًا وَدَمًا وَصَدِيْدًا أَوْ لَحْمًا، حَتَّى مَلَأَتْ نِصْفَ الْقَدَحِ. ثُمَّ قَالَ لِلْأُخْرَى: " قِيْئِيْ ". فَقَاءَتْ مِنْ قَيْحٍ وَدَمٍ وَصَدِيْدٍ وَلَحْمٍ عَبِيْطٍ وَغَيْرِهِ، حَتَّى مَلَأَتِ الْقَدَحَ. ثُمَّ قَالَ: " إِنَّ هَاتَيْنِ صَامَتَا عَمَّا أَحَلَّ اللهُ لَهُمَا، وَأَفْطَرَتَا عَلَى مَا حَرَّمَ اللهُ عَلَيْهِمَا، جَلَسَتْ إِحْدَاهُمَا إِلَى الأُخْرَى، فَجَعَلَتَا تَأْكُلَانِ لُحُومَ النَّاسِ . مجمع الزوائد ومنبع الفوائد رقم الحديث ۵۰۰۸ كِتَابُ الصِّيَامِ بَابُ الْغِيْبَةِ لِلصَّائِمِ . مسند احمد رقم الحديث ۲۳۶۵۳ حَدِيْثُ عُبَيْدٍ مَوْلَى النَّبِيِّ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ ، الترغيب والترهيب ج۲ ص ۹۵ .

صَاحِبُهُ .(۱)

بیشکه سړي زِنا اوکړي بیا توبه اوباسي نو الله ﷻ د ده توبه قبوله کړي (او مغفرت ورته اوکړي) خو د غِیبت کوونکي (صرف په توبه باندې) تر هاغه وخته پورې مغفرت نشي کیدی تر څو پورې چې ورته هغه کس معافي اونکړي (د چا غِیبت یې چې کړې وي).

**وجه**: د غیبت ګناه ځکه سخته ده چې په دې کې لکه څرنګې چې د الله تعالی د حُکم مخالفت شوی نو همدغه رنګې په دې کې حقوق العباد هم ضائع شوي نو دا صرف په توبې سره نه معاف کیږي، بلکه د هغه کس نه معافي غوښتل هم ضروري ده.(۲)

## د غِیبت په وجه په عذابِ قبر کې مبتلا کیدل

د بخاري شریف حدیث دی، حضرت عبدالله بن عباس رضي الله عنهما فرمایي:

مَرَّ رَسُوْلُ اللهِ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ عَلٰى قَبْرَيْنِ. فَقَالَ: "إِنَّهُمَا لَيُعَذَّبَانِ. وَمَا يُعَذَّبَانِ فِيْ كَبِيْرٍ. أَمَّا هٰذَا: فَكَانَ لَا يَسْتَتِرُ مِنْ بَوْلِهٖ . وَأَمَّا هٰذَا: فَكَانَ يَمْشِيْ بِالنَّمِيْمَةِ....(۳)

رسول الله ﷺ د دوه قبرونو سره تیر شو نو وې فرمایل: دې دواړو قبرونو واله ته عذاب ورکولې شي، داسې نده چې ګني د څه غټې خبرې په وجه عذاب ورکولې شي (چې ګني د هغې نه بچ کیدل مشکل دي)، بیا نبي ﷺ اوفرمایل: دې یو به د تشو متیازو نه

---

(۱) قَالَ رَسُوْلُ اللهِ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ: «اَلْغِيْبَةُ أَشَدُّ مِنَ الزِّنَا» قَالُوا: يَا رَسُوْلَ اللهِ! وَكَيْفَ الْغِيْبَةُ أَشَدُّ مِنَ الزِّنَا؟ قَالَ: «إِنَّ الرَّجُلَ لَيَزْنِيْ فَيَتُوْبُ فَيَتُوْبُ اللهُ عَلَيْهِ» وَفِيْ رِوَايَةٍ: «فَيَتُوْبُ فَيَغْفِرُ اللهُ لَهُ وَإِنَّ صَاحِبَ الْغِيْبَةِ لَا يُغْفَرُ لَهُ حَتّٰى يَغْفِرَهَا لَهُ صَاحِبُهُ» . مشکوة المصابيح رقم الحديث ۴۸۷۴ (۶۳) كتاب الآداب بَابُ حِفْظِ اللِّسَانِ وَالْغِيبَةِ وَالشَّتْمِ اَلْفَصْلُ الثَّالِث ، شعب الايمان رقم الحديث ۶۳۱۵ : ۶۳۱۶ ، كنز العمال رقم الحديث ۸۰۲۶ ؛ ورقم ۸۰۴۳ .

(۲) معارف القرآن لمولانا محمد شفيع رحمه الله في تشريح سورة الحجرات آية ۱۲

(۳) صحيح البخاري كِتَابُ الأَدَبِ بَابُ الغِيبَةِ رقم الحديث ۶۰۵۲ ، و رقم ۱۳۷۸ كِتَابُ الجَنَائِزِ بَابُ عَذَابِ القَبْرِ مِنَ الغِيبَةِ وَالبَوْلِ. صحيح مسلم رقم الحديث ۱۱۱ (۲۹۲) باب الدليل على نجاسة البول و وجوب الاستبراء منه ، سنن ابي داؤد باب الاستبراء من البول رقم الحديث ۲۰ .

ځان نه ساتل ، او دې بل به چُغل خُوري کوله (يعنی د دوه ؤ مسلمانانو په مينځ کې به يې شيطانت کولو او هغوی به يې جنګول ) ...

## په روژه کې د ګناه کولو سزا د نورو مياشتو په نسبت ډيره ده

محترمو مسلمانانو ! دا د الله ﷻ قانون دی : لکه څرنګې چې د وخت او ځای په بدليدلو سره د عبادت ثواب زياتيږي ، نو همدغه شان د وخت او ځای په بدليدلو سره د ګناه سزا هم زياتيږي .

د دې اجمالي خبرې وضاحت درته د تمهيد په طور کوم بيا به مقصدي ځای ته راشم .

**د ځای په بدليدلو د عبادت اجر زياتيدو مثال** د ځای په بدليدلو سره د عبادت په ثواب کې فرق راځي ، مثلاً يو کس د ماسپخين مونځ په خپل کور کې ځانله اوکړي ، دويم کس همدا د ماسپخين مونځ په جُمات کې د جَمعې سره اوکړي ، دريم کس همدا د ماسپخين مونځ په مسجد نبوي کې اوکړي ، څلوم کس همدا د ماسپخين مونځ په بيتُ الله کې اوکړي .

اوس د دې څلورو واړو د ماسپخين مونځ په ظاهره باندې يو شان دی ، ځکه په ټولو کې قِيام قِرات ، رکوع ، سجده وغيره يو شان دي خو بيا هم د دې څلورو واړو کسانو د مانځه په ثواب کې فرق شته ، ځکه په کور کې مونځ کوونکي ته د يو مانځه ثواب ملاويږي ، په جُمات کې د جَمعې سره مونځ کوونکي ته د اُووه ويشت (۲۷) مونځونو ثواب ملاويږي ، په مسجد نبوي کې مونځ کوونکي ته د پنځوس زره (۵۰۰۰۰) مونځونو ثواب ملاويږي ، او په بيتُ الله (مسجدِ حرام) کې مونځ کوونکي ته د يو لک ( ۱۰۰۰۰۰) مونځونو ثواب ملاويږي .

پدې ثواب کې دا فرق د دې د وجې دی چې د ځای په بدليدو سره د عبادت په ثواب کې تبديلي راځي.

**د وخت په بدليدلو د عبادت اجر زياتيدلو يو څو مثالونه** د وخت په بدليدو سره هم د عبادت په اَجر کې تبديلي راځي ، د دې يو څو مثالونه درته پيش کوم :

**اول مثال** : يو کس په نورو يوولسو (۱۱) مياشتو کې فرائض او نوافل ادا کوي ، او بل کس په رمضان کې فرائض او نوافل ادا کوي ، اګر چې په ظاهره دواړه يو شان مونځ دی ، خو

د وخت په تبديلۍ سره په ثواب کې هم ډير فرق دی ، ځکه په عامو مياشتو کې د يو فرض مونځ کولو سره ديو فرض ثواب ملاويږي او په يو نفل مونځ ادا کولو سره د يو نفل مونځ ثواب ملاويږي ، ليکن په رمضان کې د يو فرض مونځ اداء کولو په بدله کې د اوياؤ (۷۰) فرضو ثواب ملاويږي ، او يو نفل مونځ اداء کولو سره د فرضو ثواب ملاويږي .

**دويم مثال** : يا يو کس د کال په نورو شپو کې د شپې عبادت کوي او بل کس د ليلة القدر په شپه عبادت کوي . اګر چې په ظاهره باندې د دواړو عبادت يو شان معلوميږي، ليکن د دې دواړو په ثواب کې ډير غټ فرق دی ، ځکه په عامو شپو کې عبادت کوونکي ته د هرې شپې په عوض کې د يوې شپې د عبادت ثواب ملاويږي ، ليکن د ليلة القدر په شپه عبادت کوونکي ته د زرو (۱۰۰۰) مياشتو د عبادت نه ډير ثواب ملاويږي . (۱)

**دريم مثال** : يا يو کس په عامو ورځو کې روژه اونيسي ، دويم کس د عرفې په ورځ روژه اونيسي ، دريم کس د عاشورې په ورځ (يعنی لسم د محرم) روژه اونيسي ، او څلوم د رمضان المبارک روژه اونيسي .

اګر په ظاهره باندې اولړه اوتنده په څلورو واړو کې يو شان ده ، ليکن د ثواب په اعتبار سره په دې ټولو کې د زمکې او آسمان فرق دی .

معلومه شوه چې د وخت په بدليدلو سره د عبادت په اجر و ثواب کې فرق راځي .

**د ځای په بدليدلو سره د ګناه سزا زياتيدو مثال** : د ځای په بدليدلو سره د ګناه په سزا کې هم فرق راځي ، مثلاً يو کس په کور يا بازار کې شراب څکي ، زِنا کوي ، غلا کوي ، دروغ وايي يا نور ګناهونه کوي ، دويم کس دا کارونه نَعوذُ بِالله په جمات کې کوي ، دريم کس دا کارونه نَعوذُ بِالله په مسجد نبوي يا بيتُ الله کې کوي . نو په ظاهره باندې ګناه په ټولو کې يو شان ده ليکن بيا هم د دې په سزا کې فرق شته ، ځکه دا ګناهونه په کور يا بازار کې کوونکې مُجرم دی ، ده ته به د دې سزا ملاويږي ، خو په جُمات کې د دې کارونو کولو سزا نوره هم زياته ده .

---

(۱) الله تعالی فرمايي : لَيْلَةُ الْقَدْرِ خَيْرٌ مِّنْ أَلْفِ شَهْرٍ . سورة القدر آية ۳ .

بيا نَعوذُ بِالله په مسجدِ نبوي يا مسجدِ حرام کې ددې کارونو سزا سخت ترين جُرم دی ، او ګناه يې د ټولو نه زياته ده ، همدغه وجه ده چې د جاهليت په زمانه کې يو سړي او ښځې په بيتُ الله کې زِنا کړې وه ، نو الله ﷻ د هغوی نه کاڼړي جوړ کړل .

**د وخت په بدليدو سره د ګناه سزا زياتيدل** همدغه شان د وخت په بدليدو سره د ګناه سزا هم زياتيږي ، مثلاً يو کس په نورو يولسو مياشتو کې دروغ وائي ، غِيبت کوي ، غلا کوي ، دُهوکه کوي يا نور ګناهونه کوي ، بل کس همدا ګناهونه په رمضان المبارک کې کوي ، نو په ظاهره باندې اګر چې دواړه يو شان معلوميږي ، ليکن د سزا په اعتبار سره پدې دواړو کې ډير غټ فرق دی ، ځکه په رمضان المبارک کې د ګناهونو کولو سزا د نورو مياشتو په نسبت ډيره زياته ده .

**مقصدي ځای** : ددې دومره اُوږدې تمهيدي خبرې بيانولو مقصد مې دا ؤ چې لکه څرنګې د ځای او وخت په بدليدلو سره د عبادت په ثواب کې زياتوالې راځي ، نو همدغه شان د وخت او ځای په بدليدلو سره د ګناهونو په سزا کې هم زياتوالې راځي ، لهذا په رمضان کې په خصوصي طور سره د هر قسمه ګناهونو نه ځان ساتل پکار دي .

انسان دې د ځان سره دا سوچ اوکړي چې کوم کارونه (يعنی خوراک ، څکاک وغيره ) چې د رمضان نه علاوه مياشتو کې زما دپاره حلال وو هغه پدې رمضان کې د ورځې زما دپاره حرام شو (۱) ،نو کوم ګناهونه (مثلاً دروغ ، غِيبت ، چُغل خوري ، زِنا يا نور ګناهونه ) چې زما دپاره د مخکې نه حرام وو هغه به پدې رمضان کې څنګه جائز شي ؟ په رمضان کې ددې ګناهونو حُرمت او سزا خو نوره هم زياتيږي .

## د ګناهونو په وجه د روژې نورانيت ختميږي

د ګناهونو په کولو سره د عبادت نورانيت ، برکت او رُوحاني طاقت ختميږي ، چونکه روژه هم بهترين عبادت دی څوک چې په روژه کې ګناهونه کوي نو پدې سره د روژې هغه

---

(۱) ځکه په روژه کې د صُبح صادق نه تر د غروب الشمس پورې د روژه دار د پاره خوراک ، څکاک ، او د ښځې سره جِماع منع ده .

نُورانيت او برکت ختميږي ، دغه وجه ده چې څوک روژه نيسي او ورسره د هر قسمه ګناهونو دروغ ، غِيبت وغيره نه ځان هم ساتي نو دده په روژه او عبادت کې چې کوم نُورانيت ، برکت او رُوحاني طاقت وي هغه د هغه کس په روژه کې نه وي کوم چې د روژې سره ګناهونه کوي .

## په روژه کې ګناه کوونکي د پاره په قيامت کې سخته سزا

علامه ابن جوزي په ''بستان الواعظين'' کې دا روايت رانقل کړی ، نبي عليه السلام فرمائي چې ما د حضرت جبريل عليه السلام نه دا واوريد چې هغوی وفرمايل : ما د الله رب العزت نه دا اوريدلي چې د قيامت په ورځ به يو ځوان په داسې حال کې راوستې شي چې هغه به ډير ژاړي او خفه به وي ، ملائکې به دا د اُوسپنو او اُور په ګُرزونو باندې وهي ، او شړي به يې ، دا کس به زر (۱۰۰۰) کاله دا آواز کوي : اَلْاَمَان ، اَلْاَمَان ، اَلْاَمَان .خو دده د پاره به هيڅ اَمان نه وي ، بيا به دا کس روان کړې شي او د الله جل جلاله مخې ته به اُودرولې شي ، الله جل جلاله به د عذاب فرښتو ته حکم اوکړي : دا پَرمخې جهنم ته راکاږئ ، نبي عليه السلام فرمايي چې ما د حضرت جبريل عليه السلام نه پوښتنه اوکړه : يَا جِبْرِيْلُ ! مَنْ هُوَ ؟ اې جبريل ! دا کس به څوک وي ؟

حضرت جبريل عليه السلام راته اوفرمايل : شَابٌ مِنْ اُمَّتِكَ . دا به ستا د اُمت يو ځوان وي .

ما د حضرت جبريل عليه السلام نه پوښتنه اوکړه : وَمَا ذَنْبُهُ ؟ دده به څه ګناه وي ؟

جبريل عليه السلام راته وفرمايل : أَدْرَكَ شَهْرَ رَمَضَانَ فَعَصَى اللهَ فِيْهِ وَلَمْ يَسْتَغْفِرِ اللهَ وَلَمْ يَتُبْ إِلَيْهِ كَيْ يَغْفِرَ اللهُ فَأَخَذَهُ اللهُ بَغْتَةً . (۱)

---

(۱) رُوِيَ عَنِ النَّبِيِّ صلى الله عَلَيْهِ وَسلم أَنه قَالَ : سَمِعْتُ جِبْرِيلَ يَقُولُ سَمِعْتُ اللهَ عزّ وَجل يَقُول يُؤْتى بشابٍ يَوْمَ الْقِيَامَةِ باكِيًا حَزِيْنًا وَالْمَلَائِكَةُ تسوقه بمقامع من حَدِيدٍ وَمن نَارٍ وَهُوَ يَقُولُ : اَلْأَمَانَ الْأَمَانَ أَلف سنة وَلَا أَمَانَ لَهُ ثُمَّ يساق فَيُوقف بَين يَدي الله تَعَالَى فيأمر الله مَلَائِكَةَ الْعَذَابِ أَنْ تسحبه على وَجهه إِلَى النَّار ، قلتُ : يَا جِبْرِيلُ ! مَنْ هُوَ ؟ قَالَ شَابٌ مِنْ أُمَّتك . قلتُ : وَمَا ذَنْبُهُ ؟ قَالَ : أَدْرَكَ شَهْرَ رَمَضَانَ فعصى الله فِيهِ وَلم يَسْتَغْفِرِ اللهَ وَلم يتب إِلَيْهِ كي يغفر الله فَأَخذَهُ الله بَغْتَةً . بستان الواعظين ورياض السامعين ۱ /۲۳۲ خسران العَاصِي فِي رَمَضَان

ده د رمضان مياشت موندلې وه خو ده پدې کې د الله ﷻ نافرماني اوکړه ، د الله ﷻ نه يې بخښنه اونه غوښته ، توبه يې الله ﷻ ته اونه وِيسته چې بخلې يې وی ، نو الله ﷻ ناڅاپه رااونيولو .

## په قيامت کې د رمضان دعویٰ او جګړه

علامه ابن جوزري رحمه الله دا حديث ذکر کړی چې نبي ﷺ په مِنّی کې اوفرمايل :
کله چې د قيامت ورځ شي ، او زه تلې د ميزان سره ولاړ يم نو زما د اُمت يو ځوان به راوستې شي ، ملائکې به دده مخ او شا وهي ، دا به د ما پورې اُونخلي او او به وايي :

يَا مُحَمَّد المستغاث المستغاث بك . اې محمد ! ستا په ذريعه مدد حاصلوم .

نبي ﷺ فرمايي چې زه به فرښتو ته ووايم :

يَا مَلَائِكَةَ رَبِّي ! مَا ذَنْبُه ؟ اې زما د رب فرښتو ! دده څه ګناه ده ؟

فرښتې به ووايي : أَدْرَكَ شهرَ رَمَضَانَ فَعَصَى اللهَ فِيْهِ وَلَمْ يتبْ فَأَخَذَهُ اللهُ فَجاَةً .

ده د رمضان مياشت موندلې وه ، ده پدې کې د الله ﷻ نافرماني اوکړه ، توبه يې اونه ويسته ، نو الله ﷻ ناڅاپه اونيولو .

زه به ده ته ووايم : هَلْ قَرَأْتَ الْقُرْآنَ ؟ آيا تا قرآن کريم لوستلی ؟

دې به ووايي : ما لوستلې وُ خو بيا مې هېر کړی .

زه به ورته ووايم : بِئْسَ الشَّابُ أَنْتَ . ته ډير بد ځوان يی .

دا کس به نه ما پرېږدي او نه به فرښتې دې پرېږدي ، بيا به زه دالله تعالی نه دده دپاره شفاعت کول او غوارم ، الله ﷻ ته به او فرمايم :

إِلٰهِيْ ! شَابٌ مِنْ أُمَّتِيْ . اې الله ! دا زما د امت يو ځوان دی .

الله تعالی به او فرمايي : إِنَّ لَهُ خَصْمًا قَوِيًّا يَا أَحْمَدُ !

اې احمد ! دده سره جګړه کوونکې ډېر قوي دی (یعنی په ده باندې چې چا دعوٰی کړی ده هغه ډېر قوي دی).

زه به عرض اوکړم : وَمَنْ خَصمُهُ یَارَبِّ حَتّٰی أَرْضِیَهُ .

اې ربه ! دده سره جګړه کوونکې ( او په ده دعوٰی کوونکې ) څوک دی ؟ زه به هغه راضي کړم.

الله تعالی به اوفرمايي : خَصمه شَهْر رَمَضَانَ.

دده سره جګړه کوونکې د رمضان میاشت ده .

نبي ﷺ فرمايي : زه به اوفرمايم :

أَنَا بَرِيْءٌ مِمَّنْ خصمه شَهْر رَمَضَانَ . وَمَنْ يَشْفَعَ لِمَنْ لَمْ يَعرف حُرْمَةَ رَمَضَانَ .

زه د هغه چانه بري (بیزاره) یم چې د هغه سره جګړه کوونکې رمضان وي ، او چا چې د رمضان عزت نه وي پیژندلی د هغه سفارش به څوک اوکړي ؟

الله تعالی به اوفرمايي :

وَأَنَا بَرِيْءٌ مِمَّنْ أَنْتَ بَرِيْءٌ مِنْهُ .

زه هم د هغه چانه بري یم چې ته د چانه بري یې .

بیا به دا کس جهنم ته روان کړې شي . (۱)

(۱) رُوِيَ عَنِ النَّبِي صلى الله عَلَيْهِ وَسلم أَنَه قَالَ بِمِنٰی : إِذا كَانَ يَوم الْقِيَامَة بَيْنَمَا أَنا وَاقِفٌ عِنْد الْمِيزَان فَيُؤتٰى بشابٍ من أُمَّتِي وَالْمَلَائِكَة يضربونه وَجهًا ودبرًا فيتَعَلَّق بِي وَيَقُولُ : يَا مُحَمَّد ! المستغاث المستغاث بك . فَأَقُول : يَا مَلَائِكَةَ رَبِّي ! مَا ذَنْبه ؟ فَيَقُولُوْنَ : أَدْرَكَ شهرَ رَمَضَان فَعَصَى اللهَ فِيْهِ وَلم يتبْ فَأَخذه الله فَجأَة . فَأَقُولُ : هَل قَرَأْتَ الْقُرْآنَ ؟ فَيَقُولُ : تَعَلَّمْتُه ونسيتُه . فَأَقُولُ : بئْس الشَّاب أَنْتَ . فَلَا هُوَ يتركني وَلَا الْمَلَائِكَة يتركونه . ثمَّ أَشفع لَهُ مِن الله تَعَالَى فَأَقُول : إِلٰهي ! شَابٌ من أُمَّتِي . فَيَقُولُ الله تَعَالَى : إِنَّ لَهُ خصمًا قَوِيًا يَا أَحمد ! فَأَقُولُ : وَمن خَصمه يَا ربّ حَتّٰى أُرضيه . فَيَقُول الله تَعَالَى : خَصمه شهر رَمَضَان . فَأَقُولُ : أَنا بَرِيْءٌ مِمَّن خَصمه شهر رَمَضَان . وَمن يشفع لمن لم يعرف حُرْمَة رَمَضَان . فَيَقُولُ الله تَعَالَى : وَأَنا بَرِيْءٌ مِمَّن أَنْتَ بَرِيْءٌ مِنْهُ . فينْطَلق بِهِ إِلَى النَّار بستان الواعظين ورياض السامعين ۱ /۲۳۲ رَمَضَان فِي الْقِيَامَة

## الله ﷻ ته هغه روژه مقبول ده چې د هغې د آدابو لحاظ اوساتلې شي

دا ضروري نده چې هر عبادت دې خامخا قبول شي ، بلکه د هر عبادت خپل حقوق او آداب وي که د هغې لحاظ اونه ساتلې شي نو هغه نه قبلیږي ، مثلاً مونځ بهترين عبادت دی لیکن که یو کس د مانځه د حقوقو او آدابو لحاظ اونه ساتي : بې اَودسه یا بې وخته مونځ کوي ، یا داسې زر زر مونځ کوي چې رکوع او سجده په صحیح طریقې سره نه اداء کوي .

نو حدیث کې راځي.... چې دغه مونځ تَک تور بَدشکله جوړ شي او ده ته دا خبرې کوي:

ضَيَّعَكَ اللهُ كَمَا ضَيَّعْتَنِيْ .

الله تعالی دې تا داسې ضائع ( او بَرباد ) کړي لکه څرنګې چې تا زه ضائع کړم .

بیا چې الله ﷻ اوغواړي نو دا مونځ داسې راغونډ کړې شي لکه څرنګې زړې جامې راغونډولې شي ، ثُمَّ ضُرِبَ بِهَا وَجْهُهُ . بیا په دې باندې ددې مونځ ګُزار مَخ اُوویشتلې شي . (۱)

یا مثلاً د قرآن کریم تلاوت کول ډیر بهترين عبادت دی ، مګر کوم کس چې د تلاوت د آدابو لحاظ نه ساتي نو پداسې کس باندې قرآن کریم لعنت وایي :

حضرت انس رضي الله عنه فرمایي : رُبَّ تَالٍ لِلْقُرْآنِ وَالْقُرْآنُ يَلْعَنُهُ . (۲)

ډیر کرتې به یو کس د قرآن کریم تلاوت کوي خو قرآن کریم به په ده باندې لعنت وایي .

---

(۱) قَالَ رَسُوْلُ اللهِ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ : « مَنْ صَلَّى الصَّلَاةَ لِوَقْتِهَا، وَأَسْبَغَ لَهَا وُضُوْءَهَا . وَأَتَمَّ لَهَا قِيَامَهَا وَخُشُوْعَهَا وَرُكُوْعَهَا وَسُجُوْدَهَا خَرَجَتْ وَهِيَ بَيْضَاءُ مُسْفِرَةٌ ، تَقُوْلُ : حَفِظَكَ اللهُ كَمَا حَفِظْتَنِيْ . وَمَنْ صَلَّى الصَّلَاةَ لِغَيْرِ وَقْتِهَا فَلَمْ يُسْبِغْ لَهَا وُضُوْءَهَا ، وَلَمْ يُتِمَّ لَهَا خُشُوْعَهَا وَلَا رُكُوْعَهَا وَلَا سُجُوْدَهَا خَرَجَتْ وَهِيَ سَوْدَاءُ مُظْلِمَةٌ . تَقُوْلُ : ضَيَّعَكَ اللهُ كَمَا ضَيَّعْتَنِيْ ، حَتّٰى إِذَا كَانَتْ حَيْثُ شَاءَ اللهُ لُفَّتْ كَمَا يُلَفُّ الثَّوْبُ الْخَلَقُ ، ثُمَّ ضُرِبَ بِهَا وَجْهُهُ .
المعجم الأوسط للطبراني رقم الحديث ۳۰۹۵ ، مجمع الزوائد ومنبع الفوائد رقم الحديث ۱٦۷۷ بَابٌ فِي الْمُحَافَظَةِ عَلَى الصَّلَاةِ لِوَقْتِهَا ، و رواه السيوطي في الدر المنثور ۱ /۱۹۵ ، والزبيدي في الاتحاف ۳ /۱۰۹ ، والهندي في الكنز رقم ۱۹۰۵۲ . وكذا في الترغيب و عزاه في المنتخب الى البيهقي في الشعب ، المتجر الرابح في ثواب العمل الصالح ص ۵۲ ثواب الصلاة في اول وقتها .

(۲) احياء علوم الدين ۱ /۲۷۴ كتاب آداب تلاوة القرآن الباب الأول في فَضْلِ الْقُرْآنِ وَأَهْلِهِ وَذَمِّ الْمُقَصِّرِيْنَ فِيْ تِلَاوَتِهِ فضيلة القرآن في ذم تلاوة الغافلين

نو چې کله د مونځ او تلاوت په شان بهترین عبادت د حقوقو او آدابو لحاظ ساتلو نه بغیر نه قبلیږي ، نو روژه خو هم عبادت دی دا به د حقوقو او آدابو لحاظ ساتلو نه بغیر څنګه قبوله شي ؟

څکه خو حدیث کې راځي : كَمْ مِنْ صَائِمٍ لَيْسَ لَهُ مِنْ صِيَامِهِ إِلَّا الظَّمَأُ ..... (۱)

ډیر روژه دار داسې دي چې هغوی ته د خپلې روژې په عوض کې بغیر د تندې نه بل هیڅ شی نه ملاویږي ...

## د هر أندام روژه په کار ده

په روژه کې د انسان د هر أندام روژه په کار ده ، یعنې غوږونه ، سترګې ، ژبه ، لاسونه او نور ټول أندامونه د ګناه د کارونو نه محفوظ کول په کار دي . (۲)

## د فرښتو د ګناه نه بچ کیدل کمال نه دی

الله تعالی انسان د عبادت د پاره پیدا کړی ، رب کریم فرمایي :

﴿ وَمَا خَلَقْتُ الْجِنَّ وَالْإِنْسَ إِلَّا لِيَعْبُدُونِ ﴾ . (۳)

ترجمه : او ما ندي پیدا کړي پیریان او انسانان مګر ددې د پاره چې دوی زما عبادت اوکړي .

دلته د خلقو ذهن ته دا اعتراض راځي چې کله فرښتو د مخکې نه د الله ﷻ عبادت په بهترینې طریقې سره کولو نو بیا د انسانانو پیدا کولو ضرورت څه وُ ؟

(۱) هذا حديث صحيح . رَوَاهُ الدَّارِمِيّ ، مشكوة المصابيح رقم الحديث ۲۰۱۴ ( ۱۶ ) بَاب تَنْزِيه الصَّوْم الفصل الثاني .

(۲) همدغه شان مضمون د حضرت جابر رضي الله عنه په روایت کې هم ذکر دی : قال جابر بن عبد الله رضي الله عنهما « إذا صمت فليصم سمعك وبصرك ولسانك عن الكذب، والمأثم، ودع أذى الخادم، وليكن عليك وقار وسكينة يوم صيامك، ولا تجعل يوم صيامك وفطرك سواء» . نضرة النعيم في مكارم اخلاق الرسول الكريم - صلى الله عليه وسلم ۷/ ۲۶۶۱ الصوم . مجالس شهر رمضان لابن عثيمين ۱/ ۷۲ .

قَالَ أَبُوْ ذَرٍّ رضي الله عنه : « إِذَا صُمْتَ فَتَحَفَّظْ مَا اسْتَطَعْتَ » . مصنف ابن ابي شيبة رقم الحديث ۸۸۷۸ كتاب الصّيام ، نضرة النعيم ۷/ ۲۶۶۲ الصوم .

(۳) سورة الذاريات آية ۵۶ .

همدغه وجه ده چې کله الله ﷻ د حضرت آدم علیه السلام د پیدا کولو اراده اوکړه او فرښتو ته یې وویل چې زه په زمکه کې خلیفه پیدا کوم نو فرښتو ورته وویل :

﴿ أَتَجْعَلُ فِيهَا مَن يُفْسِدُ فِيهَا وَيَسْفِكُ الدِّمَاءَ وَنَحْنُ نُسَبِّحُ بِحَمْدِكَ وَنُقَدِّسُ لَكَ ﴾

ترجمه : آیا ته په دې زمکه کې داسې مخلوق جوړوې ( آبادوې ) چې هغوی به په دې کې فساد کوي او ( د یو بل ) وینې به توېوي ؟ حالانکه مونږ ( هر وخت ) پاکي بیانوو ستا د حمد سره ، او ستا بزرګي بیانوو .

الله تعالی ورته وفرمایل : ﴿ إِنِّي أَعْلَمُ مَا لَا تَعْلَمُونَ ﴾.(۱)

ترجمه : بیشکه زه په هغه څه ښه پوهیږم چې تاسو پرې نه پوهیږئ .

معلومه شوه چې فرښتو خو د مخکې نه د الله ﷻ عبادت کولو ، نو بیا انسان یې ولې پیدا کړو ؟

**جواب** : د پاس مذکوره اعتراض جواب دادی چې بیشکه فرښتې د الله ﷻ عبادت کوي خو د فرښتو عبادت جدا دی او د انسانانو عبادت جدا دی . د فرښتو په نسبت د انسانانو عبادت کول او د ګناهونو نه ځان بچ کول ډیر قیمتي دي ، ځکه فرښتې چې عبادت کوي نو د دوی په مِزاج کې د عبادت پریخودو صلاحیت نشته ، الله تعالی د هغوی نه د ګناه کولو اِمکان ختم کړی ، نه په هغوی باندې اُولږه راځي ، نه تَنده ، او نه یې نفساني خواهشات پیدا کیږي ، تر دې چې د هغوی په زړونو کې د ګناه خیال هم نه پیدا کیږي .

دغه وجه ده چې د فرښتو په عبادت باندې هیڅ اجر و ثواب نه دی مقرر شوی ، او نه دوی ددې عبادت په وجه د جنت مستحق کیږي ، لهذا د دوی د ګناه نه منع کیدل هم څه کمال نه دی . اوس چې فرښتې د سهر نه ماښامه پورې خوراک او څکاک نه کوي یا د نفساني خواهشاتو او ګناهونو نه ځان ساتي نو دا د دوی څه کمال نه دی .

ددې په مقابله کې الله ﷻ انسانان داسې پیدا کړي چې خوراک څکاک ته هم ضرورت لري ، نفسي خواهشات هم ورسره شته ، ده په زړه کې د ګناه کولو خواهش هم پیدا کیږي ، د

---

(۱) البقرة آیة ۳۰ .

عبادت نه کولو صلاحيت هم په کې شته ، خو ددې ټولو خبرو باوجود چې انسان يا هم عبادت کوي ، د ګناهونو نه ځان ساتي ، يا په رمضان المبارک کې د دې ټولو خواهشاتو باوجود يا هم د الله ﷻ د يَرې نه د سهر نه تر ماښامه پورې د خوراک ، څکاک ، نفسي خواهشاتو (جِماع) او نورو ګناهونو نه ځان ساتي نو دا اعلىٰ درجه کمال دی او د همدې عبادت د پاره انسان پيدا شوی . دا عبادت د فرښتو په طاقت کې نشته ، دغه وجه ده چې انسانانو ته د عبادت په وجه ډير اجرونه ورکولې شي ، او ددې په عوض کې دوی ته د جنت اعلىٰ نِعمتونه ورکولې شي . (۱)

**د مثال په ذريعه وضاحت** : د مذکوره خبرې وضاحت درته د يو مثال په ذريعه کوم : مثلا دوه کسان دي ، دا يو کس په کې ړُوند دی ، دده نظر په ټول عُمر کې غلط نه دې استعمال شوی ( نه يې پردَيو زَنانهٔ ته کتلي ، نه يې فحش فيلمونه او ډرامې کتلي ) .

او ددې بل کس د سترګو نظر مکمل صحيح دی ، هر څيز ته د کتلو صلاحيت په کې شته ، خو چې کله يې پردَيو ( يعنی محرمه ) زَنانهٔ ته د کتلو خواهش پيدا شي نو د الله ﷻ د يَرې نه خپل نظر ښکته کړي او د سترګو د ګناه نه ځان محفوظ کړي .

اوس په ظاهره باندې دا دواړه کسان د سترګو د ګناه نه بچ شو او دواړه يو شان معلوميږي ليکن په حقيقت کې د دواړو کسانو په مينځ کې ډير غټ فرق دی ، ځکه ړوند چې خپل نظر ښکته کړی دا څه کمال نه دی ځکه په ده کې د ليدلو او ګناه کولو طاقت نشته . او دې دويم کس چې خپل نظر ښکته کړی او د سترګو د ګناه نه يې ځان ساتلی نو دا کمال دی ځکه په ده کې د ګناه کولو طاقت شته خو د الله ﷻ د يَرې نه يې خپل ځان کنټرول کړی . لهذا انسان ته په کار دي چې په رمضان المبارک کې د هر قِسمه ګناهونو نه ځان او ساتي .

## د روژې مراتب

د روژې درې (۳) غټې مرتبې دي : يو د عامو خلقو روژه ، دويم د خواصو روژه ، او دريم د اخصّ الخاص خلقو روژه .

---

(۱) خطبات عثماني .

د عامو خلقو روژه خو داده چې د خېټې او فرج شهوت پوره کولو نه منع شي (يعنی د خوراک، څکاک او جِماع نه ځان منع کړي)، دا د روژې اَدنٰی درجه ده.

د خاصو خلقو روژه داده چې د مذکوره خبرو سره سره د وجود ټول اَندامونه (يعنی نظر، ژبه، لاس، خپې او د وجود هر اَندام) د ګناه نه اوساتي.

او د خاصُ الخاص خلقو روژه داده چې د مذکوره خبرو سره سره زړه د بې کاره اِرادو، د الله ﷻ نه د لرې کوونکو فکرونو نه هم منع کړي. دا د روژې اعلیٰ درجه ده. (۱)

## د روژې آداب

د روژې ډير آداب دي د هغې ټولو اجمالي خلاصه دا ده چې انسان د خوراک څکاک او خواهشاتو (جِماع) نه منع کيدلو سره سره د هر قسمه ګناهونو نه ځان اوساتي او عبادت طرفته متوجه شي، نو بيا به دا سې روژه مقبوله وي.

علماؤ د روژې آداب پوره په تفصيل سره بيان کړي که زه هر يو په پوره تفصيل سره ذکر کړم نو بيا خبره ډيره اوږديږي او اصل موضوع رانه پاتې کيږي خو اجمالاً به درته د رمضان شپږ (٦) آداب ذکر کړم:

۱. **د نظر حفاظت کول**: يعنی کومو ځايونو ته چې شريعت کتل منع کړي دي د هغې نه ځان ساتل: مثلاً پردیو زنانوٴ ته د کتلو نه خپل نظر محفوظ کول وغيره.

۲. **د ژبې حفاظت کول**: يعنی ژبه د هر قسمه دروغو، غِيبت، چُغل خوري، کنځل کولو او د مسلمان بې عزتی نه محفوظ ساتل.

---

(۱) وللصّوم ثلاث مراتب: صوم العموم، وصوم الخصوص، وصوم خصوص الخصوص. فأمّا صوم العموم فهو: كفّ البطن والفرج عن قضاء الشّهوة. وأمّا صوم الخصوص: فهو كفّ النّظر، واللّسان، واليد، والرّجل، والسّمع، والبصر، وسائر الجوارح عن الآثام. وأمّا صوم خصوص الخصوص: فهو صوم القلب عن الهمم الدّنيئة، والأفكار المبعدة عن الله تعالى، وكفّه عمّا سوى الله تعالى بالكلّيّة. مختصر منهاج القاصدين (۴۴) نضرة النعيم ۷/۲۶۴۶ الصوم مراتب الصوم. المستطرف في كل فن مستطرف ۱/۱۷.

۳ . **د غوږونو حفاظت کول** : یعنی د کومو شیانو د اوریدو نه چې شریعت منع کړی (لکه سندرې وغیره) د هغې اوریدو نه ځان ساتل.

٤ . **د وجود د ټولو اندامونو حفاظت کول** : یعنی د سترګو، ژبې او غوږونو نه علاوه د بدن د نورو اندامونو حفاظت کول هم ضروري دي مثلاً په لاسونو سره په چا ظلم نه کول، په خپو باندې د ګناه ځای ته نه تلل، په خېټه کې حرام خوراک نه اچول، د زِنا نه ځان ساتل. د دې کارونو نه هر وخت ځان ساتل ضروري دي، لیکن بیا خاصکر په رمضان کې خو ددینه ډیر ځان ساتل پکار دي.

٥ . **ډیر زیات خوراک نه کول** : ځکه که انسان د روژه ماتي په وخت ډیر زیات خوراک اوکړي نو بیا به د ماسخوتن مونځ او تراویح صحیح نشي اداء کولی، او که د پیشمني په وخت ډیر خوراک اوکړي نو بیا به د سهر مونځ په صحیح طریقې سره نشي اداء کولی، بلکه معتدِل انداز باندې خوراک پکار دی. بل دا چې د ډیر خوراک نه بیمارۍ هم پیدا کیږي.

٦ . **د قبلیدو امید ساتل** : د روژې او نورو عباداتو د قبولیت امید به هم ساتي خو ورسره ورسره به په زړه کې دا یَره هم ساتي چې هسې نه زما دا روژې او عبادات قبول نشي (یعنی د خَوف او رَجاء په مینځ مینځ کې به وي). (۱)

او دا د مؤمن نخه هم ده چې کله دې نیک عمل یا عبادت کوي نو د قبلیدو اُمید به هم ساتي، او ورسره ورسره به دا یَره هم لري چې هسې نه زما دا محنت چیرته ضائع نشي.

ځکه اصل شی د عبادت قبلیدل دي، که معمولي عبادت د الله ﷻ په دربار کې قبول شي نو بیا د دواړو جهانو کامیابي ده، او که ډیر لوي عمل د رِیا یا د اخلاص د نَشتوالي په وجه قبول نشي نو بې فائدې دی.

(۱) **نوټ** : دا ځنې خبرې امام غزالي رحمه الله په "کیمیائی سعادت" کې هم په تفصیل سره لیکلي. کیمائي سعادت شپږم اصل د روژې بیان.

دغه وجه ده چې په قيامت به ډير داسې خلق په جهنم کې اوغورځولې شي چې هغوی به په دنيا کې غټ غټ عملونه کړي وي ليکن دوی به دا کارونه د الله ﷻ د رضا د پاره نه وي کړي بلکه د رِيا او ځان خودَنې د پاره به يې کړي وي نو ځکه به يې هيڅ په کار رانشي.

د الله ﷻ په لاره کې د خرچ کوونکو متعلق په قرآن کريم کې ذکر دي:

﴿ وَالَّذِيْنَ يُؤْتُوْنَ مَاۤ اٰتَوْا وَّقُلُوْبُهُمْ وَجِلَةٌ ﴾. (۱)

ترجمه: او هغه خلق چې دوی د الله په لاره کې (زکوة، صدقات وغيره) ورکوي او دوی زړونه په يَره کې وي.

يعنی دوی روژې هم نيسي، مونځ هم کوي، صدقې هم ورکوي خو بيا هم ويريږي چې هسې نه دا قبول نشي. (۲)

لهذا د روژې نيولو نه روستو د قبليدو دعا هم پکار ده.

## د روژې مياشتې د عبادت اثر ټول کال موجود وي

د روژې د مياشتې د عبادت اثر ټول کال وي، ځکه دا خبره په تجربې سره ثابته ده چې کوم کس د روژې په مياشت کې عبادت کوي نو ددې په برکت به ده ته ټول کال د عبادت توفيق ملاويږي، او کوم کس چې پدې مياشت کې د ګناه نه ځان اوساتي نو بيا به ټول کال د ګناه نه ځان محفوظ ساتلې شي.

علماؤ تر دې پورې ليکلي دي چې که يو کس خپل نفس ته دهوکه ورکړي او ورته ووايي چې ته صرف دا يوه مياشت د ګناه کولو نه بغير تېره کړه نو بيا به ستا خواهش پوره کوم نو دا

---

(۱) المؤمنون آية ٦٠

(۲) علامه قرطبي رحمه الله ددې تشريح داسې کړې: وَ رَوَى التِّرْمِذِيُّ عَنْ عَائِشَةَ رَضِيَ اللهُ عَنْهَا زَوْجِ النَّبِيِّ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ قَالَتْ: سَأَلْتُ رَسُوْلَ اللهِ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ عَنْ هٰذِهِ الْآيَةِ ﴿ وَالَّذِيْنَ يُؤْتُوْنَ مَاۤ اٰتَوْا وَّقُلُوْبُهُمْ وَجِلَةٌ ﴾ قَالَتْ عَائِشَةُ: أَهُمُ الَّذِيْنَ يَشْرَبُوْنَ الْخَمْرَ وَيَسْرِقُوْنَ؟ قَالَ: لَا يَا بِنْتَ الصِّدِّيْقِ وَلٰكِنَّهُمُ الَّذِيْنَ يَصُوْمُوْنَ وَيُصَلُّوْنَ وَيَتَصَدَّقُوْنَ وَهُمْ يَخَافُوْنَ أَلَّا يُقْبَلَ مِنْهُمْ أُولٰئِكَ الَّذِيْنَ يُسَارِعُوْنَ فِي الْخَيْرَاتِ. الجامع لاحكام القرآن (تفسير القرطبي). المؤمنون آية ٦٠

يقيني خبره ده چې که دا کس په دې يوه مياشت کې ځان د ګناه نه محفوظ کړي نو د الله ﷻ د رَحمت نه دا قوي اُميد دی چې بيا به ټول کال دده په زړه کې د ګناهونو نه نفرت وي.

او که يو کس همت اوکړي نو پدې مياشت کې د ګناه نه ځان ساتل څه ګران کار ندی ځکه سرکشه شيطانان تړل شوي وي ، د ګناه مُحَرِّک کم وي ، اګر چې نفس اوس هم دې په ګناه باندې رااَبرَاَنګيخته کوي خو ددې اَثر دومره قوي نه وي.

## په روژه کې انسان د الله ﷻ قرب حاصلولې شي

الله رب العزت په مسلمانانو باندې دا خصوصي رحم کړی چې دوی ته يې د رمضانُ المبارک دا بهترينه مياشت ورکړی چې په دې کې دوی د الله ﷻ قُرب حاصلولې شي.

ځکه د کال په يوولسو (۱۱) مياشتو کې انسان په دُنياوي کارونو کې مصروف وي چې ددې په وجه دده رُوحاني قوت کمزورې شي ، بيا يې عبادت ته پوره زړه نه کيږي نو الله تعالی په خپل فضل و کرم سره مسلمانانو ته د رمضان المبارک مياشت ورکړه چې که يو انسان په دې مياشت کې روژې اونيسي ، د الله ﷻ عبادت اوکړي نو په رُوحاني طاقت کې چې کوم کمې راغلې وي هغه به واپس په دې مياشت کې پوره شي ، د ګناهونو په وجه چې دده په زړه باندې کوم زَنګ راغلې وي هغه به صفا شي ، او انسان ته به د الله ﷻ قرب نصيبه شي.

## د روژې مياشت غنيمت ګڼړل په کار دي

محترمو مسلمانانو ! د رمضان المبارک دا بهترينه مياشت غنيمت ګڼل په کار دي ، ځکه ددې مياشتې هره هره لمحه د الله ﷻ د رحمتونو ، د انسانانو د مغفرت ، او د جهنم نه د آزاديدو ده ، هيڅ معلومه نده چې بيا به دا سې بهترينه موقع راشي يا نه ؟

تاسو لږ سوچ اوکړئ چې زمونږ ډير اسلامي ورونړه تېر کال په رمضان کې ژوندي وو لېکن اوس وفات شوي دي ، او هيڅ معلومه نده چې په دې موجوده خلقو کې به څوک په آئنده رمضان کې ژوندې وي يا نه ؟

او که په چا باندې آئنده رمضان راشي نو بيا معلومه نده چې اوس زمونږ دا کوم روغ صِحت يا عبادت ته فراغت دی آيا دا به راته بيا نصيبه شي او که نه ؟ لهذا ددې مياشتې

قدر پيژندل په کار دي .

دا خو داسې مياشت ده چې په دې کې د جنت دروازې کلاؤولې شي او جنت ښائسته کولې شي .

دا داسې مياشت ده چې په دې کې د جهنم دروازې بندې وي ، او بې شميره خلق د جهنم د اُور نه آزادولې شي .

دا داسې مياشت ده چې په دې سرکشه شيطانان تړلې شي .

دا داسې مياشت ده چې په دې کې يوه شپه '' د ليلة القدر '' ده چې په هغې يوه شپه کې عبادت کول د زرو (۱۰۰۰) مياشتو د عبادت نه ډير بهتر دی .

دا داسې مياشت ده چې په دې کې د نفلو ثواب د فرضو برابر دی ، او د يو فرض ثواب د اَوياؤ (۷۰) فرضو برابر دی .

دا داسې مياشت ده چې په دې کې دُعاګانې قبلولې شي ، او د انسانانو مغفرت په کې کولې شي .

ډير بَدبخته انسان هغه دی چې په هغه باندې دا بهترينه مياشت راشي او دې بيا هم په دې کې روژې او نه نيسي ، عبادت اونکړي ، خپل ځان د جنت مستحق نه کړي ، او خپل ځان د جهنم د اُور نه آزاد نه کړي نو يقيني چې دا ډير بدبخته انسان دی .

## په رمضان کې ځنې کارونه په اِهتمام سره کول په کار دي

مسلمان ته په کار دي چې په رمضان کې د روژې نيولو سره سره يو څو نور کارونه په اهتمام سره اوکړي ، ددې د پاره چې ددې مياشتې د رحمتونو او برکتونو نه په کاملې طريقې سره مستفيد شي :

۱. **د تراويحو اِهتمام کول** : د تراويحو پوره اهتمام په کار دی ځکه تراويح شل رکعته دي ، په هر رکعت کې دوه سجدې دي ، نو د تراويحو مجموعه څلويښت سجدې شوی ، او الله ﷻ ته انسان د سجدې په حالت کې ډير مُقرّب وي ، په قرآن کريم کې ذکر دي :

﴿ وَاسْجُدْ وَاقْتَرِبْ ﴾ .(۱) ترجمه : سجده کوه او الله ﷻ ته ځان نزدې کوه .

---

(۱) سورة العلق آية ۱۹ .

ګويا په رمضان کې په هره شپه د تراويحو په کولو سره انسان ته څلويښت (۴۰) مقامات د قُرب حاصلیږي. (۱)

**۲. نوافل ډير کول**: په رمضان کې چونکه د عباداتو اجر زيات وي، د نفلو په کولو سره انسان ته د فرضو ثواب ملاويږي، او د فرضو په کولو سره د اَوياؤ (۷۰) فرضو ثواب ملاويږي. لهذا په دې مياشت کې په خصوصي طريقې سره نوافل ډير کول په کار دي. يا خاصکر د تهجّدو مونځ، د اِشراق مونځ، د څاښت مونځ، او اَوّابينو خو په خصوصي طريقې سره اهتمام په کار دی.

**۳. د قرآن کريم تلاوت ډير کول**: د قرآن کريم د دې مياشتې سره خاص مناسبت دی، ځکه په همدې مياشت کې د لوحِ محفوظ نه آسمانِ دُنيا ته رانازل شوی، الله تعالی فرمايي:

﴿ شَهۡرُ رَمَضَانَ الَّذِيٓ أُنزِلَ فِيهِ الۡقُرۡآنُ ﴾. (۲)

ترجمه: مياشت د رمضان هغه (مبارکه مياشت) ده چې په دې کې قرآن کريم نازل شوی.

دغه وجه ده چې زمونږ اسلافو به په دې مياشت کې ډير تلاوت کولو. لهذا مونږ ته هم په کار دي چې په دې مياشت کې ډير تلاوت اوکړو.

**۴. ډير ذِکر و اَذکار کول**: په رمضان کې د قرآن کريم تلاوت سره سره نور نفلي اَذکار يا خاصکر د دريمې کليمې ذکر کول او درود شريف ډير ويل په کار دي، که لاس په کار کې مشغول وي خو په ژبه باندې د الله ﷻ ذکر کول په کار دي.

**۵. ډيرې دُعاګانې کول**: په دې مياشت کې ډيرې دُعاګانې کول په کار دي، ځکه دا مياشت په خصوصي طريقې سره د دُعاګانو قبلولو ده، اګر چې الله تعالی هر وخت د دُعاګانو قبلولو وعده کړې. (۳)

---

(۱) **نوټ**: د شل رکعته تراويحو ثبوت، دلائل، اَهميت او فضائل روستو په مستقله موضوع کې ذکر دي، د صفحه ۱٦٦ نه تر صفحه ۲۰۵ پورې. ابوالشمس عفي عنه

(۲) البقرة آية ۱۸۵.

(۳) الله تعالی فرمايي: ﴿ أُدۡعُونِيٓ أَسۡتَجِبۡ لَكُمۡ ﴾ سورة غافر آية ٦۰. بل ځای ذکر دي: ﴿ وَإِذَا سَأَلَكَ عِبَادِي عَنِّي فَإِنِّي قَرِيبٌۖ أُجِيبُ دَعۡوَةَ الدَّاعِ إِذَا دَعَانِۖ ﴾. البقرة آية ۱۸٦.

خو خاصکر په دې مياشت کې الله تعالی په خصوصي طريقې سره دُعاګانې قبلوي.

۶ . **ډيرې صدقې ورکول** : په رمضان کې د فرضي زکوة نه علاوه نور نفلي صدقات او خېرات هم په کار دی ، په حديث کې راځي چې نبي عليه السلام به ټول کال سخاوت کولو ليکن په رمضان کې به د دوی سخاوت د تېزې هوا نه هم زيات وُ ، څه چې به ورته راغلل هغه به يې صدقه کول.

لهذا مونږ ته هم په دې مياشت کې صدقې او خېرات ډير کول په کار دي.

۷ . **د ګناهونو نه ځان ساتل** : د ګناه نه هر وخت ځان ساتل په کار دي يا خاصکر په دې مياشت کې خو د ګناهونو نه ځان ډير ساتل په کار دي ، ځکه په دې مياشت کې د ګناه سزا هم زياته وي.

لهذا انسان ته په کار دي چې د هر قِسمه ګناهونو ، فضول خبرو ، فضول کارونو او فضول مجلسونو نه ځان اوساتي.

۸ . **د غصې او جګړې نه ځان ساتل** : په حديث کې راځي چې دا مياشت د مواسات او غَمخوارګۍ مياشت ده . لهذا په دې مياشت کې د غصې ،کنځلو او جګړې کولو نه ځان ساتل په کار دي. په حديث کې خو تردې پورې ذکر دي :

.... وَإِنْ جَهِلَ عَلَى أَحَدِكُمْ جَاهِلٌ وَهُوَ صَائِمٌ فَلْيَقُلْ : إِنِّي صَائِمٌ .(۱)

که يو جاهل کس په تاسو کې ديو چا سره د جهالت (او جنګ) خبره کوي او ستاسو روژه وي نو ورته ووايه چې " زه روژه داريم " ( زه جنګ ته تيار نه يم ) .

## نصيحت

اې د غفلت په خوب اُوده انسانه ! راويخ شه ، د رمضان المبارک بهترينه مياشت ده ، د مغفرت او بَخنې مياشت ده.

ترڅو پورې به ته د الله ﷻ په نافرمانۍ کې اخته يې ؟ ترڅو پورې به ته د شيطان پيروي

(۱) سنن الترمذي رقم الحديث ۷۶۴ أَبْوَابُ الصَّوْمِ عَنْ رَسُولِ اللهِ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ بَابُ مَا جَاءَ فِي فَضْلِ الصَّوْمِ ، صحيح الترغيب والترهيب كتاب الصوم رقم الحديث ۹۷۸(۱) الترغيب فى الصوم مطلقا ، مسند احمد رقم الحديث ۹۳۶۳ .

کوی ؟ آيا تاته شرَم نه درځي چې په دې بهترينه مياشت کې اوس هم ستا خوراک حرام دی، لباس دې حرام دی ، آمدني دې حرامه ده ، د ږيږې لاس او خپو گناهونه اوس هم درنه کيږي ، اکثر کارونه دې د قرآن کريم او احاديثو خلاف دي ، د نبي کريم صلی الله عليه وسلم د سُنتو پريخودونکې يی . آيا ته د الله ﷻ د عذاب نه نه ويريږې ؟ آيا ته د جنت اُميد نه لرې ؟

لهذا په دې بهترينه مياشت کې الله ﷻ طرف ته متوجِه شه ، ځان د دروغو غيبت او نورو گناهونو نه محفوظ کړه .

قيل لأهل الذنوب والآثام + قابلوا بالمتاب شهر الصيام

انه فى الشهور شهرٌ جليلٌ + واجب حقه وكيد الزمام

واطلبوا العفو من الهٍ عظيم + ليس عليه يخفى فعلُ الانام

## خلاصه

د غونډ تقرير خلاصه دا راُووته چې درمضان المبارک روژې فرضِ عين دي ، په اسلامي شريعت کې ددې ډير اَهميت بيان شوی ، دا د اسلام بُنيادي رُکن دی . او بغير عُذره ددې د پريخودو سختې سزاګانې ذکر شوې ، لهذا مسلمان ته په کار دي چې ددې مياشتې قدر اوکړي ، د رمضان المبارک روژې اونيسي ، ددې د آدابو لحاظ اوساتي ، او د هر قِسمه گناهونو نه ځان اوساتي ، ددې د پاره چې د روژو کوم مقصد دی ( يعنی تقوٰی حاصلول ) دا هم پوره شي او ورسره ورسره بې شماره ثوابونه هم ترلاسه کړي .

## دُعا

الله ﷻ دې مونږ ټولو ته په صحيح طريقې سره د روژو نيولو او عباداتو کولو توفيق راکړي ، مونږ ټول دې د گناهونو نه اوساتي ، او کوم ثوابونه او اجرونه چې په روژو مقرر شوي هغه دې مونږ ټولو ته رانصيبه کړي .

آمِيْن يَارَبَّ الْعَالَمِيْن .

وَآخِرُ دَعْوَانَا اَنِ الْحَمْدُ لِلّٰهِ رَبِّ الْعَالَمِيْنَ

# د اسلافو د روژو سره مینه

که مونږ د خپلو اَسلافو تاریخ اوګورو نو راته به معلومه شي چې د دوی د روژو نیولو سره دومره شوق وُ چې د فرضي روژو سره سره یې نفلي روژې هم همیشه نیولی ، د اَیّامِ مَنهیه نه علاوه غونډ کال به یې روژې نیولی ، د نمونې د پاره د یو څو اَسلافو احوال درته ذکر کوم :

۱. عامر بن قیس رحمه الله به ټوله شپه د الله ﷻ عبادت کولو او همیشه به یې د ورځې روژه وه . (۱)

تردې چې کله وفات کیدو نو د روژې او قِیامُ اللّیل پاتې کیدو په وجه یې ژړل . (۲)

۲. اسود بن یزید النخعي رحمه الله به هم همیشه روژه نیوه . (۳)

تردې چې په سختې ګرمۍ کې د روژو نیولو او سختې تَندې په وجه به یې ژبه تَکه توره شوه او بدن به یې مکمل زیړ شو . (۴)

حتّی چې د ډیرو روژو او کمزورتیا په وجه یې د یوې سترګې نظر هم ختم شو . (۵)

۳. امام ابوحنیفه رحمه الله (د اَیّامِ مَنهیه نه علاوه) دیرش (۳۰) کاله مسلسل روژه نیولی . (٦)

---

(۱) ... ولقد كان يبيت قائمًا، ويظل صائمًا. "الحلية" (۸۸/۲).

(۲) عن قتادة : " لما احتضر عامر بكى، فقيل ما يبكيك ؟ قال: ما أبكي جزعًا من الموت، ولا حرصًا على الدنيا، ولكن أبكي على ظمأ الهواجر وقيام الليل . "سير اعلام النبلاء" (۱۹/۴).

(۳) و روى شعبة عن الحكم أنّ الأسود كان يصوم الدهر . "سير اعلام النبلاء" (۵۲/۴).

(۴) و روى حماد عن إبراهيم. كان الأسود يصوم حتّى يَسود لسانه من الحر . "سير اعلام النبلاء" (۵۳/۴).

(۵) قال حنس بن حارث: رأيت الأسود وقد ذهبت إحدى عينيه من الصوم . "حلية الأولياء" (۱۰۴/۲).

(٦) عن الحسن بن عمارة أنّه غسل حين توفي وقال: غفر الله له. لم تفطر منذ ثلاثين سنة، ولم تتوسد يمينك في الليل منذ أربعين سنة . "إقامة الحجة على ان الإكثار من التعبد ليس ببدعة" (ص ۷۷). نداء الريان في فقه الصوم وفضل رمضان ۱۵۴/۱ صوم ابي حنيفة .

۴ . حضرت عُروه بن زبير رحمه الله د مديني منوّرې په فقهاؤ کې مشهور فقِيه تېر شوی ، ده به هم د اَيّام مَنهيه نه علاوه هميشه روژه نيوه ، تر دې چې کله وفات کيدو نو روژه يې وه ، خلقو ورته ډير وويل چې روژه ماته کړه ليکن ده ماته نکړه . (۱)

دده په خپه باندې د آکِلې ( غوښه خوړونکي ) بيماري لېيدلې وه ، طبيبانو چې کله دده نه خپه غوڅوله نو په دې حالت کې هم دده روژه وه . (۲)

۵ . عبد الرحمن بن اسود نخعي رحمه الله به دومره ډيرې روژې نيولی چې د ډيرو روژو او تندې په وجه يې ژبه اُوسوزيده ( او خرابه شوه ) . (۳)

تر دې چې کله وفات کيدو نو ژړل يې ، خلقو ورته وويل چې ولې ژاړې ؟ ده ورته وويل: أسفًا على الصّلاة والصّوم . د مونځ او روژې په پاتې کيدو باندې افسوس کوم . دا يې مسلسل ويل او وفات شو . (۴)

۶ . شيخ الاسلام بقيع بن مخلد رحمه الله د امام احمد بن حنبل رحمه الله شاګرد دی ، ډير تفسيرونه او د احاديثو کتابونه يې ليکلي ، ددې باوجود به يې په هره شپه د قرآن کريم ختم کولو ، د ورځې به يې سل رکعته نفلونه کول ، هميشه به يې روژه نيوه ، او په ډيرو جهادونو کې يې شرکت کړې وُ . (۵)

---

(۱) عن هشام بن عروة أنّ أباه كان يصوم الدهر إلا يوم الفطر ويوم النحر ومات وهو صائم ويعفوا يقولون له أفطِر فلم يفطر . "طبقات ابن سعد" (۱۸۰/۵) ، و"الزهد" لأحمد (۳۷۱) ، "صفة الصفوة" (۸۸/۲) . وعن هشام بن عروة أنّ أباه كان يسرد الصوم . "صفة الصفوة" (۸۸/۲) .

(۲) وعن عبد الواحد مولى عروة قال: شهدت عروة بن الزبير قطع رجله من المعضل وهو صائم . "الحلية" (۱۷۸/۲) .

(۳) وروي أنّ عبد الرحمن صام حتى أحرق الصوم لسانه . "السير" (۱۲/۵) .

(۴) وعن الحكم أنّ عبد الرحمن بن الأسود لما احتُضر بكى فقيل له : ما يبكيك ؟ فقال: أسفًا على الصّلاة والصّوم ولم يزل يتلو حتى مات. "السير" (۱۲/۵) .

(۵) ذكر أبو عبيدة صاحب القبلة قال: كان بقيّ يختم القرآن كلّ ليلة ثلاث عشرة ركعة، وكان يصلي بالنهار مئة ركعة، ويصوم الدهر، وكان كثير الجهاد، فاضلاً، يُذكر عنه أنه رابط اثنتين وسبعين غزوة . "سير اعلام النبلاء" (۲۹۲/۱۳) .

۷ . د حنابله ؤ مشهور عالم ابن بطه رحمه الله کوم چې د احاديثو مشهور کتاب "الابانة الکبری" هم ليکلې دی ، دا چې کله د سفر نه راواپس شو نو څلويښت (۴۰) کاله په کور کې ؤ ، بازار ته به نه تللو ، د آيام مَنهيه نه علاوه به يې هميشه روژه وه. (۱)

۸ . وکيع بن جراح رحمه الله مشهور عالم تېر شوی ، دده به په سفر او حضَر دواړو کې هميشه روژه وه ، او په هره شپه به يې د قرآن کريم ختم کولو . (۲)

۹ . سليمان بن يسار رحمه الله د مدينې منوّرې په فقهاؤ کې مشهور فقيه ؤ ، دده به هم هميشه روژه وه. دده ورور عطاء بن يسار رحمه الله به يوه ورځ پس روژه نيوله . (۳)

۱۰ . سعيد بن مسيب رحمه الله به هم هميشه روژه نيوه . (۴)

۱۱ . احمد بن سليمان د حنابله ؤ مشهور عالم ؤ ، ډير کتابونه يې ليکلي ، دده به هم هميشه روژه وه . (۵)

۱۲ . نورالدين زنګي رحمه الله باوجود ددينه چې عادل بادشاه ؤ ، هميشه به په جهاد

---

(۱) الإمام القدوة العابد الفقيه المحدث شيخ العراق العكبري الحنبلي صاحب " الإبانة الكبرى". قال الخطيب: "لما رجع ابن بطة من الرحلة لازم بيته أربعين سنة، لم يُر في سوق ولا رؤي مفطر إلا في عيد . "تاريخ بغداد" (۳۷۲/۱۰) ، و"سير اعلام النبلاء" (۵۲۹/۱۶، ۵۳۰) .

(۲) قال يحيى بن أكثم: صحبت وكيعًا في الحضر والسفر، وكان يصوم الدهر، ويختم القرآن كل ليلة . "سير أعلام النبلاء" (۱۴۲/۹) .

(۳) كان سليمان بن يسار يصوم الدهر. وكان أخوه عطاء يصوم يومًا ويفطر يومًا. "السير" (۴۴۸/۴) ، ابن سعد (۱۷۳/۵) ، صفة الصفوة ۸۴/۲) .

(۴) حدث يزيد بن أبي حازم أن سعيد بن المسيب كان يسرد الصوم . "سير اعلام النبلاء" (۲۲۱/۴) ، وقال الذهبي إسناده ثابت .

(۵) من كبار علماء الحنابلة في جمع العلم والزهد ، وصنف كتاب " الخلاف " نحو مائتي جزء . وقد سمع من أبي داود السجستاني وغيره. وكان يصوم الدهر ويفطر كل ليلة على رغيف . "مناقب الإمام احمد" (۱۶۷، ۶۱۸) .

کې مصروفه وُ ، څه د پاسه دوه پنځوس ښارونه يې د کافرانو نه فتح کړي وو ، خو د دې باوجود به يې بيا هم ټوله شپه عبادت کولو ، او اکثره به يې روژه وه. (۱)

**۱۳** . د محمد بن عبدالرحمن المغيرة رحمه الله اول معمول دا وُ چې يوه ورځ به يې روژه وه او بله ورځ به يې نه وه ، بيا يې روستو معمول دا جوړ کړو چې مسلسل به يې روژې نيولی. (۲)

**۱٤** . علامه ابن سيرين رحمه الله به يوه ورځ پس مسلسل روژه نيوه ، او همدا يې معمول وُ. (۳)

**۱۵** . علامه ابن جريج رحمه الله به په هره مياشت کې صرف درې (۳) ورځې روژې نه نيولی نور به يې هميشه روژه وه . (۴)

**نوټ** : د روژې متعلق ټول ضروري فِقهي مسائل په تفصيل سره روستو ذکر دي ، د صفحه ۲۰٦ نه تر د صفحه ۳۲۴ پورې ، هلته يې اوګوره . ابوالشمس عفي عنه

---

(۱) قال ابن الجوزي: استرجع نور الدين محمود بن زنكي رحمه الله تعالى من أيدي الكفار نيفًا وخمسين مدينة.... قال ابن كثير... وكان مدمنًا لقيام الليل، يصوم كثيرًا ويمنع نفسه من الشهوات. "البداية والنهاية" (۱۲/۳۰٦-۳۰۷).

(۲) أنه كان يصوم يومًا ويفطر يومًا ثم سرده. "العبر" (۱/۲۳۱)، واليافعي في "مرآة الجنان" (۱/۳۴۰).

(۳) عن أيوب قال: كان محمد يصوم يومًا ويفطر يومًا. "الزهد" (۳۰۷)، و"السير" (٦۱۵).

(۴) قال أبو عاصم النبيل: كان ابن جريج من العباد كان يصوم الدهر سوى ثلاثة أيام من الشهر. "السير" (٦/۳۳۳). نداء الريان في فقه الصوم وفضل رمضان الباب الخامس سادات الصالمين.

بِسۡمِ اللّٰهِ الرَّحۡمٰنِ الرَّحِيۡمِ

يٰٓاَيُّهَا الَّذِيۡنَ اٰمَنُوۡا كُتِبَ عَلَيۡكُمُ الصِّيَامُ كَمَا كُتِبَ عَلَى الَّذِيۡنَ مِنۡ قَبۡلِكُمۡ لَعَلَّكُمۡ تَتَّقُوۡنَ

البقرة آیة ۱۸۳.

# د رمضانُ المبارک د روژو فضائلِ فوائدِ او حکمتونه

تالیف

اَبُو الشَّمس مولانا نُورُالهُدیٰ عُفِيَ عَنهُ

مُدَرِّس دَارُالعلوم فیضُ القُرآن اکاخیل کالونی مردان

بِسْمِ اللهِ الرَّحْمٰنِ الرَّحِيْمِ

# د رمضان المبارک د روژو فضائل، فوائد او حکمتونه

اَلْحَمْدُ لِلّٰهِ الَّذِيْ اَنْعَمَ عَلَى الْخَلْقِ بِبَعْثَةِ الْاَنْبِيَآءِ وَالْمُرْسَلِيْنَ، وَالصَّلَاةُ وَالسَّلَامُ عَلٰى رَسُوْلِهِ خَاتَمِ النَّبِيِّيْنَ، وَعَلٰى آلِهِ وَاَصْحَابِهِ اَجْمَعِيْنَ.

اَمَّا بَعْدُ فَقَدْ قَالَ اللهُ تَبَارَكَ وَتَعَالٰى فِي الْقُرْآنِ الْمَجِيْدِ وَالْفُرْقَانِ الْحَمِيْدِ:

﴿ يٰاَيُّهَا الَّذِيْنَ اٰمَنُوْا كُتِبَ عَلَيْكُمُ الصِّيَامُ كَمَا كُتِبَ عَلَى الَّذِيْنَ مِنْ قَبْلِكُمْ لَعَلَّكُمْ تَتَّقُوْنَ ﴾. (۱)

وَقَالَ رَسُوْلُ اللهِ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ: مَنْ صَامَ رَمَضَانَ إِيْمَانًا وَاحْتِسَابًا، غُفِرَ لَهُ مَا تَقَدَّمَ مِنْ ذَنْبِهِ. (۲) صَدَقَ اللهُ الْعَظِيْم

## تمهيدي خبره

عزت مندو مسلمانانو ورونو! رمضان المبارک د خير و برکت مياشت ده، د رحمتونو او مغفرت مياشت ده، په دې کې يو اهم عبادت روژه ده، روژه د اسلام بُنيادي رُکن دی، د رمضان روژې فرضِ عين دي، په اسلامي شريعت کې ددې روژو ډير فضائل، فوائد او حکمتونه بيان شوي.

(۱) البقرة آية ۱۸۳.

(۲) صحيح البخاري كِتَابُ الإِيْمَانِ بَابٌ: صَوْمُ رَمَضَانَ إِحْتِسَابًا مِنَ الْإِيْمَانِ رقم الحديث ۳۸، صحيح مسلم باب الترغيب في قيام رمضان و هو التراويح رقم الحديث ۱۷۵ (۷٦۰)، سنن ابي داؤد باب في قيام شهر رمضان رقم الحديث ۱۳۷۲، سنن ابن ماجة رقم الحديث ۱٦۴۱، مشكاة المصابيح كتاب الصوم الفصل الاول رقم الحديث ۱۹۵۸ (۳).

په يو روايت کې ورسره مزيد اضافه هم شته: عَنْ أَبِي هُرَيْرَةَ رَضِيَ اللهُ عَنْهُ عَنِ النَّبِيِّ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ قَالَ: « مَنْ صَامَ رَمَضَانَ إِيْمَانًا وَاحْتِسَابًا غُفِرَ لَهُ مَا تَقَدَّمَ مِنْ ذَنْبِهِ، وَمَنْ قَامَ لَيْلَةَ الْقَدْرِ إِيْمَانًا وَاحْتِسَابًا غُفِرَ لَهُ مَا تَقَدَّمَ مِنْ ذَنْبِهِ ». صحيح البخاري كتاب فضل ليلة القدر رقم الحديث ۲۰۱۴.

## مسلمان به هر حُکم بغیر د څُون و چرا مني

د مسلمان شان دادی چې دې به د الله ﷻ هر حُکم بَغیر د چُون و چرا نه په سَر سترګو مني، که ده ته په یو حُکم کې څه فوائد او حِکمتونه په نظر راځي او که نه.

ځکه مونږ د الله تعالی بندګان او غلامان یو، او بنده ته هیڅ کله دا حق حاصل نه وي چې هغه په یو حُکم باندې د عمل کولو نه مخکې د مولی د حُکم فوائد او حِکمتونه معلوم کړي، بلکه بنده او غلام د دې پابند وي چې هغه هر حُکم بغیر د چون و چرا نه اُو مني.

البته دا خبره یقیني ده چې الله تعالی حکیم ذات دی او حکیم چې د کومو شیانو حُکم کوي نو په هغې کې به خامخا د انسان د پاره بې شماره حِکمتونه، رازونه، دُنیوي او اُخروي فائدې وي.

بل دا چې انسان طبعًا حریص دی که چیرته ده ته د یو حُکم فوائد، اَسرار، حِکمتونه، دُنیوي او اُخروي فایدې بیان کړې شي نو دې فِطرةً خوشحالیږي، مُطمئِن کیږي، او په دې باندې بیا په شوق سره عمَل کوي.

بیا خاصکر د ځنې احکاماتو فوائد او حِکتونه خو په قرآن کریم او احادیثو کې هم ذکر شوي لکه مونځ، روژه، زکوة، حج وغیره.

بهر حال، د رمضان المبارک په میاشت کې روژې نیول هم د الله تعالی یو حُکم دی، په شریعت کې د دې ډیر فضائل او فوائد بیان شوي، هغه ټول په دې مختصر وخت کې بیانول ممکن ندي خو زه به درته یو څو غټ فضائل او فوائد بیان کړم:

## ۱. د روژې په وجه تقوی پیدا کیږي

د روژې اوله فائده داده چې د دې په وجه په انسان کې تقوٰی پیدا کیږي، په قرآن کریم کې هم د روژې فرض کیدو مقصد همدا تقوٰی بیان شوی، الله رب العزت فرمایي:

﴿ يٰٓاَيُّهَا الَّذِيْنَ اٰمَنُوْا كُتِبَ عَلَيْكُمُ الصِّيَامُ كَمَا كُتِبَ عَلَى الَّذِيْنَ مِنْ قَبْلِكُمْ لَعَلَّكُمْ تَتَّقُوْنَ﴾.(۱)

---

(۱) البقرة آية ۱۸۳.

ترجمه : اې مؤمنانو ! په تاسو باندې روژې فرض کړې شوي دي لکه څرنګې چې په هغه خلقو باندې فرض کړې شوې وې کوم چې د تاسو نه وړاندې تېر شوي ، ددې د پاره چې تاسو پرهيزګار ( متّقيان ) شی . ( په زړه کې مو د الله ﷻ نه يَره پيدا شي ) .

**فايده** : ددې آيت نه معلومه شوه چې د روژې په اَهمو مقاصدو يو مقصد دا هم دی چې ددې په وجه په انسان کې تقوی ( د الله ﷻ نه يَره ) پيدا کيږي ، او د ګناهونو نه بچ کيږي .

( نوټ : ددې آيت پوره تشريح په مخکينی موضوع " د رمضان المبارک د روژو اهميت " کې تېره شوی ، هلته يې اوګوره . ابوالشمس عفي عنه )

## ۲ . د روژې په وجه مخکني ګناهونه معاف کيږي

د روژې دويمه فائده داده چې ددې په وجه د مسلمان مخکني ګناهونه معاف کيږي ، دا مضمون په ډېرو احاديثو کې ذکر شوی :

۱ . د بخاري شريف او مسلم شريف حديث دی ، رسول الله صلی الله عليه وسلم فرمايي :

مَنْ صَامَ رَمَضَانَ، إِيْمَانًا وَاحْتِسَابًا، غُفِرَ لَهُ مَا تَقَدَّمَ مِنْ ذَنْبِهِ. (۱)

څوک چې د رمضان المبارک روژې د ايمان سره او د ثواب په نيت باندې ( خالص د الله ﷻ د رَضا د پاره ) اونيسي نو په دې سره دده مخکني ټول ګناهونه معاف کولې شي .

( يعنی واړه ګناهونه به ورته ټول معاف کړې شي ، او غټ ګناهونه به ورته سپک کړې شي ، او که ګناهونه يې نه وي کړي نو دده درجې به پرې اُوچتې کړې شي ) . (۲)

---

(۱) صحيح البخاري كِتَابُ الإِيْمَانِ بَابٌ: صَوْمُ رَمَضَانَ احْتِسَابًا مِنَ الإِيْمَانِ رقم الحديث ۳۸ ، صحيح مسلم باب الترغيب في قيام رمضان و هو التراويح رقم الحديث ۱۷۵ (۷۶۰) ، سنن ابي داؤد باب في قيام شهر رمضان رقم الحديث ۱۳۷۲ ، سنن ابن ماجة رقم الحديث ۱۶۴۱ ، مشكاة المصابيح كتاب الصوم الفصل الاول رقم الحديث ۱۹۵۸(۳) .

(۲) ملا علي قاري رحمه الله ددې حديث تشريح داسې کړی : " إِيْمَانًا " نُصِبَ عَلَى أَنَّهُ مَفْعُوْلٌ لَهُ. أَيْ لِلْإِيْمَانِ، وَهُوَ التَّصْدِيْقُ بِمَا جَاءَ بِهِ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ وَالْاِعْتِقَادُ ............ (نور په آئنده صفحه)

**۲**. د نسائي او ابن ماجه شريف حديث دی ، رسول الله صلی الله عليه وسلم فرمايي :

إِنَّ اللهَ تَبَارَكَ وَتَعَالَى فَرَضَ صِيَامَ رَمَضَانَ عَلَيْكُمْ وَسَنَنْتُ لَكُمْ قِيَامَهُ. فَمَنْ صَامَهُ وَقَامَهُ إِيمَانًا وَاحْتِسَابًا خَرَجَ مِنْ ذُنُوبِهِ كَيَوْمِ وَلَدَتْهُ أُمُّهُ .(۱)

بيشکه الله تعالی په تاسو باندې د رمضان روژې فرض کړي دي ، او ما درباندې د دې قِيام (يعنی تراويح ) سُنت مقرر کړي ، پس څوک چې د ايمان سره او د ثواب په نيت باندې (خالص د الله جَلَّ جَلَالُهُ د رَضا د پاره ) د دې مياشتې روژې اونيسي ، او د دې د شپو قِيام او کړي نو دې به د خپلو ګناهونو نه داسې اُووځي ( او صفا به شي ) لکه په کومه ورځ چې دې خپلې مور زيږولې وي (او د ګناهونو نه صفا وي ) .

**۳**. په مسند احمد کې اُوږد حديث نقل دی ، د هغې په آخر کې ذکر دي :

.... وَيُغْفَرُ لَهُمْ فِي آخِرِ لَيْلَةٍ . قِيلَ : يَارَسُولَ اللهِ ! أَهِيَ لَيْلَةُ الْقَدْرِ ؟ قَالَ : لَا . وَلَكِنَّ

---

.......... بِفَرْضِيَّةِ الصَّوْمِ ، قَالَهُ الطِّيبِيُّ ، وَقِيلَ : تَصْدِيقًا لِثَوَابِهِ ، وَقِيلَ : نَصْبُهُ عَلَى الْحَالِ ، أَيْ مُصَدِّقًا لَهُ ، أَوْ عَلَى الْمَصْدَرِيَّةِ أَيْ صَوْمَ إِيمَانٍ أَوْ صَوْمَ مُؤْمِنٍ ، وَكَذَا قَوْلُهُ " وَاحْتِسَابًا " أَيْ طَلَبًا لِلثَّوَابِ مِنْهُ تَعَالَى أَوْ إِخْلَاصًا أَيْ بَاعِثُهُ عَلَى الصَّوْمِ مَا ذُكِرَ ، لَا الْخَوْفُ مِنَ النَّاسِ ، وَلَا الْإِسْتِحْيَاءُ مِنْهُمْ ، وَلَا قَصْدُ السُّمْعَةِ وَالرِّيَاءِ عَنْهُمْ ... " غُفِرَ لَهُ مَا تَقَدَّمَ مِنْ ذَنْبِهِ " أَيْ مِنَ الصَّغَائِرِ وَيُرْجَى لَهُ عَفْوُ الْكَبَائِرِ . مرقاة المفاتيح شرح مشكاة المصابيح ۴/۱۳۶۲ كِتَابُ الصَّوْمِ الْفَصْلُ الْأَوَّلُ في تشريح حديث ۱۹۵۸ (۳)

(۱) سنن النسائي كتاب الصِّيَامِ رقم الحديث ۲۲۱۰ ، سنن ابن ماجة كِتَابُ إِقَامَةِ الصَّلَاةِ وَالسُّنَّةُ فِيهَا بَابُ مَا جَاءَ فِي قِيَامِ شَهْرِ رَمَضَانَ رقم الحديث ۱۳۲۸ ، مسند ابي داؤد الطيالسي رقم الحديث ۲۲۱ ، صحيح ابن خزيمة رقم الحديث ۲۲۱۰ (قال الاعظمي اسناده ضعيف و معناه ثابت ) .

وفي روايةٍ : إِنَّ اللهَ فَرَضَ عَلَيْكُمْ صِيَامَ شَهْرِ رَمَضَانَ ، وَسَنَّ لَكُمْ قِيَامَهُ ...» . فضائل رمضان لابن ابي الدنيا ۱/۶۲ رقم الحديث ۱۷ .

وفي روايةٍ : عَنْ أَبِي هُرَيْرَةَ رضي الله عنه قَالَ : « أَوْضَعَ مَا يُصِيبُ صَاحِبُ شَهْرِ رَمَضَانَ إِذَا أَحْسَنَ صِيَامَهُ وَقِيَامَهُ أَنْ يَخْرُجَ مِنْ ذُنُوبِهِ كَيَوْمِ وَلَدَتْهُ أُمُّهُ » . فضائل شهر رمضان لعبد الغني المقدسي ۱/۴۲ رقم ۸ .

الْعَامِلَ إِنَّمَا يُوَفَّى أَجْرَهُ إِذَا قَضَى عَمَلَهُ . (۱)

... په آخري شپه د روژه دارو بخنه کولې شي . صحابه کرامو عرض اوکړو : آيا دا د ليلة القدر شپه ده ؟ ( چې په دې کې د دوی بخنه کولې شي ؟ ) نبي عليه السلام ورته وفرمايل: نه ، بلکه ( قانون دادی چې ) مزدور ته مزدوري هغه وخت ورکولې شي کله چې کار پوره کړي (يعنی د هرې روژې په آخر کې د دوی مغفرت کولې شي ) .

۴ . نبي عليه السلام فرمايي :

...فَإِذَا صَامَ أَوَّلَ يَوْمٍ مِنْ رَمَضَانَ غَفَرَ لَهُ مَا تَقَدَّمَ مِنْ ذَنْبِهِ إِلَى مِثْلِ ذٰلِكَ الْيَوْمِ مِنْ شَهْرِ رَمَضَانَ، وَاسْتَغْفَرَ لَهُ كُلَّ يَوْمٍ سَبْعُونَ أَلْفَ مَلَكٍ مِنْ صَلَاةِ الْغَدَاةِ إِلَى أَنْ تُوَارَىٰ بِالْحِجَابِ ... (۲)

... کله چې روژه دار د رمضان المبارک اوله روژه اونيسي نو الله تعالى ده ته د تېر رمضان نه تر دې رمضان پورې ټول ګناهونه اُوبخي ، او اُويا زره (۷۰۰۰۰) فرښتې په هره ورځ د سهَر نه تر ماښامه پورې ده ده د پاره د مغفرت او بَخنې دُعاګانې غواړي ...

۵ . د مسلم شريف حديث دی ، رسول الله ﷺ فرمايي :

اَلصَّلَوَاتُ الْخَمْسُ ، وَالْجُمْعَةُ إِلَى الْجُمْعَةِ ، وَ رَمَضَانُ إِلَى رَمَضَانَ ، مُكَفِّرَاتٌ مَا بَيْنَهُنَّ إِذَا اجْتَنَبَ الْكَبَائِرَ . (۳)

چې کله يو انسان د کبيره ګناهونو نه ځان ساتي نو دا پنځه مونځونه د ټولو هغه صغيره

---

(۱) مسند احمد رقم الحديث ۷۹۱۷ ، الترغيب والترهيب ج۲ ص ۹۱ ، شعب الايمان رقم الحديث ۳۳۳۰ ، كنزالعمال رقم الحديث ۲۳۷۰۸ . واخرجه البزار (۹۶۳) ، ومحمد بن نصر في "قيام رمضان" ص ۱۱۲ .

**نوټ** : دې حديث ته اګر چې علماؤ ضعيف ويلی ، ليکن د دې حديث مضمون په نورو صحيح احاديثو کې ذکر دی لکه په مسند احمد کې رقم (۷۱۴۸) ورقم (۷۷۸۰) ورقم (۷۷۸۸) کې د همدې حديث مضامين ذکر دي .

(۲) شعب الايمان الصيام فضائل شهر رمضان رقم الحديث ۳۳۶۲ ، الترغيب والترهيب كتاب الصوم الترغيب في صيام رمضان احتسابا وقيام ليله رقم الحديث ۱۲ .

(۳) صحيح مسلم بَابُ الصَّلَوَاتِ الْخَمْسِ وَالْجُمُعَةِ إِلَى الْجُمُعَةِ، وَرَمَضَانَ إِلَى رَمَضَانَ مُكَفِّرَاتٌ لِمَا بَيْنَهُنَّ مَا اجْتُنِبَتِ الْكَبَائِرُ رقم الحديث ۱۶ ( ۲۳۳ ) .

عَنْ أَبِي هُرَيْرَةَ رضي الله عنه قَالَ : إِنَّ رَسُولَ اللهِ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ قَالَ: « شَهْرُ رَمَضَانَ يُكَفِّرُ مَا بَيْنَ يَدَيْهِ إِلَى شَهْرِ رَمَضَانَ الْمُقْبِلِ » . فضائل رمضان لابن ابي الدنيا ۶۴/۱ رقم الحديث ۳۶ .

ګناهونو د پاره کفاره (او ختموونکي) ګرځي کوم چې په دې مينځني وختونو کې شوي وي، همدارنګې د يوې جُمعې نه تر د بلې جُمعې پورې، او د يو رمضان نه تر د بل رمضان پورې دا هم د هغه صغيره ګناهونو د پاره کفاره ګرځي کوم چې د دې په مينځ کې شوي وي.

**فائده**: د دې حديث نه معلومه شوه چې کوم ګناهونه د يو رمضان نه تر د بل رمضان پورې په دې مينځني وخت کې شوي وي نو دا به د رمضانُ المبارک د روژو په برکت سره معاف کيږي.

البته د کبيره ګناهونو سپيره توب دومره تيز دی چې د دې د معاف کولو د پاره د توبې ضرورت دی، خو که الله ﷻ يې چاته اوغواړي نو بغير د توبې نه يې هم ورته معاف کولې شي، ځکه د هغه نه څوک تپوس کوونکې نشته.

## د الله ﷻ رحمت د بندګانو ګناهونو بَخلو د پاره معمولي ذريعه ګوري

دا يقيني خبره ده چې د الله ﷻ رحمت د بندګانو د بَخلو د پاره معمولي بهانه ګوري. د فارسې ژبې يو شعر دی: *رحمتِ حق بها نه مي جويد * رحمتِ حق بهانه مي جويد*

د شعر په دې اوله کړۍ کې د "بَها" معنی ده: قيمت. او په دويمه کړۍ کې د "بَهانه" معنی ده: حِيله، وسيله. نو اوس د شعر معنی دا شوه:

د الله ﷻ رحمت قيمت نه غواړي، بلکه د الله ﷻ رحمت (د انسانانو د ګناهونو بخَلو د پاره) بَهانه (معمولي حِيله او وسيله) غواړي.

که په دُنيا کې يو کس د يو مالدار سړي دروازه يو مياشت اوټکوي نو که دا مالدار هر څومره بَخيل وي خو دې به آخِر هم ده ته دروازه کلاؤ کړي او د ده ضرورت به پوره کړي نو اوس تاسو په خپله آندازه اولږوئ چې که يو کس په رمضان المبارک کې د روژې په نيولو سره يو مياشت د أَرْحَمُ الرّاحِمِين ذات دروازه اوټکوي (يعنی د هغه نه د خپلو ګناهونو د مغفرت او بخَنې سوال اوکړي) نو ضرور به د الله ﷻ رحمت په جوش کې راځي او د ده مغفرت به کوي، بيا خاصکر د رمضان المبارک مياشتې په باره کې خو په خپله نبي عليه السلام فرمايي:

هُوَ شَهْرٌ أَوَّلُهُ رَحْمَةٌ ، وَأَوْسَطُهُ مَغْفِرَةٌ ، وَآخِرُهُ عِتْقٌ مِنَ النَّارِ .(۱)

دا داسې میاشت ده چې د دې اِبتدائي حصه (د مسلمانانو د پاره) رحمت دی ، مینځنی حصه یې مغفرت دی ، او آخري حصه یې د جهنم نه د آزادی ده .

## ۳ . روژه دار ته الله ﷻ په خپله بې حسابه اجر ورکوي

د رمضان المبارک د روژو دریمه فائده داده چې روژه دار ته الله ﷻ په خپله بې حسابه اجر ورکوي .

۱. د مسلم شریف او مشکوة شریف حدیث دی ، رسول الله ﷺ فرمايي :

كُلُّ عَمَلِ ابْنِ آدَمَ يُضَاعَفُ ، اَلْحَسَنَةُ عَشْرُ أَمْثَالِهَا إِلَى سَبْعِمِائَةِ ضِعْفٍ ، قَالَ اللهُ عَزَّ وَجَلَّ : إِلَّا الصَّوْمَ ، فَإِنَّهُ لِي وَأَنَا أَجْزِي بِهِ ، يَدَعُ شَهْوَتَهُ وَطَعَامَهُ مِنْ أَجْلِي ، " لِلصَّائِمِ فَرْحَتَانِ : فَرْحَةٌ عِنْدَ فِطْرِهِ ، وَفَرْحَةٌ عِنْدَ لِقَاءِ رَبِّهِ " .(۲)

د بني آدم د هرنېک عمل اجر (د اِخلاص او للّهیت په وجه) د لس(۱۰) چنده نه تر اُووه سوه (۷۰۰) چنده پورې زیاتولې شي ، مګر الله تعالی فرمايي : چې روژه د دې قانون نه مُستثنٰی ده ، ځکه دا (د بنده د طرفه) خاص زما د پاره (یوه تحفه) ده ، او همدا زه به د دې اجر ورکوم (۳) روژه دار صرف زما د پاره خپل خواهشات او خوراک پرېږدي (پس زه به هم ده ته د خپلې مرضی مطابق ثواب ورکوم) .

(۱) شعب الايمان رقم الحديث ۳۳۳۶ الصيام فضائل شهر رمضان ، مشكاة المصابيح كتاب الصوم الفصل الثالث رقم الحديث ۱۹۶۵ (۱۰) ، صحيح ابن خزيمة باب فضائل شهر رمضان ... رقم الحديث ۱۸۸۷ ، كنزالعمال رقم الحديث ۲۳۷۱۴ ، و رقم ۲۴۲۷۶ ، معارف الحديث ج۴ ص ۳۴۶ كتاب الصوم .

(۲) صحيح مسلم بَابُ فَضْلِ الصِّيَامِ رقم الحديث ۱۶۴(۱۱۵۱) ، مشكوة المصابيح كتاب الصوم الفصل الاول رقم الحديث ۱۹۵۹(۴) ، سنن ابن ماجة باب ماجاء في فضل الصيام رقم الحديث ۱۶۳۸ ، و رقم ۳۸۲۳ ، شعب الايمان فضائل الصوم رقم الحديث ۳۳۰۴ .

(۳) قال أبو عبيد: إنّما خصّ الله تبارك وتعالى الصّوم بأنّه له وهو يجزي به، وإن كانت أعمال البرّ كلّها له وهو يجزي بها، لأنّ الصّوم ليس يظهر من ابن آدم بلسان ولا فعل فتكتبه الحفظة. إنّما هو نيّة في القلب وإمساك عن حركة المطعم والمشرب. نضرة النعيم في مكارم أخلاق الرسول الكريم ﷺ ۲۶۴۵/۷ الصوم .

**د روژه دار د پاره دوه خوشحالۍ** د مذکوره حديث په آخر کې ذکر شو چې:
د روژه دار د پاره دوه خوشحالۍ دي: يوه د روژه ماتي په وخت، او دويمه د خپل رب سره د ملاقات په وخت. (۱)

## د روژې د فضيلت وجه

په مذکوره حديث کې ذکر شو چې د اخلاص، خشيت او للّهيت په وجه د هر نيک عمل اجر د لس (۱۰) چنده نه تر آويا (۷۰) چنده پورې زياتولې شي. خو الله تعالى فرمايي چې د روژې ثواب دومره زيات دی چې دا صرف ماته معلوم دی، ددې ثواب آندازه فرښتې نشي معلومولی نو ځکه ددې اجر به همدا زه ورکوم.
وجه دا ده چې روژه په داسې خصوصياتو مشتمل ده چې دا خصوصيات په نورو عباداتو کې نشته. (۲)

**د علامه طيبي رحمه الله تحقيق**: علامه طيبي رحمه الله د روژې ددې فضيلت دوه وجهې ذکر کړي: اول دا چې روژه داسې پټ راز دی چې په دې باندې نور خلق خبر نه وي،

---

(۱) علامه طيبي رحمه الله د "لِلصَّائِمِ فَرْحَتَانِ" تشريح داسې کړی: يحتمل الفرحة الاولى أمرين: فرح نفسه بالأكل والشرب و فرحها به بوجدان التوفيق لإتمام الصوم والخروج عن العهدة. والفرح الثانية نيل الجزاء عند لقاء الله تعالى، وهو فرح لايُكتنه كُنهه. شرح طيبي ج۴ ص ۱۳۹.

قال العلامة ابن رجب: أمّا فرحة الصائم عند فطره فإن النفوس مجبولة على الميل إلى ما يلائمها من مطعم ومشرب ومنكح. فإذا منعت من ذلك في وقت من الأوقات ثم أبيح لها في وقت آخر فرحا بإباحة ما مُنعت منه خصوصًا عند اشتداد الحاجة إليه. فإن النفوس تفرح بذلك طبعًا فإن كان ذلك محبوبًا لله كان محبوبًا شرعًا. والصائم عند فطره كذلك.... وأما فرحه عند لقاء ربه: فبما يجده عند الله من ثواب الصيام مدخراً فيجده أحوج ما كان إليه كما قال تعالى: ( وما تقدموا لأنفسكم من خير تجدوه عند الله هو خيراً وأعظم أجرا ). نداء الريان في فقه الصوم وفضل رمضان ۱/ ۵۱ الفضيلة السابعة عشر للصائم فرحتان

(۲) "إِلَّا الصَّوْمَ": فَإِنَّ ثَوَابَهُ لَا يُقَادِرُ قَدْرَهُ، وَلَا يُحْصِي حَصْرَهُ إِلَّا اللهُ لِاشْتِمَالِهِ عَلَى خُصُوصِيَّاتٍ لَا تُوجَدُ فِي غَيْرِهِ، وَلِذٰلِكَ يَتَوَلَّى جَزَاءَهُ بِنَفْسِهِ، وَلَا يَكِلُهُ إِلَى مَلَائِكَةِ قُدْسِهِ. مرقاة المفاتيح شرح مشكاة المصابيح ۱۳۶۲/۴ كِتَابُ الصَّوْمِ الفصل الاول في تشريح حديث ۱۹۵۹.

ریا په کې نه وي نو دا خالص د الله ﷻ د رضا د پاره شوه ، ځکه خو الله تعالی فرمايي :

إِلَّا الصَّوْمَ . فَإِنَّهُ لِيْ مګر روژه خالص زما د پاره ده .

بیا الله رب العزت اوفرمایل : وَأَنَا أَجْزِيْ بِهِ . ددې بدله به همدا زه ورکوم .

ځکه د روژې دومره ډیر ثواب دی چې ددې أندازه د الله ﷻ نه علاوه فرښتو یا نورو ته نه لږي ، نو ځکه الله ﷻ د روژو د ثواب معامله بل چاته او نه سپارله .

د روژې د فضیلت بله وجه دا هم ده چې په دې کې کسرِ نفسي او نفس کشي ده . روژه دار د الله ﷻ د رضا د پاره د بدن ظاهري نقصان ، اُولږه او تنده برداشت کوي نو ځکه يې ثواب هم ډير دی .(۱)

**د ابن الملک تحقیق** : ابن الملک رحمه الله ددې حدیث " فَإِنَّهُ لِيْ " په تشریح کې فرمايي : چې د روژې خصوصیت ددې د وجې دی چې روژه داسې عبادت دی چې دا خالصه

---

(۱) قَالَ الطِّيْبِيُّ رَحِمَهُ اللهُ : وَاخْتُصَّ بِهٰذِهِ الْفَضِيْلَةِ لِوَجْهَيْنِ: اَلْأَوَّلُ أَنَّهُ سِرٌّ لَا يَطَّلِعُ عَلَيْهِ الْعِبَادُ بِخِلَافِ سَائِرِ الْعِبَادَاتِ. فَيَكُوْنُ خَالِصًا لِوَجْهِ اللهِ تَعَالٰى. وَإِلَيْهِ أُشِيْرَ بِقَوْلِهِ تَعَالٰى "فَإِنَّهُ لِيْ" لِأَنَّ الصَّوْمَ لَا صُوْرَةَ لَهُ فِي الْوُجُوْدِ. بِخِلَافِ سَائِرِ الْعِبَادَاتِ. إِذْ كَثِيْرًا مَا يُوْجَدُ الْإِمْسَاكُ الْمُجَرَّدُ عَنِ الصَّوْمِ. فَلَا مُقَوِّمَ لَهُ إِلَّا النِّيَّةُ الَّتِيْ لَا يَطَّلِعُ عَلَيْهَا غَيْرُهُ تَعَالٰى. وَلَوْ أَظْهَرَ بِقَوْلِهِ: أَنَا صَائِمٌ. فَإِنَّهُ لَا يَدُلُّ عَلٰى حَقِيْقَتِهِ وَتَصْحِيْحِ نِيَّتِهِ "وَأَنَا أَجْزِيْ بِهِ" أَيْ وَأَنَا الْعَالِمُ بِجَزَائِهِ. وَإِلَيَّ أَمْرُهُ. وَلَا أَكِلُهُ إِلٰى غَيْرِيْ. وَالثَّانِيْ أَنَّهُ يَتَضَمَّنُ كَسْرَ النَّفْسِ وَتَعْرِيْضَ الْبَدَنِ لِلنُّقْصَانِ. مَعَ مَا فِيْهِ مِنَ الصَّبْرِ عَلَى الْجُوْعِ. وَالْعَطَشِ. وَسَائِرُ الْعِبَادَاتِ رَاجِعَةٌ إِلٰى صَرْفِ الْمَالِ وَاشْتِغَالِ الْبَدَنِ بِمَا فِيْهِ رِضَاهُ فَبَيْنَهُ وَبَيْنَهَا أَمَدٌ بَعِيْدٌ. وَإِلَيْهِ يُشِيْرُ بِقَوْلِهِ تَعَالٰى : يَدَعُ شَهْوَتَهُ وَطَعَامَهُ مِنْ أَجْلِيْ . مرقاة المفاتيح شرح مشكاة المصابيح كِتَابُ الصَّوْمِ الفصل الاول ۱۳۶۲/۴ في تشريح حديث ۱۹۵۹ . شرح طيبي ج۴ ص۱۳۸ .

قال الحافظ ابن حجر: المراد بقوله: "وَأَنَا أَجْزِيْ بِهِ" أني أنفرد بعلم مقدار ثوابه وتضعيف حسناته وأما غيره من العبادات فقد اطلع عليها بعض الناس.

قال القرطبي: معناه أن الأعمال قد كشفت مقادير ثوابها للناس وأنها تضاعف من عشرة إلى سبعمائة إلى ما شاء الله. إلا الصيام فإن الله يثيب عليه بغير تقدير. نداء الريان في فقه الصوم وفضل رمضان ۱/ ۳۱ الفضيلة الرابعة: رفعة الدرجات .

د الله ﷻ د رَضا د پاره نيولې شي ، په دې کې د الله رب العزت سره بل هيڅوک شريک نه وي ، او نه تر اوسه پورې يو مشرک د خپل باطل معبود د پاره روژه نيولې ده .

**روژه هيچا د بتانو د پاره نده نيولې** : مشرکانو به د خپلو باطلو معبودانو د پاره نور عبادتونه ( سجده ، نذر و نياز وغيره ) کړي دي خو تر اوسه پورې به داچا نه وي اوريدلي چې يو مشرک د خپلو باطلو خدايانو د پاره روژه نيولې وي ، لهذا روژه خالص د الله ﷻ د رَضا د پاره شوه ، نو ځکه خو يې اجر هم خالص الله ﷻ ورکوي . همدا مطلب د دې حديث دى چې : فَإِنَّهُ لِيْ وَأَنَا أَجْزِيْ بِهِ . (۱)

**د امام غزالي رحمه الله تحقيق** : امام غزالي رحمه الله په إحياء العلوم کې ذکر کړي چې په روژه کې داسې خصوصيات شته چې هغه په نورو عباداتو کې نشته ، ځکه د دې روژې اِضافت الله ﷻ خپل ځان طرف ته کړى ، حديث قدسي دى ، الله تعالى فرمايي :

اَلصَّوْمُ لِيْ وَأَنَا أَجْزِيْ بِهِ . روژه زما د پاره ده او همدا زه به د دې بدله ورکوم .

بيا امام غزالي رحمه الله د روژې د اَفضليت دوه وجهې هم ذکر کړي . (۲)

(۱) وَقَالَ ابْنُ الْمَلَكِ : قَوْلُهُ "فَإِنَّهُ لِي" أَيْ لَمْ يُشَارِكْنِي فِيهِ أَحَدٌ. وَلَا عُبِدَ بِهِ غَيْرِيْ. وَهٰذَا لِأَنَّ جَمِيْعَ الْعِبَادَاتِ الَّتِيْ يُتَقَرَّبُ بِهَا إِلَى اللهِ تَعَالَى قَدْ عَبَدَ بِهَا الْمُشْرِكُوْنَ آلِهَتَهُمْ. وَلَمْ يُسْمَعْ أَنَّ طَائِفَةً مِنْهُمْ عَبَدَتْ آلِهَتَهَا بِالصَّوْمِ. وَلَا تَقَرَّبَتْ بِهِ إِلَيْهَا فِيْ عَصْرٍ مِنَ الْأَعْصَارِ . مرقاة المفاتيح شرح مشكاة المصابيح كِتَابُ الصَّوْمِ الفصل الاول ۱۳۶۳/۴ في تشريح حديث ۱۹۵۹.

(۲) قال الغزالي في الإحياء: اعلم أن في الصوم خصيصة ليست في غيره. وهي إضافته إلى الله عز وجلّ حيث يقول سبحانه في الحديث القدسي : «اَلصَّوْمُ لِيْ وَأَنَا أَجْزِيْ بِهِ» . وكفى بهذه الإضافة شرفا كما شرّف البيت بإضافته إليه في قوله: وَطَهِّرْ بَيْتِيَ ( الحج/ ۲۶ ) وإنّما فضل الصوم لمعنيين: أحدهما: أنه سرّ وعمل باطن. لايراه الخلق ولا يدخله رياء. الثاني: أنه قهر لعدوّ الله ؛ لأنّ وسيلة العدوّ الشهوات. وإنّما تقوى الشهوات بالأكل والشرب وما دامت أرض الشهوات مخصبة. فالشياطين يترددون إلى ذلك المرعى. وبترك الشهوات تضيق عليهم المسالك. إحياء علوم الدين ۱ /۲۳۱ كتاب أسرار الصوم ، مختصر منهاج القاصدين (۴۴، ۴۵) ، نضرة النعيم في مكارم أخلاق الرسول الكريم ﷺ ۷ /۲۶۴۶ الصوم .

## هر کس د خپل طاقت موافق ورکړه کوي

په دُنیا کې که مونږ اوګورو نو هر کس د خپل وَس (او طاقت) موافق ورکړه کوي، مثلاً که یو فقیر د عام کس نه سوال اوکړي نو هغه ورته د خپل وَس موافق یوه یا دوه روپۍ ورکوي، خو که دا فقیر د کلي د ملک یا یو مالدار نه څه اوغواړي نو دې به ورته د خپل وَس مطابق اَته سوه یا زَر روپۍ ورکوي، خو که همدا فقیر بادشاه وقت ته ورشي او د هغه نه څه اوغواړي نو هغه به د خپل وَس موافق ده ته په لکونو روپۍ ورکړي ځکه دې د لږو روپو په ورکولو سره شرمیږي.

نو اوس د قیامت په ورځ چې الله رب العزت په خپله روژه دار ته د روژې اَجر ورکوي لکه څرنګې چې حدیثِ قدسي دی، الله ﷻ فرمایي: اَلصَّوْمُ لِيْ وَاَنَا اَجْزِيْ بِهٖ. روژه زما د پاره ده او همدا زه به ددې بدله ورکوم.

نو الله ﷻ به هم د خپل شان موافق ورکړه کوي چې د هغې عِلم به صرف الله ﷻ ته وي.

## ٤. روژه او قرآن کریم به ددې بنده د پاره شفاعت کوي

د رمضان المبارک د روژو څلورمه فائده داده چې د قیامت په ورځ به روژه او د قرآن کریم هغه تلاوت چې ده د شپې په مانځه کې کړې وي یا یې اَوریدلې وي دا به د الله تعالی په دَربار کې ددې بنده د پاره شفاعت کوي، او د دوی شفاعت به قبولې هم شي.

رسولُ الله صلی الله علیه وسلم فرمایي:

اَلصِّيَامُ وَالْقُرْآنُ يَشْفَعَانِ لِلْعَبْدِ يَوْمَ الْقِيَامَةِ، يَقُوْلُ الصِّيَامُ: أَيْ رَبِّ، مَنَعْتُهُ الطَّعَامَ وَالشَّهَوَاتِ بِالنَّهَارِ، فَشَفِّعْنِيْ فِيْهِ، وَيَقُوْلُ الْقُرْآنُ: مَنَعْتُهُ النَّوْمَ بِاللَّيْلِ، فَشَفِّعْنِيْ فِيْهِ ". قَالَ: « فَيُشَفَّعَانِ » (۱)

(۱) صحیح. رواه احمد في مسنده رقم الحدیث ٦٦٢٦، المستدرک علی الصحیحین للحاکم حدیث ۲۰۳٦ أخبار في فضائل القرآن جملةً. وقال الحاکم: هذا حدیث صحیح علی شرط مُسلم و لم یُخرِّجاه. شعب الایمان للبیهقي رقم الحدیث ۱۸۳۹، مشکوة المصابیح کتاب الصوم الفصل الثالث رقم الحدیث ۱۹٦۳(۸)، صحیح الترغیب والترهیب رقم الحدیث ۹۸۴(۷) کتاب الصوم الترغیب في الصوم مطلقًا و ما جاء في فضله، و رقم ۱۴۲۹(۱۵) کتاب قراءة القرآن.

روژه او قرآن کريم دواړه به د قيامت په ورځ د بنده د پاره شفاعت کوي ، روژه به عرض اوکړي : اې ربه ! ما دا بنده د ورځې د خوراک ( څکاک ) او نفساني خواهشاتو ( جِماع ) نه منع کړې ؤ ، نو دده په حق کې زما شفاعت قبول کړه ( او دده سره د مغفرت معامله اوکړه ) .

او قرآن به ووايي : اې ربه ! ما دا بنده د شپې د خوب نه منع کړې ؤ نو دده په حق کې زما شفاعت قبول کړه ، ( نبي عليه السلام فرمايي ) نو ددې دواړو شفاعت به قبول کړې شي ( يعنی دوی دواړو چې ددې انسان په باره کې د ګناهونو د بخشش کوم سفارش کړی دا به قبول کړې شي ، او دده د پاره به د جنت فيصله اوکړې شي ) . (۱)

**نوټ** : د روژې او قرآن کريم ثواب ته به الله رب العزت جِسم ورکړي ، او د خبرو کولو قوّت به ورکړي نو دا به ددې بنده د پاره شفاعت اوکړي . (۲)

## ۵ . د روژې په وجه د جهنم د اُور نه نِجات ملاويدل

د روژې پنځمه فائده داده چې ددې په وجه الله ﷻ انسان ته د جهنم د اُور نه نِجات ورکوي .

۱ . رسولُ الله صلی الله عليه وسلم فرمايي : لِلّٰهِ عِندَ كُلِّ فِطْرٍ عُتَقَاءُ مِنَ النَّارِ . (۳)
الله تعالی د هر روژه ماتي په وخت ډير خلق د جهنم د اُور نه آزادوي .

---

(۱) قال الألباني: أي يشفعهما الله فيه ويدخله الجنة . نداء الريان في فقه الصوم وفضل رمضان ۱/ ۴۹

(۲) قال المناوي: وهذا القول يحتمل أنه حقيقة بأن يجسد ثوابهما ويخلق الله فيه النطق (والله على كل شيء قدير) ويحتمل أنه على ضرب من المجاز والتمثيل". قلت: والأول هو الصواب الذي ينبغي الجزم به هنا وفي أمثاله من الأحاديث التي فيها تجسيد الأعمال ونحوها كمثل تجسيد الكنز شجاعاً أقرع. ونحوه كثير. وتأويل مثل هذه النصوص ليس من طريقة السلف رضي الله عنهم. بل هو طريقة المعتزلة ومن سلك سبيلهم من الخلف. وذلك مما ينافي أول شروط الإيمان (الذين يؤمنون بالغيب) فحذار أن تحذو حذوهم. فتضل وتشقى. والعياذ بالله تعالى . تعليق الألباني على "صحيح الترغيب والترهيب" ۱/ ۴۱۱ نداء الريان في فقه الصوم وفضل رمضان ۱/ ۴۹ الفضيلة الرابعة عشر شفاعة الصيام يوم القيامة لصاحبه .

(۳) المعجم الكبير للطبراني رقم الحديث ۸۰۸۹ ، و رقم ۸۰۸۸ ، شعب الايمان رقم الحديث ۳۳۳۳ فضائل شهر رمضان.

او دا په هره شپه آزادوي . (۱)

۲ . امام بیهقي رحمه الله په " شعب الایمان " کې دا حدیث رانقل کړی ، رسول الله صلی الله علیه وسلم فرمایي :

.... وَلِلّٰهِ عَزَّ وَجَلَّ عِنْدَ كُلِّ فِطْرٍ مِنْ شَهْرِ رَمَضَانَ كُلَّ لَيْلَةٍ عُتَقَاءَ مِنَ النَّارِ سِتُّونَ أَلْفًا. فَإِذَا كَانَ يَوْمُ الْفِطْرِ أَعْتَقَ مِثْلَ مَا أَعْتَقَ فِي جَمِيعِ الشَّهْرِ ثَلَاثِيْنَ مَرَّةً سِتِّيْنَ أَلْفًا سِتِّيْنَ أَلْفًا. (۲)

... الله تعالی د رمضان په میاشت کې هره شپه د روژه ماتي په وخت شپیته زره (۶۰۰۰۰) خلق د جهنم د اُور نه آزادوي ، کله چې د وړوکي اختر ورځ شي نو دومره ډیر خلق د جهنم د اُور نه آزادوي څومره یې په دې ټوله میاشت کې آزاد کړي ، یعنی دیرش پېرې شپیته زره شپیته زره کسان آزادوي (چې مجموعه اتلس لکه " ۱۸۰۰۰۰۰ " خلق جوړیږي) .

۳ . نبي کریم ﷺ فرمایي : إِنَّ لِلّٰهِ عَزَّ وَجَلَّ فِي كُلِّ لَيْلَةٍ مِنْ رَمَضَانَ سِتَّمِائَةَ أَلْفِ عَتِيْقٍ مِنَ النَّارِ، فَإِذَا كَانَ آخِرُ لَيْلَةٍ أَعْتَقَ بِعَدَدِ مَنْ مَضٰى . (۳)

بیشکه الله رب العزت د رمضان المبارک په هره شپه شپږ لکه (۶۰۰۰۰۰) خلق د جهنم د اُور نه آزادوي ، بیا چې کله د رمضان آخري شپه شي نو الله تعالی په دې شپه دومره ډیر خلق د جهنم نه آزادوي څومره یې چې تر اوسه په ټول رمضان کې آزاد کړې وي .

۴ . د حضرت ابن عباس رضي الله عنهما نه د رمضان المبارک د فضیلت متعلق یو اُوږد حدیث نقل دی ، رسول الله صلی الله علیه وسلم فرمایي :

.... وَلِلّٰهِ عَزَّ وَجَلَّ فِي كُلِّ يَوْمٍ مِنْ شَهْرِ رَمَضَانَ عِنْدَ الْإِفْطَارِ أَلْفُ أَلْفِ عَتِيْقٍ مِّنَ النَّارِ كُلُّهُمْ قَدِ

(۱) وفي رواية : قَالَ رَسُوْلُ اللّٰهِ صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ : « إِنَّ لِلّٰهِ عِنْدَ كُلِّ فِطْرٍ عُتَقَاءَ . وَذٰلِكَ فِي كُلِّ لَيْلَةٍ » سنن ابن ماجة كِتَابُ الصِّيَامِ بَابُ مَا جَاءَ فِي فَضْلِ شَهْرِ رَمَضَانَ رقم الحديث ۱۶۴۳ قال الالباني هذا حديث حسن صحيح كنز العمال رقم الحديث ۲۳۵۸۴ ، و رقم ۲۳۷۲۰ .

(۲) شعب الايمان للبيهقي الصيام فضائل شهر رمضان رقم الحديث ۳۳۳۴ . الترغيب والترهيب ج۲ ص ۶۳ كتاب الصوم الترغيب في صيام رمضان احتسابا و قيام ليله حديث ۳۰

(۳) شعب الايمان للبيهقي الصيام فضائل شهر رمضان رقم الحديث ۳۳۳۲ ، الترغيب والترهيب ج۲ ص ۶۳ كتاب الصوم الترغيب في صيام رمضان احتسابا و قيام ليله حديث ۲۹ .

اسْتَوْجَبُوا النَّارَ. فَإِذَا كَانَ آخِرُ يَوْمٍ مِنْ شَهْرِ رَمَضَانَ أَعْتَقَ اللهُ فِي ذٰلِكَ الْيَوْمِ بِقَدْرِ مَا أَعْتَقَ مِنْ أَوَّلِ الشَّهْرِ إِلَى آخِرِهِ. (۱)

الله تعالی د رمضان المبارک په هره ورځ د روژه ماتي په وخت داسې لس لکه (۱۰۰۰۰۰) خلق د جهنم د اُور نه آزادوي چې په هغوی باندې د جهنم اُور واجب شوې وي. بیا کله چې د رمضان المبارک آخِري ورځ شي نو الله ﷻ په دې ورځ باندې دومره ډیر خلق د جهنم د اُور نه آزادوي څومره یې چې د دې میاشتې د اول نه تر آخِره پورې آزاد کړي وي.

## ٦. د روژې په وجه د جهنم نه لرې کېدل

۱. د بخاري شريف او مسلم شريف حديث دی، رسول الله ﷺ فرمايي:

مَنْ صَامَ يَوْمًا فِي سَبِيْلِ اللهِ، بَعَّدَ اللهُ وَجْهَهُ عَنِ النَّارِ سَبْعِيْنَ خَرِيْفًا. (۲)

څوک چې د الله ﷻ په لاره کې (يعنی جهاد، یا خالص د الله ﷻ د رَضا د پاره (۳)) يوه ورځ روژه اونيسي نو الله تعالی به د آويا (۷۰) کاله مسافت په اندازه دده مخ د جهنم نه لرې کړي.

---

(۱) شعب الايمان للبيهقي الصيام التماس ليلة القدر في العشر الاواخر من شهر رمضان رقم الحديث ۳۴۲۱ ؛ الترغيب والترهيب ج۲ ص ۶۱ كتاب الصوم الترغيب وفي صيام رمضان احتسابا و قيام ليله رقم الحديث ۲۳ و رواه الشيخ ابن حبان في كتاب الثواب

(۲) صحيح البخاري كِتَابُ الجِهَادِ وَالسِّيَرِ بَابُ فَضْلِ الصَّوْمِ فِي سَبِيلِ اللهِ رقم الحديث ۲۸۴۰ . صحيح مسلم كِتَابُ الصِّيَامِ بَابُ فَضْلِ الصِّيَامِ فِي سَبِيلِ اللهِ لِمَنْ يُطِيقُهُ بِلَا ضَرَرٍ وَلَا تَفْوِيتِ حَقٍّ رقم الحديث ۱۶۸(۱۱۵۳) ، سنن ابن ماجة باب في صيام يوم في سبيل الله رقم الحديث ۱۷۱۷

وفي رواية: قَالَ رَسُوْلُ اللهِ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ: مَنْ صَامَ يَوْمًا فِي سَبِيْلِ اللهِ بَعُدَتْ مِنْهُ النَّارُ مَسِيْرَةَ مِائَةِ عَامٍ. المعجم الاوسط للطبراني رقم الحديث ۳۲۴۹ ، صحيح الترغيب والترهيب رقم الحديث ۱۲۵۹(۴) ترغيب الغازي والمرابط ... ، كنز العمال رقم الحديث ۲۳۵۹۷

(۳) (فِيْ سَبِيْلِ اللهِ) : أي وهو في الجهاد أو مخلصا لله تعالى فيه . تعليق مصطفى البغا على البخاري في تشريح رقم الحديث ۲۸۴۰

۲. په يو بل حديث کې ذکر دي، نبي اکرم صلى الله عليه وسلم فرمايي:

مَنْ صَامَ يَوْمًا فِيْ سَبِيْلِ اللهِ جَعَلَ اللهُ بَيْنَهُ، وَبَيْنَ النَّارِ خَنْدَقًا كَمَا بَيْنَ السَّمَاءِ وَالْأَرْضِ. (۱)

څوک چې د الله ﷻ په لاره کې روژه اونيسي نو الله ﷻ به دده او د جهنم په مينځ کې د زمکې او آسمان د فاصلې په مقدار خندق (مضبوط حجاب او مانع) اوګرځوي.

**د '' في سبيل الله '' مصداق**: د مذکوره دوه احاديثو په باره کې د علماؤ د يو جماعت قول دادی چې دا دواړه احاديث په جهاد کې د روژې نيولو فضيلت په باره کې راغلي، ځکه په دې کې د فِيْ سَبِيْلِ اللهِ لفظ راغلی، او ددې نه مراد جهاد دی.

او د علماؤ د بل جماعت قول دادی چې دا مذکوره دوه احاديث د هر قسمه روژې د فضيلت په باره کې راغلي، ځکه چې کله د روژې نه مقصد خالص د الله ﷻ رضا وي نو بيا هره روژه په فِيْ سَبِيْلِ اللهِ کې داخله ده. (۲)

ملا علي قاري رحمه الله هم د فِيْ سَبِيْلِ اللهِ نه عامه معنی اخيستې ده. (۳)

---

(۱) المعجم الكبير للطبراني رقم الحديث ۷۹۲۱، و رواه الطبراني في الاوسط والصغير باسناد حسن. مشكاة المصابيح رقم الحديث ۲۰۶۴ (۲۹)، سنن الترمذي رقم ۱۶۲۴ وقال الالباني: هذا حديث حسن صحيح. الترغيب والترهيب كتاب الصوم الترغيب في الصوم مطلقا ج۲ رقم الحديث ۲۴

(۲) وَقد ذهب طوائف من العلمَاء إِلى أَنّ هٰذِه الأَحَادِيث جَاءَت فِي فضل الصَّوْم فِي الْجِهَاد. وَبَوَّبَ على هٰذَا التِّرمِذِيّ وَغَيره. وَذَهبت طَائِفَة إِلى أَنّ كل الصَّوْم فِي سَبِيل الله إِذا كَانَ خَالِصا لوجه الله تَعَالَى وَيَأْتِي بَاب فِي الصَّوْم فِي الْجِهَاد إِن شَاءَ الله تَعَالَى. الترغيب والترهيب للمنذري ۵۳/۲ في تشريح حديث ۱۴۶۸؛ كتاب الصَّوْم التَّرْغِيب فِي الصَّوْم مُطلقًا..

(۳) ملاعلي قاري رحمه الله د مذکوره حديث تشريح داسې کړی: "مَنْ صَامَ يَوْمًا فِيْ سَبِيْلِ اللهِ": أَيْ فِي الْجِهَادِ أَوْ فِيْ طَرِيْقِ الْحَجِّ أَوِ الْعُمْرَةِ أَوْ طَلَبِ الْعِلْمِ أَوِ ابْتِغَاءِ مَرْضَاةِ اللهِ "جَعَلَ اللهُ بَيْنَهُ وَبَيْنَ النَّارِ خَنْدَقًا" أَيْ حِجَابًا شَدِيْدًا وَمَانِعًا بَعِيْدًا بِمَسَافَةٍ مَدِيْدَةٍ "كَمَا بَيْنَ السَّمَاءِ وَالْأَرْضِ" أَيْ مَسَافَةَ خَمْسِمِائَةِ سَنَةٍ. مرقاة المفاتيح شرح مشكاة المصابيح ۱۴۲۵/۴ في تشريح رقم الحديث ۲۰۶۴ (۲۹) كِتَابُ الصَّوْمِ.

## ۷ . د روژې په وجه جنت ته داخليدل

د روژې اُوومه فائده داده چې ددې په وجه انسان د جنت مستحق گرځي . بلکه د جنت په آتو (۸) دروازو کې يوه دروازه "رَيّان" ده چې په دې به صرف روژه دار جنت ته داخليږي .

۱ . د بخاري شريف حديث دی، رسول الله صلی الله عليه وسلم فرمايي :

فِي الْجَنَّةِ ثَمَانِيَةُ أَبْوَابٍ، فِيهَا بَابٌ يُسَمَّى الرَّيَّانَ، لَا يَدْخُلُهُ إِلَّا الصَّائِمُونَ . (۱)

د جنت آته (۸) دروازې دي په هغې کې د يوې دروازې نوم "رَيّان" دی ، په دې دروازه به صرف روژه دار ( جنت ته ) داخليږي .

۲ . د بخاري شريف او مسلم شريف په يو بل حديث کې ددې خبرې پوره تشريح ذکر ده ، نبي کريم عليه السلام فرمايي :

إِنَّ فِي الْجَنَّةِ بَابًا يُقَالُ لَهُ الرَّيَّانُ، يَدْخُلُ مِنْهُ الصَّائِمُونَ يَوْمَ الْقِيَامَةِ. لَا يَدْخُلُ مِنْهُ أَحَدٌ غَيْرُهُمْ. يُقَالُ: أَيْنَ الصَّائِمُونَ ؟ فَيَقُومُونَ لَا يَدْخُلُ مِنْهُ أَحَدٌ غَيْرُهُمْ. فَإِذَا دَخَلُوا أُغْلِقَ فَلَمْ يَدْخُلْ مِنْهُ أَحَدٌ . (۲)

بيشکه په جنت کې يوه دروازه ده چې هغې ته "رَيّان" وايي ، د قيامت په ورځ به په دې دروازه باندې ( جنت ته ) صرف روژه دار داخليږي ، د روژه دارو نه علاوه به په دې باندې بل هيڅوک نه داخليږي ، آواز به اوکړې شي چې :

---

(۱) صحيح البخاري كِتَابُ بَدْءِ الخَلْقِ بَابُ صِفَةِ أَبْوَابِ الجَنَّةِ رقم الحديث ۳۲۵۷ ، مشكاة المصابيح كتاب الصوم الفصل الاول رقم الحديث ۱۹۵۷(۲) ، السنن الكبرى للبيهقي رقم ۸۵۱۲ ، شعب الايمان رقم ۳۳۱۱ وفي رواة الدارمي : لِلْجَنَّةِ ثَمَانِيَةُ أَبْوَابٍ ...

(۲) صحيح البخاري كِتَابُ الصَّوْمِ بَابٌ: الرَّيَّانُ لِلصَّائِمِينَ رقم الحديث ۱۸۹۶ ، صحيح مسلم كِتَاب الصِّيَامِ بَابُ فَضْلِ الصِّيَامِ رقم الحديث ۱۶۶(۱۱۵۲) ، صحيح ابن حبان رقم ۳۴۲۰ ، المعجم الكبير للطبراني رقم ۵۹۶۹ . صحيح الترغيب والترهيب كتاب الصوم الترغيب في الصوم مطلقا رقم الحديث ۹۷۹(۲) .

أَيْنَ الصَّائِمُونَ ؟ روژه دار چيرته دي ؟

نو روژه دار به پاڅي ( صرف دوی به په دې دروازه جنت ته داخل شي ) ، په دې دروازه به د دوی نه علاوه بل هيڅوک نشي داخليدی ، پس کله چې دوی داخل شي نو دا دروازه به بنده کړې شي ، او بل هيڅوک به پرې داخل نه شي .

د دې حديث ذکر کولو نه پس علامه نووي رحمه الله فرمايي :

وَفِي هَذَا الْحَدِيثِ فَضِيلَةُ الصِّيَامِ وَكَرَامَةُ الصَّائِمِينَ . (۱)

په دې حديث کې د روژې فضيلت او د روژه دارو ډير تعظيم ذکر شوی .

**فايده** ''رَيَّان'' د مُبالغې صيغه ده د ''رَيّ'' نه مشتق ده ، د دې معنى ده : ''پوره سېرابه کول'' ( خړوبه کول ، په مړه خېټه اُوبه څکول ) . (۲)

څوک چې ډيرې روژې نيسي نو هغه به په دې دروازه جنت ته داخليږي . دا هم نقل دي چې کوم کس په دُنيا کې د روژې په وجه تَنده برداشت کړې وي نو چې کله دا په دې ''رَيَّان'' دروازه باندې جنت ته داخليږي نو خپل ځای ته د رسيدلو نه مخکې به په ده باندې شرابِ

---

(۱) شرح النووي على مسلم ۸/۳۲ باب فَضْلِ الصِّيَامِ .

۲ ( الرَّيَّانُ ) صيغة مبالغة من الري وهو نقيض العطش . تعليق مصطفى البغا على صحيح البخاري

ملاعلي قاري رحمه الله د ريان تشريح داسې کړې : "مِنْهَا بَابٌ يُسَمَّى الرَّيَّانَ إِمَّا لِأَنَّهُ بِنَفْسِهِ رَيَّانٌ لِكَثْرَةِ الْأَنْهَارِ الْجَارِيَةِ إِلَيْهِ وَالْأَزْهَارِ وَالْأَثْمَارِ الطَّرِيَّةِ لَدَيْهِ . أَوْ لِأَنَّ مَنْ وَصَلَ إِلَيْهِ يَزُولُ عَنْهُ عَطَشُ يَوْمِ الْقِيَامَةِ وَيَدُومُ لَهُ الطَّرَاوَةُ وَالنَّظَافَةُ فِي دَارِ الْمُقَامَةِ . قَالَ الطِّيبِيُّ الزَّرْكَشِيُّ : اَلرَّيَّانُ : فَعْلَانُ كَثِيرُ الرِّيِّ . نَقِيضُ الْعَطَشِ سُمِّيَ بِهِ لِأَنَّهُ جَزَاءُ الصَّائِمِينَ عَلَى عَطَشِهِمْ وَجُوعِهِمْ . مرقاة المفاتيح شرح مشكاة المصابيح ۴/۱۴۲۵ في تشريح رقم الحديث ۱۹۵۷ (۲) كِتَابُ الصَّوْمِ الفصل الاول

قال الزين بن المنير : إنّما قال في الجنة ولم يقل للجنّة ليشعر بأنّ في الباب المذكور من النعيم والراحة ما في الجنة فيكون أبلغ فی التشوق إليه .

قال عز الدين بن عبد السلام : "أما تخصيص دخولهم الجنة بباب الريّان فإنهم ميزوا بذلك الباب لتميز عبادتهم وشرفها" . "فوائد الصوم" لعز الدين بن عبد السلام نداء الريان في فقه الصوم وفضل رمضان ۱/۴۲ الفصلة الثالثة عشر نداء الريان لعاطر الصوام .

طهُور څکلولې شي ، او چې څوک دا اُوڅکي نو هغه به هيڅ کله نه تږې کيږي . (۱)

چونکه روژه دار ته په روژه کې ډير تکليف د تندې په وجه وي نو د دې انعام هم د دوی د پاره داسې مقرر شو چې په هغې کې د سېراب کولو طرف غالب دی ، نو ځکه به په "رَيّان" دروازه داخلولې شي چې پوره پوره سېراب (خړوب) کړې شي .

يا چې جنت ته داخل کړې شي او دوی ته په دې کې کوم اَجرونه او نعمتونه ورکولې شي د هغې عِلم خو صرف الله ﷻ ته دی ، ځکه خو الله رب العزت فرمايي :

اَلصَّوْمُ لِيْ وَاَنَا اَجْزِيْ بِهٖ . روژه زما د پاره ده او همدا زه به د دې بدله ورکوم . (۲)

## يو اعتراض او د هغې جواب

د بخاري شريف د مذکوره دوه احاديثو نه معلومه شوه چې "د جنت "رَيّان" دروازه صرف د روژه دارو د پاره خاص ده په دې به بل هيڅوک نه داخليږي"

حالانکه په ابن ماجه شريف او نورو د احاديثو په کتابونو کې دا حديث ذکر دی چې رسولُ الله ﷺ فرمايي : کوم مسلمان چې په ښه طريقې (او آدابو) سره اُودس اوکړي ، بيا کليمه شهادت ووايي : إِلَّا فُتِحَتْ لَهُ ثَمَانِيَةُ أَبْوَابِ الْجَنَّةِ ، يَدْخُلُ مِنْ أَيِّهَا شَاءَ . (۳)

---

(۱) مظاهر حق شرح مشکوة ج۳ باب فضل الصدقة الفصل الاول في تشريح حديث ۳ .

په يو حديث کې هم دا مضمون ذکر دی ، رسول الله صلى الله عليه وسلم فرمايي : لِلصَّائِمِينَ بَابٌ فِي الْجَنَّةِ يُقَالُ لَهُ الرَّيَّانُ . لَا يَدْخُلُ مِنْهُ أَحَدٌ غَيْرُهُمْ . فَإِذَا دَخَلَ آخِرُهُمْ أُغْلِقَ . مَنْ دَخَلَ شَرِبَ . وَمَنْ شَرِبَ لَمْ يَظْمَأْ أَبَدًا قال الأعظمي : إسناده صحيح . صحيح ابن خزيمة رقم الحديث ۱۹۰۲ كِتَابُ الصِّيَامِ بَابُ ذِكْرِ بَابِ الْجَنَّةِ الَّذِي يُخَصُّ بِدُخُولِهِ الصُّوَّامُ دُونَ غَيْرِهِمْ ، صحيح الترغيب والترهيب كتاب الصوم رقم الحديث ۹۷۹(۲) .

(۲) معارف الحديث حصه چهارم ص ۳۵۰ .

(۳) عَنْ عُمَرَ بْنِ الْخَطَّابِ رضي الله عنه قَالَ : قَالَ رَسُولُ اللهِ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ « مَا مِنْ مُسْلِمٍ يَتَوَضَّأُ فَيُحْسِنُ الْوُضُوءَ . ثُمَّ يَقُولُ أَشْهَدُ أَنْ لَا إِلَهَ إِلَّا اللهُ . وَأَشْهَدُ أَنَّ مُحَمَّدًا عَبْدُهُ وَرَسُولُهُ . إِلَّا فُتِحَتْ لَهُ ثَمَانِيَةُ أَبْوَابِ الْجَنَّةِ . يَدْخُلُ مِنْ أَيِّهَا شَاءَ » . سنن ابن ماجة رقم ۴۷۰ كِتَابُ الطَّهَارَةِ وَسُنَنِهَا بَابُ مَا يُقَالُ بَعْدَ الْوُضُوءِ ، سنن النسائي رقم ۱۴۶ القول بعد الفراغ من الوضوء ، المعجم الكبير للطبراني رقم ۹۱۶ ، وقال الالباني صحيح .

نو ده ته د جنت آته (۸) واړه دروازې کلاؤ کړې شي ، د کومې دروازې نه چې دې غواړي نو داخليږي به .

ددې حديث نه معلوميږي چې د اَودس کولو نه روستو کليمه شهادت ويونکې د جنت د آته (۸) واړه دروازو نه داخليدلې شي . نو په ظاهره باندې ددې دواړه قسمه احاديثو په خپل مينځ کې تعارُض معلوميږي .

**جواب** : د بخاري شارِح " علامه بدرالدين عيني رحمه الله " ددې جواب داسې کړی :

انه يُصرَفُ عَن أَنْ يَشَاء بَابَ الصِّيام، فَلَا يَشَاء الدُّخُول مِنْهُ، وَيدخل من أَيّ بَاب شَاءَ غير الصِّيام.(۱)

ده ( يعنی د اَودس کولو نه پس د کليمه شهادت ويونکي ) توجّه به ددينه واړولې شي چې دې د بابُ الصِّيام ( يعنی د ريّان ) د دروازې نه جنت ته داخل شي ، پس دې به د سره په دې ريّان دروازه باندې جنت ته د داخليدلو خواهش نه کوي ( ځکه دده توجّه به ددې نه اړون شوي وي ) ، پس دې به ددې ريّان دروازې نه علاوه په بله هره دروازه چې اوغواړي جنت ته داخليږي .

## ۸. روژه دار به د قيامت په ورځ د صِدّيقينو او شهداؤ سره ملګرې وي

د روژې آتمه فائده داده چې روژه دار به د قيامت په ورځ د شهداؤ او صِدّيقينو سره ملګرې وي .

۱ . حضرت عمرو بن مُرّة الجهني رضي الله عنه فرمايي چې يو کس نبي عليه السلام ته راغی او ورته وې فرمايل :

اې د الله رسوله ! دا راته وُوايه که چيرته زه ددې خبرې ګواهي ورکړم چې د الله ﷻ نه

---

(۱) علامه عيني رحمه الله يو دويم جواب هم ذکر کړی : وَالثَّانِيْ: أَن حَدِيث عمر رَضِي الله تَعَالٰی عَنهُ قد اختلفت أَلفَاظه. فَعِنْدَ التِّرمِذِيّ: (فتحت لَهُ ثَمَانِيَة أَبْوَاب من الجنَّة يدخل من أَيهَا شَاءَ) فَهٰذِهِ الرِّوَايَة تدل على أَن أَبْوَاب الجنَّة أَكثر من ثَمَانِيَة مِنهَا، وَقد لَا يكون بَاب الصّيام من هٰذِه الثَّمَانِية، وَلَا تعَارض حِينَئِذٍ.

عمدة القاري شرح صحيح البخاري ۱۰ ۲۶۳ كتاب الصَّوم بابُ الصَّوم كَفَّارَةٌ في تشريح حديث ۶۹۸۱

علاوه بل څوک لائق د عبادت نشته ، او تاسو د الله ﷻ رسول يی ، او زه پنځه مونځونه کوم ، زکوة ورکوم ، د رمضان روژې نيسم ، او د رمضان تراويح اداء کوم

فَمِمَّنْ أَنَا ؟ نو زه به د کومې ډلې نه يم ؟ ( يعنی د کومو خلقو سره به ملګرې يم ؟ )
نبي عليه الصلاة والسلام ورته وفرمايل :

مِنَ الصِّدِّيقِينَ وَالشُّهَدَاءِ . (۱) ته به د صِدِّيقينو او شهيدانو د ډلې نه يی .

۲ . همدارنګې روژه نيول د نېکانو خلقو شِعار او نخه ده . (۲)

## ۹ . د روژه دار د خُلې بَدبوئي الله ﷻ ته د مشکو نه هم زياته خوښه ده

د روژې په وجه چې کله معده خالي شي نو ددې نه د اُولږې په وجه بَدبوئي راځيځي چونکه روژه بهترين عبادت دی نو الله رب العزت ته دا بَدبوئي د مشکو نه هم زياته خوښه ده .

د بخاري شريف او مسلم شريف حديث دی ، رسول الله صلی الله عليه وسلم فرمايي .

---

(۱) عَنْ عَمْرِو بْن مُرَّةَ الْجُهَنِيِّ رضي الله عنه قَالَ : جَاءَ رَجُلٌ إِلَى النَّبِيِّ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ . فَقَالَ : يَا رَسُولَ اللَّهِ أَرَأَيْتَ إِنْ شَهِدْتُ أَنْ لَا إِلَهَ إِلَّا اللَّهُ وَأَنَّكَ رَسُولُ اللَّهِ ، وَصَلَّيْتُ الصَّلَوَاتِ الْخَمْسَ . وَأَدَّيْتُ الزَّكَاةَ . وَصُمْتُ رَمَضَانَ وَقُمْتُهُ . فَمِمَّنْ أَنَا ؟ قَالَ : مِنَ الصِّدِّيقِينَ وَالشُّهَدَاءِ . صحيح ابن حبان بَابُ فَضْلِ رَمَضَانَ ذِكْرُ كِتْبَةِ اللَّهِ جَلَّ وَعَلَا صَائِمَ رَمَضَانَ . وَقَائِمَهُ مَعَ إِقَامَتِهِ الصَّلَاةَ ... رقم الحديث ۳۴۳۸ . و رواه البزار وابن خزيمة ، وابن عساكر في تهذيب تاريخ دمشق ۴/ ۲۴۷ ، والهندي في الكنز ۱۴۴۵ ، المتجر الرابح ص ۴۹ رقم الحديث ۱۵۳ .

(۲) عَنْ أَنَسٍ قَالَ: كَانَ النَّبِيُّ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ إِذَا اجْتَهَدَ لِأَحَدٍ فِي الدُّعَاءِ قَالَ: « جَعَلَ اللَّهُ عَلَيْكُمْ صَلَاةَ قَوْمٍ أَبْرَارٍ . يَقُومُونَ اللَّيْلَ . وَيَصُومُونَ النَّهَارَ . لَيْسُوا بِأَثَمَةٍ وَلَا فُجَّارٍ . صحيح: المنتخب من مسند عبد بن حميد رقم الحديث ۱۳۶۰ مُسْنَدُ أَنَسِ بْنِ مَالِكٍ . و رقم الحديث ۱۳۵۸ ، و رواه الضياء عن انس ، وصححه الألباني في "صحيح الجامع رقم (۳۰۹۷) ، و "الصحيحة" (۱۸۱۰) .

قال المناوي (۳/ ۳۴۸) : "والظاهر أن المراد بالصلاة هنا الدعاء من قبيل دعائه لقوم أفطر عندهم قوله "صلت عليكم الملائكة" . فانظر إلى شعار الأبرار كما وصفهم رسول الله صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ : قيامهم بالليل وصيامهم بالنهار . والأبرار سادات المتقين . نداء الريان في فقه الصوم وفضل رمضان ۱/ ۵۰ الفضيلة السادسة عشر الصيام شعار الأبرار

وَالَّذِيْ نَفْسُ مُحَمَّدٍ بِيَدِهِ، لَخُلُوْفُ فَمِ الصَّائِمِ أَطْيَبُ عِنْدَ اللهِ مِنْ رِيْحِ الْمِسْكِ. (۱)

قسم په هغه ذات چې د هغه په قبضه کې زما ساه ده چې د روژه دار د خُلې بَدبُوئي الله ربّ العزت ته د مشکو د خوشبوئي نه هم زياته خوښه ده.

د دې حديث تشريح علماؤ په مختلف انداز باندې کړې. (۲)

**د قيامت په ورځ د مسلمانانو خاص نخه**: ابوحاتم رحمه الله فرمايي چې د قيامت په ورځ د خُلې نه د مشکو خوشبوئي تلل دا به د مسلمانانو خاص نخه وي، په دې

---

(۱) صحيح البخاري كِتَابُ الصَّوْمِ بَابٌ: هَلْ يَقُولُ إِنِّي صَائِمٌ إِذَا شُتِمَ رقم الحديث ۱۹۰۴ ، و رقم ۱۸۹۴ كِتَابُ الصَّوْمِ بَابُ فَضْلِ الصَّوْمِ. صحيح مسلم كِتَاب الصِّيَامِ بَابُ فَضْلِ الصِّيَامِ رقم الحديث ۱۶۳ (۱۱۵۱) ، سنن النسائي فضل الصيام رقم الحديث ۲۲۱۱ ، صحيح ابن خزيمة رقم ۱۸۹۶ باب ذكر طيب خلفة الصائم عندالله يوم القيامة.

(۲) « وَلَخُلُوْفُ فَمِ الصَّائِمِ » "بِفَتْحِ لَامِ الْإِبْتِدَاءِ تَأْكِيدًا، وَبِضَمِّ الْخَاءِ الْمُعْجَمَةِ مِنْ خَلُفَ فَمُهُ إِذَا تَغَيَّرَ رَائِحَةُ فَمِهِ. خُلُوْفًا بِالضَّمِّ لَا غَيْرُ. قَالَ الزَّرْكَشِيُّ: وَمِنْهُمْ مَنْ فَتَحَ الْخَاءَ. قَالَ الْخَطَّابِيُّ: وَهُوَ خَطَأٌ. أَيْ مَا يُخَلِّفُ بَعْدَ الطَّعَامِ فِيْ فَمِ الصَّائِمِ مِنْ رَائِحَةٍ كَرِيهَةٍ بِخِلَافِ الْمُعْتَادِ "أَطْيَبُ" أَيْ أَفْضَلُ وَأَرْضَى وَأَحَبُّ "عِنْدَ اللهِ مِنْ رِيْحِ الْمِسْكِ" عِنْدَكُمْ لِأَنَّ رَائِحَةَ فَمِ الصَّائِمِ مِنْ أَثَرِ الصِّيَامِ وَهُوَ عِبَادَةٌ يَجْزِيْ بِهَا اللهُ تَعَالَى بِنَفْسِهِ صَاحِبَهَا. كَذَا قَالَهُ ابْنُ الْمَلَكِ. مرقاة المفاتيح شرح مشكاة المصابيح ۴/ ۱۳۶۳ كِتَابُ الصَّوْمِ الفصل الاول.

وفي طيب ريح خلوف الصائم عند الله عز وجل معنيان: أحدهما: أنّ الصيام لمّا كان سراً بين العبد وبين ربه في الدنيا أظهره الله في الآخرة علانية للخلق ليشتهر بذلك أهل الصيام ويُعرفون بصيامهم بين الناس جزاءً لإخفائهم صيامهم في الدنيا.

قال مكحول: يُروَح على أهل الجنة برائحة فيقولون: ربنا ما وجدنا ريحًا منذ دخلنا الجنة أطيب من هذا الريح فيقال: هذه رائحة أفواه الصوام.

والمعنى الثاني: أنّ من عبد الله وأطاعه وطلب رضاه في الدنيا بعمل فنشأ من عمله آثار مكروهة للنفوس في الدنيا فإن تلك الآثار غير مكروهة عند الله بل هي محبوبة له وطيبة عنده لكونها نشأت عن طاعته واتباع مرضاته فإخباره بذلك للعاملين في الدنيا فيه تطييب لقلوبهم لئلا يكره منهم ما وجد في الدنيا. نداء الريان في فقه الصوم وفضل رمضان ۱/ ۵۵ الفضيلة الثامنة عشر خلوف فم الصائم أطيب عند الله من ريح المسک.

سره به د وی د نورو قومونو نه جدا پيژندلې شي . (۱)

**د روژه دار د خُلې بَدبوئي نه کوم بوئ مراد دی ؟** په دې خبره ځان پوه کړئ چې په مذکوره حديث کې د روژه دار د خُلې بَدبوئي کوم ذکر راغلی نو د دينه هغه بُوئ مراد دی چې کوم د معدې د خالي کيدو په وجه د معدې نه راپورته کيږي ، دا بُوئ الله ﷻ ته د مشکو نه زيات خوښ دی .

د دينه د غاښونو د ګندګۍ بَدبوئي مراد نده . د خُلې او غاښونو صفائي ضروري ده . لهذا په روژه کې هر قِسمه ( اُوچ او تازه ) مسواک استعمالولو جائز دی ، ځکه په مسواک استعمالولو د معدې بُوئي نه ختميږي ، نبي عليه السلام به هم په روژه کې مسواک ډير استعمالول . (۲)

## ۱۰. روژه حفاظتي ډال دی

د روژې لسمه (۱۰) فائده داده چې دا حفاظتي ډال دی .

---

(۱) قال أبو حاتم : شعار المؤمنين في القيامة التحجيل بوضوئهم في الدنيا فرقًا بينهم وبين سائر الأمم وشعارهم في القيامة بصومهم طِيبُ خلوفهم أطيب من ريح المسك ليعرفوا بين ذلك الجمع بذلك العمل نسأل الله بركة ذلك اليوم . ورالديني مرجع ص ۵۳ .

(۲) قَالَ الْمُظْهِرُ : لَا يَضُرُّ السِّوَاكُ لِلصَّائِمِ فِي جَمِيعِ النَّهَارِ . بَلْ هُوَ سُنَّةٌ عِنْدَ أَكْثَرِ أَهْلِ الْعِلْمِ . وَبِهِ قَالَ مَالِكٌ وَأَبُو حَنِيفَةَ لِأَنَّهُ مُطَهِّرٌ .... مَا رَوَى ابْنُ مَاجَهْ وَالدَّارَقُطْنِيُّ مِنْ حَدِيثِ عَائِشَةَ قَالَتْ : قَالَ رَسُولُ اللهِ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ : " « مِنْ خَيْرِ خِصَالِ الصَّائِمِ السِّوَاكُ » " وَالْخُلُوفُ بِضَمِّ الْخَاءِ الْمُعْجَمَةِ عَلَى الصَّحِيحِ تَغَيُّرُ رَائِحَةِ الْفَمِ مِنْ خُلُوِّ الْمَعِدَةِ وَذَلِكَ لَا يُزَالُ بِالسِّوَاكِ . قَالَ ابْنُ الْهُمَامِ : بَلْ إِنَّمَا يُزِيلُ أَثَرَهُ الظَّاهِرَ عَنِ السِّنِّ مِنَ الْاِصْفِرَارِ وَهٰذَا لِأَنَّ سَبَبَ الْخُلُوفِ خُلُوُّ الْمَعِدَةِ مِنَ الطَّعَامِ . وَالسِّوَاكُ لَا يُفِيدُ شَغْلَهَا بِطَعَامٍ لِيَرْتَفِعَ السَّبَبُ . وَلِهٰذَا رُوِيَ عَنْ مُعَاذٍ مِثْلُ مَا قُلْنَا . رَوَى الطَّبَرَانِيُّ « عَنْ عَبْدِ الرَّحْمَنِ بْنِ غُنْمٍ قَالَ : سَأَلْتُ مُعَاذَ بْنَ جَبَلٍ أَتَسَوَّكُ وَأَنَا صَائِمٌ ؟ قَالَ : نَعَمْ . قُلْتُ : أَيَّ النَّهَارِ أَتَسَوَّكُ ؟ قَالَ : أَيَّ النَّهَارِ شِئْتَ ، غَدْوَةً وَعَشِيَّةً . قُلْتُ : إِنَّ النَّاسَ يَكْرَهُونَهُ عَشِيَّةً وَيَقُولُونَ إِنَّ رَسُولَ اللهِ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ قَالَ : " لَخُلُوفُ فَمِ الصَّائِمِ أَطْيَبُ عِنْدَ اللهِ مِنْ رِيحِ الْمِسْكِ فَقَالَ : سُبْحَانَ اللهِ لَقَدْ أَمَرَهُمْ بِالسِّوَاكِ وَهُوَ يَعْلَمُ أَنَّهُ لَا بُدَّ بِفِيِّ الصَّائِمِ خُلُوفٌ وَإِنِ اسْتَاكَ . وَمَا كَانَ بِالَّذِي يَأْمُرُهُمْ أَنْ يُنْتِنُوا أَفْوَاهَهُمْ عَمْدًا . مَا فِي ذٰلِكَ مِنَ الْخَيْرِ شَيْءٌ . بَلْ فِيهِ شَرٌّ إِلَّا مَنِ ابْتُلِيَ بِبَلَاءٍ لَا يَجِدُ مِنْهُ بُدًّا .

مرقاة المفاتيح شرح مشكاة المصابيح ۴ / ۱۳۹۵ كِتَابُ الصَّوْمِ بَابُ تَنْزِيهِ الصَّوْمِ

۱ . د بخاري شريف حديث دی ، رسول الله صلی الله عليه وسلم فرمايي :

اَلصِّيَامُ جُنَّةٌ . (۱) روژه حفاظتي ډال دی .

په دې سره انسان د ګناهونو ، د الله جل جلاله د عذاب او د جهنم د اُور نه بچ کيږي . (۲)

۲ . په يو روايت کې ذکر دي ، نبي عليه السلام فرمايي :

اَلصِّيَامُ جُنَّةٌ وَحِصْنٌ حَصِيْنٌ مِّنَ النَّارِ . (۳)

روژه حفاظتي ډال دی ، او د جهنم د اُور نه د حفاظت مضبوطه قلعه ده .

يعنی لکه څرنګې چې د ډال په ذريعه انسان په جنګ کې د توري د ګوزار نه ځان بچ کوي

---

(۱) پوره حديث داسې دی : عَنْ أَبِيْ هُرَيْرَةَ رَضِيَ اللهُ عَنْهُ أَنَّ رَسُوْلَ اللهِ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ . قَالَ : "اَلصِّيَامُ جُنَّةٌ فَلَا يَرْفُثْ وَلَا يَجْهَلْ ، وَإِنِ امْرُؤٌ قَاتَلَهُ أَوْ شَاتَمَهُ فَلْيَقُلْ : إِنِّيْ صَائِمٌ مَرَّتَيْنِ " . صحيح البخاري رقم الحديث ۱۸۹۴ باب فضل الصوم ، صحيح مسلم باب فضل الصيام رقم الحديث ۱۶۲ (۱۱۵۱) ، سنن ابي داؤد باب الغيبة للصائم .

(۲) (جُنَّةٌ) : وِقاية وسترة من الوقوع في المعاصي التي تكون سببا في دخول النار أو وقاية من دخول النار لأنه إمساك عن الشهوات والنار قد خفت بها وأيضا الأعمال الصالحة تكفر الذنوب . تعليق مصطفى البغا على صحيح البخاري .

وَالْجُنَّةُ : بِضَمِّ الْجِيمِ هُوَ مَا يجنك أَي يسترك ويقيك مِمَّا تخَاف . وَمعنى الحَدِيث إِن الصَّوْم يستر صَاحبه ويحفظه من الْوُقُوع فِي الْمعاصِي . الترغيب والترهيب في تشريح حديث ۱۴۴۷ كتاب الصَّوْم التَّرْغِيب فِي الصَّوْم مُطلقًا .

اَلْجُنَّةُ : الترس . يحتمل ان يراد به الصوم يدفع الرجل عن المعاصي لانه يكسر النفس كما يدفع الجنة السهام . و ان يراد ان الصوم يدفع النار عن الصائم كالجنة . شرح الطيبي على مشكوة المصابيح ج۴ ص ۱۳۹ .

قال المناوي : وقاية في الدنيا من المعاصي بكسر الشهوة وحفظ الجوارح وفي الآخرة من النار . وقال : الصوم جنة من عذاب الله فليس للنار عليه سبيل كما لا سبيل لها على مواضع الوضوء لأن الصوم يغمر البدن كله فهو جنة لجميعه برحمة الله من النار . فيض القدير ۴/ ۲۴۲ ، ۲۵۰ . قال ابن عبد البر : حسبك بهذا فضلا للصائم . نداء الريان في فقه الصوم وفضل رمضان ۱/ ۳۷ الفضيلة التاسعة الصيام جنة من النار .

(۳) شعب الايمان رقم الحديث ۳۲۹۳ الصيام ، و رواه احمد باسناد حسن ، صحيح الترغيب والترهيب رقم الحديث ۸۹۰ (۳) كتاب الصوم الترغيب في الصوم مطلقا و ما جاء في فضله .

نو دغه شان د روژې په ذريعه هم انسان د شيطان د مکر و فريب ، د الله ﷻ د عذاب ، د جهنم د اور ، د دُنياوي پريشانيو او ګناهونو نه محفوظ کيږي ، خو شرط دادی چې ددې روژې د حقوقو او آدابو لحاظ او ساتي.

د عربۍ ژبې يو شاعر وايي :

اَلصَّوْمُ جُنَّةُ أَقوام مِنَ النَّار + وَالصَّوْم حِصْنٌ لِمَن يَخْشَى مِنَ النَّار

وَالصَّوْمُ سِتْرٌ لأَهل الخَيْر كلّهم + الخَائِفِينَ مِنَ الأوزار والعار

والشّهر شهر آله العَرْش من بِهِ + ربّ رَحِيم لثقل الوزر ستّار

**نوټ** : ( علماؤ د " اَلصِّيَامُ جُنَّةٌ " تشريح په ډير بهترين انداز باندې کړی ) (۱)

## د روژې په وجه انسان د شيطان نه محفوظ کيږي

د روژې يوه فائده داده چې ددې په وجه انسان د شيطان د وَسوسو او مکرونو نه مکمل محفوظ کيږي ، ځکه په روژه کې انسان ته اُولږه او تَنده لږي ، او د اُولږې برکت دادی چې دداسې کس نه شيطان لرې تختي.

## واقعه : د اُوده روژه دار نه د شيطان يَره

علماؤ يوه واقعه رانقل کړی چې يو نېک سړی جُمات ته لاړ ، نو په جُمات کې يې يو کس اُوليد چې په مانځه ولاړ دی ، او يو روژه دار د جُمات دروازې سره اُوده دی ، شيطان هم د جُمات نه بهر حيران ولاړ دی او د غصې نه سخت لمبه دی ، دې نېک سړي شيطان ته وويل :

مَا لِي أَرَاکَ حَائِرًا ؟ زه تا حيران ګورم ، دا ولې ؟

شيطان ورته وويل : په دې جُمات کې يو کس په مانځه ولاړ دی ، کله چې زه اِراده اوکړم چې جُمات ته ننوځم ، دا مونځ ګزار خطاء کړم او په مانځه کې وَسوسې ورواچوم :

---

(۱) علامه ابن حجر رحمه الله په فتح الباري کې ذکر کړي : وَقَالَ بن العَرَبِيِّ إِنَّمَا كَانَ الصَّوْمُ جُنَّةً مِنَ النَّارِ لِأَنَّهُ إِمْسَاكٌ عَنِ الشَّهَوَاتِ وَالنَّارُ مَحْفُوفَةٌ بِالشَّهَوَاتِ . فَالحَاصِلُ أَنَّهُ إِذَا كَفَّ نَفْسَهُ عَنِ الشَّهَوَاتِ فِي الدُّنْيَا كَانَ ذٰلِكَ سَاتِرًا لَهُ مِنَ النَّارِ فِي الآخِرَةِ . فتح الباري ۱۰۴/۴ قَوْلُهُ بَابُ فَضْلِ الصَّوْمِ

- تَمْنَعُنِيْ أَنْفَاسُ هٰذَا النَّائِمِ الَّذِيْ عَلٰى بَابِ الْمَسْجِدِ. (۱)

نو كوم (روژه دار) كس چې د جُمات په دروازه كې اُوده دى نو ما دده ساه ګانې منع كوي

**فائده** : د روژه دار د پاره څومره د خوشحالۍ خبره ده چې دده د ساه ګانو په وجه ده ته شيطان نزدې نشي راتلى.

## ۱۱. د روژه دار دُعا قبليږي

۱. رسولُ الله صلى الله عليه وسلم فرمايي:

ثَلَاثَةٌ لَا تُرَدُّ دَعْوَتُهُمْ: اَلصَّائِمُ حَتّٰى يُفْطِرَ، وَالْإِمَامُ الْعَادِلُ، وَدَعْوَةُ الْمَظْلُوْمِ يَرْفَعُهَا اللهُ فَوْقَ الْغَمَامِ وَيَفْتَحُ لَهَا أَبْوَابَ السَّمَاءِ وَيَقُوْلُ الرَّبُّ: وَعِزَّتِيْ لَأَنْصُرَنَّكَ وَلَوْ بَعْدَ حِيْنٍ. (۲)

د درې (۳) كسانو دُعا نه رد كيږي ( بلكه خامخا قبليږي ) : ۱. د روژه دار دُعا نه رد كيږي تر دې پورې چې دې روژه ماته كړي. ۲. د عادِل بادشاه دُعا نه رد كيږي. ۳. د مظلوم سړي دُعا نه رد كيږي، الله تعالى د مظلوم دُعا د وريځو نه پورته كړي، د آسمان دروازې ورته كلاؤ كړي، او ربِّ كريم اوفرمايي: زما دې په خپل عزت (او جَلال) قسَم وي چې ( اې مظلومه! ) زه به ستا مدد خامخا كوم اګر چې دا څه داسې لږه زمانه پس وي.

۲. په يو حديث كې راځي، رسولُ الله صلى الله عليه وسلم فرمايي:

---

(۱) حكي ان بعض الصالحين كان يمشي الى المسجد فرأى رجلًا يصلي و رجلًا نائمًا على باب المسجد والشيطان قائم يتحير ويلتهب، فقال له الرجل الصالح: مَالِيْ أَرَاكَ حَائِرًا ؟ فقال: في هذه المسجد رجل قائم يصلي كلما هممتُ أن أدخل اليه اغويه و أشغله عن صلاته تَمْنَعُنِيْ أَنْفَاسُ هٰذَا النَّائِمِ الَّذِيْ عَلٰى بَابِ الْمَسْجِدِ. فَلِلّٰهِ درّ أنفاس الصائمين كيف تحرس القلوب والأجساد من كيد الشيطان فلا يصل اليها ولايقدر عليها. الروض الفائق في المواعظ والرقائق ص ۳۸ المجلس الخامس في فضل شهر رمضان وصيامه.

(۲) سنن الترمذي أَبْوَابُ الدَّعَوَاتِ عَنْ رَسُوْلِ اللهِ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ بَابٌ فِي الْعَفْوِ وَالْعَافِيَةِ رقم الحديث ۳۵۹۸ وقال الترمذي: هٰذَا حَدِيْثٌ حَسَنٌ. شعب الايمان رقم الحديث ۶۶۹۹، سنن ابن ماجة بابفي الصيام لاتُردُّ دَعوتُه رقم ۱۷۵۲، صحيح ابن خزيمة رقم ۳۷۲۸، ورقم ۷۳۸۷، مشكاة المصابيح كتاب الدعوات رقم ۲۲۴۹(۲۷)، كنزالعمال رقم ۳۳۲۵.

إِنَّ لِلصَّائِمِ عِنْدَ فِطْرِهِ دَعْوَةً مَا تُرَدُّ . (۱)

بیشکه د هر روژه دار د روژه ماتي په وخت داسې دُعا قبلیږي چې هغه هیڅ کله نه رد کیږي .

## هیڅوک مزدور خالي لاس نه واپس کوي

تاسو سوچ اوکړئ چې که د یو کس سره مزدور تموله ورځ کار اوکړي او مابنام چې کله دا مزدور کور ته ځي او دده نه خپله مزدوري اوغواړي نو که دا کس هر څومره بخیل وي خو چې په ده کې معمولي شرافت وي نو دې به هیڅ کله دا خوښه نه کړي چې دا مزدور خالي لاس کورته لاړشي ، بلکه هغه ته به خامخا خپله مزدوري ورکوي .

نو الله رب العزت خو أرحمُ الرّاحمین ذات دی ، اوس چې کوم کس د الله ﷻ د رَضا د پاره په روژه کې تموله ورځ وَلږه او تنده برداشت کړې وي او د روژه ماتي په وخت دې د الله ربّ العزت نه دُعا غواړي ، نو آیا الله ﷻ به دده دُعا نه قبلوي ؟ بلکه په خپل فضل و کرم سره به یې خامخا قبلوي .

## د نبي ﷺ په وینا کې هیڅ شک نشته

بل دا چې که په دُنیا کې یو کس ته یو بزرگ ووایي چې ماته بېګاه شپه په خوب کې دا معلومه شوی چې نن د دُعا قبلیدو ورځ ده نو دا کس به په دې ورځ باندې خامخا په ډیر اِخلاص د الله ﷻ نه دُعا غواړي ، ځکه ده ته ددې بزرگ د وینا په وجه دا یقین وي چې نن ورځ دُعا قبلیږي ، نو کله چې د یو بزرگ د وینا په وجه انسان په پوره شوق سره دُعا غواړي نو اوس تاسو په خپله اندازه اولږوئ چې د انبیاء کرامو سردار محمّدٌرسولُ الله صلی الله علیه وسلم خپل اُمت ته بار بار فرمایي چې د روژه ماتي په وخت د انسان دُعا قبلیږي ، لهذا بیا خو په ډیر اخلاص او شوق سره په دې وخت کې دعا طرف ته متوجّه کیدل په کار دي .

## د روژه ماتي په وخت انسان الله ﷻ ته ډیر مُقرّب وي

د روژه ماتي په وخت انسان الله ربّ العزت ته ډیر محبوب او مُقرّب وي ، د انسان او د الله

---

(۱) کنزالعمال رقم الحدیث ۲۳۵۸۵ کتاب الصوم الفصل الأول: في فضل الصوم مطلقا ، المستدرک علی الصحیحین للحاکم رقم الحدیث ۱۵۳۵ کتاب الصوم .

ﷻ په مینځ کې د حِجاب پردې لرې کړې شي ، او دده دُعا قبلولې شي.(۱)

## چې حرام خوراک په خېټه کې وي نو دُعاګانې نه قبلیږي

په دې کې هیڅ شک نشته چې الله ربّ العزت د خپلو بندګانو دُعاګانې قبلوي . الله تعالی فرمايي : ﴿ اُدۡعُوۡنِیۡۤ اَسۡتَجِبۡ لَکُمۡ ﴾.(۲)

ترجمه : تاسو د مانه دعُا غواړئ زه به ستاسو دُعا قبلوم.

بل ځای الله تعالی فرمايي :

﴿ وَاِذَا سَاَلَکَ عِبَادِیۡ عَنِّیۡ فَاِنِّیۡ قَرِیۡبٌ ؕ اُجِیۡبُ دَعۡوَۃَ الدَّاعِ اِذَا دَعَانِ ﴾ .(۳)

ترجمه : ( اې پیغمبره ! ) هر کله چې د تا نه زما بندګان زما متعلق سوال اوکړي نو ( ته ورته ووایه چې ) بیشکه زه ( هغوی ته ) ډیر نزدې یم ، د دُعا کوونکي دُعا قبلوم کله چې هغه د ما نه دُعا اوغواړي .

بیا خاصکر ځنې وختونه داسې دي چې په هغې کې په خصوصي طریقې سره الله ﷻ د خپلو مؤمنانو بندګانو دُعاګانې قبلوي ، په هغې کې یو وخت د روژه ماتي هم دی ( لکه څنګه چې په مخکني احادیثو کې ذکر شو ) .

خو د دُعا قبلیدو د پاره ځنې شرائط هم شته چې بغیر د هغې نه دُعا نه قبلیږي ، په هغې کې یو شرط دا هم دی چې " د انسان په خېټه کې به حرام خوراک نه وي " ځکه تر څو پورې چې په خېټه کې حرام خوراک موجود وي الله تعالی دداسې کس دُعا نه قبلوي .

---

(۱) قال موسى عليه السلام يا رب أكرمتني بالتكليم فهل أعطيت أحداً مثل ذلك فأوحى الله تعالى يا موسى إن لي عباداً أخرجهم في آخر الزمان وأكرمهم بشهر رمضان فأكون أقرب لأحدهم منك لأنك كلمتني وبيني وبينك سبعون ألف حجاب فإذا صامت أمة محمد صلى الله عليه وسلم حتى ابيضت شفاههم واصفرت ألوانهم أرفع الحجب بيني وبينهم وقت إفطارهم يا موسى طوبى لمن عطش كبده وأجاع بطنه في رمضان .
وقال كعب الأحبار أوحى الله إلى موسى أني كتبت على نفسي أن لا أرد دعوة صائم رمضان . نزهة المجالس ومنتخب النفائس ۱/۱٦٥ باب فضل رمضان والترغيب في العمل الصالح فيه وما فيه من الفضل ، درة الناصحين ص ۲٦ فضيلة رمضان .

(۲) المؤمن ( غافر ) آية ٦٠ .

(۳) البقرة آية ۱۸٦ .

په مسلم شریف کې اُوږد حدیث ذکر دی ، د هغې په آخر کې رسولُ الله صلی الله علیه وسلم ( د مثال په طور ) د هغه سړي حالت ذکر کړی چې اُوږد سفر او کړي ، ( د سفر په وجه ) ویښتان یې ګډ وډ وي ، په بدن یې ګرد پروت وي ، د دُعا د پاره دواړه لاسونه آسمان طرف ته اُوچت کړي او دا وايي :

يَا رَبِّ ! يَا رَبِّ ! اې زما ربه ! اې زما ربه ! ( زما مقاصِد پوره کړه ، او زما دُعا قبوله کړه ).
نبي علیه السلام وفرمایل :

وَمَطْعَمُهُ حَرَامٌ ، وَمَشْرَبُهُ حَرَامٌ ، وَمَلْبَسُهُ حَرَامٌ ، وَغُذِيَ بِالْحَرَامِ ، فَأَنَّىٰ يُسْتَجَابُ لِذٰلِكَ ؟ . (۱)

چې کله دده خوراک حرام وي ، څکاک یې حرام وي ، لباس یې حرام وي ، په حرامه غِذا سره یې پَرورش شوې وي نو دداسې کس دُعا به څنګه قبوله شي ؟
علامه ابن رجب رحمه الله فرمايي :

أَكْلُ الْحَرَامِ وَشُرْبُهُ وَلُبْسُهُ وَالتَّغَذِّي بِهِ سَبَبٌ مُوجِبٌ لِعَدَمِ إِجَابَةِ الدُّعَاءِ . (۲)

حرام خوراک ، حرام څکاک ، حرام لباس او په حرامې طریقې سره غِذا حاصلول دا سبب د نه قبلیدو د دُعا دی .

---

(۱) پوره حدیث داسې دی : إِنَّ اللهَ طَيِّبٌ لَا يَقْبَلُ إِلَّا طَيِّبًا . وَإِنَّ اللهَ أَمَرَ الْمُؤْمِنِيْنَ بِمَا أَمَرَ بِهِ الْمُرْسَلِيْنَ . فَقَالَ ﴿ يَا أَيُّهَا الرُّسُلُ كُلُوْا مِنَ الطَّيِّبٰتِ وَاعْمَلُوْا صَالِحًا إِنِّيْ بِمَا تَعْمَلُوْنَ عَلِيْمٌ ﴾ . وَقَالَ : ﴿ يَا أَيُّهَا الَّذِيْنَ اٰمَنُوْا كُلُوْا مِنْ طَيِّبٰتِ مَا رَزَقْنٰكُمْ ﴾ . ثُمَّ ذَكَرَ الرَّجُلَ يُطِيْلُ السَّفَرَ أَشْعَثَ أَغْبَرَ . يَمُدُّ يَدَيْهِ إِلَى السَّمَآءِ . يَا رَبِّ ! يَا رَبِّ ! وَمَطْعَمُهُ حَرَامٌ . وَمَشْرَبُهُ حَرَامٌ . وَمَلْبَسُهُ حَرَامٌ . وَغُذِيَ بِالْحَرَامِ . فَأَنّٰى يُسْتَجَابُ لِذٰلِكَ ؟ صحيح مسلم بَابُ قَبُوْلِ الصَّدَقَةِ مِنَ الْكَسْبِ الطَّيِّبِ وَتَرْبِيَتِهَا ٦٥ (١٠١٥) ، سنن الترمذي رقم الحديث ٢٩٨٩ ، مشكاة المصابيح كتاب البيوع باب الكسب وطلب الحلال الفصل الاول رقم الحديث ٢٧٦٠ ، كنز العمال رقم الحديث ٣٢٣٦ ، السنن الكبرى للبيهقي رقم الحديث ٦٣٩٤ ، الترغيب والترهيب رقم الحديث ١٧١٧ الترغيب في طلب الحلال والاكل منه .

(۲) جامع العلوم والحكم ص ٩٢ بتصرف ، نضرة النعيم في مكارم اخلاق الرّسول الكريم صلّى الله عليه وسلّم ج٩ ص ٣٩٧٨ أكل الحرام .

وَعَنْ يُوْسُفَ بْنِ أَسْبَاطٍ قَالَ : بَلَغَنَا أَنَّ دُعَاءَ الْعَبْدِ يُحْبَسُ عَنِ السَّمَاوَاتِ بِسُوْءِ الْمَطْعَمِ . جامع العلوم والحكم ج۱ ص ٢٧٥ اَلْحَدِيْثُ الْعَاشِرُ إِنَّ اللهَ تَعَالَى طَيِّبٌ لَا يَقْبَلُ إِلَّا طَيِّبًا

## مستجابُ الدّعوات خلقو ته د حجاج بن یوسف دعوت

علماؤ یوه واقعه رانقل کړی چې په کوفه کې د مُستجَابُ الدّعوات خلقو (یعنی د کومو خلقو دُعاګانې چې قبلیږي ، د دوی) یوه ډله موجود وه ، کله به چې یو ظالِم حاکم په دوی باندې مقرر شو او په خلقو به یې ظلم کولو نو دوی به ورته خېرې اوکړی په دې سره به هغه هلاک شو . خو کله چې حجاج بن یوسف په دوی باندې مقرر شو ، نو ده یو دَعوت اوکړو او په دې کې یې دا مُستجَابُ الدّعوات خلق هم شریک کړل ، کله چې دوی د خوراک نه فارغ شو ، نو حجاج وویل چې زه اوس ددې خلقو د خېرو (بَد دُعا) نه بچ شوم ، ځکه د دوی خیټې ته حرام خوراک لاړ ( او چې په خېټه کې حرام خوراک پروت وي نو دُعاګانې نه قبلیږي ) . (۱)

لهذا مسلمان ته په کار دي چې د حرام خوراک نه ځان اوساتي ، بیا خاصکر په رمضان المبارک کې خو په خصوصي طریقې سره د حرام خوراک نه ځان ساتل په کار دي ، ځکه په دې سره بیا دُعاګانې نه قبلیږي .

## ۱۲. د روژه دار خُوب عبادت دی

په یو روایت کې راځي :

صُمْتُ الصَّائِمِ تَسْبِيحٌ ، وَنَوْمُهُ عِبَادَةٌ ، وَدُعَاؤُهُ مُسْتَجَابٌ ، وَعَمَلُهُ مَضَاعَفٌ . (۲)

د روژه دار خاموشي تسبیح ده ، خوب یې عبادت دی ، دُعا یې مقبوله ده ، او عمل یې دوچند کولې شي . (۳)

**فائده** : په روژه دار باندې الله تعالی دومره لویه مهرباني کړی چې د روژې په وجه ده

(۱) فضائل اعمال ص ۸۵۳ .

(۲) رواه الدیلمي في مسند الفردوس عن ابن عمرو ، و ابو زکریا في مسنده امالیه ، کنزالعمال رقم الحدیث ۲۳۶۳۱ کتاب الصوم الفصل الأول: في فضل الصوم مطلقا . / نوټ : امام الباني دې حدیث ته ضعیف وایي : ضعیف الجامع رقم ۳۴۹۲ .

(۳) قال أبو العالية: الصائم في عبادة وإن كان نائمًا على فراشه فكانت حفصة تقول: يا حبذا عبادة وأنا نائمة على فراشي فالصائم في ليله ونهاره في عبادة ويستجاب دعاؤه في صيامه وعند فطره . فهو في نهاره صائم صابر وفي ليله طاعم شاكر. نداء الريان في فقه الصوم وفضل رمضان ۱/۵۱ الفضيلة السابعة عشر للصائم فرحتان .

څليريشت (۲۴) ګڼتي عبادت جوړيږي ، ځکه که دې اوده شي نو دا خوب يې په عبادت کې شماريږي ، او که دې چُپ وي د خُلې نه فضول خبرې نه را اُوباسي نو دا خاموشي يې هم تسبيح ده ، يعنې چې تر څو پورې دې چُپ وي ده ته د سبحان الله ويلو اَجر و ثواب ملاويږي، او هره دُعا يې قبليږي .

## ۱۳ . د روژه دار سره د خوراک حساب نشته

رسولُ الله صلى الله عليه وسلم فرمايي :

ثَلَاثَةٌ لَيْسَ عَلَيْهِمْ حِسَابٌ فِيمَا طَعِمُوا إِذَا كَانَ حَلَالًا: اَلصَّائِمُ، وَالْمُتَسَحِّرُ، وَالْمُرَابِطُ فِي سَبِيلِ اللهِ . (۱)

درې کسان داسې دي چې (الله ﷻ اوغواړي نو) د دوی سره به د هغه خوراک حساب نه وي کوم چې دوی اُوخوري خو شرط دادی چې دا خوراک حلال وي : (يو) روژه دار . (دويم) پيشمني کوونکې . (دريم) د الله ﷻ په لاره "جهاد" کې پهره کوونکې .

## ۱٤. د روژې په وجه صحت ښه کيدل

د روژې څوارلسمه فائده داده چې په دې کې د اُخروي ګټو سره سره دُنيوي بدَني ګټه هم شته ، هغه دا چې په دې سره د انسان صِحت مند کيږي ، بَلغمي بيمارياني او د معدې مرضونه په دې سره ختميږي . نبي ﷺ فرمايي : صُومُوا تَصِحُّوا . (۲)

(۱) المعجم الكبير للطبراني رقم الحديث ۲۱۰۱۲ ، كنزالعمال الفصل الثالث فى الثلاثيات رقم الحديث ۴۳۲۴۳ ، الترغيب والترهيب ج۲ ص ۱۳۹ ، كنزالعمال رقم الحديث ۴۳۲۴۶ .

(۲) عَنْ أَبِي هُرَيْرَةَ رضي الله عنه قَالَ: قَالَ رَسُولُ اللهِ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ: « اُغْزُوا تَغْنَمُوا وَصُومُوا تَصِحُّوا وَسَافِرُوا تَسْتَغْنُوا ».مجمع الزوائد ومنبع الفوائد ۳/ ۱۷۹ كِتَابُ الصِّيَامِ بَابٌ فِي فَضْلِ الصَّوْمِ رقم الحديث ۵۰۷۰ وقال الهيثمي بعد ايراده الحديث : رَوَاهُ الطَّبَرَانِيُّ فِي الْأَوْسَطِ، وَرِجَالُهُ ثِقَاتٌ. و رقم ۹۶۵۷ كِتَابُ الْجِهَادِ بَابُ اغْزُوا تَغْنَمُوا وَسَافِرُوا تَصِحُّوا . المعجم الأوسط للطبراني رقم الحديث ۸۳۱۲ ، و رواه السيوطي فى الدر ۲/ ۸۳ ، وابن السني و ابونعيم فى الطب النبوي ، كنزالعمال كتاب الصوم الباب الاول فى صوم الفرض الفصل الاول فى فضل الصوم مطلقا ، الترغيب والترهيب ج۲ ص ۵۰ ، المتجر الرابح فى ثواب العمل الصالح ص ۱۶۳ .

تاسو روژې نيسئ نو صحت مَند به شئ.

په يو حديث کې راځي :

لِكُلِّ شَيْءٍ زَكَاةٌ وَزَكَاةُ الْجَسَدِ الصَّوْمُ .(۱)

د هر يو څيز د پاره زکوٰة (يعنی پاکوالې) شته او د بدن زکوٰة (پاکوالې) روژه ده.

**فائده** : يعنی لکه څرنګې چې په زکوٰة سره د مال خېرې صفا کيږي او مال ورسره ترقي کوي نو همدغه شان په روژې سره هم د بدن پاکوالې راځي ، د بيمارۍ په وجه چې کوم فاسد مَواد په وجود کې پيدا شوي وي هغه په روژې سره ختميږي ، او بدن ورسره صِحت مَند کيږي.

اګر چې په ظاهره باندې په روژې سره د انسان بدن کمزورې معلوميږي ليکن په حقيقت کې د بدن جِسماني صِحت او رُوحاني پاکيزګي په روژې سره حاصليږي.

بل دا چې په دې سره بدن د ګناهونو نه هم صفا کيږي.(۲)

(۱) المعجم الكبير للطبراني رقم الحديث ۵۹۷۳ ، سنن ابن ماجة كِتَابُ الصِّيَامِ بَابٌ فِي الصَّوْمِ زَكَاةُ الْجَسَدِ رقم الحديث ۱۷۴۵ ، شعب الايمان للبيهقي رقم ۳۳۰۰ ، مشكوة المصابيح كِتَابُ الصَّوْمِ بَابُ صِيَامِ التَّطَوُّعِ رقم الحديث ۲۰۷۲(۳۷) . كنزالعمال رقم الحديث ۲۳۵۷۲ ، الترغيب في فضائل الاعمال و ثواب ذلک رقم ۲۷۸ . احياء علوم الدين ج۳ ص ۷۴ بيان فوائد الجوع وآفات الشبع.

**نوټ** : دا حديث اګر چې ضعيف دی ، خو چې په ضعيف حديث کې شرائط برابر وي نو دا په فضائلو کې معتبر وي.

قال ابن الجوزي : هذا حديث لايصح . لداء الريان ۱/ ۳۹۳ . خذ ما صفى ودع ما كدر.

(۲) (لِكُلِّ شَيْءٍ زَكَاةٌ) أَيْ نَمَاءٌ يُعْطَى بَعْضُهُ أَوْ طَهَارَةٌ يُطَهَّرُ بِهِ " «وَزَكَاةُ الْجَسَدِ الصَّوْمُ» " فَإِنَّهُ يُذَابُ بَعْضُ الْبَدَنِ مِنْهُ وَيُنْقَصُ وَتُطَهَّرُ الذُّنُوبُ بِهِ، وَتُمَحَّصُ، فَالزَّكَاةُ عِبَادَةٌ مَالِيَّةٌ، وَالصَّوْمُ طَاعَةٌ بَدَنِيَّةٌ. قَالَ الطِّيبِيُّ: أَيْ صَدَقَةُ الْجَسَدِ مَا يُخَلِّصُهُ مِنَ النَّارِ بِجُنَّةِ الصَّوْمِ . مرقاة المفاتيح شرح مشكاة المصابيح ۱۴۲۹/۴ المصابيح كِتَابُ الصَّوْمِ بَابُ صِيَامِ التَّطَوُّعِ .

(لكل شيء زكاة) أي ينبغي للإنسان أن يخرج من كل شيء قدرا لله. فيكون ذلك زكاة له. و زكاة الجسد الصوم فإنه ينتقص به الجسد في سبيل الله. فصار ذلك الذي نقص منه كأنه أخرج منه لله. على أنه زكاة له.

شرح محمد فؤاد عبد الباقي على سنن ابن ماجة في تشريح حديث ۱۷۴۵

# د روژې نيولو سائنسي او طبي فوائد

محترمو مسلمانانو ! لکه څرنګې چې روژه د الله ﷻ د طرفه يو فرضي حُکم دی، او په دې کې ډير اَجرونه او ثوابونه دي، همدغه شان په روژه کې ډير سائنسي، طِبي او دُنيوي فوائد هم شته: چې په دې سره د انسان وجود صحت مَند کيږي او د ډيرو بيماريو نه محفوظ کيږي. د يو څو عنواناتو په ضِمن کې درته د روژې يو څو سائنسي او طِبي فوائد بيانوم:

## ۱. د روژې په وجه د انسان په خوراک هضمولو نظام باندې بهترين اثر غورځيږي

کله چې انسان خوراک کوي نو دده په وجود کې د خوراک هضمولو ټول نِظام خپل کار شروع کړي، بيا خاصکر جِګر د خوراک هضمولو نه علاوه نور پنځلس (۱۵) کارونه هم کوي، که د خوراک معمولي څيز معدې ته لاړشي نو د خوراک هضمولو ټول نِظام او جِګر خپل کار شروع کړي.

اوس که د يو انسان دغه نِظام څليريشت (۲۴) ګنټې مصروفه وي نو په دې سره انسان ته اَعصابي دَباؤ او نور مختلف قِسمه مرضونه پيدا کيږي.

لهذا په روژه کې دې نظامِ هضم او جِګر ته آرام ملاويږي چې په دې سره انسان صِحت مَند او تازه کيږي.

همدارنګې په روژې سره په معده کې تيزابيت (Acidity) هم نه جَمع کيږي، کولمو ته آرام او قوت هم حاصليږي.

## ۲. د روژې په وجه د وِينې جوړولو نظام بهتر کيږي. او وِينه پيدا کيږي

د انسان په وجود کې الله ﷻ د وِينې پيدا کولو آټوميټک نِظام جوړ کړی، چې کله وينه په وجود کې کمه شي نو دا يې پوره کوي، خو عام طور په کمزورو خلقو کې دا د وينې جوړولو نظام لږ سست وي وينه په پوره مقدار نه جوړيږي، اوس چې کله يو کس روژه اونيسي نو په دې سره خو چونکه د وينې غذائي مَواد کميږي نو په دې وخت کې د وينې جوړولو دغه نِظام په حرکت کې راشي او ډيره بهترينه وِينه جوړه کړي.

بیا خاصکر په روژه کې د خوراک نه کولو په وجه ځګر ته آرام ملاویږي نو دا هم په دې وخت کې د وینې پیدا کولو ضروري مَواد تیار کړي چې په دې سره بیا په آسانۍ باندې ډېره وِینه پیدا کیږي، او انسان د وِینې د مختلف قِسمه بیمارو نه محفوظ کیږي.

## ۳. د روژې په وجه معده د فاسدې مادې نه پاکیږي

نور حیوانات د خپل شعور په وجه په خوراک کې اِعتدال ساتي لیکن انسان باوجود د دینه چې أشرفُ المخلوقات او د عقل واله دی خو بیا هم په خوراک کې د اِعتدال د حَد نه تجاوز کوي چې په دې سره دده په بدن کې مختلف قِسمه بیماریانې پیدا کیږي.

اوس چې کله انسان روژه اونیسي نو معده یې خالي شي، د ولږې په وجه دده د معدې توله فاسده مَاده اُوسوزي او معده بالکل صفا شي، چې ددې په وجه انسان صحت مند کیږي. دغه وجه ده چې موجوده ډاکټرانو او طبیبانو هم دا اِقرار کړی چې د ډېرو مرضونو د پاره بهترین علاج همدا اسلامي طریقې سره روژه نیول دي.(۱)

**د روژې متعلق د غیر مسلمو اِقرار:** تر دې چې مستشرقینو او د یورپ ماهره ډاکټرانو هم دا خبره تسلیم کړی چې روژه نیول انسان ته نوې رُوح او نوې قوّت ورکوي.

همدغه شان د روژې سره ډیرې معاشي (Economical) پریشانۍ هم ختمیږي، ځکه د روژې په وجه مرضونه کمیږي، او کله چې مرضونه کم شي نو هسپتالونو ته به ضرورت هم نه پیداکیږي چې ددې په نتیجه کې به د معاشي فوائدو سره سره اِطمینان او سکون هم پیدا شي.

## د روژې په وجه د یو اَمریکائي غیر مُسلم اقرار

یو عالِم لیکلي چې د ماسره یو امریکائي غیر مُسلم ملاؤ شو، هغه ماته وویل چې زما روژه ده. ما ورته وویل چې ته خو غیرمُسلِم یې نو ته څنګه روژه نیسي؟

هغه راته وویل: په کال کې څه وخت په انسان باندې داسې تیریدل هم په کار دي چې دې په کې د خوراک څکاک نه پرهیز اوکړي (یعنی روژه اونیسي) ددې د پاره چې د بدن

---

(۱) سُنتِ نبوي اور جدید سائنس ج۱ ص ۱۷۱ تا ۱۷۶ مع الاختصار.

هضمولو نظان ( Digestive system ) ته څه وخت آرام ملاؤ شي ، چې ددې په وجه به دده په بدن کې هغه رطوبتونه چې د وخت په تیریدلو سره د هغې نه زهر ( Poison ) جوړ شوي وي دا به دده د بدن نه ختم شي .

او کله چې دا زهریله رطوبتونه د بدن نه ختم شي نو انسان بیا د ډیرو پیچیده بیماریانو نه محفوظ کیږي ، او د هضمولو نظام قوي کیږي .

دې غیرمُسلمه آمریکائي وویل : دغه وجه ده چې ما او ښځې دا فیصله کړې ده چې مونږ به په هره میاشت کې روژه نیسو ، د خوراک څکاک وغیره نه به پرهیز کوو .

دا عالم وايي چې ما ورته وویل : مونږ ته خو د روژې دا ښائسته طریقه په خپل دِین کې خودل شوی چې هغه د رمضان المبارک فرضي روژې دي ، همدغه شان په هره میاشت کې د اَیّامِ بیض درې روژې نیول مستحب دي . (۱)

## د روژې په باره کې د اُکسفورډ یونیورسټۍ د پروفیسر حیرانتیا او تجرِبه

د اکسفورډ یونیورسټۍ مشهور شخصیت " پروفیسر مور پالډ " خپله واقعه بیانوي چې ما د اسلامي علومو مطالعه کوله ، کله چې د روژې باب ته را اُورسیدم نو زه حیران شوم چې اسلام مسلمانانو ته څومره بهترینه فارموله خودلې ده ( او اومې ویل چې : ) که چیرته اسلام مسلمانانو ته بل هیڅ نه وی خودلی صرف همدا یوه د روژې فارموله یې ورته خودلې وی نو بیا به هم د دوی سره د دینه غټ بل نعمت نه ؤ .

( دا پروفیسر وايي ) ما اِراده اوکړه چې اوس په دې روژه باندې تجرِبه کوم ، زه چونکه د ډیرې زمانې نه د معدې په پَرسوب مرض ( Stomach inflammation ) کې مبتلاء ووم ، ما د مسلمانانو په طریقه باندې روژه نیول شروع کړل ، یو څو ورځې پس ما محسوسه کړه چې زما د معدې په پَرسوب کې کمې راغی ، بیا ما نورې روژې هم اونیوی ، وخت په وخت به زما په جِسم کې تبدیلي راتلله ، تر دې پورې چې کله ما یوه میاشت روژې اونیولې نو زما بیماري مکمل ختمه شوه ، صِحت مَند شوم ، او په خپل وجود کې مې یوه اِنقلابي تبدیلي اولیده . (۲)

---

(۱) سُنتِ نبوي اور جدید سائنس ج۱ ص ۱٦۳ .

(۲) رساله لي دُنیا ، سُنتِ نبوي اور جدید سائنس ج۱ ص ۱٦۵ .

## د روژې په باره کې د ډاکټر لوتهر جیم ( آف کیمرج ) اقرار

ډاکټر لوتهر جیم د فارماکالوجي ( Pharmacology ) ماهره شخصیت ؤ ( یعنی د دوا شناسی او دوا سازی د اصولو ماهر ؤ ) ، هغه به هر څیز په غور او توجه سره کتلو ، هغه یو ځل د روژه دار د معدې رطوبت ( Stomach secretion ) راواخیست ، او په لیباټرۍ کې یې ددې ټسټ اوکړو نو محسوسه یې کړه چې هغه غذائي مُتَعفن ( بَدبوداره ) اجزاء ( Food Partical septic ) چې د کوم په وجه معده مختلف قِسمه مرضونه قبلوي ددې اجزاؤ نه د روژه دار معده مکمل صفا شوې وه ، بیا لوتهر جیم دا اِقرار اوکړو چې د روژې په وجه د انسان د جسم او بیا خاصکر د معدې مرضونه مکمل ختمیږي .

## د روژې په باره کې د یو ماهرِ نفسیات ډاکټر اقرار

د مشهور ماهرِ نفسیات ډاکټر "سګمند نرائډ" وینا ده چې د روژې په وجه دِماغي او نفسیاتي مرضونه ( Mentaland psychological ) مکمل ښه کیږي .

کوم کس چې روژه نیسي هغه به د جسماني کشیدګی ( Body congestion ) او ذِهني ډپریشن ( Mental Depression ) نه مکمل محفوظ وي .

## ۱۰. د قیامت په ورځ د روژه دارو د پاره د عرش د سیوري لاندې دَسترخوان غوړیدل

د قیامت په ورځ به د روژه دارو د پاره د عرش د لاندې دَسترخوان اُوغوړولې شي ، دوی به ناست وي خوراک به کوي او نور خلق به په حساب و کتاب کې مشغوله وي ، خلق چې دوی ګوري نو تعجب به اوکړي او او به وایي : دا څوک دي چې ناست دي خوراک کوي او موږ تر اوسه په حساب و کتاب کې مصروفه یو ؟

دوی ته به وویلې شي چې دا هغه خلق دي چې دوی به روژې نیولی ، او تاسو روژې نه نیولی .(۱)

---

(۱) مجالس الابرار ، صدای ممبر و محراب ج۱ ص ۲۹۵ .

همدغه شان قول علامه ابن حجر رحمه الله هم نقل کړی (۱)

## ۱۶. د قيامت په ورځ د روژه دارو اکرام کول

په يو حديث کې ذکر دي چې کله د قيامت ورځ شي نو الله تعالی به رضوان فرښتې ته اوفرمايي:

أني أخرجتُ الصائمين من قبورهم جائعين عطاشى فاستقبلهم بطعامٍ وشرابٍ مِنَ الجنة.

ما روژه دار د خپلو قبرونو نه اوږي تږي راپاڅولي دي نو ته د دوی استقبال د جنت په خوراک او څکاک سره اوکړه (يعنی دوی ته د جنت خوراک او څکاک راوړه) نو د رضوان فرښته به آواز اوکړي : اې د جنت غِلمانو او هلکانو ! د نُور طباقونه راوړئ. نو د دوی سره به د ستورو نه زيات د ميوو او ښائسته شربتونو ښيزونه وي، دوی به په دې سره د روژه دارو سړو او روژه دارو ښځو استقبال (او ميلمستيا) اوکړي، او دوی ته به ووېلې شي :

كُلُوا وَاشْرَبُوا هَنِيئًا بِمَا أَسْلَفْتُمْ فِي الْأَيَّامِ الْخَالِيَةِ. (۲)

تاسو ښه په مزو سره دا اُوخورئ او اُوڅکئ، دا (نعمتونه) د هغه اَعمالو په بدله کې دي کوم چې تاسو په تېرو ورځو کې کړي دي. يعنی دا نِعمتونه د روژو نيولو په عِوض کې دي.

## ۱۷. د روژې په حالت کې وفات کيدلو سره د جنت مستحق کيدل

څوک چې د روژې په حالت کې وفات شي، يا د روژه ماتي نه پس وفات شي نو داسې

---

(۱) قال ابن رجب: "عن بعض السلف قال: بلغنا أنه يوضع للصوّام مائدة يأكلون عليها والناس في الحساب فيقولون: يا رب نحن نحاسب وهم يأكلون، فيقال: إنّهم طالما صاموا وأفطرتم وقاموا ونمتم" نداء الريان في فقه الصوم وفضل رمضان ۱ /۴۱.

(۲) وفي حديث آخر إذا كان يوم القيامة أوحى الله إلى رضوان : أني أخرجت الصائمين من قبورهم جائعين عطاشى فاستقبلهم بطعام وشراب من الجنة . فيصيح رضوان أيها الغلمان والولدان عليكم بأطباق من نور فتجتمع عند أكثر من الكواكب بالفاكهة والأشربة اللذيذة فيستقبلون الصائمين والصائمات ويقال لهم كُلُوا وَاشْرَبُوا هَنِيئًا بِمَا أَسْلَفْتُمْ فِي الْأَيَّامِ الْخَالِيَةِ وهي أيام الصوم كما تقدم. نزهة المجالس ومنتخب النفائس ۱۶۵/۱ باب فضل رمضان والترغيب في العمل الصالح فيه وما فيه من الفضل.

کس د جنت مستحق ګرځي. (۱)

علماؤ تر دې پورې لیکلي چې څوک د رمضان روژې اونیسي او بیا په همدې کال کې وفات شي نو دا کس به هم جنت ته داخلیږي. (۲)

## ۱۸. په قیامت کې به د روژې ثواب د انسان نه نشي اخیستلی

په دُنیا کې چې څوک په چا باندې ظلم اوکړي، یا د هغه حق ضائع کړي نو په قیامت کې به ددې په عِوض کې دده نه د نېکو اعمالو اجر اخیستلې شي او مظلوم یا صاحبِ حق ته به ورکولې شي، خو صرف روژه داسې عبادت دی چې ددې ثواب به د روژه دار نه نشي اخیستلی بلکه دا به د الله ﷻ سره د روژه دار د پاره ذخیره وي. (۳)

---

(۱) عَنْ حُذَيْفَةَ رَضِيَ اللهُ عَنْهُ عَنِ النَّبِيِّ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ قَالَ: «مَنْ خُتِمَ لَهُ بِصِيَامِ يَوْمٍ دَخَلَ الْجَنَّةَ. مسند البزار رقم الحديث ۲۸۵۴، صحيح الترغيب ۹۷۶، الصحيحة ۱۶۴۵.

قال المناوي: أي من ختم عمره بصيام يوم بأن مات وهو صائم أو بعد فطره من صومه دخل الجنة مع السابقين الأولين، أو من غير سبق عذاب. "فيض القدير" (۱۲۳/۶).

(۲) عن الْعَلَاء بْن الْمُسَيَّبِ، عَنْ أَبِيهِ، وَخَيْثَمَةَ، قَالَا: "كَانَ يُقَالُ: مَنْ صَامَ رَمَضَانَ ثُمَّ مَاتَ مِنْ عَامِهِ ذٰلِكَ دَخَلَ الْجَنَّةَ. فضائل رمضان لابن ابي الدنيا ۶۳/۱ رقم الحديث ۳۵.

(۳) عَنِ النَّبِيِّ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ يَرْوِيهِ عَنْ رَبِّكُمْ، قَالَ: «لِكُلِّ عَمَلٍ كَفَّارَةٌ، وَالصَّوْمُ لِي وَأَنَا أَجْزِي بِهِ. صحيح البخاري رقم الحديث ۷۵۳۸ كِتَابُ التَّوْحِيدِ بَابُ ذِكْرِ النَّبِيِّ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ وَرِوَايَتِهِ عَنْ رَبِّهِ.

ومعناها أن لكل عمل من المعاصي كفارة من الطاعات.

و رواه أحمد: عَنِ النَّبِيِّ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ، يَرْوِيهِ عَنْ رَبِّكُمْ عَزَّ وَجَلَّ: "كُلُّ الْعَمَلِ كَفَّارَةٌ، وَالصَّوْمُ لِي، وَأَنَا أَجْزِي بِهِ" مسند احمد رقم الحديث ۹۸۸۸، و هكذا رواه ابوداؤد الطيالسي.

قال ابن رجب: الاستثناء يعود إلى التكفير بالأعمال، ومن أحسن ما قيل في ذلك ما قاله سفيان بن عيينة قال: هذا من أجود الأحاديث وأحكمها: "إذا كان يوم القيامة يحاسب الله عبده ويؤدي ما عليه من المظالم ويدخله بالصوم الجنة" خرّجه البيهقي في "شعب الإيمان" وغيره وعلى هذا فيكون المعنى: أن الصيام لله عز وجل فلا سبيل لأحد إلى أخذ أجره من الصيام لله عز وجل بل أجره مدخر لصاحبه عند الله عز وجل. "لطائف المعارف" لابن رجب ص ۱۶۸، ۱۷۰. نداء الريان ص ۳۳.

## ۱۹. د روژې په وجه په مسلمان کې د همدردۍ جذبه پیدا کیږي

د روژې نولسمه (۱۹) فائده داده چې ددې په وجه په انسان کې د همدردۍ جَذبه پیدا کیږي، ځکه کوم مالدار سړي چې کله هم اُولږه او تَنده نه وي تېره کړي نو هغه ته د اُولږې او تَندې څه اِحساس کیږي؟ هغه د غریبانانو د وَلږې او تَندې نه څه خبروي؟

خو چې کله دا یوه میاشت اُولږه او تنده برداشت کړي نو ورته معلومه شي چې فقیران ټول عُمر همدغه شان اُولږه او تنده تېروي، نو دده په زړه کې د هغوی سره د همدردۍ او اِمداد جَذبه پیدا شي، او د هغوی سره یې موافقت هم راشي. (۱)

---

(۱) ملا علي قاري رحمه الله په مرقاة کې ددې تشريح داسې کړې: وَمِنْهَا كَوْنُهُ مُوْجِبًا لِلرَّحْمَةِ وَالْعَطْفِ عَلَى الْمَسَاكِيْنِ، فَإِنَّهُ لَمَّا ذَاقَ أَلَمَ الْجُوْعِ فِيْ بَعْضِ الْأَوْقَاتِ ذَكَرَ مَنْ هٰذَا حَالُهُ فِيْ عُمُوْمِ السَّاعَاتِ. فَتُسَارِعُ إِلَيْهِ الرِّقَّةُ عَلَيْهِ. وَالرَّحْمَةُ حَقِيْقَتُهَا فِيْ حَقِّ الْإِنْسَانِ نَوْعُ أَلَمٍ بَاطِنٍ فَيُسَارِعُ لِدَفْعِهِ عِنْدَ الْإِحْسَانِ إِلَيْهِ فَيَنَالُ بِذٰلِكَ مَا عِنْدَ اللهِ مِنْ حُسْنِ الْجَزَاءِ. وَمِنْهَا مُوَافَقَةُ الْفُقَرَاءِ بِتَحَمُّلِ مَا يَتَحَمَّلُوْنَ أَحْيَانًا. وَفِيْ ذٰلِكَ رَفْعُ حَالِهِ عِنْدَ اللهِ. كَمَا حُكِيَ عَنْ بِشْرٍ الْحَافِيْ أَنَّهُ دَخَلَ عَلَيْهِ رَجُلٌ فِي الشِّتَاءِ فَوَجَدَهُ جَالِسًا يَرْعَدُ وَثَوْبُهُ مُعَلَّقٌ عَلَى الْمِشْجَبِ. فَقَالَ لَهُ: فِيْ مِثْلِ هٰذَا الْوَقْتِ تَنْزِعُ الثَّوْبَ: أَوْ مَعْنَاهُ. فَقَالَ: يَا أَخِيْ، اَلْفُقَرَاءُ كَثِيْرٌ وَلَيْسَ لِيْ طَاقَةُ مُوَاسَاتِهِمْ بِالثِّيَابِ فَأُوَاسِيْهِمْ بِتَحَمُّلِ الْبَرْدِ، كَمَا يَتَحَمَّلُوْنَ اهـ وَلِهٰذَا كَانَ يَقُوْلُ بَعْضُ الْأَوْلِيَاءِ الْعَارِفِيْنَ عِنْدَ كُلِّ أَكْلَةٍ: اَللّٰهُمَّ لَا تُؤَاخِذْنِيْ بِحَقِّ الْجَائِعِيْنَ. وَقَدْ ثَبَتَ أَنَّ سَيِّدَنَا يُوْسُفَ عَلَيْهِ السَّلَامُ مَا كَانَ يَشْبَعُ مِنَ الطَّعَامِ فِيْ سَنَةِ الْقَحْطِ مَعَ كَثْرَةِ الْمَأْكُوْلِ عِنْدَهُ فِيْ ذٰلِكَ الْعَامِ، لِئَلَّا يَنْسٰى أَهْلَ الْجُوْعِ وَالْفَاقَةِ، وَلِيَتَشَبَّهَ بِهِمْ فِي الْخَاصَّةِ وَالْحَاجَةِ. مرقاة المفاتيح شرح مشكاة المصابيح ۴/۱۳۶۰ كِتَابُ الصَّوْمِ

قال القسطلاني: إعانته على بذل الصدقات فإن الصائم يجوع، فيعرف قدر ألم الجوع. فيحرضه ذلك على حرصه في الإحسان إلى الجياع، ويحمله على تدبر ما هم فيه من ضرر العجز والانقطاع. وإنما يجد ذوق التعب مَنْ نازله، ويعرف قدر الضرر مَنْ واصله. "مدارک المرام" ص ۷۶.

قال عز الدين بن عبد السلام: وأما تكثير الصدقات، فلأن الصائم إذا جاع تذكر ما عنده من الجوع. فيحثه ذلك على إطعام الجائع "فإنما يرحم العشاق من عشقا". وقد بلغنا أن سليمان أو يوسف عليهما السلام لا يأكل حتى يأكل جميع المتعلقين به. فسئل عن ذلك؟ فقال: أخاف أن أشبع فأنسى الجائع. فوائد الصيام ص ۲۵. نداء الريان ۱/۶۳.

## ۲۰. د روژې په وجه د انسان سره د رزق قدر پيداکيږي

د روژې شلمه (۲۰) فائده داده چې ددې په وجه د انسان سره د رِزق (خوراک او اُوبو) قدر پيدا کيږي ، او پـ سوجوده نِعمتونو ورته د شکريې توفيق ملاويږي.

اګر چې بعض خلق په ژبه باندې شکريه اَداء کوي خو چې تر څو پورې ده اُولږه او تَنده نه وي برداشت کړي نو تر هاغه وخته پورې ده ته ددې نِعمتونو پوره قدر نه وي معلوم ، خو چې کله دې د روژې په وجه داتکليف برداشت کړي نو بيا د الله ﷻ د نِعمتونو کاملې طريقې سره شکريه اداء کوي . دغه وجه ده چې کله د يو چا نه دده محبوب څيز د څه لږ وخت د پاره ورک يا مَنع شي نو بيا يې په زړه کې د هغې قدر پيدا کيږي . (۱)

## ۲۱. د روژې په وجه بيا ټول کال په دِين باندې عمل کول آسانيږي

د روژې يوه فائده داده چې ددې په وجه بيا انسان ته ټول کال په دِين باندې چليدل او عمل کول آسانيږي ، ګويا روژه په پوره دِين باندې د عمل کولو يو قِسم تمرينَنګ دى .

ددې خبرې پوره تفصيل دادى : که يو انسان د ځان سره دا سوچ اوکړي چې " د سهر نه تر ماښامه پورې زه ولې خوراک څکاک نه کوم ؟ حالانکه دا خو زما د پاره مخکې حلال ؤ ، دا زما خپل حلال خوراک دى ، زه اوس اُوږې او تږې يم ، ديته مې سخت ضرورت دى ، چا زما لاس هم ندې نيولى ، نو آخِر زه دا ولې نه خورم ؟ "

ددې صرف همدا يو جواب دى چې " زه د رمضان په دې مياشت کې الله ربّ العزت د خوراک څکاک نه منع کړې يم د هغه په حُکم باندې عمل کوم " .

(۱) قال عز الدين بن عبد السلام: وأما شكر عالم الخفيات : إذا صام عرف نعمة الله عليه في الشبع والري. فشكرها لذلك. فإن النعم لا تعرف مقدارها إلا بفقدها . فوائد الصوم ص ۲۵ .

وقال القسطلاني وهو يتحدث عن مقاصد الصوم وفضائله: " تكثيره لشكر النعم . واعترافه بما سبق له من نعمة الشبع عند جوعه وعطشه فيجتهد في الشكر فإن الشيء إنما يعرف ما كان عليه بضده" . مدارك المرام في مسالك الصيام . ص ۷۶. نداء الريان ۱/ ۶۱ .

اوس دې انسان دا سوچ اوکړي چې "کوم رب زه په رمضان کې د خوراک څکاک نه منع کړې يم هماغه رب خو زه غونډ کال (دولس مياشتې) د غَلا، زِنا، سُود، شرابو، دروغ، غِيبت، چُغل خورى، دُهوکې، ګيره خريلو او د ټولو حرامو کارونو نه هم منع کړې يم نو زه بيا ولې ددې کارونو نه نه منع کيږم؟ آيا د رمضان خداى ځانله دى او د نورو مياشتو خداى ځانله دى؟ (نعوذُ بِالله). د کوم رب حکم مې چې په رمضان کې منلې وُ او د خوراک څکاک نه منع شوې ووم هماغه رب خو راته دا نور حُکمونه هم کړي چې د ګناهونو او حرامو نه منع شه نو په کار ده چې زه په دې باندې هم عمل اوکړم"

نو چې کله انسان دا سوچ اوکړي نو دده سره اِحساس پيدا شي، تقوىٰ په کې پيدا شي، او بيا ټول کال د ګناهونو نه بچ کيدې شي، او په ټول دِين باندې ورته عمل کول آسانيږي.

علماؤ تر دې پورې ليکلي چې يو کس په ځان کې هِمت پيدا کړي او په دې يوه مياشت کې ځان د هر قِسمه ګناهونو نه اوساتي: د سترګو، غوږونو او ژبې حفاظت اوکړي، په خيټه کې حرام خوراک وا نه چوي نو الله تعالى به ددې په برکت سره دده په زړه کې د ګناهونو نه نفرت پيدا کړي، او بيا به يې ټول کال ګناهونو ته شوق پيدا نشي.

ګويا رمضان د ټول کال زړه دى، که دا د شريعت موافق صحيح تېر کړي نو ټول کال به په شريعت باندې ورته عمل کول آسان شي.

## ۲۲. د روژې په وجه نفسي خواهشات او شهوتونه کنټرول کيږي

د روژې دوه ويشتمه (۲۲) فائده داده چې ددې په وجه په نفسي خواهشاتو او شهوتونو باندې کنټرول پيدا کيږي، ځکه د فِطرت تقاضا داده چې عقل ته هميشه په نفس باندې غلبه حاصله وي خو بعضې وخت د بَشري تقاضو په وجه نفس په عقل باندې غالب شي نو ددې د اِصلاح د پاره شريعت روژه مقرر کړه چې په دې سره دوباره عقل ته په نفس باندې مکمل کنټرول او غلبه حاصله شي. او کله چې د نفس اصلاح اوشي، په قوتِ شهواني باندې کنټرول پيدا شي نو د بدن نور اَندامونه (لاس، خپې، سترګې، غوږونه او ژبه) په خپله د شريعت مطابق کيږي.

# د روژې نور فوائد او حکمتونه

په اسلامي شريعت کې د روژې نور فوائد هم ذکر شوي ، يو څو درته په مختصرې طريقې سره ذکر کوم :

**۲۳** . د روژه دار د پاره د زمکې او آسمان ټول مخلوق د مغفرت دُعا کوي : (۱)

**۲۴** . د روژې صفتونه د الله ﷻ د صفتونو سره مناسب دي ، لهذا په دې سره انسان د الله رب العزت مُقرّب جوړيږي . (۲)

**۲۵** . چې څوک په سخت اُوړي کې روژه اونيسي نو الله تعالى به د قيامت په ورځ په هغه سخته ورځ او سخته تَنده کې په ده باندې اُوبه اُوڅکي . (۳)

---

(۱) عَنْ عَائِشَةَ رضي الله عنها قَالَتْ: سَمِعْتُ رَسُولَ اللهِ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ يَقُوْلُ : " مَا مِنْ عَبْدٍ أَصْبَحَ صَائِمًا إِلَّا فُتِحَتْ لَهُ أَبْوَابُ السَّمَاءِ، وَسَبَّحَتْ أَعْضَاؤُهُ، وَاسْتَغْفَرَ لَهُ أَهْلُ السَّمَاءِ الدُّنْيَا، إِلَى أَنْ تُوَارَى بِالْحِجَابِ . شعب لايمان رقم الحديث ۳۲۱۹ فضائل الصوم ، كنز العمال رقم الحديث ۲۳۶۳۰ .

(۲) الصيام مناسب لصفة من صفات الحق : الله هو الغني، وهو القيوم، وهو الصمد. والصمد هو الذي لا يحتاج إلى الطعام والشراب. قال الحافظ: "والاستغناء عن الطعام وغيره من الشهوات من صفات الرب جل جلاله. فلما تقرب الصائم إليه بما يوافق صفاته أضافه إليه.

وقال القرطبي: إنّ أعمال العباد مناسبة لأحوالهم إلا الصيام فإنّه مناسب لصفة من صفات الحق، كأنه يقول: إن الصائم يتقرب إلي بأمر هو متعلق بصفة من صفاتي . ( وكذلك المعنى بالنسبة إلى الملائكة لأن ذلك من صفاتهم ) . "فتح الباري" (۴/ ۱۳۰) ، نداء الريان في فقه الصوم وفضل رمضان ۱/ ۳۲ الفضيلة الخامسة

(۳) عَنِ ابْنِ عَبَّاسٍ رَضِيَ اللهُ عَنْهُمَا أَنَّ رَسُوْلَ اللهِ صَلَّى اللهُ عَلَيه وَسَلَّم بَعَثَ أَبَا مُوْسٰى فِي سَرِيَّةٍ فِي الْبَحْرِ فَبَيْنَا هُمْ كَذٰلِكَ قَدْ رَفَعُوا الشِّرَاعَ فِي لَيْلَةٍ مُظْلِمَةٍ إِذَا هَاتِفٌ مِنْ فَوْقِهِمْ يَهْتِفُ بِأَهْلِ السَّفِيْنَةِ قِفُوْا أُخْبِرُكُمْ بِقَضَاءٍ قَضَاهُ اللهُ عَلَى نَفْسِهِ فَقَالَ أَبُوْ مُوْسٰى: أَخْبِرْ إِنْ كُنْتَ مُخْبِرًا، قَالَ: إِنَّ اللهَ تَبَارَكَ وَتَعَالَى قَضٰى عَلَى نَفْسِهِ أَنَّهُ مَنْ أَعْطَشَ نَفْسَهُ لَهُ فِي يَوْمٍ صَائِفٍ سَقَاهُ اللهُ يَوْمَ الْعَطَشِ. حسنٌ: قال المنذري: رواه البزار بإسناد حسن إن شاء الله، مسند البزار رقم الحديث ۴۹۷۴ ، وحسنه الألباني في "صحيح الترغيب" (۱/ ۴۱۲) .

۲۶. د روژې په وجه زړه نرمیږي او اندامونه د ګناهونو نه محفوظ کیږي. (۱)

۲۷. د روژې خصوصیت دادی چې دا روژه الله ﷻ د بعضې اعمالو فدیه ګرځولی، د بعضې اعمالو یې بدل ګرځولی، او د بعضې اعمالو یې کفاره ګرځولی. او دا خصوصیت صرف د روژې دی د نورو اعمالو ندی. (۲)

---

(۱) عَنْ أَبِي هُرَيْرَةَ رضي الله عنه، عَنِ النَّبِيِّ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ، قَالَ: «يَدْخُلُ الْجَنَّةَ أَقْوَامٌ، أَفْئِدَتُهُمْ مِثْلُ أَفْئِدَةِ الطَّيْرِ». صحيح مسلم رقم الحديث ۲۷ (۲۸۴۰) كتاب الْجَنَّةِ وَصِفَةِ نَعِيمِهَا وَأَهْلِهَا باب يَدْخُلُ الْجَنَّةَ أَقْوَامٌ أَفْئِدَتُهُمْ مِثْلُ أَفْئِدَةِ الطَّيْرِ.

قول القسطلاني معددًا لثمرات الصوم: "رقة القلب وغزارة الدمع وذلك من أسباب السعادة فإن الشبع مما يذهب نور العرفان ويقضي بالقسوة والحرمان". ثم يقول في ثمرات الصوم أيضًا: "صيانة جوارحه عن استرسالها في المخالفات وهذا هو أعظم ثمرات الصوم. "مدارک المرام" ص (۷۹، ۸۰) . نداء الريان في فقه الصوم وفضل رمضان ۳۲/۱ الفضيلة الخامسة ۶۸/۱ الفضيلة الرابعة والعشرون.

(۲) الصيام فدية لبعض الأعمال، أو بدلا منها، أو كفارة لها .من فضائل الصوم أنّ الله عز وجلّ "جعله في شريعة الإسلام فدية لبعض الأعمال، أو بدلا عنها، أو كفارة لها" . وهذا ليس لأي عبادة إلا الصوم:

أولا: فقد جعل الله الصيام فدية لحلق شعر الرأس الذي هو من محظورات الإحرام في الحج والعمرة وبدلاً عن هدي واجب لمن عجز عن الهدي. فقد قال الله عز وجل ( وأتموا الحج والعمرة لله فإن أحصرتم .....) البقرة: ۱۹۶.

ثانيا: جعل الله الصيام معادلًا للهدي وإطعام المساكين في كفارة قتل الصيد بالنسبة للمحرم. فقال تعالى: ( يا أيها الذين آمنوا لا تقتلوا الصيد وأنتم ...) المائدة: ۹۵.

ثالثا: جعل الله صيام ثلاثة أيام بدل كفارة اليمين عند العجز عنها وهي إطعام عشرة مساكين. أو كسوتهم. أو تحرير رقبة. على التخيير بين هذه الثلاثة. قال تعالى ( لَا يُؤَاخِذُكُمُ اللهُ بِاللَّغْوِ فِي أَيْمَانِكُمْ وَلَكِنْ يُؤَاخِذُكُمْ ...)

رابعا: جعل الله كفارة القتل الخطأ وكفارة الظهار عتق رقبة مؤمنة. هذه هي الكفارة الأساسية. فمن لم يجد رقبة مؤمنة يعتقها فعليه أن يصوم بدلا عنها شهرين متتابعين ... فسبحان من جعل الصوم ينوب عن عتق الرقاب عند العجز ويجعله كفارة القتل الخطأ.

قال تعالى: ( وَمَا كَانَ لِمُؤْمِنٍ أَنْ يَقْتُلَ مُؤْمِنًا إِلَّا خَطَأً وَمَنْ قَتَلَ مُؤْمِنًا خَطَأً ..) النساء: ۹۲.

وقال تعالى: ( وَالَّذِينَ يُظَاهِرُونَ مِنْ نِسَائِهِمْ ثُمَّ يَعُودُونَ لِمَا قَالُوا ...) المجادلة: ۳-۴.

فجعل الله الصيام ولم يجعل الصلاة أو الحج ... وهذه خاصية للصوم فأنعم به من عبادة.

۲۸ . د روژې په وجه رِزق زياتيږي ، نبي ﷺ فرمايي... شَهْرٌ يُزَادُ فِي رِزْقِ الْمُؤْمِنِ...(۱) دا داسې مياشت ده چې په دې کې د مؤمن په رِزق کې زياتوالې کولې شي .

۲۹ . روژه د اسلامي مساوات بهترينه نمونه ده ، ځکه په روژه کې مالدار او غريب ، بادشاه او ګدا ټول يو شان په نظر راځي ( چې د ټولو روژه وي ) .

۳۰ . د روژې په وجه په انسان کې د اُولږې او تَندې برداشت کولو قوّت پيدا کيږي ، بيا داسې کس هره مشکله مَرحله په آسانه تېرولې شي ، نو که په يو کس باندې په جهاد کې اُولږه او تنده راشي نو دا يې په آسانه برداشت کولې شي .

۳۱ . د روژې په وجه په انسان کې د صبر ماده پيدا کيږي ، بيا که دې خلافِ طبعيت څه کار اوګوري نو خپل ځان کنټرول کولې شي .

۳۲ . د روژې په وجه په انسان کې تواضع اوعاجزي پيدا کيږي ، او د الله ﷻ په قدرتونو باندې يې نظر غور ځي .

۳۳ . د روژې په وجه انسان د بَهيميت ( چارپائۍ والي ) نه لرې کيږي او د فرښتو قُرب او مشابهت ورته حاصليږي . ځکه په ډېر خوراک کولو سره په حيوانيت کې ترقي کيږي او په روژې نيولو سره د فرښتو سره مشابهت راځي ( ځکه فرښتې خوراک څکاک نه کوي ) .

۳٤ . د روژې په وجه انسان ته رُوحاني غِذا حاصليږي چې دا به دده د پاره په قبر او آخرت دواړو کې په کار راځي .

۳۵ . روژه د الله ﷻ د محبت غټه نخه ده ، ځکه چې کوم کس د يو چا په محبت کې اخته شي نو هغه خوراک څکاک پرېږدي ، همدغه شان روژه دار هم د الله ﷻ په محبت کې

---

(۱) شعب الايمان رقم الحديث ۳۳۳٦ الصيام فضائل شهر رمضان ، مشكاة المصابيح كتاب الصوم الفصل الثالث رقم الحديث ۱۹٦۵ (۱۰) ، صحيح ابن خزيمة باب فضائل شهر رمضان ... رقم الحديث ۱۸۸۷ ، كنزالعمال رقم الحديث ۲۳۷۱۴ ، و رقم ۲۴۲۷٦ ، معارف الحديث ج۴ ص ۳۴٦ كتاب الصوم .

خوراک ، څکاک او د خپلې بي بي سره تعلقات پرېږدي ، خالِص د الله ﷻ عبادت طرف ته متوجِّه شي .

۳۶ . د روژې په وجه د انسان اِيمان او يقين مضبوطيږي ، دغه وجه ده چې بې غيرَته کس روژه هيڅ کله نشي نيولی .

۳۷ . د روژې په وجه انسان په خپل ژوند کې ځان د قواعدو او پابَندۍ عادي جوړولې شي .

۳۸ . د روژې په وجه د الله ﷻ رَضا حاصليږي ، او زړه يې مطمئن کيږي .

۳۹ . د روژې په وجه د مسلمانانو په خپل مينځ کې مِينه او محبت زياتيږي ، ځکه روژه ماتې اکثر په شريکه کولې شي ، چې دا د اِتفاق او مِينې ذريعه ده .

٤۰ . د روژې په وجه د انسان د بَصيرت سترګې کلاويږي ، او آخرت طرف ته يې توَجّو پيدا کيږي .

## خلاصه

خلاصه دا چې روژه د اسلام په بُنيادي اَرکانو کې اَهم رُکن دی ، په اسلام کې ددې ډير فضائل ، فوائد ، حِکمتونه ، دُنيوي او اُخروي فائدې ذکر شوي .
الله رب العزت دې مونږ ټولو ته په صحيح طريقې سره د روژې نيولو توفيق راکړي ، او په قرآن کريم او احاديثو کې چې د روژې څومره فضائل او اَجرونه ذکر شوي الله ﷻ دې مونږټولو ته هغه رانصيبه کړي .

آمِيْن يَارَبَّ الْعَالَمِيْن .

وَآخِرُ دَعْوَانَا أَنِ الْحَمْدُ لِلّٰهِ رَبِّ الْعَالَمِيْنَ

**نوټ** : د روژې متعلق ټول ضروري فِقهي مسائل په تفصيل سره روستو ذکر دي ، د صفحه ۲۰۶ نه تر د صفحه ۳۲۴ پورې ، هلته يې اوګوره . ابوالشمس عفي عنه

# د روژې د فضائلو او حکمتونو متعلق د يو څو کتابونو عبارتونه

د روژې فضائل ، فوائد ، حِکمتونه ، دُنيوي او اُخروي فائدې پاس په تفصيل سره ذکر شوی ، اوس درته د يو څو نورو کتابونو نه د روژوې د فضائلو او فوائدو متعلق اصل عبارتونه په عربي کې رانقل کوم ، اهلِ علم حضرات ددې نه هم استفاده کولې شي :

۱ . په " نضرة النعيم في مكارم أخلاق الرسول الكريم ﷺ " کې د روژې اِجمالي فوائد په دې الفاظو ذکر دي :

من فوائد (الصوم) :

۱. الوعد بالبشرى والفوز بالجنة. ۲. طهرة للنفس ووقاية للبدن. ۳ . يثمر محبة الله وطاعته. ۴ . يهذّب الطباع ويكبح جماح النفس. ۵ . دليل صلاح العبد واستقامته. ٦ . صمام أمن من الوقوع في المحرمات. ۷. يورث الخشية من الله عزّ وجلّ. ۸ . يثمر مراقبة الله عز وجل في السّر. ۹. ينزّه الإنسان عن مشابهة بقيّة المخلوقات. ۱۰ . فيه ناحية صحيّة فالمعدة بيت الدّاء والحمية (أي الجوع) رأس الدّواء. ۱۱ . فيه حرب على الشّيطان. ۱۲. فيه إحساس بألم الفقير والمريض الممنوع من الطّعام. (۱)

۲ . په "مجالس شهر رمضان" کې د روژې حِکمتونه په دې الفاظو ذکر دي :

• فمِنْ حِكَم الصيام: أنّه عبادةٌ لله تعالى يتقرّب العبدُ فيها إلى ربّه بتركِ محبوباتِه ومشتهيَاتِه من طعامٍ وشرابٍ ونِكاحٍ، فيظهرُ بذلك صدقُ إيمانِه وكمالُ عبوديتِه لله وقوةُ محَبّتِه له ورجائِه ما عنده، فإنّ الإنسانَ لا يتركُ محبوبًا له إلّا لمَا هو أعْظمُ عنده مِنه، ولما عَلِمَ المؤمنُ أن رضَا الله في الصِيام بترك شهواته المجبول على محبّتِها قدّم رضَا مولاه على هواه فَتَركها أشدّ ما يكونُ شوقًا إليها؛ لأنّ لذّته وراحةَ نفسِهِ في تركِ ذلك لله عزّ وجلّ، ولذلك كان كثيرٌ من المؤمنين لو ضُرِب أو حُبِس على أن يُفطر يومًا من رمضانَ بدونِ عُذرٍ لم يُفطِر، وهذه الحكمةُ من أبلغ حِكمِ الصيامِ وأعظمِها.

---

(۱) نضرة النعيم في مكارم اخلاق الرسول الكريم ﷺ ۷/۲٦٦۲ الصوم من فوائد الصوم.

• ومنْ حِكَمِ الصيامِ: أنه سببٌ للتّقوى كما قال سبحانه وتعالى: ﴿ يَٰٓأَيُّهَا ٱلَّذِينَ ءَامَنُواْ كُتِبَ عَلَيۡكُمُ ٱلصِّيَامُ كَمَا كُتِبَ عَلَى ٱلَّذِينَ مِن قَبۡلِكُمۡ لَعَلَّكُمۡ تَتَّقُونَ ﴾.(١)

فإنّ الصّائِمَ مأمورٌ بفعل الطاعاتِ واجتناب المعاصي كما قال النبيُّ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ: «من لم يدع قول الزور والعمل به والجهل فليس لله حاجة في أن يدع طعامه وشرابه».

وإذا كان الصائمُ متلبّسا بالصيامِ فإنّه كلّما هَمَّ بمعصيةٍ تذكّر أنّه صائمٌ فامتنعَ عنها، ولهذا أمرَ النبيُّ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ الصائمَ أنْ يقولَ لمَنْ سابّه أو شاتمه: «إنّي امرؤٌ صائمٌ»، تنبيهًا له على أنّ الصائمَ مأمورٌ بالإمساك عن السَّبِّ والشَّتمِ، وتذكيرًا لنفسِه بأنه متلبسٌ بالصيامِ فيمتنعُ عن المُقابَلةِ بالسبِّ والشتمِ.

• ومن حِكَمِ الصيامِ: أن القلب يتخلّى للفِكرِ والذِّكرِ، لأنّ تَناوُلَ الشهواتِ يستوجبُ الغَفلَةَ، و رُبّما يُقَسّي القلبَ ويُعْمِي عن الحقِّ، ولذلك أرشَدَ النبيُّ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ إلى التخفيفِ من الطّعامِ والشراب، فقال صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ: «مَا مَلأ ابنُ آدمَ وعاء شرا من بطنه، بحسب ابن آدم لقيمات يُقِمن صلبه،

فإن كان لا مَحالَةَ فثُلثٌ لطعامِه وثلثٌ لشرابه وثلث لنفسه» وفي الحديث «أنّ حَنظلَةَ الأُسَيديّ وكان منْ كُتّاب رسولِ الله صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ قال للنبيِّ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ: نَافَق حنظلةُ. فقال رسول الله صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ: "وما ذاك؟" قال: يا رسولَ الله نكونُ عندك تذَكّرنا بالنارِ والجنةِ حتى كأنّا رأيَ عينٍ فإذا خرجنا من عندك عافسْنَا الأزْواجَ والأولادَ والضيعات فنسينا كثيرا» (رواه مسلم). وفيه: «ولكن يا حنظلةُ ساعةً وساعة» ثلاث مرات، وقال أبو سليمان الداراني: إن النفسَ إذا جاعت وعطِشت صَفَا القلب وَرَقّ. وإذا شبِعت عَمِيَ القلب.

• ومن حِكَمِ الصيامِ: أنّ الغنيّ يَعرفُ به قَدْرَ نعمةِ الله عليه بالغِنَى حيثُ أنعمَ الله تعالى عليه بالطعامِ والشرابِ والنكاح، وقد حُرِمَها كثيرٌ من الخلق فيَحمَد الله على هذه النِعمةِ ويشكُرُه على هذا التّيسيرِ. ويذكرُ بذلك أخاه الفقيرَ الذي ربّما يـ..ـتُ طاويًا جائعًا فيجودُ عليه بالصدقة يكسو بها

(١) البقرة آية ١٨٣ .

عورته ويسُدُّ بها جوعتَه، ولذلك «كانَ النبيُّ صَلّى الله عليه وسلم أجود الناس وكان أجود ما يكون في رمضان حين يلقاه جبريل فيُدارِسه القرآن».

• ومن حِكَمِ الصيامِ: التَّمرُّن على ضَبْطِ النَّفْسِ، والسَّيْطرةُ عليها، والقُوَّةُ على الإمساكِ بزِمَامِهَا حتى يتمكنَ من التحكم فيها ويقودَها إلى ما فيه خيرُها وسعادتها، فإنَّ النَّفس أمارة بالسوء إلا ما رَحِمَ ربي، فإذا أطلقَ المرءُ لنَفْسِهِ عنَانها أوقعتْهُ في المهالك، وإذا ملَكَ أمْرَها وسيْطر عليها تمكَّنَ من قيادتِها إلى أعلى المراتب وأسْنَى المَطَالب.

• ومن حِكَمِ الصيامِ: كسْرُ النفس والحد من كبريائها حتى تخضع للحق وتَلِيْنَ للخَلْق، فإنَّ الشّبعَ والرّيَّ ومباشرةَ النساءِ يَحمِلُ كلٌّ منها على الأشَر والبَطرِ والعُلوِّ والتكبُّر على الخَلْقِ وعن الحقِ، وذلك أنَّ النفس عند احتياجها لهذه الأمور تشتغل بتحصيلِها، فإذا تمكّنَت منها رأتْ أنَّها ظَفِرتْ بمطلوبها فيحصلُ لها من الفَرحِ المذمومِ والبطرِ ما يكونُ سبباً لِهلاكها، والمَعْصومُ مَنْ عَصَمَه الله تعالى.

• ومن حِكَمِ الصيامِ: أنَّ مجاريَ الدَّمِ تضيقُ بسببِ الجوع والعطشِ فتضيقُ مَجارِي الشيطانِ من البَدنِ فإنَّ الشيطانَ يَجْري مِن ابن آدَمَ مجْرَى الدمِ، كما ثبت ذلك في الصحيحين عن رسولِ الله صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ، فتسْكُنُ بالصيامِ وَسَاوسُ الشيطانِ، وتنكسرُ سَوْرَةُ الشهوةِ والغضبِ، ولذلك قال النبي صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ: «يا مَعْشَر الشباب مَن استطاع منكم البَاءةَ فليتزوجْ فإنَّه أغَضُّ للبَصر وأحْصَنُ لِلفَرْجِ، ومَن لم يستطعْ فعليه بالصومِ فإنه له وِجاء»، فجعل الصوم وجاء لشهوة النكاح وكسراً لحدتها.

• ومنْ حِكَمِ الصيامِ: ما يترتَّبُ عليه من الفَوائِدِ الصِحِّيَّةِ الَّتي تحصل بتقليل الطعامِ وإراحَة جهاز الهضم لمدة معينة ومنع ترسب بعضِ الرطوباتِ والفضلات الضَّارَّة بالجسْمِ وغير ذلك.

فما أعظمَ حكمةَ الله وأبلغَها وما أنفعَ شرائعَه للخلق وأصلحَهَا. (۱)

---

(۱) مجالس شهر رمضان (محمد بن صالح بن محمد العثيمين) المجلس التاسع في حِكَم الصِّيَام ص ٤٨ - ٥٠.

۳. د روژې د اهميت او فوائدو متعلق علامه شامي رحمه الله فرمايي:

قَالَ فِي الْإِيضَاحِ: اِعْلَمْ أَنَّ الصَّوْمَ مِنْ أَعْظَمِ أَرْكَانِ الدِّيْنِ وَأَوْثَقِ قَوَانِيْنِ الشَّرْعِ الْمَتِيْنِ بِهِ قَهْرُ النَّفْسِ الْأَمَّارَةِ بِالسُّوْءِ وَأَنَّهُ مُرَكَّبٌ مِنْ أَعْمَالِ الْقَلْبِ، وَمِنَ الْمَنْعِ عَنِ الْمَآكِلِ وَالْمَشَارِبِ وَالْمَنَاكِحِ عَامَّةَ يَوْمِهِ وَهُوَ أَجْمَلُ الْخِصَالِ غَيْرَ أَنَّهُ أَشَقُّ التَّكَالِيْفِ عَلَى النُّفُوْسِ فَاقْتَضَتِ الْحِكْمَةُ الْإِلٰهِيَّةُ أَنْ يَبْدَأَ فِي التَّكَالِيْفِ بِالْأَخَفِّ، وَهُوَ الصَّلَاةُ تَمْرِيْنًا لِلْمُكَلَّفِ وَ رِيَاضَةً لَهُ ثُمَّ يُثَنِّي بِالْوَسَطِ وَهُوَ الزَّكَاةُ وَيُثَلِّثُ بِالْأَشَقِّ وَهُوَ الصَّوْمُ وَإِلَيْهِ وَقَعَتِ الْإِشَارَةُ فِي مَقَامِ الْمَدْحِ وَالتَّرْتِيْبِ { وَالْخَاشِعِيْنَ وَالْخَاشِعَاتِ وَالْمُتَصَدِّقِيْنَ وَالْمُتَصَدِّقَاتِ وَالصَّائِمِيْنَ وَالصَّائِمَاتِ . الاحزاب: ۳۵ } وَفِي ذِكْرِ مَبَانِي الْإِسْلَامِ وَإِقَامِ الصَّلَاةِ وَإِيْتَاءِ الزَّكَاةِ وَصَوْمِ شَهْرِ رَمَضَانَ فَاقْتَدَتْ أَئِمَّةُ الشَّرِيْعَةِ فِي مُصَنَّفَاتِهِمْ بِذٰلِكَ. (۱)

۳. په فتح القدير کې د روژې د فوائدو متعلق ذکر دي:

اَلصَّوْمُ ثَالِثُ أَرْكَانِ الْإِسْلَامِ بَعْدَ لَا إِلٰهَ إِلَّا اللهُ مُحَمَّدٌ رَسُوْلُ اللهِ، شَرَعَهُ سُبْحَانَهُ لِفَوَائِدَ أَعْظَمُهَا كَوْنُهُ مُوْجِبًا شَيْئَيْنِ: أَحَدُهُمَا عَنِ الْآخَرِ سُكُوْنَ النَّفْسِ الْأَمَّارَةِ، وَكَسْرَ سَوْرَتِهَا فِي الْفُضُوْلِ الْمُتَعَلِّقَةِ بِجَمِيْعِ الْجَوَارِحِ مِنَ الْعَيْنِ وَاللِّسَانِ وَالْأُذُنِ وَالْفَرْجِ، فَإِنَّ بِهِ تَضْعُفُ حَرَكَتُهَا فِي مَحْسُوْسَاتِهَا. وَلِذَا قِيْلَ: إِذَا جَاعَتِ النَّفْسُ شَبِعَتْ جَمِيْعُ الْأَعْضَاءِ وَ إِذَا شَبِعَتْ جَاعَتْ كُلُّهَا. وَمَعَ هٰذَا صَفَاءُ الْقَلْبِ مِنَ الْكَدَرِ، فَإِنَّ الْمُوْجِبَ لِكُدُوْرَاتِهِ فُضُوْلُ اللِّسَانِ وَالْعَيْنِ وَبَاقِيْهَا، وَبِصَفَائِهِ تُنَاطُ الْمَصَالِحُ وَالدَّرَجَاتُ.

وَمِنْهَا: كَوْنُهُ مُوْجِبًا لِلرَّحْمَةِ وَالْعَطْفِ عَلَى الْمَسَاكِيْنِ فَإِنَّهُ لَمَّا ذَاقَ أَلَمَ الْجُوْعِ فِي بَعْضِ الْأَوْقَاتِ ذَكَرَ مَنْ هٰذَا فِي عُمُوْمِ الْأَوْقَاتِ فَتُسَارِعُ إِلَيْهِ الرِّقَّةُ عَلَيْهِ، وَالرَّحْمَةُ حَقِيْقَتُهَا فِي حَقِّ الْإِنْسَانِ نَوْعُ أَلَمٍ بَاطِنٍ فَيُسَارِعُ لِدَفْعِهِ عَنْهُ بِالْإِحْسَانِ إِلَيْهِ فَيَنَالُ مَا عِنْدَ اللهِ تَعَالٰى مِنْ حُسْنِ الْجَزَاءِ.

وَمِنْهَا مُوَافَقَةُ الْفُقَرَاءِ بِتَحَمُّلِ مَا يَتَحَمَّلُوْنَ أَحْيَانًا وَفِي ذٰلِكَ رَفْعُ حَالِهِ عِنْدَ اللهِ تَعَالٰى، كَمَا حُكِيَ بِشْرُ الْحَافِيْ أَنَّهُ دَخَلَ عَلَيْهِ رَجُلٌ فِي الشِّتَاءِ فَوَجَدَهُ جَالِسًا يَرْعُدُ وَثَوْبُهُ مُعَلَّقٌ عَلَى الْمِشْجَبِ. فَقَالَ لَهُ: فِي مِثْلِ هٰذَا الْوَقْتِ يُنْزَعُ الثَّوْبُ ؟ وَمَعْنَاهُ، فَقَالَ: يَا أَخِيْ اَلْفُقَرَاءُ كَثِيْرٌ، وَلَيْسَ لِيْ طَاقَةُ مُوَاسَاتِهِمْ بِالثِّيَابِ

(۱) رد المحتار على الدر المختار ۳۶۹/۲ كِتَابُ الصَّوْمِ.

فَأْوَاسِيهِمْ بِتَحَمُّلِ الْبَرْدِ كَمَا يَتَحَمَّلُونَ. (۱)

٤. إِنَّ صيامَ رمضانَ أحدُ أركانِ الإسلامِ ومَبانيه العظام. قال تعالى: { يَا أَيُّهَا الَّذِينَ آمَنُوا كُتِبَ عَلَيْكُمُ الصِّيَامُ ....... فَمَنْ شَهِدَ مِنْكُمُ الشَّهْرَ فَلْيَصُمْهُ ... }

وقال النبي صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ: « بُنِيَ الإسلامُ على خمسٍ: شهادةِ أنْ لا إله إلا الله وأنَّ محمدًا رسولُ الله، وإقامِ الصلاةِ، وإيتاءِ الزكاةِ، وحجِّ البَيْتِ، وصومِ رمضانَ » . (۲)

ولمسلم: « وصومِ رمضانَ وحجِّ البيتِ » ، وأجمَعَ المسلمونَ على فرضيَّة صوم رمضان إجماعًا قطعيًا معلومًا بالضَرورةِ من دينِ الإسلامِ ، فمَنْ أنكر وجوبَه فقد كفر. فيُستَتاب فإن تاب وأقرَّ بوجوبه وإلّا قُتِلَ كافرًا مُرتدًا عن الإسلامِ، لا يُغَسَّل ولا يُكفَّن ولا يُصلَّى عليه ولا يُدعَى له بالرحمة ويدفن لئلا يُؤذي الناس برائحتِهِ ويتأذى أهْلُه بمُشاهَدَته.

فُرِضَ صِيامُ رمضانَ في السنةِ الثانيةِ منَ الهجرةِ، فصامَ رسولُ الله صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ تِسعَ سِنين، وكان فرض الصِّيَام على مَرْحَلَتَيْنِ:

- اَلمَرحَلةُ الأُولى: اَلتَّخيير بَيْنَ الصيامِ والإطعامِ مَعَ تفضيلِ الصيامِ عليه.
- اَلمَرحَلةُ الثانيةُ: تعيين الصيام بدون تخيير، فعن سَلَمَةَ بْنِ الأكْوَعِ قَالَ: " لَمَّا نَزَلَتْ ﴿ وَعَلَى الَّذِينَ يُطِيقُونَهُ فِدْيَةٌ طَعَامُ مِسْكِينٍ ﴾ كَانَ مَنْ أَرَادَ أَنْ يُفْطِرَ وَيَفْتَدِيَ (يعني فَعَلَ) حَتَّى نَزَلَتِ الآيَةُ الَّتِي بَعْدَهَا فَنَسَخَتْهَا. (۳)

يَعْني بها قولَهُ تَعالى: ﴿ فَمَنْ شَهِدَ مِنْكُمُ الشَّهْرَ فَلْيَصُمْهُ وَمَنْ كَانَ مَرِيضًا أَوْ عَلَى سَفَرٍ فَعِدَّةٌ مِنْ أَيَّامٍ أُخَرَ ﴾ فَأوْجَبَ اللهُ الصيامَ عَيْنًا بِدُوْنِ تَخْيير. (۴)

---

(۱) فتح القدير لابن الهمام ۲/ ۳۰۰ كِتَابُ الصَّوْمِ.

(۲) متفق عليه.

(۳) متفق عليه. (صحيح البخاري رقم الحديث ۴۵۰۷ كِتَابُ تَفْسِيرِ الْقُرْآنِ بَابُ {فَمَنْ شَهِدَ مِنْكُمُ الشَّهْرَ فَلْيَصُمْهُ} .

(۴) مجالس شهر رمضان ( محمد بن صالح بن محمد العثيمين ) المجلس الثالث في حُكْمِ صِيَامِ رَمضان ص ۱۵/۱.

بِسْمِ اللهِ الرَّحْمٰنِ الرَّحِيْمِ

﴿ شَهْرُ رَمَضَانَ الَّذِیْٓ اُنْزِلَ فِيْهِ الْقُرْاٰنُ هُدًى لِّلنَّاسِ وَ بَيِّنٰتٍ مِّنَ الْهُدٰى وَ الْفُرْقَانِ فَمَنْ شَهِدَ مِنْكُمُ الشَّهْرَ فَلْيَصُمْهُ ﴾. البقرة آیة ۱۸۵.

# د شل رکعته تراویحو ثبوت او فضائل

تالیف


آبُو الشَّمْس مولانا نُوْرُ الْهُدٰى عُفِيَ عَنْهُ

مُدَرِّس دَارُالعلوم فیض القرآن اکاخیل کالونی مردان

بِسْمِ اللّٰهِ الرَّحْمٰنِ الرَّحِيْمِ

# د شل رکعته تراويحو ثبوت او فضائل

اَلْحَمْدُ لِحَضْرَةِ الْجَلَالَةِ، وَالصَّلَاةُ وَالسَّلَامُ عَلٰى خَاتَمِ الرِّسَالَةِ، وَعَلٰى آلِهٖ وَأَصْحَابِهٖ الَّذِيْنَ هُمْ أَهْلُ الْفَضْلِ وَالْعَدَالَةِ.

اَمَّا بَعْدُ فَأَعُوْذُ بِاللّٰهِ مِنَ الشَّيْطٰنِ الرَّجِيْمِ بِسْمِ اللّٰهِ الرَّحْمٰنِ الرَّحِيْمِ. قَالَ اللّٰهُ تَبَارَكَ وَتَعَالٰى فِي الْقُرْآنِ الْمَجِيْدِ وَالْفُرْقَانِ الْحَمِيْدِ:

﴿شَهْرُ رَمَضَانَ الَّذِيْۤ اُنْزِلَ فِيْهِ الْقُرْاٰنُ هُدًى لِّلنَّاسِ وَبَيِّنٰتٍ مِّنَ الْهُدٰى وَالْفُرْقَانِ فَمَنْ شَهِدَ مِنْكُمُ الشَّهْرَ فَلْيَصُمْهُ﴾.(۱)

وَقَالَ رَسُوْلُ اللّٰهِ صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ: إِنَّ اللّٰهَ تَبَارَكَ وَتَعَالٰى فَرَضَ صِيَامَ رَمَضَانَ عَلَيْكُمْ وَسَنَنْتُ لَكُمْ قِيَامَهُ، فَمَنْ صَامَهُ وَقَامَهُ إِيْمَانًا وَاحْتِسَابًا خَرَجَ مِنْ ذُنُوْبِهٖ كَيَوْمِ وَلَدَتْهُ أُمُّهُ.(۲)

صَدَقَ اللّٰهُ الْعَظِيْمُ

## تمهيدي خبره

محترمو مسلمانانو ورونو! د رمضان المبارک دا مياشت ډېره د برکتونو، رحمتونو او مغفرت مياشت ده، په دې کې لکه څرنګې چې مسلمانان د ورځې فرضي روژه نيولو سره ډېر اجرونه او ثوابونه حاصلوئ شي، نو هم دغه شان د دې مياشتې په شپو کې هم يو بهترين عبادت د مسلمانانو دپاره مقرر شوی چې ديته تراويح وايي، په دې سره هم انسان د الله ﷻ

---

(۱) سورة البقرة آية ۱۸۵.

(۲) سنن النسائي كتاب الصِّيَامِ رقم الحديث ۲۲۱۰، سنن ابن ماجة كِتَابُ إِقَامَةِ الصَّلَاةِ، وَالسُّنَّةِ فِيهَا بَابُ مَا جَاءَ فِي قِيَامِ شَهْرِ رَمَضَانَ رقم الحديث ۱۳۲۸، مسند ابي داؤد الطيالسي رقم الحديث ۲۲۱، صحيح ابن خزيمة رقم الحديث ۲۲۱۰ (قال الاعظمي اسناده ضعيف و معناه ثابت).

وفي رواية: إِنَّ اللّٰهَ فَرَضَ عَلَيْكُمْ صِيَامَ شَهْرِ رَمَضَانَ، وَسَنَّ لَكُمْ قِيَامَهُ ...». فضائل رمضان لابن ابي الدنيا ۶۲/۱ رقم الحديث ۱۷.

د رحمتونو مستحق کرځي.

## د ''تراويح'' لغوي او اصطلاحي معنیٰ

تراويح د ''ترويحة'' جمع ده، د راحت نه ماخوذ ده، چونکه په دې مانځه کې هم د څلور رکعته اداء کولو نه وروستو د راحت د پاره وړه غونډې وقفه کولې شي، نو ځکه ورته تراويح وايي. (۱)

بل دا چي مونځ په خپله هم د مؤمنانو د پاره په آخرت کې د راحت ذريعه ده، د دې د وجې هم ديته تراويح وايي.

او په اصطلاح کي د تراويحو تعريف دادی: د رمضان المبارک په شپو کي په لسو (۱۰) سلامونو سره شل (۲۰) رکعته مونځ ادا کول. (۲)

## شل رکعته تراويح کول سنتِ مؤکد دي

شل رکعته تراويح سنتِ مؤکد دي (۳)، پخپله رسول الله صلی الله عليه وسلم صحابه کرامو ته درې (۳) شپې تراويح په جمعه باندې کړي، خو بيا نبي ﷺ د فرض کيدو د يرې

---

(۱) ديته تَسْمِيَةُ الشَّيْءِ بِإِسْمِ لَازِمِهٖ وايي.

وَالتَّرَاوِيْحُ جَمْعُ تَرْوِيْحَةٍ وَهِيَ فِي الْأَصْلِ مَصْدَرٌ بِمَعْنَى الِاسْتِرَاحَةِ سُمِّيَتْ بِهِ الْأَرْبَعُ رَكَعَاتِ الْمَخْصُوْصَةِ لِاسْتِلْزَامِهَا اسْتِرَاحَةً بَعْدَهَا. البحر الرائق شرح كنز الدقائق ۷۱/۲ باب صلاة التراويح.

وإنما سُمِّيَتْ تراويحَ لأنّ النّاسَ كانُوْا يُطِيْلونَها جدًّا فكلّما صَلَّوْا أربَعَ رَكْعَاتٍ إستراحُوا قليلًا. مجالس شهر رمضان ۲۳/۱ المجلس الرابع في حكم قيام رمضان

(۲) مراقي الفلاح كتاب الصلوة فصل في التراويح ص ۳۳۳، ۳۳۴، بدائع الصنائع كتاب الصلوة فصل في قدر التراويح ۲۷۴/۲. فتاوى عثمانيه ج ۲ ص ۳۳۳ باب التراويح.

(۳) قال الحصكفيّ: (اَلتَّرَاوِيْحُ سُنَّةٌ) مُؤَكَّدَةٌ لِمُوَاظَبَةِ الْخُلَفَاءِ الرَّاشِدِيْنَ (لِلرِّجَالِ وَالنِّسَاءِ) إِجْمَاعًا ... (وَهِيَ عِشْرُوْنَ رَكْعَةً). وقال ابن عابدينّ: (قَوْلُهُ: وَهِيَ عِشْرُوْنَ رَكْعَةً) هُوَ قَوْلُ الْجُمْهُوْرِ وَعَلَيْهِ عَمَلُ النَّاسِ شَرْقًا وَغَرْبًا. رد المحتار على الدر المختار ۴۵/۲ مَبْحَثُ صَلَاةِ التَّرَاوِيْحِ. ومثله في رسائل الاركان ص ۱۳۸ فصل في التراويح.

قال عبدالله بن عُمر النسفيّ: وَسُنَّ فِي رَمَضَانَ عِشْرُوْنَ رَكْعَةً بَعْدَ الْعِشَاءِ قَبْلَ الْوِتْرِ وَبَعْدَهُ بِجَمَاعَةٍ. كنز الدقائق فصل في التراويح.

د وجې پريخودې چې هسې نه دا په اُمت باندې فرض شي ، نو بيا به ورته گرانه شي ، نو ځکه يې د دې عذر په وجه په جَمعې سره پريخودې ، بيا به نبي عليه السلام او صحابه کرامو ځانله ځانله تراويح کولې ، تردې چې پيغمبر ﷺ وفات شو .

بيا د حضرت ابوبکر صديق په زمانه کې څه فِتنې پيدا شوې د هغې د ختمولو په وجه دې طرفته د توَجّو نمبر رانغې ، نو په دې دوَر کې به هم ځانله ځانله تراويح کيدلې .

کله چې د حضرت عمر رضي الله عنه دورِ خلافت راغې ، اسلامي حکومت مضبوط شو ، او د تراويحو د فرض کيدو خطره هم ختمه شوه نو حضرت عمر رضي الله عنه حضرت اُبَيّ بن کعب رضي الله عنه ته حکم اوکړو چې ته خلقو ته په جَمعه باندې شَل رکعته تراويح کوه او قرآن کريم په کې لوله .

د حضرت عمر رضي الله عنه د فرمان موافق ټولو صحابه کرامو د حضرت اُبَي بن کعب رضي الله عنه پسې شل رکعته تراويح کولې ، ټول صحابه کرام موجود وو ، هيچا هم اِنکار اونکړو ، او هيچا اعتراض هم اونکړو ، نو دا شل رکعته تراويح د صحابه کرامو په اِجماع او اتفاق سره مقرر شوې .

بيا د هغې وخت نه را په ديخوا تر اوسه پورې په دې باندې د اُمت اجماع راروانه ده ، د صحابه کرامو نه پس تابعين ، تبع تابعين او ائمهٔ اربعه (امام اعظم ابو حنيفه ، امام شافعي ، امام مالک او امام احمد بن حنبل رحمهم الله) ټول د شل رکعته تراويحو قائل دي .

اَلحَمدُ لِلّٰه ، د حضرت عمر رضي الله عنه د دَورِ خلافت نه تر دې وخته پورې په حرمينو شريفينو کې اوس هم شل رکعته تراويح کولې شي .

نو د صحابه کرامو د مواظبت ، اِجماع ، او د ټول اُمتِ مسلمه اِجماع په دې دلالت کوي چې شل رکعته تراويح د سړو او ښځو دواړو دپاره سنتِ مؤکد دي . (۱)

---

(۱) قال الحصكفي: (اَلتَّرَاوِيْحُ سُنَّةٌ) مُؤَكَّدَةٌ لِمُوَاظَبَةِ الْخُلَفَاءِ الرَّاشِدِيْنَ (لِلرِّجَالِ وَالنِّسَاءِ) إِجْمَاعًا ... (وَهِيَ عِشْرُوْنَ رَكْعَةً) . وقال ابن عابدين: (قَوْلُهُ : لِمُوَاظَبَةِ الْخُلَفَاءِ الرَّاشِدِيْنَ) أَيْ أَكْثَرِهِمْ لِأَنَّ الْمُوَاظَبَةَ عَلَيْهَا وَقَعَتْ فِيْ أَثْنَاءِ خِلَافَةِ عُمَرَ رَضِيَ اللهُ عَنْهُ ، وَوَافَقَهُ عَلَى ذٰلِكَ عَامَّةُ الصَّحَابَةِ وَمَنْ بَعْدَهُمْ إِلَى يَوْمِنَا هٰذَا بِلَا نَكِيْرٍ . وَكَيْفَ لَا وَقَدْ ثَبَتَ عَنْهُ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ «عَلَيْكُمْ بِسُنَّتِيْ وَسُنَّةِ الْخُلَفَاءِ الرَّاشِدِيْنَ الْمَهْدِيِّيْنَ عَضُّوْا عَلَيْهَا بِالنَّوَاجِذِ» كَمَا رَوَاهُ أَبُو دَاوُد . رد المحتار على الدر المختار ۴۴/۲ مَبْحَثُ صَلَاةِ التَّرَاوِيْحِ .

لهذا بغير د عُذرِ شرعي نه شل رکعته تراويح پريخودل او اَته رکعته تراويح کول سبب د ملامتيا دی، او داسې کس د سنتِ مؤکده پريخودونکې دی.

او څوک چې د شل رکعته تراويحو نه مُنکروي نو داسې کس گمراه دی. (۱)

فقهاء کرامو دا خبره په تفصيل سره ذکر کړې چې د تراويحو سُنتِ مؤکد کيدل لکه څرنګې چې د حضرت عمر رضي الله عنه او دصحابه کرامو د مواظبت نه ثابت دي نو هم دغه شان د نبي عليه السلام د قول نه هم ثابت دي، لهذا څوک چې د تراويحو د مَشروعيت او سُنتيَت نه انکار کوي نو داسې کس بدعتي، گمراه او مَردودُ الشهادة دی. (۲)

---

←←← قال عبدالله بن محمود الموصليؒ: (اَلتَّرَاوِيْحُ سُنَّةٌ مُؤَكَّدَةٌ) لِأَنَّ النَّبِيَّ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ أَقَامَهَا فِي بَعْضِ اللَّيَالِي، وَبَيَّنَ الْعُذْرَ فِي تَرْكِ الْمُوَاظَبَةِ وَهُوَ خَشْيَةُ أَنْ تُكْتَبَ عَلَيْنَا، وَوَاظَبَ عَلَيْهَا الْخُلَفَاءُ الرَّاشِدُوْنَ وَجَمِيْعُ الْمُسْلِمِيْنَ مِنْ زَمَنِ عُمَرَ بْنِ الْخَطَّابِ إِلَى يَوْمِنَا هٰذَا. قَالَ عَلَيْهِ الصَّلَاةُ وَالسَّلَامُ: «مَا رَآهُ الْمُسْلِمُوْنَ حَسَنًا فَهُوَ عِنْدَ اللهِ حَسَنٌ». وَرَوَى أَسَدُ بْنُ عَمْرٍو عَنْ أَبِي يُوسُفَ قَالَ: سَأَلْتُ أَبَا حَنِيْفَةَ عَنِ التَّرَاوِيْحِ وَمَا فَعَلَهُ عُمَرُ؟ فَقَالَ: اَلتَّرَاوِيْحُ سُنَّةٌ مُؤَكَّدَةٌ وَلَمْ يَتَخَرَّصْهُ عُمَرُ مِنْ تِلْقَاءِ نَفْسِهِ وَلَمْ يَكُنْ فِيْهِ مُبْتَدِعًا. وَلَمْ يَأْمُرْ بِهِ إِلَّا عَنْ أَصْلٍ لَدَيْهِ وَعَهْدٍ مِنْ رَسُوْلِ اللهِ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ. وَلَقَدْ سَنَّ عُمَرُ هٰذَا وَجَمَعَ النَّاسَ عَلَى أُبَيِّ بْنِ كَعْبٍ فَصَلَّاهَا جَمَاعَةً وَالصَّحَابَةُ مُتَوَافِرُوْنَ: مِنْهُمْ عُثْمَانُ وَعَلِيٌّ وَابْنُ مَسْعُوْدٍ وَالْعَبَّاسُ وَابْنُهُ وَطَلْحَةُ وَالزُّبَيْرُ وَمُعَاذٌ وَأُبَيٌّ وَغَيْرُهُمْ مِنَ الْمُهَاجِرِيْنَ وَالْأَنْصَارِ رضي الله عنهم. وَمَا رَدَّ عَلَيْهِ وَاحِدٌ مِنْهُمْ، بَلْ سَاعَدُوْهُ وَوَافَقُوْهُ وَأَمَرُوْا بِذٰلِكَ. الاختيار لتعليل المختار ۶۸/۱ بَابُ صَلَاةِ التَّرَاوِيْحِ.

(۱) لما قال العلامة ظفر احمد العثمانيؒ: فقيام رمضان بعشرين ركعة والوتر هو السنة المؤكدة يضلل تاركها ويلام من نقص عنها. اعلاء السنن ج۷ ص ۷۲ كيفية القراءة في التراويح.

قال الحصكفيؒ: تَرْكُ السُّنَّةِ لَا يُوْجِبُ فَسَادًا وَلَا سَهْوًا بَلْ إِسَاءَةً لَوْ عَامِدًا غَيْرَ مُسْتَخِفٍّ. قال ابن عابدينؒ: وَتَارِكُهَا يَسْتَوْجِبُ إِسَاءَةً: أَيِ التَّضْلِيْلَ وَاللَّوْمَ. وَفِي التَّلْوِيْحِ تَرْكُ السُّنَّةِ الْمُؤَكَّدَةِ قَرِيْبٌ مِنَ الْحَرَامِ. رد المحتار على الدر المختار ۴۷۴/۱ وَاجِبَاتُ الصَّلَاة

(۲) مراقي الفلاح مع حاشية الطحطاوي كتاب الصلوة فصل في التراويح ص ۳۳۴، ۳۳۵، الدرالمختار مع رد المحتار كتاب الصلوة باب الوتر والنوافل مبحث في صلوة التراويح ۴۹۲/۲، فتاوى عثمانيه ج۲ ص ۳۳۴ باب التراويح.

قال في البرهان قد اجتمعت الأمة على مشروعية التراويح وجوازها ولم ينكرها أحد من أهل القبلة إلا الروافض. حاشية الطحطاوي على مراقي الفلاح ۴۱۲/۱ فصل في صلاة التراويح.

او چې څوک د شلو رکعتو تراويحو نه مُنکِر وي نو دا د صحابه کرامو او دأمت مسلمه د اجماع نه منکر دی . د صحابه کرامو د زمانې نه پس د سلفو صالحينو زمانه کې هم چا د شلو (۲۰) رکعتو تراويحو نه انکار ندې کړی ، د خېر زمانې تيرېدلو نه روستو د شرّالقرون د زمانې د غير مقلدينو انکار هيڅ حيثيت نه لري .

( نوټ : د شل رکعته تراويحو تفصيلي بحث په همدې موضوع کې روستو راروان دی )

## که د يو ښار ټول خلق تراويح پرېږدي نو بادشاه به ورسره جنګ کوي

شيخ عبدالحق مُحدّث دهلويؒ په خپل کتاب " مَاثَبَتَ بِالسُّنَّة " کې د فِقهې د بعضې کتابونو نه نقل کړي : که چيرته د يو ښار ټول خلق تراويح پرېږدي نو بادشاهِ وقت دې ورسره جنګ اوکړي . (۱)

## د تراويحو په کولو سره د ګناهونو مغفرت

د نسائي او ابن ماجه شريف حديث دی ، رسول الله ﷺ فرمايي :

إِنَّ اللهَ تَبَارَكَ وَتَعَالَى فَرَضَ صِيَامَ رَمَضَانَ عَلَيْكُمْ وَسَنَنْتُ لَكُمْ قِيَامَهُ، فَمَنْ صَامَهُ وَقَامَهُ إِيْمَانًا وَاحْتِسَابًا خَرَجَ مِنْ ذُنُوْبِهِ كَيَوْمِ وَلَدَتْهُ أُمُّهُ . (۲)

بيشکه الله تعالى په تاسو باندې د رمضان روژې فرض کړې دي ، او ما دريانې ددې قِيام (يعنى تراويح ) سُنت مقرر کړي ، پس څوک چې د اِيمان سره او د ثواب په نيت باندې (خالص د الله ﷻ د رَضا د پاره ) ددې مياشتې روژې اونيسي ، او ددې د شپو قِيام اوکړي

(۱) فضائل اعمال ص ۸۲۹ .

(۲) سنن النسائي كتاب الصِّيَامِ رقم الحديث ۲۲۱۰ ، سنن ابن ماجة كِتَابُ إِقَامَةِ الصَّلَاةِ وَالسُّنَّةُ فِيهَا بَابُ مَا جَاءَ فِي قِيَامِ شَهْرِ رَمَضَانَ رقم الحديث ۱۳۲۸ ، مسند ابي داؤد الطيالسي رقم الحديث ۲۲۱ ، صحيح ابن خزيمة رقم الحديث ۲۲۱۰ (قال الاعظمي اسناده ضعيف و معناه ثابت) .

وفي رواية : إِنَّ اللهَ فَرَضَ عَلَيْكُمْ صِيَامَ شَهْرِ رَمَضَانَ، وَسَنَّ لَكُمْ قِيَامَهُ ...» . فضائل رمضان لابن ابي الدنيا ۶۲/۱ رقم الحديث ۱۷ .

نو دې به د خپلو ګناهونو نه داسې اُووځي ( او صفا به شي ) لکه په کومه ورځ چې دې خپلې مور زیږولې وي (او د ګناهونو نه صفا وي).

فائده: ددې حديث نه معلومه شوه چې د تراويحو په کولو سره د انسان ګناهونه معاف کيږي .

## په رمضان کې د مونځ کولو اجر زيات وي

د رمضان المبارک دا مياشت داسې د برکتونو او رحمتونو مياشت ده چې په دې کې که يو کس يو فرضي عبادت اوکړي نو ثواب يې د اوياؤ (۷۰) فرضو برابر دی ، او که نفلي (يا سُنت) عبادت اوکړي نو ثواب يې د فرضو برابر دی ، دا خبره زه د ځان نه نه کوم بلکه په صحيح احاديثو کې ثابته ده ، رسول الله ﷺ فرمايي :

مَنْ تَقَرَّبَ فِيْهِ بِخَصْلَةٍ مِّنَ الْخَيْرِ كَانَ كَمَنْ أَدّٰى فَرِيْضَةً فِيْمَا سِوَاهُ. وَمَنْ أَدّٰى فَرِيْضَةً فِيْهِ كَانَ كَمَنْ أَدّٰى سَبْعِيْنَ فَرِيْضَةً فِيْمَا سِوَاهُ .(۱)

څوک چې د رمضان په دې مياشت کې د الله ﷻ د رَضا او قُرب حاصلولو د پاره نفلي عبادت اوکړي نو دا د هغه کس په شان دی چې هغه په نورو مياشتو کې فرض اداء کړي (يعنی په دې مياشت کې د نفلو ثواب په نورو مياشتو کې د فرضو د ثواب برابر دی) ، او څوک چې په دې مياشت کې يو (بَدني يا مالي) فرض اداء کړي نو دا د هغه کس په شان دی چې هغه په نورو مياشتو کې اويا (۷۰) فرض اداء کړي وي (يعنی په دې مياشت کې د يو فرض ثواب د نورو مياشتو د اَويا فرضو برابر دی).

فائده : دا ډير لوي غنيمت دې چې انسان ته د نفلو او سُنتو په اداء کولو سره د فرضو ثواب ملاويږي .

بيا خاصکر په رمضان کې د تراويحو کولو اجر ډير زيات دی ، رسول الله ﷺ فرمايي :

(۱) شعب الايمان رقم الحديث ۳۳۳۶ الصيام فضائل شهر رمضان ، مشكاة المصابيح كتاب الصوم الفصل الثالث رقم الحديث ۱۹۶۵ (۱۰) ، صحيح ابن خزيمة باب فضائل شهر رمضان ... رقم الحديث ۱۸۸۷ ، كنز العمال رقم الحديث ۲۳۷۱۴ ، ورقم ۲۴۲۷۶ ، معارف الحديث ج۴ ص ۳۴۶ كتاب الصوم.

...لَيْسَ مِنْ عَبْدٍ مُؤْمِنٍ يُصَلِّي فِي لَيْلَةٍ إِلَّا كَتَبَ اللهُ لَهُ أَلْفًا وَخَمْسَ مِائَةِ حَسَنَةٍ بِكُلِّ سَجْدَةٍ، وَبَنَى لَهُ بَيْتًا فِي الْجَنَّةِ مِنْ يَاقُوتَةٍ حَمْرَاءَ لَهَا سِتُّونَ أَلْفَ بَابٍ، لِكُلِّ بَابٍ مِنْهَا قَصْرٌ مِنْ ذَهَبٍ مُوَشَّحٍ بِيَاقُوتَةٍ حَمْرَاءَ..... وَكَانَ لَهُ بِكُلِّ سَجْدَةٍ يَسْجُدُهَا فِي شَهْرِ رَمَضَانَ بِلَيْلٍ أَوْ نَهَارٍ شَجَرَةٌ يَسِيرُ الرَّاكِبُ فِي ظِلِّهَا خَمْسَ مِائَةِ عَامٍ. (۱)

... کوم مؤمن بنده چې د رمضان په شپو کې یوه شپه مونځ (یعنی تراویح وغیره) اوکړي نو ده ته الله تعالی د هرې سجدې په عوض کې پنځلس سوه (۱۵۰۰) نیکۍ لیکي، او ده ته په جنت کې د سرو یاقوتو داسې کور جوړوي چې د هغې به شپېته زره (۶۰۰۰۰) دروازې وي، د هرې دروازې سره به د سرو زرو یو محل وي چې هغه به په سرو یاقوتو باندې ښائسته شوې وي ..... او څوک چې د رمضان المبارک په میاشت کې د ورځې یا شپې څومره سجدې کوي نو د هرې سجدې په عِوض کې به ده ته په جنت کې داسې اُونه ورکولې شي چې د هغې په سُوري کې به د آس سور کس پنځه سوه (۵۰۰) کاله مزل کولې شي.

## د فرائضو سره د سُنتو او نوافلو ذخیره هم ضروري ده

د انسان دپاره دا ضروري ده چې دده سره به د فرائضو سره د سُنتو او نوافلو ذخیره موجوده وي، ځکه په قیامت کې چې اول دده سره د مونځ حساب کولې شي او په فرائضو کې څه کمې راشي چې دا بیا په دې نوافلو وغیره سره پوره کړې شي.

د ابو داؤد شریف حدیث دی، رسول الله صلی الله علیه وسلم فرمايي:

إِنَّ أَوَّلَ مَا يُحَاسَبُ النَّاسُ بِهِ يَوْمَ الْقِيَامَةِ مِنْ أَعْمَالِهِمُ الصَّلَاةُ»، قَالَ: "يَقُولُ رَبُّنَا جَلَّ وَعَزَّ لِمَلَائِكَتِهِ وَهُوَ أَعْلَمُ: انْظُرُوا فِي صَلَاةِ عَبْدِي أَتَمَّهَا أَمْ نَقَصَهَا؟ فَإِنْ كَانَتْ تَامَّةً كُتِبَتْ لَهُ تَامَّةً، وَإِنْ كَانَ انْتَقَصَ مِنْهَا شَيْئًا، قَالَ: انْظُرُوا هَلْ لِعَبْدِي مِنْ تَطَوُّعٍ؟ فَإِنْ كَانَ لَهُ تَطَوُّعٌ، قَالَ: أَتِمُّوا

(۱) شعب الایمان للبیهقي رقم الحدیث ۳۳۶۲ الصیام فضائل شهر رمضان، الترغیب والترهیب کتاب الصوم الترغیب فی صیام رمضان احتسابًا و قیام لیله رقم الحدیث ۱۲، و رواه السیوطي فی الدر ۱۸۶/۱، والهندي فی الکنز رقم ۲۳۵۰۶، والخطیب البغدادي فی التاریخ ۱۸۶/۱، المتجر الرابح في ثواب العمل الصالح ابواب الصوم ص ۱۶۷.

لِعَبْدِيْ فَرِيْضَتَهُ مِنْ تَطَوُّعِهِ. ثُمَّ تُؤْخَذُ الْأَعْمَالُ عَلَى ذَاكُمْ" (۱)

د قيامت په ورځ به خلقو سره د دوی په اعمالو کي (په حقوق الله کي) اول د مونځ حساب کولې شي ، الله رب العزت به سره د علمه خپلو فرښتو ته اوفرمايي : تاسو زما د بنده مونځ اوګورئ چې دا پوره دی ، که ناقص دی ؟

که چيرته پوره وي نو دده د پاره به پوره اوليکلې شي او که چيرته څه شی په کې کم شي نو الله ﷻ به فرښتو ته اوفرمايي : تاسو اوګورئ چې زما ددې بنده سره څه نوافل شته ؟

که دده سره څه نوافل وي نو الله ﷻ به اوفرمايي : زما ددې بنده فرض دده د نوافلو نه پوره کړئ .

نو بيا به نور اعمال هم په دغه انداز باندې وي (مثلاً دده سره به د فرض زکوة حساب اوشي که په دې کي څه کمې ؤ نو د نفلي صدقاتو نه به دا کمې پوره کړې شي ، هم دا سې روژه او نور اعمال هم) .

**فائده** : لهذا د فرائضو سره سره د نورو سُنتو او نفلي مونځونو ذخيره هم د ځان سره په کار ده ، دغه وجه ده چې شريعت مسلمانانو ته قدم په قدم د نفلي مونځونو کولو ترغيب ورکړی مثلاً : تَحِيّة الوضوء ، تَحِيّة المسجد ، اَوّابين ، د څاښت مونځ ، د اِشراق مونځ ، صلاةِ تسبيح ، صلاةِ توبه ....وغيره .

# د زر زر تراويح کولو سزاګانې

پدې خبره ځان پوه کړئ چې په دُنيا کې يو معمولي کار هم تر هاغه وخته پورې کامياب او نَفع مَند نه وي تر څو پورې چې هغه په صحيح طريقې سره اَداء نشي .

همدارنګې د هر عبادت ځانله ځانله آداب دي ، که ددې آدابو لحاظ اونه ساتلې شي نو دا عبادت نه قبليږي .

(۱) سنن ابي داؤد رقم الحديث ۸۶۴ بَابُ قَوْلِ النَّبِيِّ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ : «كُلُّ صَلَاةٍ لَا يُتِمُّهَا صَاحِبُهَا تُتَمُّ مِنْ تَطَوُّعِهِ» . قال الالباني : هذا حديث صحيح . سنن ابن ماجة باب ماجاء في اول ما يحاسب به العبد الصلوة رقم الحديث ۱۴۲۵ ، المستدرک علي الصحيحين للحاکم رقم ۹۶۵ ، مشکاة المصابيح باب صلوة التسبيح رقم ۱۳۳۰ (۳) ، سنن النسائي باب المحاسبة على الصلوة رقم ۴۶۶ .

تراويح خو سُنتِ مؤکد دي که ددې آدابو لحاظ اونه ساتلې شي نو دا هم نه قبليږي ، بعضې خلق تراويح دومره زَر زَر کوي چې رکوع ، سجده وغيره ارکان په صحيح طريقې سره نشي ادا کيدی ، او دومره زر زر تلاوت کوي چې حروف صحيح نه اداء کوي ، نو داسې مونځ د الله ﷻ په دربار کې نه قبليږي ، بلکه په داسې مونځ سره انسان د سزا مستحق ګرځي .

۱ . رسول الله صلی الله عليه وسلم فرمايي ... څوک چې بې وَخته مونځ اوکړي ، ددې د پاره اَودس هم په صحيح طريقې سره اونکړي ، ددې د خُشوع ، رُکوع او سجدې لحاظ هم او نه ساتي نو دغه مونځ تَک تور بَدشَکله جوړ شي او ده ته دا خبرې کوي : ضَيَّعَكَ اللهُ كَمَا ضَيَّعْتَنِيْ .

الله تعالی دې تا داسې ضائِع ( او بَرباد ) کړي لکه څرنګې چې تا زه ضائع کړم .

بيا چې الله ﷻ اوغواړي نو دا مونځ داسې راغونډ کړې شي لکه څرنګې زړې جامې راغونډولې شي ، ثُمَّ ضُرِبَ بِهَا وَجْهُهُ . (۱)

بيا په دې باندې ددې مونځ ګُزار مَخ اُوويشتلې شي .

۲ . په صحيح ابن خزيمه کې دا حديث ذکر دی کوم چې د ډيرو صحابه کرامو نه نقل دی حضرت ابوعبدالله الاشعري فرمايي چې يو ځل رسول الله صلی الله عليه وسلم صحابه کرامو ته مونځ اوکړو ، بيا د صحابه کرامو د يوې ډلې سره کيناست ، په دې کې يو کس جُمات ته راننوت ، په مانځه اُودريد ، په جَلتۍ سره يې رکوع اوکړه ، او په سجده کې يې

---

(۱) قَالَ رَسُوْلُ اللهِ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ : « مَنْ صَلَّى الصَّلَاةَ لِوَقْتِهَا، وَأَسْبَغَ لَهَا وُضُوْءَهَا ، وَأَتَمَّ لَهَا قِيَامَهَا وَخُشُوْعَهَا وَرُكُوْعَهَا وَسُجُوْدَهَا خَرَجَتْ وَهِيَ بَيْضَاءُ مُسْفِرَةٌ ، تَقُوْلُ : حَفِظَكَ اللهُ كَمَا حَفِظْتَنِيْ . وَمَنْ صَلَّى الصَّلَاةَ لِغَيْرِ وَقْتِهَا فَلَمْ يُسْبِغْ لَهَا وُضُوْءَهَا ، وَلَمْ يُتِمَّ لَهَا خُشُوْعَهَا وَلَا رُكُوْعَهَا وَلَا سُجُوْدَهَا خَرَجَتْ وَهِيَ سَوْدَاءُ مُظْلِمَةٌ ، تَقُوْلُ : ضَيَّعَكَ اللهُ كَمَا ضَيَّعْتَنِيْ ، حَتّٰى إِذَا كَانَتْ حَيْثُ شَاءَ اللهُ لُفَّتْ كَمَا يُلَفُّ الثَّوْبُ الْخَلَقُ ، ثُمَّ ضُرِبَ بِهَا وَجْهُهُ » المعجم الأوسط للطبراني رقم الحديث ۳۰۹۵ مَنِ اسْمُهُ بَكْرٌ ، مجمع الزوائد ومنبع الفوائد رقم الحديث ۱۶۷۷ بَابٌ فِي الْمُحَافَظَةِ عَلَى الصَّلَاةِ لِوَقْتِهَا ، و رواه السيوطي فی الدر المنثور ۱ /۱۹۵ ، والزبيدي فی الاتحاف ۳ /۱۰۹ ، والهندي فی الكنز رقم ۱۹۰۵۲ ، وكذا فی الترغيب و عزاه فی المنتخب الی البيهقي فی الشعب ، المتجر الرابح في ثواب العمل الصالح ص ۵۲ ثواب الصلاة في اول وقتها .

هَسې ( د کارغه په شان ) ټونګې اووهلی ، پیغمبر علیه السلام ( په دې لیدلو سره ) صحابه کرامو ته وفرمایل :

أَتَرَوْنَ هٰذَا، مَنْ مَاتَ عَلٰى هٰذَا مَاتَ عَلٰى غَيْرِ مِلَّةِ مُحَمَّدٍ ، يَنْقُرُ صَلَاتَهُ كَمَا يَنْقُرُ الْغُرَابُ الدَّمَ . (۱)

آیا تاسو دا کس ګورئ ؟ ( چې ده په څه طریقې سره مونځ اوکړو ؟ ) څوک چې په داسې حالت کې مړ شي نو دا به د محمد (ﷺ) په طریقه باندې نه مړ کیږي ، دې خو په مانځه کې داسې ټونګې لږوي لکه کارغه چې په وینه کې ټونګې لږوي .

۳ . د بخاري شریف حدیث دی ، حضرت حذیفه رضي الله عنه یو کس اولید چې رکوع او سجده یې صحیح نه کوله ، ده ورته وفرمایل :

مَا صَلَّيْتَ ، وَلَوْ مُتَّ مُتَّ عَلٰى غَيْرِ الْفِطْرَةِ الَّتِيْ فَطَرَ اللهُ مُحَمَّدًا صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ عَلَيْهَا (۲)

---

(۱) په صحیح ابن خزیمه کې پوره حدیث داسې ذکر دی : عَنْ أَبِيْ عَبْدِ اللهِ الْأَشْعَرِيِّ قَالَ : صَلّٰى رَسُوْلُ اللهِ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ بِأَصْحَابِهِ ، ثُمَّ جَلَسَ فِيْ طَائِفَةٍ مِنْهُمْ ، فَدَخَلَ رَجُلٌ ، فَقَامَ يُصَلِّيْ ، فَجَعَلَ يَرْكَعُ وَيَنْقُرُ فِيْ سُجُوْدِهِ ، فَقَالَ النَّبِيُّ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ : « أَتَرَوْنَ هٰذَا، مَنْ مَاتَ عَلٰى هٰذَا مَاتَ عَلٰى غَيْرِ مِلَّةِ مُحَمَّدٍ ، يَنْقُرُ صَلَاتَهُ كَمَا يَنْقُرُ الْغُرَابُ الدَّمَ ، إِنَّمَا مَثَلُ الَّذِيْ يَرْكَعُ وَيَنْقُرُ فِيْ سُجُوْدِهِ كَالْجَائِعِ لَا يَأْكُلُ إِلَّا التَّمْرَةَ وَالتَّمْرَتَيْنِ فَمَاذَا تُغْنِيَانِ عَنْهُ ، فَأَسْبِغُوا الْوُضُوْءَ ، وَيْلٌ لِلْأَعْقَابِ مِنَ النَّارِ ، أَتِمُّوا الرُّكُوْعَ وَالسُّجُوْدَ » قَالَ أَبُوْ صَالِحٍ : فَقُلْتُ لِأَبِيْ عَبْدِ اللهِ الْأَشْعَرِيِّ : مَنْ حَدَّثَكَ بِهٰذَا الْحَدِيْثِ ؟ فَقَالَ : أُمَرَاءُ الْأَجْنَادِ : عَمْرُو بْنُ الْعَاصِ ، وَخَالِدُ بْنُ الْوَلِيْدِ ، وَيَزِيْدُ بْنُ أَبِيْ سُفْيَانَ ، وَشُرَحْبِيْلُ بْنُ حَسَنَةَ رضي الله عنهم . كُلُّ هٰؤُلَاءِ سَمِعُوْهُ مِنَ النَّبِيِّ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ . صحيح ابن خزيمه بَابُ إِتْمَامِ السُّجُوْدِ وَالزَّجْرِ عَنِ انْتِقَاصِهِ رقم الحديث ٦٦٥ ، قال الألباني: إسناده حسن ، المعجم الكبير للطبراني رقم ۳۸۴۰ ، السنن الكبرى للبيهقي رقم الحديث ۲۵۷۳ ، صحيح الترغيب والترهيب رقم الحديث ۵۲۸ (۷) ، كنز العمال رقم الحديث ۲۰۰۰۹ ، ورقم ۲۵۵۵۲ ، الكبائر للذهبي ص ۲۸ .

(۲) عن زَيْدِ بْنِ وَهْبٍ ، قَالَ : رَأَى حُذَيْفَةُ رضي الله عنه رَجُلًا لَا يُتِمُّ الرُّكُوْعَ وَالسُّجُوْدَ ، قَالَ : « مَا صَلَّيْتَ ، وَلَوْ مُتَّ مُتَّ عَلٰى غَيْرِ الْفِطْرَةِ الَّتِيْ فَطَرَ اللهُ مُحَمَّدًا صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ عَلَيْهَا » . صحيح البخاري رقم الحديث ۷۹۱ بَابُ إِذَا لَمْ يُتِمَّ الرُّكُوْعَ ، شرح السنة للبغوي رقم الحديث ٦١٦ .

تا ( كامل ) مونځ ندې كړی ، كه چيرته ته په دې حالت كې مړ شوی نو ته به د هغې طريقې (او دين) خلاف مړ شې په كومه طريقه باندې چې الله ﷻ ( خپل پيغمبر ) محمّد صلى الله عليه وسلم پيدا كړې وُ .

((( **نوټ** : د " زر زر مونځ كولو سزاګانې " ددې " اِصلَاحِي مُدَلّل تَقرِيرُونه " كتاب په اُووم جلد كې د صفحه ۳۲۵ نه تر صفحه ۳۳۵ پورې تفصلي ذكر دي . مقرّرين چې دې ځای ته راأورسي نو د هغه ځای نه دې آيتونه او احاديث د ځان د پاره انتخاب كړي ، او په همدې موقع دې يې بيان كړي . ابوالشمس عفي عنه ))) .

**خوش طبعي** : د خوش طبعي يوه خبره كوم ، هغه دا چې يو سپين ګيري سړي د يو امام پسې تراويح كولی ، نو دې امام ډير زر زر مونځ كولو ، ركوع سجده وغيره يې پوره نه اداء كول ، دې سپين ګيري خپل څادر اُوځنډل ، روان شو او وې ويل چې : دا مونځ ماته ندې منظور نو الله ﷻ ته به څه منظور شي ؟

## غلط تلاوت كوونكي باندې د قرآن كريم لعنت

كوم كس چې په تراويحو كي دومره زر زر تلاوت كوي چې حروف هم صحيح نه اداء كوي بلكه د ډير تيز والي په وجه يې غلط غلط وايي نو د داسې كس دپاره په احاديثو كي سخته سزا ذكر شوی .

حضرت انس بن مالك ﷺ فرمايي : رُبَّ تَالٍ لِلقُرْآنِ وَالقُرْآنُ يَلْعَنُهُ . (۱)

ډير كرتې به يو كس د قرآن كريم تلاوت كوي خو قرآن كريم به په هغه باندې لعنت وايي (ځكه ددې حقوقو او آدابو لحاظ به يې نه وي ساتلی) .

## د تلاوت اُوريدو بې حسابه اَجر

په تراويحو كې خو قرآن مجيد لوستلې شي ، او قرآن مجيد داسې عظيم كتاب دې لكه څرنګې چې پخپله ددې تلاوت كول ثواب دی همدغه رنګې دا د بل نه آوريدل هم ثواب دی ، رسول الله صلى الله عليه وسلم فرمايي :

(۱) احياء علوم الدين ۱/۲۷۴ كتاب آداب تلاوة القرآن الباب الأول في فضل القرآن واهله وذم المقصرين في تلاوته

مَنِ اسْتَمَعَ إِلَىٰ آيَةٍ مِّنْ كِتَابِ اللهِ كُتِبَتْ لَهُ حَسَنَةٌ مُضَاعَفَةٌ، وَمَنْ تَلَاهَا كَانَتْ لَهُ نُورًا يَوْمَ الْقِيَامَةِ . (۱)

څوک چې د قرآن کريم يو آيت آوريدو ته غوږ اُونيسي نو دده د پاره (ددې په عِوض کې) داسې نيکي ليکلې شي چې هغه همداسې مسلسل دُوچند کيږي (يعنی زياتيږي) ، او څوک چې د يو آيت تلاوت وکړي نو دا به ددې کس د پاره د قيامت په ورځ نُور وي .

د کنزالعمّال حديث دی ، نبي کريم صلی الله عليه وسلم فرمايي :

وَالَّذِي نَفْسِي بِيَدِهِ لَسَمَاعُ آيَةٍ مِّنْ كِتَابِ اللهِ أَعْظَمُ أَجْرًا مِنْ مِثْلِ صَبِيْرٍ يَتَصَدَّقُ بِهِ . وَلَقِرَاءَةُ آيَةٍ مِّنْ كِتَابِ اللهِ أَفْضَلُ مِنْ كُلِّ شَيْءٍ دُوْنَ الْعَرْشِ . (۲)

زما دې قسَم وي په هغه ذات چې د هغه په قبضه کې زما ساه ده يقينًا د کتابُ الله (يعنی قرآن کريم) يو آيت آوريدل د صبير غر په مقدار د صدقې کولو نه ډير اَجر لري ، او يقينًا د کتاب الله يو آيت تلاوت کول د عرش نه علاوه د بل هر شي نه ډير افضل دی .

## په مانځه کې د تلاوت کولو اَجر زيات وی

قرآن کريم داسې عظيم الشان کتاب دی چې په عامو حالاتو کې هم ددې تلاوت کول د ثواب ذريعه ده ، بيا خاصکر په مانځه کې ددې تلاوت ډير زيات ثواب لري .

امام مسلم رحمه الله په دې باندې مستقل باب قائم کړی :

" بَابُ فَضْلِ قِرَاءَةِ الْقُرْآنِ فِي الصَّلَاةِ وَتَعَلُّمِهِ " او بيا يې ددې لاندې د نبي کريم صلی الله عليه وسلم دا حديث رانقل کړی ، رسولُ الله ﷺ صحابه کرامو ته وفرمايل :

أَيُحِبُّ أَحَدُكُمْ إِذَا رَجَعَ إِلَىٰ أَهْلِهِ أَنْ يَجِدَ فِيهِ ثَلَاثَ خَلِفَاتٍ عِظَامٍ سِمَانٍ ؟

---

(۱) رواه الهيثمي فی المجمع ۷/۱٦۲ ، والمنذري ۲ / ۳۴۵ ، والسيوطي فی الدّر ۳/۱۵۷ . وهکذا رواه احمد ۲/۳۴۱ عن ابی هريرة ، تفسير البغوي ۱/۶۴ رقم الحديث

(۲) رواه ابوالشيخ والديلمي عن صهيب ، کنزالعمال ج۱ ص۲٦۸ کتاب الاذکار قسم الاقوال رقم الحديث ۲۳۹۷ . وفي روايةٍ : قال النبيّ صلی الله عليه وسلم ... وَلَمُسْتَمِعُ آيَةٍ مِّنْ كِتَابِ اللهِ خَيْرٌ لَهُ مِنْ صَبِيْرٍ ذَهَبًا وَتَالِي آيَةٍ مِنْ كِتَابِ اللهِ خَيْرٌ لَهُ مِمَّا تَحْتَ أَدِيمِ السَّمَاءِ . کنزالعمال ج۱ ص۲٦۵ رقم ۲۳٦۲ .

آيا په تاسو کې يو کس دا خوښوي چې کله دې کور ته واپس راشي نو دې په کور کې درې (۳) بلاربې غټې څربې اوښې بيامومي ؟

صحابه کرام فرمايي : مونږ ورته وويل : آو (مونږ کې هر کس دا خوښوي).

رسول الله صلى الله عليه وسلم اوفرمايل :

فَثَلَاثُ آيَاتٍ يَقْرَأُ بِهِنَّ أَحَدُكُمْ فِي صَلَاتِهِ خَيْرٌ لَهُ مِنْ ثَلَاثِ خَلِفَاتٍ عِظَامٍ سِمَانٍ . (۱)

په تاسو کې چې څوک په مانځه کې درې (۳) آيتونه اولولي نو دا دده د پاره د درې بلاربو غټو څربو اوښو نه ډير بهتر دي.

د مشکوة شريف حديث دی ، رسول الله ﷺ فرمايي :

قِرَاءَةُ الْقُرْآنِ فِي الصَّلَاةِ أَفْضَلُ مِنْ قِرَاءَةِ الْقُرْآنِ فِي غَيْرِ الصَّلَاةِ . (۲)

په مانځه کې د قرآن کريم لوستل ډير افضل دي د هغه تلاوت کولو نه چې د مانځه نه بغير لوستلې شي.

## په تراويحو کې د خلقو کوتاهيانې او کمزورۍ

د تراويحو متعلق ډير خلق څه کوتاهيانې کوي چې د هغې اصلاح ضروري ده :

۱ . بعضې خلق د تراويحو نه زر ځان فارغولو د پاره د ماسخوتن مونځ دومره رامخکې کړي چې په دغه وخت کې د ماسخوتن وخت هم نه وي داخل شوی . يا آذان د خپل وخت نه مخکې کوي . دا داواړه غټې غلطيانې دي ، د وخت نه مخکې خو مونځ نه کيږي .

---

(۱) صحيح مسلم بَابُ فَضْلِ قِرَاءَةِ الْقُرْآنِ فِي الصَّلَاةِ وَتَعَلُّمِهِ رقم الحديث ۸۰۲ ، مشکوة المصابيح کتاب فضائل القرآن الفصل الاول حديث ۳ .

(۲) مشکاة المصابيح کتاب فضائل القرآن حديث ٦٥ ، و هذا الحديث رواه دار قطني في الافراد ، والبيهقي في شعب الايمان عن عائشة رضي الله عنها ، کنزالعمال ج۱ ص ۲٦۰ رقم الحديث ۲۳۰۰ ط . دارالکتب العلمية بيروت .

و في رواية : مَنْ قَرَأَ الْقُرْآنَ فِي صَلَاةٍ قَائِمًا كَانَ لَهُ بِكُلِّ حَرْفٍ مِائَةُ حَسَنَةٍ ... رواه الديلمي في مسند الفردوس ، کنزالعمال ج۱ ص ۵۴۱ رقم الحديث ۲۳۲۷ .

وفي رواية ... وَمَنْ قَرَأَ حَرْفًا مِنْ كِتَابِ اللهِ قَائِمًا كُتِبَتْ لَهُ مِائَةُ حَسَنَةٍ ، وَمُحِيَتْ عَنْهُ مِائَةُ سَيِّئَةٍ وَرُفِعَتْ لَهُ مِائَةُ دَرَجَةٍ ... رواه ابن عدي في الکامل ، والبيهقي في الشعب ، کنزالعمال ج۱ ص ۵۴۲ رقم الحديث ۲۴۲۹ .

۲ . ځني خلق تراويح دومره زر زر کوي چې د مانځه ارکان (رکوع سجده وغيره ) په صحيح طريقې سره نشي اداء کيدی ، نو داسې مونځ د الله ﷻ په دربار کي نه قبليږي ، بلکه انسان پرې د سزا مستحق ګرځي .

يا قاري (او امام) دومره زر زر تلاوت کوي چې په تلاوت يې هيڅوک نه پوهيږي بلکه حروف هم صحيح نه اداء کوي نو په داسې تلاوت کوونکي باندې قرآن کريم لعنت ليږي .

۳ . بعضې خلق په تراويحو کي نابالغه ماشوم مخکې کوي ، مفتٰی بِه قول دادی چې په نابالغ ماشوم پسې فرائض او نوافل دواړه کول ناجائز دي . (۱)

عجيبه داده چې تراويح يو لوي نِعمت دی ، د الله ﷻ د رحمتونو راجمع کولو او د ثوابونو ګټلو بهترينه ذريعه ده ، ليکن دې بعضې بد بخته خلقو دا د ځان د پاره يو لوي بُوج جوړ کړی ، بهَر په مجلسونو کي به په ګِنټو ګِنټو ناست وي ، دروغ به وايي ، غِيبت به کوي په هغی نه تنګيږي ، خو چې جُمات ته د تراويح اداء کولول د پاره راشي نو بيا به د منافقانو په شان په جُمات کې تنګيږي ، ځکه د منافق سړي علامه داده چې دا به په جُمات کې تنګيږي ، امام ته به وايي چې زر زر تراويح کوه .

نو په تراويحو باندې دومره غوبل جوړ کړي چې نه يي رکوع صحيح اداء کړي ، نه سجده ، نه په کې تسبيحات پوره وايي ، نه پکې قرآت صحيح کوي ، نه په کې التّحيات پوره وايي ، بس زر زر ځان ورنه خلاص کړي .

حالانکه که په اطمينان باندې تراويح اداء کړې شي نو زيات نه زيات پنځلس منټه به پرې زيات اولږي ، خو افسوس چې ځينې بد بخته خلق داسې دي چې الله ﷻ ته په مخ د زمکه خوښ ځای "جُمات "کې په بهترين عبادت "مونځ کولو " سره خو تنګيږي ، ليکن چې کله بهر فضول مجلسونو ته اووځي نو بيا په ګنټو ګنټو فضول خبرې کوي ، په هغی نه تنګيږي .

او کوم امام چې دوی ته په اطمينان سره تراويح کوي نو دهغه پسې دوی تراويح نه کوي ، دهغه په باره کي وايي چې دا دومره سست سست مونځ کوي چې زمونږ زړه خُلې ته

(۱) په نابالغه پسې د مونځ کولو تفصيلي مسئله ددې ( اصلاحي مدلّل تقريرونه ) کتاب په اتم جلد کې د . صفحه ۳۲۸ نه تر صفحه ۳۳۰ پورې ذکر ده . هلته يې اوګوره . ابوالشمس علي عنه

رااودرېږي او ساه مو خفه شي . او کوم امام چې زر زر تراويح کوي نو هر کس هغه ته ورځي چې دا سَم د ريل ګاډي يا جهاز په شان تيز رفتاره تراويح کوي .

لهذا انسان ته په کار دي چې د رمضان المبارک دا بهترينه موقع غنيمت اوګڼي ، فرضي روژې اونيسي او ورسره ورسره تراويح هم په ډير اطمينان ، سکون او اَدب سره اوکړي ، چې د مانځه او تلاوت ثواب دواړه ورته حاصل شي .

## د اَسلافو معمول

که مونږ د خپلو اسلافو معمول ته اوګورو نو هغوی به په رمضان کې ډير زيات عبادت کولو ، حضرت امام اعظم ابو حنيفه رحمه الله به په رمضان کې يو شپيته (٦١) ختمونه کول ، يو ختم به يې د ورځې کولو ، بل به يې د شپې کولو او بل به ئې هميشه په تراويحو کې کولو .

## په رمضان کې د رسول الله ﷺ طرزِ عمل

په خپله د رسول الله ﷺ طريقه به هم داوه چې د رمضان المبارک مياشت به داخل شوه نو په عبادت کې به يې ډير کوشش کولو ، حضرت عائشه رضي الله عنها فرمايي :

كَانَ رَسُوْلُ اللهِ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ إِذَا دَخَلَ رَمَضَانَ شَدَّ مِئْزَرَهُ، ثُمَّ لَمْ يَأْتِ فِرَاشَهُ حَتّٰى يَنْسَلِخَ . (١)

د نبي ﷺ طريقه دا وه چې کله به د رمضان مياشت راداخل شوه نو خپل تهبَند (ازار) به يې مضبوط اوتړل ، بيا به خپلې بسترې ته نه راتلو تردې چې رمضان به تير شو ( نو بيا به خپلې بسترې ته راغی ) .

امام بيهقي رحمه الله په " شعب الايمان " کې دا حديث نقل کړی ، حضرت عائشه رضي الله عنها فرمايي :

---

(١) صحيح ابن خزيمة رقم الحديث ٢٢١٦ بَابُ اسْتِحْبَابِ تَرْكِ الْمَبِيتِ عَلَى الْفِرَاشِ فِي رَمَضَانَ... شعب الايمان رقم الحديث ٣٣٥٢ ، كنزالعمال رقم ١٨٠٦١ الفصل الرابع في الصوم ، ورقم ٢٤٤٨٠ .

**نوټ** : دا حديث د احاديثو په ډيرو کتابونو کې ذکر دی ، البته امام الباني ديته ضعيف وايي .

كَانَ رَسُوْلُ اللهِ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ إِذَا دَخَلَ رَمَضَانُ تَغَيَّرَ لَوْنُهُ، وَكَثُرَتْ صَلٰوتُهُ. وَابْتَهَلَ فِي الدُّعَاءِ، وَأَشْفَقَ مِنْهُ. (۱)

چې کله به رمضان راغی نود رسول الله ﷺ رنګ مبارک به بدل شو ، نوافل به يې ډير کول ، او دُعا به يې ډيره په عاجزۍ سره کوله ، او د الله ﷻ نه به يَريدو .

بيا خاصکر نبي ﷺ به د رمضان په آخري عشره کې عبادت ډير زيات کولو په احاديثو کې ددې تذکره موجود ده . (۲)

## د غير مُقلدينو فتنه

محترمو مسلمانانو ! تاسو په رمضان المبارک کې د نبي ﷺ طرزِ عمل واوريدو چې په عبادت کې يې ډير کوشش کولو ، ليکن افسوس چې د يوې صدۍ نه راپه ديخوا ( يعنی د برطانيې د دورِحکومت نه پس ) د غير مقلدينو داسې خطرناکه فِتنه راپيدا شوی چې کله د رمضان المبارک مياشت راشي نو په ځای ددې چې خلقو ته د عبادت کولو ترغيب ورکړي دوی اُلټه مسلمانان د ډير عبادت نه منع کوي ، د خلقو ذِهنونو کې شکوک او شبهات اَچوي او خلقو ته وايي چې " تراويح اَته رکعته دي ، او شل رکعته تراويح بدعت دي " .

---

(۱) شعب الايمان رقم الحديث ۳۳۵۳ الصيام فضائل شهر رمضان ، كنزالعمال الفصل الرابع في الصوم رقم الحديث ۱۸۰۶۲ .

(۲) قَالَتْ عَائِشَةُ رَضِيَ اللهُ عَنْهَا: « كَانَ رَسُوْلُ اللهِ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ يَجْتَهِدُ فِي الْعَشْرِ الْأَوَاخِرِ، مَا لَا يَجْتَهِدُ فِي غَيْرِهِ » . صحيح مسلم كِتَابُ الِاعْتِكَافِ بَابُ الِاجْتِهَادِ فِي الْعَشْرِ الْأَوَاخِرِ مِنْ شَهْرِ رَمَضَانَ رقم الحديث ۸ (۱۱۷۵) ، سنن الترمذي باب ماجاء في ليلة القدر رقم الحديث ۷۹۶ ، سنن ابن ماجه رقم الحديث ۱۷۶۷ بابٌ في فضل العشر الاواخر من شهر رمضان .

عَنْ عَائِشَةَ رَضِيَ اللهُ عَنْهَا، قَالَتْ: « كَانَ النَّبِيُّ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ إِذَا دَخَلَ الْعَشْرُ شَدَّ مِئْزَرَهُ، وَأَحْيَا لَيْلَهُ، وَأَيْقَظَ أَهْلَهُ » . صحيح البخاري كتاب فَضْلِ لَيْلَةِ الْقَدْرِ بَابُ الْعَمَلِ فِي الْعَشْرِ الْأَوَاخِرِ مِنْ رَمَضَانَ رقم الحديث ۲۰۲۴ ، صحيح مسلم باب الاجتهاد في العشر الاواخر من شهر رمضان رقم الحديث ۱۱۷۴ ، مشكاة المصابيح باب ليلة القدر الفصل الاول رقم الحديث ۲۰۹۰(۸) .

ددې خبرې دپاره په زرهاؤ اشتهارات او رسالې چاپ کوي او خلق د شل رکعته تراويحو نه منع کوي ، پخپله خو هسې هم د رمضان المبارک د برکتونو نه محرومه وي خو دا نور مسلمانان هم محرومه کوي.

# د شل (۲۰) رکعته تراويحو ثبوت

د ټولو نه اول په دې خبره باندې ځان پوهه کړئ چې رسول الله ﷺ په خپله صرف درې ورځې تراويح په جَمعې سره کړي بيا يې ددې د وجې پريخي چې هسې نه دا په اُمت باندې فرض شي نو بيا به دوی ته ګرانه شي ، نو د درې ورځو نه پس بيا به نبي عليه السلام او صحابه کرامو په کورونو کې ځانله ځانله کولی.

او کوم کار چې د عُذر په وجه پريخودې شي هغه حُکمًا معمول شمارلې شي ، پس ګويا چې نبي عليه السلام په جَماعت باندې حکمًا دوام کړی.

د نبي عليه السلام د وفات نه پس حضرت ابوبکر صديق رضي الله عنه په دې کې څه تبديلي اونکړه ، خو حضرت عُمر رضي الله عنه د پيغمبر عليه السلام دا تَمنّا پوره کړه او شل رکعته تراويح يې په جَمعه باندې معمول اوګرځولی.

دريم خليفه ( حضرت عثمان رضي الله عنه ) ، او څلورم خليفه ( حضرت علي رضي الله عنه ) په دې کې هيڅ تبديلي اونکړه ، همدارنګې نورو ائمهؤ هم په دې کې هيڅ تبديلي اونکړه ، او ټولو شل رکعته تراويح په جَمعه باندې کولی. (۱)

---

(۱) وفي المنهاج : وفي رواية البخاري "نعم البدعة هذه" ليس المشار اليه قيام رمضان لانه سنة الرسول، ولاقيامه بالجماعة الصغرى لانّ النّبي صلى الله عليه وسلم لم ينكر علي ابي بن كعب حين صلى بنسوة ، وكذا حين صلى بالناس في ناحية المسجد ، ولا الجماعة الكبرى لانّ النبي صلى الله عليه وسلم فعلها ثلاث ليال ، ولا الجماعة الكبرى على وجه الدوام لانّ النبي صلى الله عليه وسلم تركها خشية الافتراض ولولا هذه الخشية لما تركها ، فهذه مواظبة حكمًا وإرادةً. منهاج السنن شرح جامع السنن ج۴ ص ۸۲ قبيل ابواب الحج عن رسول الله صلى الله عليه وسلم . فتاوى فريديه ج۲ ص ۵۶۶ باب التراويح.

# د نبي عليه السلام تراويح کول

د بخاري شريف حديث دی ، حضرت عائشه رضي الله عنها فرمايي :

إِنَّ رَسُولَ اللهِ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ خَرَجَ لَيْلَةً مِنْ جَوْفِ اللَّيْلِ، فَصَلَّى فِي الْمَسْجِدِ، وَصَلَّى رِجَالٌ بِصَلَاتِهِ، فَأَصْبَحَ النَّاسُ فَتَحَدَّثُوا، فَاجْتَمَعَ أَكْثَرُ مِنْهُمْ فَصَلَّى فَصَلَّوْا مَعَهُ، فَأَصْبَحَ النَّاسُ فَتَحَدَّثُوا، فَكَثُرَ أَهْلُ الْمَسْجِدِ مِنَ اللَّيْلَةِ الثَّالِثَةِ، فَخَرَجَ رَسُولُ اللهِ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ فَصَلَّى فَصَلَّوْا بِصَلَاتِهِ، فَلَمَّا كَانَتِ اللَّيْلَةُ الرَّابِعَةُ عَجَزَ الْمَسْجِدُ عَنْ أَهْلِهِ، حَتَّى خَرَجَ لِصَلَاةِ الصُّبْحِ، فَلَمَّا قَضَى الْفَجْرَ أَقْبَلَ عَلَى النَّاسِ، فَتَشَهَّدَ، ثُمَّ قَالَ: «أَمَّا بَعْدُ، فَإِنَّهُ لَمْ يَخْفَ عَلَيَّ مَكَانُكُمْ، وَلَكِنِّي خَشِيتُ أَنْ تُفْتَرَضَ عَلَيْكُمْ، فَتَعْجِزُوا عَنْهَا»، فَتُوُفِّيَ رَسُولُ اللهِ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ وَالْأَمْرُ عَلَى ذَلِكَ. (۱)

رسول الله صلى الله عليه وسلم يو ځل (په رمضان المبارک کې ) نيمه شپه دکور نه راُووت ، په جُمات کي يې مونځ اوکړو ، څه خلقو هم دوی پسې همدغه مونځ اوکړو ، چې کله سهر شو نو خلقو د شپې د مانځه تذکره په خپل مينځ کې اوکړه .

نو په صبا شپه باندې د خلقو تعداد نور هم زيات شو ، نبي ﷺ مونځ اوکړو ، خلقو هم ددوی په اِقتداء کي دغه مونځ اوکړو ، په صبا باندې خلقو ددې مانځه تذکره بيا په خپل مينځ کې اوکړه ، په دريمه شپه د جُمات خلق نور هم زيات شو ، نبي ﷺ د کور نه تشريف راوړو او خلقو د دوی په اِقتداء کې مونځ اوکړو ، کله چې څلورمه شپه شوه نو دومره ډير خلق راغلل چې په جُمات کي نه ځائيدل . (مګر رسول الله ﷺ د شپې مانځه ته تشريف رانه وړو ) تردې چې نبي ﷺ د سهر مانځه ته تشريف راوړو ، کله چې يې د سهر مونځ اداء کړو نو خلقو ته يې مخ راُوګرځول ، تَشَهُّدْ (د الله ﷻ حمد وثنا ) يې وويل ، بيا يې اوفرمايل :

أَمَّا بَعْدُ . ستاسو دلته راتګ د ما نه پټ نه وُ ، (يعنی ماته ستاسو حالت معلوم وُ) ليکن

(۱) صحيح البخاري كِتَابُ صَلَاةِ التَّرَاوِيحِ بَابُ فَضْلِ مَنْ قَامَ رَمَضَانَ رقم الحديث ۲۰۱۲ و رقم ۹۲۴ كِتَابُ الْجُمُعَةِ بَابُ مَنْ قَالَ فِي الْخُطْبَةِ بَعْدَ الثَّنَاءِ: أَمَّا بَعْدُ ، صحيح ابن حبان رقم الحديث ۱۴۱ ، صحيح مسلم بَابُ التَّرْغِيبِ فِي قِيَامِ رَمَضَانَ، وَهُوَ التَّرَاوِيحُ رقم ۱۷۸ (۷۶۱) ، مسند احمد رقم ۲۵۳۶۲ ، ورقم ۲۵۹۵۴ .

زه (ځکه راااو نه وَتم چي زه) ويريدم چې هسې نه دا مونځ په تاسو باندې فرض شي ، پس تاسو به بيا ددې د کولو نه عاجز شی.

حضرت عائشه رضي الله عنها فرمايي چې رسول الله ﷺ د دنيا نه تشريف وې وړو او معامله هم دغه شان وه (يعنی هر کس به تراويح ځانله ځانله کولی).

**فائده** ددې حديث نه معلومه شوه چې پيغمبر عليه السلام په جَمعه باندې صرف درې شپې تراويح کړي ، بيا يې ددی يَرې د وجې پريخي چې هسې نه دا په دې اُمت باندې فرض شي نو بيا به ورته تکليف وي ، نو ځانله ځانله به يې کولی.

همدغه سلسله د حضرت ابوبکر صديق رضي الله عنه په دورِ خلافت کي هم وه چې هرچا به ځانله ځانله تراويح کولی.

## حضرت عُمر ﷺ په جَمعه تراويح شروع کړی

کله چې د حضرت عمر ﷺ زمانه راغله نو دوی په يو قاري "حضرت اُبَيّ بن کعب ﷺ" باندې خلق راجمع کړل ، ده ته يې حکم اوکړو چې ته خلقوته شل (۲۰) رکعته تراويح په جَمعه باندې کوه ، او قرآن کريم په کې لوله.

ټولو صحابه کرامو د حضرت اُبَيّ بن کعب رضي الله عنه پسې شل (۲۰) رکعته تراويح کولی ، يو صحابي هم ددې نه انکار اونکړو.

نو دا تراويح په جَمعه باندې د حضرت عمر ﷺ په حکم اوشوی ، او حضرت عمر ﷺ به دا اِجتهاد خامخا د نبي ﷺ د حُکم نه معلوم کړې وي. (۱)

---

(۱) واجتهاده هذا من إقراره صلى الله عليه وسلم للذين صلوا خلفه ولكنه لم يستمر بهم خشية أن تفرض عليهم تعليق مصطفى البغا على صحيح البخاري في تشريح حديث ۲۰۱۰ بَابُ فَضْلِ مَنْ قَامَ رَمَضَانَ.

ملاعلي قاري رحمه الله ليکلي : وَكَوْنُهَا عِشْرِينَ سُنَّةُ الْخُلَفَاءِ الرَّاشِدِينَ، وَقَوْلُهُ عَلَيْهِ الصَّلَاةُ وَالسَّلَامُ: «عَلَيْكُمْ بِسُنَّتِي وَسُنَّةِ الْخُلَفَاءِ الرَّاشِدِينَ» " نَدْبٌ إِلَى سُنَّتِهِمْ، وَلَا يَسْتَلْزِمُ كَوْنُ ذَلِكَ سُنَّتِهِ ، إِذْ سُنَّتُهُ بِمُوَاظَبَتِهِ بِنَفْسِهِ. أَوْ إِلَّا لِعُذْرٍ، وَبِتَقْدِيرِ عَدَمِ ذَلِكَ الْعُذْرِ إِنَّمَا اسْتَفَدْنَا أَنَّهُ كَانَ يُوَاظِبُ عَلَى مَا وَقَعَ مِنْهُ وَهُوَ مَا ذَكَرْنَا. مرقاة المفاتيح شرح مشكاة المصابيح ۹۷۳/۲ بَابُ قِيَامِ شَهْرِ رَمَضَانَ

ځکه د يو شي عدد په رای او قياس سره نه معلوميږي ، لهذا د قواعدو موافق به دا شل رکعته تراويح هم مرفوع وي. (۱)

د بخاري شريف حديث دی ، حضرت عبد الرحمن بن عبد القاري رحمه الله فرمايي :

خَرَجْتُ مَعَ عُمَرَ بْنِ الخَطَّابِ رَضِيَ اللهُ عَنْهُ لَيْلَةً فِي رَمَضَانَ إِلَى المَسْجِدِ، فَإِذَا النَّاسُ أَوْزَاعٌ مُتَفَرِّقُونَ، يُصَلِّي الرَّجُلُ لِنَفْسِهِ، وَيُصَلِّي الرَّجُلُ فَيُصَلِّي بِصَلاَتِهِ الرَّهْطُ، فَقَالَ عُمَرُ: « إِنِّي أَرَى لَوْ جَمَعْتُ هَؤُلاَءِ عَلَى قَارِئٍ وَاحِدٍ، لَكَانَ أَمْثَلَ » ثُمَّ عَزَمَ، فَجَمَعَهُمْ عَلَى أُبَيِّ بْنِ كَعْبٍ، ثُمَّ خَرَجْتُ مَعَهُ لَيْلَةً أُخْرَى، وَالنَّاسُ يُصَلُّونَ بِصَلاَةِ قَارِئِهِمْ، قَالَ عُمَرُ: نِعْمَ البِدْعَةُ هَذِهِ... (۲)

زه د حضرت عمر رضي الله عنه سره يوه شپه په رمضان کې جُمات طرف ته اُووَتم (مونږ چې اوکتل) نو خلق په مختلفو ټولګو (ډَلو) باندې تقسيم وو ، چا ځان له (د تراويحو) مونځ کولو ، او چا يوې ډلې ته اِمامت کولو .

حضرت عمر رضي الله عنه اوفرمايل : إِنِّي أَرَى لَوْ جَمَعْتُ هَؤُلاَءِ عَلَى قَارِئٍ وَاحِدٍ، لَكَانَ أَمْثَلَ.

زما دا رای ده که دا خلق د يو قاري په اِقتداء باندې راجَمع کړم (چې هغه دوی ټولو ته په جَمعه باندې تراويح کوي) نو دا به ډيره بهتره وي .

بيا حضرت عمر رضي الله عنه د دې اِراده اوکړه ، او دا ټول خلق يې د حضرت اُبَيّ بن کعب رضي الله عنه په اقتداء باندې راجمع کړل (يعنی حضرت اُبَيّ بن کعب رضي الله عنه به دوی ته په جَمعه تراويح کولی)

حضرت عبد الرحمن بن عبد القاري رحمه الله فرمايي : بيا زه يوه بله شپه د حضرت عمر رضي الله عنه سره (جُمات ته) را اُووتم ، او خلقو د خپل قاري (حضرت اُبَيّ بن کعب رضي الله عنه) پسې د تراويحو مونځ په جَمعه کولو نو حضرت عمر رضي الله عنه اوفرمايل :

(۱) فتاوی فريديه ج ۲ ص ۵٦۴ باب التراويح .

(۲) صحيح البخاري رقم الحديث ۲۰۱۰ كِتَابُ صَلاَةِ التَّرَاوِيحِ بَابُ فَضْلِ مَنْ قَامَ رَمَضَانَ . السنن الكبرى للبيهقي رقم الحديث ۴۲۷۴ باب قيام شهر رمضان و رقم ۴۲۷۵ ، مشكاة المصابيح رقم الحديث ۱۳۰۱(۷) باب قيام شهر رمضان الفصل الثالث .

نِعْمَ الْبِدْعَةُ هٰذِهِ. دا نوې څيز (يعني په جمعي سره تراويح كول) ډير بهتر دی.(۱)

## د خلفائې راشدينو په سُنتو باندې هم عمل كول لازم دی

حضرت عمر رضي الله عنه په خلفائې راشدينو كې دويم خليفه دی. او نبي عليه السلام د خپلو سُنتو او د خلفائې راشدينو په سُنتو باندې د عمل كولو حكم كړی، پيغمبر عليه السلام فرمايي:

عَلَيْكُمْ بِسُنَّتِيْ، وَسُنَّةِ الْخُلَفَاءِ الرَّاشِدِيْنَ الْمَهْدِيِّيْنَ.(۲)

---

(۱) په مشكوة شريف كې د حضرت عُمر رضي الله عنه الفاظ داسې نقل دي: (قَالَ عُمَرُ: نِعْمَتِ الْبِدْعَةُ هٰذِهِ) مشكاة المصابيح رقم الحديث ۱۳۰۱ كِتَابُ الصَّلَاةِ بَابُ قِيَامِ شَهْرِ رَمَضَانَ.

ملاعلي قاري رحمه الله ددې جملې په تشريح كې فرمايي: (قَالَ عُمَرُ: نِعْمَتِ الْبِدْعَةُ هٰذِهِ، أَيِ: الْجَمَاعَةُ الْكُبْرٰى لَا الصَّلَاةُ فَإِنَّهَا سُنَّةٌ مِنْ أَصْلِهَا. قَالَ الطِّيبِيُّ: يُرِيدُ صَلَاةَ التَّرَاوِيحِ، فَإِنَّهُ فِي حَيِّزِ الْمَدْحِ؛ لِأَنَّهُ فِعْلٌ مِنْ أَفْعَالِ الْخَيْرِ وَتَحْرِيضٌ عَلَى الْجَمَاعَةِ الْمَنْدُوبِ إِلَيْهَا، وَإِنْ كَانَتْ لَمْ تَكُنْ فِي عَهْدِ أَبِي بَكْرٍ رَضِيَ اللهُ عَنْهُ، فَقَدْ صَلَّاهَا رَسُولُ اللهِ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ، وَإِنَّمَا قَطَعَهَا إِشْفَاقًا مِنْ أَنْ تُفْرَضَ عَلَى أُمَّتِهِ، وَكَانَ عُمَرُ مِمَّنْ نَبَّهَ عَلَيْهَا وَسَنَّهَا عَلَى الدَّوَامِ، فَلَهُ أَجْرُهَا وَأَجْرُ مَنْ عَمِلَ بِهَا إِلَى يَوْمِ الْقِيَامَةِ. مرقاة المفاتيح شرح مشكاة المصابيح ۹۷۱/۳ في تشريح حديث ۱۳۰۱ كِتَابُ الصَّلَاةِ بَابُ قِيَامِ شَهْرِ رَمَضَانَ.

وَقَوْلُهُ: «نعمتِ الْبِدْعَةُ هٰذِهِ» إِنَّمَا دَعَاهُ بِدْعَةً، لِأَنَّ النَّبِيَّ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ لَمْ يَسُنَّهَا، وَلَا كَانَتْ فِي زَمَنِ أَبِي بَكْرٍ، وَأَثْنٰى عَلَيْهَا بِقَوْلِهِ: «نِعْمَ» لِيَدُلَّ عَلَى فَضْلِهَا، وَلِئَلَّا يَمْنَعَ هٰذَا اللَّقَبُ مِنْ فِعْلِهَا، وَيُقَالُ: «نِعْمَ» كَلِمَةٌ تَجْمَعُ الْمَحَاسِنَ كُلَّهَا، «وَبِئْسَ» كَلِمَةٌ تَجْمَعُ الْمَسَاوِئَ كُلَّهَا. وَقِيَامُ شَهْرِ رَمَضَانَ جَمَاعَةً سُنَّةٌ غَيْرُ بِدْعَةٍ، لِقَوْلِهِ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ: «عَلَيْكُمْ بِسُنَّتِي وَسُنَّةِ الْخُلَفَاءِ الرَّاشِدِينَ». شرح السنة للبغوي ۱۱۹/۴ في تشريح حديث ۹۹۰ بَابُ قِيَامِ شَهْرِ رَمَضَانَ وَفَضْلِهِ

(نِعْمَ الْبِدْعَةُ هٰذِهِ) سماها بدعة لأنها لم يسنها رسول الله صلى الله عليه وسلم، وقال نعم البدعة هذه ليدل على فضلها وأن من البدع ما هو مستحسن ومقبول إن كان يندرج تحت مستحسن في الشرع. تعليق مصطفى البغا على صحيح البخاري في تشريح حديث ۲۰۱۰ بَابُ فَضْلِ مَنْ قَامَ رَمَضَانَ.

(۲) سنن ابن ماجة بَابُ اتِّبَاعِ سُنَّةِ الْخُلَفَاءِ الرَّاشِدِينَ الْمَهْدِيِّينَ رقم الحديث ۴۲ و رقم ۴۳، قال الالباني: هذا حديث صحيح. مسند احمد رقم الحديث ۱۷۱۴۲، سنن الترمذي رقم ۲۶۷۶ باب ماجاء في الاخذ بالسنّة واجتناب البدعة، وقال الترمذي هذا حديث حسن صحيح. المعجم الكبير للطبراني رقم ۶۱۸، المستدرك علي الصحيحين للحاكم رقم ۳۲۹.

تاسو زما سُنت هم په ځان لازم کړئ او د خلفائې راشدينو سُنت هم په ځان لازم کړئ (يعنی په دې باندې عمل او کړئ).

## په شل رکعته تراويحو باندې د ټولو صحابه کرامو او د ټول اُمت مُسلمه اتفاق دی

کله چې د حضرت عمر ﷺ په دورِ خلافت کې د ټولو صحابه کرامو په موجودګۍ کې په جَمعې سره د شل (۲۰) رکعته تراويحو حُکم جاري شو، نو ټولو صحابه کرامو په دې باندې عمل او کړو او هيڅ هم اختلاف اونکړو، نو په شل رکعته تراويحو باندې د ټولو صحابه کرامو اِجماع او شوه. بيا د صحابه کرامو نه پس تابعينو، تبع تابعينو، ائمه اربعهٔ کې هم هيڅ په دې کې اختلاف ندې کړی، بلکه د ټول اُمتِ مسلمه په اتفاق سره تراويح شل (۲۰) رکعته دي. (۱)

## په شل رکعته تراويحو باندې يو څو دلائل

اوس درته په شَل رکعته تراويحو باندې يو څو دلائل ذکر کوم:

۱. حضرت سَائِب بن يَزِيد رحمه الله فرمايي:

كُنَّا نَقُوْمُ فِيْ زَمَانِ عُمَرَ بْنِ الْخَطَّابِ بِعِشْرِيْنَ رَكْعَةً وَالْوِتْرِ. (۲)

مونږ به د حضرت عمر ﷺ په زمانه کې شل رکعته تراويح او وِتر کول.

امام نووي، سُبکي او سيوطي رحمهم الله دې حديث ته صحيح ويلی.

---

(۱) ملا علي قاري رحمه الله د څه تحقيق نه پس ليکلي: لٰكِنْ أَجْمَعَ الصَّحَابَةُ عَلٰى أَنَّ التَّرَاوِيْحَ عِشْرُوْنَ رَكْعَةً. مرقاة المفاتيح شرح مشكاة المصابيح ۹۷۳/۲ بَابُ قِيَامِ شَهْرِ رَمَضَانَ

(۲) معرفة السنن والآثار رقم الحديث ۵۴۰۹ قِيَامُ رَمَضَانَ. وقال النووي في الخلاصة: إِسنادهُ صحيحٌ. مرقاة المفاتيح شرح مشكوة المصابيح ج۳ ص ۹۷۲ في تشريح حديث رقم ۱۳۰۳، السنن الكبرى للبيهقي رقم الحديث ۴۲۸۸ بَابُ مَا رُوِيَ فِي عَدَدِ رَكَعَاتِ الْقِيَامِ فِي شَهْرِ رَمَضَانَ. مختصر قيام الليل وقيام رمضان وكتاب الوتر ۲۲۰/۱ بَابُ عَدَدِ الرَّكَعَاتِ الَّتِي يَقُوْمُ بِهَا الْإِمَامُ لِلنَّاسِ فِي رَمَضَانَ.

۲ . حضرت يزيد بن رومان رحمه الله فرمايي :

كَانَ النَّاسُ يَقُومُونَ فِي زَمَانِ عُمَرَ بْنِ الْخَطَّابِ، فِي رَمَضَانَ، بِثَلَاثٍ وَعِشْرِينَ رَكْعَةً . (۱)

خلقو (يعنی صحابه کرامو او تابعينو) به د حضرت عمر ﷺ په زمانه کې په رمضان کې درويشت (۲۳) رکعته مونځ کولو ( يعنی شل رکعته تراويح او درې رکعته وِتر) .

۳ . محمد بن کعب قُرَظِيُّ رحمه الله فرمايي :

كَانَ النَّاسُ يُصَلُّونَ فِي زَمَانِ عُمَرَ بْنِ الْخَطَّابِ رَضِيَ اللهُ عَنْهُ فِي رَمَضَانَ عِشْرِينَ رَكْعَةً يُطِيلُونَ فِيهَا الْقِرَاءَةَ وَيُوتِرُونَ بِثَلَاثٍ . (۲)

د حضرت عمر ﷺ په زمانه کې به خلقو په رمضان کې شل رکعته تراويح کولی ، په دې کې به يې اُوږد قراءت کولو ، او درې (۳) رکعته وِتر به يې کول .

د دينه علاوه په نورو ډيرو روايتونو کې دا خبره ثابته ده چې تراويح شل رکعته دي .

## ٤ . د امام ترمذي رحمه الله قول

امام ترمذي رحمه الله فرمايي :

وَأَكْثَرُ أَهْلِ العِلْمِ عَلَى مَا رُوِيَ عَنْ عُمَرَ، وَعَلِيٍّ، وَغَيْرِهِمَا مِنْ أَصْحَابِ النَّبِيِّ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ عِشْرِينَ رَكْعَةً، وَهُوَ قَوْلُ الثَّوْرِيِّ، وَابْنِ الْمُبَارَكِ، وَالشَّافِعِيِّ. وَقَالَ الشَّافِعِيُّ: وَهٰكَذَا أَدْرَكْتُ بِبَلَدِنَا بِمَكَّةَ يُصَلُّونَ عِشْرِينَ رَكْعَةً. (۳)

---

(۱) موطاء امام مالک رقم الحديث ۳۸۰ مَا جَاءَ فِي قِيَامِ رَمَضَانَ ، السنن الکبری للبيهقي رقم الحديث ۴۲۸۹ بَابُ مَا رُوِيَ فِي عَدَدِ رَكَعَاتِ الْقِيَامِ فِي شَهْرِ رَمَضَانَ ، معرفة السنن والآثار رقم الحديث ۵۴۱۱ قِيَامُ رَمَضَانَ ، مختصر قيام الليل وقيام رمضان وكتاب الوتر ۲۲۰/۱ بَابُ عَدَدِ الرَّكَعَاتِ الَّتِي يَقُومُ بِهَا الْإِمَامُ لِلنَّاسِ فِي رَمَضَانَ ، شرح السنة رقم الحديث ۹۹۰ بَابُ قِيَامِ شَهْرِ رَمَضَانَ وَفَضْلِهِ .

(۲) مختصر قيام الليل وقيام رمضان وكتاب الوتر ۲۲۰/۱ بَابُ عَدَدِ الرَّكَعَاتِ الَّتِي يَقُومُ بِهَا الْإِمَامُ لِلنَّاسِ فِي رَمَضَانَ .

(۳) سنن الترمذي أَبْوَابُ الصَّوْمِ عَنْ رَسُولِ اللهِ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ بَابُ مَا جَاءَ فِي قِيَامِ شَهْرِ رَمَضَانَ ۱۶۲/۲ .

اکثر اهلِ علم د شلو (۲۰) رکعتو تراويحو قائل دي لکه دا خبره د حضرت علي ﷺ، حضرت عمر ﷺ او د نبي ﷺ د نورو ډيرو صحابه کرامو نه نقل ده، او هم دا د شلو رکعتو تراويحو قول د سفيان ثوري، عبدالله بن مبارک او امام شافعي رحمهم الله نه هم نقل دی، امام شافعي رحمه الله فرمايي: ما په خپل ښار "مکه معظمه" کې خلق په همدې عمل ليدلي چې دوی ټول شل (۲۰) رکعته تراويح کوي.

هم دغه شان خبره امام بغوي رحمه الله په "شرح السّنة" کې هم ذکر کړې. (۱)

## ۵. د ملا علي قاري رحمه الله قول

ملا علي قاري رحمه الله په "مرقاة" کې په شل رکعته تراويحو باندې تفصيلي بحث کړی، د هغی په آخِر کې فرمايي:

أَجْمَعَ الصَّحَابَةُ عَلَى أَنَّ التَّرَاوِيْحَ عِشْرُوْنَ رَكْعَةً. (۲)

صحابه کرامو په دې خبره باندې اجماع (اتفاق) کړی چې تراويح شل رکعته دي.

## ۶. د علامه بدرالدين عيني رحمه الله قول

علامه بدر الدين عيني رحمه الله په "عمدة القاري" کې ذکر کړي:

علامه ابن عبدالبر رحمه الله فرمايي چې د جمهورو علماؤ په نزد باندې تراويح شل (۲۰) رکعته دي، او د اهلِ کوفه علماؤ قول هم همدا دی، د امام شافعي رحمه الله او د اکثرو فقهاؤ قول هم همدا دی، او همدا صحيح قول دی کوم چې د حضرت اُبَيّ بن کعب ﷺ

---

(۱) امام بغوي رحمه الله په "شرح السنة" کې د څه تحقيق نه پس ذکر کړي: وَأَمَّا أَكْثَرُ أَهْلِ الْعِلْمِ فَعَلَى عِشْرِيْنَ رَكْعَةً يُرْوٰى ذٰلِكَ عَنْ عُمَرَ، وَعَلِيٍّ وَغَيْرِهِمَا مِنْ أَصْحَابِ النَّبِيِّ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ. وَهُوَ قَوْلُ الثَّوْرِيِّ وَابْنِ الْمُبَارَكِ، وَالشَّافِعِيِّ، وَأَصْحَابِ الرَّأْيِ، قَالَ الشَّافِعِيُّ: وَهٰكَذَا أَدْرَكْتُ بِبَلَدِنَا بِمَكَّةَ يُصَلُّوْنَ عِشْرِيْنَ رَكْعَةً. شرح السنة ۱۲۳/۴ بَابُ قِيَامِ شَهْرِ رَمَضَانَ وَفَضْلِهٖ في التشريح حديث ۹۹۰.

(۲) مرقاة المفاتيح شرح مشكاة المصابيح ۹۷۳/۲ بَابُ قِيَامِ شَهْرِ رَمَضَانَ الفصل الثالث في التشريح حديث ۱۳۰۳

نه نقل دی ، او صحابه کرامو کې هيڅا هم پدې کې اختلاف ندې کړی . (۱)

## د شيخ عبدالقادر جيلاني رحمه الله قول

شيخ عبدالقادر جيلاني رحمه الله په " غنيةُ الطّالبين " کې ذکر کړي :

وَهِيَ عِشْرُوْنَ رَكْعَةً يَجْلِسُ عَقْبَ كُلِّ رَكْعَتَيْنِ وَيُسَلِّمُ . (۲)

تراويح شل رکعته دي ، په هر دويم رکعت به کيني او سلام به ګرځوي .

امام بيهقي ، علامه باجي ، قسطلاني ، ابن قدامه ، ابن حجر مکي ، طحاوي ، ابن همام ، او صاحب د بحر رحمهم الله دا قول فرمايي چې د حضرت عمر ﷺ په زمانه کې شل رکعته تراويح کيدلی ، او همدا طريقه مسلسل راروانه ده . (۳)

## د علامه ابنِ تيميه رحمه الله قول

علامه ابن تيميه رحمه الله فرمايي چې حضرت أُبيّ بن کعب ﷺ به مهاجرينو او انصارو ته شل رکعته تراويح کولی ، او يو کس هم ددې نه انکار نه دې کړی . (۴)

---

(۱) وَقد اختلف العلمَاء فِي العدَد المُسْتَحبّ فِي قيام رَمَضَان على أَقْوَالٍ كَثِيرَة ... وَقيل : عشرُون، وَحَكَاهُ التِّرمِذِي عَن أَكثر أهل العلم . فَإِنَّهُ روى عَن عمر وَعلي وَغَيرهمَا من الصَّحَابَة . وَهُوَ قَول أَصْحَابنَا الْحَنَفِيَّة.... وَقَالَ ابْن عبد الْبر: وَهُوَ قَول جُمْهُور العلمَاء ، وَبِه قَالَ الْكُوفِيُّونَ وَالشَّافِعِيّ وَأَكْثر الْفُقَهَاء ، وَهُوَ الصَّحِيح عَن أُبي بن كَعْب من غير خلاف من الصَّحَابَة . عمدة القاري شرح صحيح البخاري كِتَابُ التَّرَاوِيحِ بَابُ فَضْلِ مَنْ قَامَ رَمَضَانَ ۱۲۶/۱۱ في تشريح حديث ۲۰۰۹ .

(۲) غنية الطالبين ج۲ ص ۲۵ .

(۳) مطالعه غيرمقلديت ج۱ ص ۲۱۲ .

(۴) ... فَإِنَّهُ قَدْ ثَبَتَ أَنَّ أُبَيَّ بْنَ كَعْبٍ كَانَ يَقُومُ بِالنَّاسِ عِشْرِينَ رَكْعَةً فِي قِيَامِ رَمَضَانَ ، وَيُوتِرُ بِثَلَاثٍ . فَرَأَى كَثِيرٌ مِنَ الْعُلَمَاءِ أَنَّ ذَلِكَ هُوَ السُّنَّةُ ، لِأَنَّهُ أَقَامَهُ بَيْنَ الْمُهَاجِرِينَ وَالْأَنْصَارِ ، وَلَمْ يُنْكِرْهُ مُنْكِرٌ . الفتاوى الكبرى لابن تيمية ۲۵۰/۲ مَسْأَلَةٌ هَلْ قُنُوتُ الصُّبْحِ دَائِمًا سُنَّةٌ .

... فَالْقِيَامُ بِعِشْرِينَ هُوَ الْأَفْضَلُ ، وَهُوَ الَّذِي يَعْمَلُ بِهِ أَكْثَرُ الْمُسْلِمِينَ ، فَإِنَّهُ وَسَطٌ بَيْنَ الْعَشْرِ وَبَيْنَ الْأَرْبَعِينَ . الفتاوى الكبرى لابن تيمية ۱۲۰/۲ مَسْأَلَةُ الْجَهْرِ بِالْبَسْمَلَةِ فِي الصَّلَاةِ

# نتيجه

ددې مذکوره دلائلو ، د ټولو صحابهؤ د اجماع ، او د ټول اُمتِ مسلمه د اجماع نه دا ثابته شوه چې شل رکعته تراويح سُنتِ مؤکده دي ، په خيرُالقرون کې هيڅا هم دا قول نه دې کړی چې ګني تراويح اته رکعته دي ، بلکه د برطانيه د دورِ حکومت نه مخکې څوک د يو مُحَدِّث يا فقِيه نوم نشي پيش کولی چې هغه د اته رکعته تراويحو قول کړې وي ، يا يې د شل رکعته تراويحو نه انکار کړې وي ، ترديې پورې چې د حضرت عمر ﷺ د زمانې نه راپه ديخوا تر اوسه پورې په حرمينو شريفينو کې شل رکعته تراويح کولې شي ، اَلْحَمْدُ لِلّٰه.

ليکن افسوس چې يوه صدی مخکې ( يعنی د برطانيې د دورِحکومت نه پس ) د غير مقلدينو داسې فِتنه راپيدا شوه چې هغوی د صحابه کرامو داجماع او د ټول امتِ مُسلمه د اجماع نه انکار اوکړو او وې ويل چې " تراويح اته رکعته دي " او په دې نوم يې په مسلمانانو کې فِتنه او فساد پيدا کړو ، په وړو وړو خبرو يې په مسلمانانو کې بې اتفاقي پيدا کړه .

## غير مقلدين شل رکعته تراويحو ته بِدعت وايي

غير مقلدين وايي " چې شل رکعته تراويح بدعت دي " مونږ ورته وايو چې کله شل رکعته تراويح بدعت شوی نو بيا خو ستاسو په نزد باندې (نَعُوْذُ بِاللّٰه) ټولو صحابه کرامو او ټول امتِ مسلمه ته د بدعت نسبت کيږي ، ځکه دې ټولو شل رکعته تراويح کولی .

د نمونې دپاره درته د يو څو دَورُونو تذکره کوم :

### ۱. حضرت عمر ﷺ په دورِ خلافت کې شل رکعته تراويح کيدلی

د مخکيني احاديثو نه په تفصيل سره معلومه شوه چې د حضرت عمر ﷺ په دورِخلافت کې به خلقو شل رکعته تراويح کولی ، يو صحابي هم ددې نه انکار ندې کړی ، اوس که چيرته شل رکعته تراويح بدعت شي لکه غير مقلدين چې وايي نو بيا خو ددوی په نزد باندې

حضرت عمر رضي الله عنه او ټول مهاجرين او انصار صحابه کرام (نَعُوذُ بِاللّٰه) بدعتيان شو، حالانکه صحابه کرامو ته داسې نسبت کول ګمراهي ده.

## د حضرت عثمان رضي الله عنه په زمانه کې شل رکعته تراويح کيدلې

حضرت سائب بن يزيد رحمه الله فرمايي:

كَانُوْا يَقُوْمُوْنَ عَلَى عَهْدِ عُمَرَ بْنِ الْخَطَّابِ رَضِيَ اللهُ عَنْهُ فِيْ شَهْرِ رَمَضَانَ بِعِشْرِيْنَ رَكْعَةً " قَالَ: " وَكَانُوا يَقْرَءُوْنَ بِالْمِئِيْنِ، وَكَانُوْا يَتَوَكَّئُوْنَ عَلَى عِصِيِّهِمْ فِيْ عَهْدِ عُثْمَانَ بْنِ عَفَّانَ رَضِيَ اللهُ عَنْهُ مِنْ شِدَّةِ الْقِيَامِ ". (۱)

خلقو (يعنې صحابه کرامو او تابعينو) به د حضرت عُمر رضي الله عنه په زمانه کې د رمضان په مياشت کې شل رکعته تراويح کولې، او د حضرت عثمان رضي الله عنه په زَمانه کې به خلقو د اُوږد قراءت په وجه په خپلو اَمساګانو باندې تکيه لګوله.

**فائده**: ددې روايت نه هم معلومه شوه چې د حضرت عثمان رضي الله عنه په زمانه کې به هم شل رکعته تراويح کيدلې.

تر اوسه څوک د حضرت عثمان رضي الله عنه د زمانې دداسې يو مسلمان نوم نشي پيش کولې چې هغه شل رکعته تراويحو ته بِدعت ويلې وي، يا د اَته رکعته تراويحو قائل وي، يا د اَته رکعته تراويحو کولو نه پس د جُمات نه وتلې وي. نو بيا څنګه غير مقلدين شل رکعته تراويحو ته بِدعت وايي؟

## د حضرت علي رضي الله عنه په زمانه کې شل رکعته تراويح کيدلې

حضرت علي رضي الله عنه پخپله هم شل رکعته تراويح کولې او نورو ته يې هم ددې حُکم کړې و.

امام بيهقي رحمه الله په "السّنن الکبرٰی" کې د حضرت علي رضي الله عنه متعلق نقل کړي:

---

(۱) السنن الکبری للبيهقي رقم الحديث ۴۲۸۸ بَابُ مَا رُوِيَ فِي عَدَدِ رَكَعَاتِ الْقِيَامِ فِي شَهْرِ رَمَضَانَ. اسناده صحيح. آثار السنن باب في التراويح بعشرين رکعات ص ۲۵۰، مرقاة المفاتيح ج۳ ص ۹۷۱ باب قيام شهر رمضان الفصل الثالث في تشريح حديث ۱۳۰۲.

اِنَّهُ كَانَ يَؤُمُّهُمْ فِيْ شَهْرِ رَمَضَانَ بِعِشْرِيْنَ رَكْعَةً، وَيُوْتِرُ بِثَلَاثٍ . (۱)

حضرت علي رضي الله عنه به دوی ته په رمضان المبارک کښې شل رکعته تراويح کولی او درې رکعته وِتر به يې ورته کول.

حضرت عبد الرحمن سُلمي د حضرت علي رضي الله عنه متعلق فرمايي :

دَعَا الْقُرَّاءَ فِيْ رَمَضَانَ فَأَمَرَ مِنْهُمْ رَجُلًا يُصَلِّيْ بِالنَّاسِ عِشْرِيْنَ رَكْعَةً . قَالَ: وَكَانَ عَلِيٌّ رَضِيَ اللهُ عَنْهُ يُوْتِرُ بِهِمْ . (۲)

حضرت علي رضي الله عنه به په رمضان کښې قاريان رااوغوښتل ، په دوی کښې به يې يو کس ته د شل رکعته تراويح اِمامت کولو حکم اوکړو ، او د وِتر واجب اِمامت به حضرت علي رضي الله عنه پخپله کولو .

که چرته شل رکعته تراويح بدعت شي لکه څنګه چې غير مقلدين وايي نو بيا خو نَعُوْذُ بِالله ددوی په نزد باندې حضرت علي رضي الله عنه ته هم نسبت د بِدعتي کيږي .

حالانکه د حضرت علي رضي الله عنه د بدعت نه دومره سخت نفرت وُ چې حضرت علي رضي الله عنه پخپله د رسول الله صلی الله علیه وسلم دا حديث نقل کوي : چې چا د يو بدعت ايجاد اوکړو نو نه دده فرض قبلولې شي او نه نفل. (۳)

(۱) السنن الكبرى للبيهقي رقم الحديث ۴۲۹۰ بَابُ مَارُوِيَ فِيْ عَدَدِ رَكَعَاتِ الْقِيَامِ فِيْ شَهْرِ رَمَضَانَ

(۲) السنن الكبرى للبيهقي رقم الحديث ۴۲۹۱ بَابُ مَارُوِيَ فِيْ عَدَدِ رَكَعَاتِ الْقِيَامِ فِيْ شَهْرِ رَمَضَانَ

(۳) دا حديث په بخاري شريف او مسلم شريف کښې په تفصيل سره ذکر دی : عَنْ عَلِيٍّ رَضِيَ اللهُ عَنْهُ ... قَالَ النَّبِيُّ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ: اَلْمَدِيْنَةُ حَرَامٌ مَا بَيْنَ عَائِرٍ إِلَى كَذَا، فَمَنْ أَحْدَثَ حَدَثًا أَوْ آوٰى مُحْدِثًا فَعَلَيْهِ لَعْنَةُ اللهِ وَالْمَلَائِكَةِ وَالنَّاسِ أَجْمَعِيْنَ، لَا يُقْبَلُ مِنْهُ عَدْلٌ وَلَا صَرْفٌ ... صحيح البخاري كِتَابُ الْجِزْيَةِ بَابُ إِثْمِ مَنْ عَاهَدَ ثُمَّ غَدَرَ رقم الحديث ۳۱۷۹ ، و رقم ۶۷۵۵ باب اثم من تبرا من مواليه و رقم ۳۱۷۲ باب ذمة المسلمين وجوارهم .. صحيح مسلم رقم ۴۶۹(۱۳۷۲) باب فضل المدينة ... ، سنن ابي داؤد رقم ۲۰۳۴ باب في تحريم المدينة ، سنن الترمذي رقم ۲۱۲۷ .

يو ځل يو مؤذن د ماسخوتن آذان نه روستو تثويب اوكړو ، حضرت علي ﷺ چې دا واوريد نو حُكم يې اوكړو چې دا بِدعتي ددې جمات نه اُوباسئ . (۱)

كه چرته شل ركعته تراويح بدعت وي نو بيا حضرت علي ﷺ څنګه پخپله بدعت كولو ؟ او نورو ته يې بيا ولې د بدعت حكم كولو ؟

## جمهورو صحابه كرامو هم شل ركعته تراويح كولى

مشرانواو جمهورو صحابه كرامو هم شل ركعته تراويح كولى ، تاسو د حضرت عمر ﷺ او حضرت علي ﷺ احوال واوريدل چې دوى شل ركعته تراويح كولى .

همدغه رنګې د نورو مشرانو صحابه كرامو نه هم نقل دي چې دوى هم شل ركعته تراويح كولى . (۲)

(۱) بحرالرائق ، مطالعه غير مقلديت ج ۱ ص ۲۱۴.

(۲) قال ابن نجيم المصري رحمه الله : وَحَكَى غَيْرُ وَاحِدٍ الْإِجْمَاعَ عَلَى سُنِّيَّتِهَا وَقَدْ سَنَّهَا رَسُولُ اللهِ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ وَنَدَبَنَا إلَيْهَا وَأَقَامَهَا فِي بَعْضِ اللَّيَالِي ثُمَّ تَرَكَهَا خَشْيَةَ أَنْ تُكْتَبَ عَلَى أُمَّتِهِ كَمَا ثَبَتَ ذَلِكَ فِي الصَّحِيحَيْنِ وَغَيْرِهِمَا ثُمَّ وَقَعَتِ الْمُوَاظَبَةُ عَلَيْهَا فِي أَثْنَاءِ خِلَافَةِ عُمَرَ رَضِيَ اللهُ عَنْهُ — وَوَافَقَهُ عَلَى ذَلِكَ عَامَّةُ الصَّحَابَةِ رَضِيَ اللهُ عَنْهُمْ كَمَا وَرَدَ ذَلِكَ فِي السُّنَنِ ثُمَّ مَا زَالَ النَّاسُ مِنْ ذَلِكَ الصَّدْرِ إلَى يَوْمِنَا هَذَا عَلَى إقَامَتِهَا مِنْ غَيْرِ نَكِيرٍ وَكَيْفَ لَا وَقَدْ ثَبَتَ عَنْهُ « صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ عَلَيْكُمْ بِسُنَّتِي وَسُنَّةِ الْخُلَفَاءِ الرَّاشِدِينَ الْمَهْدِيِّينَ عَضُّوا عَلَيْهَا بِالنَّوَاجِذِ » كَمَا رَوَاهُ أَبُو دَاوُد وَأَطْلَقَهُ . فَشَمَلَ الرِّجَالَ وَالنِّسَاءَ كَمَا صَرَّحَ بِهِ فِي الْخَانِيَّةِ وَالظَّهِيرِيَّةِ ، وَقَوْلُهُ عِشْرُونَ رَكْعَةً بَيَانٌ لِكَمِّيَّتِهَا وَهُوَ قَوْلُ الْجُمْهُورِ لِمَا فِي الْمُوَطَّإِ يَزِيدَ بْنِ رُومَانَ قَالَ كَانَ النَّاسُ يَقُومُونَ فِي زَمَنِ عُمَرَ بْنِ الْخَطَّابِ بِثَلَاثٍ وَعِشْرِينَ رَكْعَةً وَعَلَيْهِ عَمَلُ النَّاسِ شَرْقًا وَغَرْبًا ... وَذَكَرَ الْعَلَّامَةُ الْحَلَبِيُّ أَنَّ الْحِكْمَةَ فِي كَوْنِهَا عِشْرِينَ أَنَّ السُّنَنَ شُرِعَتْ مُكَمِّلَاتٍ لِلْوَاجِبَاتِ وَهِيَ عِشْرُونَ بِالْوِتْرِ فَكَانَتِ التَّرَاوِيحُ كَذَلِكَ لِتَقَعَ الْمُسَاوَاةُ بَيْنَ الْمُكَمِّلِ وَالْمُكَمَّلِ . البحر الرائق شرح كنز الدقائق ۷۱/۲ صَلَاةِ التَّرَاوِيحِ ، هكذا في الفتاوى التاتارخانية ج۱ ص ۶۵۳ الفصل الثالث عشر في التراويح ، فتاوى حقانيه ج۳ ص ۲۶۸ . هكذا في فتاوى عثمانيه ج۲ ص ۳۴۱ باب التراويح .

## حضرت عبدالله ابن مسعود ﷺ به هم شل رکعته تراويح کولی

حضرت زيد بن وهب رحمه الله فرمايي :

كَانَ عَبْدُ اللهِ بْنُ مَسْعُوْدٍ رَضِيَ اللهُ عَنْهُ يُصَلِّي بِنَا فِي شَهْرِ رَمَضَانَ فَيَنْصَرِفُ وَعَلَيْهِ لَيْلٌ " قَالَ الْأَعْمَشُ: «كَانَ يُصَلِّي عِشْرِيْنَ رَكْعَةً وَيُوْتِرُ بِثَلَاثٍ». (۱)

حضرت عبد الله بن مسعود ﷺ به مونږ ته په رمضان کي تراويح کولی ، چي کله به يې تراويح ختمي کړی نو بيا هم شپه وه ، امام اعمش رحمه الله فرمايي چي ابن مسعود ﷺ به شل رکعته تراويح او دري رکعته وتر کول .

که چرته شل رکعته تراويح کول بدعت وی لکه څنګه چي غير مقلدين وايي نو بيا ابن مسعود ﷺ ولي کولی ؟ حالانکه ابن مسعود ﷺ پخپله فرمائلي چي په سُنتو باندي اکتفاء کول په بدعت باندي د عمل کولو نه ډيره بهتره ده . (۲)

## حضرت أُبي بن كعب ﷺ به هم شل رکعته تراويح کولی

عبدالعزيز بن رفيع رحمه الله فرمائي :

كَانَ أُبَيُّ بْنُ كَعْبٍ يُصَلِّي بِالنَّاسِ فِي رَمَضَانَ بِالْمَدِيْنَةِ عِشْرِيْنَ رَكْعَةً، وَيُوْتِرُ بِثَلَاثٍ . (۳)

حضرت أُبيّ بن کعب ﷺ به په رمضان کي په مدينه منوره کي شل رکعته تراويح او دري رکعته وتر کول .

حضرت عطاء رحمه الله فرمايي :

أَدْرَكْتُهُمْ يُصَلُّوْنَ فِي رَمَضَانَ عِشْرِيْنَ رَكْعَةً، وَالْوِتْرُ ثَلَاثُ رَكَعَاتٍ . (۴)

---

(۱) مختصر قيام الليل وقيام رمضان وكتاب الوتر ۱/۲۲۱ بَابُ عَدَدِ الرَّكَعَاتِ الَّتِي يَقُوْمُ بِهَا الْإِمَامُ لِلنَّاسِ فِي رَمَضَانَ

(۲) حاكم ج۱ ص ۱ ، ۳ .

(۳) مصنف ابن ابي شيبة رقم الحديث ۷۶۸۴ كِتَابُ صَلَاةِ التَّطَوُّعِ وَالْإِمَامَةِ وَأَبْوَابٌ مُتَفَرِّقَةٌ كَمْ يُصَلِّي فِي رَمَضَانَ مِنْ رَكْعَةٍ

(۴) مختصر قيام الليل وقيام رمضان وكتاب الوتر ۱/۲۲۱ بَابُ عَدَدِ الرَّكَعَاتِ الَّتِي يَقُوْمُ بِهَا الْإِمَامُ لِلنَّاسِ فِي رَمَضَانَ

وفي رواية : عَنْ عَطَاءٍ، قَالَ: « أَدْرَكْتُ النَّاسَ وَهُمْ يُصَلُّوْنَ ثَلَاثًا وَعِشْرِيْنَ رَكْعَةً بِالْوِتْرِ» . مصنف ابن ابي شيبة رقم الحديث ۷۶۸۸ كِتَابُ صَلَاةِ التَّطَوُّعِ وَالْإِمَامَةِ وَأَبْوَابٌ مُتَفَرِّقَةٌ كَمْ يُصَلِّي فِي رَمَضَانَ مِنْ رَكْعَةٍ .

ما صحابه کرام او تابعين موندلي دي چې دوى په رمضان کې شل رکعته تراويح او درې رکعته وتر کول.

که چرته شل رکعته تراويح بدعت وى لکه څنګه چې غير مقلدين وايي نو بيا دې دومره ډيرو صحابه کرامو ولې کولی؟

دا ښکاره خبره ده چې خلفاء راشدين او جمهور صحابه کرام د نبي عليه السلام د سُنتو ډير اتباع کوونکي وو، هغوى شل رکعته تراويح کړي.

او دا هم ممکن نده چې ددې شرّ القرون زمانې غير مقلدين دې د خلفاء راشدينو او جمهورو صحابه کرامو نه د سُنتو ډير مُتبِع وي. (۱)

## تابعينو هم شل رکعته تراويح کولی

تابعينو هم شل رکعته تراويح کولی. امام بيهقي رحمه الله په "السنن الکبری" کې دا روايت نقل کړی، ابو الخَصيب رحمه الله فرمايي:

كَانَ يَؤُمُّنَا سُوَيْدُ بْنُ غَفَلَةَ فِي رَمَضَانَ فَيُصَلِّي خَمْسَ تَرْوِيحَاتٍ عِشْرِينَ رَكْعَةً. (۲)

حضرت سويد بن غَفَله رحمه الله به په رمضان کې مونږ ته امامت کولو نو پنځه ترويحات يعنی شل رکعته تراويح به يې کولی.

هم دارنګې د نورو ډيرو تابعينو نه هم شل رکعته تراويح نقل دي. (۳)

## د ائمه اربعهؤ په کتابونو کې هيچرته هم د اته رکعته تراويحو ذکر نشته

د ائمهٔ اربعهؤ د فِقهې د مُتونو چې کوم کتابونه دي په هغی کې د اته (۸) رکعته تراويحو تذکره هيچرته هم نشته، او نه په دې مُتونو کې شل رکعته تراويحو ته بِدعت ويل شوی.

---

(۱) فتاوى فريديه ج۲ ص۵٦۴ باب التراويح.

(۲) السنن الكبرى للبيهقي رقم الحديث ۴۲۹۰ بَابُ مَا رُوِيَ فِي عَدَدِ رَكَعَاتِ الْقِيَامِ فِي شَهْرِ رَمَضَانَ

(۳) عَنْ سَعِيدِ بْنِ عُبَيْدٍ، «أَنَّ عَلِيَّ بْنَ رَبِيعَةَ كَانَ يُصَلِّي بِهِمْ فِي رَمَضَانَ خَمْسَ تَرْوِيحَاتٍ، وَيُوتِرُ بِثَلَاثٍ» مصنف ابن ابي شيبة رقم الحديث ۷٦۹۰ كِتَابُ صَلَاةِ التَّطَوُّعِ وَالْإِمَامَةِ وَأَبْوَابٌ مُتَفَرِّقَةٌ كَمْ يُصَلِّي فِي رَمَضَانَ مِنْ رَكْعَةٍ

عَنْ أَبِي الْبَخْتَرِيِّ: «أَنَّهُ كَانَ يُصَلِّي خَمْسَ تَرْوِيحَاتٍ فِي رَمَضَانَ، وَيُوتِرُ بِثَلَاثٍ». مصنف ابن ابي شيبة رقم الحديث ۷٦۸٦ كَمْ يُصَلِّي فِي رَمَضَانَ مِنْ رَكْعَةٍ

بلکه د خیرُ القرون په ائمهٔ کې اته رکعته تراویح کول د هیچا مذهب ندی . (۱)

همدارنګې ائمه اربعهٔ او د دوی په متّبعینو کې هیچا شل رکعته تراویحو ته نه بدعت ویلي او نه یې ورته مکروه ویلي . البته بعض غیر مقلدینو اته رکعته تراویح سُنت ګڼړي ، او د زیاتي رکعتونو نه انکار کوي ، دوی دا مسئله د بې عِلمه او کم عِلمه خلقو د ښکار کولو د پاره یو دام ګرځولی . (۲)

## شل رکعته تراویح په اُمتِ مسلمه کې مسلسل راروانې دي

د صحابه کرامو رضي الله عنهم د زمانې نه نیولې تر د برطانیې د دورِ حکومت پورې څوک د یو فقِیه ، یو مُحَدِّث یا د یو مسلمان نوم داسې نشي پیش کولی چې هغه د شل رکعته تراویحو نه اِنکار کړې وي یا یې دیته بدعت ویلې وي ، یا یې د آته رکعته تراویحو قول کړې وي ، یا د آته رکعته تراویحو کولو نه وروستو د جُمات نه وتلې وي ، بلکه په تسلسل سره ټول د شل رکعته ترایحو قائل وو .

معلومه شوه چې شل رکعته تراویح بِدعت ندي ، بلکه په همدې شل رکعته تراویحو باندې د اُمت عمل راروان دی .

## آته (۸) رکعته تراویح د نبي علیه السلام نه ثابتې ندي

په فتاوی فریدیه کې ذکر دي : د پیغمبر علیه السلام نه آته (۸) رکعته تراویح ثابتې ندي ، او دا آته رکعته تراویح د ائمه اربعهٔ مذهب هم ندی . بلکه دا د اهلِ حدیثو مذهب دی ، چې مِنْ حَیْثُ التحقِیق دوی په غلطی باندې دي . (۳)

(۱) ددې خبرې پوره تفصیل په " فتاوی فریدیه ج ۲ ص ۵۸۲ باب التراویح " کې اوګوره .

(۲) فتاوی حقانیه ج۳ ص ۲۸۳ . نوټ : د شل رکعته تراویحو متعلق تفصیلي بحث په فتاوی حقانیه ج ۳ کې د صفحه ۲۸۳ نه تر صفحه ۲۸۷ پورې ذکر دی .

(۳) وقال ابن عابدینؒ : (قَوْلُهُ وَهِيَ عِشْرُوْنَ رَکْعَةً) هُوَ قَوْلُ الْجُمْهُوْرِ وَعَلَیْهِ عَمَلُ النَّاسِ شَرْقًا وَغَرْبًا . رد المحتار علی الدر المختار ۲/۴۵ مَبْحَثُ صَلَاةُ التَّرَاوِیْحِ . ومثله في رسائل الارکان ص فصل في التراویح .

قال عبدالله بن عُمر النسفيؒ : وَسُنَّ فِيْ رَمَضَانَ عِشْرُوْنَ رَکْعَةً بَعْدَ الْعِشَاءِ قَبْلَ الْوِتْرِ وَبَعْدَهٗ بِجَمَاعَةٍ . کنزالدقائق فصل في التراویح . فتاوی فریدیه ج ۲ ص ۵۹۶ باب التراویح .

په فتاوى حقانيه کې ذکر دي : شل رکعته تراويح د اِجماعِ اُمت او د خلفاء راشدينو د مواظبت په وجه سُنتِ مؤکد دي ، لهذا بغير د عذرِ شرعي نه شل رکعته پريخودل او اَته رکعته کول سبب د ملامتيا دى ، خو د شل رکعته تراويحو نه مُنکر ضال او مُضِل دى .(۱)

## اَته رکعته تراويح کوونکي دوه سُنتونه پريږدي

شل رکعته تراويح سنتِ مؤکد دي (۲) پس څوک چې اته رکعته تراويح اوکړي او بيا د جُمات نه اووځي نو دا دوه سُنتونه پريږدي : اول دا چې سُنتِ مؤکده شل رکعته دي او ده اته رکعته اوکړل نو د سُنتِ مؤکده پريخودونکي شو .

دويم دا چې په تراويحو کې يو ځل د قرآن مجيد ختم کول سُنت دى ، کله چې ختم شروع وي او دا کس د اته رکعته تراويحو نه پس د جُمات نه اُووځي ، نو دا د دې ختم اَوريدو سُنت

---

(۱) قال العلامة ظفر احمد العثمانيؒ: فقيام رمضان بعشرين ركعة والوتر هو السنّة المؤكّدة . يضلل تاركها و يلام من نقص عنها . اعلاء السنن ج۷ ص ۷۲ كيفية القراءة في التراويح .

قال الحصكفيؒ : (التَّرَاوِيْحُ سُنَّةٌ) مُؤَكَّدَةٌ لِمُوَاظَبَةِ الْخُلَفَاءِ الرَّاشِدِيْنَ (لِلرِّجَالِ وَالنِّسَاءِ) إِجْمَاعًا ... (وَهِيَ عِشْرُوْنَ رَكْعَةً) . وقال ابن عابدينؒ : (قَوْلُهُ وَهِيَ عِشْرُوْنَ رَكْعَةً) هُوَ قَوْلُ الْجُمْهُوْرِ وَعَلَيْهِ عَمَلُ النَّاسِ شَرْقًا وَغَرْبًا . رد المحتار ۴۵/۲ مَبْحَثُ صَلَاةِ التَّرَاوِيْحِ . ومثله في رسائل الاركان ص ۱۳۸ فصل في التراويح .

قال الحصكفيؒ : تَرْكُ السُّنَّةِ لَا يُوْجِبُ فَسَادًا وَلَا سَهْوًا بَلْ إِسَاءَةً لَوْ عَامِدًا غَيْرَ مُسْتَخِفٍّ . قال ابن عابدينؒ : وَتَارِكُهَا يَسْتَوْجِبُ إِسَاءَةً : أَيْ التَّضْلِيْلَ وَاللَّوْمَ . وَفِي التَّلْوِيْحِ تَرْكُ السُّنَّةِ الْمُؤَكَّدَةِ قَرِيْبٌ مِنَ الْحَرَامِ . رد المحتار على الدر المختار ۴۷۴/۱ وَاجِبَاتُ الصَّلَاةِ . و مثله في الجوهرة ج۱ ص ۱۱۷ باب قيام رمضان ، و منحة الخالق على البحرائق ج۱ ص ۳۰۲ باب صفة الصلوة . فتاوى حقانيه ج۳ ص ۲۷۸ .

(۲) قال الحصكفيؒ : (التَّرَاوِيْحُ سُنَّةٌ) .... (پاس عبارت او حواله ذکر ده) .

قال عبدالله بن عُمر النسفيؒ : وَسُنَّ فِيْ رَمَضَانَ عِشْرُوْنَ رَكْعَةً بَعْدَ الْعِشَاءِ قَبْلَ الْوِتْرِ وَبَعْدَهُ بِجَمَاعَةٍ . كنز الدقائق فصل في التراويح .

قال عبدالله بن محمود الموصليؒ : (اَلتَّرَاوِيْحُ سُنَّةٌ مُؤَكَّدَةٌ) لِأَنَّ النَّبِيَّ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ أَقَامَهَا فِيْ بَعْضِ اللَّيَالِيْ ، وَبَيَّنَ الْعُذْرَ فِيْ تَرْكِ الْمُوَاظَبَةِ وَهُوَ خَشْيَةُ أَنْ تُكْتَبَ عَلَيْنَا ، وَ وَاظَبَ عَلَيْهَا الْخُلَفَاءُ الرَّاشِدُوْنَ وَجَمِيْعُ الْمُسْلِمِيْنَ مِنْ زَمَنِ عُمَرَ بْنِ الْخَطَّابِ إِلَى يَوْمِنَا هٰذَا . الاختيار لتعليل المختار ۶۸/۱ بَابُ صَلَاةِ التَّرَاوِيْحِ

نه هم محرومه شو . (۱)

## د غير مُقلدينو مُغالطې (او دُهوکې)

په دې کې هيڅ شک نشته چې غير مقلدين د شل رکعته سُنتِ مؤکده تراويحو پريخودونکي دي ، دوی بعضې مسلمانانو ته دُهوکه ورکوي ، کوم احاديث چې د تهجدو په باره کې راغلي دي او په هغې کې د اته رکعتو ذکر دی دوی په دليل کې هغه پيش کوي .

### د غير مقلدينو اوله مُغالطه

د غير مقلدينو مشهور دليل هغه دی کوم چې په صِحاحِ سِته وُ کې ذکر دی .

حضرت عائشه رضي الله عنها فرمايي :

مَاكَانَ رَسُوْلُ اللهِ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ يَزِيْدُ فِيْ رَمَضَانَ وَلَا فِيْ غَيْرِهٖ عَلٰى إِحْدٰى عَشْرَةَ رَكْعَةً . (۲)

رسول الله ﷺ به په رمضان او غير رمضان کې د يوولسو (۱۱) رکعتونو نه زيات نه کول.

دوی وايي چې په دې کې درې رکعته وتر دي او دا نور اته رکعته تراويح دي .

**جواب** : دا ظاهره خبره ده چې دا حديث د تهجدو په باره کې دی د تراويحو په باره کې ندی ، ځکه په دغه حديث کې د " وَلَا فِيْ غَيْرِهٖ " لفظ راغلی دی ، دا دلالت کوي په دې خبره چې دا حديث د تهجدو متعلق دی ، ځکه تراويح خو صرف په رمضان کې کيږي په غير رمضان کې خو نه کيږي . (۳)

---

(۱) مطالعه غير مقلديت ج ۱ ص ۲۱۸.

(۲) صحيح البخاري كتاب التهجد بَابُ قِيَامِ النَّبِيِّ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ بِاللَّيْلِ فِيْ رَمَضَانَ وَغَيْرِهٖ رقم الحديث ۱۱۴۷ ، و رقم ۲۰۱۳ ، و رقم ۳۵۶۹ . صحيح مسلم كِتَابُ صَلَاةِ الْمُسَافِرِيْنَ وَقَصْرِهَا بَابُ صَلَاةِ اللَّيْلِ، وَعَدَدِ رَكَعَاتِ النَّبِيِّ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ فِي اللَّيْلِ رقم الحديث ۷۳۸ .

(۳) واما حديث " مَاكَانَ رَسُوْلُ اللهِ ﷺ يَزِيْدُ فِيْ رَمَضَانَ ... " فمحمولٌ على التهجد بدليل " وَلَا فِيْ غَيْرِهٖ " وكذا محمول على الغالب . فتاوى فريديه ج۲ ص ۵۶۵ .

قال الشيخ محمد زكريا الكاندهلوي : قال شيخ مشائخنا مولانا الجنجوهي ..... وكذا لا تعلق له بصلوة التراويح نفيًا ولا اثباتًا . فتح الملهم شرح الصحيح المسلم ج۲ ص ۲۹۱ باب صلوة الليل وقدر ركعات النبي صلى الله عليه وسلم . فتاوى فريديه ج۲ ص ۵۶۵ . و فتاوى حقانيه ج۳ ص ۲۷۱ . امداد الاحكام ج۱ ص ۲۴۷ باب التراويح

په فتاوی فريديه کې ذکر دي : کوم خلق چې دا وايي " چې تراويح اته رکعته دي " نو دوی په غلط فهمی کې مبتلاء دي ، دوی په تراويحو او تهجدو کې هيڅ فرق نه کوي ، او دوی د حديث په دې الفاظو "فِيْ رَمَضَانَ وَلَا فِيْ غَيْرِهٖ " کې هيڅ سوچ نه کوي . د رمضان نه علاوه خو تهجد کولې شي ، تراويح خو نشي کولی . همدغه رنګې دا خلق د نورو ډيرو صريحو احاديثو نه سترګې پټوي . (۱)

پس په کومو احاديثو کې چې د اته رکعتو ذکر راغلی نو ددينه د تهجدو مونځ مراد دی چې دا به پيغمبر ﷺ په رمضان او په غير رمضان دواړو کې کول . ددې حديث نه په اته رکعته تراويحو باندې استدلال کول صحيح ندی .

## که شل رکعته تراويح بِدعت وی نو بيا په دوه څلويښت (۴۲) کاله کې حضرت عائشې ﷺ ورباندې ولې رَد نه کولو ؟

د " تاريخ الخلفاء " د قول موافق حضرت عمر ﷺ په جَمعه باندې تراويح ۱۵ هـ کې شروع کړي او حضرت عائشه په ۵۷ هـ کې وفات شوی .

که چرته شل رکعته تراويح بدعت وی نو د حضرت عائشې رضي الله عنها د حجرې سره په څنګ "مسجد نبوي " کې دوه څلويښت (۴۲) کاله د غير مقلدينو په نزد دا بدعت کيدلو نو حضرت عائشې ولې نه منع کول ؟ او ولې يې ددې شل رکعته تراويحو خلاف دغه حديث پيش نه کړو کوم چې نن غير مقلدين پيش کوي ؟

دا څکه چې حضرت عائشه رضي الله عنها ته معلومه وه چې ددې حديث (کوم چې غير مقلدين پيش کوي ) تعلق د تهجدو سره دی ، د تراويحو سره ندی .

د حضرت عائشه رضي الله عنها خو د بدعت نه سخت نفرت ؤ ، څکه د هغې نه پخپله دا حديث نقل دی چې رسول الله ﷺ فرمايي : چاچې په دې دين کې بدعت جاري کړو هغه مَردود دی . (۲)

---

(۱) فتاوی فريديه ج ۲ ص ۵۸۱ .

(۲) بخاري و مسلم

پس که دا شل رکعته تراويح بدعت وی نو دې خو به پدې دوه ځلو يښت کاله کې يو ځل ورباندې رَد کړې وی ، حالانکه دې هيڅ کله په دې شل رکعته تراويحو باندې رَد ندې کړی .
آيا دا دنن دوَر غير مقلدين د حضرت عائشې رضي الله عنها نه په احاديثو ډير پوهيږي ؟

## دغير مقلدينو دويمه مُغالطه

غير مقلدين دويم دليل د حضرت جابر رضي الله عنه حديث پيش کوي ، او بعضې مسلمانان په دې باندې دهوکه کوي .

**جواب** : نو ددې حديث نه اول جواب دا دی چې دا حديث صحيح ندی . دويم دا چې پدې کې د مواظبت ( هميش والي ) ذِکر نشته کوم چې د سُنتيت دپاره شرط دی ، دريم دا چې حضرت جابر رضي الله عنه خو د ۷۰ هـ نه پس په مدينه منوره کې وفات شوی او حضرت عمر رضي الله عنه په جَمعه باندې تراويح په ۱۵هـ کې شروع کړې.

حالانکه حضرت جابر رضي الله عنه د نبي عليه السلام نه د بدعت د مُذمت په باره کې دا حديث اوريدلې وُ چې " شَرُّ الْأُمُورِ مُحْدَثَاتُهَا، وَكُلُّ مُحْدَثَةٍ بِدْعَةٌ وَكُلُّ بِدْعَةٍ ضَلَالَةٌ، وَكُلُّ ضَلَالَةٍ فِي النَّارِ " (۱)

نو که چرته شل رکعته تراويح بدعت وی لکه غير مقلدين چې وايي نو چې د جابر رضي الله عنه د وړاندې په مسجد نبوي کې کم از کم پنځه پنځوس (۵۵) کاله دا بدعت کيدلو نو ده خو به ورباندې رَد کړې وی .

دا خو عجيبه خبره ده چې حضرت جابر رضي الله عنه کم از کم پنځه پنځوس (۵۵) کاله په مسجد کې دا بدعت کتلو او بيا يې هم نه منع کول .

آيا دا غير مقلدين د حضرت جابر رضي الله عنه نه په احاديثو ښه پوهيږي ؟ (۲)

---

(۱) سنن النسائي رقم الحديث ۱۵۷۸ كِتَابُ صَلَاةِ الْعِيدَيْنِ كَيْفَ الْخُطْبَةُ ، قال الالباني : صحيح.

(۲) مطالعه غير مقلديت ج ۱ ص ۲۲۰.

# د غير مقلدينو نه ديو څو خبرو پوښتنه

شل ركعته تراويح په جَمعې سره د حضرت عمر رضي الله عنه په زمانه كې د ټولو صحابه كرامو په موجودګۍ كې شروع شوي ، او په دې باندې د ټولو صحابه كرامو اجماع ده ، د خيرُالقرون ټول امتِ مسلمه د شل ركعته تراويحو قائل دى ، تر دې چې د برطانيې د دوَر نه مخكې يو مسلمان هم ددې نه انكار ندې كړى .

اوس چې غير مقلدينو ته څوک د حضرت عمر رضي الله عنه او ددې نورو صحابه كرامو د شل ركعته تراويحو دا احاديث پيش كوي نو دوى وايي چې : " مونږ صرف محمديان يو " يعنى صرف د محمد صلى الله عليه وسلم خبره منو د بل چا خبره نه منو .

**اوله پوښتنه** : نو زمونږ د اهلِ حديثو نه اوله پوښتنه دا ده چې نبي عليه السلام خو پخپله صرف درې شپې تراويح په جَمعې سره په جُمات كې كړي بيا يې په دريمه شپه صحابه كرامو ته اوفرمايل :

فَصَلُّوْا أَيُّهَا النَّاسُ فِيْ بُيُوْتِكُمْ ، فَإِنَّ أَفْضَلَ الصَّلَاةِ صَلَاةُ الْمَرْءِ فِيْ بَيْتِهِ إِلَّا الْمَكْتُوْبَةَ . (۱)

اې خلقو ! تاسو په خپلو كورونو كې مونځ كوئ ځكه د فرضو نه علاوه د انسان بهترين مونځ هغه دى كوم چې په كور كې اوكړې .

نو نبي عليه السلام خو ددې درې شپو نه علاوه باقي ټول عُمر تراويح په كور كې ځانله كړي .

نو چې كله تاسو صرف د پيغمبر عليه السلام خبره منئ او د صحابه كرامو نه منئ نو بيا ولې تاسو ټوله مياشت اته ركعته تراويح په جَمعې سره په جُمات كې كوئ ؟

دا ټوله مياشت په جَمعې سره په جُمات كې تراويح كول خو د نبي عليه السلام طريقه نده ، بلكه دا خو د حضرت عُمر رضي الله عنه په حُكم شوي .

---

(۱) صحيح البخاري رقم الحديث ۷۳۱ بَابُ صَلَاةِ اللَّيْلِ . صحيح مسلم كِتَابُ صَلَاةِ الْمُسَافِرِينَ وَقَصْرِهَا بَابُ اسْتِحْبَابِ صَلَاةِ النَّافِلَةِ فِي بَيْتِهِ ، وَجَوَازِهَا فِي الْمَسْجِدِ رقم الحديث ۲۱۳ (۷۸۱) ، سنن النسائي رقم الحديث ۱۵۹۹ كِتَابُ قِيَامِ اللَّيْلِ وَتَطَوُّعِ النَّهَارِ بَابُ الْحَثِّ عَلَى الصَّلَاةِ فِي الْبُيُوتِ وَالْفَضْلِ فِي ذَلِكَ .

نو چې کله تاسو د حضرت عمر ﷛ په طريقه عمل کوۍ چې ټوله مياشت په جَمعې سره په جُمات کې تراويح کوۍ نوبيا خو حضرت عمر ﷛ د شل رکعته تراويحو حُکم کړی نو تاسو اته رکعته ولې کوۍ ؟

**دويمه پوښتنه**: زمونږ د اهلِ حديثو نه دويمه پوښتنه داده چې نبي کريم صلى الله عليه وسلم خو دا تراويح صرف درې شپې د شپې په آخِري حصه کې کړي نو تاسو بيا ټوله مياشت دا د ماسخوتن مانځه نه پس د شپې په اوله حِصه کې ولې کوۍ ؟ آيا دا د نبي عليه السلام طريقه ده ؟

**دريمه پوښتنه**: زمونږ د اهلِ حديثو نه دريمه پوښتنه داده چې پيغمبر عليه السلام خو ټوله مياشت وِتر واجب د جَمعې سره ندي کړي ، صرف درې شپې يې کړي ، نو بيا تاسو ټوله مياشت وِتر واجب په جَمعې سره ولې کوۍ ؟ آيا دا د نبي عليه السلام طريقه ده ؟

نو چې کله ټوله مياشت په جُمات کې د ماسخوتن مانځه نه پس په جَمعې سره د تراويحو او وِتر کولو کې د حضرت عمر ﷛ قول منۍ نو بيا په دې شل رکعته کې هم د حضرت عُمر ﷛ قول اُومنئ ، بيا تاسو ولې اته رکعته کوۍ ؟ (۱)

الله دې دوی ته د صحيح لارې هدايت اوکړي .آمين

## د غونډ تقرير خلاصه

د غونډ تقرير خلاصه دا رااُووَته چې شل رکعته تراويح سنتِ مؤکد دي ، په احاديثو کې ددې ډير فضائل راغلي : پدې سره د انسان ګناهونه معاف کيږي ، د هرې سجدې په عوض کې الله تعالى ورته پنځلس سوه (۱۵۰۰) نيکۍ ورکوي ، او په جنت کې ورته د سرو ياقوتو داسې کور جوړوي چې د هغې به شپيته زره (۶۰۰۰۰) دروازې وي ، تراويح د جِسماني صِحت دپاره هم فائده مندې دي .

او څوک چې بغير عُذرِ شرعي شل رکعته تراويح پريږدي نو داسې کس مستحق د ملامتيا او د سُنتِ مؤکده پريخودونکې دی .

(۱) مطالعه غير مقلديت ج ۱ ص ۲۰۷ طبع لعمان اکيډمي

او څوک چې شل رکعته تراويحو نه منکروي نو داسې کس ګمراه دی .
لهذا تراويح په اَدب او اطمينان سره اداء کول پکار دي ، د غير مقلدينو په خود ساخته خبرو باندې دَهوکه کيدل ندي پکار .

## دُعا

الله تعالی دې مونږ ټولو ته په صحيح طريقې سره په دِين باندې د عمل کولو توفيق راکړي ، او ربِ کريم دې مونږ ټول د رمضان المبارک د رحمتونو او برکتونو نه مُستفيد اوګرځوي ، او څوک چې د خپلو ذاتي مفادو دپاره د نبي کريم ﷺ د صحيح احاديثو نه اِنکار کوي يا ددې د باطلولو کوشش کوي نو پروردګارِ عالَم دې ورته د صحيح لارې هدايت اوکړي ، او که د هدايت مُستحق نه وي نو الله تعالی دې په خپل ګرفت کې راولي چې نور مسلمانان د دوی د شرونو او فِتنو نه خلاص شي .

آمِيۡن يَارَبَّ الۡعَالَمِيۡن .
وَآخِرُ دَعۡوَانَا أَنِ الۡحَمۡدُ لِلّٰهِ رَبِّ الۡعَالَمِيۡنَ

**نوټ** : د تراويحو متعلق ضروري فِقهي مسائل روستو ذکر دي ، د صفحه ۳۲۵ نه تر د صفحه ۳۳۳ پورې ، هلته يې اوګوره . ابوالشمس عفي عنه

بِسْمِ اللّٰهِ الرَّحْمٰنِ الرَّحِيْمِ

# د روژې متعلق فِقهي مسائل

**نوټ** : د رُوژې متعلق درته يو څو ضروري او ډير راپيښيدونکي فِقهي مسائل ذکر کوم ، مُقرّرِين حضرات د وخت او مُوقع مناسب دې مسائلو نه هم د ځان د پاره اِنتخاب کولې شي ، چې د تقرير په دَوران يا آخر کې يې بيان کړي . نفسِ مسئله مې په پښتو ژبه کې ليکلې ، او ورسره لاندې په حاشيه کې مې د اهلِ عِلمو د تسلّي او فائدې په خاطر د اصل کتابونو نه د عربي عبارتونه هم رانقل کړي . ابوالشمس عفي عنه

**علامه** : بعضې وخت د يوې صفحې د لاندې حاشيې عبارت ډير وي او بلې صفحې ته اَوړيدلې وِي نو د هغې نخه به دا وي چې د حاشيې په آخر کې به دا د غشي نخه (←←←) مسلسل لړيدلي وي ، نو ددې مطلب به دا وي چې نور عبارت په راتلونکې صفحه ذکردی .

بِسۡمِ اللّٰهِ الرَّحۡمٰنِ الرَّحِيۡمِ

# د ظاهر مذهب موافق اختلاف د مطالعو ته اعتبار نشته

ددې مسئلې د تفصيل نه مخکې درته د فقهاؤ د يو عبارت مطلب بيانوم :

" لَا عِبۡرَةَ لِاخۡتِلَافِ الۡمَطَالِعِ " . اختلاف د مطالعو ته اعتبار نشته .

يعنې كه چيرته په يو ملک يا ښار كې ( د روژې يا اختر ) مياشت اوليدلې شي او په شهادتِ مُعتبره سره دا خبر بل ملک او بل ښار ته اورسي نو د دوی د پاره به هم همدا ( د روژې او اختر ) حُكم وي . ( يعنې په دوی باندې هم روژه او اختر كول لازمي دي ) . (۱)

اوس د نفسِ مسئلې تفصيل درته بيانوم :

په **فتاوی حقانيه** كې ذكر دي : د فقهاء كرامو د اقوالو نه معلوميږي چې اختلاف د مَطالِعو ته اعتبار نشته ، او همدا ظاهر مذهب هم دی ، او په همدې قول باندې فتوی هم ده ، لهذا چې چيرته د شرعي قواعدو او ضوابطو لحاظ ساتلو سره د روژې يا اختر خبر اورسي نو هلته روژه نيول او اختر كول په كار دي . (۲)

---

(۱) فتاوی دار العلوم ديوبند ج٦ ص ۲۲۷ .

(۲) قال في الهندية : وَلَا عِبۡرَةَ لِاخۡتِلَافِ الۡمَطَالِعِ فِي ظَاهِرِ الرِّوَايَةِ كَذَا فِي فَتَاوَى قَاضِيۡ خَانۡ . وَعَلَيۡهِ فَتۡوَى الۡفَقِيۡهِ أَبِي اللَّيۡثِ وَبِهِ كَانَ يُفۡتِيۡ شَمۡسُ الۡأَئِمَّةِ الۡحَلۡوَانِيُّ . قَالَ لَوۡ رَأَى أَهۡلُ مَغۡرِبٍ هِلَالَ رَمَضَانَ يَجِبُ الصَّوۡمُ عَلَى أَهۡلِ مَشۡرِقٍ كَذَا فِي الۡخُلَاصَةِ . ثُمَّ إِنَّمَا يَلۡزَمُ الصَّوۡمُ عَلَى مُتَأَخِّرِي الرُّؤۡيَةِ إِذَا ثَبَتَ عِنۡدَهُمۡ رُؤۡيَةُ أُولٰئِكَ بِطَرِيۡقٍ مُوۡجِبٍ . الفتاوى الهندية ١٩٨/١ كِتَابُ الصَّوۡمِ البَابُ الثَّانِي فِي رُؤۡيَةِ الۡهِلَالِ .

قال محمد بن عبدالله : ( وَاخۡتِلَافُ الۡمَطَالِعِ ) وَ رُؤۡيَتُهُ نَهَارًا قَبۡلَ الزَّوَالِ وَبَعۡدَهُ ( غَيۡرُ مُعۡتَبَرٍ عَلَى ) ظَاهِرِ ( الۡمَذۡهَبِ ) وَعَلَيۡهِ أَكۡثَرُ الۡمَشَايِخِ وَعَلَيۡهِ الۡفَتۡوَى بَحۡرٌ عَنِ الۡخُلَاصَةِ ( فَيَلۡزَمُ أَهۡلَ الۡمَشۡرِقِ بِرُؤۡيَةِ أَهۡلِ الۡمَغۡرِبِ ) إِذَا ثَبَتَ عِنۡدَهُمۡ رُؤۡيَةُ أُولٰئِكَ بِطَرِيۡقٍ مُوۡجِبٍ كَمَا مَرَّ . وَقَالَ الزَّيۡلَعِيُّ : اَلۡأَشۡبَهُ أَنَّهُ يُعۡتَبَرُ لٰكِنۡ قَالَ الۡكَمَالُ : اَلۡأَخۡذُ بِظَاهِرِ الرِّوَايَةِ أَحۡوَطُ . الدر المختار

قال ابن عابدينؒ : ( قَوۡلُهُ: بِطَرِيۡقٍ مُوۡجِبٍ ) كَأَنۡ يَتَحَمَّلَ اِثۡنَانِ الشَّهَادَةَ أَوۡ يَشۡهَدَا عَلَى حُكۡمِ الۡقَاضِيۡ أَوۡ يَسۡتَفِيۡضَ الۡخَبَرُ ، بِخِلَافِ مَا إِذَا أَخۡبَرَا أَنَّ أَهۡلَ بَلۡدَةٍ كَذَا رَأَوۡهُ ، لِأَنَّهُ حِكَايَةٌ . رد المحتار على الدر المختار ٣٩٣/٢ كِتَابُ الصَّوۡمِ سَبَبُ صَوۡمِ رَمَضَانَ مَطۡلَبٌ فِي اِخۡتِلَافِ الۡمَطَالِعِ . و مثله في فتح القدير ج٢ ص ٣٧٣ كتاب الصوم .←←←←←←

په **فتاوی دارالعلوم دیوبند** کې ذکر دي : دا خبره مُسلَّمَه ده چې د صحيح او مُختار مذهب موافق د روژې او اختر مياشت په ليدلو کې اختلاف د مطالعو ته اعتبار نشته ، د مغرب واله خلقو په مياشت ليدلو سره په مشرق واله باندې هم همدا حکم ثابتيږي ( يعنی په دوی باندې هم روژه او اختر لازميږي ) .

او کله چې د مُعتبر ، راجح ، ظاهرُ الرِّواية او مفتٰی به قول موافق اِختلاف د مطالعو ته اعتبار نشته نو بيا مونږ مُقلدينو د پاره په دې کې بحث کول بې فائدې دي ، ځکه د محققينو فقهاؤ ترجيح زمونږ د پاره کافي حُجت دی . (۱)

البته د مغرب واله خلقو مياشت ليدلو سره په مشرق واله خلقو باندې روژه هلته لازميږي چې کله دوی ته دا خبر په ''طريق مُوجِب'' سره راأورسي .

د ''طريق مُوجِب'' تشريح علامه شامي داسې کړی چې دوه ګواهان د هغه ځای نه راشي او دلته دا بيان اوکړي چې په هغه ښار کې مياشت ليدل شوی .

يا دوه ګواهان د هغه ځای د عالِم يا قاضي حُکم دلته بيان کړي . يا د هغه ښار د مياشت ليدلو خبر عام او مشهور وي نو بيا په دې خلقو باندې هم د هغه ځای په مياشت ليدلو سره

---

←←←← قال ابو محمد العينيؒ: ولاعبرة باختلاف المطالع بل اذا ثبت في مصر لزم الناس. شرح كنز عيني ج۱ ص ۸۱ كتاب الصوم.

قال العلامة حسن بن عمار الشرنبلاليؒ: "وإذا ثبت" الهلال "في" بلدة و "مطلع قطر" ها "لزم سائر الناس في ظاهر المذهب وعليه الفتوى" وهو قول أكثر المشايخ . مراقي الفلاح شرح متن نور الإيضاح ۲۴۳/۱ ، ومثله في البحرالرائق ج۲ ص ۲۷۰ كتاب الصوم . فتاوی حقانيه ج۴ ص ۱۲٦ . فتاوی فريديه ج۴ ص ۸۰ .

(۱) ( وَاخْتِلَافُ الْمَطَالِعِ ) وَ رُؤْيَتُهُ نَهَارًا قَبْلَ الزَّوَالِ وَبَعْدَهُ (غَيْرُ مُعْتَبَرٍ عَلَى ) ظَاهِرِ (الْمَذْهَبِ) وَعَلَيْهِ أَكْثَرُ الْمَشَايِخِ وَعَلَيْهِ الْفَتْوٰى بَحْرٌ عَنِ الْخُلَاصَةِ ( فَيَلْزَمُ أَهْلَ الْمَشْرِقِ بِرُؤْيَةِ أَهْلِ الْمَغْرِبِ ) إذَا ثَبَتَ عِنْدَهُمْ رُؤْيَةُ أُولٰئِكَ بِطَرِيقٍ مُوجِبٍ كَمَا مَرَّ .الدرالمختار

وَظَاهِرُ الرِّوَايَةِ الثَّانِي وَهُوَ الْمُعْتَمَدُ عِنْدَنَا وَعِنْدَ الْمَالِكِيَّةِ وَالْحَنَابِلَةِ لِتَعَلُّقِ الْخِطَابِ عَمَلًا بِمُطْلَقِ الرُّؤْيَةِ فِي حَدِيثِ « صُومُوا لِرُؤْيَتِهِ » بِخِلَافِ أَوْقَاتِ الصَّلَوَاتِ. رد المحتار على الدر المختار ۳۹۳/۲ كِتَابُ الصَّوْمِ سَبَبُ صَوْمِ رَمَضَانَ مَطْلَبٌ فِي اخْتِلَافِ الْمَطَالِعِ .

روژه او اختر لازمي دی.(۱)

په **فتاوی محموديه** کې ذکر دي: د ظاهر مذهب موافق اختلاف د مطالعو معتبر ندی، دا د اکثره مشائخو قول دی او په همدې باندې فتوٰی هم ده.(۲)

په فتاوی محموديه کې خو تر دې پورې ليکلي: چې د احنافو، مالکيانو او حنابله ټولو دا مسلک دی چې اختلاف د مطالعو ته اعتبار نشته. (لهذا که په يو ځای کې مياشت اوليدلې شي او په معتمدې طريقې سره بل ځای ته خبر اورسي نو په هغوی باندې هم روژه لازم ده).(۳)

په **فتاوی فريديه** کې ذکر دي: د ظاهر الرّواية مطابق اختلاف د مَطالعو معتبر ندی، بعضې اهلِ علم په همدې روايت باندې عمل کوي، لهذا اهلِ مشرق واله د اهلِ مغرب په ليدلو باندې اِکتفاء کولې شي.(۴)

ليکن بعضې علماء په دې باندې عمل نه کوي، هغوی وايي چې ددې نه مراد دادی چې کوم ملکونه او ښارونه نزدې وي نو په هغې اختلاف د مطالعو معتبر ندی، البته که کوم

---

(۱) قال ابن عابدينؒ: (قَوْلُهُ: بِطَرِيْقٍ مُوجِبٍ) كَأَنْ يَتَحَمَّلَ اِثْنَانِ الشَّهَادَةَ أَوْ يَشْهَدَا عَلَى حُكْمِ الْقَاضِي أَوْ يَسْتَفِيْضَ الْخَبَرُ. بِخِلَافِ مَا إِذَا أَخْبَرَا أَنَّ أَهْلَ بَلْدَةِ كَذَا رَأَوْهُ؛ لِأَنَّهُ حِكَايَةٌ. رد المحتار على الدر المختار ۳۹۳/۲ كِتَابُ الصَّوْمِ سَبَبُ صَوْمِ رَمَضَانَ مَطْلَبٌ فِي اخْتِلَافِ الْمَطَالِعِ. فتاوى دار العلوم ديوبند ج٦ ص ۲۳۴ كتاب الصوم.

(۲) (وَاخْتِلَافُ الْمَطَالِعِ غَيْرُ مُعْتَبَرٍ عَلَى) ظَاهِرِ (الْمَذْهَبِ) وَعَلَيْهِ أَكْثَرُ الْمَشَايِخِ وَعَلَيْهِ الْفَتْوٰى. (فَيَلْزَمُ أَهْلَ الْمَشْرِقِ بِرُؤْيَةِ أَهْلِ الْمَغْرِبِ) إِذَا ثَبَتَ عِنْدَهُمْ رُؤْيَةُ أُولٰئِكَ بِطَرِيْقٍ مُوجِبٍ كَمَا مَرَّ. وَقَالَ الزَّيْلَعِيُّ: اَلْأَشْبَهُ أَنَّهُ يُعْتَبَرُ لٰكِنْ قَالَ الْكَمَالُ: اَلْأَخْذُ بِظَاهِرِ الرِّوَايَةِ أَحْوَطُ. الدر المختار ۳۹۳/۲ كِتَابُ الصَّوْمِ سَبَبُ صَوْمِ رَمَضَانَ مَطْلَبٌ فِي اخْتِلَافِ الْمَطَالِعِ. فتاوى محموديه ج١٥ ص ۴۹. **نوټ** ددې مسئلې پوره تشريح او د نورو مذاهبو د فقهاؤ اقوال په همدې فتاوی محموديه کې په ج١٥ ص ۳۷ کې په تفصيل سره ذکر دي.

(۳) فتاوى محموديه ج١٥ ص ۳۷ چاند ديکھنے کا بيان..

(۴) قال العلامة الحصكفيؒ: (وَاخْتِلَافُ الْمَطَالِعِ غَيْرُ مُعْتَبَرٍ ...(پاس عبارت ذکرشو) الدر المختار ۳۹۳/۲ كِتَابُ الصَّوْمِ سَبَبُ صَوْمِ رَمَضَانَ مَطْلَبٌ فِي اخْتِلَافِ الْمَطَالِعِ..

ملکونه د يو بل نه ډېر لرې وي نو هغه ورنه مراد ندي. (۱)

سعودي عرب بې د شک و شبهې نه په لرې ملکونو کې حسابيږي. (۲)

کوم علماء چې په لرې ملکونو کې اختلاف د مطالعو ته اعتبار نه ورکوي نو د لرې اندازه بعضې علماؤ يوه مياشت يا د دينه زيات مسافت خودلې دی، چا په کې نور اقوال هم ذکر کړي. (۳)

په **فتاوی عثمانيه** کې ذکر دي : د احنافو مفتیٰ‌به قول دا راروان دی چې اختلاف د مطالعو ته اعتبار نشته، ليکن په نن دور کې دُنيا د (Globle Village) يعنی د يو کلي حيثيت اختيار کړی، او د دُنيا د هر ګوټ سره په يو څو سيکنډه کې رابطه کول ممکن ده، لهذا اوس د اِحتياط په بِناء باندې اختلاف د مطالعو ته اعتبار ورکول زيات مناسب دي..... د دوه ملکونو په اخترا و روژو کې تقديم او تاخير داسې مسئله نده چې په دې سره دِينې اَقدار متأثر کيږي، لکه څرنګې چې د مونځونو په وختونو کې اختلاف قابلِ برداشت دی نو همدارنګې د روژو او اخترونو په مينځ کې بينُ الاقوامي طريقې سره اختلاف هم ممکن دی (يعنی اختلاف د مطالعو ته اعتبار شته)، البته علاقائي سطح باندې اختلاف مناسب ندی (يعنی په يو ملک کې اختلاف د مطالعو معتبر ندی). (۴)

---

(۱) ... فَأَمَّا إِذَا كَانَتْ بَعِيدَةً فَلَا يَلْزَمُ أَحَدَ الْبَلَدَيْنِ حُكْمُ الْآخَرِ لِأَنَّ مَطَالِعَ الْبِلَادِ عِنْدَ الْمَسَافَةِ الْفَاحِشَةِ تَخْتَلِفُ فَيُعْتَبَرُ فِيْ أَهْلِ كُلِّ بَلَدٍ مَطَالِعُ بَلَدِهِمْ دُوْنَ الْبَلَدِ الْآخَرِ. بدائع الصنائع في ترتيب الشرائع ۸۳/۲ كتاب الصوم فَصْلٌ شَرَائِطُ أَنْوَاعِ الصِّيَامِ مبحث اثبا الاهلة .

(۲) فتاوی فريديه ج۴ ص ۸۱، و ص ٦٦.

(۳) وَقَدْرُ الْبُعْدِ الَّذِيْ تَخْتَلِفُ فِيْهِ الْمَطَالِعُ مَسِيْرَةُ شَهْرٍ فَأَكْثَرُ عَلٰى مَا فِي الْقُهُسْتَانِيِّ عَنِ الْجَوَاهِرِ . رد المحتار على الدر المختار ۳۹۳/۲ مَطْلَبٌ فِيْ اخْتِلَافِ الْمَطَالِعِ. فتاوی فريديه ج۴ ص ۸۷.

(۴) والدليل علي ذلک : عَنِ ابْنِ عُمَرَ رَضِيَ اللهُ عَنْهُمَا، عَنِ النَّبِيِّ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ أَنَّهُ ذَكَرَ رَمَضَانَ فَقَالَ: «لَا تَصُوْمُوْا حَتّٰى تَرَوُا الْهِلَالَ، وَلَا تُفْطِرُوْا حَتّٰى تَرَوْهُ... .صحيح مسلم كِتَابُ الصِّيَامِ بَابُ وُجُوْبِ صَوْمِ رَمَضَانَ لِرُؤْيَةِ الْهِلَالِ، وَالْفِطْرِ لِرُؤْيَةِ الْهِلَالِ رقم الحديث ۳ (۱۰۸۰).

علامه انورشاه کشميرؒ فرمايي : وكنت قطعت بما قال الزيلعي ثم رأيت في قواعد ابن رشد إجماعاً على اعتبار اختلاف المطالع في البلدان النائية، وأما تحديد القرب والنائي فمحمول ←←←←←←←←←←←←←

# د شرعي ثبوت نه پس د مخالفت اجازت نشته

په **فتاوى فريديه** کې ذکر دي: چې کله میاشت اولیدلې شي، د هغه ځای مقامي علماء اعلان اوکړي نو د شرعي ثبوت نه پس د مخالفت اجازت نشته. (۱)

د هلال کمیټۍ اعلان نه کول د حکمِ شرعي نه مانع نه ګرځي. (۲)

د شرعي ثبوت نه پس د هلال کمیټۍ اعلان نه کول اګرچې څه مَصلحت به وي خو خدا پَرستي نده. (۳)

په **فتاوى حقانيه** کې ذکر دي: د روژې او اختر ثبوت د میاشت لیدلو په اعلان باندې موقوف دی، که چیرته د علاقې علماء د شرعي قواعدو لحاظ ساتلو سره اعلان اوکړي نو په عامو خلقو باندې که دا سرکاري ملازمین وي یا غیر سرکاري د دوی ټولو د پاره په دې باندې عمل کول په کار دي، په داسې حالت کې حکومت په مینځ کې رُکاوټ کیدل د بې دینۍ مترادف دی، او په داسې صورت کې د حکومت تابعداري کول هم ضروري نده. (۴)

---

←←←←← إلى المبتلى به ليس له حد معين. العرف الشذي شرح سنن الترمذي ۱۴۵/۲ باب ما جاء أن الصوم لرؤية الهلال والإفطار له

وقال الزيلعي: أنّ عدم عبرة اختلاف المطالع في البلاد المتقاربة. فتاوى عثمانيه ج۴ ص ۱٦۳ و ص ۱٦۴.

(۱) قال في الهندية: وَلَا يُشْتَرَطُ فِي هٰذِهِ الشَّهَادَةِ لَفْظُ الشَّهَادَةِ، وَلَا الدَّعْوٰى، وَلَا حُكْمُ الْحَاكِمِ حَتّٰى إِنَّهُ لَوْ شَهِدَ عِنْدَ الْحَاكِمِ وَسَمِعَ رَجُلٌ شَهَادَتَهُ عِنْدَ الْحَاكِمِ وَظَاهِرُهُ الْعَدَالَةُ وَجَبَ عَلَى السَّامِعِ أَنْ يَصُوْمَ، وَلَا يَحْتَاجُ إِلٰى حُكْمِ الْحَاكِمِ. الفتاوى الهندية ۱۹۷/۱ كِتَابُ الصَّوْمِ الْبَابُ الثَّانِي فِي رُؤْيَةِ الْهِلَالِ.

(۲) قال عبدالرحمن الجزيريٌ: لا يشترط في ثبوت الهلال و وجوب الصوم بمقتضاه على الناس حكم الحاكم. ولكن لو حكم بثبوت الهلال بناء على أي طريق في مذهبه وجب الصوم على عموم المسلمين. الفقه على المذاهب الأربعة ۵۰۱/۱ هل يشترط حكم الحاكم في الصوم؟

(۳) فتاوى فريديه ج۴ ص ٦۱.

(۴) قَالَ رَسُوْلُ اللهِ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ: « لَا طَاعَةَ لِمَخْلُوْقٍ فِيْ مَعْصِيَةِ الْخَالِقِ ». رَوَاهُ فِي شَرْحِ السنة، مشكاة المصابيح كتاب الإمَارَة وَالقَضَاء الفَصْل الثَّانِي رقم الحديث ۳٦۹٦ (۳٦). ←←←←←←←←←←

# په روژه او اختر کې د سعودي په اعلان باندې اعتماد کول د علماؤ مَنصب دی، نه د عوامو

په فتاوی فریدیه کې ذکر دي : د ظاهرُ الرّوایة موافق اختلاف د مَطالعو معتبر ندی ، ریډیو د نورو علاماتو په نسبت سره واضح الدلالة دی لعدم احتمال الغلط فیه بخلاف المدافع . (۱)

پس د سعودي عرب ( د رمضان او اختر ) تفصیلي خبر باندې اعتماد کول قابلِ اعتراض خبره نده ، البته په دې اعتماد کول د علماؤ مَنصب دی ، نه د عوامو . ( یعنی چې کله یې علماء تائید اوکړي نو بیا صحیح ده ) . (۲)

ځکه عوام کَالْاَنْعَام دي ( که دوی ته اختیار اوسپارلې شي نو د خپلې آسانۍ د پاره ) دوی به روژه د پاکستان سره نیسي او اختر به د سعودي په اعلان کوي نو ټولې به اُووه ویشت (۲۷) یا اته ویشت (۲۸) روژې نیسي ، حالانکه اسلامي میاشت د نهه ویشتو (۲۹) ورځو نه کمه نه وي . (۳)

---

←←←← قال ابو محمد العينيّ: ولاعبرة باختلاف المطالع بل اذا ثبت في مصر لزم الناس. شرح كنز عيني ج۱ ص ۸۱ كتاب الصوم.

قال العلامة حسن بن عمار الشرنبلاليّ: "وإذا ثبت" الهلال "في" بلدة و "مطلع قطر" ها "لزم سائر الناس في ظاهر المذهب وعليه الفتوى" وهو قول أكثر المشايخ . مراقي الفلاح شرح متن نور الإيضاح ۲۴۳/۱ ، ومثله في البحرالرائق ج۲ ص ۲۷۰ كتاب الصوم . فتاوى حقانيه ج۴ ص ۱۲۷ .

(۱) قال ابن عابدينّ: اَلْعَمَلُ بِالْأَمَارَاتِ الظَّاهِرَةِ الدَّالَّةِ عَلَى ثُبُوتِ الشَّهْرِ كَضَرْبِ الْمَدَافِعِ فِي زَمَانِنَا وَالظَّاهِرُ وُجُوْبُ الْعَمَلِ بِهَا عَلَى مَنْ سَمِعَهَا مِمَّنْ كَانَ غَائِبًا عَنِ الْمِصْرِ كَأَهْلِ الْقُرَى وَنَحْوِهَا . منحة الخالق على بحر الرائق ۲۹۱/۲ قبيل ما يفسد الصوم وما لا يفسده

(۲) قال العلامة عبدالحي اللكنويّ : المراد الجمع الذي يحصل بخبرهم غلبة الظن و هو مفوض الى راي الامام من غير تقدير عدد وهوالصحيح ، والعالم الثقة في بلدة لاحاكم فيه قائم مقامه . عمدة الرعاية على هامش شرح الوقاية ۳۰۹/۱ بيان رؤية هلال صوم .

## د يَومُ الشک ( يعنی د شکي روژې ) تعريف

چې کله د شعبان نهه ويشت (۲۹) ورځې پوره شي او ماښام د وريځې په وجه د رمضان مياشت او نه ليدلې شي نو صبا يعنی د شعبان ديرشمې (۳۰) ورځې ته يَوم الشّک وايي.

ځکه په دې کې دا احتمال هم شته چې صبا د رمضان المبارک اوله ورځ وي ، او دا احتمال هم شته چې صبا د شعبان ديرشمه (۳۰) ورځ وي.(۱)

**نوټ** : چې کله د شعبان په نهه ويشتم (۲۹) تاريخ باندې د وريځې په وجه مياشت او نه ليدلې شي ، او شرعي شهادت هم رانشي نو دا د شعبان مياشت به د ديرشو (۳۰) ورځو حسابولې شي ، يعنی صبا ورځ به د شعبان ديرشمه (۳۰) ورځ ګڼړلې شي ، خالصه د شک په وجه به دا ورځ د رمضان اوله ورځ نشي ګڼړلی.(۲)

## په يَومُ الشک ( شکي ورځ ) د روژې نيولو حُکم

په **فتاوی عثمانيه** کې ذکر دي : په يومُ الشک ( شکي ورځ ) کې د روژې نيولو څو صورتونه دي ، د هريو حُکم جدا جدا دی ( زه به يو څو درته ذکر کړم ) :

۱ . که په شکي ورځ باندې خالصه د رمضان المبارک نيت او کړې شي نو دا مکروه ده ، ځکه په حديث کې د دې نه منع راغلی . خو که چا اونيوه او بيا روستو دا معلومه شوه چې دا ورځ د رمضان وه نو د رمضان روژه په خپله اداء کيږي . او که چيرته دا معلومه شوه چې دا د شعبان ديرشمه ورځ وه نو دا نيول شوې روژه به يې نفل شي .

نوټ : که شکي روژه چا د ورځې په شروع کې د رمضان په نيت اونيوه او بيا يې له روستو

---

(۱) وَمُوْجِبُهُ هُنَا أَنْ يُغَمَّ الْهِلَالُ لَيْلَةَ الثَّلَاثِيْنَ مِنْ شَعْبَانَ فَيَشُكُّ فِي الْيَوْمِ الثَّلَاثِيْنَ أَمِنْ رَمَضَانَ هُوَ أَوْ مِنْ شَعْبَانَ ؟ فتح القدير كتاب الصوم فصل في رؤية الهلال ۲/۳۱۵ .

يثبت رمضان: برؤية هلاله أو بعد شعبان ثلاثين إن غم الهلال، ويوم الشك هو ما يلي التاسع والعشرين من شعبان وقد استوى فيه طرف العلم والجهل بأن غم الهلال. نورالايضاح كتاب الصوم فصل فيما يثبت به الهلال وفي صوم الشک وغيره ، هكذا في فتاوى عثمانيه ج۱۶۰ كتاب الصوم . و فتاوى حقانيه ج۴ ص ۱۲۸ .

(۲) فتاوى محموديه ج۱۵ ص ۲۳۲ .

ماته کړه نو ددې قضاء په ده باندې نشته ... (۱)

۲. که په شکي ورځ باندې څوک د نفلي روژې نیت اوکړي نو که په دې کې دوه شرائط برابرو نو دا بیا بغیر د کراهت نه جائزده.

اول شرط: (خواص به یې نیسي) عام خلق به پرې نه خبروي، ځکه دوی به بیا دا روژه فرض اوګڼي او دوی به یې هم نیول شروع کړي، نو دا به یې عادت اوګرځي.

دویم شرط: د مخکې نه به ددې کس دا عادت وي چې د هرې میاشتې په آخر کې روژه نیسي، که چیرته دده دا عادت نهٔ نو بیا په دې ورځ باندې صرف مُفتي او قاضي ته روژه نیول جائز دي، باقي نور عام خلق به یې نه نیسي. (۲)

---

(۱) (وَلَا يَصُوْمُوْنَ يَوْمَ الشَّكِّ إِلَّا تَطَوُّعًا) لِقَوْلِهِ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ «لَا يُصَامُ الْيَوْمُ الَّذِيْ يُشَكُّ فِيْهِ أَنَّهُ مِنْ رَمَضَانَ إِلَّا تَطَوُّعًا» وَهٰذِهِ الْمَسْأَلَةُ عَلٰى وُجُوْهٍ: أَحَدُهَا: أَنْ يَنْوِيَ صَوْمَ رَمَضَانَ وَهُوَ مَكْرُوْهٌ لِمَا رَوَيْنَا. وَلِأَنَّهُ تَشَبُّهٌ بِأَهْلِ الْكِتَابِ لِأَنَّهُمْ زَادُوْا فِيْ مُدَّةِ صَوْمِهِمْ ثُمَّ إِنْ ظَهَرَ أَنَّ الْيَوْمَ مِنْ رَمَضَانَ يَجْزِيْهِ لِأَنَّهُ شَهِدَ الشَّهْرَ وَصَامَهُ وَإِنْ ظَهَرَ أَنَّهُ مِنْ شَعْبَانَ كَانَ تَطَوُّعًا، وَإِنْ أَفْطَرَ لَمْ يَقْضِهِ، لِأَنَّهُ فِيْ مَعْنَى الْمَظْنُوْنِ. الهداية كتاب الصوم فصل في رؤية الهلال ۱۱۷/۱ ، مراقي الفلاح مع حاشية الطحطاوي كتاب الصوم فصل في مايثبت به الهلال في يوم الشک وغيره ص ۵۳۴ ، فتاوی عثمانيه ج ۱۶۰ كتاب الصوم .

(۲) الهداية مع فتح القدير كتاب الصوم فصل في رؤية الهلال ، مراقي الفلاح مع حاشية الطحطاوي كتاب الصوم فصل في مايثبت به الهلال في يوم الشک وغيره ص ۵۳۴ ، فتاوی عثمانيه ج ۱۶۰ كتاب الصوم .

ثُمَّ إِنْ وَافَقَ صَوْمًا كَانَ يَصُوْمُهُ فَالصَّوْمُ أَفْضَلُ بِالْإِجْمَاعِ: وَكَذَا إِذَا صَامَ ثَلَاثَةَ أَيَّامٍ مِنْ آخِرِ الشَّهْرِ فَصَاعِدًا. وَإِنْ أَفْرَدَهُ فَقَدْ قِيْلَ: اَلْفِطْرُ أَفْضَلُ اِحْتِرَازًا عَنْ ظَاهِرِ النَّهْيِ. وَقَدْ قِيْلَ: اَلصَّوْمُ أَفْضَلُ اِقْتِدَاءً بِعَلِيٍّ وَعَائِشَةَ رَضِيَ اللهُ عَنْهُمَا فَإِنَّهُمَا كَانَا يَصُوْمَانِهِ، وَالْمُخْتَارُ أَنْ يَصُوْمَ الْمُفْتِيْ بِنَفْسِهِ أَخْذًا بِالْاِحْتِيَاطِ. وَيُفْتِي الْعَامَّةَ بِالتَّلَوُّمِ إِلٰى وَقْتِ الزَّوَالِ ثُمَّ بِالْإِفْطَارِ نَفْيًا لِلتُّهْمَةِ. الهداية كتاب الصوم فصل في رؤية الهلال ۱۱۷/۱ .

وَيَصُوْمُ فِيْهِ الْمُفْتِيْ سِرًّا لِئَلَّا يُتَّهَمَ بِالْعِصْيَانِ فَإِنَّهُ أَفْتَاهُمْ بِالْإِفْطَارِ بَعْدَ التَّلَوُّمِ لِحَدِيْثِ الْعِصْيَانِ وَهُوَ مُشْتَهِرٌ بَيْنَ الْعَوَامِّ. فَإِذَا خَالَفَ إِلَى الصَّوْمِ اتَّهَمُوْهُ بِالْمَعْصِيَةِ، وَقِصَّةُ أَبِيْ يُوْسُفَ صَرِيْحَةٌ فِيْ أَنَّ مَنْ صَامَهُ مِنَ الْخَاصَّةِ لَا يُظْهِرُهُ لِلْعَامَّةِ ، وَهِيَ مَا حَكَاهُ أَسَدُ بْنُ عَمْرٍو، قَالَ: أَتَيْت بَابَ الرَّشِيْدِ فَأَقْبَلَ أَبُوْ يُوْسُفَ الْقَاضِيْ ...وَهُوَ يَوْمُ شَكٍّ فَأَفْتَى النَّاسَ بِالْفِطْرِ فَقُلْت لَهُ: أَمُفْطِرٌ أَنْتَ؟ فَقَالَ: اُدْنُ إِلَيَّ، فَدَنَوْتُ مِنْهُ فَقَالَ فِيْ أُذُنِيْ: أَنَا صَائِمٌ، وَقَوْلُهُ الْمُفْتِيْ لَيْسَ بِقَيْدٍ بَلْ كُلُّ مَنْ كَانَ مِنَ الْخَاصَّةِ وَهُوَ يَتَمَكَّنُ مِنْ ضَبْطِ نَفْسِهِ ←←←←←←←←←←

۳ . که یو کس په شکي ورځ باندې روژه اونیسي او دا نیت اوکړي چې که صبا د رمضان میاشت وه نو دا به د رمضان روژه شي ، او که د رمضان میاشت نه وه نو دا به نفلي شي نو داسې روژه نیول هم مکروه ده . خو که چا اونیوه او بیا دا ورځ د رمضان شوه نو دده دا روژه به د رمضان وي ، او که دا شکي ورځ د شعبان دیرشم تاریخ اوخت نو دده دا روژه به نفلي اوګرځي . (۱)

په **فتاوی حقانیه** کې ذکر دي چې کله د رمضان میاشت او نه لیدلې شي او د شعبان میاشت هم نه وي پوره شوي نو دیته یَومُ الشک وایي .

بعضې خلق د رمضان د احتمال په وجه په دې ورځ د فرضي روژې نیت اوکړي او روژه اونیسي ، او بعضې خلق د نفلو او فرضو په مینځ کې تَردّد کولو سره روژه اونیسي . نو په دې دواړو صورتونو روژه نیول منع دي .

البته که خواص خلق په دې ورځ باندې خالص د نفل روژې نیت اوکړي نو په دې کې هیڅ

---

←←←← عَنِ الْإِضْجَاعِ فِي النِّيَّةِ وَمُلَاحَظَةِ كَوْنِهِ عَنِ الْفَرْضِ إِنْ كَانَ غَدًا مِنْ رَمَضَانَ .فتح القدير ۳۱۹/۲ كتاب الصوم فصل في رؤية الهلال .

قَالَ فِي الْفَتْحِ : وَقَيَّدَهُ فِي التُّحْفَةِ بِكَوْنِهِ عَلَى وَجْهٍ لَا يَعْلَمُ الْعَوَامُّ ذٰلِكَ كَيْ لَا يَعْتَادُوْا صَوْمَهُ فَيَظُنَّهُ الْجُهَّالُ زِيَادَةً عَلَى رَمَضَانَ. وَيَدُلُّ عَلَيْهِ قِصَّةُ أَبِي يُوسُفَ الْمَذْكُورَةُ فِي الْإِمْدَادِ وَغَيْرِهِ . حَاصِلُهَا أَنَّ أَسَدَ بْنَ عَمْرٍو سَأَلَهُ هَلْ أَنْتَ مُفْطِرٌ ؟ فَقَالَ لَهُ فِي أُذُنِهِ : أَنَا صَائِمٌ . رد المحتار على الدر المختار ۳۸۳/۲ كتاب الصوم سبب صوم رمضان .

( وَالْمُخْتَارُ أَنْ يَصُوْمَ الْمُفْتِيْ بِنَفْسِهِ ) اِحْتِيَاطًا عَنْ وُقُوْعِ الْفِطْرِ فِيْ رَمَضَانَ ( وَيُفْتِيَ الْعَامَّةَ بِالتَّلَوُّمِ) أَيْ بِالْإِنْتِظَارِ (إِلٰى وَقْتِ الزَّوَالِ ثُمَّ بِالْإِفْطَارِ نَفْيًا لِلتُّهْمَةِ). العناية شرح الهداية ۳۱۹/۲ كتاب الصوم فصل في رؤية الهلال .

(۱) وَإِنْ نَوٰى عَنْ رَمَضَانَ إِنْ كَانَ غَدًا مِنْهُ وَعَنِ التَّطَوُّعِ إِنْ كَانَ مِنْ شَعْبَانَ يُكْرَهُ لِأَنَّهُ نَاوٍ لِلْفَرْضِ مِنْ وَجْهٍ، ثُمَّ إِنْ ظَهَرَ أَنَّهُ مِنْ رَمَضَانَ أَجْزَأَهُ عَنْهُ لِمَا مَرَّ. وَإِنْ ظَهَرَ أَنَّهُ مِنْ شَعْبَانَ جَازَ عَنْ نَفْلِهِ لِأَنَّهُ يَتَأَدّٰى بِأَصْلِ النِّيَّةِ، وَلَوْ أَفْسَدَهُ يَجِبُ أَنْ لَا يَقْضِيَهُ لِدُخُوْلِ الْإِسْقَاطِ فِيْ عَزِيْمَتِهِ مِنْ وَجْهٍ. الهداية كتاب الصوم فصل في رؤية الهلال ۳۱۵/۲ ، مراقي الفلاح مع حاشية الطحطاوي كتاب الصوم فصل في ماثبت به الهلال في يوم الشک وغيره ص ۵۳۴ ، فتاوی عثمانيه ج۱۶۰ كتاب الصوم . فتاوی عثمانيه ج۱۶۱ كتاب الصوم .

حرَج نشته . (۱)

په **فتاوی فریدیه** کې ذکر دي : په شکي ورځ باندې د فرضو او واجبو په نیت سره روژه نیول مکروه ده ، خو د خالصه نفلو په نیت (د خواصو د پاره) مکروه نده . (۲)

په **فتاوی محمودیه** کې ذکر دي : بغیر د میاشت لېدلو نه د شعبان په دیرشمه (۳۰) ورځ باندې د رمضان ګمان کولو سره روژه نیول مکروه ده . (البته بغیر د شک نه خالصه نفلي روژه د خواصو د پاره جائز ده) . (۳)

## د خواصو د پاره د يومُ الشک روژه نیول جائز ده

په يومُ الشک باندې د عوامو د پاره روژه نیول مکروه ده ، البته د خواصو د پاره جائز بلکه مستحب ده . (۴)

---

(۱) وفي التهذيب : والمختار ان يفتى بالتطوع في حق الخواص ، والانتظار والتلوم في حق العوام . والفاصل بين الخاصة والعامة هو انّ كلّ من يعلم فيه صوم يوم الشک فهو من الخواص والا فهو من العوام . فتاوى تاتارخانية ج۲ ص ۳۹۲ الفصل الثامن الاوقات المكروه فيها الصوم . . فتاوى حقانيه ج۴ ص ۱۲۹ .

قال ابن الهمامؒ : اَلْمُخْتَارُ أَنْ يَصُوْمَ الْمُفْتِيْ بِنَفْسِهِ أَخْذًا بِالْإِحْتِيَاطِ ، وَيُفْتِي الْعَامَّةَ بِالتَّلَوُّمِ إِلى وَقْتِ الزَّوَالِ ثُمَّ بِالْإِفْطَارِ حَسْمًا لِمَادَّةِ اعْتِقَادِ الزِّيَادَةِ ، وَيَصُوْمُ فِيْهِ الْمُفْتِيْ سِرًّا لِئَلَّا يُتَّهَمَ بِالْعِصْيَانِ فَإِنَّهُ أَفْتَاهُمْ بِالْإِفْطَارِ بَعْدَ التَّلَوُّمِ لِحَدِيْثِ الْعِصْيَانِ وَهُوَ مُشْتَهِرٌ بَيْنَ الْعَوَامِّ . فَإِذَا خَالَفَ إِلَى الصَّوْمِ اتَّهَمُوْهُ بِالْمَعْصِيَةِ . وَقِصَّةُ أَبِيْ يُوْسُفَ صَرِيْحَةٌ فِيْ أَنَّ مَنْ صَامَهُ مِنَ الْخَاصَّةِ لَا يُظْهِرُهُ لِلْعَامَّةِ . فتح القدير ۳۱۹/۲ كتاب الصوم فصل في رؤية الهلال . ومثله في بدائع الصنائع ج۲ ص ۷۸ كتاب الصوم فصل شرائطها فنوعان .

(۲) فتاوى فريديه ج۴ ص ۱۱۰ .

(۳) "وكره فيه" أي يوم الشك "كل صوم" من فرض و واجب وصوم ردد فيه بين نفل وواجب "إلا صوم نفل جزم به بلا ترديد بينه وبين صوم آخر " فإنه لا يكره لحديث السرار إذا كان على وجه لا يعلم العوام ذلك ليعتادوا صومه ظنا منهم زيادته على الفرض وإذا وافق معتاده فصومه أفضل اتفاقا . مراقي الفلاح ۲۴۰/۱ فصل فيما يثبت به الهلال وفي صوم الشک وغيره ، فتاوى محموديه ج۱۵ ص ۲۳۲ .

(۴) (وَلَا يُصَامُ يَوْمُ الشَّكِّ ) هُوَ يَوْمُ الثَّلَاثِيْنَ مِنْ شَعْبَانَ وَإِنْ لَمْ يَكُنْ عِلَّةٌ أَيْ عَلَى الْقَوْلِ بِعَدَمِ اعْتِبَارِ اخْتِلَافِ الْمَطَالِعِ لِجَوَازِ تَحَقُّقِ الرُّؤْيَةِ فِيْ بَلْدَةٍ أُخْرٰى ... (إِلَّا نَفْلًا) وَيُكْرَهُ غَيْرُهُ ←←←←←←←←←←

اوس دا خبره چې د خواصو نه څوک مراد دي؟ په دې کې اختلاف دی: بعضې علماء وايي چې ددې نه مُفتيان او قاضيان مراد دي. او بعضې علماء وايي چې ددينه هغه خلق مراد دي چې ددې د نيت نه خبردار وي، يعنی خالص د نفلي روژې نيت اوکړي.

ځکه د نفلي روژې نيت نه علاوه په بل نيت په دې ورځ روژه نيول مکروه ده. (۱)

## د رمضان د روژو د فرضيت نه مُنکر کافر دی

د رمضان المبارک روژې فرضِ عين دي، ددې فرضيت په کتابُ الله، سُنتِ رسول، اِجماعِ اُمت او قياس سره ثابت دی. (۲)

---

←←←←← (وَلَوْ صَامَهُ لِوَاجِبٍ آخَرَ كُرِهَ) تَنْزِيْهًا وَلَوْ جَزَمَ أَنْ يَكُوْنَ عَنْ رَمَضَانَ كُرِهَ تَحْرِيْمًا... (وَالتَّنَفُّلُ فِيْهِ أَحَبُّ) أَيْ أَفْضَلُ اِتِّفَاقًا (إِنْ وَافَقَ صَوْمًا يَعْتَادُهُ) أَوْ صَامَ مِنْ آخِرِ شَعْبَانَ ثَلَاثَةً فَأَكْثَرَ لَا أَقَلَّ لِحَدِيْثِ «لَا تُقَدِّمُوا رَمَضَانَ بِصَوْمِ يَوْمٍ أَوْ يَوْمَيْنِ» ... (وَإِلَّا يَصُوْمُهُ الْخَوَاصُّ وَيُفْطِرُ غَيْرُهُمْ بَعْدَ الزَّوَالِ) بِهِ يُفْتٰى نَفْيًا لِتُهْمَةِ النَّهْيِ. الدرالمختار ۳۸۱/۲ كتاب الصوم سبب صوم رمضان. فتاوى فريديه ج۴ ص ۱۰۸

(۱) قال الحصكفيؒ: وَكُلُّ مَنْ عَلِمَ كَيْفِيَّةَ صَوْمِ الشَّكِّ فَهُوَ مِنَ الْخَوَاصِّ وَإِلَّا فَمِنَ الْعَوَامِّ. وَالنِّيَّةُ) الْمُعْتَبَرَةُ هُنَا (أَنْ يَنْوِيَ التَّطَوُّعَ) عَلٰى سَبِيْلِ الْجَزْمِ (مَنْ لَا يَعْتَادُ صَوْمَ ذٰلِكَ الْيَوْمِ). أَمَّا الْمُعْتَادُ فَحُكْمُهُ مَرَّ " أَيْ فِيْ قَوْلِهِ وَالصَّوْمُ أَحَبُّ إِنْ وَافَقَ صَوْمًا يَعْتَادُهُ. " (وَلَا يَخْطُرُ بِبَالِهِ أَنَّهُ إِنْ كَانَ مِنْ رَمَضَانَ فَعَنْهُ). الدرالمختار

قال ابن عابدينؒ: فَعَامَّةُ الْمَشَايِخِ عَلٰى أَنَّهُ يَنْبَغِيْ لِلْقُضَاةِ وَالْمُفْتِيْنَ أَنْ يَصُوْمُوْا تَطَوُّعًا وَيُفْتُوْا بِذٰلِكَ خَاصَّتَهُمْ وَيُفْتُوا الْعَامَّةَ بِالْإِفْطَارِ وَهٰذَا يُفِيْدُ أَنَّ التَّلَوُّمَ أَفْضَلُ فِيْ حَقِّ الْكُلِّ كَمَا فِي النَّهْرِ لٰكِنْ فِي الْهِدَايَةِ وَالْمُحِيْطِ وَالْخَانِيَّةِ وَغَيْرِهَا أَنَّ الْمُخْتَارَ أَنْ يَصُوْمَ الْمُفْتِيْ بِنَفْسِهِ أَخْذًا بِالْإِحْتِيَاطِ، وَيُفْتِي الْعَامَّةَ بِالتَّلَوُّمِ إِلٰى وَقْتِ الزَّوَالِ ثُمَّ بِالْإِفْطَارِ وَالتَّلَوُّمِ الْإِنْتِظَارِ. ۳۸۳/۲ كتاب الصوم سبب صوم رمضان. فتاوى فريديه ج۴ ص۱۰۸.

(۲) وَالدَّلِيْلُ عَلٰى فَرْضِيَّةِ صَوْمِ شَهْرِ رَمَضَانَ: اَلْكِتَابُ، وَالسُّنَّةُ، وَالْإِجْمَاعُ، وَالْمَعْقُوْلُ. أَمَّا الْكِتَابُ: فَقَوْلُهُ تَعَالٰى ﴿يٰٓأَيُّهَا الَّذِيْنَ اٰمَنُوْا كُتِبَ عَلَيْكُمُ الصِّيَامُ... البقرة: ۱۸۳﴾ وَقَوْلُهُ "كُتِبَ عَلَيْكُمْ" أَيْ: فُرِضَ. وَقَوْلُهُ تَعَالٰى ﴿فَمَنْ شَهِدَ مِنْكُمُ الشَّهْرَ فَلْيَصُمْهُ. البقرة: ۱۸۵﴾.

وَأَمَّا السُّنَّةُ: فَقَوْلُ النَّبِيِّ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ «بُنِيَ الْإِسْلَامُ عَلٰى خَمْسٍ: شَهَادَةِ أَنْ لَا إِلٰهَ إِلَّا اللهُ، وَأَنَّ مُحَمَّدًا رَسُوْلُ اللهِ، وَإِقَامِ الصَّلَاةِ، وَإِيْتَاءِ الزَّكَاةِ، وَصَوْمِ رَمَضَانَ، وَحَجِّ الْبَيْتِ مَنِ اسْتَطَاعَ إِلَيْهِ سَبِيْلًا» وَقَوْلُهُ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ عَامَ حَجَّةِ الْوَدَاعِ: «أَيُّهَا النَّاسُ اعْبُدُوْا رَبَّكُمْ ←←←←←←←←←←←←

څوک چې د دې د فرضيت نه انکار کوي هغه کافر دی.(۱) فقهاؤ خو تر دې پورې ليکلي چې که يو کس په رمضان کې ښکاره روژې خوري نو داسې کس به قتلولې شي ، يعنې چې اسلامي حکومت وي نو اميرُ المؤمنين به دده د وژلو حکم اوکړي ، البته که اسلامي حکومت نه وُ نو بيا به دد ې ناکاره کار سره په زړه کې نفرت اولري . (۲)

## بغير عُذره روژه خوړونکې فاسق دی

کوم کس چې بغير د شرعي عُذر نه روژې نه نيسي نو داسې کس فاسق و فاجر او د گناه کبيره مُرتکِب دی . (۳)

---

←←←←← وَصَلُّوْا خَمْسَكُمْ وَصُوْمُوْا شَهْرَكُمْ وَحُجُّوْا بَيْتَ رَبِّكُمْ وَأَدُّوْا زَكَاةَ أَمْوَالِكُمْ طَيِّبَةً بِهَا أَنْفُسُكُمْ تَدْخُلُوْا جَنَّةَ رَبِّكُمْ » . وَأَمَّا الْإِجْمَاعُ : فَإِنَّ الْأُمَّةَ أَجْمَعَتْ عَلَى فَرْضِيَّةِ شَهْرِ رَمَضَانَ، لَا يَجْحَدُهَا إِلَّا كَافِرٌ. وَأَمَّا الْمَعْقُوْلُ فَمِنْ وُجُوْهٍ.... بدائع الصنائع ۲/ ۷۵ كِتَابُ الصَّوْمِ . وهكذا في " لضرة النعيم ۲۶۴۷/۷ الصوم حكم الصوم .

(۱) قال ابن عابدين : اِعْلَمْ أَنَّ الْفَرْضَ مَا ثَبَتَ بِدَلِيْلٍ قَطْعِيٍّ لَا شُبْهَةَ فِيْهِ كَالْإِيْمَانِ وَالْأَرْكَانِ الْأَرْبَعَةِ.... حَتّٰى يَكْفُرَ جَاحِدُهُ وَيَفْسُقُ تَارِكُهُ بِلَا عُذْرٍ. رد المحتار على الدر المختار ۳۱۳/۶ كِتَابُ الْأُضْحِيَّةِ

(۲) په درمختار کې ذکر دي : وَلَوْ أَكَلَ عَمْدًا شُهْرَةً بِلَا عُذْرٍ يُقْتَلُ . الدرالمختار ۴۱۳/۲ كِتَابُ الصَّوْمِ بَابُ مَا يُفْسِدُ الصَّوْمَ وَمَا لَا يُفْسِدُهُ . که يو کس د رمضان المبارک په مياشت کې قصدًا بلاعُذره په ښکاره باندې خوراک څکاک کوي نو دا به قتلولې شي .

قال ابن عابدين : قَالَ الشُّرُنْبُلَالِيُّ صُوْرَتُهَا : تَعَمُّدُ مَنْ لَا عُذْرَ لَهُ الْأَكْلَ جِهَارًا يُقْتَلُ ؛ لِأَنَّهُ مُسْتَهْزِئٌ بِالدِّيْنِ أَوْ مُنْكِرٌ لِمَا ثَبَتَ مِنْهُ بِالضَّرُوْرَةِ وَلَا خِلَافَ فِيْ حِلِّ قَتْلِهِ وَالْأَمْرِ بِهِ . رد المحتار على الدر المختار ۴۱۴/۲ كِتَابُ الصَّوْمِ بَابُ مَا يُفْسِدُ الصَّوْمَ وَمَا لَا يُفْسِدُهُ .

(۳) قال الحافظ محمد الذهبي : اَلْكَبِيْرَةُ السَّادِسَةُ إفطار يوم من رَمَضَان بِلَا عذر . وَقَالَ رَسُوْلُ اللهِ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ : مَنْ أَفْطَرَ يَوْمًا مِنْ رَمَضَانَ مِنْ غَيْرِ عُذْرٍ وَلَا مَرَضٍ، لَمْ يَقْضِهِ صِيَامُ الدَّهْرِ وَإِنْ صَامَهُ . صحيح البخاري كِتَابُ الصَّوْمِ بَابُ إِذَا جَامَعَ فِيْ رَمَضَانَ .

وَعَن ابْن عَبَّاس رَضِيَ الله عَنْهُمَا عرى الإِسْلَام وقواعد الدّين ثَلَاث شَهَادَة أَن لَا إِله إِلَّا الله وَالصَّلَاة وَصَوْم رَمَضَان فَمن ترك وَاحِدَة مِنْهُنَّ فَهُوَ كَافِر نَعُوذ بِالله من ذَلِك . الكبائر اَلْكَبِيْرَةُ السَّادِسَةُ إفطار يوم من رَمَضَان بِلَا عذر

قال ابن عابدين : اِعْلَمْ أَنَّ الْفَرْضَ مَا ثَبَتَ بِدَلِيْلٍ قَطْعِيٍّ لَا شُبْهَةَ فِيْهِ كَالْإِيْمَانِ وَالْأَرْكَانِ الْأَرْبَعَةِ... حَتّٰى يَكْفُرَ جَاحِدُهُ وَيَفْسُقُ تَارِكُهُ بِلَا عُذْرٍ. رد المحتار على الدر المختار ۳۱۳/۶ كِتَابُ الْأُضْحِيَّةِ

خو که څوک توبه اوباسي نو توبه يې قبلېږي، البته ددې خوړل شوو روژو قضاء به راګرځوي (او کفاره به هم اداء کوي) صرف په توبه ويستلو سره دده ذمه نه فارغېږي.(۱)

## قصدًا روژې خوړلو سره قضاء او کفاره دواړه لازمېږي

کوم کس چې بغير د عذرِ شرعي نه قصدًا روژه ماته کړي (يعنی خوراک ، څکاک او جماع اوکړي) نو په دې سره روژه ماتېږي ، دا کس به ددې روژو قضاء هم راوړي او کفاره به هم اداء کوي.

حضرت ابوهريرة رضي الله عنه فرمايي :

أَنَّ رَجُلًا أَكَلَ فِي رَمَضَانَ ، فَأَمَرَهُ النَّبِيُّ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ « أَنْ يُعْتِقَ رَقَبَةً ، أَوْ يَصُومَ شَهْرَيْنِ ، أَوْ يُطْعِمَ سِتِّينَ مِسْكِينًا ».(۲)

يو سړي په رمضان کې (قصدًا) خوراک اوکړو نبي عليه السلام هغه ته (د کفارې اداءکولو) حُکم اوکړو چې يا خو دې يو غلام آزاد کړي ، يا دې دوه مياشتې (پرله پسې) روژې اونيسي ، او يا دې شپيته مسکينانو ته (سهر او ماښام) خوراک ورکړي.

( نوټ : د کفارې په باره کې تفصيلي بحث روستو راروان دی . ابوالشمس عفي عنه )

## په روژې پورې ټوقې کول د کفر سبب دی

کوم کس چې د روژې پورې ټوقې او خندا کوي نو په دې سره دا کس کافر کيږي ، مثلا بعضې بدبخته وايي چې روژه به هغه کس نيسي چې چا کره په کور کې خوراک نه وي ، يا دا چې زمونږ په ولړې سره الله ﷻ ته په لاس څه ورځي ؟ (نَعُوذُ بِاللهِ مِنْ ذٰلِكَ)

په دې خبره ځان پوهه کړئ چې کوم کس بغير د شرعي عُذر نه روژې نه نيسي خو اِنکار ترې نه کوي نو په دې سره دا سړی فاسق و فاجر او ګناه ګار دی خو کافر ندی.

---

(۱) قال الشرنبلالي : و صوم رمضان فرض عين اداء و قضاء على من اجتمع فيه اربعة اشياء ... امداد الفتاح شرح نورالايضاح كتاب الصوم ص ٦٥٢ ، فتاوى فريديه ج۴ ص ۱۴۸ .

(۲) سنن الدار قطني رقم الحديث ۲۳۰۸ كِتَابُ الصِّيَامِ بَابُ الْقُبْلَةِ لِلصَّائِمِ . و رقم الحديث ۲۳۹۷ بَابُ طُلُوعِ الشَّمْسِ بَعْدَ الإِفْطَارِ .

خو چې څوک د روژې يا د شريعت د يو بل رُکن سپکاوې کوي نو په دې سره دا کس کافر کيږي، نيک اعمال يې ټول ختميږي.

لهذا د روژې پورې د ټوقې کولو يا د روژې متعلق داسې ناکاره الفاظو ويلو نه ځان ساتل په کار دي.

## د روژې فرض کيدلو د پاره د عُمر حَد

روژه په بالغ مسلمان باندې فرض ده، که دا نارينه وي او که زَنانه. اوس د هلک د بلوغ نخه داده چې اِحتلام يې اوشي (يعنی شيطان يې تېر باسي او غُسل پرې واجب شي)، او د جينۍ د بلوغ نخه داده چې حيض يې راشي.

خو که په کوم هلک او جينۍ کې دا نخې رابنکاره نشي نو د پنځلس کاله عُمر ته رسيدلو سره په دوی باندې روژه فرض ده.(۱)

(۱) قال العلامة الحصكفي رحمه الله: (بُلُوغُ الْغُلَامِ بِالْإِحْتِلَامِ وَالْإِحْبَالِ وَالْإِنْزَالِ) وَالْأَصْلُ هُوَ الْإِنْزَالُ (وَالْجَارِيَةِ بِالْإِحْتِلَامِ وَالْحَيْضِ وَالْحَبلِ) وَلَمْ يَذْكُرِ الْإِنْزَالَ صَرِيحًا لِأَنَّهُ قَلَّمَا يُعْلَمُ مِنْهَا (فَإِنْ لَمْ يُوجَدْ فِيهِمَا) شَيْءٌ (فَحَتَّى يَتِمَّ لِكُلٍّ مِنْهُمَا خَمْسَ عَشْرَةَ سَنَةً بِهِ يُفْتَى) لِقِصَرِ أَعْمَارِ أَهْلِ زَمَانِنَا. الدرالمختار ۱۵۳/۶ كِتَابُ الْحَجْرِ فَصْلٌ بُلُوغُ الْغُلَامِ بِالْإِحْتِلَامِ.

قال العلامه فخر الدين الزيلعي الحنفي رحمه الله: (بُلُوغُ الْغُلَامِ بِالْإِحْتِلَامِ وَالْإِحْبَالِ وَالْإِنْزَالِ وَإِلَّا فَحَتَّى يَتِمَّ لَهُ ثَمَانِيَ عَشْرَةَ سَنَةً وَالْجَارِيَةُ بِالْحَيْضِ وَالْإِحْتِلَامِ وَالْحَبْلِ وَإِلَّا فَحَتَّى يَتِمَّ لَهَا سَبْعَ عَشْرَةَ سَنَةً وَيُفْتَى بِالْبُلُوغِ فِيهِمَا بِخَمْسَ عَشْرَةَ سَنَةً). تبيين الحقائق شرح كنز الدقائق ۲۰۳/۵ كِتَابُ الْحَجْرِ فَصْلٌ بُلُوغُ الْغُلَامِ بِالْإِحْتِلَامِ وَالْإِحْبَالِ وَالْإِنْزَالِ. ومثله فى البحر الرائق ج۸ ص ۸۵. فتاوى حقانيه ج۴ ص ۱۴۲، فتاوى فريديه ج۴ ص ۹۷.

# څنې خلقوته د عُذر په وجه روژه نه نیول (خوړل) جائز دي

څنې خلق داسې دي چې هغوی ته د عُذر په وجه د رمضانُ المبارک روژې نه نیول (یعنی خوړل) جائز دي، اول درته اِجمالاً د هغې تذکره کوم، بیا به یې تفصیلاً د دلائلو سره ذکر کوم

## (اجمالي بیان)

۱. شرعي مسافر ته په سفر کې روژه نیول او نه نیول دواړه جائز دي، که ده ته په سفر کې تکلیف وي او که نه. خو که ده ته په دې سفر کې څه تکلیف نه ؤ نو بیا روژه نیول بهتر دي.

۲. کوم کس چې داسې بیمار وي چې په روژې نیولو سره ده د مرګ خطره وي، یا ده د یو اَندام ضائع کیدلو خطره وي، یا د مرض زیاتیدلو خطره وي، یا دا چې زر به جوړ نشي، یا فی الحال ښه وي خو د روژې په نیولو سره د مرض پیدا کیدلو قوي یره وي، او دې مذکوره کسانو ته یو مسلمان ماهر ډاکټر (او طبیب) د روژې نه نیولو مشوره ورکړي، یا بغیر د ډاکټر نه ده ذاتي تجربه او پوخ یقین وي چې ماته روژه نقصان راکوي نو داسې خلقو د پاره روژه خوړل جائز دي. که ددې بیماری نه ښه شو نو ددې خوړل شوو روژو قضاء به راوړي. او که دا مرض دائمي وي، د جوړیدو امکان نه لري نو بیا به د هرې روژې په عوض کې یوه فِدیه ورکړي.

۳. کومه ښځه چې حامله وي او په روژې نیولو سره دیته پخپله یا ددې حمَل ته خطره وي نو دیته روژه خوړل جائز دي.

همدارنګې کومه ښځه چې وړوکي ماشوم ته تِې (سِینه) ورکوي، او په روژې نیولو سره دې ماشوم ته خطره وي (مثلا په دې کې شُودهٔ اُوچیږي، او ماشوم خرابیږي) نو دیته روژه خوړل جائز دي.

خو که ددې ښځې خاوند مالدار ؤ او ددې ماشوم د خوراک د پاره یې څه بل اِنتظام کولې شو نو بیا به دا روژه نیسي.

البته که دې ماشوم بل څیز نه خوړو، یا وړاندې خراب راتللو نو بیا به دا مور روژه نه نیسي، روستو به ددې روژو قضاء راوړي.

۴ . حائضې او نِفاسې ښځې ته روژه خوړل جائز دي .

۵ . شیخ فاني یعنی کوم سړی یا ښځه چې دومره بوډاګان شوي وي چې د روژې لرلو قدرت بالکل نه لري نو دوی به روژې نه نیسي ، بلکه د هرې روژې په عِوض کې به یوه فِدیه ورکوي .

## ( تفصيلي بيان ، سره د دلائلو )

اوس درته د مذکوره مسائلو پوره تفصیل د دلائلو سره ذکر کوم :

## مسافر او مریض ته روژه خوړل جائز دي

۱ . په قرآن مجید سورة بقره کې لکه څرنګې چې د روژې د فرضیت اِعلان شوی نو همدغه شان په دې کې د مسافر او مریض د پاره د روژې نه نیولو اجازت هم ورکړل شوی چې دوی به د سفر او بیمارۍ نه پس دا روژې نیسي ، او دا اجازت دوی ته د آسانۍ په خاطر ورکړل شوی . الله تعالی فرمایي :

﴿ فَمَنْ شَهِدَ مِنْكُمُ الشَّهْرَ فَلْيَصُمْهُ ۖ وَمَنْ كَانَ مَرِيضًا أَوْ عَلَىٰ سَفَرٍ فَعِدَّةٌ مِنْ أَيَّامٍ أُخَرَ ۗ يُرِيدُ اللَّهُ بِكُمُ الْيُسْرَ وَلَا يُرِيدُ بِكُمُ الْعُسْرَ ﴾.(۱)

ترجمه : پس څوک چې په تاسو کې د رمضان میاشت اومومي نو هغه دې ( ضرور ) ددې روژې اونیسي ، او څوک چې مریض وي یا په سفر باندې وي نو هغه دې په نورو ورځو کې ددې شمیر پوره کړي ، الله تعالی په تاسو باندې آساني کول غواړي ، او په تاسو باندې سختي کول نه غواړي .

یعنی که چاته په سفر یا بیمارۍ کې د رمضان المبارک روژې نیول ګران وي نو هغه ته د روژې خوړلو اِجازت شته ، بیا چې کله مسافر په کور شي یا مریض ښه شي نو دوی به ددې خوړل شوو روژو قضاء په نورو ورځو کې راوړي .

**فائده** : ددې آيت نه دا هم معلومه شوه چې مسافر او مريض ته د روژې خوړلو اجازت د آسانۍ د پاره ورکړل شوی ، لهذا د علماؤ په دې خبره باندې اتفاق دی چې شرعي مسافر ته په سفر کې روژه نيول او نه نيول دواړه جائز دي.(۱)

**مسئله** : که مسافر ته په سفر کې تکليف وي او که نه خو ده ته روژه نيول او نه نيول دواړه جائز دي. البته که ده ته په دې سفر کې څه تکليف نه وُ نو بيا روژه نيول بهتر دي ، او همدا عزيمت دی. (۲)

---

(۱) عَنْ أَبِي سَعِيدٍ الْخُدْرِيِّ رَضِيَ اللهُ عَنْهُ، قَالَ: غَزَوْنَا مَعَ رَسُولِ اللهِ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ لِسِتَّ عَشْرَةَ مَضَتْ مِنْ رَمَضَانَ، فَمِنَّا مَنْ صَامَ وَمِنَّا مَنْ أَفْطَرَ، فَلَمْ يَعِبِ الصَّائِمُ عَلَى الْمُفْطِرِ، وَلَا الْمُفْطِرُ عَلَى الصَّائِمِ. صحيح مسلم كِتَابُ الصِّيَامِ بَابُ جَوَازِ الصَّوْمِ وَالْفِطْرِ فِي شَهْرِ رَمَضَانَ لِلْمُسَافِرِ فِي غَيْرِ مَعْصِيَةٍ... رقم الحديث ۹۳ (۱۱۱۶) ، مشكوة المصابيح باب صوم المسافر الفصل الاول رقم الحديث ۲۰۲۰(۲) .

(۲) قال برهان الدين": ( وَإِنْ كَانَ مُسَافِرًا لَا يَسْتَضِرُّ بِالصَّوْمِ فَصَوْمُهُ أَفْضَلُ، وَإِنْ أَفْطَرَ جَازَ ) لِأَنَّ السَّفَرَ لَا يَعْرَى عَنِ الْمَشَقَّةِ فَجُعِلَ نَفْسُهُ عُذْرًا . الهداية كتاب الصوم فصل في من كان مريضا في رمضان ۱۲۳/۱ طبع دار احياء التراث العربي بيروت لبنان. هكذا في فتاوى حقانيه ج۴ ص ۱۹۱ باب الاعذار المبيحة للافطار .

قال ابن نجيم": ( قَوْلُهُ: وَلِلْمُسَافِرِ وَصَوْمُهُ أَحَبُّ إِنْ لَمْ يَضُرَّهُ ) أَيْ جَازَ لِلْمُسَافِرِ الْفِطْرُ؛ لِأَنَّ السَّفَرَ لَا يَعْرَى عَنِ الْمَشَقَّةِ فَجُعِلَ فِي نَفْسِهِ عُذْرًا بِخِلَافِ الْمَرَضِ ؛ لِأَنَّهُ قَدْ يَخِفُّ بِالصَّوْمِ فَشَرَطَ كَوْنَهُ مُفْضِيًا إِلَى الْحَرَجِ وَإِنَّمَا كَانَ الصَّوْمُ أَفْضَلَ إِنْ لَمْ يَضُرَّهُ لِقَوْلِهِ تَعَالَى ﴿ وَأَنْ تَصُومُوا خَيْرٌ لَكُمْ . البقرة: ۱۸۴ ﴾ وَلِأَنَّ رَمَضَانَ أَفْضَلُ الْوَقْتَيْنِ فَكَانَ فِيهِ الْأَدَاءُ أَوْلَى وَلَا يَرِدُ عَلَيْنَا الْقَصْرُ فِي الصَّلَوَاتِ فَإِنَّهُ وَاجِبٌ حَتَّى يَأْثَمَ بِالْإِتْمَامِ، لِأَنَّ الْقَصْرَ هُوَ الْعَزِيمَةُ وَتَسْمِيَتُهُمْ لَهُ رُخْصَةً إِسْقَاطٌ مَجَازٌ . البحر الرائق شرح كنز الدقائق كِتَابُ الصَّوْمِ فَصْلٌ فِي عَوَارِضِ الْفِطْرِ فِي رَمَضَانَ. و مثله في رد المحتار ج۲ ص ۴۲۱ كتاب الصوم فصل في العوارض .

قال الشرنبلالي": وصومه اي المسافر احب ان لم يضره لقوله تعالى: وَأَنْ تَصُومُوا خَيْرٌ لَكُمْ. ( البقرة آية ۱۸۴) . امداد الفتاح شرح نورالايضاح ص ۶۹۹ فصل في العوارض المسافر . فتاوى فريديه ج۴ ص ۱۶۷ . هكذا في بدائع الصنائع كتاب الصوم فصل في حكم من افسد صومه ، الفتاوى الهنديه كتاب الصوم الباب الخامس في الاعذار المبيحة للافطار ۲۰۷/۱ .

۲. د بخاري شريف او مسلم شريف حديث دی، د حضرت عائشې رضي الله عنها نه روايت دی چې حمزه بن عمرو اسلمي رضي الله عنه د نبي كريم ﷺ نه پوښتنه اوكړه:

أَأَصُوْمُ فِي السَّفَرِ؟ آيا زه په سفر كې روژه اونيسم؟ حالانكه ده به ډيرې روژې نيوی.

نبي عليه السلام ورته وفرمايل: إِنْ شِئْتَ فَصُمْ، وَإِنْ شِئْتَ فَأَفْطِرْ.

كه ستا خوښه وي نو روژه اونيسه، او كه خوښه دې وي نو ماته يې كړه (يعنی مه يې نيسه). (۱)

۳. پيغمبر عليه السلام خپل اُمت ته په عملي طريقې سره هم دا خودلې چې كله دوی پخپله په سفر كې روژه نيولې هم ده، او ماته كړې يې هم ده. (۲)

البته كه مسافر ته په سفر كې د روژې نيولو په وجه نقصان رسيدو نو بيا روژه نه نيول بهتر دي.

د بخاري شريف او مسلم شريف حديث دی: حضرت جابر رضي الله عنه فرمايي چې يو ځل رسول الله صلى الله عليه وسلم په يو سفر كې ؤ نو دوی (په يو ځای كې) د خلقو يوه ډله اوليده، او يو كس يې اوليد چې (هغه د نمر نه بچ كولو د پاره) په هغه باندې سورې كړل شوې ؤ. نبي عليه السلام پوښتنه اوكړه:

---

(۱) عَنْ عَائِشَةَ رَضِيَ اللهُ عَنهَا، زَوْجِ النَّبِيِّ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ: أَنَّ حَمْزَةَ بْنَ عَمْرٍو الأَسْلَمِيَّ قَالَ لِلنَّبِيِّ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ: أَأَصُوْمُ فِي السَّفَرِ؟ وَكَانَ كَثِيْرَ الصِّيَامِ. فَقَالَ: «إِنْ شِئْتَ فَصُمْ، وَإِنْ شِئْتَ فَأَفْطِرْ». صحيح البخاري كِتَابُ الصَّوْمِ بَابُ الصَّوْمِ فِي السَّفَرِ وَالإِفْطَارِ رقم الحديث ۱۹۴۳، صحيح مسلم كِتَاب الصِّيَامِ بَابُ التَّخْيِيرِ فِي الصَّوْمِ وَالفِطْرِ فِي السَّفَرِ رقم الحديث ۱۰۳ (۱۱۲۱)، سنن الترمذي رقم ۷۱۱، سنن ابن ماجة رقم ۱٦٦۲.

(۲) عَنِ ابْنِ عَبَّاسٍ رَضِيَ اللهُ عَنهُمَا، قَالَ: خَرَجَ رَسُوْلُ اللهِ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ مِنَ المَدِيْنَةِ إِلَى مَكَّةَ، فَصَامَ حَتَّى بَلَغَ عُسْفَانَ، ثُمَّ دَعَا بِمَاءٍ فَرَفَعَهُ إِلَى يَدَيْهِ لِيُرِيَهُ النَّاسَ، فَأَفْطَرَ حَتَّى قَدِمَ مَكَّةَ، وَذٰلِكَ فِي رَمَضَانَ". فَكَانَ ابْنُ عَبَّاسٍ يَقُوْلُ: «قَدْ صَامَ رَسُوْلُ اللهِ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ وَأَفْطَرَ، فَمَنْ شَاءَ صَامَ، وَمَنْ شَاءَ أَفْطَرَ». صحيح البخاري كِتَابُ الصَّوْمِ بَابُ مَنْ أَفْطَرَ فِي السَّفَرِ لِيَرَاهُ النَّاسُ. صحيح مسلم باب جواز الصوم والفطر في شهر رمضان للمسافر...

وفي رواية: عَنِ ابْنِ عَبَّاسٍ، أَنَّ النَّبِيَّ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ «كَانَ يَصُوْمُ فِي السَّفَرِ وَيُفْطِرُ». مسند ابي داؤد الطيالسي رقم الحديث ۲۷۹۹، مسند احمد رقم الحديث ۳۸۱۳، و رقم ۳۸٦۷، المعجم الكبير للطبراني رقم ۱۴۱۲۳.

مَا هٰذَا؟ دا څه معامله ده ؟

هغوی ورته وویل : دا روژه دار دی ( چې د کمزورۍ په وجه راغورځیدلې دی ، خلق ورته راجمع شوي دي ، سورې یې وریاندې کوي ) . پیغمبر ﷺ وفرمایل :

لَيْسَ مِنَ الْبِرِّ الصَّوْمُ فِي السَّفَرِ . (۱) په سفر کې روژه نیول نیکي نده .

یعنی که چیرته په سفر کې د روژې نیولو په وجه یو کس ډیر خرابیږي او نور خلق هم ورسره په تکلیف کیږي حالانکه شریعت ده ته د روژې خوړلو اِجازت ورکړی نو بیا داسې روژه نیول څه نیکي نده ، بلکه ده ته په رُخصت باندې عمل کول په کار دي ، روستو به صرف د دې قضاء را اوګرځوي .

**نوټ** : د مسافر نه مراد هغه کس دی چې شرعي مسافر وي . (۲)

**ضروري تنبیه** : په فتاوی عثمانیه کې ذکر دي : مسافر چې په سفر کې وي نو ده ته خو روژه نیول او نه نیول دواړه جائز دي . همدارنګې که یو کس د سهر داخلیدو نه مخکې د کور نه په سفر اووځي نو ده ته هم د روژې نیولو او نه نیولو اجازت شته .

(۱) عَنْ جَابِرِ بْنِ عَبْدِ اللهِ رَضِيَ اللهُ عَنْهُمْ، قَالَ: كَانَ رَسُوْلُ اللهِ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ فِيْ سَفَرٍ. فَرَأَى زِحَامًا وَرَجُلًا قَدْ ظُلِّلَ عَلَيْهِ، فَقَالَ: « مَا هٰذَا ؟ »، فَقَالُوْا: صَائِمٌ، فَقَالَ : « لَيْسَ مِنَ الْبِرِّ الصَّوْمُ فِي السَّفَرِ» . صحيح البخاري كِتَابُ الصَّوْمِ بَابُ قَوْلِ النَّبِيِّ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ لِمَنْ ظُلِّلَ عَلَيْهِ ... رقم ۱۹۴۶ ، صحيح مسلم رقم ۹۲(۱۱۱۵) باب جواز الصوم والفطر في شهر رمضان للمسافر ... صحيح ابن حبان رقم ۳۵۵۲ .

(۲) که یو کس ځای په ځای د ضروري قیام کولو باوجود د درې شوا روزه درمیاني مزل کولو سره د سفر په اِراده روان شي نو داسې کس شَرعي مسافر دی . په موجوده دوَر کې علماؤ د شرعي سفر د پاره اته څلويښت ( ۴۸ ) مِيله ، یا اَته اَویا ( ۷۸ ) کلومیټره فاصله مقرر کړی .
( یعنی که نن صبا یو کس د اته څلويښت ( ۴۸ ) مِيله ، یا اَته اَویا ( ۷۸ ) کلومیټره فاصله سفر کولو په اِراده روان شي نو داسې کس به شرعي مسافر وي ) په داسې کس باندې به د شرعي سفر احکام مرتب کولې شي. د دې مذکوره مِقدار نه کم سفر کوونکې شرعي مسافر نه دی . فتاوی عثمانیه ج ۳ ص ۶۲ ، ۶۳ صلوة المسافر .

**نوټ** : د شرعي مسافر او سفر متعلق تفصیلي احکام په اتم جلد کې په فِقهي مسائلو کې تېر شوي ، هلته یې اوګوره . ابوالشمس علي عنه .

خو که یو کس مقیم وُ ، روژه یې نیولې وه او په نیمائي ورځ په سفر روان شو نو اوس دهٔ ته په سفر کې صرف د همدې ورځې د روژې ماتولو اجازت نشته ، بلکه دهٔ دې ورځې روژه به پوره کوي، ځکه چې کله دې د ورځې په شروع کې مقیم وُ نو دهٔ ته د مُقیمینو خِطاب متوجّه دی ، او مقیم به روژه پوره کوي .

خو که دهٔ د سفر شروع کولو نه پس د همدې ورځې روژه ماته کړه نو صرف قضاء ورباندئ لازم ده ، کفاره ورباندئ نشته . (۱)

(البته بیا چې په دویمه یا دریمه یا زیاتې ورځې په سفر کې وي نو دهٔ ته روژه نیول او نه نیول دواړه جائز دي) .

په فتاوی محمودیه کې ذکر دي چې که یو کس په نیمائي ورځې سفر شروع کړي او دهٔ ته په دې سفر کې ډیر مشقت او مشکلات وي نو بیا د همدې ورځې روژه هم ماتولې شي . (۲)

---

(۱) (اَلْبَابُ الْخَامِسُ فِي الْأَعْذَارِ الَّتِيْ تُبِيْحُ الْإِفْطَارَ : مِنْهَا السَّفَرُ) الَّذِيْ يُبِيْحُ الْفِطْرَ وَهُوَ لَيْسَ بِعُذْرٍ فِي الْيَوْمِ الَّذِيْ أَنْشَأَ السَّفَرَ فِيْهِ كَذَا فِي الْغِيَاثِيَّةِ . فَلَوْ سَافَرَ نَهَارًا لَا يُبَاحُ لَهُ الْفِطْرُ فِيْ ذٰلِكَ الْيَوْمِ، وَإِنْ أَفْطَرَ لَا كَفَّارَةَ عَلَيْهِ. الفتاوى الهندية ۲۰۶/۱ كِتَابُ الصَّوْمِ اَلْبَابُ الْخَامِسُ فِي الْأَعْذَارِ الَّتِيْ تُبِيْحُ الْإِفْطَارَ . مراقي الفلاح شرح نور الإيضاح ۲۵۸/۱ كتاب الصوم فصل في العوارض

... بِخِلَافِ الْيَوْمِ الَّذِيْ سَافَرَ فِيْهِ لِأَنَّهُ كَانَ مُقِيْمًا فِيْ أَوَّلِ الْيَوْمِ فَدَخَلَ تَحْتَ خِطَابِ الْمُقِيْمِيْنَ فِيْ ذٰلِكَ الْيَوْمِ فَلَزِمَهُ إِتْمَامُهُ حَتْمًا. فَأَمَّا الْيَوْمُ الثَّانِيْ، وَالثَّالِثُ فَهُوَ مُسَافِرٌ فَلَا يَدْخُلُ تَحْتَ خِطَابِ الْمُقِيْمِيْنَ . بدائع الصنائع في ترتيب الشرائع ۹۵/۲ كِتَابُ الصَّوْمِ فَصْلٌ حُكْمُ فَسَادِ الصَّوْمِ . فتاوى عثمانيه ج۴ ص ۲۳۲ باب في العوارض .

قال قاضي خان رحمه الله : لو أصبح المقيم صائما ثم سافر فأفطر بعد ذلک لا كفارۃ عليه . فتاوى قاضي خان ج۱ ص ۱۰۴ الفصل السابع فيما يسقط الكفارة ما لا يسقط . فتاوى حقانيه ج۴ ص ۱۹۴ .

يباح الفطر للمسافر بشرط أن يكون السفر مسافة تبيح قصر الصلاة على ما تقدم تفصيله، وبشرط أن يشرع فيه قبل طلوع الفجر بحيث يصل إلى المكان الذي يبدأ فيه قصر الصلاة قبل طلوع الفجر. فإن كان السفر لا يبيح قصرها لم يجز له الفطر ... فإذا شرع في السفر بعد طلوع الفجر حرم عليه الفطر. فلو أفطر فعليه القضاء دون الكفارة. الفقه على المذاهب الأربعة كتاب الصيام الأعذار المبيحة للفطر الفطر بسبب السفر ۵۲۱/۱

(۲) "وللمسافر" الذي أنشأ السفر قبل طلوع الفجر إذ لا يباح له الفطر بإنشائه ←←←←←←←←←←←←

# که مسافر په سفر کې يا مريض په مريضتيا کې وفات شي

که يو مسافر په سفر کې وفات شي ، يا مريض په مريضتيا کې وفات شي ، يا يو بل معذور د عُذر په دَوران کې وفات شي او دوی ته د روژې نيولو موقع ملاوْ نشي نو د دوی نه ددې روژو فرضيت ساقط دی ، يعنی په دوی باندې ددې قضاء نشته ، همدارنګې په دوی باندې د مرګ په وخت کې ددې روژو فديه ورکولو وصيت هم لازم نه دی .

البته دده د پاره مستحب دي چې د فِديې ورکولو وصيت اوکړي نو دا به دده د مال د دريمې حصې نه ورکولې شي .

او که چاته د سفر يا عُذر نه پس د ټولو خوَړل شوو روژو موقع ملاوْ شوه نو په ده باندې ددې قضاء لازم ده ، خو که ده قضاء رااُونه ګرځولو نو د مرګ په وخت په ده باندې د فِديې ورکولو وصيت لازم دي ، که وصيت يې اونکړو او وارثانو په خپله خوَښه د خپلې حصې نه دده د طرف نه فِديه ورکړه نو اُميد شته چې دده ذِمه فارغه شي . (۱)

---

←←←← بعد ما أصبح صائما بخلاف ما لو حلّ به مرض بعده فله "الفطر" . مراقي الفلاح شرح نور الإيضاح ۲۵۸/۱ كتاب الصوم فصل في العوارض ، مجمع الانهر ۳۷۲/۱ فصل يباح الفطر لمريض ، فتاوی تاتارخانية ۳۸۳/۲ كتاب الصوم الفصل السابع فی الاسباب المبيحة للفطر .

"و" جاز الفطر "لمن حصل له عطش شديد وجوع" الفرط "يخاف منه الهلاك" أو نقصان العقل أو ذهاب بعض الحواس . مراقي الفلاح ۲۵۸/۱ كتاب الصوم فصل في العوارض ، مجمع الانهر ۳٦٦/۱ فصل هل يباح الفطر ، تاتارخانية ۳۸۷/۲ كتاب الصوم الفصل السابع ، فتاوی محموديه ج۱۵ ص ۲۲۱ وہ مجبوریاں جن سے افطار جائز ہوتا ہے .

(۱) وَأَمَّا بَيَانُ شَرَائِطِ وُجُوبِهِ فَمِنْهَا الْقُدْرَةُ عَلَى الْقَضَاءِ حَتَّى لَوْ فَاتَهُ صَوْمُ رَمَضَانَ بِعُذْرِ الْمَرَضِ أَوِ السَّفَرِ وَلَمْ يَزَلْ مَرِيضًا أَوْ مُسَافِرًا حَتَّى مَاتَ لَقِيَ اللهَ وَلَا قَضَاءَ عَلَيْهِ، لِأَنَّهُ مَاتَ قَبْلَ وُجُوبِ الْقَضَاءِ عَلَيْهِ، لٰكِنَّهُ إِنْ أَوْصَى بِأَنْ يُطْعَمَ عَنْهُ صَحَّتْ وَصِيَّتُهُ وَإِنْ لَمْ يَجِبْ عَلَيْهِ، وَيُطْعَمُ عَنْهُ مِنْ ثُلُثِ مَالِهِ لِأَنَّ صِحَّةَ الْوَصِيَّةِ لَا تَتَوَقَّفُ عَلَى الْوُجُوبِ كَمَا لَوْ أَوْصَى بِثُلُثِ مَالِهِ لِلْفُقَرَاءِ أَنَّهُ يَصِحُّ، وَإِنْ لَمْ يَجِبْ عَلَيْهِ شَيْءٌ كَذَا هٰذَا . فَإِنْ بَرِئَ الْمَرِيضُ أَوْ قَدِمَ الْمُسَافِرُ وَأَدْرَكَ مِنَ الْوَقْتِ بِقَدْرِ مَا فَاتَهُ يَلْزَمُهُ قَضَاءُ جَمِيعِ مَا أَدْرَكَ، لِأَنَّهُ قَدَرَ عَلَى الْقَضَاءِ لِزَوَالِ الْعُذْرِ، فَإِنْ لَمْ يَصُمْ حَتَّى أَدْرَكَهُ الْمَوْتُ فَعَلَيْهِ أَنْ يُوصِيَ بِالْفِدْيَةِ. بدائع الصنائع في ترتيب الشرائع ۱۰۳/۲ كِتَابُ الصَّوْمِ فَصْلُ حُكْمُ الصَّوْمِ الْمُؤَقَّتِ إِذَا فَاتَ عَنْ وَقْتِهِ . ←←←←←←←←←←←←←←

## کوم ډرائیور چې همیشه په سفر کې وي د هغه د پاره د روژو حکم

په کې هیڅ شک نشته د شرعي مسافر د پاره د روژې نیولو او نه نیولو دواړه اجازت شته خو ددې دا مطلب ندی چې ګني مسافر ته روژه معاف ده، بلکه ددې خوړل شوو روژو قضاء په ده باندې لازم ده.

لهذا که مسافر ته په سفر کې تکلیف نه وي نو بیا دده د پاره روژه بهتر ده. (۱)

او که تکلیف ورته وي نو بیا یې خوړلې شي. (۲)

اوس که ده ته د ډرائیورۍ په وجه د قضاء راګرځولو موقع نه ملاویده نو دا به یوه میاشت چهټي (رُخصت) راواخلي، او په دې کې به ددې خوړل شوو روژو قضاء راواګرځوي

---

←←←←← وَلَوْ فَاتَ صَوْمُ رَمَضَانَ بِعُذْرِ الْمَرَضِ أَوِ السَّفَرِ وَاسْتَدَامَ الْمَرَضُ وَالسَّفَرُ حَتَّى مَاتَ لَا قَضَاءَ عَلَيْهِ لٰكِنَّهُ إِنْ أَوْصٰى بِأَنْ يُطْعَمَ عَنْهُ صَحَّتْ وَصِيَّتُهُ، وَإِنْ لَمْ تَجِبْ عَلَيْهِ وَيُطْعَمُ عَنْهُ مِنْ ثُلُثِ مَالِهِ فَإِنْ بَرِئَ الْمَرِيضُ أَوْ قَدِمَ الْمُسَافِرُ، وَأَدْرَكَ مِنَ الْوَقْتِ بِقَدْرِ مَا فَاتَهُ فَيَلْزَمُهُ قَضَاءُ جَمِيعِ مَا أَدْرَكَ فَإِنْ لَمْ يَصُمْ حَتّٰى أَدْرَكَهُ الْمَوْتُ فَعَلَيْهِ أَنْ يُوصِيَ بِالْفِدْيَةِ. الفتاوى الهندية ۲۰۷/۱ كِتَابُ الصَّوْمِ اَلْبَابُ الْخَامِسُ فِي الْأَعْذَارِ الَّتِي تُبِيحُ الْإِفْطَارَ.

فتاوى عثمانيه ج۴ ص ۲۲۲، وص ۱۸۷ كتاب الصوم.

(۱) (وَيُنْدَبُ لِمُسَافِرٍ الصَّوْمُ)... (إِنْ لَمْ يَضُرَّهُ). الدرالمختار ۴۲۳/۲ كِتَابُ الصَّوْمِ فَصْلٌ فِي الْعَوَارِضِ الْمُبِيحَةِ لِعَدَمِ الصَّوْمِ. فتاوى عثمانية ج۴ ص ۲۳۹ كتاب الصوم.

قال برهان الدين": ( وَإِنْ كَانَ مُسَافِرًا لَا يَسْتَضِرُّ بِالصَّوْمِ فَصَوْمُهُ أَفْضَلُ، وَإِنْ أَفْطَرَ جَازَ ) لِأَنَّ السَّفَرَ لَا يَعْرٰى عَنِ الْمَشَقَّةِ فَجُعِلَ نَفْسُهُ عُذْرًا. الهداية كتاب الصوم فصل في من كان مريضا في رمضان ۱۲۳/۱ طبع دار احياء التراث العربي بيروت لبنان. هكذا في فتاوى حقانيه ج۴ ص ۱۹۱ باب الاعذار المبيحة للافطار.

قال ابن نجيم": ( قَوْلُهُ: وَلِلْمُسَافِرِ وَصَوْمُهُ أَحَبُّ إِنْ لَمْ يَضُرَّهُ ) أَيْ جَازَ لِلْمُسَافِرِ الْفِطْرُ، لِأَنَّ السَّفَرَ لَا يَعْرٰى عَنِ الْمَشَقَّةِ فَجُعِلَ فِي نَفْسِهِ عُذْرًا بِخِلَافِ الْمَرَضِ، لِأَنَّهُ قَدْ يَخِفُّ بِالصَّوْمِ فَشَرَطَ كَوْنَهُ مُفْضِيًا إِلَى الْحَرَجِ وَإِنَّمَا كَانَ الصَّوْمُ أَفْضَلَ إِنْ لَمْ يَضُرَّهُ لِقَوْلِهِ تَعَالٰى ﴿وَأَنْ تَصُومُوا خَيْرٌ لَّكُمْ﴾. البقرة: ۱۸۴. البحر الرائق شرح كنزالدقائق كِتَابُ الصَّوْمِ فَصْلٌ فِي عَوَارِضِ الْفِطْرِ فِي رَمَضَانَ.

(۲) ﴿فَمَنْ شَهِدَ مِنْكُمُ الشَّهْرَ فَلْيَصُمْهُ وَمَنْ كَانَ مَرِيضًا أَوْ عَلٰى سَفَرٍ فَعِدَّةٌ مِّنْ أَيَّامٍ أُخَرَ يُرِيدُ اللّٰهُ بِكُمُ الْيُسْرَ وَلَا يُرِيدُ بِكُمُ الْعُسْرَ﴾ البقرة آية ۱۸۵

ځکه په مستقل ډرائيورۍ کولو سره خو د روژو طاقت نه ختميږي. (۱)

په فتاوی دارالعلوم ديوبند کې ذکر دي چې کوم کس هميشه مسافر وي مثلاً په ريل ګاډي يا هوائي جهاز کې نوکروي نو داسې مسافر چې ترڅو پورې په يو ځای کې د پنځلس (۱۵) ورځو اقامت نيت نه وي کړی نو دا مسافر حسابيږي، او مسافر ته په سفر کې د روژې خوړلو اجازت شته، خو د سفر ختميدلو نه روستو ددې روژو قضاء په ده باندې لازم ده، که (موقع يې پيدا کړه او) قضاء يې را اونه ګرځوله نو د مرګ په وخت به ددې روژو د فِديې وصيت کوي، که بغير د فِديې د وصيت نه مړ شو نو مؤاخذه به يې کيږي. (۲)

## چې په روژې سره د مرګ، يا اَندام ضائع کيدلو، يا مرض زياتيدلو خطره وي

کله چې يو کس داسې بيمار وي چې په روژې نيولو سره دده د مرګ خطره وي، يا دده د يو اَندام ضائع کيدلو خطره وي، يا د مرض زياتيدلو خطره وي، يا دا چې زر به جوړ نشي، يا في الحال ښه وي خو د روژې په نيولو سره د مرض پيدا کيدلو قوي يَره وي، او دې مذکوره کسانو ته يو مسلمان ماهر ډاکټر (او طبيب) د روژې نه نيولو مشوره ورکړې، يا بغير د ډاکټر نه دده ذاتي تجربه او پُوخ يقين وي چې ماته روژه نقصان راکوي نو دداسې خلقو د پاره روژه خوړل جائز دي. که ددې بيمارۍ نه ښه شو او قضاء راګرځولو موقع يې اومونده نو ددې خوړل شوو روژو قضاء به راوړي. (۳)

---

(۱) فتاوی عثمانية ج۴ ص ۲۳۹ كتاب الصوم.

(۲) قال الحصكفيُّ: (لِمُسَافِرٍ) سَفَرًا شَرْعِيًّا... (اَلْفِطْر) يَوْمَ الْعُذْرِ إِلَّا السَّفَرَ كَمَا سَيَجِيْءُ (وَقَضَوْا) لُزُوْمًا (مَا قَدَرُوْا بِلَا فِدْيَةٍ وَ) بِلَا (وَلَاءٍ)... (فَإِنْ مَاتُوْا فِيْهِ) أَيْ فِيْ ذٰلِكَ الْعُذْرِ (فَلَا تَجِبُ) عَلَيْهِمْ (الْوَصِيَّةُ بِالْفِدْيَةِ) لِعَدَمِ إِدْرَاكِهِمْ عِدَّةً مِنْ أَيَّامٍ أُخَرَ (وَلَوْ مَاتُوْا بَعْدَ زَوَالِ الْعُذْرِ وَجَبَتْ) الْوَصِيَّةُ بِقَدْرِ إِدْرَاكِهِمْ عِدَّةً مِنْ أَيَّامٍ أُخَرَ. الدرالمختار ۲۲۱/۲ كِتَابُ الصَّوْمِ فَصْلٌ فِي الْعَوَارِضِ الْمُبِيْحَةِ لِعَدَمِ الصَّوْمِ. فتاوی دارالعلوم ديوبند ج۶ ص ۲۰۱ كتاب الصوم.

(۳) في الهندية: (وَمِنْهَا الْمَرَضُ) اَلْمَرِيْضُ إِذَا خَافَ عَلٰى نَفْسِهِ التَّلَفَ أَوْ ذَهَابَ عُضْوٍ يُفْطِرُ بِالْإِجْمَاعِ، وَإِنْ خَافَ زِيَادَةَ الْعِلَّةِ وَامْتِدَادَهَا فَكَذٰلِكَ عِنْدَنَا، وَعَلَيْهِ الْقَضَاءُ إِذَا أَفْطَرَ كَذَا فِي الْمُحِيْطِ ←←←←←←←←←

او که دا مرض دائمي وي ، د جوړيدو امکان نه لري نو بيا به د هرې روژې په عوض کې يوه فِديه ورکړي .(۱)

**نوټ** : که د شوګر او ګردو مريض په داسې سخت حالت کې وي چې روژې نيولو سره د دوی مرض زياتيږي ، او مسلمان ډاکټر دوی د روژو نيولو نه منع کړي وي نو د دوی د پاره د روژې خوړلو اجازت شته ، چې کله ښه شول نو ددې روژو قضاء به راوړي ، او که مرض د ښه کيدلو نه وُ نو د هرې روژې په عوض کې به يوه فِديه ورکړي ( يعنی د هرې روژې په عوض کې به پاؤ کم دوه سيره غنم يا ددې قيمت ورکړي .(۲)

## روژه خوړلو کې د عادل ډاکټر خبره معتبر ده ، نه د بې دينه

که يو مسلمان عادل ديندار ه ډاکټر او حکيم چاته مشوره ورکړي چې تاته روژه نيول نقصاني ده ، يا ده په خپله باربار تجربې او ظنِ غالب سره دا معلومه کړې وه چې زما دې بيمارۍ ته روژه نقصاني ده نو داسې کس ته روژه خوړل جائز دي ، روستو به ددې قضاء

---

ثُمَّ مَعْرِفَةُ ذٰلِكَ بِاجْتِهَادِ الْمَرِيْضِ . وَالْإِجْتِهَادُ غَيْرُ مُجَرَّدِ الْوَهْمِ بَلْ هُوَ غَلَبَةُ ظَنٍّ عَنْ أَمَارَةٍ أَوْ تَجْرِبَةٍ أَوْ بِإِخْبَارِ طَبِيْبٍ مُسْلِمٍ غَيْرِ ظَاهِرِ الْفِسْقِ كَذَا فِيْ فَتْحِ الْقَدِيْرِ . وَالصَّحِيْحُ الَّذِيْ يَخْشٰى أَنْ يَمْرَضَ بِالصَّوْمِ فَهُوَ كَالْمَرِيْضِ هٰكَذَا فِي التَّبْيِيْنِ . الفتاوى الهندية ۲۰۷/۱ كِتَابُ الصَّوْمِ اَلْبَابُ الْخَامِسُ فِي الْأَعْذَارِ الَّتِيْ تُبِيْحُ الْإِفْطَارَ . هكذا في بدائع الصنائع كتاب الصوم فصل في حكم من افسد صومه ۶۰۹/۲ .

قال الحصكفيُّ : (أَوْ مَرِيْضٍ خَافَ الزِّيَادَةَ ) لِمَرَضِهِ وَصَحِيْحٍ خَافَ الْمَرَضَ . وَخَادِمَةٍ خَافَتِ الضَّعْفَ بِغَلَبَةِ الظَّنِّ بِأَمَارَةٍ أَوْ تَجْرِبَةٍ أَوْ بِأَخْبَارِ طَبِيْبٍ حَاذِقٍ مُسْلِمٍ ... (اَلْفِطْر) يَوْمَ الْعُذْرِ إِلَّا السَّفَرَ كَمَا سَيَجِيْءُ ( وَقَضَوْا ) لُزُوْمًا (مَا قَدَرُوْا بِلَا فِدْيَةٍ وَ ) بِلَا ( وَلَاءٍ ) لِأَنَّهُ عَلَى التَّرَاخِيْ . الدرالمختار ۴۲۲/۲ كتاب الصوم فصل في العوارض فتاوى فريديه ج۴ ص ۱۶۹ و ص ۱۷۳ و ص ۱۷۶ باب العوارض المبيحة للفطر ، فتاوى حقاليه ج۴ ص ۱۹۵، فتاوى عثمانيه ج۴ ص ۲۲۲ باب في العوارض . فتاوى دار العلوم ديوبند ج۶ ص ۲۹۸ ، هكذا في فتاوى محموديه ج۱۵ ص ۲۱۹ .

(۱) قال ابن عابدينؒ : اَلْمَرِيْضُ إِذَا تَحَقَّقَ الْيَأْسُ مِنَ الصِّحَّةِ فَعَلَيْهِ الْفِدْيَةُ لِكُلِّ يَوْمٍ مِنَ الْمَرَضِ . رد المحتار على الدر المختار ۴۲۷/۲ كِتَابُ الصَّوْمِ فَصْلٌ فِي الْعَوَارِضِ الْمُبِيْحَةِ لِعَدَمِ الصَّوْمِ . فتاوى حقاليه ج۴ ص ۱۹۵

(۲) قال ابن عابدينؒ : اَلْمَرِيْضُ إِذَا تَحَقَّقَ الْيَأْسُ مِنَ الصِّحَّةِ فَعَلَيْهِ الْفِدْيَةُ لِكُلِّ يَوْمٍ مِنَ الْمَرَضِ . رد المحتار على الدر المختار ۴۲۷/۲ كِتَابُ الصَّوْمِ فَصْلٌ فِي الْعَوَارِضِ الْمُبِيْحَةِ لِعَدَمِ الصَّوْمِ . فتاوى حقاليه ج۴ ص ۱۹۵ . فتاوى فريديه ج۴ ص ۱۸۰ ، فتاوى دار العلوم ديوبند ج۶ ص ۲۹۵ كتاب الصوم .

راګرځوي (او که مرض د جوړيدو نه وي نو د هرې روژې په عِوض کې به يوه فِديه ورکوي)
چونکه نن صبا د بعضې ډاکټرانو په زړونو کې د دِين اَهميت کم وي ، لهذا د داسې بې دِينه ډاکټرانو په خُله باندې روژه پريخودل د شريعت خلاف خبره ده. (۱)

## چې په روژې سره حاملې يا ماشوم ته خطره وي

کومه ښځه چې حامله وي ، يا وړوکي ماشوم ته تې (سِينه) ورکوي ، او په روژې نيولو سره ديته په خپله ، يا دې حمل ته ، يا دې تي خُور ماشوم ته خطره وي نو ديته روژه خوړل جائز دي بيا به روستو ددې قضاء راوړي.

۱ . نبي کريم صلى الله عليه وسلم فرمايي:

إِنَّ اللهَ عَزَّ وَجَلَّ وَضَعَ لِلْمُسَافِرِ الصَّوْمَ وَشَطْرَ الصَّلَاةِ ، وَعَنِ الْحُبْلَى وَالْمُرْضِعِ. (۲)

بيشکه الله تعالى د مسافر نه روژه او نيم مونځ معاف کړی (يعنى د روژې به روستو قضاء راوړي) ، او (همدارنګې) حاملې او ماشوم ته سِينه (تې) ورکوونکې ښځې ته يي هم روژه معاف کړی.

يعنى که په روژه نيولو سره حاملې او ماشوم ته سِينه ورکوونکې ښځې ته په خپله يا ددې بچي.ته نقصان رسيدو نو فى الحال روژه نيول ورته معاف دي ، البته روستو به ددې قضاء راګرځوي.

۲ . امام بخاري رحمه الله فرمايي:

---

(۱) قال الحصكفيّ: (أَوْ مَرِيْضٍ خَافَ الزِّيَادَةَ) لِمَرَضِهِ وَصَحِيْحٍ خَافَ الْمَرَضَ ... بِغَلَبَةِ الظَّنِّ بِأَمَارَةٍ أَوْ تَجْرِبَةٍ أَوْ بِأَخْبَارِ طَبِيْبٍ حَاذِقٍ مُسْلِمٍ مَسْتُوْرٍ. قال ابن عابدينّ: (قَوْلُهُ مَسْتُوْرٍ) وَقِيْلَ عَدَالَتُهُ شَرْطٌ وَجَزَمَ بِهِ الزَّيْلَعِيُّ وَظَاهِرُ مَا فِي الْبَحْرِ وَالنَّهْرِ ضَعْفُهُ. قُلْتُ: وَإِذَا أَخَذَ بِقَوْلِ طَبِيْبٍ لَيْسَ فِيْهِ هٰذِهِ الشُّرُوْطُ وَأَفْطَرَ فَالظَّاهِرُ لُزُوْمُ الْكَفَّارَةِ كَمَا لَوْ أَفْطَرَ بِدُوْنِ أَمَارَةٍ وَلَا تَجْرِبَةٍ لِعَدَمِ غَلَبَةِ الظَّنِّ وَالنَّاسُ عَنْهُ غَافِلُوْنَ. رد المحتار على الدر المختار ۴۲۲/۲ كِتَابُ الصَّوْمِ فَصْلٌ فِي الْعَوَارِضِ الْمُبِيْحَةِ لِعَدَمِ الصَّوْمِ. فتاوى فريديه ج۴ ص ۱۷۳، ۱۷۴.

(۲) سنن النسائي كتاب الصِّيَامِ وَضْعُ الصِّيَامِ عَنِ الْحُبْلَى وَالْمُرْضِعِ رقم الحديث ۲۳۱۵ وقال الالباني: حسنٌ. مسند احمد رقم ۲۰۳۲۶ ، صحيح ابن خزيمة رقم ۲۰۴۲ ، السنن الكبرى للبيهقي رقم ۵۴۸۶ ، سنن ابن ماجه رقم ۱۶۶۷ ، سنن الترمذي باب ما جاء في الرخصة في الافطار للحبلى والمرضع رقم ۷۱۵ .

قَالَ الحَسَنُ وَإِبْرَاهِيمُ: فِي المُرْضِعِ أَوِ الحَامِلِ إِذَا خَافَتَا عَلَى أَنْفُسِهِمَا أَوْ وَلَدِهِمَا تُفْطِرَانِ ثُمَّ تَقْضِيَانِ. (۱)

حسن بصري او ابراهيم نخعي رحمهما الله ماشوم ته سينه وركوونكې ښځې او حامِلې په باره کې فرمايي چې کله دوی په خپل ځان باندې يا په خپل بچي باندې يريدی نو دوی به روژه خوري، بيا به روستو ددې قضاء راګرځوي.

فقهاء کرامو هم دا مسئله په تفصيل سره ذکر کړې چې کومه زَنانه وړوکي ماشوم ته سينه (شُوده) ورکوي، او په روژې نيولو سره دا په خپله دومره کمزورې کيږي چې د هلاکت خطره يې وي. يا په روژې نيولو سره ددې شُوده ختميږي (د ماشوم د خوراک د پاره څه بل اِنتظام هم نه وي) او ددې ماشوم د هلاکت خطره وي نو په دې دواړو صورتونو ديته روژه خوړل جائز دي، روستو به صرف ددې قضاء راوګرځوي، کفاره وربانديې نشته. (۲)

---

(۱) صحيح البخاري كِتَابُ تَفْسِيرِ القُرْآنِ بَابُ قَوْلِهِ: أَيَّامًا مَعْدُودَاتٍ فَمَنْ كَانَ مِنْكُمْ مَرِيضًا...

(۲) (أَوْ حَامِلٍ أَوْ مُرْضِعٍ) أُمًّا كَانَتْ أَوْ ظِئْرًا عَلَى ظَاهِرٍ (خَافَتْ بِغَلَبَةِ الظَّنِّ عَلَى نَفْسِهَا أَوْ وَلَدِهَا)... (الْفِطْرِ). الدر المختار ۴۲۲/۲ كتاب الصوم فَصْلٌ فِي العَوَارِضِ المُبِيحَةِ لِعَدَمِ الصَّوْمِ، فتاوى دار العلوم ديوبند ج۶ ص ۲۸۹ و ص ۲۹۸.

وَأَمَّا حَبَلُ المَرْأَةِ وَإِرْضَاعُهَا: إِذَا خَافَتَا الضَّرَرَ بِوَلَدِهِمَا فَمُرَخَّصٌ. بدائع الصنائع في ترتيب الشرائع ۹۷/۲ كِتَابُ الصَّوْمِ فَصْلٌ حُكْمُ فَسَادِ الصَّوْمِ

(وَمِنْهَا حَبَلُ المَرْأَةِ، وَإِرْضَاعُهَا) الحَامِلُ وَالمُرْضِعُ إِذَا خَافَتَا عَلَى أَنْفُسِهِمَا أَوْ وَلَدِهِمَا أَفْطَرَتَا وَقَضَتَا. وَلَا كَفَّارَةَ عَلَيْهِمَا كَذَا فِي الخُلَاصَةِ. الفتاوى الهندية ۲۰۷/۱ كِتَابُ الصَّوْمِ البَابُ الخَامِسُ فِي الأَعْذَارِ الَّتِي تُبِيحُ الإِفْطَارَ. فتاوى عثمانيه ج۴ ص ۲۳۳ كتاب الصوم باب في العوارض.

الحنفية قالوا: إذا خافتِ الحامل، أو المرضع الضرر من الصيام جاز لهما الفطر. سواء كان الخوف على النفس والولد معًا، أو على النفس فقط، أو على الولد فقط، ويجب عليهما القضاء عند القدرة بدون فدية، وبدون متابعة الصوم في أيام القضاء، ولا فرق في المرضع بين أن تكون أمًا أو مستأجرة للإرضاع. وكذا لا فرق بين أن تتعين لرضاع أو لا، لأنها إن كانت أمًا فالإرضاع واجب عليها ديانة، وإن كانت مستأجرة فالإرضاع واجب عليها بالعقد، فلا محيص عنه. الفقه على المذاهب الأربعة ۵۲۰/۱ كتاب الصيام الأعذار المبيحة للفطر خوف الحامل والمرضع الضرر من الصيام.

# حائضې او نفاسې ښځې ته روژه خوړل جائز دي

حائضه او نفاسه ښځه به مونځ او روژه پرېږدي، خو بيا به د روژې قضاء راګرځوي او د مونځ قضاء ورباندې نشته. امام بخاري رحمه الله په دې باندې مستقل باب لېږلی:

'' بَابٌ: اَلحَائِضُ تَتْرُكُ الصَّوْمَ وَالصَّلَاةَ '' حائضه ښځه به روژه او مونځ پرېږدي.

بيا فرمائي ... إِنَّ الحَائِضَ تَقْضِي الصِّيَامَ وَلاَ تَقْضِي الصَّلَاةَ. (۱)

بشکه حائضه ښځه به د روژې قضاء راګرځوي ليکن د مونځ قضاء ورباندې نشته.

علماؤ فرق دا ذکر کړی چې چونکه مونځ د ورځې پنځه پېرې اداء کيږي لهذا د حائضې او نفاسې د پاره ددې قضاء راګرځول ډېر ګران دي نو ځکه په دوی د مونځ قضاء نشته. او روژه خو په کال کې صرف يو ځل فرض کيږي لهذا ددې قضاء راګرځول ګران ندي. (۲)

# شيخ فاني ته روژې خوړل جائز دي

کوم سړې يا ښځه چې دومره بوډاګان شوي وي چې د روژې لرلو قدرت بالکل نه لري نو

---

(۱) صحيح البخاري كِتَابُ الصَّوْمِ بَابٌ: الحَائِضُ تَتْرُكُ الصَّوْمَ وَالصَّلَاةَ.

وفي رواية: عَنْ عَائِشَةَ رضي الله عنها قَالَتْ: كُنَّا نَحِيضُ عَلَى عَهْدِ رَسُولِ اللهِ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ، ثُمَّ نَطْهُرُ فَيَأْمُرُنَا بِقَضَاءِ الصِّيَامِ، وَلَا يَأْمُرُنَا بِقَضَاءِ الصَّلَاةِ. هٰذَا حَدِيثٌ حَسَنٌ. وَقَدْ رُوِيَ عَنْ مُعَاذَةَ. عَنْ عَائِشَةَ أَيْضًا وَالْعَمَلُ عَلَى هٰذَا عِنْدَ أَهْلِ العِلْمِ لَا نَعْلَمُ بَيْنَهُمْ اِخْتِلَافًا أَنَّ الحَائِضَ تَقْضِي الصِّيَامَ وَلَا تَقْضِي الصَّلَاةَ. سنن الترمذي أَبْوَابُ الصَّوْمِ عَنْ رَسُولِ اللهِ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ بَابُ مَا جَاءَ فِي قَضَاءِ الحَائِضِ الصِّيَامَ دُونَ الصَّلَاةِ رقم الحديث ۷۸۷

وفي رواية: وَعَنْ مُعَاذَةَ العَدَوِيَّةِ أَنَّهَا قَالَتْ لِعَائِشَةَ: مَا بَالُ الحَائِضِ تَقْضِي الصَّوْمَ وَلَا تَقْضِي الصَّلَاةَ؟ قَالَتْ عَائِشَةُ: كَانَ يُصِيبُنَا ذٰلِكَ فَنُؤْمَرُ بِقَضَاءِ الصَّوْمِ وَلَا نُؤْمَرُ بِقَضَاءِ الصَّلَاةِ. رَوَاهُ مُسْلِمٌ. مشكاة المصابيح كتاب الصَّوْم بَاب القَضَاء اَلفَصل الأول رقم الحديث ۲۰۳۲ (۳)، صحيح مسلم رقم ۶۹ (۳۳۵).

(۲) قَوْلُهَا (فَنُؤْمَرُ بِقَضَاءِ الصَّوْمِ وَلَا نُؤْمَرُ بِقَضَاءِ الصَّلَاةِ) هٰذَا الحُكْمُ مُتَّفَقٌ عَلَيْهِ أَجْمَعَ المُسْلِمُوْنَ عَلَى أَنَّ الحائض والنفساء لاتجبُ عَلَيْهِمَا الصَّلَاةُ وَلَا الصَّوْمُ فِي الحَالِ، وَأَجْمَعُوْا عَلَى أنّه لايجب عَلَيْهِمَا قَضَاءُ الصَّلَاةِ وَأَجْمَعُوْا عَلَى أَنَّهُ يَجِبُ عَلَيْهِمَا قَضَاءُ الصَّوْمِ. قَالَ العُلَمَاءُ وَالفَرْقُ بَيْنَهُمَا أَنَّ الصَّلَاةَ كَثِيرَةٌ مُتَكَرِّرَةٌ فَيَشُقُّ قَضَاؤُهَا بِخِلَافِ الصَّوْمِ فَإِنَّهُ يَجِبُ فِي السَّنَةِ مَرَّةً وَاحِدَةً. شرح النووي على مسلم (المنهاج شرح صحيح مسلم بن الحجاج) ۲۶/۴ كِتَابُ الحَيْضِ باب وجوب قضاء الصوم على الحائض دون الصلاة.

دوی به روژې نه نیسي ، بلکه د هرې روژې په عِوض کې به یوه فِدیه ورکوي .

**۱ .** په بخاري شریف کې دا روایت ذکر دی ، حضرت عبدالله بن عباس رضي الله عنهما فرمايي :

.... اَلشَّيْخُ الْكَبِيرُ، وَالْمَرْأَةُ الْكَبِيرَةُ لَا يَسْتَطِيعَانِ أَنْ يَصُومَا . فَيُطْعِمَانِ مَكَانَ كُلِّ يَوْمٍ مِسْكِينًا . (۱)

... ډیر بوډا سړې او ډیره بوډۍ ښځه چې کله دوئ د روژې نیولو طاقت نه لري نو دوی دې د هرې روژې په عِوض کې په یو مسکین باندې (سهر او مابنام) خوراک اوکړي .

یعنی د هرې روژې په عِوض کې دې یوه فِدیه ورکړي .

**۲ .** د ابن عباس رضي الله عنهما نه نقل دي :

رُخِّصَ لِلشَّيْخِ الْكَبِيرِ أَنْ يُفْطِرَ، وَيُطْعِمَ عَلَى كُلِّ يَوْمٍ مِسْكِينًا وَلَا قَضَاءَ عَلَيْهِ . (۲)

د ډیر بوډا د پاره (کوم چې په روژه قدرت نه لري) دا اِجازه ورکړې شوی چې دا روژه اُوخوري ، او د هرې ورځې د روژې په عِوض کې به یو مسکین ته خوراک (یعنی فِدیه) ورکوي ، او په ده باندې ددې روژې قضاء نشته .

فقهاء کرامو هم دا مسئله ذکر کړی . (۳)

---

(۱) صحيح البخاري كِتَابُ تَفْسِيرِ الْقُرْآنِ بَابُ قَوْلِهِ: أَيَّامًا مَعْدُودَاتٍ فَمَنْ كَانَ مِنْكُمْ مَرِيضًا ... رقم الحديث ۴۵۰۵

(۲) المستدرک علی الصحيحين للحاكم كتاب الصوم رقم الحديث ۱۶۰۷ وقال الحاكم : هَذَا حَدِيثٌ صَحِيحٌ عَلَى شَرْطِ الْبُخَارِيِ، وَلَمْ يُخَرِّجَاهُ وَفِيهِ الدَّلِيلُ . السنن الكبرى للبيهقي رقم ۸۳۱۸ .

وفي روايةٍ: عَنِ ابْنِ عَبَّاسٍ رَضِيَ اللهُ عَنْهُمَا قَالَ: « رُخِّصَ لِلشَّيْخِ الْكَبِيرِ، وَالَّذِي يَأْخُذُهُ الْعُطَاشُ وَالْحَامِلِ أَنْ يُفْطِرُوا فِي رَمَضَانَ » . المعجم الكبير للطبراني رقم الحديث ۱۲۴۰۵ .

(۳) قال العلامة الحصكفيّ : (وَلِلشَّيْخِ الْفَانِي الْعَاجِزِ عَنِ الصَّوْمِ الْفِطْرُ وَيَفْدِي) وُجُوبًا وَلَوْ فِي أَوَّلِ الشَّهْرِ وَبِلَا تَعَدُّدِ فَقِيرٍ كَالْفِطْرَةِ لَوْ مُوسِرًا وَإِلَّا فَيَسْتَغْفِرُ اللهَ . الدر المختار ۴۲۷/۲ فَصْلٌ فِي الْعَوَارِضِ الْمُبِيحَةِ لِعَدَمِ الصَّوْمِ

وَكَذَا كِبَرُ السِّنِّ حَتَّى يُبَاحَ لِلشَّيْخِ الْفَانِي أَنْ يُفْطِرَ فِي شَهْرِ رَمَضَانَ لِأَنَّهُ عَاجِزٌ عَنِ الصَّوْمِ وَعَلَيْهِ الْفِدْيَةُ عِنْدَ عَامَّةِ الْعُلَمَاءِ . بدائع الصنائع في ترتيب الشرائع ۹۷/۲ كِتَابُ الصَّوْمِ فَصْلٌ حُكْمُ فَسَادِ الصَّوْمِ

# په بعضې صورتونو کې نيولې روژه ماتول جائز دي

په بعضې صورتونو او عُذرونو کې شريعت انسان ته دا اِجازت ورکړی چې نيولې روژه ماته کړي، بيا به روستو د دې قضاء راګرځوي.

بيا په دې عُذرونو کې بعضې داسې عُذرونه دي چې په هغې کې روژه ماتول صرف جائز ده، او بعضې داسې دي چې په هغې کې روژه ماتول ضروري ده. (۱)

اول به درته اِجمالا د هغې تذکره اوکړم. بيا به يې تفصيلاً ذکر کړم:

## ( اِجمالي بيان )

۱. په اِضطراري حالت کې روژه ماتول ضروري ده. يعنی که روژه دار داسې حالت ته اُورسي چې بغير د روژې ماتولو نه دده مرګ يقيني وي، او ده ته د روژې ماتولو سخت ضرورت وي نو دداسې کس دپاره روژه ماتول ضروري ده، که چيرته دې روژه ماته نکړي او په دې حالت کې وفات شي نو دا به ګناهګار وي.

---

←←←← ( وَمِنْهَا: كِبَرُ السِّنِّ ) فَالشَّيْخُ الْفَانِي الَّذِيْ لَا يَقْدِرُ عَلَى الصِّيَامِ يُفْطِرُ وَيُطْعِمُ لِكُلِّ يَوْمٍ مِسْكِيْنًا كَمَا يُطْعِمُ فِي الْكَفَّارَةِ كَذَا فِي الْهِدَايَةِ. وَالْعَجُوْزُ مِثْلُهُ كَذَا فِي السِّرَاجِ الْوَهَّاجِ. وَهُوَ الَّذِيْ كُلُّ يَوْمٍ فِيْ نَقْصٍ إِلَى أَنْ يَمُوْتَ كَذَا فِي الْبَحْرِ الرَّائِقِ. ثُمَّ إِنْ شَاءَ أَعْطَى الْفِدْيَةَ فِيْ أَوَّلِ رَمَضَانَ بِمَرَّةٍ، وَإِنْ شَاءَ أَخَّرَهَا إِلَى آخِرِهِ كَذَا فِي النَّهْرِ الْفَائِقِ. وَلَوْ قَدَرَ عَلَى الصِّيَامِ بَعْدَ مَا فَدٰى بَطَلَ حُكْمُ الْفِدَاءِ الَّذِيْ فَدَاهُ حَتّٰى يَجِبَ عَلَيْهِ الصَّوْمُ هٰكَذَا فِي النِّهَايَةِ. الفتاوى الهندية ۲۰۷/۱ كِتَابُ الصَّوْمِ الْبَابُ الْخَامِسُ فِي الْأَعْذَارِ الَّتِي تُبِيحُ الْإِفْطَارَ

قال عبدالرحمن جزري: لشيخ الهرم الفاني الذي لا يقدر على الصوم في جميع فصول السنة يفطر وتجب عن كل يوم فدية طعام مسكين. الفقه على المذاهب الأربعة ۵۲۳/۱ كتاب الصيام الأعذار المبيحة للفطر حكم الفطر لكبر السن، فتاوى حقانيه ج۴ ص ۱۷۷. فتاوى دارالعلوم ديوبند ج۶ ص ۲۸۸.

(۱) اَلْأَعْذَارِ الْمُسْقِطَةِ لِلْإِثْمِ، وَالْمُؤَاخَذَةِ ... هِيَ الْمَرَضُ، وَالسَّفَرُ، وَالْإِكْرَاهُ، وَالْحَبَلُ، وَالرَّضَاعُ، وَالْجُوْعُ، وَالْعَطَشُ، وَكِبَرُ السِّنِّ. لٰكِنْ بَعْضُهَا مُرَخِّصٌ، وَبَعْضُهَا مُبِيْحٌ مُطْلَقٌ لَا مُوْجِبٌ، كَمَا فِيْهِ خَوْفُ زِيَادَةِ ضَرَرٍ دُوْنَ خَوْفِ الْهَلَاكِ فَهُوَ مُرَخِّصٌ، وَمَا فِيْهِ خَوْفُ الْهَلَاكِ فَهُوَ مُبِيْحٌ مُطْلَقٌ بَلْ مُوْجِبٌ. بدائع الصنائع في ترتيب الشرائع ۹۴/۲ كِتَابُ الصَّوْمِ فَصْلُ حُكْمِ فَسَادِ الصَّوْمِ.

۲. نا څاپه سخت بیمار شي ( مثلا په خېټه یې درد پیدا شي ، بَلَډپرېشر یې ډیر اُوخیجي ، یا بله سخته بیماري ورته پیدا شي ) او بغیر د روژې ماتولو نه دده د مرګ خطر وي، یا یې د یو اندام ضائع کیدو خطره وي ، یا د بیماری زیاتیدو خطره وي نو داسې کس ته روژه ماتول جائز دي .

۳. که په انسان باندې ناڅاپه داسې تکلیف راشي چې هغه د برداشت کولو نه وي ، او روژه نیول ورته سخت نقصان ورکوي نو په دې وخت کې روژه ماتول بهتر دي .

۴. کومه ښځه چې حامِله وي ( یعنی ماشوم یې په خېټه وي ) او ددې سره دا یَره پیدا شي چې د روژې په وجه ماته یا ماشوم ته نقصان رسیږي نو ددې د پاره روژه ماتول جائز دي، خو که ماشوم ته سخت نقصان رسیدل یقیني وو نو بیا روژه ماتول واجب دي .

۵. چې د ډیرې وَلږې او تندې په وجه روژه دار داسې حالت ته اورسي چې دده د هلاکت خطره پیدا شي ، یا د وجود د یو اَندام ضائع کیدلو ، یا بل سخت نقصان پیدا کیدلو خطره پیدا شي نو بیا په دې حالت کې روژه ماتول جائز دي ، بیا به ددې روژې قضاء راګرځوي .

۶. د کومې زَنانه چې په روژه کې حیض یا نِفاس راشي نو دیته روژه ماتول واجب دي .

۷. چې د روژې په نه ماتولو سره روژه دار ته د قتل یا سخت نقصان دَهمکي ورکړې شي او ده ته دا یقین اوشي یا یې غالب ګمان راشي چې که اوس روژه ماته نکړم نو یا قتل کیږم، یا سخت نقصان رارسي نو ده ته شریعت دا اجازت ورکړی چې روژه ماته کړي او په رخصت باندې عمل اوکړي ، خو که ده په عزیمت باندې عمل اوکړو ( یعنی روژه یې ماته نکړه ) نو دا افضل ده ، که قتل شو نو ثواب ورته ملاویږي .

## ( تفصلي بیان )

اوس درته د مذکوره اجمالي مسائلو پوره تفصیل بیانوم :

## په اضطراري حالت کې روژه ماتول ضروري ده

که روژه دار داسې حالت ته اُورسي چې بغیر د روژې ماتولو نه دده مرګ یقیني وي ، یا مثلا یو کس په ټوپک اولږي ، یا په بل خطرناک څیز باندې اووهلې شي ، ( یا مار یې اوچیچي ) او ده ته د روژې ماتولو سخت ضرورت وي نو دداسې کس د پاره روژه ماتول

ضروري ده ، که چیرته دې روژه ماته نکړي او په دې حالت کې وفات شي نو دا به ګناهګار وي.(۱)

## د بيمارۍ سختيدو په وخت روژه ماتول

چې کله د روژه دار بيماري زياته شي ، مثلاً بلډپريشر يې ډير او خيجي ، (په خېټه کې يې ناڅاپه سخت درد پيدا شي) يا بله بيماري يې زياته شي چې په دې کې دده د پاره د دوائي استعمالول ضروري وي او ديندار ماهر حکيم يا ډاکټر ورته د روژې ماتولو مشوره ورکړي ، يا په خپله د خپل غالب ګمان موافق روژه ماتول ضروري اوګڼي نو ده ته روژه ماتول جائز دي ، بيا به صرف د همدې يوې ورځې روژې قضاء راوړي. خو په معمولي مرض کې روژه ماتول ندي په کار.(۲)

علماؤ تردې پورې ليکلي چې که يو کس دومره ډير بيمار ؤ چې په روژې نيولو سره دده د

---

(۱) وَمَنِ امْتَنَعَ عَنْ أَكْلِ الْمَيْتَةِ حَالَةَ الْمَخْمَصَةِ أَوْ صَامَ. وَلَمْ يَأْكُلْ حَتّٰى مَاتَ يَأْثَمُ. كَذَا فِي الْإِخْتِيَارِ شَرْحِ الْمُخْتَارِ. وَلَوْ جَاعَ وَلَمْ يَأْكُلْ مَعَ قُدْرَتِهِ حَتّٰى مَاتَ يَأْثَمُ. كَذَا فِي الْكُبْرٰى. الفتاوى الهندية ۳۳۸/۵ كِتَابُ الْكَرَاهِيَةِ اَلْبَابُ الْحَادِيْ عَشَرَ فِي الْكَرَاهَةِ فِي الْأَكْلِ وَمَا يَتَّصِلُ بِهِ .

قال الشرنبلالي : "و" جاز الفطر "لمن حصل له عطش شديد وجوع" الفرط "يخاف منه الهلاك" أو نقصان العقل أو ذهاب بعض الحواس وكان ذلك لا بإتعاب نفسه إذ لو كان به تلزمه الكفارة وقيل لا . مراقي الفلاح شرح متن نور الإيضاح ۲۵۸/۱ فصل في العوارض ، فتاوى فريديه ج۴ ص ۱۶۷ باب العوارض المبيحة للفطر .

(۲) اَلأعذار التي تبيح الفطر للصائم كثيرة : منها المرض، فإذا مرض الصائم، وخاف زيادة المرض بالصوم، أو خاف تأخر البرء من المرض، أو حصلت له مشقة شديدة بالصوم فإنه يجوز له الفطر باتفاق ثلاثة، وقال الحنابلة" بل يسن له الفطر، ويكره له الصوم في هذه الأحوال، أما إذا غلب على ظنه الهلاك أو الضرر الشديد بسبب الصوم، كما إذا خاف تعطيل حاسة من حواسه، فإنه يجب عليه الفطر ويحرم عليه الصوم باتفاق . الفقه على المذاهب الأربعة كتاب الصيام الأعذار المبيحة للفطر . فتاوى حقانيه ج۴ ص ۱۹۲ باب الاعذار المبيحة للافطار .

اَلْمَرِيْضُ إِذَا خَافَ عَلٰى نَفْسِهِ التَّلَفَ أَوْ ذَهَابَ عُضْوٍ يُفْطِرُ بِالْإِجْمَاعِ. وَإِنْ خَافَ زِيَادَةَ الْعِلَّةِ وَامْتِدَادَهَا فَكَذٰلِكَ عِنْدَنَا. وَعَلَيْهِ الْقَضَاءُ إِذَا أَفْطَرَ كَذَا فِي الْمُحِيْطِ . الفتاوى الهندية ۲۰۷/۱ كِتَابُ الصَّوْمِ اَلْبَابُ الْخَامِسُ فِي الْأَعْذَارِ الَّتِي تُبِيحُ الْإِفْطَارَ ، فتاوى فريديه ج۴ ص ۱۷۶ باب العوارض المبيحة للفطر .

مرګ خطرۀ ، یا د یو اَندام ضائع کیدو ، یا د یو صلاحیت ختمیدو خطره وه نو دده د پاره روژه ماتول واجب دي . (۱)

او که په روژې نیولو سره صرف د بیمارۍ زیاتیدو ، یا د زَر نه جوړیدو یَره وي نو بیا دده د پاره روژه ماتول جائز دي . (۲)

همدغه رنګې که یو کس فی الحال روغ وي خو په روژه نیولو سره د بیمارۍ پیدا کیدو قوي یَره وي نو داسې کس هم د بیمار په حکم کې دی . خو شرط دادی چې دې ته د روژې نه نیولو مشوره یو ماهِر دیندار ډاکټر ورکړې وي ، یا ده په خپله ذاتي تجربې سره معلومه کړې وي چې ماته روژه نقصان راکوي . (۳)

## نا قابلِ برداشت تکلیف په وخت روژه ماتول په کار دي

که په انسان باندې داسې تکلیف راشي چې هغه د برداشت کولو نه وي نو په دې وخت کې

---

(۱) أَمَّا الْمَرَضُ .... وَالْمُبِيْحُ الْمُطْلَقُ بَلِ الْمُوْجِبُ هُوَ الَّذِيْ يُخَافُ مِنْهُ الْهَلَاكُ لِأَنَّ فِيْهِ إِلْقَاءَ النَّفْسِ إِلَى التَّهْلُكَةِ لَا لِإِقَامَةِ حَقِّ اللهِ تَعَالٰى وَهُوَ الْوُجُوْبُ، وَالْوُجُوْبُ لَا يَبْقٰى فِيْ هٰذِهِ الْحَالَةِ، وَإِنَّهُ حَرَامٌ فَكَانَ الْإِفْطَارُ مُبَاحًا بَلْ وَاجِبًا. بدائع الصنائع في ترتيب الشرائع ۹۴/۲ كِتَابُ الصَّوْمِ فَصْلٌ حُكْمُ فَسَادِ الصَّوْمِ .

(۲) أَمَّا الْمَرَضُ فَالْمُرَخِّصُ مِنْهُ هُوَ الَّذِيْ يُخَافُ أَنْ يَزْدَادَ بِالصَّوْمِ وَإِلَيْهِ وَقَعَتِ الْإِشَارَةُ فِي الْجَامِعِ الصَّغِيْرِ. فَإِنَّهُ قَالَ فِيْ رَجُلٍ خَافَ إِنْ لَمْ يُفْطِرْ أَنْ تَزْدَادَ عَيْنَاهُ وَجَعًا، أَوْ حُمَّاهُ شِدَّةً أَفْطَرَ. وَذَكَرَ الْكَرْخِيُّ فِيْ مُخْتَصَرِهِ: أَنَّ الْمَرَضَ الَّذِيْ يُبِيْحُ الْإِفْطَارَ هُوَ مَا يُخَافُ مِنْهُ الْمَوْتُ، أَوْ زِيَادَةُ الْعِلَّةِ كَائِنًا مَا كَانَتِ الْعِلَّةُ. وَرُوِيَ عَنْ أَبِيْ حَنِيْفَةَ أَنَّهُ إِنْ كَانَ بِحَالٍ يُبَاحُ لَهُ أَدَاءُ صَلَاةِ الْفَرْضِ قَاعِدًا فَلَا بَأْسَ بِأَنْ يُفْطِرَ . بدائع الصنائع في ترتيب الشرائع ۹۴/۲ كِتَابُ الصَّوْمِ فَصْلٌ حُكْمُ فَسَادِ الصَّوْمِ . فتاوى عثمانيه ج۴ ص ۲۳۲ كتاب الصوم باب في العوارض . فتاوى دار العلوم ديوبند ج٦ ص ۳۰۰ كتاب الصوم .

(أَوْ مَرِيْضٍ خَافَ الزِّيَادَةَ) لِمَرَضِهِ وَصَحِيْحٍ خَافَ الْمَرَضَ، وَخَادِمَةٍ خَافَتِ الضَّعْفَ بِغَلَبَةِ الظَّنِّ بِأَمَارَةٍ أَوْ تَجْرِبَةٍ أَوْ بِإِخْبَارِ طَبِيْبٍ حَاذِقٍ مُسْلِمٍ مَسْتُوْرٍ .... (الْفِطْرِ) . الدر المختار ۴۲۳/۲ كِتَابُ الصَّوْمِ فَصْلٌ فِي الْعَوَارِضِ الْمُبِيْحَةِ لِعَدَمِ الصَّوْمِ ، فتاوى دار العلوم ديوبند ج٦ ص ۲٦٦ .

(۳) وَإِنْ خَافَ زِيَادَةَ الْعِلَّةِ وَامْتِدَادَهَا فَكَذٰلِكَ عِنْدَنَا . الفتاوى الهندية ۲۰۷/۱ كِتَابُ الصَّوْمِ اَلْبَابُ الْخَامِسُ فِي الْأَعْذَارِ الَّتِيْ تُبِيْحُ الْإِفْطَارَ . فتاوى عثمانيه ج۴ ص ۲۳۲ كتاب الصوم باب في العوارض .

روژه ماتول بهتر دي ، ددې د پاره چې دا د هلاکت سبب او نه ګرځي . البته که تکليف يې برداشت کولی شو نو بيا روژه پوره کول بهتر دي . (۱)

## حاملې او ماشوم ته سينه ورکوونکې ښځې سره چې د ځان يا ماشوم په باره کې سخته خطره پيدا شي

کومه ښځه چې حامله وي ( يعنی ماشوم يې په خېټه وي ) او ددې سره دا يَره پيدا شي چې د روژې په وجه ماته يا ماشوم ته نقصان رسيږي نو ددې د پاره روژه ماتول جائز دي ، خو که ماشوم ته سخت نقصان رسيدل يقيني وو نو بيا روژه ماتول واجب دي .

همدغه شان که يوې زنانه ماشوم ته سينه ورکوله ( يعنی تي خُور ماشوم يې وُ ) او په روژې نيولو سره ماشوم ته نقصان رسيدو ( مثلاً د مور شُوده کميدل او ماشوم هلاکيدو يا خرابيدو ، او د ماشوم د شُودو د پاره بله طريقه هم نه وه ) نو بيا هم دې زنانه ته روژه ماتول جائز دي .

خو که د مور روژې نيولو په وجه ماشوم ته د سخت نقصان رسيدو يقين وُ نو بيا ددې زنانه د پاره روژه ماتول واجب دي . (۲)

---

(۱) في الهندية : اَلْمَرِيْضُ إِذَا خَافَ عَلَى نَفْسِهِ التَّلَفَ أَوْ ذَهَابَ عُضْوٍ يُفْطِرُ بِالْإِجْمَاعِ، وَإِنْ خَافَ زِيَادَةَ الْعِلَّةِ وَامْتِدَادَهَا فَكَذٰلِكَ عِنْدَنَا، وَعَلَيْهِ الْقَضَاءُ إِذَا أَفْطَرَ كَذَا فِي الْمُحِيْطِ . الفتاوى الهندية ۲۰۷/۱ كِتَابُ الصَّوْمِ اَلْبَابُ الْخَامِسُ فِي الْأَعْذَارِ الَّتِي تُبِيحُ الْإِفْطَارَ . هكذا في بدائع الصنائع كتاب الصوم فصل في حكم من الفسد صومه ۶۰۹/۲ .

قال ابن عابدينؒ : ( قَوْلُهُ وَخَادِمَةٍ ) إِنَّ الْحُرَّ الْخَادِمَ أَوِ الْعَبْدَ أَوِ الذَّاهِبَ لِسَدِّ النَّهْرِ أَوْ كَرْيِهِ إِذَا اشْتَدَّ الْحَرُّ وَخَافَ الْهَلَاكَ فَلَهُ الْإِفْطَارُ كَحُرَّةٍ أَوْ أَمَةٍ ضَعُفَتْ لِلطَّبْخِ أَوْ غَسْلِ الثَّوْبِ. رد المحتار على الدر المختار ۴۲۲/۲ كتاب الصوم فَصْلٌ فِي الْعَوَارِضِ الْمُبِيحَةِ لِعَدَمِ الصَّوْمِ . فتاوى حقانيه ج۴ ص ۱۹۰ باب الاعذار المبيحة للافطار .

(۲) وَأَمَّا حَبَلُ الْمَرْأَةِ وَإِرْضَاعُهَا: إِذَا خَافَتَا الضَّرَرَ بِوَلَدِهِمَا فَمُرَخَّصٌ . بدائع الصنائع في ترتيب الشرائع ۹۷/۲ كِتَابُ الصَّوْمِ فَصْلُ حُكْمِ فَسَادِ الصَّوْمِ .

( وَمِنْهَا حَبَلُ الْمَرْأَةِ، وَإِرْضَاعُهَا) اَلْحَامِلُ وَالْمُرْضِعُ إِذَا خَافَتَا عَلَى أَنْفُسِهِمَا أَوْ، وَلَدِهِمَا أَفْطَرَتَا وَقَضَتَا، وَلَا كَفَّارَةَ عَلَيْهِمَا كَذَا فِي الْخُلَاصَةِ . الفتاوى الهندية ۲۰۷/۱ كِتَابُ الصَّوْمِ اَلْبَابُ الْخَامِسُ فِي الْأَعْذَارِ الَّتِي تُبِيحُ الْإِفْطَارَ .

فتاوى عثمانيه ج۴ ص ۲۳۳ كتاب الصوم باب في العوارض .

## چې د ډيرې وَلږې او تندې په وجه د هلاکت يا سخت نقصان خطره وي

چې د ډيرې وَلږې او تندې په وجه روژه دار دې حالت ته اورسي چې دده د هلاکت خطره پيدا شي ، يا د وجود د يو اَندام ضائع کيدلو ، يا بل سخت نقصان پيدا کيدلو خطره پيدا شي نو بيا په دې حالت کې روژه ماتول جائز دي ، بيا به ددې روژې قضاء راګرځوي.(۱)

د روټۍ پَخولو (يا بل سخت کار کولو) په وجه زَنانه دومره تکې شي چې د ډيرې تندې په وجه ددې د مرګ خطره وي ، يا د يو اَندام ضائع کيدو خطره وي نو ديته روژه ماتول جائز دي.

خو که قصداً يې دومره ډير کار اوکړو چې دې حالت ته اُورسيده نو بيا ګناهګاره ده ، خو روژه ماتول ورته بيا هم جائز دي.(۲)

## چې د روژې په نه ماتولو سره د قتل يا سخت نقصان دَهمکي ورکړې شي

که چيرته په يو صحت مَند او مقيم روژه دار باندې څوک په زُوره روژه ماتول اوغواړي او ده ته دا يقين اوشي يا يې غالب ګمان راشي چې که اوس روژه ماته نکړم نو يا قتل کيږم،

---

(۱) قال الحصكفي : وَبَقِيَ الْإِكْرَاهُ وَخَوْفُ هَلَاكٍ أَوْ نُقْصَانُ عَقْلٍ وَلَوْ بِعَطَشٍ أَوْ جُوعٍ شَدِيدٍ وَلَسْعَةِ حَيَّةٍ .... (الْفِطْر وَقَضَوْا) لُزُومًا (مَا قَدَرُوا بِلَا فِدْيَةٍ وَ) بِلَا (وَلَاءٍ) الدر المختار ۴۲۱/۲ كتاب الصوم فَصْلٌ فِي الْعَوَارِضِ الْمُبِيحَةِ لِعَدَمِ الصَّوْمِ

(وَمِنْهَا الْعَطَشُ وَالْجُوعُ كَذٰلِكَ) إِذَا خِيفَ مِنْهُمَا الْهَلَاكُ أَوْ نُقْصَانُ الْعَقْلِ كَالْأَمَةِ إِذَا ضَعُفَتْ عَنِ الْعَمَلِ وَخَشِيَتِ الْهَلَاكَ بِالصَّوْمِ . الفتاوى الهندية ۲۰۷/۱ كِتَابُ الصَّوْمِ اَلْبَابُ الْخَامِسُ فِي الْأَعْذَارِ الَّتِي تُبِيحُ الْإِفْطَارَ . فتاوى حقانيه ج۴ ص ۱۹۲ . هكذا في فتاوى عثمانيه ج۴ ص ۲۳۴ . و فتاوى دار العلوم ديوبند ج۶ ص ۲۷۷ .

وَأَمَّا الْجُوعُ وَالْعَطَشُ الشَّدِيدُ الَّذِي يُخَافُ مِنْهُ الْهَلَاكُ : فَمُبِيحٌ مُطْلَقٌ بِمَنْزِلَةِ الْمَرَضِ الَّذِي يُخَافُ مِنْهُ الْهَلَاكُ بِسَبَبِ الصَّوْمِ . بدائع الصنائع في ترتيب الشرائع ۹۷/۲ كِتَابُ الصَّوْمِ فَصْلٌ حُكْمُ فَسَادِ الصَّوْمِ .

فأمّا الجوع والعطش الشديدان اللذان لا يقدر معهما على الصوم ، فيجوز لمن حصل له شيء من ذلك الفطر ، وعليه القضاء . الفقه على المذاهب الأربعة ۵۲۲/۱ كتاب الصيام الأعذار المبيحة للفطر حكم من حصل له جوع أو عطش شديدان

يا سخت نقصان رارسي نو ده ته شريعت دا اجازت ورکړی چې روژه ماته کړي او په رخصت باندې عمل اوکړي ، خو که ده په عزيمت باندې عمل اوکړو ( يعنی روژه يې ماته نکړه ) نو دا افضل ده ، که قتل شو نو ثواب ورته ملاويږي . (۱)

خو که په مريض يا مسافر باندې په زوره روژه ماتولې شوه ، او د روژې په نه ماتولو سره ده ته د مرګ يا سخت نقصان يَره وه نو دده د پاره روژه ماتول واجب دي ، دې به په عزيمت باندې عمل نه کوي ، تر دې چې که ده په عزيمت باندې عمل اوکړو يعنی روژه يې اونيوه او هغه مړ کړو نو دا ګناهګار دی . (۲)

فقهاؤ ددې دواړو صورتونو په مينځ کې فرق هم ذکر کړی . (۳)

---

(۱) وَأَمَّا الْإِكْرَاهُ عَلَى إِفْطَارِ صَوْمِ شَهْرِ رَمَضَانَ بِالْقَتْلِ فِي حَقِّ الصَّحِيْحِ الْمُقِيْمِ فَمُرَخِّصٌ، وَالصَّوْمُ أَفْضَلُ حَتَّى لَوْ امْتَنَعَ مِنَ الْإِفْطَارِ حَتَّى قُتِلَ يُثَابُ عَلَيْهِ لِأَنَّ الْوُجُوْبَ ثَابِتٌ حَالَةَ الْإِكْرَاهِ ، وَأَثَرُ الرُّخْصَةِ فِي الْإِكْرَاهِ فِي سُقُوْطِ الْمَأْثَمِ بِالتَّرْكِ لَا فِي سُقُوْطِ الْوُجُوْبِ بَلْ بَقِيَ الْوُجُوْبُ ثَابِتًا ، وَالتَّرْكُ حَرَامًا وَإِذَا كَانَ الصَّوْمُ وَاجِبًا حَالَةَ الْإِكْرَاهِ، وَالْإِفْطَارُ حَرَامًا كَانَ حَقُّ اللهِ تَعَالَى قَائِمًا، فَهُوَ بِالْاِمْتِنَاعِ بَذَلَ نَفْسَهُ لِإِقَامَةِ حَقِّ اللهِ تَعَالَى طَلَبًا لِمَرْضَاتِهِ فَكَانَ مُجَاهِدًا فِي دِيْنِهِ فَيُثَابُ عَلَيْهِ. بدائع الصنائع في ترتيب الشرائع ۹۶/۲ كِتَابُ الصَّوْمِ فَصْلُ حُكْمُ فَسَادِ الصَّوْمِ .

(۲) وَأَمَّا فِي حَقِّ الْمَرِيْضِ وَالْمُسَافِرِ فَالْإِكْرَاهُ مُبِيْحٌ مُطْلَقٌ فِي حَقِّهِمَا بَلْ مُوْجِبٌ، وَالْأَفْضَلُ هُوَ الْإِفْطَارُ بَلْ يَجِبُ عَلَيْهِ ذٰلِكَ وَلَا يَسَعُهُ أَنْ لَا يُفْطِرَ حَتَّى لَوِ امْتَنَعَ مِنْ ذٰلِكَ فَقُتِلَ يَأْثَمُ . بدائع الصنائع في ترتيب الشرائع ۹۶/۲ كِتَابُ الصَّوْمِ فَصْلُ حُكْمُ فَسَادِ الصَّوْمِ . فتاوی عثمانيه ج۴ ص ۲۳۳ كتاب الصوم باب في العوارض .

(۳) وَوَجْهُ الْفَرْقِ: أَنَّ فِي الصَّحِيْحِ الْمُقِيْمِ الْوُجُوْبُ كَانَ ثَابِتًا قَبْلَ الْإِكْرَاهِ مِنْ غَيْرِ رُخْصَةِ التَّرْكِ أَصْلًا فَإِذَا جَاءَ بِالْإِكْرَاهِ وَأَنَّهُ مِنْ أَسْبَابِ الرُّخْصَةِ فَكَانَ أَثَرُهُ فِي إِثْبَاتِ رُخْصَةِ التَّرْكِ لَا فِي إِسْقَاطِ الْوُجُوْبِ فَكَانَ الْوُجُوْبُ قَائِمًا فَكَانَ حَقُّ اللهِ تَعَالَى قَائِمًا فَكَانَ بِالْاِمْتِنَاعِ بَاذِلًا نَفْسَهُ لِإِقَامَةِ حَقِّ اللهِ تَعَالَى فَكَانَ أَفْضَلَ كَمَا فِي الْإِكْرَاهِ عَلَى إِجْرَاءِ كَلِمَةِ الْكُفْرِ، وَالْإِكْرَاهِ عَلَى إِتْلَافِ مَالِ الْغَيْرِ فَأَمَّا فِي الْمَرِيْضِ وَالْمُسَافِرِ فَالْوُجُوْبُ مَعَ رُخْصَةِ التَّرْكِ كَانَ ثَابِتًا قَبْلَ الْإِكْرَاهِ فَلَا بُدَّ وَأَنْ يَكُوْنَ لِلْإِكْرَاهِ أَثَرٌ آخَرُ لَمْ يَكُنْ ثَابِتًا قَبْلَهُ. وَلَيْسَ ذٰلِكَ إِلَّا إِسْقَاطَ الْوُجُوْبِ رَأْسًا وَإِثْبَاتَ الْإِبَاحَةِ الْمُطْلَقَةِ فَنُزِّلَ مَنْزِلَةَ الْإِكْرَاهِ عَلَى أَكْلِ الْمَيْتَةِ وَهُنَاكَ يُبَاحُ لَهُ الْأَكْلُ بَلْ يَجِبُ عَلَيْهِ كَذَا هُنَا وَاللهُ أَعْلَمُ. بدائع الصنائع في ترتيب الشرائع ۹۶/۲ كِتَابُ الصَّوْمِ فَصْلُ حُكْمُ فَسَادِ الصَّوْمِ . فتاوی عثمانيه ج۴ ص ۲۳۳ كتاب الصوم باب في العوارض .

# چې د زَنانه حيض يا نفاس راشي

د کومې زَنانه چې په روژه کې حيض يا نِفاس راشي نو ديته روژه ماتول واجب دي. (۱) د داسې زَنانه د پاره اِمساک ضروري ندي، بلکه خوراک څکاک ورته جائز دی، خو دا به د روژه دارو نه پټ خوراک څکاک کوي. (۲)

**نوټ**: که حائضه ښځه په رمضان کې په نيمائي ورځ کې د حيض نه پاکه شوه نو دا به هم د نورو روژه دارو په شان تر ماښامه پورې خوراک څکاک نه کوي. ددې حيض د ورځو د روژو قضاء به راگرځوي. (۳)

---

(۱) (وَمِنْهَا الْحَيْضُ وَالنِّفَاسُ) وَإِذَا حَاضَتِ الْمَرْأَةُ وَنَفِسَتْ أَفْطَرَتْ كَذَا فِي الْهِدَايَةِ. الفتاوى الهندية ۲۰۷/۱ كِتَابُ الصَّوْمِ اَلْبَابُ الْخَامِسُ فِي الْأَعْذَارِ الَّتِي تُبِيحُ الْإِفْطَارَ

وَلَوْ حَاضَتِ الْمَرْأَةُ وَنَفِسَتْ بَعْدَ طُلُوعِ الْفَجْرِ فَسَدَ صَوْمُهَا لِأَنَّ الْحَيْضَ. وَالنِّفَاسَ مُنَافِيَانِ لِلصَّوْمِ لِمُنَافَاتِهِمَا أَهْلِيَّةَ الصَّوْمِ شَرْعًا. بدائع الصنائع في ترتيب الشرائع ۹۴/۲ كِتَابُ الصَّوْمِ فَصْلُ أَرْكَانِ الصِّيَامِ. فتاوى عثمانيه ج۴ ص ۲۳۳ كتاب الصوم باب في العوارض.

إذا حاضت المرأة الصائمة أو نفست وجب عليها الفطر، وحرم الصيام، ولو صامت فصومها باطل، وعليها القضاء. الفقه على المذاهب الأربعة ۵۲۲/۱ كتاب الصيام الأعذار المبيحة للفطر صوم الحائض والنفساء.

(۲) قال العلامة ابي بكر بن عليؒ: وَإِذَا حَاضَتِ الْمَرْأَةُ أَفْطَرَتْ وقضت، وكذا اذا نفست وهي تأكل سرًا او جهرًا ولايجب عليه الشبه. الجوهر النيرة ج۱ ص ۱۷۷ كتاب الصوم. فتاوى حقانيه ج ۴ ص ۱۹۰.

وأما في حالة تحقق الحيض والنفاس فيحرم الإمساك لأنّ الصوم منهما حرام ... وكذلك لا يجب الإمساك على المريض والمسافر ... ولكن لا يأكلون جهرا بل سرا. حاشية الطحطاوي على مراقي الفلاح شرح نور الإيضاح ۶۷۸/۱ كتاب الصوم فصل يجب الإمساك، مجمع الانهر ۳۷۳/۱ كتاب الصوم فصل يباح الفطر، الفقه الحنفي وادلّته ۳۸۳/۱ فقه العبادات كتاب الصوم، فتاوى محموديه ج۱۵ ص ۲۴۵ روزه کے متفرق مسائل.

واجمعوا على انه لايجب التشبه على الحائض والنفساء. خلاصة الفتاوى ج۱ ص ۲۶۳.

وَمَنْ لَمْ يَكُنْ عَلَى تِلْكَ الصِّفَةِ لَمْ يَجِبِ الْإِمْسَاكُ كَمَا فِي حَالَةِ الْحَيْضِ وَالنِّفَاسِ. ثُمَّ قِيلَ: اَلْحَائِضُ تَأْكُلُ سِرًّا لَا جَهْرًا، وَقِيلَ تَأْكُلُ سِرًّا وَجَهْرًا. وَلِلْمَرِيضِ وَالْمُسَافِرِ الْأَكْلُ جَهْرًا. البحر الرائق شرح كنز الدقائق ۳۱۱/۲ كتاب الصوم فَصْلٌ فِي عَوَارِضِ الْفِطْرِ فِي رَمَضَانَ.

(۳) أَوْ طَهُرَتْ حَائِضٌ ... أَمْسَكَ يَوْمَهُ وَقَضَى وَلَمْ يُكَفِّرْ. البحر الرائق ۳۱۳/۲ كتاب الصوم فَصْلٌ فِي عَوَارِضِ الْفِطْرِ فِي رَمَضَانَ

# په کومو شيانو سره چې روژه نه ماتيږي د هغې بيان

بعضې شيان او کارونه داسې دي چې په هغې سره روژه نه ماتيږي ، د هغې څه صورتونه درته اول اِجمالاً بيانوم ، بيا به ورپسې د هر قِسم پوره تفصيل او دلائل ذکر کوم :

## اجمالي بيان

۱. په هېره خوراک ، څکاک او کوروالي (جِماع) سره روژه نه ماتيږي .

**مسئله** : که يو کس په روژه کې په هېرَه باندې خوراک ، څکاک کولو نو که هغه کس قوي وُ (د روژو نيولو طاقت يې پوره لرلو) نو روژه ورته يادول په کار دي . او که کمزوې يا بوډا وُ نو بيا ورته يادولندې په کار .

۲ . د ګرمۍ يا تَندې په وجه بار بار لامبل يا بار بار په سَر باندې اُوبه اچولو سره روژه نه ماتيږي .

۳ . د لامبلو په وخت په غوږ کې اُوبه تلل ، يا قصدا اچولو سره روژه نه ماتيږي .

البته که په غوږ يا پوزه کې يې دوائي واچوله او دا دِماغو ته اُورسيده نو په دې سره روژه ماتيږي ، قضاء به يې راوړي خو کفاره ورباندې نشته .

۴ . د ورځې په سترګو کې رانجه کولو يا دوائي په کې اچولو سره روژه نه ماتيږي ، اګر چې د دې رَنګ او خوَند په حلق کې محسوس کړي .

۵. د مسواک استعمالولو په وخت چې خُله وينې شي او وينه حلق ته لاړه شي نو که دا وينه د لاړو نه کمه نو روژه ورباندې نه ماتيږي . البته که وينه ډيره وه او لاړې کمې وې نو په دې سره روژه ماتيږي ، صرف قضاء به يې راوړي .

٦ . که د بيمارۍ په وجه بې اِختياره اُلټۍ (قِې ، ګانګې) اوکړي ، که لږې وي او که ډيرې په دې سره روژه نه ماتيږي .

همدغه رنګې که قصدًا يې په خُله کې ګُټې ورکړې او اُلټۍ يې اوکړې نو که د ډکې خُلې نه کمې وې نو بيا هم پرې روژه نه ماتيږي . خو که ډکه خُله وې نو په دې سره روژه ماتيږي .

۷ . که اُلټۍ يې بې اِختياره تېرې شوې نو که لږې وي يا ډيرې ، په دې سره روژه نه ماتيږي

خو که قصدًا يې تېرې کړی او دا د چَنړې د مقدار نه کمې وی نو بيا هم د اکثرو محققينو په نزد باندې د ده روژه نه ماتيږي .

البته که دا د چَنړې د مقدار برابروی يا زياتې وی نو بيا په دې سره روژه ماتيږي .

۸. په غاښونو کې چې کوم خوراک يا د غوښې پُوتې نښتې وي او دا د چَنړې د مقدار نه کم وي ، دا قصدًا يا بغير د قصد نه تيرولو سره روژه نه ماتيږي ، خو شرط دا دی چې دا يې د خُلې نه نه وي راويستی .

ځکه که دا يې د خُلې نه را اُوويستلو او بيا يې تېر کړو نو که دا لږ وي يا ډير په هر صورت کې روژه ماتيږي .

۹ . روژه دار د ورځې اُوده شو او اِحتلام يې اوشو (يعنی شيطان تېر ويستو ، او غُسل ورباندې واجب شو ) نو په دې سره روژه نه ماتيږي .

که په چا باندې د شپې غُسل واجب شوې وُ بيا يې د ورځې اوکړو نو په دې سره روژه نه ماتيږي ، تر دې پورې چې که ټوله ورځ غُسل اونکړي نو بيا يې هم روژه نه ماتيږي ، البته د مونځونو په قضاء کولو او غُسل نه کولو سره ګناهګاريږي .

صرف زَنانه ته په کتلو ، يا سوچ کولو سره چې اِنزال اوشي نو په دې سره روژه نه ماتيږي .

۱۰ . په روژه کې هر قِسمه (اُوچ او تازه ) مسواک استعمالولو سره روژه نه ماتيږي ، تر دې چې که د مسواک تريخوالې په خُله کې محسوس کړي نو په دې سره هم روژه نه ماتيږي ، او نه پرې مکروهه کيږي .

۱۱ . هر قِسمه انجکشن ( ستَن ) لږولو ، يا ډَراپ خيجولو سره روژه نه ماتيږي ، که دا د غوښې وي او که د رګ . خو بيا هم حتّی الإمکان د روژې په حالت کې د رګ واله اِنجکشن نه پرهيز په کار دی .

البته که کوم اِنجکشن نېغ په نېغه ( ډارک) معدې ته داخل شي (لکه نن صبا چې ځوک سپې او چيچي نو ډاکټران ده ته ډارِک په معده کې اِنجکشَن لږوي) نو بيا په دې سره روژه ماتيږي .

۱۲ . د کومې ښځې خاوند چې سخت مزاجه (غصه ناک) وي ، او خوراک کې مالږه کمه يا زياتيدو په وجه د ښځې د وَهلو يا کنځلو کولو خطره وي نو که داسې ښځه د خوراک

څيز خوَند معلومولو د پاره صرف په ژبه باندې دا ټېسټ( معلوم) کړي (يعنی وې څکي) نو په دې سره روژه نه ماتيږي ، بغير د کراهت نه ديته دا جائز دي.

خو دا اِجازت ديته صرف په ژبه باندې د معلومولو دی ، په خُله کې به يې نه اچوي ، او حلق ته به يې هم نه رسوي.

۱۳. چې کله د ماشوم د پاره د خوراک مېده کولو څه بل اِنتظام نه وي نو چې مورد سخت ضرورت په وجه بچي ته په خُله کې خوراک مېده کوي نو په دې سره روژه نه ماتيږي ، او نه مکروه کيږي. البته بلا ضرورته دا مکروه دی.

۱۴. د روژې په حالت کې خپلې بي بي سره لوبې کول ، ښُکلول ، يو ځای ورسره څملاستل ، اُوده کيدل او بغَل ګيري ورسره کول جائز دي ، په دې سره روژه نه ماتيږي ، خو شرط دا دی چې اِنزال يې اونشي ، او په ځان يې کنټرول حاصل وي . ځکه که په ځان يې کنټرول حاصل نهٔ وُ او د جِماع يَره وه نو بيا دا کارونه کول مکرّوه دي.

**نوټ** : که صرف په ښکلولو وغيره يې اِنزال اوشو نو روژه يې ماته شوه ، صرف قضاء به راوړي ، کفاره پرې نشته.

او که جِماع ورنه اوشوه نو قضاء او کفاره دواړه ورباندې لازم دي.

۱۵. بې اِختياره چې ماشې يا مَچ په حلق کې تېرشي نو په دې سره روژه نه ماتيږي.

۱٦. بې اختياره چې ګرد و غبار يا لوګې د حلق نه تېرشي نو په دې سره روژه نه ماتيږي.

همدارنګې هرقسمه خوشبوئي ، عطر او سپَرې بُوی کولو سره روژه نه ماتيږي.

همدارنګې که د ګريټې يا لوبان لوګې بې اِختياره په پوزه کې لاړشي نو په دې سره هم روژه نه ماتيږي.

البته که ګريټې ، لوبان وغيره ځان ته لوګې کړي ، ځان ته يې نزدې کړي او قصداً دا لوګې په پوزه راکاږي ، د حلق نه تېرشي نو د دې سره روژه ماتيږي .

همدارنګې قصداً په چيلم يا سِګريټ څکلو سره هم روژه ماتيږي ، قضاء او کفاره دواړه ورباندې لازميږي.

۱۷. د بوزې بَلغم حَلق طرف ته کش کول او بيا تيرولو سره روژه نه ماتيږي.

همدارنګې د خُلې وينځلو نه پس چې د اُوبو کوم لوندوالې په خُله کې پاتې شي او دا د لاړو سره تېر کړي نو په دې سره هم روژه نه ماتيږي . (۱)

۱۸ . د خبرو کولو په وخت چې په شونډو باندې کومې لاړې جمع دي دا تيرولو سره روژه نه ماتيږي ، همدارنګې که په خُله کې ډيرې لاړې جمع کړي او بيا يې تېرې کړي نو په دې سره هم روژه نه ماتيږي .

البته که د کومو لاړو تعلق د خُلې او شونډو سره ختم شي (يعنی د خُلې نه يې په لاس کې ټوک کړي ) او بيا يې تېرې کړي نو په دې سره روژه ماتيږي .

۱۹ . د سترګو اُوښکې او د بدن خوله چې يو څاڅکې يا دوه څاڅکې په خُله کې داخل شي نو په دې سره روژه نه ماتيږي ، خو که دا خُله ته ډيره داخل شي ، په خُله کې د دې ترُش والې محسوس کړي او په يو ځل يې تېره کړي نو په دې سره روژه ماتيږي . (۲)

۲۰ . د مسَاماتو په ذريعه چې د اُوبو يا تېلو يَخوالې په بدن کې محسوس شي نو په دې سره روژه نه ماتيږي . (۳)

۲۱ . په سَر غوړولو سره روژه نه ماتيږي . (۴)

---

(۱) وَلَوْ بَقِيَ بَلَلٌ بَعْدَ الْمَضْمَضَةِ فَابْتَلَعَهُ مَعَ الْبُزَاقِ لَمْ يُفْطِرْهُ، وَلَوْ دَخَلَ الْمُخَاطُ أَنْفَهُ مِنْ رَأْسِهِ ثُمَّ اسْتَشَمَّهُ فَأَدْخَلَ حَلْقَهُ عَمْدًا لَمْ يُفْطِرْهُ ؛ لِأَنَّهُ بِمَنْزِلَةِ رِيقِهِ كَذَا فِي مُحِيطِ السَّرَخْسِيِّ. الفتاوى الهندية كتاب الصوم الباب الرابع في ما يفسد ومالايفسد النَّوْعُ الْأَوَّلُ مَا يُوجِبُ الْقَضَاءَ دُونَ الْكَفَّارَةِ ۱/۲۰۳ .

(۲) اَلدُّمُوعُ إذَا دَخَلَتْ فَمَ الصَّائِمِ إنْ كَانَ قَلِيلًا كَالْقَطْرَةِ وَالْقَطْرَتَيْنِ أَوْ نَحْوِهَا لَا يُفْسِدُ صَوْمَهُ، وَإِنْ كَانَ كَثِيرًا حَتَّى وَجَدَ مُلُوحَتَهُ فِي جَمِيعِ فِيهِ، وَاجْتَمَعَ شَيْءٌ كَثِيرٌ فَابْتَلَعَهُ يُفْسِدُ صَوْمَهُ، وَكَذَا عَرَقُ الْوَجْهِ إذَا دَخَلَ فَمَ الصَّائِمِ كَذَا فِي الْخُلَاصَةِ . الفتاوى الهندية كتاب الصوم الباب الرابع في ما يفسد ومالايفسد النَّوْعُ الْأَوَّلُ مَا يُوجِبُ الْقَضَاءَ دُونَ الْكَفَّارَةِ ۱/۲۰۳ . هكذا في فتاوى تاتارخانية ج۲ ص ۳۶۹ .

(۳) مَا يَدْخُلُ مِنْ مَسَامِّ الْبَدَنِ مِنَ الدُّهْنِ لَا يُفْطِرُ . وَمَنِ اغْتَسَلَ فِي مَاءٍ وَجَدَ بَرْدَهُ فِي بَاطِنِهِ لَا يُفْطِرُ . الفتاوى الهندية كتاب الصوم الباب الرابع في ما يفسد ومالايفسد النَّوْعُ الْأَوَّلُ مَا يُوجِبُ الْقَضَاءَ دُونَ الْكَفَّارَةِ ۱/۲۰۳ .

(۴) ملخص از بدائع الصنائع كتاب الصوم فصل اركان الصيام ۲/۹۱ ، الفتاوى الهندية كتاب الصوم الباب الرابع في ما يفسد ومالايفسد ۱/۲۰۲–۲۰۴ ، فتاوى عثمانيه ج۴ ص ۱۷۸ ، د جنت كالي ص ۱۸۵ .

# تفصيلي بيان

په کومو شيان او کارونو سره چې روژه نه ماتيږي ، د هغې څه صورتونه درته تفصيلاً بيانوم:

## په هېره خوراک ، څکاک او جماع سره روژه نه ماتيږي

که کوم کس په روژه کې په هېره سره خوراک ، څکاک يا جِماع اوکړي نو په دې سره روژه نه ماتيږي .

امام مسلم رحمه الله په دې باندې مستقل باب لېږولی :

" بَابُ أَكْلُ النَّاسِيْ وَشُرْبُهُ وَجِمَاعُهُ لَا يُفْطِرُ " . چې په هېره خوراک ، څکاک او جِماع سره روژه نه ماتيږي .

په بخاري شريف او مسلم شريف کې دا حديث ذکر دی ، رسول الله ﷺ فرمايي :

مَنْ نَسِيَ وَهُوَ صَائِمٌ فَأَكَلَ أَوْ شَرِبَ فَلْيُتِمَّ صَوْمَهُ فَإِنَّمَا أَطْعَمَهُ اللهُ وَسَقَاهُ . (۱)

څوک چې روژه دار وي او دې په هېره باندې خوراک او څکاک اوکړي نو دا دې خپله روژه پوره کړي ځکه الله تعالی په ده باندې خوراک او څکاک کړې دی ( لهذا په دې سره دده روژه نه ماتيږي ) .

ددې حديث ذکر کولو نه روستو امام نووي رحمه الله ليکلي :

(۱) صحيح مسلم كِتَاب الصِّيَامِ بَابُ أَكْلُ النَّاسِي وَشُرْبُهُ وَجِمَاعُهُ لَا يُفْطِرُ رقم الحديث ۱۷۱(۱۱۵۵) ، صحيح البخاري كِتَابُ الصَّوْمِ بَابُ الصَّائِمِ إِذَا أَكَلَ أَوْ شَرِبَ نَاسِيًا . مشكاة المصابيح باب تنزيه الصوم الفصل الاول رقم الحديث ۲۰۰۳(۵) ، سنن ابن ماجه باب ماجاء فيمن افطر ناسيا رقم الحديث ۱۶۷۳ .

وَقَالَ الحَسَنُ وَمُجَاهِدٌ: « إِنْ جَامَعَ نَاسِيًا فَلاَ شَيْءَ عَلَيْهِ » . صحيح البخاري كِتَابُ الصَّوْمِ بَابُ الصَّائِمِ إِذَا أَكَلَ أَوْ شَرِبَ نَاسِيًا .

وفي رواية : عَنْ أَبِي هُرَيْرَةَ رَضِيَ اللهُ عَنْهُ قَالَ: قَالَ النَّبِيُّ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ: مَنْ أَكَلَ نَاسِيًا وَهُوَ صَائِمٌ فَلْيُتِمَّ صَوْمَهُ فَإِنَّمَا أَطْعَمَهُ اللهُ وَسَقَاهُ . صحيح البخاري كِتَابُ الأَيْمَانِ وَالنُّذُورِ بَابُ إِذَا حَنِثَ نَاسِيًا فِي الأَيْمَانِ رقم الحديث ۶۶۶۹ .

فِيهِ دَلَالَةٌ لِمَذْهَبِ الْأَكْثَرِينَ أَنَّ الصَّائِمَ إِذَا أَكَلَ أَوْ شَرِبَ أَوْ جَامَعَ نَاسِيًا لَا يُفْطِرُ . وَمِمَّنْ قَالَ بِهٰذَا اَلشَّافِعِيُّ وَأَبُو حَنِيفَةَ وَدَاوُدُ وَآخَرُونَ . (۱)

دا حديث د اکثره علماؤ د پاره دليل دی په دې خبره باندې چې که روژه دار په هېره سره خوراک، څکاک يا جِماع اوکړي نو په دې سره د ده روژه نه ماتيږي. دا قول د امام شافعي، امام ابوحنيفه، امام داؤد رحمهم الله او نورو علماؤ دی.

فقهاء کرامو هم په خپلو کتابونو کې همدغه مسئله په تفصيل سره ذکر کړې. (۲)

**مسئله :** که يو کس په روژه کې په هېره باندې خوراک، څکاک کولو نو که هغه کس قوي وُ (د روژې نيولو طاقت يې پوره لرلو) نو روژه ورته يادول په کار دي. او که کمزوي يا بوډا وُ نو بيا ورته يادول ندي په کار. (۳)

---

(۱) شرح النووي على مسلم (المنهاج شرح صحيح مسلم بن الحجاج) ۳۵/۸ باب أكل الناسي وشربه وجماعه لا يفطر.

په ترمذي شريف کې دا مضمون په دې الفاظو بيان شوی: عَنْ أَبِي هُرَيْرَةَ ﷺ قَالَ: قَالَ رَسُولُ اللهِ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ: مَنْ أَكَلَ أَوْ شَرِبَ نَاسِيًا وَهُوَ صَائِمٌ فَلَا يُفْطِرْ، فَإِنَّمَا هُوَ رِزْقٌ رَزَقَهُ اللهُ. سنن الترمذي أَبْوَابُ الصَّوْمِ عَنْ رَسُولِ اللهِ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ بَابُ مَا جَاءَ فِي الصَّائِمِ يَأْكُلُ أَوْ يَشْرَبُ نَاسِيًا رقم الحديث ۷۲۱.

وقال الترمذي: حَدِيثُ أَبِي هُرَيْرَةَ ﷺ حَدِيثٌ حَسَنٌ صَحِيحٌ، وَالْعَمَلُ عَلَى هٰذَا عِنْدَ أَكْثَرِ أَهْلِ الْعِلْمِ، وَبِهِ يَقُولُ سُفْيَانُ الثَّوْرِيُّ، وَالشَّافِعِيُّ، وَأَحْمَدُ، وَإِسْحَاقُ.

(۲) **د يو څو فتاؤو عبارتونه درته رانقل کوم :** په عالمګيري کې ذکر دي: إِذَا أَكَلَ الصَّائِمُ أَوْ شَرِبَ أَوْ جَامَعَ نَاسِيًا لَمْ يُفْطِرْ، وَلَا فَرْقَ بَيْنَ الْفَرْضِ وَالنَّفْلِ كَذَا فِي الْهِدَايَةِ. الفتاوى الهندية كتاب الصوم اَلْبَابُ الرَّابِعُ فِيمَا يُفْسِدُ وَمَا لَا يُفْسِدُ ۲۰۲/۱.

په هدايه کې ذکر دي: وَإِذَا أَكَلَ الصَّائِمُ أَوْ شَرِبَ أَوْ جَامَعَ نَهَارًا نَاسِيًا لَمْ يُفْطِرْ. الهداية كتاب الصوم ج۱ ص ۱۹۹

په الفقه علي المذاهب الاربعه کې ذکر دي: أما النسيان فإنه لا يفسد الصيام أصلاً، فلا يجب به قضاء ولا كفارة. الفقه علي المذاهب الاربعه ۵۱۳/۱ كتاب الصيام ما يوجب القضاء دون الكفارة وما لا يوجب شيئاً.

فتاوى حقانيه ج۴ ص ۱۶۶، فتاوى علمائيه ج۴ ص ۲۱۱، فتاوى فريديه ج۴ ۱۱۲.

(۳) رَجُلٌ نَظَرَ إِلَى صَائِمٍ يَأْكُلُ نَاسِيًا إِنْ رَأَى فِيهِ قُوَّةً يُمْكِنُهُ أَنْ يُتِمَّ الصَّوْمَ إِلَى اللَّيْلِ فَالْمُخْتَارُ أَنَّهُ يُكْرَهُ أَنْ لَا يُذَكِّرَهُ وَإِنْ كَانَ يَضْعُفُ فِي الصَّوْمِ بِأَنْ كَانَ شَيْخًا كَبِيرًا يَسَعُهُ أَنْ لَا يُخْبِرَهُ كَذَا فِي الظَّهِيرِيَّةِ فِي فَصْلِ الْأَعْذَارِ الْمُبِيحَةِ. الفتاوى الهندية ۲۰۲/۱ كِتَابُ الصَّوْمِ اَلْبَابُ الرَّابِعُ فِيمَا يُفْسِدُ وَمَا لَا يُفْسِدُ.

## چې ځوک په ځان کنټرول نه لري د هغه د پاره د بعضې کارونو نه ځان ساتل په کار دي

چا چې واده کړې وي او ځوان وي نو د هغه د پاره په روژه کې د بعضې کارونو نه ځان ساتل په کار دي، ددې د پاره چې روژه يې ماته نشي، البته که په ځان يې کنټرول لرلو نو بيا خير دی، اجازت شته.

د ابوداؤد شريف حديث دی، حضرت ابوهريرة رضي الله عنه فرمايي:

إِنَّ رَجُلًا سَأَلَ النَّبِيَّ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ عَنِ الْمُبَاشَرَةِ لِلصَّائِمِ، « فَرَخَّصَ لَهُ ». وَأَتَاهُ آخَرُ، فَسَأَلَهُ، « فَنَهَاهُ »، فَإِذَا الَّذِي رَخَّصَ لَهُ شَيْخٌ، وَالَّذِي نَهَاهُ شَابٌّ (۱)

يو کس د نبي کريم صلی الله عليه وسلم نه پوښتنه اوکړه چې د روژه دار د پاره د خپلې بي بي سره مباشرت (يعنی خپله بي بي ښکلول، د هغې سره خپل بدن لږول، بَغل گيري کول) څنګه دی؟ (يعنی دا جائز دی او که نه؟) نبي عليه السلام هغه ته اجازت ورکړو.

بيا يو بل کس راغی او د پيغمبر عليه السلام نه يې همدغه پوښتنه اوکړه، نبي عليه السلام هغه ددې کار نه منع کړو.

(حضرت ابوهريرة رضي الله عنه فرمايي چې مونږ ددې دواړو کسانو په حالت کې فکر اوکړو نو)

کوم کس ته چې نبي عليه السلام د مباشرت اجازت ورکړې ؤ هغه بوډا ؤ، او کوم کس يې چې منع کړې ؤ هغه ځوان ؤ.

**فائده**: پيغمبر عليه السلام هر کس ته د هغه موافق جواب ورکړې ؤ، بوډا ته يې د بي بي ښکلولو اجازت ځکه ورکړې ؤ چې هغه په خپل ځان باندې کنټرول لرلې شو، او ځوان ته يې اجازت ځکه ورنکړو چې هغه به د ځوانۍ په وجه خپل ځان کنټرول نه کړې شي، هسې نه چې په جِماع کې واقع شي او روژه يې ماته شي. (۲)

---

(۱) سنن ابي داؤد كِتَاب الصَّوْمِ بَابُ كَرَاهِيَتِهِ لِلشَّابِّ رقم الحديث ۲۳۸۷ وقال الالباني: حسن صحيح. السنن الكبرى للبيهقي باب كراهية القبلة لمن حركت القبلة شهوته رقم الحديث ۸۰۸۳.

(۲) ملا علي قاري رحمه الله د مذکوره حديث تشريح داسې نقل کړی: (عَنْ أَبِي هُرَيْرَةَ رضي الله عنه أَنَّ رَجُلًا سَأَلَ النَّبِيَّ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ عَنِ الْمُبَاشَرَةِ لِلصَّائِمِ) قِيلَ: هِيَ مَسُّ الزَّوْجِ الْمَرْأَةَ ←←←←←←←

## د روژې په حالت کې خپله بي بي ښکلول يا بغل ګيري ورسره کول

فقهاؤ دا مسئله په تفصيل سره ليکلي چې کله روژه دار ته په خپل ځان باندې کنټرول حاصل وي نو ده ته خپله بي بي ښکلول، بغل ګيري ورسره کول (او يو ځای د روژې په حالت کې اُوده کيدل) جائز دي، خو چې په ځان باندې يې يقين وي، البته که د فساد خطره وه نو بيا دا کارونه مکروه دي، ددې نه ځان ساتل په کار دي، ځکه هسې نه چې روژه يې ماته شي. دا مسئله په عالمګيري کې ذکر ده. (۱)

همدا رنګې په دُرمختار او نورو کتابونو کې هم ذکر ده. (۲)

---

←←←← فِيمَا دُونَ الْفَرْجِ، وَقِيلَ: هِيَ الْقُبْلَةُ وَاللَّمْسُ بِالْيَدِ ( فَرَخَّصَ لَهُ، وَأَتَاهُ آخَرُ فَسَأَلَهُ ) أَيْ عَنْهَا (فَنَهَاهُ ) قَالَ أَبُو هُرَيْرَةَ : فَتَأَمَّلْنَا حَالَهُمَا ( فَإِذَا الَّذِي رَخَّصَ لَهُ ) أَيْ فِيهَا ( شَيْخٌ، وَأَمَّا الَّذِي نَهَاهُ ) أَيْ عَنْهَا (شَابٌّ ) . فِيهِ إِشَارَةٌ إِلَى أَنَّهُ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ أَجَابَهُمَا بِمُقْتَضَى الْحِكْمَةِ ، إِذِ الْغَالِبُ عَلَى الشَّيْخِ سُكُونُ الشَّهْوَةِ وَأَمْنُ الْفِتْنَةِ فَأَجَازَ لَهُ ، بِخِلَافِ الشَّابِّ فَنَهَاهُ اِهْتِمَامًا لَهُ . مرقاة المفاتيح شرح مشكاة المصابيح كِتَابُ الصَّوْمِ بَابُ تَنْزِيهِ الصَّوْمِ الفصل الثالي في تشريح حديث رقم ۲۰۰٦ .

(۱) لَا بَأْسَ بِالْقُبْلَةِ إِذَا أَمِنَ عَلَى نَفْسِهِ مِنَ الْجِمَاعِ وَالْإِنْزَالِ ، وَيُكْرَهُ إِنْ لَمْ يَأْمَنْ ،وَالْمَسُّ فِي جَمِيعِ ذٰلِكَ كَالْقُبْلَةِ كَذَا فِي التَّبْيِينِ. وَأَمَّا الْقُبْلَةُ الْفَاحِشَةُ، وَهِيَ أَنْ يَمُصَّ شَفَتَيْهَا فَتُكْرَهُ عَلَى الْإِطْلَاقِ . الفتاوى الهندية ۱/ ۲۰۰ كِتَابُ الصَّوْمِ اَلْبَابُ الثَّالِثُ فِيمَا يُكْرَهُ لِلصَّائِمِ وَمَا لَا يُكْرَهُ ، ومثله في البحر الرائق ج۲ ص ۲۷۲ باب ما يفسد الصوم و مالايفسده

(۲) قال الحصكفيؒ: (وَ) كُرِهَ (قُبْلَةٌ) وَمَسٌّ وَمُعَانَقَةٌ وَمُبَاشَرَةٌ فَاحِشَةٌ (إِنْ لَمْ يَأْمَنْ ) الْمُفْسِدَ وَإِنْ أَمِنَ لَا بَأْسَ. الدرالمختار ۲/ ۴۱۵ كِتَابُ الصَّوْمِ بَابُ مَا يُفْسِدُ الصَّوْمَ وَمَا لَا يُفْسِدُهُ . فتاوى حقانيه ج۴ ص ۱٦۵ . النهر الفائق ۲/ ۲۷ فصل في العوارض ، فتاوى محمودية ج۱۵ ص ۱۸۸ روزہ کے مفسدات ومکروهات . فتاوى دارالعلوم ديوبند ج٦ ص ۲٦۱ كتاب الصوم

قال الشرنبلاليؒ: لاتكره للصائم القبلة والمباشرة مع الأمن من الإنزال والوقاع لما روي عَنْ عَائِشَةَ رَضِيَ اللهُ عَنْهَا، قَالَتْ: كَانَ النَّبِيُّ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ « يُقَبِّلُ وَيُبَاشِرُ وَهُوَ صَائِمٌ، وَكَانَ أَمْلَكَكُمْ لِإِرْبِهِ » . صحيح البخاري رقم الحديث ۱۹۲۷ كِتَابُ الصَّوْمِ بَابُ الْمُبَاشَرَةِ لِلصَّائِمِ ) و هذا ظاهر الرواية . امداد الفتاح شرح نورالايضاح ص ٦۹٦ فصل فيما يكره و فيما لايكره و مايستحب ، فتاوى فريديه ج۴ ص ۱۴۲ و ص ۱۳۸

(قوله عليه السلام : وَيُبَاشِرُ ) من المباشرة وهي الملامسة وأصله من لمس بشرة الرجل بشرة المرأة وقد ترد بمعنى الوطء في الفرج وخارجا منه والمراد هنا غير الجماع . تعليق مصطفى البغا على البخاري .

خو که پدې ښکلولو سره د چا هم اِنزال اوشو د هغه روژه ماته شوه ، صرف ددې روژې قضاء به راوړي ، کفاره پرې نشته. (۱)

البته که روژه دار يوې ښائسته ښځې ته د شهوت په نظر سره اوکتل ، او په دې سره دده اِنزال اوشو نو په دې سره دده روژه نه ماتيږي ، ځکه په اِنزال سره روژه ماتيدو د پاره دا ضروري ده چې يا جِماعِ حقيقي موجود شي يا جِماعِ حُکمي ، حالانکه په شهوت سره کتلو کې دا دواړه خبرې نشته ، لهذا په دې سره دده روژه هم نه ماتيږي. (۲)

---

(۱) وَإِذَا قَبَّلَ امْرَأَتَهُ وَأَنْزَلَ فَسَدَ صَوْمُهُ مِنْ غَيْرِ كَفَّارَةٍ كَذَا فِي الْمُحِيطِ. وَكَذَا فِي تَقْبِيلِ الْأَمَةِ وَالْغُلَامِ وَتَقْبِيلِهَا زَوْجَهَا إِذَا رَأَتْ بَلَلًا ... وَالْمَسُّ وَالْمُبَاشَرَةُ وَالْمُصَافَحَةُ وَالْمُعَانَقَةُ كَالْقُبْلَةِ. كَذَا فِي الْبَحْرِ الرَّائِقِ. الفتاوى الهندية ۲۰۴/۱ كِتَابُ الصَّوْمِ اَلْبَابُ الرَّابِعُ فِيمَا يُفْسِدُ وَمَالَا يُفْسِدُ. شامي ج۲ ص ۳۹۶ كتاب الصوم باب مايفسد الصوم ، و مثله في البحر الرائق ج۲ ص ۲۷۲ باب مايفسد الصوم ومالايفسده ، فتاوى عثمانيه ج۴ ص ۱۹۸ كتاب الصوم ، فتاوى حقانيه ج۴ ص ۱۵۶ باب مايفسد الصوم و مالايفسد ، فتاوى فريديه ج۴ ص ۱۵۸ باب ما تجب به القضاء والكفارة.

قال العلامة قاضي ثناء الله پاني پتي رحمه الله: يا زن را بوسه كرد يا مس بشهوت كرد ، اگر انزال شد روزه فاسد شود ، و الا فاسد نه شود. مالابدمنه ص ۹۷ كتاب الصوم. فتاوى حقانيه ج۴ ص ۱۷۱ .

قال الحصكفيّ : أَوْ لَمَسَ فَأَنْزَلَ قَضَى فَقَطْ . الدرالمختار ۴۰۶/۲ كِتَابُ الصَّوْمِ بَابُ مَا يُفْسِدُ الصَّوْمَ وَمَالَا يُفْسِدُهُ. هداية مع الفتح ۳۳۱/۲ باب ما يوجب القضاء والكفارة ، النهر الفائق ۱۶/۲ باب ما يفسد الصوم ومالايفسده ، فتاوى محموديه ج۱۵ ص ۱۱۸ ، وص ۲۰۷ . فتاوى دارالعلوم ديوبند ج۶ ص ۲۶۳ ، و ص ۲۶۵ .

(۲) قال ابن الهمامؒ: (قَوْلُهُ : وَكَذَا إِذَا نَظَرَ إِلَى امْرَأَةٍ بِشَهْوَةٍ إِلَى وَجْهِهَا أَوْ فَرْجِهَا كَرَّرَ النَّظَرَ أَوْ لَا لَا يُفْطِرُ إِذَا أَنْزَلَ (لِمَا بَيَّنَّا) أَنَّهُ لَمْ تُوجَدْ صُورَةُ الْجِمَاعِ وَلَا مَعْنَاهُ وَهُوَ لِلْإِنْزَالِ عَنْ مُبَاشَرَةٍ . فتح القدير للكمال ابن همام ۳۲۹/۲ كِتَابُ الصَّوْمِ بَابُ مَا يُوجِبُ الْقَضَاءَ وَالْكَفَّارَةَ . فتاوى حقانيه ج۴ ص ۱۷۱ .

قال العلامة بدرالدين عينيؒ: (وكذا) أي لا يفطر (إذا نظر إلى المرأة فأمنى) أي أنزل المني (كما بينا) : وهو قوله : لأنه لم يوجد صورة الجماع ولا معناه . ثم إنه سواء إذا نظر إلى وجهها وفرجها بخلاف حرمة المصاهرة فإنها تثبت بالنظر إلى فرجها . البناية شرح الهداية ۳۹/۴ كتاب الصوم باب ما يوجب القضاء والكفارة ، ومثله في طحطاوي باب في بيان مالايفسد الصوم ، فتاوى حقانيه ج۴ ص ۱۵۹ .

وَإِذَا نَظَرَ إِلَى امْرَأَةٍ بِشَهْوَةٍ فِي وَجْهِهَا أَوْ فَرْجِهَا كَرَّرَ النَّظَرَ أَولَا لَا يُفْطِرُ إِذَا أَنْزَلَ كَذَا فِي فَتْحِ الْقَدِيرِ. وَكَذَا لَا يُفْطِرُ بِالْفِكْرِ إِذَا أَمْنَى هٰكَذَا فِي السِّرَاجِ الْوَهَّاجِ. الفتاوى الهندية ۲۰۴/۱ الباب الرابع فيما يفسد ومالايفسد.

**د محبوب کس د لاړو تيرولو حکم**: د محبوب کس (مثلا ښځې او دوست) په لاړو تيرولو سره روژه ماتيږي، قضاء او کفاره دواړه لازميږي، ځکه د (لَب چوسۍ په وخت د) دوی د لاړو نه لِذت حاصلولې شي، البته د نورو خلقو لاړو تيرولو سره صرف قضاء لازميږي خو کفاره نه لازميږي، ځکه په دې کې انسان لِذت نه محسوسوي.(۱)

**خپلې لاړې تيرولو سره روژه نه ماتيږي**: د خبرو کولو په وخت چې په شونډو باندې کومې لاړې جَمع وي دا تيرولو سره روژه نه ماتيږي.(۲)

همدارنګې که يو کس په خپله خُله کې ډيرې لاړې جَمع کړي او بيا يې تېرې کړي نو په دې سره هم روژه نه ماتيږي.

البته که د کومو لاړو تعلق د خُلې او شونډو سره ختم شي (يعنی د خُلې نه يې په لاس کې تُوک کړي) او بيا يې تېرې کړي نو په دې سره روژه ماتيږي، صرف قضاء به يې

---

(۱) "و" منه "ابتلاع بزاق زوجته أو" بزاق "صديقه" لأنه يتلذذ به "لا" تلزمه الكفارة ببزاق "غيرهما" لأنه يعافه. مراقي الفلاح شرح متن نور الإيضاح ۲۴۸/۱ كتاب الصوم باب ما يفسد الصوم وتجب به الكفارة مع القضاء، الفتاوى الهندية ۱/ ۲۰۳ الباب الرابع فيما يفسد ومالايفسد. فتاوى محموديه ج۱۵ ص ۱۶۳ روزه کے مفسدات ومکروہات.

وَكَذَا (يلزم عليه الكفارة فقط) إِذَا ابْتَلَعَ بُزَاقَ غَيْرِهِ لِأَنَّ هٰذَا مِمَّا يُعَافُ مِنْهُ حَتّٰى لَوِ ابْتَلَعَ لُعَابَ حَبِيْبِهِ. أَوْ صَدِيْقِهِ ذَكَرَ الشَّيْخُ الْإِمَامُ الزَّاهِدُ شَمْسُ الْأَئِمَّةِ الحَلْوَانِيُّ أَنَّ عَلَيْهِ الْقَضَاءَ وَالْكَفَّارَةَ لِأَنَّ الْحَبِيبَ لَا يَعَافُ رِيْقَ حَبِيْبِهِ أَوْ صَدِيْقِهِ. بدائع الصنائع في ترتيب الشرائع ۹۹/۲ كتاب الصوم فصل في حكم فساد الصوم.

وَلَوْ ابْتَلَعَ بُزَاقَ غَيْرِهِ فَسَدَ صَوْمُهُ بِغَيْرِ كَفَّارَةٍ إِلَّا إِذَا كَانَ بُزَاقَ صَدِيْقِهِ فَحِيْنَئِذٍ تَلْزَمُهُ الْكَفَّارَةُ كَذَا فِي الْمُحِيْطِ. الفتاوى الهندية ۲۰۳/۱ الباب الرابع فيما يفسد ومالايفسد، فتاوى عثمانيه ج۴ ص ۲۱۵.

(۲) تَرَطَّبَتْ شَفَتَيْهِ بِبُزَاقِهِ عِنْدَ الْكَلَامِ أَوْ غَيْرِهِ فَابْتَلَعَهُ لَا يَفْسُدُ لِلضَّرُورَةِ. الفتاوى الهندية ۱/ ۲۰۳ الباب الرابع فيما يفسد ومالايفسد

كَمَا لَوْ تَرَطَّبَ شَفَتَاهُ بِالْبُزَاقِ عِنْدَ الْكَلَامِ وَنَحْوِهِ فَابْتَلَعَهُ أَوْ سَالَ رِيْقُهُ إِلَى ذَقَنِهِ كَالْخَيْطِ وَلَمْ يَنْقَطِعْ فَاسْتَنْشَقَهُ ...(لَمْ يُفْطِرْ). الدر المختار ۴۰۰/۲ كِتَابُ الصَّوْمِ بَابُ مَا يُفْسِدُ الصَّوْمَ وَمَا لَا يُفْسِدُهُ. فتاوى دارالعلوم ديوبند ج۶ ص ۲۶۰.

رااوګرځوي، کفاره وربانديې نشته .(۱)

## په روژه کې د ګرمۍ يا تندې په وجه په سَر باندې اُوبه اچول جائز دي

په روژه کې د ګرمۍ يا تَندې ختمولو د پاره په خپل سَر باندې بار بار اُوبه اچول، يا بار بار لامبل، يا په اُوبو کې کيناستل جائز دي خوشرط دادی چې اوبه په حلق کې تيرې نه شي د ابوداؤد شريف حديث دی، د رسول الله ﷺ د بعضې صحابه کرامو نه دا حديث نقل دی:

لَقَدْ رَأَيْتُ رَسُوْلَ اللهِ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ بِالْعَرْجِ يَصُبُّ عَلَى رَأْسِهِ الْمَاءَ وَهُوَ صَائِمٌ مِنَ الْعَطَشِ أَوْ مِنَ الْحَرِّ .(۲)

په تحقيق سره ما رسول الله ﷺ په " عرج " مقام کې ( کوم چې د مکې او مدينې په مينځ کې د يو ځای نوم دی ) اوليد چې روژه يې نيولې وه او د تَندې يا ګرمۍ د وجې يې په سَر مبارک باندې اُوبه اچولې .(۳)

**فايده**: ابن ملک رحمه الله فرمايي چې دا حديث په دې باندې دلالت کوي چې د روژه دار د پاره په خپل سَر باندې اُوبه اچول يا په اُوبو کې کيناستل مکروه ندي .

همدغه شان مسئله په درمختار او نورالايضاح کې هم ذکر ده .

په مرقاة شرح مشکوة کې ذکر دي چې د ګرمۍ يا تندې ختمولو د پاره په سَر اُوبه اچول، په اُوبو کې کيناستل، يا لامبل وغيره د روژې د رُوح خلاف ندي . نبي عليه السلام به دغه شان کار ځکه کولو چې په دې کې د خپل عِجز اِظهار دی .

---

(۱) وَلَوْ أَخْرَجَ الْبُزَاقَ مِنْ فِيْهِ ثُمَّ ابْتَلَعَهُ فَعَلَيْهِ الْقَضَاءُ وَلَا كَفَّارَةَ عَلَيْهِ. بدائع الصنائع في ترتيب الشرائع ۹۹/۲ کتاب الصوم فصل في حكم فساد الصوم .

وَإِنِ ابْتَلَعَ بُزَاقَ نَفْسِهِ مِنْ يَدِهِ فَسَدَ صَوْمُهُ وَلَا تَلْزَمُهُ الْكَفَّارَةُ . الفتاوى الهندية ۲۰۳/۱ الباب الرابع فيما يفسد ومالايفسد .

(۲) سنن ابي داؤد كِتَاب الصَّوْمِ بَابُ الصَّائِمِ يَصُبُّ عَلَيْهِ الْمَاءَ مِنَ الْعَطَشِ وَيُبَالِغُ فِي الإِسْتِنْشَاقِ رقم الحديث ۲۳۶۵، قال الالباني: صحيح . موطاء امام مالک باب الصيام فی السفر رقم ۷۹۱، مسند احمد مخرجا رقم ۱۵۹۰۳، المستدرک علی الصحيحين للحاکم رقم ۱۵۷۸، مشکاة المصابيح باب تنزيه الصوم الفصل الثاني رقم الحديث ۲۰۱۱(۱۳).

(۳) همدغه شان مسئله په " فتاوی حقانيه ج۴ ص۱۷۱ " کې هم ذکر ده .

بل دا چې په دې کې د اُمت د پاره آساني هم ده . (۱)

## د لامبلو په وخت په غوږ کې اُوبه تللو سره روژه نه ماتيږي

که روژه دار په تالاب کې غوپه اووهله ، يا يې غُسل کولو او په غوږ کې اُوبه لاړې نو په دې سره روژه نه ماتيږي . (۲)

تر دې پورې که قصدا يې په غوږ کې اُوبه واچولی نو په دې سره هم روژه نه ماتيږي . (۳)

خو که اُوبه يې په حلق کې لاړې نو بيا ورسره روژه ماتيږي ، لهذا احتياط په کار دی .

البته که په غوږ يا پوزه کې يې دوائي واچوله او دا دِماغو ته اُورسيده نو په دې سره روژه ماتيږي ، قضاء به يې راوړي خو کفاره ورباندې نشته . (۴)

---

(۱) قَالَ ابْنُ الْمَلَكِ: وَهٰذَا يَدُلُّ عَلَى أَنْ لَا يُكْرَهَ لِلصَّائِمِ أَنْ يَصُبَّ عَلَى رَأْسِهِ الْمَاءَ وَأَنْ يَنْغَمِسَ فِيهِ. وَإِنْ ظَهَرَتْ بُرُودَتُهُ فِي بَاطِنِهِ ... وَهُوَ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ فَعَلَ ذٰلِكَ لِبَيَانِ الْجَوَازِ مِنْ إِظْهَارِ الْعَجْزِ لِلرَّحْمَةِ عَلَى ضُعَفَاءِ الْأُمَّةِ . مرقاة المفاتيح شرح مشكاة المصابيح ۱۳۹۶/۴ كِتَابُ الصَّوْمِ بَابُ تَنْزِيهِ الصَّوْمِ اَلْفَصْلُ الْأَوَّلُ في تشريح الحديث ۲۰۱۱ [۱۳] .

(۲) وَفِي فَتَاوٰى قَاضِيْ خَانْ : أَنَّهُ إِنْ خَاضَ الْمَاءَ فَدَخَلَ أُذُنَهُ لَا يُفْسِدُ ، وَإِنْ صَبَّ الْمَاءَ فِي أُذُنِهِ فَالصَّحِيْحُ أَنَّهُ يُفْسِدُ ؛ لِأَنَّهُ وَصَلَ إِلَى الْجَوْفِ بِفِعْلِهِ وَرَجَّحَهُ الْمُحَقِّقُ فِي فَتْحِ الْقَدِيرِ . وَبِهٰذَا يُعْلَمُ حُكْمُ الْغُسْلِ. وَهُوَ صَائِمٌ إِذَا دَخَلَ الْمَاءُ فِي أُذُنِهِ. وَفِي عُمْدَةِ الْفَتَاوٰى لِلصَّدْرِ الشَّهِيْدِ فَلَوْ دَخَلَ الْمَاءُ فِي الْغُسْلِ أَنْفَهُ أَوْ أُذُنَهُ وَ وَصَلَ إِلَى الدِّمَاغِ لَا شَيْءَ عَلَيْهِ. البحر الرائق شرح كنز الدقائق ۳۰۰/۲ بَابُ مَا يُفْسِدُ الصَّوْمَ وَمَا لَا يُفْسِدُهُ. ومثله في تبيين الحقائق ج۱ ص ۲۰۳ باب ما يفسد الصوم ومالايفسد .

قال عالم بن العلاءؒ : و لواغتسل ـ وفى العتابيّة ـ او خاض الماء فدخل الماء أُذُنه لايفسد صومه بلاخلاف . فتاوى تاتارخانية ج۲ ص ۳٦۴ كتاب الصوم الفصل الثالث ما يفسد الصوم ... فتاوى حقانيه ج۴ ص ۱٦۵ ، فتاوى فريديه ج۴ ص ۱۳۷ .

(۳) وَلَوْ أَقْطَرَ فِي أُذُنِهِ الْمَاءَ لَا يُفْسِدُ صَوْمَهُ كَذَا فِي الْهِدَايَةِ. وَهُوَ الصَّحِيْحُ هٰكَذَا فِي مُحِيطِ السَّرَخْسِيِّ الفتاوى الهندية ۱/ ۲۰۴ اَلْبَابُ الرَّابِعُ فِيمَا يُفْسِدُ وَمَا لَا يُفْسِدُ .

(۴) قال الحصكفيؒ : (أَوِ احْتَقَنَ أَوِ اسْتَعَطَ) فِي أَنْفِهِ شَيْئًا (أَوْ أَقْطَرَ فِي أُذُنِهِ دُهْنًا أَوْ دَاوَى جَائِفَةً أَوْ آمَّةً) فَوَصَلَ الدَّوَاءُ حَقِيقَةً إِلَى جَوْفِهِ وَدِمَاغِهِ. الدر المختار

قال ابن عابدينؒ : (قَوْلُهُ: إِلَى جَوْفِهِ وَدِمَاغِهِ) قَالَ فِي الْبَحْرِ: وَالتَّحْقِيقُ ←←←←←←←←

فقهاؤ په غوَرِ کې د اُوبو اچولو او دوائي اچولو په مينځ کې فرق هم ذکر کړی. (۱)

## د روژه دار د پاره د ورځې په سترګو کې رانجه کول جائز دي

په روژه کې د ورځې رانجه کول بغير د کراهت نه جائز دي، په دې سره نه روژه ماتيږي او نه مکروهه کيږي، تر دې پورې چې که د رَنجو خوَند په حلق کې محسوس شي خو بيا هم روژه نه مکروهه کيږي، او دا د اکثرو علماؤ مَسلک دی.

۱. امام بخاري رحمه الله فرمايي:

لَمْ يَرَ أَنَسٌ ﷺ وَالْحَسَنُ، وَإِبْرَاهِيمُ بِالْكُحْلِ لِلصَّائِمِ بَأْسًا. (۲)

حضرت انس بن مالک ﷺ، حضرت حسن بصري رحمه الله او حضرت ابراهيم نخعي رحمه الله به د روژه دار د پاره په په سترګو کې رانجه کولو کې هيڅ باک نه ګڼړلو (يعنی دوی به فرمايل چې د روژه دار د پاره په رَنجو کولو کې څه حرَج نشته).

---

←←←← أَنَّ بَيْنَ جَوْفِ الرَّأْسِ وَجَوْفِ الْمَعِدَةِ مَنْفَذًا أَصْلِيًّا فَمَا وَصَلَ إِلَى جَوْفِ الرَّأْسِ يَصِلُ إِلَى جَوْفِ الْبَطْنِ.

(قَوْلُهُ: أَوِ اسْتَعَطَ) ... وَالسَّعُوطُ الدَّوَاءُ الَّذِي صُبَّ فِي الْأَنْفِ ... وَعَدَمُ وُجُوبِ الْكَفَّارَةِ فِي ذٰلِكَ هُوَ الْأَصَحُّ؛ لِأَنَّهَا مُوجِبُ الْإِفْطَارِ صُورَةً وَمَعْنًى وَالصُّورَةُ الْإِبْتِلَاعُ كَمَا فِي الْكَافِي وَهِيَ مُنْعَدِمَةٌ وَالنَّفْعُ الْمُجَرَّدُ عَنْهَا يُوجِبُ الْقَضَاءَ فَقَطْ .... (قَوْلُهُ: فَوَصَلَ الدَّوَاءُ حَقِيقَةً) أَشَارَ إِلَى أَنَّ مَا وَقَعَ فِي ظَاهِرِ الرِّوَايَةِ مِنْ تَقْيِيدِ الْإِفْسَادِ بِالدَّوَاءِ الرَّطْبِ مَبْنِيٌّ عَلَى الْعَادَةِ مِنْ أَنَّهُ يَصِلُ وَإِلَّا فَالْمُعْتَبَرُ حَقِيقَةُ الْوُصُولِ، حَتَّى لَوْ عَلِمَ وُصُولَ الْيَابِسِ أَفْسَدَ أَوْ عَدَمَ وُصُولِ الطَّرِيِّ لَمْ يُفْسِدْ. رد المحتار على الدر المختار ۴۰۲/۲ بَابُ مَا يُفْسِدُ الصَّوْمَ وَمَا لَا يُفْسِدُهُ، فتاوی فريديه ج۴ ص ۱۲۳ باب مايفسد الصوم ومالايفسده. فتاوی محموديه ج۱۵ ص ۱۶۷ روزه کے مفسدات ومکروہات. فتاوی دارالعلوم ديوبند ج ۶ ص ۲۶۳ کتاب الصوم.

(۱) (وَمَنِ احْتَقَنَ أَوِ اسْتَعَطَ أَوْ أَقْطَرَ فِي أُذُنِهِ أَفْطَرَ) لِقَوْلِهِ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ «اَلْفِطْرُ مِمَّا دَخَلَ» وَلِوُجُودِ مَعْنَى الْفِطْرِ، وَهُوَ وُصُولُ مَا فِيهِ صَلَاحُ الْبَدَنِ إِلَى الْجَوْفِ (وَلَا كَفَّارَةَ عَلَيْهِ) لِانْعِدَامِهِ صُورَةً. (وَلَوْ أَقْطَرَ فِي أُذُنِهِ الْمَاءَ أَوْ دَخَلَهُ لَا يَفْسُدُ صَوْمُهُ) لِانْعِدَامِ الْمَعْنَى وَالصُّورَةِ. بِخِلَافِ مَا إِذَا دَخَلَهُ الدُّهْنُ. الهداية كِتَابُ الصَّوْمِ بَابُ مَا يُوجِبُ الْقَضَاءَ وَالْكَفَّارَةَ ج۱ ص ۲۰۲، فتاوی دارالعلوم ديوبند ج ۶ ص ۲۶۴ کتاب الصوم.

(۲) صحيح البخاري كِتَابُ الصَّوْمِ بَابُ اغْتِسَالِ الصَّائِمِ.

۲. د ابن ماجه شريف حديث دی، حضرت عائشه رضي الله عنها فرمايي:

اِكْتَحَلَ رَسُوْلُ اللهِ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ وَهُوَ صَائِمٌ. (۱)

رسول الله صلى الله عليه وسلم په سترګو مباکو کې رانجه اوکړل حالانکه د دوی روژه وه

۳. امام عطاء رحمه الله فرمايي: لَا بَأْسَ بِالْكُحْلِ لِلصَّائِمِ. (۲)

د روژه دار د پاره په رانجو کولو کې څه حرَج (باک) نشته.

همدارنګې په نورو ډيرو روايتونو کې دا خبره ذکر ده چې د روژه دار د پاره په روژه کې رانجه کولو کې هيڅ حرَج نشته. په دې سره نه روژه ماتيږي او نه پرې مکروهه کيږي، بلکه بغير د کراهت نه جائز دي. (۳) همدا خبره فقهاء کرامو هم ذکر کړې. (۴)

## په روژه کې هر قسم مسواک استعمالول جائز دی

د روژه دار د پاره مسواک استعمالول جائز دی.

---

(۱) سنن ابن ماجة كِتَابُ الصِّيَامِ بَابُ مَا جَاءَ فِي السِّوَاكِ وَالْكُحْلِ لِلصَّائِمِ رقم الحديث ۱۶۷۸، قال الالباني: صحيح.

(۲) مصنف عبدالرزاق الصنعاني رقم ۷۵۱۶ كِتَابُ الصِّيَامِ بَابُ الْكُحْلِ لِلصَّائِمِ.

(۳) په ابوداؤد شريف کې دا روايت ذکر دی: عَنِ الْأَعْمَشِ قَالَ: « مَا رَأَيْتُ أَحَدًا مِنْ أَصْحَابِنَا يَكْرَهُ الْكُحْلَ لِلصَّائِمِ». « وَكَانَ إِبْرَاهِيمُ يُرَخِّصُ أَنْ يَكْتَحِلَ الصَّائِمُ بِالصَّبِرِ ». سنن ابي داؤد رقم ۲۳۷۹ كِتَابُ الصَّوْمِ بَابٌ فِي الْكُحْلِ عِنْدَ النَّوْمِ لِلصَّائِمِ. قال الالباني: حسن.

(۴) وَلَوِ اكْتَحَلَ الصَّائِمُ لَمْ يَفْسُدْ وَإِنْ وَجَدَ طَعْمَهُ فِي حَلْقِهِ عِنْدَ عَامَّةِ الْعُلَمَاءِ. وَقَالَ ابْنُ أَبِي لَيْلَى يَفْسُدُ، وَجْهُ قَوْلِهِ إِنَّهُ لَمَّا وَجَدَ طَعْمَهُ فِي حَلْقِهِ فَقَدْ وَصَلَ إِلَى جَوْفِهِ. وَلَنَا مَا رُوِيَ عَنْ عَبْدِ اللهِ بْنِ مَسْعُودٍ رضي الله عنه أَنَّهُ قَالَ: « خَرَجَ عَلَيْنَا رَسُوْلُ اللهِ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ فِي رَمَضَانَ وَعَيْنَاهُ مَمْلُوءَتَانِ كُحْلًا كَحَلَتْهُمَا أُمُّ سَلَمَةَ » وَلِأَنَّهُ لَا مَنْفَذَ مِنَ الْعَيْنِ إِلَى الْجَوْفِ وَلَا إِلَى الدِّمَاغِ وَمَا وَجَدَ مِنْ طَعْمِهِ فَذَاكَ أَثَرُهُ لَا عَيْنُهُ، وَأَنَّهُ لَا يُفْسِدُ كَالْغُبَارِ، وَالدُّخَانِ. بدائع الصنائع في ترتيب الشرائع ۲/۹۳ كِتَابُ الصَّوْمِ فَصْلٌ أَرْكَانُ الصِّيَامِ.

وَلَوْ أَقْطَرَ شَيْئًا مِنَ الدَّوَاءِ فِي عَيْنِهِ لَا يُفْطِرُ صَوْمَهُ عِنْدَنَا، وَإِنْ وَجَدَ طَعْمَهُ فِي حَلْقِهِ، وَإِذَا بَزَقَ فَرَأَى أَثَرَ الْكُحْلِ وَلَوْنَهُ فِي بُزَاقِهِ عَامَّةُ الْمَشَايِخِ عَلَى أَنَّهُ لَا يُفْسِدُ صَوْمَهُ كَذَا فِي الذَّخِيرَةِ، وَهُوَ الْأَصَحُّ هَكَذَا فِي التَّبْيِينِ. الفتاوى الهندية ۱/۲۰۳ اَلْبَابُ الرَّابِعُ فِيمَا يُفْسِدُ وَمَا لَا يُفْسِدُ. هكذا في فتاوى عثمانيه ج۴ ص ۱۹۵. و فتاوى دارالعلوم ديوبند ج۶ ص ۲۶۱ كتاب الصوم.

۱ . د بخاري شريف حديث دى ، حضرت عامر بن ربيعه رضي الله عنه فرمايي :

رَأَيْتُ النَّبِيَّ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ يَسْتَاكُ وَهُوَ صَائِمٌ مَا لَا أُحْصِي أَوْ أَعُدُّ. (۱)

ما نبي كريم صلى الله عليه وسلم د روژې په حالت كې دومره ډير په مسواك استعمالولو باندې ليدلى چې زه هغه مقدار نه شم شميرلى .

علامه طيبي رحمه الله ليكلي :

اَلسِّوَاكُ لِلصَّائِمِ فِيْ جَمِيْعِ النَّهَارِ بَلْ هُوَ سُنَّةٌ عِنْدَ اَكْثَرِ الْعُلَمَاءِ ، وَ بِهِ قَالَ اَبُوْحَنِيْفَةَ وَمَالِكٌ رحمهما الله لِاَنَّهُ تَطْهِيْرٌ . (۲)

روژه دار ته په ټوله ورځ كې هر وخت مسواك استعمالول جائز دى ، بلكه دا د اكثره علماؤ په نزد سُنت هم دى ، او همدا قول د امام ابوحنيفة او امام مالك رحمهما الله هم دى ، ځكه په مسواك سره پاكي حاصليږي .( لهذا دا روژه دار هر وخت استعمالولې شي ) .

۲ . **تازه مسواك** : تر دې پورې چې د روژه دار د پاره تازه لوند مسواك استعمالول هم جائز دى. (۳)

**فائده** : د روژه دار د پاره په روژه كې د مسواك استعمالولو په باره كې اګرچې د علماؤ مختلف اَقوال شته كوم چې ملاعلي قاري په مرقاة شرح مشكوة كې ذكر كړي . خو د امام ابوحنيفه او امام مالك رحمهما الله په نزد د روژه دار د پاره هر وخت مسواك استعمالول جائز دى ، كه دا د زوال نه مخكې وي يا روستو ، همدارنګې هر قِسمه مسواك استعمالول ورته جائز دى كه دا تازه وي او كه اُوچ . (۴)

(۱) صحيح البخاري كِتَابُ الصَّوْمِ بَابُ سِوَاكِ الرَّطْبِ وَالْيَابِسِ لِلصَّائِمِ ، مسند احمد رقم الحديث ۱۵۶۷۸ ، صحيح ابن خزيمة رقم ۲۰۰۷ ، مسند ابي داؤد الطيالسي رقم ۱۲۴۰ .

(۲) شرح طيبي ج۴ ص ۱۶۲ .

(۳) عَنْ مُجَاهِدٍ: « أَنَّهُ لَمْ يَرَ بِالسِّوَاكِ الرَّطْبِ بَأْسًا لِلصَّائِمِ »، وَهُوَ الَّذِيْ يَأْخُذُ بِهِ الثَّوْرِيُّ. مصنف عبدالرزاق الصنعاني رقم الحديث ۷۴۹۲ كِتَابُ الصِّيَامِ بَابُ السِّوَاكِ لِلصَّائِمِ .

(۴) قَالَ الْمُظْهِرُ: لَا يَضُرُّ السِّوَاكُ لِلصَّائِمِ فِيْ جَمِيْعِ النَّهَارِ، بَلْ هُوَ سُنَّةٌ عِنْدَ أَكْثَرِ أَهْلِ الْعِلْمِ، وَبِهِ قَالَ مَالِكٌ وَأَبُوْ حَنِيْفَةَ رحمهما الله لِأَنَّهُ مُطَهِّرٌ، وَقَالَ ابْنُ عُمَرَ: يُكْرَهُ بَعْدَ الزَّوَالِ لِأَنَّ خُلُوْفَ الصَّائِمِ أَثَرُ الْعِبَادَةِ ←←←←←←←← ←←←←←←

فقهاء کرامو هم دا خبره کړې چې په روژه کې هر قسمه مسواک استعمالول سُنت دي. (۱)

## چې حلق ته وِينه لاړه شي ددې حکم

چې روژه دار مسواک استعمالوي او په دې سره ددهٔ د وَرَیٖ وِينې شي او حلق ته يې وِينه لاړه شي، يا بغير د مسواک استعمالولو نه يې خُله وِينې شي او د لاړو سره حلق ته

←←←← والخلوف يظهر عند خلو المعدة من الطعام، وخلو المعدة يكون عند الزوال غالبا. وإزالة أثر العبادة مكروة. وبه قال الشافعي وأحمد. قال الشمني: لا يكره للصائم إستعمال السواك سواء كان رطبا أو مبلولا قبل الزوال أو بعده. وهو قول مالك. وقال أبو يوسف: يكره بالرطب والمبلول. وقال الشافعي: يكره بعد الزوال لأن فيه إزالة الخلوف المحمود بقوله صلى الله عليه وسلم: "«لخلوف فم الصائم أطيب عند الله من ريح المسك»".

ولنا ما روى ابن ماجة والدارقطني من حديث عائشة قالت: قال رسول الله صلى الله عليه وسلم: «من خير خصال الصائم السواك». والخلوف بضم الخاء المعجمة على الصحيح تغير رائحة الفم من خلو المعدة وذلك لا يزال بالسواك. قال ابن الهمام: بل إنما يزيل أثره الظاهر عن السن من الإصفرار وهذا لأن سبب الخلوف خلو المعدة من الطعام، والسواك لا يفيد شغلها بطعام ليرتفع السبب. ولهذا روي عن معاذ مثل ما قلنا. روى الطبراني «عن عبد الرحمن بن غنم قال: سألت معاذ بن جبل أتسوك وأنا صائم؟ قال: نعم. قلت: أي النهار أتسوك؟ قال: أي النهار شئت. غدوة وعشية. قلت: إن الناس يكرهونه عشية ويقولون إن رسول الله صلى الله عليه وسلم قال: "لخلوف فم الصائم أطيب عند الله من ريح المسك". فقال: سبحان الله لقد أمرهم بالسواك وهو يعلم أنه لا بد بفي الصائم خلوف وإن استاك. وما كان بالذي يأمرهم أن ينتنوا أفواههم عمدا. ما في ذلك من الخير شيء. بل فيه شر إلا من ابتلي ببلاء لا يجد منه بدا. مرقاة ۱۳۹۴/۴ كتاب الصوم باب تنزيه الصوم الفصل الأول.

(۱) (لا) يكره (دهن شارب و) لا (كحل)... (و) لا (سواك ولو عشيا) أو رطبا بالماء على المذهب. الدرالمختار

(قوله: ولا سواك) بل يسن للصائم كغيره صرح به في النهاية لعموم قوله صلى الله عليه وسلم «لولا أن أشق على أمتي لأمرتهم بالسواك عند كل وضوء وعند كل صلاة» لتناوله الظهر والعصر والمغرب. رد المحتار على الدر المختار ۲ /۴۱۷ كتاب الصوم باب ما يفسد الصوم وما لا يفسده. مراقي الفلاح مع الطحطاوي ص ۵۶۱ فصل فيما يكره للصائم و مالايكره. فتاوى محموديه ج۱۵ ص ۱۶۲ روزه کے مفسدات ومکروہات.

(ولا بأس بالسواك الرطب بالغداة والعشي للصائم) لقوله صلى الله عليه وسلم «خير خلال الصائم السواك» من غير فصل. الهداية باب مايوجب القضاء والكفارة ج۲ ص ۲۰۳، فتاوى دارالعلوم ديوبند ج۶ ص ۲۵۶.

وينه لاړه شي نو په دې مسئله کې تفصيل دی:

که دا وينه لږه وه، لاړې وربانديې ډيرې وی او حلق ته داخلې شوی نو په دې سره روژه نه ماتيږي.

خو که وينه ډيره وه او لاړې کمې وی، يا وينه او لاړې دواړه برابرې وی او حلق ته داخلې شوی نو په دې سره روژه ماتيږي، د روژې به صرف قضاء راوړي، کفاره وربانديې نشته. (١)

## په روژه کې د غاښ وِيستلو حکم

په روژه کې د تکليف په وخت غاښ ويستل جائز دي، د غاښ ويستلو نه پس که وينه د لاړو سره د حلق نه تېره شوه او وينه په لاړو غالبه وه، يا دواړه برابر وو نو په دې سره روژه ماتيږي، صرف قضاء به راوړي، کفاره وربانديې نشته.

خو که وينه تېره نه شوه، يا دا وينه د لاړو نه کمه وه نو په دې سره روژه نه ماتيږي. (٢)

---

(١) قال في الهندية: اَلدَّمُ إِذَا خَرَجَ مِنَ الْأَسْنَانِ وَدَخَلَ حَلْقَهُ إِنْ كَانَتِ الْغَلَبَةُ لِلْبُزَاقِ لَا يَضُرُّهُ، وَإِنْ كَانَتِ الْغَلَبَةُ لِلدَّمِ يَفْسُدُ صَوْمُهُ، وَإِنْ كَانَا سَوَاءً أَفْسَدَ أَيْضًا اِسْتِحْسَانًا. الفتاوى الهندية ٢٠٣/١ اَلْبَابُ الرَّابِعُ فِيمَا يُفْسِدُ وَمَا لَا يُفْسِدُ.

قال العلامة الحصكفي: (أَوْ خَرَجَ الدَّمُ مِنْ بَيْنِ أَسْنَانِهِ وَدَخَلَ حَلْقَهُ) يَعْنِي وَلَمْ يَصِلْ إِلَى جَوْفِهِ. أَمَّا إِذَا وَصَلَ فَإِنْ غَلَبَ الدَّمُ أَوْ تَسَاوَيَا فَسَدَ وَإِلَّا لَا، إِلَّا إِذَا وَجَدَ طَعْمَهُ. الدر المختار ٣٩٦/٢ بَابُ مَا يُفْسِدُ الصَّوْمَ وَمَا لَا يُفْسِدُهُ. ومثله في البزازية على هامش الهندية ج٣ ص ٩٨ كتاب الصوم الثالث فيما يفسده و ما لايفسده. فتاوى عثمانيه ج٤ ص ٢٠٢ كتاب الصوم، فتاوى حقانيه ج٤ ص ١٦٩. فتاوى دارالعلوم ديوبند ج٦ ص ٢٦٢.

وَلَوْ خَرَجَ مِنْ بَيْنِ أَسْنَانِهِ دَمٌ فَدَخَلَ حَلْقَهُ أَوِ ابْتَلَعَهُ فَإِنْ كَانَتِ الْغَلَبَةُ لِلدَّمِ فَسَدَ صَوْمُهُ وَعَلَيْهِ الْقَضَاءُ وَلَا كَفَّارَةَ عَلَيْهِ، وَإِنْ كَانَتِ الْغَلَبَةُ لِلْبُزَاقِ فَلَا شَيْءَ عَلَيْهِ، وَإِنْ كَانَا سَوَاءً فَالْقِيَاسُ أَنْ لَا يَفْسُدَ، وَفِي الْإِسْتِحْسَانِ يَفْسُدُ إِحْتِيَاطًا. بدائع الصنائع في ترتيب الشرائع ٩٩/٢ كتاب الصوم حكم فساد الصوم.

(٢) قال ابن نجيم: اَلدَّمُ إِذَا خَرَجَ مِنَ الْأَسْنَانِ وَدَخَلَ الْحَلْقَ إِنْ كَانَتِ الْغَلَبَةُ لِلْبُزَاقِ لَا يَفْسُدُ صَوْمُهُ، وَإِنْ كَانَتْ لِلدَّمِ فَسَدَ، وَكَذَا إِنِ اسْتَوَيَا إِحْتِيَاطًا. البحر الرائق ٢٩٤/٢ كِتَابُ الصَّوْمِ بَابُ مَا يُفْسِدُ الصَّوْمَ وَمَا لَا يُفْسِدُهُ

قال العلامة الحصكفي: (أَوْ خَرَجَ الدَّمُ مِنْ بَيْنِ أَسْنَانِهِ وَدَخَلَ حَلْقَهُ) يَعْنِي ←←←←←←←←

## روژه دار چې د بيمارۍ په وجه الټې اوکړي نو په دې روژه نه ماتيږي

کله چې روژه دار د څه بيمارۍ په وجه بې اختياره الټې (قې) اوکړي (يعنی ده قصدًا په خُله کې ګوتې نه وي ورکړي) نو په دې سره روژه نه ماتيږي ، برابره خبره ده که دې لږې الټې اوکړي يا ډيرې.

په بخاري شريف کې دا روايت ذکر دی ، حضرت ابوهريرة رضي الله عنه فرمايي :

إِذَا قَاءَ فَلَا يُفْطِرُ. (۱)

چې کله روژه دار (د بيمارۍ په وجه په خپله) الټې (قې) اوکړي نو په دې سره روژه نه ماتيږي.

علامه بدرالدين عيني رحمه الله فرمايي چې همدا مسلک د ټولو ائمهٔ هم دی.

بيا فرمايي : وَيُرْوٰى ذٰلِكَ عَنْ عَلِيٍّ وَابْنِ عَبَّاسٍ وَابْنِ مَسْعُوْدٍ وَعَبْدِ اللهِ بْنِ عُمَرَ وَأَبِيْ هُرَيْرَةَ رَضِيَ اللهُ تَعَالٰى عَنْهُمْ ، وَقَدْ قَامَ الْإِجْمَاعُ عَلٰى أَنَّ مَنْ ذَرَعَهُ الْقَيْءُ لَا قَضَاءَ عَلَيْهِ. (۲)

همدا خبره د حضرت علي ، ابن عباس ، ابن مسعود ، عبدالله بن عُمر او حضرت ابوهريرة رضي الله عنهم نه هم روايت شوی. او په دې خبره اِجماع هم قائمه شوی "چې څوک (د بيمارۍ په وجه) الټې (قې) اوکړي نو په ده باندې د روژې قضاء نشته" (يعنی دده روژه نده ماته شوی نو قضاء به پرې څه لازمه شي ؟).

البته که يو کس قصدًا الټې اوکړي (يعنی په خُله کې ګوتې دننه کړي او الټې اوکړي) نو که دا الټې دومره ډيرې وی چې خُله يې ډکوله نو روژه يې ماته شوه ، او که د ډکې خُلې نه کمې وي نو د اکثرو محقّقينو په نزد باندې دده روژه نه ماتيږي ، ځکه دا په حکم د عَدم

←←←←← وَلَمْ يَصِلْ إِلٰى جَوْفِهِ أَمَّا إِذَا وَصَلَ فَإِنْ غَلَبَ الدَّمُ أَوْ تَسَاوَيَا فَسَدَ وَإِلَّا لَا. إِلَّا إِذَا وَجَدَ طَعْمَهُ.
الدر المختار ۳۹۶/۲ بَابُ مَا يُفْسِدُ الصَّوْمَ وَمَا لَا يُفْسِدُهُ ، ومثله في فتاوى تاتارخانية ج۲ ص ۳۶۹ كتاب الصوم باب مايفسد الصوم ، فتاوى حقانيه ج۴ ص ۱۶۳ . هكذا في الفتاوى الهندية ۲۰۳/۱ اَلْبَابُ الرَّابِعُ فِيمَا يُفْسِدُ وَمَا لَا يُفْسِدُ . بدائع الصنائع في ترتيب الشرائع ۹۹/۲ كتاب الصوم حكم فساد الصوم.

(۱) صحيح البخاري كِتَابُ الصَّوْمِ بَابُ الْحِجَامَةِ وَالْقَيْءِ لِلصَّائِمِ .

(۲) عمدة القاري شرح صحيح البخاري ۳۶/۱۱ كِتَابُ الصَّوْمِ بَابُ الْحِجَامَةِ وَالْقَيْءِ لِلصَّائِمِ .

کې دي ، همدا د امام ابويوسف رحمه الله قول دی او علماؤ ديته ترجيح ورکړی . (۱)

## چې الټی دوباره تېرې شي ، ددې حکم

که روژه دار د بيمارۍ په وجه پخپله (بلا قصده) الټی اوکړي که لږې وي او که ډيرې نو په دې سره روژه نه ماتيږي .

همدارنګې که دا الټی بلاقصده دوباره تېرې شي نو په دې سره هم روژه نه ماتيږي .

خو که ده قصداً الټی تېرې کړی او دا د چنړې په مقدار وی يا زياتې وی (يعنی په ډکه خوله وي) نو په دې سره روژه ماتيږي . (۲)

---

(۱) قال العلامة الشرنبلاليّ: او استقاء اي تعمد اخراجه و لو دون ملأ الفم في ظاهر الرواية لاطلاق قوله عليه السلام : ومن استقاء عمدًا فليقض ، و شرط ابي يوسف ان يكون ملأ الفم وهو الصحيح ، لأنّ مادونه كالعدم حكمًا حتى لاينقض الوضوء . امداد الفتاح شرح نورالايضاح ص ٦٩٢ باب مايفسد الصوم .

"أو استقاء" أي تعمد إخراجه "ولو دون ملء الفم في ظاهر الرواية" لإطلاق قوله صلى الله عليه وسلم: "من استقاء عمدا فليقض". "وشرط أبو يوسف رحمه الله" أن يكون "ملء الفم وهو الصحيح" لأن ما دونه كالعدم حكما حتى لا ينقض الوضوء . مراقي الفلاح شرح متن نور الإيضاح ۲۵۴/۱ باب ما يفسد الصوم من غير كفارة . فتاوى فريديه ج ۴ ص ۱۴۳ باب مايفسد الصوم ومالايفسده . د جنت كالي لمولانا اشرف علي تهانوي رحمه الله ص ١٨٦ .

(۲) قال العلامة الحصكفيّ: (وَإِنْ ذَرَعَهُ الْقَيْءُ وَخَرَجَ) وَلَمْ يَعُدْ (لَا يُفْطِرُ مُطْلَقًا) مَلَأَ أَوْ لَا (فَإِنْ عَادَ) بِلَا صُنْعِهِ (وَ) لَوْ (هُوَ مِلْءُ الْفَمِ مَعَ تَذَكُّرِهِ لِلصَّوْمِ لَا يَفْسُدُ) . الدرالمختار

قال ابن عابدينّ ... إذَا كَانَ أَقَلَّ مِنْ مِلْءِ الْفَمِ وَعَادَ أَوْ شَيْءٌ مِنْهُ قَدْرَ الْحِمَّصَةِ لَمْ يُفْطِرْ إجْمَاعًا أَمَّا عِنْدَ أَبِي يُوسُفَ فَإِنَّهُ لَيْسَ بِخَارِجٍ ، لِأَنَّهُ أَقَلُّ مِنَ الْمِلْءِ، وَعِنْدَ مُحَمَّدٍ لَا صُنْعَ لَهُ فِي الْإِدْخَالِ . وَالثَّانِيَةُ: إنْ كَانَ مِلْءَ الْفَمِ وَأَعَادَهُ أَوْ شَيْئًا مِنْهُ قَدْرَ الْحِمَّصَةِ فَصَاعِدًا أَفْطَرَ إجْمَاعًا ؛ لِأَنَّهُ خَارِجٌ أَدْخَلَهُ جَوْفَهُ وَلِوُجُودِ الصُّنْعِ . رد المحتار على الدر المختار ۴۱۴/۲ بَابُ مَا يُفْسِدُ الصَّوْمَ وَمَا لَا يُفْسِدُهُ .

قال ابن الهمامّ: فَإِنْ ذَرَعَهُ وَخَرَجَ لَا يُفْطِرُ قَلَّ أَوْ كَثُرَ لِإِطْلَاقِ مَا رَوَيْنَا ، وَإِنْ عَادَ بِنَفْسِهِ وَهُوَ ذَاكِرٌ لِلصَّوْمِ إنْ كَانَ مِلْءَ الْفَمِ فَسَدَ صَوْمُهُ عِنْدَ أَبِي يُوسُفَ لِأَنَّهُ خَارِجٌ شَرْعًا حَتَّى انْتَقَضَتْ بِهِ الطَّهَارَةُ وَقَدْ دَخَلَ، وَعِنْدَ مُحَمَّدٍ لَا يَفْسُدُ، وَهُوَ الصَّحِيحُ لِأَنَّهُ لَمْ تُوجَدْ صُورَةُ الْإِفْطَارِ وَهُوَ الِابْتِلَاعُ وَلَا مَعْنَاهُ إذْ لَا يَتَغَذَّى بِهِ... فتح القدير ۳۳۴/۲ كتاب الصوم بَابُ مَا يُوجِبُ الْقَضَاءَ وَالْكَفَّارَةَ ، ومثله في البحر الرائق ج۲ ص ۲۷۴ باب مايفسد الصوم ومالايفسد . فتاوى حقانيه ج۴ ص ۱۶۴ .

# د ورځې احتلام سره روژه نه ماتيږي

که روژه دار د ورځې اُوده شي او اِحتلام يې اوشي ( يعنی شيطان يې تېر باسي او غُسل وربانديې واجب شي ) نو په دې سره روژه نه ماتيږي ، ځکه اِحتلام د روژې منافي عمل ندی. نو په دې سره په روژه بانديې څه اثر نه غورځي . (۱)

صرف زَنانه ته په کتلو ، يا سوچ کولو سره چې اِنزال اوشي نو په دې سره روژه نه ماتيږي . (۲)

---

(۱) قال برهان الدين المرغيناني": (فَإِنْ نَامَ فَاحْتَلَمَ لَمْ يُفْطِرْ) لِقَوْلِهٖ صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ «ثَلَاثٌ لَا يُفْطِرْنَ الصِّيَامَ : اَلْقَيْءُ وَالْحِجَامَةُ وَالْاِحْتِلَامُ » ، وَلِأَنَّهُ لَمْ تُوْجَدْ صُوْرَةُ الْجِمَاعِ وَلَا مَعْنَاهُ وَهُوَ الْإِنْزَالُ عَنْ شَهْوَةٍ بِالْمُبَاشَرَةِ . الهداية في شرح بداية المبتدى ١٢٠/١ كتاب الصوم باب ما يوجب القضاء والكفارة .

قال العلامة الحصكفي": ( أَوِ احْتَلَمَ أَوْ أَنْزَلَ بِنَظَرٍ) وَلَوْ إِلٰى فَرْجِهَا مِرَارًا ( أَوْ بِفِكْرٍ) ... (لَمْ يُفْطِرْ). الدرالمختار ٣٩٦/٢ كِتَابُ الصَّوْمِ بَابُ مَا يُفْسِدُ الصَّوْمَ وَمَا لَا يُفْسِدُهُ. و مثله في تبيين الحقائق ج١ ص ٣٢٢ باب ما يفسد الصوم و مالايفسده . فتاوى حقانيه ج۴ ص ١٦٥ .

وَلَوِ احْتَلَمَ فِيْ نَهَارِ رَمَضَانَ فَأَنْزَلَ لَمْ يُفْطِرْهُ ، لِقَوْلِ النَّبِيِّ صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ «ثَلَاثٌ لَا يُفْطِرْنَ الصَّائِمَ: اَلْقَيْءُ، وَالْحِجَامَةُ، وَالْاِحْتِلَامُ » وَلِأَنَّهُ لَا صُنْعَ لَهُ فِيْهِ فَيَكُوْنُ كَالنَّاسِيْ. بدائع الصنائع في ترتيب الشرائع ٩١/٢ كِتَابُ الصَّوْمِ فَصْلٌ أَرْكَانِ الصِّيَامِ

(وَلَوْ أَكَلَ أَوْ شَرِبَ أَوْ جَامَعَ نَاسِيًا لَا يُفْطِرُ... وَكَذَا لَوْ نَامَ) نَهَارًا (فَاحْتَلَمَ) ... مجمع الأنهر في شرح ملتقى الأبحر ٢٤٢/١ كِتَابُ الصَّوْمِ بَابُ مُوْجِبِ الْفَسَادِ ، النهر الفائق ١٦/٢ باب مايفسد الصوم ومالايفسد . فتاوى محمودية ج١٥ ص ١٨١ روزہ کے مفسدات ومکروہات .

(۲) قال برهان الدين المرغيناني": (وَكَذَا إِذَا نَظَرَ إِلَى امْرَأَةٍ فَأَمْنٰى) لِمَا بَيَّنَّا فَصَارَ كَالْمُتَفَكِّرِ إِذَا أَمْنٰى. الهداية في شرح بداية المبتدي ١٢٠/١ كتاب الصوم باب ما يوجب القضاء والكفارة .

وَلَوْ نَظَرَ إِلَى امْرَأَةٍ وَتَفَكَّرَ فَأَنْزَلَ لَمْ يُفْطِرْهُ، وَقَالَ مَالِكٌ: إِنْ تَتَابَعَ نَظَرُهُ فَطَرَهُ لِأَنَّ التَّتَابُعَ فِي النَّظَرِ كَالْمُبَاشَرَةِ . وَلَنَا أَنَّهُ لَمْ يُوْجَدِ الْجِمَاعُ لَا صُوْرَةً وَلَا مَعْنًى لِعَدَمِ الْاِسْتِمْتَاعِ بِالنِّسَاءِ فَأَشْبَهَ الْاِحْتِلَامَ بِخِلَافِ الْمُبَاشَرَةِ. بدائع الصنائع في ترتيب الشرائع ٩١/٢ كِتَابُ الصَّوْمِ فَصْلٌ أَرْكَانِ الصِّيَامِ .

قال العلامة الحصكفي": ( أَوِ احْتَلَمَ أَوْ أَنْزَلَ بِنَظَرٍ ) وَلَوْ إِلٰى فَرْجِهَا مِرَارًا ( أَوْ بِفِكْرٍ) ... ( لَمْ يُفْطِرْ) . الدرالمختار ٣٩٦/٢ كِتَابُ الصَّوْمِ بَابُ مَا يُفْسِدُ الصَّوْمَ وَمَا لَا يُفْسِدُهُ.

که يو کس په روژه کې د شپې نه جُنُب شي (يعنی غُسل ورباندې واجب شي) او سهر د جنابت په حالت کې روژه اونيسي نو دا روژه هم صحيح ده (اګر چې غُسل د سهر نه مخکې په کار دی).

علامه علاء الدين کاساني رحمه الله په بدائع الصنائع کې ذکر کړي:

وَلَوْ أَصْبَحَ جُنُبًا فِيْ رَمَضَانَ فَصَوْمُهُ تَامٌّ عِنْدَ عَامَّةِ الصَّحَابَةِ . (۱)

که يو کس په رمضان کې د سهر په وخت جُنب وي نو د عامو صحابه کرامو په نزد دده روژه پوره ده.

تر دې پورې چې که يو کس سهر ناوخته غسل اوکړي، يا ټوله ورځ غُسل اونکړي نو بيا يې هم روژه نه ماتيږي. (۲)

البته د مونځونو په قضاء کولو او غُسل نه کولو سره ګناهګار دی. (۳)

---

←←←←←←← ، ومثله في تبيين الحقائق ج۱ ص ۳۲۲ باب ما يفسد الصوم و مالايفسده . فتاوى حقاليه ج۴ ص ۱۶۵.

(أَوْ أَنْزَلَ بِنَظَرٍ لَا يُفْطِرُ) ؛ لِأَنَّهُ لَمْ يُوجَدْ مِنْهُ صُورَةُ الْجِمَاعِ وَلَا مَعْنَاهُ وَهُوَ الْإِنْزَالُ عَنْ شَهْوَةٍ بِالْمُبَاشَرَةِ كَمَا إِذَا تَفَكَّرَ فَأَمْنَى. مجمع الأنهر في شرح ملتقى الأبحر ۲۴۴/۱ كِتَابُ الصَّوْمِ بَابُ مُوجِبِ الْفَسَادِ.

(۱) بدائع الصنائع في ترتيب الشرائع ۹۲/۲ كِتَابُ الصَّوْمِ فَصْلُ أَرْكَانِ الصِّيَامِ.

وَمَنْ أَصْبَحَ جُنُبًا أَوِ احْتَلَمَ فِي النَّهَارِ لَمْ يَضُرَّهُ كَذَا فِي مُحِيطِ السَّرَخْسِيِّ. الفتاوى الهندية كِتَابُ الصَّوْمِ الْبَابُ الثَّالِثُ فِيمَا يُكْرَهُ لِلصَّائِمِ وَمَا لَا يُكْرَهُ ۲۰۰/۱

(۲) (أَوْ أَصْبَحَ جُنُبًا) لايفسد ... لِأَنَّ اللهَ تَعَالَى أَبَاحَ الْمُبَاشَرَةَ بِاللَّيْلِ وَمِنْ ضَرُورَتِهَا وُقُوعُ الْغُسْلِ بَعْدَ الصُّبْحِ. مجمع الأنهر في شرح ملتقى الأبحر ۲۴۵/۱ كِتَابُ الصَّوْمِ بَابُ مُوجِبِ الْفَسَادِ. تاتارخانية ۳۷۰/۲ كتاب الصوم الفصل الرابع فيما يفسد الصوم ومالايفسد.

(أَوْ أَصْبَحَ جُنُبًا وَ) إِنْ بَقِيَ كُلَّ الْيَوْمِ ... (لَمْ يُفْطِرْ). الدرالمختار ۴۰۰/۲ كِتَابُ الصَّوْمِ بَابُ مَا يُفْسِدُ الصَّوْمَ وَمَا لَا يُفْسِدُهُ. فتاوى دارالعلوم ديوبند ج۶ ص ۲۶۲ پانچواں باب ، فتاوى محمودية ج۱۵ ص ۲۴۶ ، و ص ۲۴۷.

(۳) قال عليه السلام : مَنْ تَرَكَ الصَّلَاةَ فَكَأَنَّمَا وُتِرَ أَهْلَهُ وَمَالَهُ . مسند ابي داؤد الطيالسي رقم الحديث ۱۳۳۳ ، ر رقم ۱۹۱۲ ، و رواه ابن حبان ، قال المحقق اسناده صحيح ۴ / ۳۳۰.

عَنْ عَبْدِ اللهِ بْنِ عَمْرٍو رضي الله عنهما عَنِ النَّبِيِّ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ أَنَّهُ : ذَكَرَ الصَّلَاةَ يَوْمًا ، فَقَالَ : مَنْ حَافَظَ عَلَيْهَا كَانَتْ لَهُ نُورًا ، وَبُرْهَانًا ، وَنَجَاةً يَوْمَ الْقِيَامَةِ ، وَمَنْ لَمْ يُحَافِظْ عَلَيْهَا لَمْ يَكُنْ →→→→→→→→→→

## په سترګو کې دوائي اچولو سره روژه نه ماتيږي

د فقهاوُ په نزد باندې راجح قول دادی چې په سترګو کې دوائي اچولو سره روژه نه ماتيږي اګرچې دا ددې دوائي اَثر په حلق کې محسوس کړي. په عالمګيري کې ذکر دي :

وَلَوْ أَقْطَرَ شَيْئًا مِنَ الدَّوَاءِ فِي عَيْنِهِ لَا يُفْطِرُ صَوْمَهُ عِنْدَنَا، وَإِنْ وَجَدَ طَعْمَهُ فِي حَلْقِهِ. (۱)

که چيرته يو کس په سترګو کې دوائي واچوله نو زمونږ (د اَحنافو) په نزد دده روژه نه ماتيږي اګرچې دا په حَلق کې ددې دوائي اَثر محسوس کړي.

همداسې مسئله په شامي کې هم ذکر ده. (۲)

## د خاوند د سخت مِزاجۍ په وجه په ژبه د خوراک څيز معلومول (څکل)

د روژې په حالت کې په ژبه باندې يو څيز معلومول (څکل، ټِسټ کول) مکروه دي، بلکه بعضې وخت په دې سره روژه هم ماتيږي، خو که چيرته د يوې ښځې خاوند سخت مزاجه (غصه ناک) وي، او خوراک کې مالګه کمه يا زياتيدو په وجه د ښځې د وَهلو يا کنځلو کولو خطره وي نو بيا ددې ښځې د پاره بغير د کراهت نه دا جائز دي چې د خوراک څيز خوَند معلومولو د پاره صرف دا په ژبه باندې ټِسټ (او معلوم) کړي.

---

←←←←← لَهُ نُورٌ، وَلَا بُرْهَانٌ، وَلَا نَجَاةٌ، وَكَانَ يَوْمَ الْقِيَامَةِ مَعَ قَارُونَ، وَفِرْعَوْنَ، وَهَامَانَ. وَأُبَيِّ بْنِ خَلَفٍ. إسناده صحيح، مسند احمد رقم الحديث ٦٥٧٦ مُسْنَدُ عَبْدِ اللهِ بْنِ عَمْرِو بْنِ الْعَاصِ رَضِيَ اللهُ عَنْهُمَا، سنن الدارمي بَابٌ: فِي الْمُحَافَظَةِ عَلَى الصَّلَاةِ رقم الحديث ٢٧٦٣، شعب الايمان للبيهقي رقم ٢٥٦٥، المعجم الاوسط للطبراني رقم الحديث ١٧٦٧، الترغيب والترهيب للمنذري رقم الحديث ٨٣٢ كتاب الصَّلَاة التَّرْغِيب فِي الْأَذَان. فتاوى محمودية ج۱۵ ص ۲۴۶، وص ۲۴۷:

(۱) الفتاوى الهندية كِتَابُ الصَّوْمِ اَلْبَابُ الرَّابِعُ فِيمَا يُفْسِدُ وَمَا لَا يُفْسِدُ ۲۰۳/۱. فتاوى عثمانيه ج۴ ص ۱۹۵.

(۲) قال الحصكفيّ: (أَوْ أَدْهَنَ أَوِ اكْتَحَلَ أَوِ احْتَجَمَ) وَإِنْ وَجَدَ طَعْمَهُ فِي حَلْقِهِ... (لَمْ يُفْطِرْ). الدر المختار.

قال ابن عابدينّ: (قَوْلُهُ: وَإِنْ وَجَدَ طَعْمَهُ فِي حَلْقِهِ) أَيْ طَعْمَ الْكُحْلِ أَوِ الدُّهْنِ كَمَا فِي السِّرَاجِ. وَكَذَا لَوْ بَزَقَ فَوَجَدَ لَوْنَهُ فِي الْأَصَحِّ بَحْرٌ قَالَ فِي النَّهْرِ، لِأَنَّ الْمَوْجُودَ فِي حَلْقِهِ أَثَرٌ دَاخِلٌ مِنَ الْمَسَامِّ الَّذِي هُوَ خَلَلُ الْبَدَنِ وَالْمُفْطِرُ إِنَّمَا هُوَ الدَّاخِلُ مِنَ الْمَنَافِذِ. رد المحتار على الدر المختار ۳۹۵/۲ كِتَابُ الصَّوْمِ بَابُ مَا يُفْسِدُ الصَّوْمَ وَمَا لَا يُفْسِدُهُ. فتاوى حقانيه ج۴ ص ۱۷۰، فتاوى فريديه ج۴ ص ۱۲۴.

خو دا اجازت ديته صرف په ژبه باندې د معلومولو دی ، په خُله کې به يې نه اچوي ، او حلق ته به يې هم نه رسوي .

اِنْ كَانَ الزَّوْجُ سيءَ الْخُلقِ لَابَأْسَ لِلْمَرْأَةِ أَنْ تَذُوْقَ المرقَةَ بِلِسَانِهَا . (۱)

که خاوند بَداَخلاقه (او تُند مزاجه) وُ نو بيا د ښځې د پاره په ژبه باندې د تَلکارۍ تِسته کولو (او معلومولو) کې هيڅ حرَج نشته .

## په هر قِسمه انجکشن لږولو سره روژه نه ماتيږي

د فقهاء کرامو د عبارتونو نه واضحه معلوميږي چې د مطلقِ څيز اثر بدن ته رسيدلو سره روژه نه ماتيږي ، بلکه چې کله يو څيز يا د هغې اَثر د معتادو لارو نه بدن ته داخل شي ، معدې او دماغو ته اُورسي نو په دې سره روژه ماتيږي .

د جديد تحقيقاتو په رڼا کې د اِنجکشن (يعنی د ستَن وهلو) اَثر نيغ په نيغه (دارِګ) معدې او دماغو ته نه رسي ځکه د لاس ، خپو او خيټې په مينځ کې هيڅ سورې نشته ، بلکه دا د مَساماتو يا رګونو په ذريعه باندې په وِينه کې شامل شي او بدن ته راحت رسوي ، لهذا په هر قِسمه اِنجکشن سره روژه نه ماتيږي که دا د غوښې وي يا د رګ .

د رګ په اِنجکشن کې هم دوائي د مساماتو په ذريعه داخل ته رَسي ، په معتاد طريقه نه رسي ، او د مساماتو په ذريعه چې کوم څيز بدن ته داخل شي په هغې روژه نه ماتيږي .

ددې مثال داسې دی لکه د تَندې په وخت چې بدن ته يَخوالې اُورسي نو په دې سره خو روژه نه ماتيږي نو همدغه شان په هر قِسمه اِنجکشن لږولو سره هم روژه نه ماتيږي .

په فتاوی هِنديه کې ذکر دي : وَمَنِ اغْتَسَلَ فِيْ مَاءٍ وَجَدَ بَرْدَهُ فِيْ بَاطِنِهٖ لَا يُفْطِرُ . (۲)

---

(۱) الفتاوی الخانية علی هامش الهندية كتاب الصوم فصل فيما يكره للصائم ومالايكره ۱/ ۲۰۴ ، فتاوی قاضي خان ج۱ ص ۹۸ كتاب الصوم .

قال العلاء : ان كان زوجها سيء الخلق بذي اللسان يضايقها في ملوحة الطعام فلا بأس به . فتاوی تاتارخانية ج۲ ص ۳۸۰ كتاب الصوم الفصل السادس في الاسباب المبيحة ، و مثله في شامي ج۲ ص ۴۱۶ كتاب الصوم مطلب فيما يكره للصائم . فتاوی عثمانيه ج۴ ص ۱۹۶ ، فتاوی حقانيه ج۴ ص ۱۵۶ .

(۲) الفتاوی الهندية ۱/ ۲۰۳ كِتَابُ الصَّوْمِ اَلْبَابُ الرَّابِعُ فِيْمَا يُفْسِدُ وَمَالَا يُفْسِدُ .

کوم روژه دار چې په اُوبو کې غُسل اوکړو او ده ددې اُوبو يَخوالې په خپل وجود کې محسوس کړو نو په دې سره دده روژه نه ماتيږي.

يا ددې مثال داسې دی لکه په تېلو باندې چې يو کس سَر مالِش کړي نو د تېلو اَثر هم دِماغو ته د مَساماتو په ذريعه باندې رسي، او په دې سره د هيڅا په نزد باندې روژه نه ماتيږي، نو همدغه شان په اِنجکشن وهلو سره هم روژه نه ماتيږي. (۱)

يا مثلاً يو کس مچۍ يا لړم اوچيچي نو په دې سره خو هم روژه نه ماتيږي، حالانکه د زهرو اَثر اکثره په دِماغو باندې کيږي.

---

(۱) وَمَا يَدْخُلُ مِنْ مَسَامِّ الْبَدَنِ مِنَ الدُّهْنِ لَا يُفطِرُ هٰكَذَا فِي شَرْحِ الْمَجْمَعِ... وَلَوْ أَقْطَرَ شَيْئًا مِنَ الدَّوَاءِ فِيْ عَيْنِهِ لَا يُفْطِرُ صَوْمَهُ عِنْدَنَا، وَإِنْ وَجَدَ طَعْمَهُ فِيْ حَلْقِهِ، وَإِذَا بَزَقَ فَرَأَى أَثَرَ الْكُحْلِ وَلَوْنَهُ فِيْ بُزَاقِهِ عَامَّةُ الْمَشَايِخِ عَلٰى أَنَّهُ لَا يُفْسِدُ صَوْمَهُ كَذَا فِي الذَّخِيْرَةِ، وَهُوَ الْأَصَحُّ هٰكَذَا فِي التَّبْيِيْنِ. الفتاوى الهندية ۲۰۳/۱ كِتَابُ الصَّوْمِ الْبَابُ الرَّابِعُ فِيْمَا يُفْسِدُ وَمَا لَا يُفْسِدُ.

قال العلامة شمس الدين محمد القهستانيؒ: او وصل دواء الى جوفه او دماغه من غير المسام. فلو وصل شيء من المسام الى جوفه لم يفسد بلا خلاف. لكن ينبغي ان يكون مكروها على الخلاف قياسا على صب الماء على البدن. جامع الرموز ۳٦۲/۱ فصل موجب الافساد

قال الدكتور وهبة الزحيليؒ: لايفسد الصوم عند الحنفية با الحُقَن في العضل أو تحت الجلد أو في الوريد. الفِقهُ الإسلاميُّ وأدلَّتُهُ ۱۷۱۲/۳ ما لا يفسد الصوم عند الحنفية.

وفي المنهاج: اعلم انّه ليس بين العين وبين الدّماغ والحلق منفذ. والدّمع يخرج الى العين بطريق الترشح من المسامات كالعرق. والمفطر هو الدخول من المنافذ دون المسامات كما صرح به في البحر و شرح المجمع وغيره. و لذا لايفطر الادهان والغسل. و هذا يدل على انّ الدواء الداخل في الباطن بتوسط الحقن والإبرة لايفطر سواء ادخلت الابرة في اللحم اوالعرق. لانّ هذا الدواء و ان وصل الى اللحم والعرق بالمنفذ لكنّه يدخل الباطن بوساطة المسامات دون المنافذ لعدم المنفذ بين مثل اليد والباطن. وعروق البدن ليس بمجوفة كما انّ عروق الاشجار ليست بمجوفة. وكما انّ الماء يصل الى اغصان الاشجار و اوراقها بالتموج في العروق فكذا الدّم والدّواء تصل الى القلب وغيره بالتموج في العروق. منهاج السنن شرح جامع السنن للترمذي ۳۴/۳ باب الكحل للصائم.

خو بيا هم حتّى الإمكان د روژې په حالت کې د رګ واله اِنجکشن نه پرهيز په کار دی.

دا مسئله په فتاوی عثمانيه ، فتاوی حقانيه ، فتاوی فريديه او نورو فتاوو کې همدغه شان ذکر ده.(۱)

په فتاوی محموديه کې دا هم ذکر دي: چې په انجکشن لږولو روژه نه ماتيږي ، ځکه (د انجکشن دوائي بدن ته د مَنفذ د لارې داخليږي ، او دا قاعده ده :) د مَنفذ په ذريعه چې کوم څيز وجود ته داخل شي په هغې سره روژه نه ماتيږي. (۲)

بل دا چې بدن ته هر داخليدونکي څيز سره روژه نه ماتيږي بلکه چې کوم څيز جَوفِ معدې ته داخل شي په هغې سره روژه ماتيږي. (۳)

په فتاوی دارالعلوم ديوبند کې هم ذکر دي چې په هر قِسمه اِنجکشن لږولو سره روژه نه ماتيږي. (۴)

## په روژه کې د ګلوکوز اِنجکشن لږول ، يا ډراپ خيجول جائز دي

په فتاوی فريديه کې ذکر دي چې په اِنجکشن لږولو او د ګلوکوز ډراپ خيجولو سره

(۱) فتاوی عثمانيه ج۴ ص ۱۹۴ کتاب الصوم فصل في ما لايفسد الصوم. فتاوی حقانيه ج۴ ص ۱۶۲ باب ما يفسد الصوم ومالايفسد ، فتاوی فريديه ج۴ ص ۱۲۳ ، و ص ۱۲۸ ، و ص ۱۲۹ ، باب ما يفسد الصوم و مالايفسده. روزے کے مسائل کا انسائکلوپیڈیا ص ۳۷ وص ۶۳ .

(۲) وَالْمُفْطِرُ إِنَّمَا هُوَ الدَّاخِلُ مِنَ الْمَنَافِذِ لِلاتِّفَاقِ عَلَى أَنَّ مَنِ اغْتَسَلَ فِيْ مَاءٍ فَوَجَدَ بَرْدَهُ فِيْ بَاطِنِهِ أَنَّهُ لَا يُفْطِرُ. رد المحتار على الدر المختار ۳۹۶/۲ كِتَابُ الصَّوْمِ بَابُ مَا يُفْسِدُ الصَّوْمَ وَمَا لَا يُفْسِدُهُ ، النهر الفائق ۱۷/۲ باب مايفسد الصوم ومالايفسده.

(۳) وَالَّذِيْ ذَكَرَهُ الْمُحَقِّقُوْنَ أَنَّ مَعْنَى الْفِطْرِ وُصُوْلُ مَا فِيْهِ صَلَاحُ الْبَدَنِ إِلَى الْجَوْفِ أَعَمُّ مِنْ كَوْنِهِ غِذَاءً أَوْ دَوَاءً. رد المحتار على الدر المختار ۴۱۰/۲ كِتَابُ الصَّوْمِ بَابُ مَا يُفْسِدُ الصَّوْمَ وَمَا لَا يُفْسِدُهُ. الفتاوى الهندية ۲۰۴/۱ الباب الرابع فيما يفسد ومالايفسد. فتاوی محموديه ج۱۵ ص ۱۷۹ ، و ص ۱۸۰ روزہ کے مفسدات ومکروہات.

(۴) وَأَمَّا مَا وَصَلَ إِلَى الْجَوْفِ أَوْ إِلَى الدِّمَاغِ عَنْ غَيْرِ الْمَخَارِقِ الْأَصْلِيَّةِ بِأَنْ دَاوَى الْجَائِفَةَ ، وَالْآمَّةَ ، فَإِنْ دَاوَاهَا بِدَوَاءٍ يَابِسٍ لَا يُفْسِدُ لِأَنَّهُ لَمْ يَصِلْ إِلَى الْجَوْفِ وَلَا إِلَى الدِّمَاغِ . بدائع الصنائع في ترتيب الشرائع ۹۳/۲ كِتَابُ الصَّوْمِ فَصْلٌ أَرْكَانُ الصِّيَامِ. فتاوی دارالعلوم ديوبند ج۶ ص ۲۵۹ ، ۲۵۸ .

روژه نه ماتيږي ، په دې طريقې سره دوائي زړه او ځګر ته د مساماتو په ذريعه رسي د مَنافذو (سُورو) په ذريعه نه رسي . او فقهاؤ دا خبره صراحة ذکر کړې چې روژه په هغه څيز ماتيږي چې هغه د منافذو (سُورو) په ذريعه دِماغو او معدې ته اورسي ، که د مساماتو په ذريعه اورسي نو په دې سره روژه نه ماتيږي . (۱)

البته که په سِينه او خېټه کې براهِ راست اِنجکشن اولږي (يعنی معدې ته ډارک انجکشن ننَباسي) نو په دې سره بيا روژه ماتيږي ، ځکه چې دا دوائي د مَنفذ (سُوري) په ذريعه بدن ته داخله شوه ، او په دې سره روژه ماتيږي . (۲)

## په اِنجکشن سره د روژې ماتولو حکم د اصولِ مُسلمهؤ خلاف دی

مفتي فريد رحمه الله په فتاوی فريده کې ليکلي چې "په اِنجکشن سره د روژې ماتولو حکم کول" د اصولِ مُسلمهؤ خلاف دی (يعنی په اِنجکشن سره روژه نه ماتيږي، او څوک چې د روژې ماتيدو حکم ورکوي نو دا د شرعي اصولو خلاف خبره ده) ځکه په اِنجکشن سره دوائي باطن ته د مَساماتو په ذريعه رَسي ، د منافذو (سُورو) په ذريعه نه رسي . (۳)

---

(۱) وَمَا يَدْخُلُ مِنْ مَسَامِّ الْبَدَنِ مِنَ الدُّهْنِ لَا يُفْطِرُ . الفتاوى الهندية ۱/۲۰۳ اَلْبَابُ الرَّابِعُ فِيمَا يُفْسِدُ وَمَا لَا يُفْسِدُ

(۲) قال الحصكفيؒ (... أَوْ دَاوَى جَائِفَةً أَوْ آمَّةً) فَوَصَلَ الدَّوَاءُ حَقِيقَةً إِلَى جَوْفِهِ وَدِمَاغِهِ. الدرالمختار

قال ابن عابدينؒ : اَلْجَائِفَةُ : اَلطَّعْنَةُ الَّتِي بَلَغَتِ الْجَوْفَ أَوْ نَفَذَتْه . وَالْآمَّةُ : مِنْ أَمَمْته بِالْعَصَا. رد المحتار ۲/۴۰۲ كِتَابُ الصَّوْمِ بَابُ مَا يُفْسِدُ الصَّوْمَ وَمَا لَا يُفْسِدُهُ . فتاوى فريديه ج۴ ص ۱۳۱ باب ما يفسد الصوم و مالايفسده .

وَالَّذِي ذَكَرَهُ الْمُحَقِّقُونَ أَنَّ مَعْنَى الْفِطْرِ وُصُولُ مَا فِيهِ صَلَاحُ الْبَدَنِ إِلَى الْجَوْفِ أَعَمُّ مِنْ كَوْنِهِ غِذَاءً أَوْ دَوَاءً . رد المحتار على الدر المختار ۲/۴۱۰ كِتَابُ الصَّوْمِ بَابُ مَا يُفْسِدُ الصَّوْمَ وَمَا لَا يُفْسِدُهُ . الفتاوى الهندية ۱/۲۰۴ الباب الرابع فيما يفسد ومالايفسد. فتاوى محموديه ج۱۵ ص ۱۸۱ روزہ کے مفسدات ومکروہات .

(۳) قال العلامة الكاسانيؒ : وَأَمَّا مَا وَصَلَ إِلَى الْجَوْفِ أَوْ إِلَى الدِّمَاغِ عَنْ غَيْرِ الْمَخَارِقِ الْأَصْلِيَّةِ بِأَنْ دَاوَى الْجَائِفَةَ. وَالْآمَّةَ. فَإِنْ دَاوَاهَا بِدَوَاءٍ يَابِسٍ لَا يُفْسِدُ لِأَنَّهُ لَمْ يَصِلْ إِلَى الْجَوْفِ وَلَا إِلَى الدِّمَاغِ ، وَلَوْ عَلِمَ أَنَّهُ وَصَلَ يُفْسِدُ فِي قَوْلِ أَبِي حَنِيفَةَ. وَإِنْ دَاوَاهَا بِدَوَاءٍ رَطْبٍ يُفْسِدُ عِنْدَ أَبِي حَنِيفَةَ وَعِنْدَهُمَا لَا يُفْسِدُ ، هُمَا اعْتَبَرَا الْمَخَارِقَ الْأَصْلِيَّةَ لِأَنَّ الْوُصُولَ إِلَى الْجَوْفِ مِنَ الْمَخَارِقِ الْأَصْلِيَّةِ مُتَيَقَّنٌ بِهِ وَمِنْ غَيْرِهَا مَشْكُوكٌ فِيهِ ، فَلَا نَحْكُمُ بِالْفَسَادِ مَعَ الشَّكِّ ، وَلِأَبِي حَنِيفَةَ إِنَّ الدَّوَاءَ إِذَا كَانَ رَطْبًا فَالظَّاهِرُ هُوَ الْوُصُولُ لِوُجُودِ الْمَنْفَذِ إِلَى الْجَوْفِ فَيُبْنَى الْحُكْمُ عَلَى الظَّاهِرِ . بدائع الصنائع في ترتيب الشرائع ۲/۹۳ كِتَابُ الصَّوْمِ فَصْلُ أَرْكَانِ الصِّيَامِ .

بل دا چې د اِنجکشن د سَتنې د آخري سَر او د باطن په مینځ کې نه قدرتي سُورې شته او نه مصنوعي. او د دې خبرې تائيد جديد تحقيقات هم کوي. (۱)

## په روژه کې د وِينې ډراپ خيجول

په فتاوی عثمانيه کې ذکر دي چې روژه هغه وخت ماتيږي چې يو څيز د څه سُورې په ذريعه باندې معدې او دِماغو ته اُورسي، حالانکه د اِنجکشن په ذريعه باندې دوائي د سُوري په ذريعه باندې معدې او دِماغو ته نه رسي بلکه د رګونو او مَسامَاتو په ذريعه رَسي، لهذا روژه دار چې د اِنجکشن يا ډراپ په ذريعه باندې وينه اوخيجوي نو په دې سره په روژه باندې هيڅ اَثر نه غورځي. البته احتياط په دې کې دی چې د روژې په حالت کې د دې نه ځان اوساتي. (۲)

## مور د بچي د پاره په خپله خُله کې خوراک ژويلې شي

د بچي تربيت او پَرورَش د مور د پاره ضروري دی، که چيرته د وړوکي ماشوم د پاره د خوراک مېده کولو څه بل بَندوبست نشي کيدی نو بيا د ضرورت په وجه د روژې په حالت کې هم مور د خپل بچي د پاره په خپله خُله کې خوراک ژويلې او مېده کولې شي چې بيا يې بچي ته ورکړي. البته که د خوراک مېده کولو څه بل بندوبست کيدې شو نو بيا د دې روژه داري مور د پاره دا مکروه دی. (۳)

---

(۱) فتاوی فريديه ج۴ ص ۱۳۳ باب ما يفسد الصوم و مالايفسده.

(۲) قال الحصكفيّ: (أَوْ أَدْهَنَ أَوِ اكْتَحَلَ أَوِ احْتَجَمَ) وَإِنْ وَجَدَ طَعْمَهُ فِيْ حَلْقِهِ.. (لَمْ يُفْطِرْ). قال ابن عابدينّ: لِأَنَّ الْمَوْجُوْدَ فِيْ حَلْقِهِ أَثَرٌ دَاخِلٌ مِنَ الْمَسَامِّ الَّذِيْ هُوَ خَلَلُ الْبَدَنِ وَالْمُفْطِرُ إِنَّمَا هُوَ الدَّاخِلُ مِنَ الْمَنَافِذِ. لِلِاتِّفَاقِ عَلَى أَنَّ مَنِ اغْتَسَلَ فِيْ مَاءٍ فَوَجَدَ بَرْدَهُ فِيْ بَاطِنِهِ أَنَّهُ لَا يُفْطِرُ. رد المحتار ۳۹۵/۲ كِتَابُ الصَّوْمِ بَابُ مَا يُفْسِدُ الصَّوْمَ وَمَالَا يُفْسِدُهُ. فتاوی عثمانيه ج۴ ص ۱۹۹ كتاب الصوم فصل في ما لايفسد الصوم سوال نمبر ۱۴۸

(۳) قال المرغينانيّ: (وَيُكْرَهُ لِلْمَرْأَةِ أَنْ تَمْضُغَ لِصَبِيِّهَا الطَّعَامَ إِذَا كَانَ لَهَا مِنْهُ بُدٌّ) لِمَا بَيَّنَّا (وَلَا بَأْسَ إِذَا لَمْ تَجِدْ مِنْهُ بُدًّا) صِيَانَةً لِلْوَلَدِ. أَلَا تَرَى أَنَّ لَهَا أَنْ تُفْطِرَ إِذَا خَافَتْ عَلَى وَلَدِهَا. الهداية في شرح بداية المبتدي كتاب الصوم باب ما يوجب القضاء والكفارة ۱۲۳/۱. الجوهرة النيرة ۱۴۲/۱ كتاب الصوم، الفتاوى التاتارخانية كتاب الصوم الفصل السادس فيما يكره للصائم و مالايكره ۲۸۸/۲. هكذا في فتاوی عثمانيه ج۴ ص ۱۹۶.

## چې بې اختیاره حلق ته ماشې، مچ، ګرد او لوګې لاړ شي

بې اِختیاره چې ماشې یا مَچ په حلق کې تېر شي نو په دې سره روژه نه ماتیږي.(۱)
همدارنګې بې اختیاره چې ګرد و غبار یا لوګې د حلق نه تېر شي نو په دې سره هم روژه نه ماتیږي.(۲)

## چې د بَنګو او چَرسو ګرد بې اِختیاره حلق ته لاړ شي

د روژې په حالت کې چې حَلق ته ګرد و غبار لاړ شي نو په روژې باندې ددې د اثر دارومدار

---

(۱) وَلَوْ دَخَلَ الذُّبَابُ حَلْقَهُ لَمْ يُفْطِرْهُ لِأَنَّهُ لَا يُمْكِنُهُ الِاحْتِرَازُ عَنْهُ فَأَشْبَهَ النَّاسِيَ. وَلَوْ أَخَذَهُ فَأَكَلَهُ فَطَّرَهُ لِأَنَّهُ تَعَمَّدَ أَكْلَهُ وَإِنْ لَمْ يَكُنْ مَأْكُولًا كَمَا لَوْ أَكَلَ التُّرَابَ. بدائع الصنائع ۹۰/۲ كِتَابُ الصَّوْمِ فَصْلُ أَرْكَانِ الصِّيَامِ.

وَمَا لَيْسَ بِمَقْصُودٍ بِالْأَكْلِ، وَلَا يُمْكِنُ الِاحْتِرَازُ عَنْهُ كَالذُّبَابِ إِذَا وَصَلَ إِلَى جَوْفِ الصَّائِمِ لَمْ يُفْطِرْهُ كَذَا فِي إِيضَاحِ الْكَرْمَانِيِّ وَلَوْ أَخَذَ الذُّبَابَ وَأَكَلَهُ يَجِبُ عَلَيْهِ الْقَضَاءُ دُونَ الْكَفَّارَةِ كَذَا فِي شَرْحِ الطَّحَاوِيِّ. الفتاوى الهندية ۲۰۳/۱ كِتَابُ الصَّوْمِ اَلْبَابُ الرَّابِعُ فِيمَا يُفْسِدُ وَمَا لَا يُفْسِدُ اَلنَّوْعُ الْأَوَّلُ مَا يُوجِبُ الْقَضَاءَ دُونَ الْكَفَّارَةِ.

(۲) وَلَوْ دَخَلَ الْغُبَارُ أَوِ الدُّخَانُ أَوِ الرَّائِحَةُ فِي حَلْقِهِ لَمْ يُفْطِرْهُ، لِمَا قُلْنَا. بدائع الصنائع ۹۰/۲ كِتَابُ الصَّوْمِ فَصْلُ أَرْكَانِ الصِّيَامِ.

(أَوْ دَخَلَ حَلْقَهُ غُبَارٌ أَوْ ذُبَابٌ أَوْ دُخَانٌ) وَلَوْ ذَاكِرًا اِسْتِحْسَانًا لِعَدَمِ إِمْكَانِ التَّحَرُّزِ عَنْهُ، وَمَفَادُهُ أَنَّهُ لَوْ أَدْخَلَ حَلْقَهُ الدُّخَانَ أَفْطَرَ أَيَّ دُخَانٍ كَانَ وَلَوْ عُودًا أَوْ عَنْبَرًا لَهُ ذَاكِرًا لِإِمْكَانِ التَّحَرُّزِ عَنْهُ فَلْيُتَنَبَّهْ لَهُ كَمَا بَسَطَهُ الشُّرُنْبُلَالِيُّ. الدرالمختار ۳۹۵/۲ كِتَابُ الصَّوْمِ بَابُ مَا يُفْسِدُ الصَّوْمَ وَمَا لَا يُفْسِدُهُ.

قال العلامة عبدالعلي البحر العلوم: و لودخل ما لايستطاع الاحتراز عنه فى الجوف بلاصنع منه كالدخان والغبار لايضر الصوم لان التكليف بحسب الوسع. و امّا لو ادخل الدخان كما يعتاد اليوم في اكثر الناس فينبغي ان يفسد به الصوم، خصوصًا دخان التنباک لانه يورث الفرح و تحصل التسكين للمعتادين. رسائل الاركان ص ۲۱۱ بيان دخول الدخان الغبار فى الجوف. و مثله في حاشية الهداية ج۱ ص ۲۰۰ باب مايوجب القضاء والكفارة، فتاوى حقانيه ج۴ ص ۱۷۶.

وَلَوْ دَخَلَ حَلْقَهُ غُبَارُ الطَّاحُونَةِ أَوْ طَعْمُ الْأَدْوِيَةِ أَوْ غُبَارُ الْهَرْسِ وَأَشْبَاهُهُ أَوِ الدُّخَانُ أَوْ مَا سَطَعَ مِنْ غُبَارِ التُّرَابِ بِالرِّيحِ أَوْ بِحَوَافِرِ الدَّوَابِّ وَأَشْبَاهِ ذٰلِكَ لَمْ يُفْطِرْهُ كَذَا فِي السِّرَاجِ الْوَهَّاجِ. الفتاوى الهندية ۲۰۳/۱ اَلْبَابُ الرَّابِعُ فِيمَا يُفْسِدُ وَمَا لَا يُفْسِدُ اَلنَّوْعُ الْأَوَّلُ مَا يُوجِبُ الْقَضَاءَ دُونَ الْكَفَّارَةِ

په قصد باندې دی ، پس که چيرته دا بې اِختياره لاړ شي نو په دې سره روژه نه ماتيږي، ځکه د دينه ځان بچ کول ګران دي .

خو که ده قصداً ګرد و غبار تېر کړو نو په دې سره روژه ماتيږي . لهذا د بَنګو او چَرسو د صفائي په وخت ددې د ګرد نه ځان ساتل په کار دي . (۱)

## خوشبوئي او عطرو بُويولو سره روژه نه ماتيږي

هر قِسمه خوشبوئي ، عطر او سپَرې بُوي کولو سره روژه نه ماتيږي . همدارنګې که د ګريتې يا نوبان لوګې بې اِختياره په پوزه کې لاړشي نو په دې سره هم روژه نه ماتيږي. (۲)

البته که ګريتې ، لوبان وغيره ځان ته لوګې کړي ، ځان ته يې نزدې کړي او قصداً دا لوګې په پوزه راکاږي ، د حلق نه تېر شي نو ددې سره روژه ماتيږي . لهذا په روژه کې د ګريتې نه ځان ساتل په کار دي .

همدارنګې قصداً په چيلم يا سِګريټ څکلو سره هم روژه ماتيږي ، ټولو فتاؤو ليکلي چې په عادي کس باندې قضاء او کفاره دواړه لازميږي، ځکه دې دا لوګې قصداً د حلق نه تېره وي .

البته صرف په فتاوی حقانيه کې ذکر دي چې په سګريټ څکوونکي باندې صرف قضاء لازميږي ، کفاره ورباندې نه لازميږي .

( نوټ : په سګريټ يا چيلم څکلو سره د روژې ماتيدو متعلق تفصلي بحث روستو راروان دی . ابوالشمس عفي عنه )

(۱) ( قَوْلُهُ : أَنَّهُ لَوْ أَدْخَلَ حَلْقَهُ الدُّخَانَ ) أَيْ بِأَيِّ صُورَةٍ كَانَ الْإِدْخَالُ حَتَّى لَوْ تَبَخَّرَ بِبَخُورٍ وَآوَاهُ إلَى نَفْسِهِ وَاشْتَمَّهُ ذَاكِرًا لِصَوْمِهِ أَفْطَرَ لِإِمْكَانِ التَّحَرُّزِ عَنْهُ . رد المحتار على الدر المختار ۲/ ۳۹۵ كِتَابُ الصَّوْمِ بَابُ مَا يُفْسِدُ الصَّوْمَ وَمَا لَا يُفْسِدُهُ . فتاوى عثمانيه ج۴ ص ۱۹۸ كتاب الصوم .

(۲) لَا يُكْرَهُ لِلصَّائِمِ شَمُّ رَائِحَةِ الْمِسْكِ وَالْوَرْدِ وَنَحْوِهِ مِمَّا لَا يَكُونُ جَوْهَرًا مُتَّصِلًا كَالدُّخَانِ الدر المختار ۲/ ۴۱۷ كِتَابُ الصَّوْمِ بَابُ مَا يُفْسِدُ الصَّوْمَ وَمَا لَا يُفْسِدُهُ . مراقي الفلاح شرح نور الإيضاح ۱/ ۲۴۵ كتاب الصوم باب ما لا يفسد الصوم . طحطاوي ص ۵۴۳ باب بيان ما يفسد الصوم ، سكب الانهر مع مجمع الانهر ۱/ ۳۶۱ كتاب الصوم باب موجب الفساد . فتاوى محموديه ج۱۵ ص ۱۶۹ ، و ص ۱۷۰ ، و ص ۱۷۲ .

## په سَر غوَړولو سره روژه نه ماتيږي

په سَر غوَړولو يا ټول بدن غوَړولو سره روژه نه ماتيږي. همدارنګې د مسَاماتو په ذريعه چې د اُوبو يا تېلو يَخوالي په بدن کې محسوس شي نو په دې سره روژه نه ماتيږي. (۱)

## په کومو صورتونو کې چې روژه ماتيږي د هغې بيان

په کومو صورتونو کې چې د روژې رُکن نوت شي " يعنې يو کس قصدًا خوراک ، څکاک او جِماع اوکړي" نو په صورت کې روژه ماتيږي.

د روژې ماتيدو نه پس په ده باندې په بعضې صورتونو کې قضاء او کفاره دواړه لازميږي او په بعضې صورتونو کې صرف قضاء لازميږي کفاره ورسره نه لازميږي.

ددې هر يو ځان له ځان صورتونه دي. زه به درته اول هغه صورتونه ذکر کړم چې په هغې کې د قضاء سره کفاره هم لازميږي، بيا به درته هغه صورتونه ذکر کړم چې صرف قضاء لازميږي او کفاره ورسره نه لازميږي.

## په کومو صورتونو کې چې د قضاء سره کفاره هم لازميږي د هغې بيان

په کومو صورتونو کې چې د قضاء سره کفاره لازميږي د هغې صورتونو بيانولو نه مخکې درته د کفارې واجب کيدلو شرائط بيانوم ، ددې د پاره چې تاسو بيا په آسانئ سره هغه صورتونه معلومولې شئ په کومو کې چې د قضاء سره کفاره هم لازميږي:

---

(۱) "أو ادهن" لم يفسد صومه كما لو اغتسل و وجد برد الماء في كبده . مراقي الفلاح شرح متن نور الإيضاح ۲۴۵/۱ كتاب الصوم باب مالا يفسد الصوم . شامي ۳۹۵/۲ باب مايفسد الصوم ، الفتاوى الهندية ۲۰۳/۱ الباب الرابع . فتاوى محموديه ج۱۵ ص ۱۶۵ .

قال الحصكفيؒ: ( أَوْ أَدْهَنَ أَوِ اكْتَحَلَ أَوِ احْتَجَمَ) وَإِنْ وَجَدَ طَعْمَهُ فِيْ حَلْقِهِ... (لَمْ يُفْطِرْ) . الدر المختار .

قال ابن عابدينؒ: ( قَوْلُهُ: وَإِنْ وَجَدَ طَعْمَهُ فِيْ حَلْقِهِ) أَيْ طَعْمَ الْكُحْلِ أَوِ الدُّهْنِ كَمَا فِي السِّرَاجِ ، وَكَذَا لَوْ بَزَقَ فَوَجَدَ لَوْنَهُ فِي الْأَصَحِّ بَحْرٌ قَالَ فِي النَّهْرِ ، لِأَنَّ الْمَوْجُوْدَ فِيْ حَلْقِهِ أَثَرٌ دَاخِلٌ مِنَ الْمَسَامِّ الَّذِيْ هُوَ خَلَلُ الْبَدَنِ وَالْمُفْطِرُ إِنَّمَا هُوَ الدَّاخِلُ مِنَ الْمَنَافِذِ . رد المحتار على الدر المختار ۳۹۵/۲ كِتَابُ الصَّوْمِ بَابُ مَا يُفْسِدُ الصَّوْمَ وَمَا لَا يُفْسِدُهُ . فتاوى دار العلوم ديوبند ج۶ ص ۲۵۶ كتاب الصوم .

# د کفارې واجب کېدلو شرائط

چې کله دا شرائط موجود شي نو بيا د قضاء سره کفاره لازمېږي:

۱. خوراک، څکاک، يا جِماع اُوکړي.

۲. د روژې ماتولو يې قصد او اِراده کړې وي. (ځکه که ده ته روژه ياده وه خو د ماتولو اِراده يې نه وه او روژه ورنه ماته شوه نو بيا صرف قضاء لازمېږي، کفاره ورباندې نه لازمېږي.

مثلاً او د س يې کولو، روژه ورته ياده وه خو بِلا اِراده يې د خُلې وينځلو په وخت اُوبه تېرې شوې نو په دې سره صرف د روژې قضاء لازمېږي، کفاره ورسره نه لازمېږي. (۱)

(نوټ: که په هېره يې خوراک، څکاک يا جِماع اوکړه نو په دې سره روژه نه ماتېږي)

۳. داسې عُذر نه وي موجود چې د هغې په وجه انسان ته روژه نه نيول جائز وي.

٤. داسې عُذر نه وي موجود چې د هغې په وجه د روژې ماتولو د جواز شُبهه پيدا شوي وي. (۲)

۵. د شپې نه، يا د سهر نه مخکې يې د روژې نيت کړی. (ځکه که د شپې نه، يا د سهر نه مخکې يې د روژې نيت نهٔ کړی او د ورځې يې خوراک څکاک وغيره اوکړو نو صرف قضاء ورباندې لازمېږي، کفاره ورباندې نه لازمېږي). (۳)

٦. د رمضان روژې په ماتولو سره کفاره لازمېږي، (ځکه کفاره د رمضان روژو قصداً ماتولو سره خاص ده، که د رمضان نه علاوه بله روژه يې قصداً ماته کړه نو صرف د همدغه

(۱) وَإِنْ تَمَضْمَضَ أَوِ اسْتَنْشَقَ فَدَخَلَ الْمَاءُ جَوْفَهُ إِنْ كَانَ ذَاكِرًا لِصَوْمِهِ فَسَدَ صَوْمُهُ وَعَلَيْهِ الْقَضَاءُ. وَإِنْ لَمْ يَكُنْ ذَاكِرًا لَا يَفْسُدُ صَوْمُهُ كَذَا فِي الْخُلَاصَةِ وَعَلَيْهِ الْاِعْتِمَادُ. الفتاوى الهندية ۲۰۲/۱ كتاب الصوم اَلْبَابُ الرَّابِعُ فِيمَا يُفْسِدُ وَمَا لَا يُفْسِدُ

(۲) بدالع الصنائع في ترتيب الشرائع كِتَابُ الصَّوْمِ فَصْلٌ حُكْمُ فَسَادِ الصَّوْمِ. فتاوى عثمانيه ج۴ ص ۱۸۱ كتاب الصوم.

(۳) وَمَنْ أَصْبَحَ فِي رَمَضَانَ لَا يَنْوِي الصَّوْمَ فَأَكَلَ أَوْ شَرِبَ أَوْ جَامَعَ عَلَيْهِ قَضَاءُ ذٰلِكَ الْيَوْمِ وَلَا كَفَّارَةَ عَلَيْهِ عِنْدَ أَصْحَابِنَا الثَّلَاثَةِ. بدائع الصنائع في ترتيب الشرائع ۱۰۲/۲ كِتَابُ الصَّوْمِ فَصْلٌ حُكْمُ فَسَادِ الصَّوْمِ

ورځې قضاء ورباندې لازميږي ، كفاره ورباندې نه لازميږي ) .(۱) .

۷ . د قصدًا روژې ماتولو نه روستو غيرِاختياري داسې بيماري راپيدا نشي چې د هغې په وجه شريعت ده ته روژه خوړل جائز كړي وي .

( ځكه كه داسې بيماري راپيدا شوه نو بيا ددې صرف قضاء لازميږي ، كفاره ورسره نه لازميږي .(۲) )

البته كه يو كس ځان په زوره مريض كړي ، يا ځان په زوره زخمي كړي يا بله حِيله اوكړي

---

(۱) وَأَمَّا صِيَامُ غَيْرِ رَمَضَانَ فَلَا يَتَعَلَّقُ بِإِفْسَادِ شَيْءٍ مِنْهُ وُجُوبُ الْكَفَّارَةِ . لِأَنَّ وُجُوبَ الْكَفَّارَةِ بِإِفْسَادِ صَوْمِ رَمَضَانَ عُرِفَ بِالتَّوْقِيفِ، وَأَنَّهُ صَوْمٌ شَرِيفٌ فِي وَقْتٍ شَرِيفٍ لَا يُوَازِيهِمَا غَيْرُهُمَا مِنَ الصِّيَامِ وَالْأَوْقَاتِ فِي الشَّرَفِ وَالْحُرْمَةِ. فَلَا يَلْحَقُ بِهِ فِي وُجُوبِ الْكَفَّارَةِ بدائع الصنائع في ترتيب الشرائع ۱۰۲/۲ كِتَابُ الصَّوْمِ فَصْلٌ حُكْمُ فَسَادِ الصَّوْمِ .

(وَلَيْسَ فِي إِفْسَادِ صَوْمِ غَيْرِ رَمَضَانَ كَفَّارَةٌ) لِأَنَّ الْإِفْطَارَ فِي رَمَضَانَ أَبْلَغُ فِي الْجِنَايَةِ فَلَا يَلْحَقُ بِهِ غَيْرُهُ. فتح القدير ۳۴۱/۲ كِتَابُ الصَّوْمِ بَابُ مَا يُوجِبُ الْقَضَاءَ وَالْكَفَّارَةَ. هكذا في فتاوى تاتارخانية ج۲ ص ۳۷۷ الفصل الخامس في وجوب الكفارة في افساد الصوم ، و مثله في الفتاوى الهندية ج۱ ص ۲۱۵ باب المتفرقات ، فتاوى حقانيه ج ۴ ص ۱۸۷ . فتاوى دارالعلوم ديوبند ج٦ ص ۲٦۷ ، و ص ۲۷۲ .

(۲) وَالصَّحِيحُ إِذَا أَفْطَرَ ثُمَّ مَرِضَ مَرَضًا لَا يَسْتَطِيعُ مَعَهُ الصَّوْمَ تَسْقُطُ الْكَفَّارَةُ عِنْدَنَا كَذَا فِي فَتَاوَى قَاضِي خَانْ. وَهُوَ الْأَصَحُّ هٰكَذَا فِي الظَّهِيرِيَّةِ . فَالْأَصْلُ عِنْدَنَا أَنَّهُ إِذَا صَارَ فِي آخِرِ النَّهَارِ عَلَى صِفَةٍ لَوْ كَانَ عَلَيْهَا فِي أَوَّلِ الْيَوْمِ يُبَاحُ لَهُ الْفِطْرُ تَسْقُطُ عَنْهُ الْكَفَّارَةُ كَذَا فِي فَتَاوَى قَاضِي خَانْ الفتاوى الهندية كِتَابُ الصَّوْمِ اَلْبَابُ الرَّابِعُ النَّوْعُ الثَّانِي مَا يُوجِبُ الْقَضَاءَ وَالْكَفَّارَةَ ۲۰٦/۱

وَلَوْ أَفْطَرَ وَهُوَ مُقِيمٌ فَوَجَبَتْ عَلَيْهِ الْكَفَّارَةُ ثُمَّ سَافَرَ فِي يَوْمِهِ ذٰلِكَ لَمْ تَسْقُطْ عَنْهُ الْكَفَّارَةُ . وَلَوْ مَرِضَ فِي يَوْمِهِ ذٰلِكَ مَرَضًا يُرَخِّصُ الْإِفْطَارَ أَوْ يُبِيحُهُ تَسْقُطُ عَنْهُ الْكَفَّارَةُ . وَوَجْهُ الْفَرْقِ أَنَّ فِي الْمَرَضِ مَعْنًى يُوجِبُ تَغْيِيرَ الطَّبِيعَةِ عَنِ الصِّحَّةِ إِلَى الْفَسَادِ. وَذٰلِكَ الْمَعْنَى يَحْدُثُ فِي الْبَاطِنِ ثُمَّ يَظْهَرُ أَثَرُهُ فِي الظَّاهِرِ. فَلَمَّا مَرِضَ فِي ذٰلِكَ الْيَوْمِ عُلِمَ أَنَّهُ كَانَ مَوْجُودًا وَقْتَ الْإِفْطَارِ لٰكِنَّهُ لَمْ يَظْهَرْ أَثَرُهُ فِي الظَّاهِرِ فَكَانَ الْمُرَخِّصُ أَوِ الْمُبِيحُ مَوْجُودًا وَقْتَ الْإِفْطَارِ. فَمَنَعَ انْعِقَادَ الْإِفْطَارِ مُوجِبًا لِلْكَفَّارَةِ . أَوْ وُجُودُ أَصْلِهِ أَوْرَثَ شُبْهَةً فِي الْوُجُوبِ وَهٰذِهِ الْكَفَّارَةُ لَا تَجِبُ مَعَ الشُّبْهَةِ. وَهٰذَا الْمَعْنَى لَا يَتَحَقَّقُ فِي السَّفَرِ... بدائع الصنائع في ترتيب الشرائع ۱۰۱/۲ كِتَابُ الصَّوْمِ فَصْلٌ حُكْمُ فَسَادِ الصَّوْمِ

نو په ده باندې بيا هم قضاء او كفاره دواړه لازميږي ) .(۱)

۸ . د قصدًا خوراک ، څکاک او جِماع نه پس په همدغه ورځ باندې د زَنانه حيض او نِفاس رانشي . ( ځکه که په همدغه ورځ يې حيض يا نفاس راغی نو بيا صرف قضاء لازميږي ، کفاره ورسره نه لازميږي ) .(۲)

۹ . دا كس به په سفر كې نه وي ( ځکه که دا په سفر کې وُ او قصدًا يې خوراک ، څکاک او جِماع اوکړه نو صرف قضاء ورباندې لازميږي ، کفاره ورباندې نه لازميږي ، وجه داده چې مسافرته په سفر کې روژه ماتول جائز دي . .(۳) )

البته که په يو کس باندې د قصدًا خوراک څکاک او جِماع په وجه کفاره لازم شي او دې په همدې ورځ باندې بيا سفرته اُووځي نو په دې سره کفاره نه ساقطيږي ) .(۴)

---

(۱) وَلَوْ جَرَحَ نَفْسَهُ فَمَرِضَ مَرَضًا شَدِيْدًا مُرَخِّصًا لِلْإِفْطَارِ أَوْ مُبِيْحًا ؟ إِخْتَلَفَ الْمَشَايِخُ فِيْهِ . قَالَ بَعْضُهُمْ: يَسْقُطُ .وَقَالَ بَعْضُهُمْ: لَا يَسْقُطُ ، وَهُوَ الصَّحِيْحُ. بدائع الصنائع في ترتيب الشرائع ۲/۱۰۱ كِتَابُ الصَّوْمِ فَصْلٌ حُكْمُ فَسَادِ الصَّوْمِ

وَلَوْ جَرَحَ نَفْسَهُ حَتّٰى صَارَ بِحَالٍ لَا يَقْدِرُ عَلَى الصَّوْمِ قِيْلَ لَا تَسْقُطُ الْكَفَّارَةُ ، وَهُوَ الصَّحِيْحُ كَذَا فِي الظَّهِيرِيَّةِ. الفتاوى الهندية كِتَابُ الصَّوْمِ اَلْبَابُ الرَّابِعُ اَلنَّوْعُ الثَّانِي مَا يُوجِبُ الْقَضَاءَ وَالْكَفَّارَةَ ۱/ ۲۰۶ .

(۲) وَكَذٰلِكَ إِذَا أَفْطَرَتِ الْمَرْأَةُ ثُمَّ حَاضَتْ فِي ذٰلِكَ الْيَوْمِ أَوْ نَفِسَتْ سَقَطَتْ عَنْهَا الْكَفَّارَةُ لِأَنَّ الْحَيْضَ دَمٌ مُجْتَمِعٌ فِي الرَّحِمِ يَخْرُجُ شَيْئًا فَشَيْئًا فَكَانَ مَوْجُودًا وَقْتَ الْإِفْطَارِ لٰكِنَّهُ لَمْ يَبْرُزْ فَمَنَعَ وُجُوبَ الْكَفَّارَةِ . بدائع الصنائع في ترتيب الشرائع ۲/۱۰۱ كِتَابُ الصَّوْمِ فَصْلٌ حُكْمُ فَسَادِ الصَّوْمِ .

وَلَوْ أَفْطَرَتِ الْمَرْأَةُ مُتَعَمِّدَةً ثُمَّ حَاضَتْ أَوْ مَرِضَتْ يَوْمَهَا ذٰلِكَ قَضَتْ ، وَلَا كَفَّارَةَ عَلَيْهَا. وَكَذَا لَوْ أَفْطَرَ ثُمَّ أُغْمِيَ عَلَيْهِ كَذَا فِي مُحِيْطِ السَّرَخْسِيِّ. الفتاوى الهندية كِتَابُ الصَّوْمِ اَلْبَابُ الرَّابِعُ اَلنَّوْعُ الثَّانِي مَا يُوجِبُ الْقَضَاءَ وَالْكَفَّارَةَ ۱/۲۰۶ .

(۳) وَلَوْ أَصْبَحَ صَائِمًا فِي سَفَرِهِ ثُمَّ أَفْطَرَ مُتَعَمِّدًا فَلَا كَفَّارَةَ عَلَيْهِ لِأَنَّ السَّبَبَ الْمُبِيْحَ مِنْ حَيْثُ الصُّوْرَةُ قَائِمٌ وَهُوَ السَّفَرُ فَأَوْرَثَ شُبْهَةً وَهٰذِهِ الْكَفَّارَةُ لَا تَجِبُ مَعَ الشُّبْهَةِ . بدائع الصنائع في ترتيب الشرائع ۲/۱۰۰ كِتَابُ الصَّوْمِ فَصْلٌ حُكْمُ فَسَادِ الصَّوْمِ .

(۴) وَلَوْ أَفْطَرَ وَهُوَ مُقِيْمٌ فَوَجَبَتْ عَلَيْهِ الْكَفَّارَةُ ثُمَّ سَافَرَ فِي يَوْمِهِ ذٰلِكَ لَمْ تَسْقُطْ عَنْهُ الْكَفَّارَةُ . بدائع الصنائع في ترتيب الشرائع ۲/۱۰۱ كِتَابُ الصَّوْمِ فَصْلٌ حُكْمُ فَسَادِ الصَّوْمِ .

۱۰ . دا روژه به ده قصدًا په خپله خوښه ماته کړې وي .

( څکه که په يو کس باندې بل څا په زوره روژه ماته کړه نو په ده باندې بيا صرف قضاء لازم ده ، کفاره ورباندې لازم نده ) . (۱)

**نوټ** : دا شرائط څه په " الفقه على المذاهب الاربعة " کې هم ذکر دي . (۲)

او څه په بدائع الصنائع کې ذکر دي . (۳)

## هغه صورتونه چې په هغې کې د قضاء سره کفاره هم لازميږي

اوس درته يو څو خاص هغه صورتونه ذکر کوم چې په هغې کې د قضاء سره کفاره هم لازميږي :

---

(۱) لَوْ أَكَلَ مُكْرَهًا أَوْ مُخْطِئًا عَلَيْهِ الْقَضَاءُ دُوْنَ الْكَفَّارَةِ كَذَا فِيْ فَتَاوٰى قَاضِيْ خَانْ . الفتاوى الهندية ۲۰۲/۱ كتاب الصوم اَلْبَابُ الرَّابِعُ فِيمَا يُفْسِدُ وَمَا لَا يُفْسِدُ ، فتاوى عثمانيه ج۴ ص ۱۸۱ كتاب الصوم .

(۲) ما يفسد الصوم ويوجب القضاء والكفارة معًا : وهو اثنان وعشرون شيئًا تقريبًا. إذا فعل الصائم المكلف منها شيئًا. مبيتًا النية في أداء رمضان. متعمدًا. طائعًا. غير مضطر. ولم يطرأ ما يبيح الفطر بعده كمرض. أو قبله كسفر . فلو فعلها صبي، أو لم يبيت النية. أو كان في قضاء ما فاته من رمضان أو في صوم آخر غير رمضان. أو كان ناسيًا أو مخطئًا. أو مستكرهًا. أو مضطرًا. أو طرأ عليه سفر أو مرض فلا كفارة عليه. وإنما عليه القضاء فقط . ويمكن تصنيفها بشيئين: الأول أن يتناول غذاء أو ما في معناه بدون عذر شرعي.... الثاني : أن يقضي شهوة الفرج كاملة... اَلفِقْهُ الإسلاميُّ وأدلّتُهُ اَلبَابُ الثَّالث: اَلصِّيامُ والاعتكاف المبحث السابع ما يفسد الصوم وما لا يفسده ۳/ ۱۷۰۸ الحنفية

(۳) وَأَمَّا وُجُوْبُ الْكَفَّارَةِ فَيَتَعَلَّقُ بِإِفْسَادٍ مَخْصُوْصٍ وَهُوَ الْإِفْطَارُ الْكَامِلُ بِوُجُوْدِ الْأَكْلِ أَوِ الشُّرْبِ أَوِ الْجِمَاعِ صُوْرَةً وَمَعْنًى مُتَعَمِّدًا مِنْ غَيْرِ عُذْرٍ مُبِيْحٍ وَلَا مُرَخِّصٍ وَلَا شُبْهَةِ الْإِبَاحَةِ، وَنَعْنِيْ بِصُوْرَةِ الْأَكْلِ، وَالشُّرْبِ وَمَعْنَاهُمَا: إِيْصَالَ مَا يُقْصَدُ بِهِ التَّغَذِّيْ أَوِ التَّدَاوِيْ إِلَى جَوْفِهِ مِنَ الْفَمِ لِأَنَّ بِهِ يَحْصُلُ قَضَاءُ شَهْوَةِ الْبَطْنِ عَلَى سَبِيْلِ الْكَمَالِ . وَنَعْنِيْ بِصُوْرَةِ الْجِمَاعِ وَمَعْنَاهُ : إِيْلَاجَ الْفَرْجِ فِي الْقُبُلِ لِأَنَّ كَمَالَ قَضَاءِ شَهْوَةِ الْفَرْجِ لَا يَحْصُلُ إِلَّا بِهِ، وَلَا خِلَافَ فِيْ وُجُوْبِ الْكَفَّارَةِ عَلَى الرَّجُلِ بِالْجِمَاعِ . بدائع الصنائع في ترتيب الشرائع ۹۸/۲ كِتَابُ الصَّوْمِ فَصْلٌ حُكْمُ فَسَادِ الصَّوْمِ .

۱ . بغير عذره او بغير د چا د زور نه قصدًا خوراک څکاک کولو سره قضاء او کفاره دواړه لازميږي .

۲ . قصدًا جماع ( هم‌بستري ) کولو سره قضاء او کفاره دواړه لازميږي ، که ددې سره انزال شوې وي او که نه ، که په مخکې لاره کې وي او که شاته کې .(۱)

البته که د دواړو لارو نه علاوه په بل ځای کې يې انزال اوکړو نو صرف قضاء ورباندې لازميږي ، کفاره ورباندې نه لازميږي .(۲)

۳ . کوم څيز چې د غذا يا دوائي د پاره استعماليږي د هغې معمولي مقدار قصدًا خوړلو سره قضاء او کفاره دواړه لازميږي . خو شرط دادی چې دا يې د غذا يا دوائي د پاره خوړلې وي .(۳)

---

(۱) وَلَوْ أَوْلَجَ وَلَمْ يُنْزِلْ فَعَلَيْهِ الْقَضَاءُ وَالْكَفَّارَةُ لِوُجُوْدِ الْجِمَاعِ صُوْرَةً وَمَعْنًى . إِذِ الْجِمَاعُ : هُوَ الْإِيْلَاجُ فَأَمَّا الْإِنْزَالُ فَفَرَاغٌ مِنَ الْجِمَاعِ فَلَا يُعْتَبَرُ. بدائع الصنائع في ترتيب الشرائع ۲/۱۰۰ كِتَابُ الصَّوْمِ فَصْلٌ حُكْمُ فَسَادِ الصَّوْمِ

مَنْ جَامَعَ عَمْدًا فِي أَحَدِ السَّبِيْلَيْنِ فَعَلَيْهِ الْقَضَاءُ وَالْكَفَّارَةُ . وَلَا يُشْتَرَطُ الْإِنْزَالُ فِي الْمَحَلَّيْنِ كَذَا فِي الْهِدَايَةِ. الفتاوى الهندية كِتَابُ الصَّوْمِ اَلْبَابُ الرَّابِعُ اَلنَّوْعُ الثَّانِي مَا يُوجِبُ الْقَضَاءَ وَالْكَفَّارَةَ ۱/ ۲۰۵ .

(۲) وَلَوْ أَنْزَلَ فِيْمَا دُوْنَ الْفَرْجِ فَعَلَيْهِ الْقَضَاءُ وَلَا كَفَّارَةَ عَلَيْهِ لِقُصُوْرٍ فِي الْجِمَاعِ لِوُجُوْدِهِ مَعْنًى لَا صُوْرَةً بدائع الصنائع في ترتيب الشرائع ۲/۱۰۰ كِتَابُ الصَّوْمِ فَصْلٌ حُكْمُ فَسَادِ الصَّوْمِ

وَإِذَا جَامَعَ بَهِيْمَةً أَوْ مَيِّتَةً أَوْ جَامَعَ فِيْمَا دُوْنَ الْفَرْجِ وَلَمْ يُنْزِلْ لَا يَفْسُدُ صَوْمُهُ. وَإِنْ أَنْزَلَ فِي هٰذِهِ الْوُجُوْهِ كَانَ عَلَيْهِ الْقَضَاءُ دُوْنَ الْكَفَّارَةِ هٰكَذَا فِي فَتَاوٰى قَاضِيْ خَانْ. الفتاوى الهندية كتاب الصوم الباب الرابع النوع الاول مايوجب القضاء دون الكفارة ۱/ ۲۰۵ .

(۳) وَلَوْ أَكَلَ أَوْ شَرِبَ مَا يَصْلُحُ بِهِ الْبَدَنُ. أَمَّا عَلَى وَجْهِ التَّغَذِّيْ أَوِ التَّدَاوِيْ مُتَعَمِّدًا فَعَلَيْهِ الْقَضَاءُ. وَالْكَفَّارَةُ عِنْدَنَا . بدائع الصنائع في ترتيب الشرائع ۲/۹۸ كِتَابُ الصَّوْمِ فَصْلٌ حُكْمُ فَسَادِ الصَّوْمِ

إِذَا أَكَلَ مُتَعَمِّدًا مَا يُتَغَذّٰى بِهِ أَوْ يُتَدَاوٰى بِهِ يَلْزَمُهُ الْكَفَّارَةُ . وَهٰذَا إِذَا كَانَ مِمَّا يُؤْكَلُ لِلْغِذَاءِ أَوْ لِلدَّوَاءِ . فَأَمَّا إِذَا لَمْ يَقْصِدْ لَهُمَا فَلَا كَفَّارَةَ وَعَلَيْهِ الْقَضَاءُ . الفتاوى الهندية كِتَابُ الصَّوْمِ اَلْبَابُ الرَّابِعُ اَلنَّوْعُ الثَّانِي مَا يُوجِبُ الْقَضَاءَ وَالْكَفَّارَةَ ۱/ ۲۰۵

اوس د غِذا په تعریف کې د فقهاؤ اختلاف دی (یعنی چې د غِذا نه مراد څه څیز دی؟)
بعضې فقهاء وایي چې د غِذا نه مراد هغه څیز دی چې هغې طرف ته د انسان طبعیت مائله کیږي او ددې سره د خېټې اِشتهاء پوره کیږي.
بعضې فقهاء وایي چې غِذا هغې ته وایي چې هغه په څه طریقې سره بدن ته قوت او نَفعه رسوي.
اکثره فقهاؤ اول تعریف ته ترجیح ورکړې، لهذا ددې اولني تعریف په رڼا کې په دې لاندیني کارونو سره قضاء او کفاره دواړه لازمیږي:
(الف): کومه خاوره چې خلق د عِلاج یا لِذت حاصلولو د پاره خوري، او د خلقو طبعیت ورته مائله کیږي نو داسې خاورې خوړلو سره قضاء او کفاره دواړه لازمیږي.
(ب): سګریټ څکل، نسوار اچول (خو چې ذرات یې حلق ته لاړ شي) او نور داسې څیزونه چې هغه خلق د علاج د پاره، یا د نَشې د پاره، یا د غذا د پاره استعمالوي ددې په خوړلو او څکلو سره قضاء او کفاره دواړه لازمیږي.
(ج): د خپلې بي بي یا محبوب کس لاړې (د لَب چُوسې په وخت) څټل او تیرولو سره قضاء او کفاره دواړه لازمیږي، ځکه ددې نه خلق خوَند او مزه اخلي.
البته د بي بي او محبوب د لاړو نه علاوه د نورو خلقو لاړې څټلو او تېرولو سره صرف قضاء لازمیږي، کفاره نه لازمیږي.
(د): د یو کس نه روژه هېره وه، په خُله کې یې نوړۍ [illegible] چې په دې وخت کې ورته روژه رایاده شوه نو که اوس دې کس دا نوَړۍ تیره کړه نو په ده باندې قضاء او کفاره دواړه لازم دي، ځکه په خُله کې موجوده نوړۍ تیرولو طرف ته د انسان میلان وي، او په دې سره د خېټې اشتهاء ختمیږي. لهذا په دې باندې د غِذا تعریف صادق دی.
خو که چیرته ده د روژې رایادیدو نه پس دا روټۍ د خُلې نه رااُوویسته او دوباره یې په خُله کې داخل کړه او تیره یې کړه نو اوس د غذا د اولني تعریف په بِناء باندې په ده باندې صرف قضاء لازمیږي، کفاره ورباندې نه لازمیږي. ځکه د خُلې نه په راویستل شوې دې نوَړۍ باندې د غِذا تعریف صادق نه دی، وجه داده چې دې نوَړۍ ته نه خو د چا میلان کیږي،

او نه دې نوړی سره د ولړې اشتهاء ختمیږي.(۱)

البته د غذا د دویم تعریف په رڼا کې په ده باندې کفاره راځي، ځکه دا نوړی بدن ته قوت او نَفع ورکوي.

فتوٰی په اوّلني قول باندې ده ( یعنی په دې صورت کې صرف قضاء لازمیږي، کفاره پرې نه لازمیږي).

همدغه شان حُکم د هغه صورت هم دی چې یو کس د پیشمني په وخت په خُله کې نوړی وي او په دې وخت کې د سهر وخت داخل شي.

۴. کچه ( اُومَه) غوَښه یا کچه وازګه خوړلو سره قضاء او کفاره دواړه لازمیږي، خو شرط دادی چې دا بَدبُویه ( سخَا) شوې نه وي.

ځکه که دا بَدبُویه شوې وَه نو بیا صرف قضاء لازمیږي، کفاره ورسره نه لازمیږي.

۵. د مُختار قول په بِناء باندې معمولي مالګه خوَړلو سره قضاء او کفاره دواړه لازمیږي.(۲)

٦. د غنم، اُوربي یا نوري وړې داني یې خُلې ته واچولی او ژوندی یې تیري کړی نو دې سره قضاء او کفاره دواړه لازمیږي. خو که یوه یا دوه وړې داني یې په خُله کې داسې اُوژویلی چې په غابښونو کې غائبې ( ورکې) شوی، او په حلق کې یې خوَند محسوس نه

(۱) وَلَوْ أَخَذَ لُقْمَةً مِنَ الْخُبْزِ لِيَأْكُلَهَا وَهُوَ نَاسٍ فَلَمَّا مَضَغَهَا تَذَكَّرَ أَنَّهُ صَائِمٌ فَابْتَلَعَهَا وَهُوَ ذَاكِرٌ ذُكِرَ فِي عُيُوْنِ الْمَسَائِلِ أَنَّ فِي هٰذِهِ الْمَسْأَلَةِ أَرْبَعَةَ أَقْوَالٍ لِلْمُتَأَخِّرِيْنَ ... وَقَالَ بَعْضُهُمْ: إِنِ ابْتَلَعَهَا قَبْلَ أَنْ يُخْرِجَهَا فَعَلَيْهِ الْكَفَّارَةُ، وَإِنْ أَخْرَجَهَا مِنْ فِيْهِ ثُمَّ أَعَادَهَا فَلَا كَفَّارَةَ عَلَيْهِ. قَالَ الْفَقِيْهُ أَبُو اللَّيْثِ: هٰذَا الْقَوْلُ أَصَحُّ لِأَنَّهُ لَمَّا أَخْرَجَهَا صَارَ بِحَالٍ يُعَافُ مِنْهَا وَمَا دَامَتْ فِيْ فِيْهِ فَإِنَّهُ يَتَلَذَّذُ بِهَا. بدائع الصنائع في ترتيب الشرائع ۲/۱۰۰ كِتَابُ الصَّوْمِ فَصْلٌ حُكْمُ فَسَادِ الصَّوْمِ.

(۲) وَلَوْ أَكَلَ الْمِلْحَ تَجِبُ الْكَفَّارَةُ هُوَ الْمُخْتَارُ كَذَا فِي الْخُلَاصَةِ. قَالَ الصَّدْرُ الشَّهِيْدُ: هُوَ الصَّحِيْحُ كَذَا فِيْ شَرْحِ النُّقَايَةِ. الفتاوى الهندية كِتَابُ الصَّوْمِ اَلْبَابُ الرَّابِعُ اَلنَّوْعُ الثَّانِيْ مَا يُوْجِبُ الْقَضَاءَ وَالْكَفَّارَةَ ۱/۲۰۵.

کړو نو په دې سره روژه نه ماتیږي. (۱)

# د کفارې بیان

په شریعت کې د کفارې د پاره درې (۳) شیان مقرر شوي ، په دې کې به یو خامخا اداء کوي: ۱. یو غلام به آزادوي. ۲. که غلام نه وي نو دوه میاشتې به مسلسل روژې نیسي ۳. که د مرض یا بوډاوالي په وجه روژې نشي نیولی نو شپیته مسکینانو ته به سهر او مابنام (یعنی دوه وخته) خوراک ورکوي. یا به د هرې روژې په عوض کې د صدقې فِطر (سَرسایې) په مقدار غَله یا ددې قیمت ورکړي.

(نوټ: د کفارې په باره کې تفصیلي بحث روستو ذکر دی، هلته یې اوګوره. ابوالشمس عفي عنه)

## په مذکوره مسائلو کې د یو څو مسائلو تشریح او تحقیق

پاس چې کوم مسائل ذکر شو په دې کې درته د یو څو مسائلو پوره تشریح د دلائلو سره ذکر کوم:

## په رمضان کې قصدًا د روژې نه نیولو حُکم

د رمضان روژې فرضِ عین دي، بغیر د شرعي عُذر نه روژې نه نیول ، یا بغیر د عُذر نه قصدًا ماتول گناهِ کبیره ده، داسې کس فاسق دی.

اوس که یو کس د ورځې روژه نیولې وه او بغیر د شرعي عُذر نه یې قصدًا ماته کړه (یعنی قصدًا یې داسې څیز اوخوړو چې هغه د غِذا یا دوائي د پاره استعمالیږي ، یا یې

---

(۱) وَإِذَا ابْتَلَعَ سِمْسِمَةً بَيْنَ أَسْنَانِهِ لَا يَفْسُدُ صَوْمُهُ ، لِأَنَّهُ قَلِيلٌ. وَإِنِ ابْتَلَعَ مِنَ الْخَارِجِ يَفْسُدُ وَتَكَلَّمُوا فِي وُجُوبِ الْكَفَّارَةِ وَالْمُخْتَارُ أَنَّهَا تَجِبُ إِذَا ابْتَلَعَهَا، وَلَمْ يَمْضُغْهَا كَذَا فِي الْغِيَاثِيَّةِ وَفَتَاوٰى قَاضِيْ خَانْ وَهُوَ الْأَصَحُّ كَذَا فِيْ مُحِيْطِ السَّرَخْسِيِّ ، وَإِنْ مَضَغَهَا لَا يَفْسُدُ إِلَّا أَنْ يَجِدَ طَعْمَهَا فِيْ حَلْقِهِ. وَهٰذَا حَسَنٌ جِدًّا فَلْيَكُنِ الْأَصْلَ فِيْ كُلِّ قَلِيْلٍ مَضَغَهُ كَذَا فِيْ فَتْحِ الْقَدِيْرِ. وَلَوْ مَضَغَ حَبَّةَ حِنْطَةٍ لَا يَفْسُدُ صَوْمُهُ ، لِأَنَّهَا تَتَلَاشٰى كَذَا فِيْ فَتَاوٰى قَاضِيْ خَانْ. الفتاوى الهندية كتاب الصوم الباب الرابع النوع الاول ۲۰۳/۱ ، والنوع الثاني مايوجب القضاء والكفارة ۲۰۵/۱ ، مراقي الفلاح مع حاشية الطحطاوي باب مايفسد به الصوم وتجب به الكفارة مع القضاء ص ۵۴۶ - ۵۴۹ ، فتاوى عثمانيه ج۴ ص ۱۸۲ -۱۸۳ كتاب الصوم.

څکاک اوکړو ، یا یې جِماع اوکړه) نو په ده باندې قضاء او کفاره دواړه لازم دي. (۱)

خو که یو کس د شپې د روژې نیت نهٔ کړی ، او نه پیشمنۍ ته راپاڅیدلې وُ ، او د ورځې یې روژه او نه نیوه نو په ده باندې صرف ددې روژې قضاء لازم ده ، کفاره ورباندې نشته. (۲)

البته که دې پیشمنۍ ته راپاڅیدلې وُ او سهر یې روژه قصدًا او نه نیوه نو بیا ورباندې قضاء او کفاره دواړه لازمیږي ، ځکه پیشمنۍ ته راپاڅیدل د روژې عمَلي نیت کول دي. (۳)

## په رمضان کې قصدًا جِماع کولو سره قضاء او کفاره دواړه لازمیږي

په رمضان کې د ورځې قصدًا جِماع کولو سره قضاء او کفاره دواړه لازمیږي ، که انزال

---

(۱) إِذَا أَكَلَ مُتَعَمِّدًا مَا يُتَغَذّٰى بِهِ أَوْ يُتَدَاوٰى بِهِ يَلْزَمُهُ الْكَفَّارَةُ ، وَهٰذَا إِذَا كَانَ مِمَّا يُؤْكَلُ لِلْغِذَاءِ أَوْ لِلدَّوَاءِ . الفتاوى الهندية كتاب الصوم اَلْبَابُ الرَّابِعُ فِيمَا يُفْسِدُ وَمَا لَا يُفْسِدُ اَلنَّوْعُ الثَّانِي مَا يُوجِبُ الْقَضَاءَ وَالْكَفَّارَةَ ۱/۲۰۵ ، فتاوى عثمانيه ج۴ ص۲۰۶ .

قال العلامة برهان الدين المرغيناني : وَلَوْ أَكَلَ أَوْ شَرِبَ مَا يَتَغَذّٰى بِهِ أَوْ يَتَدَاوٰى بِهِ فَعَلَيْهِ الْقَضَاءُ وَالْكَفَّارَةُ . الهداية ۱/۱۲۲ كتاب الصوم باب ما يوجب القضاء والكفارة .

قال الحصكفي : ( وَإِنْ جَامَعَ فِي رَمَضَانَ أَدَاءً أَوْ جَامَعَ فِي أَحَدِ السَّبِيلَيْنِ) أَنْزَلَ أَوْ لَا (أَوْ أَكَلَ أَوْ شَرِبَ غِذَاءً أَوْ دَوَاءً عَمْدًا أَوِ احْتَجَمَ) أَيْ فَعَلَ مَا لَا يَظُنُّ الْفِطْرَ بِهِ كَفَصْدٍ وَكُحْلٍ وَلَمْسٍ وَجِمَاعِ بَهِيمَةٍ بِلَا إِنْزَالٍ أَوْ إِدْخَالِ أُصْبُعٍ فِي دُبُرٍ وَنَحْوِ ذٰلِكَ (فَظَنَّ فِطْرَهُ بِهِ فَأَكَلَ عَمْدًا قَضٰى) فِي الصُّوَرِ كُلِّهَا (وَكَفَّرَ) . الدر المختار ۲/۴۰۹ كِتَابُ الصَّوْمِ بَابُ مَا يُفْسِدُ الصَّوْمَ وَمَا لَا يُفْسِدُهُ . فتاوى حقانيه ج۴ ص۱۷۲ . فتاوى دار العلوم ديوبند ج۶ ص۲۷۱ .

(۲) (أَوْ أَصْبَحَ غَيْرَ نَاوٍ لِلصَّوْمِ فَأَكَلَ عَمْدًا) الدرالمختار . قال ابن عابدين : وَأَمَّا عِنْدَنَا فَلَا بُدَّ مِنَ النِّيَّةِ ؛ لِأَنَّ الْوَاجِبَ الْإِمْسَاكُ بِجِهَةِ الْعِبَادَةِ ، وَلَا عِبَادَةَ بِدُونِ نِيَّةٍ فَلَوْ أَمْسَكَ بِدُونِهَا لَا يَكُونُ صَائِمًا وَيَلْزَمُهُ الْقَضَاءُ دُونَ الْكَفَّارَةِ ... لِأَنَّ الْكَفَّارَةَ إِنَّمَا تَجِبُ عَلٰى مَنْ أَفْسَدَ صَوْمَهُ وَالصَّوْمُ هُنَا مَعْدُومٌ وَإِفْسَادُ الْمَعْدُومِ مُسْتَحِيلٌ . رد المحتار على الدر المختار ۲/۴۰۳ كِتَابُ الصَّوْمِ بَابُ مَا يُفْسِدُ الصَّوْمَ وَمَا لَا يُفْسِدُهُ .

وَمَنْ أَصْبَحَ فِي رَمَضَانَ لَا يَنْوِي الصَّوْمَ فَأَكَلَ أَوْ شَرِبَ أَوْ جَامَعَ عَلَيْهِ قَضَاءُ ذٰلِكَ الْيَوْمِ وَلَا كَفَّارَةَ عَلَيْهِ عِنْدَ أَصْحَابِنَا الثَّلَاثَةِ . بدائع الصنائع في ترتيب الشرائع ۲/۱۰۲ كِتَابُ الصَّوْمِ فَصْلٌ حُكْمُ فَسَادِ الصَّوْمِ

۳ [illegible] حقانيه ج۲ ص۲۰۴ كتاب الصوم .

اوشي او که نه ، که په قُبل کې وي او که دُبر کې . (۱) البته که هېره جماع او کړي نو روژه نه ماتيږي .

## په روژه کې په زوره د خپلې ښځې سره د جماع کولو حکم

که په رمضان کې چا د ورځې په زُور (او زَبردَستۍ) سره د خپلې سره جِماع او کړه نو په دې خاوند باندې قضاء او کفاره دواړه لازميږي ، او په دې ښځه باندې صرف د دې يوې ورځې قضاء لازميږي ، کفاره وربانديې نشته . (۲)

البته که په جِماع کولو دواړه راضي وو نو بيا په دواړو باندې قضاء او کفاره لازميږي .

---

(۱) قال بن احمد" : إذا جامع امرأته متعمدًا في نهار رمضان فعليه القضاء والكفارة إذا توارت الحشفة . أنزل او لم أنزل . خلاصة الفتاوى ج۱ ص ۲۵۹ كتاب الصوم الفصل الثالث فيما يفسد ...

( وَمَنْ جَامَعَ فِيْ أَحَدِ السَّبِيْلَيْنِ عَامِدًا فَعَلَيْهِ الْقَضَاءُ ) إِسْتِدْرَاكًا لِلْمَصْلَحَةِ الْفَائِتَةِ ( وَالْكَفَّارَةُ ) لِتَكَامُلِ الْجِنَايَةِ . وَلَا يُشْتَرَطُ الْإِنْزَالُ فِي الْمَحَلَّيْنِ . الهداية ۱۲۲/۱ كتاب الصوم باب ما يوجب القضاء والكفارة ، و مثله في بدائع الصنائع ج۲ ص ۹۱ كتاب الصوم فصل في ركنه . فتاوى حقانيه ج۴ ص ۱۷۳ باب القضاء والكفارة .

مَنْ جَامَعَ عَمْدًا فِيْ أَحَدِ السَّبِيْلَيْنِ فَعَلَيْهِ الْقَضَاءُ وَالْكَفَّارَةُ ، وَلَا يُشْتَرَطُ الْإِنْزَالُ فِي الْمَحَلَّيْنِ . الفتاوى الهندية كتاب الصوم الباب الرابع اَلنَّوْعُ الثَّانِيْ مَا يُوْجِبُ الْقَضَاءَ وَالْكَفَّارَةَ ۲۰۵/۱ . فتاوى عثمانيه ج۴ ص ۲۱۱ .

قال الحصكفي" : ( وَإِنْ جَامَعَ فِيْ رَمَضَانَ أَدَاءً أَوْ جَامَعَ فِيْ أَحَدِ السَّبِيْلَيْنِ ) أَنْزَلَ أَوْ لَا ( قَضَى ) فِي الصُّوَرِ كُلِّهَا ( وَكَفَّرَ ) . الدر المختار ۴۰۹/۲ كِتَابُ الصَّوْمِ بَابُ مَا يُفْسِدُ الصَّوْمَ وَمَا لَا يُفْسِدُهُ . فتاوى فريديه ج۴ ص ۱۵۷ فتاوى دار العلوم ديوبند ج۶ ص ۲۷۱ ، و ص ۲۷۷ .

(۲) وَعَلَى الْمَرْأَةِ مِثْلُ مَا عَلَى الرَّجُلِ إِنْ كَانَتْ مُطَاوِعَةً ، وَإِنْ كَانَتْ مُكْرَهَةً فَعَلَيْهَا الْقَضَاءُ دُوْنَ الْكَفَّارَةِ . وَكَذَا إِذَا كَانَتْ مُكْرَهَةً فِي الْإِبْتِدَاءِ ثُمَّ طَاوَعَتْهُ بَعْدَ ذٰلِكَ كَذَا فِيْ فَتَاوٰى قَاضِيْ خَانْ . الفتاوى الهندية كتاب الصوم الباب الرابع اَلنَّوْعُ الثَّانِيْ مَا يُوْجِبُ الْقَضَاءَ وَالْكَفَّارَةَ ۲۰۵/۱ .

قال برهان الدين" : وَلَوْ كَانَ مُخْطِئًا أَوْ مُكْرَهًا فَعَلَيْهِ الْقَضَاءُ . الهداية ۱۲۰/۱ كتاب الصوم باب ما يوجب القضاء والكفارة ، ومثله في فتح القدير ج۲ ص ۲۵۵ كتاب الصوم . فتاوى عثمانيه ج۴ ص ۲۱۴ . فتاوى حقانيه ج۴ ص ۱۷۳ باب القضاء والكفارة .

## په لواطت کولو سره قضاء او کفاره دواړه لازميږي

په رمضان کې لِواطت کولو سره قضاء او کفاره دواړه لازميږي، که انزال شوې وي او که نه (۱)

## په نسوارو اچولو سره قضاء او کفاره دواړه لازميږي

نسوار په خُله کې اچولو سره د لاړو سره يو ځای کيږي او معدې ته داخليږي ، بلکه د نسوارو عادي خلق په دې سره د غِذا په شان قوت حاصلوي (او دا د غذا نِعمُ البدَل گڼړي) لهذا په نسوارو سره روژه ماتيږي .

په فتاوی عثمانيه ، فتاوی حقانيه او نورو فتاوُو کې ليکلي دي چې قضاء او کفاره دواړه وربانديې لازميږي . (۲)

خو په فتاوی فريديه کې ليکلي چې صرف قضاء وربانديې لازميږي ، کفاره وربانديې نه لازميږي ، ځکه په دې کې دا شُبهه ده چې د نسوارو خوَند په حلق کې محسوسيږي او که نه ؟ او د شُبهې په وجه کفاره نه لازميږي . (۳)

---

(۱) قال الحصكفيؒ: (وَإِنْ جَامَعَ) الْمُكَلَّفُ آدَمِيًّا مُشْتَهًى (فِي رَمَضَانَ أَدَاءً) لِمَا مَرَّ (أَوْ جُومِعَ) أَوْ تَوَارَتِ الْحَشَفَةُ (فِي أَحَدِ السَّبِيلَيْنِ) أَنْزَلَ أَوْ لَا . الدرالمختار . قال ابن عابدينؒ: (قَوْلُهُ: فِي أَحَدِ السَّبِيلَيْنِ) أَيِ الْقُبُلِ أَوِ الدُّبُرِ وَهُوَ الصَّحِيحُ فِي الدُّبُرِ وَالْمُخْتَارُ أَنَّهُ بِالِاتِّفَاقِ وَلِوَالِجِيَّةٌ لِتَكَامُلِ الْجِنَايَةِ لِقَضَاءِ الشَّهْوَةِ . رد المحتار على الدر المختار ۴۰۹/۲ كِتَابُ الصَّوْمِ بَابُ مَا يُفْسِدُ الصَّوْمَ وَمَا لَا يُفْسِدُهُ . فتاوى دارالعلوم ديوبند ج۶ ص ۲۷۲ ، و ص ۲۷۵

(۲) قال في الجوهرة واختلفوا في معنى التغذي قال بعضهم أن يميل الطبع إلى أكله وتنقضي شهوة البطن به ، وقال بعضهم هو ما يعود نفعه إلى إصلاح البدن ... وعلى هذا الورق الحبشي والحشيشة والقطاط إذا أكله فعلى القول الثاني لا تجب الكفارة لأنه لا نفع فيه للبدن و ربما يضره وينقص عقله وعلى القول الأول يجب لأن الطبع يميل إليه وتنقضي به شهوة البطن . مراقي الفلاح شرح متن نور الإيضاح ۲۴۷/۱ كتاب الصوم باب ما يفسد الصوم وتجب به الكفارة مع القضاء . هكذا في رد المحتار ج۲ ص ۴۱۰ كتاب الصوم باب مايفسد الصوم . فتاوى عثمانيه ج۴ ص ۲۱۲ كتاب الصوم ، فتاوى حقانيه ج۴ ص ۱۶۷ .

(۳) پوره تفصيل او دليل په فتاوى فريديه ج ۴ ص ۱۳۴ تا ۱۳۷ و ص ۱۵۶ . کې ذکر دی . ابوالشمس عفي عنه
په " روزے کے مسائل کا انسائکلوپیڈیا " کې هم ليکلي چې په نسوارو سره روژه ماتيږي ، صرف قضاء به راگرځوي ، کفاره وربانديې نشته . وَلَوْ مَصَّ الْهَلِيلَجَ فَدَخَلَ الْبُزَاقُ حَلْقَهُ لَمْ يُفْسِدْ مَا لَمْ يَدْخُلْ عَيْنَهُ . الفتاوى الهندية ۲۰۳/۱ كتاب الصوم اَلْبَابُ الرَّابِعُ فِيمَا يُفْسِدُ وَمَا لَا يُفْسِدُ . روزے کے مسائل کا انسائکلوپیڈیا ص ۱۹۷ نسوار .

په فتاوی دارالعلوم ديوبند کې هم ذکر دي چې د روژه دار د پاره په خُله کې نسوار اچول ناجائز دي، ځکه دا اکثره تيريږي، او ددې اثر دماغو او معدې ته رسي. (لهذا په دې سره روژه ماتيږي). (۱)

## په سِگريټ څکلو سره قضاء او کفاره دواړه لازميږي

د سِگريټ او چيلم څکلو په وخت لوګې د حَلق نه تيريږي لهذا په دې سره روژه ماتيږي، بيا چونکه دا کس دا لوګي قصدًا تيروي نو لهذا په عادي کس باندې قضاء او کفاره دواړه لازميږي، همدارنګې که يو کس عادي نه وي خو دا د يو فائدې د پاره څکي، او نفع مَند يې ګڼړي نو په ده باندې هم قضاء او کفاره دواړه لازميږي.

همدا خبره ټولو فتاوو ذکر کړې. (۲)

---

(۱) امساک التتن في الفم لايجوز في الصوم لانّه لايخلوا عن وصوله الى الحلق والجوف عادة، والعادة محکمة. فالحذر من ان يأکل التنباک بهذه الوسوسة في نهار رمضان، کيف و قد قالوا في مضغ العلک کما في الشامي، و انما قيده بذلک اي بأبيض لانّ الاسود وغير المضوع و غير الملتئم يصل من شيء الي الجوف. ولهذا يمنع عن شرب دخانه، ولغير المعتادين يؤثر تاثيرًا عظيماً من دوران الرأس وانکسار الاعضاء. فما هو الا وصول اثره الدماغ والجوف. ولاحول ولاقوة الابالله العلي العظيم. کتبه عزيزالرحمن عفي عنه. الجواب صواب. محمد انورشاه کشميري سابق صدرالمدرسين دارالعلوم ديوبند. فتاوی دارالعلوم ديوبند ج٦ ص ٢٦٩ پانچواں باب وہ چیزیں جن سے روزہ ٹوٹ جاتاہے اور صرف قضاء واجب ہوتی ہے، روزے کے مسائل کاانسائکلو پیڈیا ص ۱۹۷ نسوار.

په فتاوی دارالعلوم ديوبند کې دا مسئله په نورو ځايونو کې هم په مختلف انداز ذکر ده. فتاوی دارالعلوم ديوبند ج٦ ص ٢٦٣ پانچواں باب وہ چیزیں جن سے روزہ ٹوٹ جاتاہے اور صرف قضاء واجب ہوتی ہے، و ص ٢٥٧ چوتھا باب وہ چیزیں جن سے روزہ نہیں ٹوٹتا.

(۲) **د يو څو کتابونو عبارتونه درته رانقل کوم:** قال في الجوهرة: واختلفوا في معنى التغذي. قال بعضهم: أنْ يميل الطبع إلى أكله وتنقضي شهوة البطن به. وقال بعضهم: هو ما يعود نفعه إلى إصلاح البدن... وعلى هذا الورق الحبشي والحشيشة والقطاط إذا أكله فعلى القول الثاني لا تجب الكفارة لأنه لا نفع فيه للبدن و ربما يضره وينقص عقله وعلى القول الأول يجب لأن الطبع يميل إليه وتنقضي به شهوة البطن.

قلتُ وعلى هذا البدعة التي ظهرت الآن إذا شربه فيه لزوم الكفارة . مراقي الفلاح شرح نور الإيضاح ۲۴۸/۱ كتاب الصوم باب ما يفسد الصوم وتجب به الكفارة مع القضاء ، فتاوى عثمانيه ج۴ ص ۲۱۳

قال الشرنبلاليؒ : من أدخل بصنعه دخانا حلقه بأيّ صورة كان الإدخال فسد صومه سواء كان دخان عنبر أو عود أو غيرهما حتى من تبخر ببخور فآواه إلى نفسه واشتم دخانه ذاكرا لصومه أفطر لإمكان التحرز عن إدخال المفطر جوفه ودماغه ، وهذا مما يغفل عنه كثير من النّاس فلينبه له ولا يتوهم أنه كشم الورود ومائه والمسك لوضوح الفرق بين هواء تطيب بريح المسك وشبهه وبين جوهر دخان وصل إلى جوفه بفعله .

مراقي الفلاح شرح نور الإيضاح ۲۴۵/۱ كتاب الصوم باب مالا يفسد الصوم. طحطاوي ص ۵۴۴ باب بيان ما يفسد الصوم. هكذا في سكب الانهر ۳۶۱/۱ باب موجب الفساد .

قال العلامة الحصكفيؒ : لَوْ أَدْخَلَ حَلْقَهُ الدُّخَانَ أَفْطَرَ أَيَّ دُخَانٍ كَانَ وَلَوْ عُودًا أَوْ عَنْبَرًا لَهُ ذَاكِرًا لِإِمْكَانِ التَّحَرُّزِ عَنْهُ فَلْيُتَنَبَّهْ لَهُ كَمَا بَسَطَهُ الشُّرُنْبُلَالِيُّ . الدرالمختار

قال ابن عابدينؒ : (قَوْلُهُ: أَنَّهُ لَوْ أَدْخَلَ حَلْقَهُ الدُّخَانَ ) أَيْ بِأَيِّ صُورَةٍ كَانَ الْإِدْخَالُ، حَتَّى لَوْ تَبَخَّرَ بِبَخُورٍ وَآوَاهُ إلَى نَفْسِهِ وَاشْتَمَّهُ ذَاكِرًا لِصَوْمِهِ أَفْطَرَ لِإِمْكَانِ التَّحَرُّزِ عَنْهُ . وَهَذَا مِمَّا يَغْفُلُ عَنْهُ كَثِيرٌ مِنْ النَّاسِ . وَلَا يُتَوَهَّمُ أَنَّهُ كَشَمِّ الْوَرْدِ وَمَائِهِ وَالْمِسْكِ لِوُضُوحِ الْفَرْقِ بَيْنَ هَوَاءٍ تَطَيَّبَ بِرِيحِ الْمِسْكِ وَشِبْهِهِ وَبَيْنَ جَوْهَرِ دُخَانٍ وَصَلَ إلَى جَوْفِهِ بِفِعْلِهِ إمْدَادٌ ، وَبِهِ عُلِمَ حُكْمُ شُرْبِ الدُّخَانِ ، وَنَظَمَهُ الشُّرُنْبُلَالِيُّ فِي شَرْحِهِ عَلَى الْوَهْبَانِيَّةِ بِقَوْلِهِ :

وَيُمْنَعُ مِنْ بَيْعِ الدُّخَانِ وَشُرْبِهِ * وَشَارِبُهُ فِي الصَّوْمِ لَا شَكَّ يُفْطِرُ
وَيَلْزَمُهُ التَّكْفِيرُ لَوْ ظَنَّ نَافِعًا * كَذَا دَافِعًا شَهَوَاتِ بَطْنٍ فَقَرَّرُوا.

رد المحتار على الدر المختار ۳۹۵/۲ كِتَابُ الصَّوْمِ بَابُ مَا يُفْسِدُ الصَّوْمَ وَمَالَا يُفْسِدُهُ ، سكب الانهر ۳۶۱/۱ كتاب الصوم باب مايوجب الفساد . فتاوى فريديه ج۴ ص ۱۵۶ ، فتاوى محموديه ج۱۵ ص ۱۶۹ ، و ص ۱۷۰ ، و ص ۱۷۲ ، فتاوى دارالعلوم ديوبند ج۶ ص ۲۶۳ . و ص ۲۶۵ . ، روزے کے مسائل کا انسائیکلوپیڈیا ص ۷۰ .

الحنفية قالوا : يوجب القضاء والكفارة أمران : الأول أن يتناول غذاء ، أو ما في معناه بدون عذر شرعي، كالأكل والشرب ونحوهما، ويميل إليه الطبع ، وتنقضي به شهوة البطن . الثاني: أن يقضي شهوة الفرج كاملة ... ومن القسم الأول شرب الدخان المعروف وتناول الأفيون، الحشيش ونحو ذلك. فإن الشهوة فيه ظاهرة. الفقه على المذاهب الأربعة ۵۰۹/۱ .

البته صرف په فتاوی حقانیه کې ذکر دي چې په سګرېټ څکوونکي باندې صرف قضاء لازمیږي، کفاره ورباندې نه لازمیږي .(۱)

## په کومو صورتونو کې چې صرف قضاء لازمیږي او کفاره نه لازمیږي

**قاعده** : پاس چې د کفارې واجب کېدلو کوم لس (۱۰) شرائط ذکر شو که چیرته په هغې کې ټول شرائط یا بعضې شرائط موجود نه شي او روژه ماته شي نو په دې وخت کې صرف قضاء لازمیږي، کفاره نه لازمیږي.

اوس درته یو څه هغه صورتونه ذکر کوم چې په هغې کې روژه ماتېدو نه پس په انسان باندې صرف قضاء لازمیږي او کفاره نه لازمیږي :

۱. که روژه دار داسې څیز اُوخوري چې هغه نه د غِذا د پاره استعمالیږي او نه د دوائي د پاره نو په دې سره روژه ماتیږي، صرف قضاء به راګرځوي، کفاره ورباندې نشته.

مثلاً : کانړې اُوخوري، خاوره اُوخوري، شګه اُوخوري، مالوچ یا کاغذ اُوخوري، اُوچ یا آغړل شوي اُوره اُوخوري (خو شرط دا دی چې دې اُوچ اُوړو سره چیني یا غوړي نه وي ګډ شوي) .(۲)

۲. که روژه دار په پُوزه، یا حَلق یا دُبره کې اُوبه واچوي او دا اُوبه دننه لاړې شي،

---

(۱) قال علاؤ الدين : وَلَوْ دَخَلَ الْغُبَارُ أَوِ الدُّخَانُ أَوِ الرَّائِحَةُ فِي حَلْقِهِ لَمْ يُفْطِرْهُ ... وَإِنْ أَدْخَلَهُ حَلْقَهُ مُتَعَمِّدًا، رُوِيَ عَنْ أَبِي يُوسُفَ أَنَّهُ إِنْ تَعَمَّدَ عَلَيْهِ الْقَضَاءُ وَلَا كَفَّارَةَ عَلَيْهِ ... وَقَالَ زُفَرُ: عَلَيْهِ الْقَضَاءُ وَالْكَفَّارَةُ . بدائع الصنائع في ترتيب الشرائع ۲/۹۰ كِتَابُ الصَّوْمِ فَصْلُ أَرْكَانِ الصِّيَامِ . فتاوى حقانيه ج ۴ ص ۱۸۵ .

(۲) وَلَوْ أَكَلَ مَا لَا يُتَغَذَّى بِهِ وَلَا يُتَدَاوَى : كَالْحَصَاةِ ، وَالنَّوَاةِ ، وَالتُّرَابِ وَغَيْرِهَا فَعَلَيْهِ الْقَضَاءُ وَلَا كَفَّارَةَ عَلَيْهِ وَلَوْ أَكَلَ عَجِينًا أَوْ دَقِيقًا فَعَلَيْهِ الْقَضَاءُ وَلَا كَفَّارَةَ عَلَيْهِ ، لِأَنَّهُ لَا يُقْصَدُ بِهِمَا التَّغَذِّي عِنْدَ عَامَّةِ الْعُلَمَاءِ..... بدائع الصنائع في ترتيب الشرائع ۲/۹۹ كِتَابُ الصَّوْمِ فَصْلُ حُكْمِ فَسَادِ الصَّوْمِ

وَإِذَا ابْتَلَعَ مَا لَا يُتَغَذَّى بِهِ ، وَلَا يُتَدَاوَى بِهِ عَادَةً كَالْحَجَرِ وَالتُّرَابِ لَا يُوجِبُ الْكَفَّارَةَ كَذَا فِي التَّبْيِينِ ، وَلَوْ ابْتَلَعَ حَصَاةً أَوْ نَوَاةً أَوْ حَجَرًا أَوْ مَدَرًا أَوْ قُطْنًا أَوْ حَشِيشًا أَوْ كَاغِدَةً فَعَلَيْهِ الْقَضَاءُ ، وَلَا كَفَّارَةَ كَذَا فِي الْخُلَاصَةِ . الفتاوى الهندية كتاب الصوم الباب الرابع النوع الاول مايوجب القضاء دون الكفارة ۱/۲۰۲ . فتاوى عثمانيه ج۴ ص ۱۸۵ و ص ۲۰۳ كتاب الصوم .

يا په غوږ کې دوائي يا تېل واچوي نو په دې صورتونو کې هم روژه ماتيږي، صرف قضاء وربانديلازم ده، کفاره وربانديې نشته. (۱)

**نوټ** که د روژه دار په غوږ کې اوبه په خپله لاړې شي يا يې قصدًا په کې واچوي نو د اکثره فقهاوُ په نزد باندې په دې سره روژه نه ماتيږي. (۲)

۳. که روژه دار د سَر په زَخم باندې دوائي واچوي او دا دِماغو ته اورسي، يا د خېټې په زَخم باندې دوائي واچوي او دا خېټې ته اورسي نو په دې سره روژه ماتيږي، صرف قضاء لازميږي. (۳)

**نوټ**: که د بدن د بل ځای په زخم دوائي واچوي نو په دې سره روژه نه ماتيږي.

۴. که د اَسويلي يا بل څه سبب په وجه يې خُله کلاوُ کړه او په دې کې د اوبو څاڅکي رااوغورځيدل او تېر شو نو په دې سره روژه ماته شوه، صرف قضاء به راګرځوي. (۴)

البته که قصدًا يې دا تېر کړل نو په دې سره قضاء او کفاره دواړه لازميږي.

---

(۱) وَمَنِ احْتَقَنَ أَوِ اسْتَعَطَ أَوْ أَقْطَرَ فِي أُذُنِهِ دُهْنًا أَفْطَرَ، وَلَا كَفَّارَةَ عَلَيْهِ هٰكَذَا فِي الْهِدَايَةِ. وَلَوْ دَخَلَ الدُّهْنُ بِغَيْرِ صُنْعِهِ فَطَرَهُ كَذَا فِي مُحِيطِ السَّرَخْسِيِّ. الفتاوى الهندية كتاب الصوم الباب الرابع النوع الاول مايوجب القضاء دون الكفارة ۱/۲۰۴.

(۲) وَلَوْ أَقْطَرَ فِي أُذُنِهِ الْمَاءَ لَا يُفْسِدُ صَوْمَهُ كَذَا فِي الْهِدَايَةِ. وَهُوَ الصَّحِيحُ هٰكَذَا فِي مُحِيطِ السَّرَخْسِيِّ. الفتاوى الهندية كتاب الصوم الباب الرابع النوع الاول مايوجب القضاء دون الكفارة ۱/۲۰۴.

(۳) وَفِي دَوَاءِ الْجَائِفَةِ وَالْآمَّةِ أَكْثَرُ الْمَشَايِخِ عَلَى أَنَّ الْعِبْرَةَ لِلْوُصُولِ إِلَى الْجَوْفِ وَالدِّمَاغِ لَا لِكَوْنِهِ رَطْبًا أَوْ يَابِسًا حَتَّى إِذَا عَلِمَ أَنَّ الْيَابِسَ وَصَلَ يُفْسِدُ صَوْمَهُ، وَلَوْ عَلِمَ أَنَّ الرَّطْبَ لَمْ يَصِلْ لَمْ يُفْسِدْ هٰكَذَا فِي الْعِنَايَةِ. وَإِذَا لَمْ يَعْلَمْ أَحَدَهُمَا وَكَانَ الدَّوَاءُ رَطْبًا فَعِنْدَ أَبِي حَنِيفَةَ رَحِمَهُ اللهُ تَعَالَى يُفْطِرُ لِلْوُصُولِ عَادَةً وَقَالَا لَا لِعَدَمِ الْعِلْمِ بِهِ فَلَا يُفْطِرُ بِالشَّكِّ. وَإِنْ كَانَ يَابِسًا فَلَا فِطْرَ اتِّفَاقًا هٰكَذَا فِي فَتْحِ الْقَدِيرِ. الفتاوى الهندية كتاب الصوم الباب الرابع النوع الاول مايوجب القضاء دون الكفارة ۱/۲۰۴.

(۴) وَلَوْ تَثَاءَبَ فَرَفَعَ رَأْسَهُ فَوَقَعَ فِي حَلْقِهِ قَطْرَةُ مَاءِ الْمَطَرِ مِنْ مِيزَابٍ فَسَدَ صَوْمُهُ هٰكَذَا فِي السِّرَاجِ الْوَهَّاجِ. وَالْمَطَرُ وَالثَّلْجُ إِذَا دَخَلَ حَلْقَهُ يُفْسِدُ صَوْمَهُ، وَهُوَ الصَّحِيحُ كَذَا فِي الظَّهِيرِيَّةِ. الفتاوى الهندية كتاب الصوم الباب الرابع النوع الاول مايوجب القضاء دون الكفارة ۱/۲۰۳.

۵. روژه ورته یاده وه خو د اُودس یا غُسل کولو په وخت یې بلا اراده (په خطائي کې) اُوبه تېرې شوی (مثلاً خُله یې وینځله چې اُوبه یې تېرې شوی) نو په دې سره روژه ماته شوه، صرف قضاء وربانذې لازم ده. (۱)

خو که قصداً یې تېرې کړې نو قضاء او کفار دواړه وربانذې لازم دي.

**نوټ:** که د غُسل یا اُودس کولو په وخت یې روژه یاده نه وه او په هېره یې ډېرې اُوبه اُوڅکلې نو په دې سره روژه نه ماتیږي. (۲)

٦. په روژه دار باندې چا په زوره خوراک، څکاک یا جِماع اوکړه نو په دې سره صرف قضاء لازمیږي، کفاره وربانذې نشته. (۳)

۷. چې روژه دار د ورځې اُوده وي او دې د خُوب په حالت کې په خپله خوراک یا څکاک اوکړي (۴) یا بل څوک دده په حلق کې اُوبه واچوي نو په دې سره روژه ماته شوه، صرف قضاء وربانذې لازم ده. (۵)

---

(۱) وَإِنْ تَمَضْمَضَ أَوِ اسْتَنْشَقَ فَدَخَلَ الْمَاءُ جَوْفَهُ إِنْ كَانَ ذَاكِرًا لِصَوْمِهِ فَسَدَ صَوْمُهُ وَعَلَيْهِ الْقَضَاءُ. وَإِنْ لَمْ يَكُنْ ذَاكِرًا لَا يَفْسُدُ صَوْمُهُ كَذَا فِي الْخُلَاصَةِ وَعَلَيْهِ الْإِعْتِمَادُ. الفتاوى الهندية كتاب الصوم الباب الرابع النوع الاول مايوجب القضاء دون الكفارة ۱/ ۲۰۲.

(۲) إِذَا أَكَلَ الصَّائِمُ أَوْ شَرِبَ أَوْ جَامَعَ نَاسِيًا لَمْ يُفْطِرْ. وَلَا فَرْقَ بَيْنَ الْفَرْضِ وَالنَّفْلِ كَذَا فِي الْهِدَايَةِ. الفتاوى الهندية كتاب الصوم الباب الرابع النوع الاول مايوجب القضاء والكفارة ۱/ ۲۰۲

(۳) لَوْ أَكَلَ مُكْرَهًا أَوْ مُخْطِئًا عَلَيْهِ الْقَضَاءُ دُونَ الْكَفَّارَةِ كَذَا فِي فَتَاوٰى قَاضِيْ خَانْ. اَلْمُخْطِئُ هُوَ الذَّاكِرُ لِلصَّوْمِ غَيْرُ الْقَاصِدِ لِلْفِطْرِ إِذَا أَكَلَ أَوْ شَرِبَ هٰكَذَا فِي النَّهْرِ الْفَائِقِ. وَالنَّاسِيْ عَكْسُهُ. هٰكَذَا فِي النِّهَايَةِ وَالْبَحْرِ الرَّائِقِ. الفتاوى الهندية كتاب الصوم الباب الرابع النوع الاول مايوجب القضاء والكفارة ۱/ ۲۰۲

وَإِذَا جَامَعَ مُكْرَهًا فِي نَهَارِ رَمَضَانَ عَلَيْهِ الْقَضَاءُ دُونَ الْكَفَّارَةِ كَذَا فِي فَتَاوٰى قَاضِيْ خَانْ وَعَلَيْهِ الْفَتْوٰى. وَكَذَا لَوْ أَكْرَهَتْهُ الْمَرْأَةُ كَذَا فِي الْخُلَاصَةِ. الفتاوى الهندية كتاب الصوم النوع الاول مايوجب القضاء والكفارة ۱/ ۲۰۴

(۴) په بعضې خلقو کې دا عادت وي چې هغه اُوده شي، لږ وخت پس راپاڅي اوګرځي را اوګرځي، خوراک څکاک اوکړي خو دې اُوده وي، پته ورته نه لږي. نو که روژه دار په داسې حالت کې خوراک اوکړو نو صرف قضاء وربانذې لازم ده، کفاره وربانذې نشته.

(۵) اَلنَّائِمُ إِذَا شَرِبَ فَسَدَ صَوْمُهُ، وَلَيْسَ هُوَ كَالنَّاسِيْ الفتاوى الهندية كتاب الصوم الباب الرابع النوع الاول مايوجب القضاء والكفارة ۱/ ۲۰۲.

۸. که د روژه دار په هېره باندې خوراک څکاک یا جِماع اوکړه (نو په دې سره خو روژه نه ماتیږي لیکن) بیا ده دا گمان اوکړو چې گني په دې سره زما روژه ماته شوه نو قصداً یې خوراک څکاک شروع کړو نو په دې صورت کې صرف قضاء لازمیږي ، کفاره ورباندې نشته. (۱)

۹. روژه دار د شپې نه د روژې نیت نه وُ کړی ، بیا یې د ورځې د زوال نه مخکې نیت اوکړو ، بیا ورته شُبهه پیدا شوه چې چونکه زما د شپې نه نیت نه وُ نو زما روژه صحیح نده (حالانکه د ده دا شُبهه غلطه ده ) نو د دې شُبهې په وجه یې قصداً خوراک اوکړو نو په دې صورت کې هم صرف قضاء لازمیږي ، کفاره ورباندې نشته. (۲)

۱۰. که یو کس د اول نه د روژې نیت نه وُ کړی او د ورځې یې خوراک څکاک وغیره اوکړو نو صرف قضاء وربان‌دې لازمیږي ، کفاره وربان‌دې نه لازمیږي. (۳)

۱۱. د یو سړي گمان دا وُ چې گني صبا ندې راختلی او ده پیشمنې اوکړو یا یې جِماع اوکړه ، حالانکه صبا راختلې وُ نو روژه یې ماته ده ، صرف قضاء وربان‌دې لازم ده ، کفاره

---

(۱) وَلَوْ أَكَلَ أَوْ شَرِبَ أَوْ جَامَعَ نَاسِيًا أَوْ ذَرَعَهُ الْقَيْءُ فَظَنَّ أَنَّ ذٰلِكَ يُفْطِرُ فَأَكَلَ بَعْدَ ذٰلِكَ مُتَعَمِّدًا فَعَلَيْهِ الْقَضَاءُ وَلَا كَفَّارَةَ عَلَيْهِ لِأَنَّ الشُّبْهَةَ هٰهُنَا اِسْتَنَدَتْ إِلٰى مَا هُوَ دَلِيْلٌ فِي الظَّاهِرِ لِوُجُوْدِ الْمُضَادِّ لِلصَّوْمِ فِي الظَّاهِرِ وَهُوَ الْأَكْلُ وَالشُّرْبُ وَالْجِمَاعُ. بدائع الصنائع في ترتيب الشرائع ۲/ ۱۰۰ كِتَابُ الصَّوْمِ فَصْلٌ حُكْمُ فَسَادِ الصَّوْمِ.

لَوْ أَكَلَ أَوْ شَرِبَ أَوْ جَامَعَ نَاسِيًا وَظَنَّ أَنَّ ذٰلِكَ فَطَّرَهُ فَأَكَلَ مُتَعَمِّدًا لَا كَفَّارَةَ عَلَيْهِ ... وَلَوْ ذَرَعَهُ الْقَيْءُ فَظَنَّ أَنَّهُ يُفَطِّرُهُ فَأَفْطَرَ لَا كَفَّارَةَ عَلَيْهِ، وَإِنْ عَلِمَ أَنَّ ذٰلِكَ لَا يُفَطِّرُ فَعَلَيْهِ الْكَفَّارَةُ . كَذَا فِي الْبَحْرِ الرَّائِقِ. الفتاوى الهندية كتاب الصوم الباب الرابع اَلنَّوْعُ الثَّانِي مَا يُوجِبُ الْقَضَاءَ وَالْكَفَّارَةَ ۱/ ۲۰۶ .

(۲) وَإِذَا أَصْبَحَ غَيْرَ نَاوٍ لِلصَّوْمِ ثُمَّ نَوَى قَبْلَ الزَّوَالِ ثُمَّ أَكَلَ فَلَا كَفَّارَةَ عَلَيْهِ كَذَا فِي الْكَشْفِ الْكَبِيْرِ. الفتاوى الهندية كتاب الصوم الباب الرابع اَلنَّوْعُ الثَّانِي مَا يُوجِبُ الْقَضَاءَ وَالْكَفَّارَةَ ۱/ ۲۰۶ .

وَمَنْ أَصْبَحَ فِي رَمَضَانَ لَا يَنْوِي الصَّوْمَ فَأَكَلَ أَوْ شَرِبَ أَوْ جَامَعَ عَلَيْهِ قَضَاءُ ذٰلِكَ الْيَوْمِ وَلَا كَفَّارَةَ عَلَيْهِ عِنْدَ أَصْحَابِنَا الثَّلَاثَةِ . وَعِنْدَ زُفَرَ عَلَيْهِ الْكَفَّارَةُ بِنَاءً عَلٰى أَنَّ صَوْمَ رَمَضَانَ يَتَأَدّٰى بِدُوْنِ النِّيَّةِ عِنْدَهُ فَوُجِدَ إِفْسَادُ صَوْمِ رَمَضَانَ بِشَرَائِطِهِ . وَعِنْدَنَا لَا يَتَأَدّٰى فَلَمْ يُوجَدِ الصَّوْمُ فَاسْتَحَالَ الْإِفْسَادُ. بدائع الصنائع في ترتيب الشرائع كِتَابُ الصَّوْمِ فَصْلٌ حُكْمُ فَسَادِ الصَّوْمِ ۱/ ۱۰۱.

(۳) بدائع الصنائع في ترتيب الشرائع كِتَابُ الصَّوْمِ فَصْلٌ حُكْمُ فَسَادِ الصَّوْمِ.

وړاندې نشته ، ځکه ده دا کار په خطائي کې کړې دی ، خو اوس به د رمضان د تعظیم په وجه د نورو روژه دارو په شان تر ماښامه پورې خوراک څکاک وغیره نه کوي .

۱۲ . همدغه رنګې که د یو کس ګمان دا وُ چې نمر پریوتې دی ، روژه یې ماته کړه ، بیا معلومه شوه چې نمر تر اوسه ندې پریوتی نو په ده باندې د دې روژې قضاء لازم ده ، خو تر د نمر پریوتلو پورې به خوراک څکاک نه کوي . (۱)

۱۳ . د څاروې یا مړې سره بَدفعلي کولو سره صرف قضاء لازمیږي . (۲)

نوټ : که روژه دار د څاروي یا مړي سره جماع اوکړه ، یا یې د زنانه د دوه لارو نه علاوه بل ځای کې جِماع اوکړه او په دې صورتونو کې یې اِنزال اونه شو نو په دې سره روژه نه ماتیږي البته که اِنزال یې اوشو نو صرف قضاء وړاندې لازمیږي، کفاره وړاندې نه لازمیږي . (۳)

---

(۱) قال العلامة برهان الدينؒ : ( وَإِذَا تَسَحَّرَ وَهُوَ يَظُنُّ أَنَّ الْفَجْرَ لَمْ يَطْلُعْ فَإِذَا هُوَ قَدْ طَلَعَ. أَوْ أَفْطَرَ وَهُوَ يَرَى أَنَّ الشَّمْسَ قَدْ غَرَبَتْ فَإِذَا هِيَ لَمْ تَغْرُبْ أَمْسَكَ بَقِيَّةَ يَوْمِهِ ) قَضَاءً لِحَقِّ الْوَقْتِ بِالْقَدْرِ الْمُمْكِنِ أَوْ نَفْيًا لِلتُّهْمَةِ ( وَعَلَيْهِ الْقَضَاءُ ) لِأَنَّهُ حَقٌّ مَضْمُونٌ بِالْمِثْلِ، كَمَا فِي الْمَرِيضِ وَالْمُسَافِرِ ( وَلَا كَفَّارَةَ عَلَيْهِ ) لِأَنَّ الْجِنَايَةَ قَاصِرَةٌ لِعَدَمِ الْقَصْدِ . الهداية في شرح بداية المبتدي ۱۲۶/۱ كتاب الصوم باب ما يوجب القضاء والكفارة ، فتاوى عثمانيه ج۴ ص ۲۰۱ . فتاوى دارالعلوم ديوبند ج۶ ص ۲۸۰ .

( وَلَوْ قَدِمَ مُسَافِرٌ أَوْ طَهُرَتْ حَائِضٌ أَوْ تَسَحَّرَ ظَنَّهُ لَيْلًا وَالْفَجْرُ طَالِعٌ أَوْ أَفْطَرَ كَذٰلِكَ وَالشَّمْسُ حَيَّةٌ أَمْسَكَ يَوْمَهُ وَقَضٰى وَلَمْ يُكَفِّرْ . تبيين الحقائق شرح كنز الدقائق ۳۴۲/۱ كِتَابُ الصَّوْمِ بَابُ مَا يُفْسِدُ الصَّوْمَ وَمَا لَا يُفْسِدُهُ فَصْلٌ فِي الْعَوَارِضِ . فتاوى حقانيه ج۴ ص ۱۸۶ .

وَلَوْ تَسَحَّرَ عَلٰى ظَنِّ أَنَّ الْفَجْرَ لَمْ يَطْلُعْ فَإِذَا هُوَ طَالِعٌ أَوْ أَفْطَرَ عَلٰى ظَنِّ أَنَّ الشَّمْسَ قَدْ غَرَبَتْ فَإِذَا هِيَ لَمْ تَغْرُبْ فَعَلَيْهِ الْقَضَاءُ وَلَا كَفَّارَةَ لِأَنَّهُ لَمْ يُفْطِرْ مُتَعَمِّدًا بَلْ خَاطِئًا أَلَا تَرٰى أَنَّهُ لَا إِثْمَ عَلَيْهِ. بدائع الصنائع في ترتيب الشرائع ۱۰۰/۲ كِتَابُ الصَّوْمِ فَصْلٌ حُكْمُ فَسَادِ الصَّوْمِ .

(۲) وَكَذٰلِكَ ( يلزم عليه القضاء لا الكفارة ) إِذَا وَطِئَ بَهِيمَةً فَأَنْزَلَ لِقُصُورٍ فِي قَضَاءِ الشَّهْوَةِ لِسَعَةِ الْمَحَلِّ وَنَبْوَةِ الطَّبْعِ. بدائع الصنائع في ترتيب الشرائع ۱۰۰/۲ كِتَابُ الصَّوْمِ فَصْلٌ حُكْمُ فَسَادِ الصَّوْمِ .

(۳) وَإِذَا جَامَعَ بَهِيمَةً أَوْ مَيِّتَةً أَوْ جَامَعَ فِيمَا دُونَ الْفَرْجِ، وَلَمْ يُنْزِلْ لَا يَفْسُدُ صَوْمُهُ، وَإِنْ أَنْزَلَ فِي هٰذِهِ الْوُجُوهِ كَانَ عَلَيْهِ الْقَضَاءُ دُونَ الْكَفَّارَةِ هٰكَذَا فِي فَتَاوٰى قَاضِيْ خَانْ. الفتاوى الهندية كتاب الصوم الباب الرابع النوع الاول مايوجب القضاء دون الكفارة ۲۰۵/۱ .

۱۴. د خپلې بي بي ښکلولو او غاړه ورکولو په وخت يې اِنزال اوشي نو په دې سره صرف قضاء لازميږي. (۱)

البته که قصدا وطي اوکړي نو په دې سره قضاء او کفاره دواړه لازميږي.

۱۵. په خپل لاس يا د بي بي په لاس مُوټې اووهي (يعنی مُشت زَني اوکړي) او مَني يې را اُووځي نو په دې سره صرف قضاء لازميږي، کفاره ورباندې نه لازميږي. (۲)

۱٦ که يو کس د اُودې يا عارضي ليونی ښځې سره جِماع اوکړي نو په دې اُوده او ليونی ښځه باندې صرف قضاء لازم ده، او په دې ويخ کس باندې قضاء او کفاره دواړه لازم دي (۳)

۱۷. ښځه په خپله شرمګاه کې د اُوبو يا دوائي څاڅکي واچوي، يا په اُوبو، يا تېلو، يا دوائي باندې لمده ګوته په شرمګاه کې داخله کړي نو په دې صورتونو کې صرف قضاء لازميږي. (۴)

---

(۱) وَإِذَا قَبَّلَ امْرَأَتَهُ وَأَنْزَلَ فَسَدَ صَوْمُهُ مِنْ غَيْرِ كَفَّارَةٍ كَذَا فِي الْمُحِيْطِ. الفتاوى الهندية كتاب الصوم الباب الرابع النوع الاول مايوجب القضاء دون الكفارة ۱/ ۲۰۴ . فتاوى عثمانيه ج۴ ص ۱۹۸ كتاب الصوم ، فتاوى حقانيه ج۴ ص ۱۵٦ باب مايفسد الصوم و مالايفسد ، فتاوى فريديه ج۴ ص ۱۵۸ باب ما تجب به القضاء والكفارة .

قال العلامة قاضي ثناء الله پاني رحمه الله: يازن را بوسه كرد يا مس بشهوت كرد، اگرانزال شد روزه فاسد شود، و الا فاسد نه شود. مالابدمنه ص ۹۷ كتاب الصوم. فتاوى حقانيه ج۴ ص ۱۷۱ .

قال الحصكفي: أَوْ لَمَسَ فَأَنْزَلَ قَضٰى فَقَطْ. الدرالمختار ۲/ ۴۰٦ كِتَابُ الصَّوْمِ بَابُ مَا يُفْسِدُ الصَّوْمَ وَمَالَا يُفْسِدُه. هداية مع الفتح ۲/ ۳۳۱ باب ما يوجب القضاء والكفارة ، النهر الفائق ۲/ ۱٦ باب ما يفسد الصوم ومالايفسده ، فتاوى محمودية ج۱۵ ص ۱۱۸ روزه كے مفسدات ومكروہات . فتاوى دارالعلوم ديوبند ج٦ ص ۲٦۳ .

(۲) اَلصَّائِمُ إِذَا عَالَجَ ذَكَرَهُ حَتّٰى أَمْنٰى فَعَلَيْهِ الْقَضَاءُ، وَهُوَ الْمُخْتَارُ وَبِهِ قَالَ عَامَّةُ الْمَشَايِخِ كَذَا فِي الْبَحْرِ الرَّائِقِ. وَإِذَا عَالَجَ ذَكَرَهُ بَيْنَ امْرَأَتِهِ فَأَنْزَلَ فَسَدَ صَوْمُهُ. الفتاوى الهندية النوع الاول مايوجب القضاء دون الكفارة ۱/ ۲۰۵ .

(۳) وَلَوْ جُوْمِعَتِ النَّائِمَةُ أَوِ الْمَجْنُوْنَةُ جُنُوْنًا عَارِضِيًّا بَعْدَ نِيَّتِهَا حَالَةَ الْإِفَاقَةِ يَفْسُدُ صَوْمُهَا عِنْدَ الثَّلَاثَةِ كَذَا فِي الْخُلَاصَةِ. الفتاوى الهندية كتاب الصوم الباب الرابع النوع الاول مايوجب القضاء دون الكفارة ۱/ ۲۰۵ .

(۴) وَلَوْ أَدْخَلَ أُصْبُعَهُ فِيْ إِسْتِهِ أَوِ الْمَرْأَةُ فِيْ فَرْجِهَا لَا يَفْسُدُ، وَهُوَ الْمُخْتَارُ إِلَّا إِذَا كَانَتْ مُبْتَلَّةً بِالْمَاءِ أَوِ الدُّهْنِ فَحِيْنَئِذٍ يَفْسُدُ لِوُصُوْلِ الْمَاءِ أَوِ الدُّهْنِ هٰكَذَا فِي الظَّهِيْرِيَّةِ. هٰذَا إِذَا كَانَ ذَاكِرًا لِلصَّوْمِ. الفتاوى الهندية كتاب الصوم الباب الرابع النوع الاول مايوجب القضاء دون الكفارة ۱/ ۲۰۴ .

۱۸ . سړي یا ښځه په ښپله شاته لاره ( دُبره ) کې دوائي واچوي ، یا په استنجاء کې دومره مُبالغه اوکړي چې اُوبه پورته لاړې شي نو په دې سره صرف قضاء لازمیږي . (۱)

۱۹ . که روژه دار په خپل قصد او اِرادې سره لوګې د حلق نه تېر کړي نو په دې سره صرف قضاء لازمیږي ، البته د عُود ، عنبر او سګریټ لوګې قصدًا تیرولو سره قضاء او کفاره دواړه لازمیږي .

۲۰ . یو کس په خپل کلي کې روژه نیولې وه ، بیا په سفر باندې اووت ( نو ده ته اوس صرف د همدې ورځې روژه ماتول جائز نده ، بلکه د همدې ورځې دا روژه به پوره کوي ) خو که ده قصدًا په دې سفر کې د همدې ورځې روژه ماته کړه نو په ده باندې صرف قضاء لازم ده ، کفاره وربانديې نشته . (۲)

البته که یو کس د سهر نه داخلیدو نه مخکې په سفر باندې اووځي ، یا د مخکې نه په سفر کې وي نو ده ته بیا په سفر کې روژه خوړل جائز دي .( ددې مسئلې تفصیل مخکې تېر شوی ) .

۲۱ . قصدًا په ډکه خُله باندې قې ( اُلټی ) کول ، یا قصدًا د ډکې خُلې قې دوباره تېرولو سره روژه ماتیږي ، صرف قضاء وربانديې لازم ده ، کفاره وربانديې نشته .

نوټ : که د څه بیمارۍ په وجه بِلا اختیاره ډیر قې ( اُلټی ) اوکړي نو په دې سره روژه نه ماتیږي ، یا لږ قې تېر کړي نو په دې سره هم نه ماتیږي .

۲۲ . د خپلې خُلې نه لاړې په لاس کې ټُوک کړي او بیا یې واپس تېرې کړي نو په دې سره صرف قضاء لازمیږي . (۳)

---

(۱) وَالصَّائِمُ إِذَا اسْتَقْصَى فِي الإِسْتِنْجَاءِ حَتَّى بَلَغَ الْمَاءُ مَبْلَغَ الْحُقْنَةِ يُفْسِدُ صَوْمَهُ هٰكَذَا فِي الْبَحْرِ الرَّائِقِ الفتاوى الهندية كتاب الصوم الباب الرابع النوع الاول مايوجب القضاء دون الكفارة ۱/ ۲۰۴ .

(۲) وَلَوْ أَصْبَحَ صَائِمًا فِي سَفَرِهِ ثُمَّ أَفْطَرَ مُتَعَمِّدًا فَلَا كَفَّارَةَ عَلَيْهِ لِأَنَّ السَّبَبَ الْمُبِيحَ مِنْ حَيْثُ الصُّورَةُ قَائِمٌ وَهُوَ السَّفَرُ فَأَوْرَثَ شُبْهَةً وَهٰذِهِ الْكَفَّارَةُ لَا تَجِبُ مَعَ الشُّبْهَةِ . بدائع الصنائع في ترتيب الشرائع ۲/ ۱۰۰ كِتَابُ الصَّوْمِ فَصْلٌ حُكْمُ فَسَادِ الصَّوْمِ .

(۳) وَإِنِ ابْتَلَعَ بُزَاقَ نَفْسِهِ مِنْ يَدِهِ فَسَدَ صَوْمُهُ ، وَلَا تَلْزَمُهُ الْكَفَّارَةُ . الفتاوى الهندية كتاب الصوم الباب الرابع النوع الاول مايوجب القضاء دون الكفارة ۱/ ۲۰۳ .

همدارنګې د خبلې بي بي او خپل محبوب نه علاوه د بل چا لاړې تېرې کړې نو په دې سره روژه ماتیږي ،صرف قضاء وربانديې لازمیږي.

البته که د خپلې بي بي یا د محبوب کس لاړې تېرې کړي نو په دې سره قضاء او کفاره دواړه لازمیږي. (۱) ، (۲).

## په روژه کې مُوټې وهلو سره صرف قضاء لازمیږي

که روژه دار د روژې په حالت کې مُوټې اووهي ( دیته مُشت زَني ، اِستمناء بِالید ، او هینډ پریکټس هم وایي ) او په دې سره یې اِنزال هم اوشي نو روژه یې ماته شوه ، صرف قضاء وربانديې لازم ده ، کفاره وربانديې نشته ، خو د رمضان د احترام په وجه به تر ماښامه پورې خوراک ،څکاک نه کوي. او که اِنزال یې او نه شو نو روژه یې نده ماته. (۳)

البته مُوټې وهل ناجائز او حرام دی، په داسې کس باندې لعنت راليږل شوی. (۴)

---

(۱) وَلَوْ اِبْتَلَعَ بُزَاقَ غَيْرِهِ فَسَدَ صَوْمُهُ بِغَيْرِ كَفَّارَةٍ إِلَّا إِذَا كَانَ بُزَاقَ صَدِيقِهِ فَحِينَئِذٍ تَلْزَمُهُ الْكَفَّارَةُ كَذَا فِي الْمُحِيطِ. الفتاوى الهندية كتاب الصوم الباب الرابع النوع الاول مايوجب القضاء والكفارة ۱/۲۰۳.

(۲) مراقي الفلاح مع حاشية الطحطاوي باب مايفسد به الصوم ويوجب القضاء من غير كفارة ص ۵۵۳ - ۵۵۸ ، الفتاوى الهندية كتاب الصوم الباب الرابع النوع الاول مايوجب القضاء والكفارة ۱/۲۰۲ - ۲۰۴ ، فتاوى عثمانيه ج۴ ص ۱۸۵ كتاب الصوم.

(۳) (قَوْلُهُ: وَكَذَا الْإِسْتِمْنَاءُ بِالْكَفِّ) أَيْ فِي كَوْنِهِ لَا يُفْسِدُ لَكِنَّ هٰذَا إِذَا لَمْ يُنْزِلْ أَمَّا إِذَا أَنْزَلَ فَعَلَيْهِ الْقَضَاءُ. رد المحتار على الدر المختار ۲/۳۹۹ كتاب الصوم بَابُ مَا يُفْسِدُ الصَّوْمَ وَمَا لَا يُفْسِدُهُ مَطْلَبٌ فِي حُكْمِ الْاِسْتِمْنَاءِ بِالْكَفِّ ، البحر الرائق ج۲ ص ۲۷۲.

أَوْ اِسْتَمْنَى بِكَفِّهِ أَوْ بِمُبَاشَرَةٍ فَاحِشَةٍ وَلَوْ بَيْنَ الْمَرْأَتَيْنِ (فَأَنْزَلَ) ... (قَضَى) فِي الصُّوَرِ كُلِّهَا (فَقَطْ). الدر المختار ۲/۴۰۴ كتاب الصوم بَابُ مَا يُفْسِدُ الصَّوْمَ وَمَا لَا يُفْسِدُهُ . فتاوى دار العلوم ديوبند ج ۶ ص ۲۶۳ كتاب الصوم پانچواں باب

اَلصَّائِمُ إِذَا عَالَجَ ذَكَرَهُ حَتَّى أَمْنَى فَعَلَيْهِ الْقَضَاءُ، وَهُوَ الْمُخْتَارُ وَبِهِ قَالَ عَامَّةُ الْمَشَايِخِ كَذَا فِي الْبَحْرِ الرَّائِقِ. وَإِذَا عَالَجَ ذَكَرَهُ بِيَدِ امْرَأَتِهِ فَأَنْزَلَ فَسَدَ صَوْمُهُ. الفتاوى الهندية كتاب الصوم الباب الرابع النوع الاول مايوجب القضاء دون الكفارة ۱/۲۰۵.

(۴) وَكَذَا الْإِسْتِمْنَاءُ بِالْكَفِّ وَإِنْ كُرِهَ تَحْرِيمًا لِحَدِيثِ «نَاكِحُ الْيَدِ مَلْعُونٌ» وَلَوْ خَافَ الزِّنَى يُرْجَى أَنْ لَا وَبَالَ عَلَيْهِ. الدر المختار ۲/۳۹۹ كتاب الصوم بَابُ مَا يُفْسِدُ الصَّوْمَ وَمَا لَا يُفْسِدُهُ .

## که د ګربتۍ لوګې قصدًا راکاږي نو روژه ماتیږي

روژه دار که ګربتۍ، لوبان وغیره ځان ته لوګې کړي، ځان ته یې نژدې کړي او قصدًا لوګې په پوزه راکاږي، د حلق نه تېر شي نو دې سره روژه ماتیږي، صرف قضاء به راګرځوي. لهذا په روژه کې د ګربتۍ نه ځان ساتل په کار دي .(۱)

خو که د ګربتۍ یا لوبان لوګې یې بې اختیاره په پوزه کې لاړشي نو په دې سره روژه نه ماتیږي. (۲)

## په کومو شیانو سره چې روژه مکروهه کیږي د هغې بیان

په کومو شیانو او کارونو سره چې روژه مکروهه کیږي هغه دادي:

۱. بغیر عُذره د یو څیز په ژبه څکل (ټسټ کول) مکروه دي.

البته که د یوې ښځې خاوند دومره سخت مزاجه او بد اخلاقه ؤ چې د مالګې مرچکي په کمیدو یا زیاتیدو سره ددې ښځې د وهلو او بې عزتۍ خطره وه نو بیا ددې د پاره د تلکارۍ وغیره په ژبه څکلو (معلومولو) اجازت شته.

همدغه رنګې که د یوې زنانه وړوکې ماشوم ؤ او هغه د پاره د خوراک ژویلو ضرورت

---

(۱) قال العلامة الحصكفيؒ: لَوْ أَدْخَلَ حَلْقَهُ الدُّخَانَ أَفْطَرَ أَيَّ دُخَانٍ كَانَ وَلَوْ عُودًا أَوْ عَنْبَرًا لَهُ ذَاكِرًا لِإِمْكَانِ التَّحَرُّزِ عَنْهُ فَلْيُتَنَبَّهْ لَهُ كَمَا بَسَطَهُ الشُّرُنْبُلَالِيُّ. الدرالمختار

قال ابن عابدينؒ: (قَوْلُهُ: أَنَّهُ لَوْ أَدْخَلَ حَلْقَهُ الدُّخَانَ) أَيْ بِأَيِّ صُورَةٍ كَانَ الْإِدْخَالُ، حَتَّى لَوْ تَبَخَّرَ بِبَخُورٍ وَآوَاهُ إلَى نَفْسِهِ وَاشْتَمَّهُ ذَاكِرًا لِصَوْمِهِ أَفْطَرَ لِإِمْكَانِ التَّحَرُّزِ عَنْهُ وَهٰذَا مِمَّا يَغْفُلُ عَنْهُ كَثِيرٌ مِنَ النَّاسِ، وَلَا يُتَوَهَّمُ أَنَّهُ كَشَمِّ الْوَرْدِ وَمَائِهِ وَالْمِسْكِ لِوُضُوحِ الْفَرْقِ بَيْنَ هَوَاءٍ تَطَيَّبَ بِرِيحِ الْمِسْكِ وَشِبْهِهِ وَبَيْنَ جَوْهَرِ دُخَانٍ وَصَلَ إلَى جَوْفِهِ بِفِعْلِهِ. رد المحتار على الدر المختار ۲/۳۹۵ كِتَابُ الصَّوْمِ بَابُ مَا يُفْسِدُ الصَّوْمَ وَمَا لَا يُفْسِدُهُ. فتاوى دارالعلوم ديوبند ج۶ ص۲۶۷.

(۲) لا يكره للصائم شم رائحة المسك والورد ونحوه مما لا يكون جوهرا متصلا كالدخان. مراقي الفلاح شرح نور الإيضاح ۱/۲۴۵ كتاب الصوم باب مالا يفسد الصوم. طحطاوي ص ۵۴۳ باب بيان ما يفسد الصوم، سكب الانهر مع مجمع الانهر ۱/۳۶۱ كتاب الصوم باب موجب الفساد. فتاوى محموديه ج۱۵ ص ۱۶۹، وص ۱۷۰، وص ۱۷۲.

وُ، بل نرم خوراک هم نه وُ ، او بل څوک د ژويلو هم نه وُ نو بيا ددې زَنانه د پاره دا خوراک په خُله کې ژويل او بچي ته ورکول جائز دي . (۱)

۲ . د شهدو يا تېلو اخيستلو په وخت په ژبه ددې څکل ( ټِسټ کول ) مکروهه دي ، البته که بغير د څکلو نه د دُهوکې خطره وه نو بيا بغير د کراهت نه صرف په ژبه څکل (معلومول) جائز دي . (۲)

۳ . د غاښونو صفائي د پاره ټُوتهـ پېسټ يا بل داسې څيز استعمالول مکروه دی چې د هغې خوشبوئي او ذائقه انسان محسوسوي .

خو که چيرته ددې شيانو ذائقه د خوراکي شيانو په شان مقصود وه ، او په دې کې څه ناڅه غذائيت هم وُ او حلق ته لاړ نو بيا په دې سره روژه ماتيږي .

**د ژاؤلو حُکم** : په کومو ژاؤلو کې چې خوَند نه وي نو ددې ژويل هم مکروه دي . خو

---

(۱) وَكُرِهَ ذَوْقُ شَيْءٍ وَمَضْغُهُ بِلَا عُذْرٍ كَذَا فِي الْكَنْزِ. وَمِنَ الْعُذْرِ فِي الْأَوَّلِ مَا لَوْ كَانَ زَوْجُ الْمَرْأَةِ وَسَيِّدُهَا سَيِّئَ الْخُلُقِ فَذَاقَتِ الْمَرَقَةَ . وَمِنَ الْعُذْرِ فِي الثَّانِي أَنْ لَا تَجِدَ مَنْ يَمْضُغُ الطَّعَامَ لِصَبِيِّهَا مِنْ حَائِضٍ أَوْ نُفَسَاءَ أَوْ غَيْرِهِمَا مِمَّنْ لَا يَصُومُ، وَلَمْ تَجِدْ طَبِيخًا، وَلَا لَبَنًا حَلِيبًا كَذَا فِي النَّهْرِ الْفَائِقِ . وَذَكَرَ فِي التَّجْنِيسِ أَنَّ كَرَاهَةَ الذَّوْقِ فِي صَوْمِ الْفَرْضِ، وَأَمَّا التَّطَوُّعُ فَلَا بَأْسَ كَذَا فِي النِّهَايَةِ. الفتاوى الهندية كتاب الصوم اَلْبَابُ الثَّالِثُ فِيمَا يُكْرَهُ لِلصَّائِمِ وَمَا لَا يُكْرَهُ ۱/۱۹۹ .

"كره للصائم سبعة أشياء ذوق شيء" لما فيه من تعريض الصوم للفساد ولو نفلا على الذهب "و" كره "مضغه بلا عذر" كالمرأة إذا وجدت من يمضغ الطعام لصبيها أو كمفطرة لحيض أما إذا لم تجد بدا منه فلا بأس بمضغها لصيانة الولد .... وللمرأة ذوق الطعام إذا كان زوجها سيئ الخلق لتعلم ملوحته وإن كان حسن الخلق فلا يحل لها ، وكذا الأمة ، قلتُ وكذا الأجير. مراقي الفلاح شرح متن نور الإيضاح ۱/ ۲۵٦ كتاب الصوم فصل فيما يكره للصائم وما لا يكره

(۲) وَيُكْرَهُ لِلصَّائِمِ أَنْ يَذُوقَ الْعَسَلَ أَوِ الدُّهْنَ لِيَعْرِفَ الْجَيِّدَ مِنَ الرَّدِيءِ عِنْدَ الشِّرَاءِ كَذَا فِي فَتَاوَى قَاضِي خَانْ. وَقِيلَ لَا بَأْسَ بِهِ إِذَا لَمْ يَجِدْ بُدًّا مِنْ شِرَائِهِ أَوْ يَخَافُ الْغَبْنَ كَذَا فِي الزَّاهِدِيِّ. الفتاوى الهندية كتاب الصوم اَلْبَابُ الثَّالِثُ فِيمَا يُكْرَهُ لِلصَّائِمِ وَمَا لَا يُكْرَهُ ۱/۱۹۹ .

که په دې کې خوَند هم وُ او دا يې تېر کړو نو په دې سره روژه ماتيږي. (۱)

۴. د اِستنجاء کولو، خُله او پُوزه وينځلو په وخت په اُوبو اچولو کې ډيره مبالغه کولو مکروه ده. (۲)

۵. په خُله کې قصدًا لاړې جَمع کول او بيا تېرول مکروه دي. (۳)

۶. د روژې په حالت کې د خپلې بي بي ژبه يا زَنه چُوسَل (يعنى لب چُوسي او اَلقُبلَةُ الفَاحشة) مکروه ده، اګرچې ده ته په خپل نفس باندې کنټرول حاصل وي. (۴)

۷. چاته چې په خپل ځان باندې کنټرول حاصل نه وي نو د هغه د پاره خپله بي بي بښکلول يا ځان ته راغاړه ايستل مکروه دي. البته که ځان يې کنټرول کولې شو د جِماع يا اِنزال

---

(۱) "و" كره "مضغ العلك" الذي لا يصل منه شيء إلى الجوف مع الريق. العلك هو المصطكي وقيل اللبان الذي هو الكندر لأنه يتهم بالإفطار بمضغه سواء المرأة والرجل. قال الإمام علي رضي الله عنه: إياك وما يسبق إلى العقول إنكاره وإن كان عندك اعتذاره. وفي غير الصوم يستحب للنساء وكره للرجال إلا في خلوة وقيل يباح لهم. مراقي الفلاح شرح متن نور الإيضاح ۱/ ۲۵٦ كتاب الصوم فصل فيما يكره للصائم وما لا يكره

يُكْرَهُ مَضْغُ العلكِ لِلصَّائِمِ كَذَا فِيْ فَتَاوٰى قَاضِيْ خَانْ. وَهٰكَذَا فِي الْمُتُونِ. الفتاوى الهندية كتاب الصوم اَلبَابُ الثَّالِثُ فِيمَا يُكْرَهُ لِلصَّائِمِ وَمَالَا يُكْرَهُ ۱/۱۹۹

(۲) وَتُكْرَهُ لَهُ الْمُبَالَغَةُ فِي الْإِسْتِنْجَاءِ كَذَا فِي السِّرَاجِ الْوَهَّاجِ. وَكَذَا الْمُبَالَغَةُ فِي الْمَضْمَضَةِ وَالْإِسْتِنْشَاقِ قَالَ شَمْسُ الْأَئِمَّةِ الْحَلْوَانِيُّ: وَتَفْسِيرُ ذٰلِكَ أَنْ يُكْثِرَ إمْسَاكَ الْمَاءِ فِي فَمِهِ وَيَمْلَأَ لَا أَنْ يُغَرْغِرَ كَذَا فِي الْمُحِيطِ. الفتاوى الهندية كتاب الصوم اَلبَابُ الثَّالِثُ فِيمَا يُكْرَهُ لِلصَّائِمِ وَمَالَا يُكْرَهُ ۱/۱۹۹.

(۳) وَيُكْرَهُ لِلصَّائِمِ أَنْ يَجْمَعَ رِيقَهُ فِي فَمِهِ ثُمَّ يَبْتَلِعَهُ كَذَا فِي الظَّهِيرِيَّةِ. الفتاوى الهندية كتاب الصوم اَلبَابُ الثَّالِثُ فِيمَا يُكْرَهُ لِلصَّائِمِ وَمَالَا يُكْرَهُ ۱/۱۹۹.

"و" كره له "جمع الريق في الفم" قصدا "ثم ابتلاعه" تحاشيا عن الشبهة. مراقي الفلاح شرح متن نور الإيضاح ۱/ ۲۵٦ كتاب الصوم فصل فيما يكره للصائم وما لا يكره

(۴) وَأَمَّا الْقُبْلَةُ الْفَاحِشَةُ: وَهِيَ أَنْ يَمُصَّ شَفَتَيْهَا فَتُكْرَهُ عَلَى الْإِطْلَاقِ. الفتاوى الهندية كتاب الصوم اَلبَابُ الثَّالِثُ فِيمَا يُكْرَهُ لِلصَّائِمِ وَمَالَا يُكْرَهُ ۱/۲۰۰.

ويكره التقبيل الفاحش بمضغ شفتها كما في الظهيرية. مراقي الفلاح شرح متن نور الإيضاح ۱/ ۲۵٦ كتاب الصوم فصل فيما يكره للصائم وما لا يكره.

خطره نه وه نو بيا دا مکروه ندي.(١)

٨. د روژې په حالت کې مباشرتِ فاحشه مکروه دی. ( د مُباشرتِ فاحشه مطلب دادی چې بغير د جامو نه ښځه او خاوند يو بل سره غاړه ورکړي، او بغير د دُخول نه فرجونه مخامخ شي ).(٢)

٩. په روژه کې داسې کار کول مکروه دی چې د هغې په وجه روژه دار کمزورې کيږي او روژې ماتولو طرف ته مجبوره کيږي، مثلا چاته وينه ورکول، ښکر لړول، وغيره. البته که د کمزورې کيدو خطره نه وه نو بيا مکروه ندی.(٣)

١٠. د روژه دار د پاره په اُوبو کې په ولاړه يا ناستې حالت کې هوا خارجول مکروه ده.(٤)

١١. که چيرته مسافر ته يقين وي چې زه د نمر پريوتلو نه مخکې خپل وطنِ اصلي يا

---

(١) وَلَا بَأْسَ بِالْقُبْلَةِ إِذَا أَمِنَ عَلَى نَفْسِهِ مِنَ الْجِمَاعِ وَالْإِنْزَالِ، وَيُكْرَهُ إِنْ لَمْ يَأْمَنْ. الفتاوى الهندية كتاب الصوم اَلْبَابُ الثَّالِثُ فِيمَا يُكْرَهُ لِلصَّائِمِ وَمَا لَا يُكْرَهُ ٢٠٠/١.

(٢) قِيلَ إِنَّ الْمُبَاشَرَةَ الْفَاحِشَةَ تُكْرَهُ. وَإِنْ أَمِنَ هُوَ الصَّحِيحُ كَذَا فِي السِّرَاجِ الْوَهَّاجِ. وَالْمُبَاشَرَةُ الْفَاحِشَةُ أَنْ يَتَعَانَقَا. وَهُمَا مُتَجَرِّدَانِ وَيَمَسَّ فَرْجُهُ فَرْجَهَا، وَهُوَ مَكْرُوهٌ بِلَا خِلَافٍ هٰكَذَا فِي الْمُحِيطِ. الفتاوى الهندية كتاب الصوم اَلْبَابُ الثَّالِثُ فِيمَا يُكْرَهُ لِلصَّائِمِ وَمَا لَا يُكْرَهُ ١٩٩/١.

"و" كره له "القبلة والمباشرة" الفاحشة وغيرها "إن لم يأمن فيهما على الإنزال أو الجماع في ظاهر الرواية" لما فيه من تعريض الصوم للفساد بعاقبة الفعل. مراقي الفلاح شرح متن نور الإيضاح ٢٥٦/١ كتاب الصوم فصل فيما يكره للصائم وما لا يكره

(٣) لَا بَأْسَ بِالْحِجَامَةِ إِنْ أَمِنَ عَلَى نَفْسِهِ الضَّعْفَ. أَمَّا إِذَا خَافَ فَإِنَّهُ يُكْرَهُ وَيَنْبَغِي لَهُ أَنْ يُؤَخِّرَ إِلَى وَقْتِ الْغُرُوبِ وَذَكَرَ شَيْخُ الْإِسْلَامِ شَرْطَ الْكَرَاهَةِ ضَعْفٌ يَحْتَاجُ فِيهِ إِلَى الْفِطْرِ. الفتاوى الهندية كتاب الصوم اَلْبَابُ الثَّالِثُ فِيمَا يُكْرَهُ لِلصَّائِمِ وَمَا لَا يُكْرَهُ ١٩٩/١.

"و" كره له فعل "ما ظن أنه يضعفه" عن الصوم "كالفصد والحجامة" والعمل الشاق لما فيه من تعريض الإفساد. مراقي الفلاح شرح متن نور الإيضاح ٢٥٦/١ كتاب الصوم فصل فيما يكره للصائم وما لا يكره

(٤) وَلَوْ فَسَا الصَّائِمُ أَوْ ضَرَطَ فِي الْمَاءِ لَا يَفْسُدُ الصَّوْمُ وَيُكْرَهُ لَهُ ذٰلِكَ هٰكَذَا فِي مِعْرَاجِ الدِّرَايَةِ. الفتاوى الهندية كتاب الصوم اَلْبَابُ الثَّالِثُ فِيمَا يُكْرَهُ لِلصَّائِمِ وَمَا لَا يُكْرَهُ ١٩٩/١

وطنِ اقامت ته رسيږم نو دده د پاره په سفر کې روژه ماتول مکروه ده . (۱) .

۱۲ . په روژه کې غِيبت کول ، دروغ ويل ، چغلخوري کول ، چاته دُهوکه ورکول ، جګړې کول ، فحش کارونه او فحش خبرې کول ، ظلم کول او نور ګناهونو کولو سره روژه نه ماتيږي خو مکروهه کيږي ، او په ثواب کې يې کمې راځي . (۲) .

**فائده** : بعضې کارونه داسې دي چې هغه د روژه دار د پاره مکروه ندي . (۳)

## په روژه کې د تُوتهِ پيسټ اِستعمالولو حُکم

د روژه دار د پاره د روژې په حالت کې تُوتهِ پيسټ يا د غاښونو بل قِسمه دوائي (منجن وغيره) استعمالول داسې مکروه ده لکه بغير عُذره چې په ژبه باندې څه څيز څکل

---

(۱) وَلَوْ أَرَادَ الْمُسَافِرُ دُخُولَ مِصْرِهِ أَوْ مِصْرًا آخَرَ يَنْوِيْ فِيْهِ الْإِقَامَةَ يُكْرَهُ لَهُ أَنْ يُفْطِرَ فِيْ ذٰلِكَ الْيَوْمِ، وَإِنْ كَانَ مُسَافِرًا فِيْ أَوَّلِهِ لِأَنَّهُ اِجْتَمَعَ الْمُحَرِّمُ لِلْفِطْرِ وَهُوَ الْإِقَامَةُ وَالْمُرَخِّصُ وَالْمُبِيْحُ وَهُوَ السَّفَرُ فِيْ يَوْمٍ وَاحِدٍ فَكَانَ التَّرْجِيْحُ لِلْمُحَرِّمِ اِحْتِيَاطًا فَإِنْ كَانَ أَكْبَرُ رَأْيِهِ أَنْ لَا يَتَّفِقَ دُخُوْلُهُ الْمِصْرَ حَتّٰى تَغِيْبَ الشَّمْسُ فَلَا بَأْسَ بِالْفِطْرِ فِيْهِ
بدائع الصنائع في ترتيب الشرائع ۱۰۸/۲ كِتَابُ الصَّوْمِ فَصْلٌ بَيَانُ مَا يُسَنُّ وَمَا يُسْتَحَبُّ لِلصَّائِمِ وَمَا يُكْرَهُ لَهُ أَنْ يَفْعَلَهُ

(۲) عن ابي هريرة رضي الله عنه قال قال رسولُ الله صلى الله عليه وسلم : مَنْ لَمْ يَدَعْ قَوْلَ الزُّوْرِ وَالْعَمَلَ بِهِ فَلَيْسَ لِلّٰهِ حَاجَةٌ فِيْ أَنْ يَدَعَ طَعَامَهُ وَشَرَابَهُ . صحيح البخاري رقم الحديث . كِتَابُ الصَّوْمِ بَاب مَنْ لَمْ يَدَعْ قَوْلَ الزُّوْرِ وَالْعَمَلَ بِهِ فِي الصَّوْمِ . و رقم الحديث ٦٠٥٧ ، سنن ابي داؤد باب الغيبة للصائم رقم الحديث ٢٣٦٢ ، سنن ابن ماجة باب ما جاء في الغيبة والرفث للصائم ، سنن الترمذي باب ما جاء في التشديد في الغيبة للصائم رقم الحديث ٧٠٧ .

وَاخْتلفَ الْعلمَاء فِي أَنَّ الْغَيْبَة والنميمة وَالْكذب هَل يفْطر الصَّائِم؟ فَذهب الْجُمْهُورُ مِنَ الْأَئِمَّة إِلَى أَنَّه لَايفْسد الصَّوْم بذلك، وَإِنَّمَا التَّنَزُّه عَن ذٰلِك من تَمام الصَّوْم..... فَكَذٰلِك من اغتاب أَو شهد زورا أَو مُنْكرا لم يُؤمر بِأَن يدع صِيَامه، وَلكنه يُؤمر باجتناب ذٰلِك ليتمّ لَهُ أجر صَوْمه . عمدة القاري شرح صحيح البخاري ۲۷٦/۱۰ كتاب الصوم بابُ مَنْ لَمْ يَدَعْ قَوْلَ الزُّورِ وَالْعَمَلَ بِهِ فِي الصَّوْمِ.

(۳) تسعة أشياء لاتكره للصائم: ۱ . القبلة والمباشرة مع الأمن. ۲ . ودهن الشارب. ۳ . والكحل ۴ . والحجامة. ۵ . والفصد. ٦ . والسواك آخر النهار بل هو سنة كأوّله ولو كان رطبا أو مبلولا بالماء. ۷ . والمضمضة والاستنشاق لغير وضوء. ۸ . والاغتسال. ۹ . والتلفف بثوب مبتل للتبرد على المفتى به
الإيضاح ۱/ ۱۴۰ كتاب الصوم فصل فيما يكره للصائم وما لا يكره

مکروه دي ، ځکه په ټوته پیسټ کې هم خوَند وي ، لهذا دا استعمالول مکروه دي.
البته که په حَلق کې ددې خوَند هم تېر شو نو بيا خو روژه پرې ماتيږي . صرف قضاء به راګرځوي ، کفاره ورباندې نشته .(۱)

**نوټ** : امام غزالي رحمه الله په ''کيمياۍ سعادت'' کې د روژې څه فرائض او سُنت هم ذکر کړي ، شائقين حضرات يې هلته کتلې شي .(۲)

# د رمضان المبارک د روژو کفاره

کوم کس چې بغير د عذرِ شرعي نه قصدًا روژه ماته کړي ( يعنی خوراک ، څکاک او جِماع اوکړي ) نو په دې سره روژه ماتيږي ، دا کس به ددې روژو قضاء هم راوړي او کفاره به هم اداء کوي.

په شريعت کې د کفارې د پاره درې (۳) شيان مقرر شوي ، په دې کې به يو خامخا اداء کوي : ۱. يو غلام به آزادوي. ۲. که غلام نه وي نو دوه مياشتې به مسلسل روژې نيسي ۳. که د مرض يا بوډاوالي په وجه روژې نشي نيولی نو شپيته (۶۰) مسکينانو ته به دوه وخته ( غرمه او ماښام ، يا سهر او ماښام ) په مړه خيټه خوراک ورکوي . يا به د هرې روژې

---

(۱) قال القاضي خان : وكذا إذا ذاقت شيئًا بلسانها ، لانّ فيه تعريض الصوم للفساد . فتاوى قاضي خان ج۱ ص ۹۷ الفصل الرابع فيما يكره للصائم و مالايكره .

قال ابن همامؒ : (قَوْلُهُ: لِمَا بَيَّنَّا ) مِنْ أَنَّهُ تَعْرِيضٌ لِلصَّوْمِ عَلَى الْفَسَادِ إِذْ قَدْ يَسْبِقُ شَيْءٌ مِنْهُ إِلَى الْحَلْقِ. فَإِنَّ مَنْ حَامَ حَوْلَ الْحِمٰى يُوْشِكُ أَنْ يَقَعَ فِيْهِ. فتح القدير ۳۴۵/۲ كِتَابُ الصَّوْمِ بَابُ مَا يُوجِبُ الْقَضَاءَ وَالْكَفَّارَةَ. ومثله في البحر الرائق ج۲ ص ۲۸۰ باب مايفسد ومالايفسد .

قال الحصكفيؒ: (وَ) كُرِهَ (مَضْغُ عِلْكٍ) أَبْيَضَ مَمْضُوغٍ مُلْتَئِمٍ، وَإِلَّا فَيُفْطِرُ . الدرالمختار

قال ابن عابدينؒ ... فَإِنْ كَانَ مِمَّا يَصِلُ عَادَةً حُكِمَ بِالْفَسَادِ ؛ لِأَنَّهُ كَالْمُتَيَقَّنِ . رد المحتار على الدر المختار ۲/ ۴۱۶ كِتَابُ الصَّوْمِ بَابُ مَا يُفْسِدُ الصَّوْمَ وَمَا لَا يُفْسِدُهُ . فتاوى حقانيه ج ۴ ص ۱۶۸ ، و ص ۱۷۴ . فتاوى دارالعلوم ديوبند ج۶ ص ۲۵۶ .

(۲) کيمياۍ سعادت شهېږم اسل د روژې بيان .

په عوض کې د صدقهٔ فطر (سَرسایې) په مقدار غله یا ددې قیمت ورکړي.(۱)

**تفصيل** : نن صبا چونکه د غلامانو په ذریعه باندې کفاره اداء کول ممکن نده (مُحکه غلامان نشته). نو دوه میاشتې به مسلسل روژې نیسي.

## که تسلسل باطل شو نو دوباره به دوه میاشتې روژې نیسي

که د روژو په ذریعه یې کفاره اداء کوله نو دوه میاشتې به مسلسل (پرله پسې) روژې نیسي، که په مینځ کې یې یوه روژه یا دوه روژې اونه نیوی، مثلا بیمار شو، یا په مینځ کې د اختر یا ایام تشریق ورځې راغلی نو دا به عُذر نشي شمارلی، اوس به دوباره د سَر نه دوه میاشتې روژې مسلسل بیا شروع کړي.(۲)

---

(۱) كَفَّارَةُ الْفِطْرِ وَكَفَّارَةُ الظِّهَارِ وَاحِدَةٌ، وَهِيَ عِتْقُ رَقَبَةٍ مُؤْمِنَةٍ أَوْ كَافِرَةٍ. فَإِنْ لَمْ يَقْدِرْ عَلَى الْعِتْقِ فَعَلَيْهِ صِيَامُ شَهْرَيْنِ مُتَتَابِعَيْنِ، وَإِنْ لَمْ يَسْتَطِعْ فَعَلَيْهِ إِطْعَامُ سِتِّيْنَ مِسْكِيْنًا. كُلَّ مِسْكِيْنٍ صَاعًا مِنْ تَمْرٍ أَوْ شَعِيْرٍ أَوْ نِصْفَ صَاعٍ مِنْ حِنْطَةٍ. الفتاوى الهندية ۲۱۵/۱ مَسَائِلُ فِي الإِعْتِكَافِ،

"والكفارة : تحرير رقبة "ولو كانت غير مؤمنة" لإطلاق النص "فإن عجز عنه" أي التحرير بعدم ملكها وملك ثمنها "صام شهرين متتابعين فيهما يوم عيد ولا" بعض "أيام التشريق" للنهي عن صيامها "فإن لم يستطع الصوم" لمرض أو كبر "أطعم ستين مسكينا" أو فقيرا. مراقي الفلاح شرح متن نور الإيضاح ۲۵۰/۱ فصل في الكفارة وما يسقطها عن الذمة بعد الوجوب، فتاوى عثمانيه ج۴ ص ۱۸۹ و ص ۲۲۳ كتاب الصوم. فتاوى محمودية ج۱۵ ص ۱۹۸ روزوں کی قضاء اور کفارہ. فتاوى دار العلوم ديوبند ج٦ ص ۲۸۲ كتاب الصوم.

فَالْوَاجِبُ الْعِتْقُ. فَإِنْ لَمْ يَجِدْ فَعَلَيْهِ صِيَامُ شَهْرَيْنِ مُتَتَابِعَيْنِ. فَإِنْ لَمْ يَسْتَطِعْ فَإِطْعَامُ سِتِّيْنَ مِسْكِيْنًا لِحَدِيْثِ الأَعْرَابِيِّ الْمَرْوِيِّ فِي الْكُتُبِ السِّتَّةِ. البحر الرائق ۲۹۸/۲ كِتَابُ الصَّوْمِ بَابُ مَا يُفْسِدُ الصَّوْمَ وَمَا لَا يُفْسِدُهُ

(۲) فَلَوْ أَفْطَرَ يَوْمًا فِي خِلَالِ الْمُدَّةِ بَطَلَ مَا قَبْلَهُ وَلَزِمَهُ الإِسْتِقْبَالُ سَوَاءٌ أَفْطَرَ لِعُذْرٍ أَوْ لَا ... إِلَّا لِعُذْرِ الْحَيْضِ. البحر الرائق ج۲ ص ۲۹۸ كتاب الصوم بَابُ مَا يُفْسِدُ الصَّوْمَ وَمَا لَا يُفْسِدُهُ. فتاوى عثمانيه ج۴ ص ۲۲۹ كتاب الصوم "صام شهرين متتابعين" ... لو أفطر فإن أفطر ولو بعذر غير الحيض استأنف. حاشية الطحطاوي على مراقي الفلاح ۶۷۰/۱ فصل في الكفارة وما يسقطها عن الذمة، شامي ۳۹۰/۳ باب ما يفسد الصوم وما لا يفسده مطلب في الكفارة، فتاوى محمودية ج۱۵ ص ۲۰۴ روزوں کی قضاء اور کفارہ. فتاوى دار العلوم ديوبند ج٦ ص ۲۸۵، و ص ۲۸٦ كتاب الصوم.

←←←←←←←←← فَصَامَهَا أَوْ قَتْلٍ أَوْ ظِهَارٍ فِطْرٍ مِنْ مُتَتَابِعَيْنِ شَهْرَيْنِ صِيَامُ الرَّجُلِ عَلَى كَانَ وَإِنْ

# د زنانه په حيض راتلو سره تسلسل نه باطليږي

البته که زنانه د روژو په ذريعه کفاره اداء کوله او په نيمائي کې يې حيض راغی نو په دې سره تسلسل نه باطليږي ، د حيض په ورځو کې به روژې نه نيسي خو چې د حيض نه څنګه پاکه شي نو بيا به روژې شروع کړي . که د پاکيدو نه پس يې يوه ورځ روژه او نه نيوله نو دوباره به د سر نه بيا روژې شروع کوي . (۱)

# که د روژو نيولو طاقت يې نه وُ

که د کفارې دوه مياشت مسلسل روژو طاقت يې نه وُ نو بيا به شپيته (٦٠) مسکينانو ته دوه وخته په مړه خېټه خوراک ورکوي (که غرمه او ماښام وي ، يا سهر او ماښام وي) .

که شپيته مسکينانو ته دوه غرمې خوراک ورکړي ، يا دوه ماښامه خوراک ورکړي نو دا هم جائز ده . خو دا ضروري ده چې کومو فقيرانو ته يې اول خوراک ورکړی نو هماغو ته به يې په دويم ځل هم ورکوي (تر دې چې يوه ورځ يې شپيته مسکينانو ته د غرمې خوراک ورکړو ، او په صبا يې نورو شپيته مسکينانو ته خوراک ورکړو نو دا کفاره نه صحيح کيږي ، بلکه هماغه اول فقيرانو ته به په دويم ځل هم خوراک ورکړي چې دوه وخته برابر شي نو کفاره به يې صحيح شي ) . (۲)

---

←←←← وَأَفْطَرَ فِيْهَا يَوْمًا لِمَرَضٍ فَعَلَيْهِ اِسْتِقْبَالُ الصِّيَامِ لِانْعِدَامِ صِفَةِ التَّتَابُعِ بِالْفِطْرِ . المبسوط للسرخسي ۸۱/۳ كتاب الصوم .

(۱) قال العلامة شمس الدين سرخسيؒ : فَإِنْ كَانَتِ امْرَأَةً فَأَفْطَرَتْ فِيمَا بَيْنَ ذٰلِكَ لِلْحَيْضِ لَمْ يَكُنْ عَلَيْهَا اِسْتِقْبَالُهُ. المبسوط للسرخسي ۸۱/۳ كتاب الصوم .

... إِلَّا لِعُذْرِ الْحَيْضِ ؛ لِأَنَّهَا لَا تَجِدُ شَهْرَيْنِ عَادَةً لَا تَحِيْضُ فِيْهِمَا لٰكِنَّهَا إِذَا تَطَهَّرَتْ تُصَلِّيْ بِمَا مَضٰى فَإِنْ لَمْ تُصَلِّ اِسْتَقْبَلَتْ. البحر الرائق ج۲ ص ۲۹۸ كتاب الصوم بَابُ مَا يُفْسِدُ الصَّوْمَ وَمَا لَا يُفْسِدُهُ. و مثله في فتاوى قاضي خان ج۱ ص۱۰٦ الفصل الخامس فيما يفسد الصوم ، فتاوى عثمانيه ج۴ ص ۲۲۸ ، و ص ۱۸۹ كتاب الصوم ، فتاوى حقانيه ج۴ ص ۱۸۰ .

(۲) والشرط أن "يغديهم ويعشيهم غداء وعشاء مشبعين" ، وهذا هو الأعدل لدفع حاجة اليوم بجملته، "أو" يغديهم "غداءين" من يومين "أو" يعشيهم "عشاءين" من ليلتين ←←←←←←←←←←

که يو فقير ته شپېته (۶۰) ورځې دوه وخته ( غرمه او ماښام ) خوراک ورکړي نو دا هم جائز ده. (۱)

د غنمو روټۍ سره تلکاري ضروري نده، خو که د اوربشو روټۍ ورکوي نو بيا ورسره تلکاري هم ضروري ده، خو په دې کې د عُرف لحاظ ساتل ډير مناسب دي، نن صبا يو فقير هم بغير د تلکارۍ نه د غنمو اُوچه روټۍ نه خوري، لهذا د غنمو روټۍ سره تلکاري ورکول هم په کار ده . (۲)

( **نوټ**: که يو سل او شل " ۱۲۰ " فقيرانو ته يې صرف يو وخت خوراک ورکړو نو دا به د يو وخت خوراک حسابيږي، په دې سره پوره کفاره نه اداء کيږي، ځکه هر فقير ته دوه وخته خوراک ورکول ضروري دی، لهذا اوس به په هم دوی کې شپېته مسکينانو ته دويم وخت خوراک هم ورکړي نو په دې سره به يې کفاره اداء شي ). (۳)

---

←←←←← " أو عشاء وسحورا " بشرط أن يكون الذين أطعمهم ثانيا هم الذين أطعمهم أولا حتى لو غدى ستين ثم أطعم ستين غيرهم لم يجز حتى يعيد الإطعام لأحد الفريقين. مراقي الفلاح شرح متن نور الإيضاح ۲۵۰/۱ فصل في الكفارة وما يسقطها عن الذمة بعد الوجوب فتاوى عثمانيه ج۴ ص ۱۸۹ كتاب الصوم. مجمع الانهر ۱۲۵/۲ كتاب الطلاق باب الظهار، النهر الفائق ۴۶۰/۲ كتاب الطلاق باب الظهار فصل في الكفارة، فتاوى محموديه ج۱۵ ص ۲۰۲ روزوں کی قضاء اور کفاره. فتاوى دار العلوم ديوبند ج۶ ص ۲۸۶ كتاب الصوم.

(۱) ولو أطعم فقيرا ستين يوما أجزأه لأنه بتجدد الحاجة بكل يوم يصير بمنزلة فقير آخر. مراقي الفلاح شرح متن نور الإيضاح ۲۵۰/۱ فصل في الكفارة وما يسقطها عن الذمة بعد الوجوب، طحطاوي كتاب الصوم فصل في الكفارة ص۵۲۲، ملتقي الابحر ۱۲۵/۲ كتاب الطلاق باب الظهار، النهر الفائق ۴۶۰/۲ كتاب الطلاق باب الظهار فصل في الكفارة، فتاوى محموديه ج۱۵ ص ۲۰۱، وص ۲۰۳ روزوں کی قضاء اور کفاره. فتاوى عثمانيه ج۴ ص ۱۸۹ كتاب الصوم.

(۲) والشرط إذا أباح الطعام أن يشبعهم ولو بخبز البر من غير أدم والشعير لا بد من أدم معه لخشونته وأكل الشبعان لا يكفي ولو استوعب مثل الجائع. مراقي الفلاح ۲۵۱/۱ فصل في الكفارة وما يسقطها عن الذمة بعد الوجوب، فتاوى عثمانيه ج۴ ص ۱۹۰ كتاب الصوم.

(۳) هم دغه شان مسئله په فتاوى حقانيه کې د کفاره يمين متعلق هم ذکر ده، تفصيل يې هلته اوګوره. فتاوى حقانيه ج ۵ ص ۵۰ كتاب الايمان والنذر.

د كفارې خوراک يا قيمت ماشوم ته ورکول صحيح ندی ، بلکه يا به فقير بالغ وي ، يا به قريب وي بلوغ ته (يعنی مراهِق به وي) . (۱)

## د روټۍ په ځای قيمت ورکول

که شپيته (٦٠) مسکينانو ته د خوراک په ځای باندې قيمت ورکول غواړي نو بيا به ددې شپيتو روژو د هرې روژې په عوض کې فقير ته د صدقه فطر (سرسايې) په اندازه غله يا ددې قيمت ورکوي.

نوټ: يو فقير ته د ټولو ورځو غله يا ددې قيمت په يو ځل باندې ورکول ناجائز دي ، که چا ورکړه نو دا صرف د يوې ورځې د پاره کافي کيږي . (۲)

بلکه دا به شپيته مسکينانو ته ورکوي ، يا به ديرشو مسکينانو ته دوه ورځې ورکوي . همدغه رنګې که يو فقير ته شپيته ورځې په هره ورځ د يو صدقه فطر په مقدار غَله يا قيمت ورکوي نو دا هم جائز ده .

## د کفارهٔ صوم اداء کولو آسانه طريقه

که په يو کس باندې د رمضان کفاره لازم شوي وي ، او دې د روژو نيولو طاقت نه لري ، او س شپيتو مسکينانو ته خوراک ورکول غواړي نو که شپيته مسکينان په يو ځل نشي راجَمع کولی نو په يوه مدرسه کې دې شپيته فقير طالبانو ته دوه وخته خوراک ورکړي .

ددينه هم آسانه طريقه داده چې يو فقير طالب العلم (يا يو مسکين) ته دې شپيته ورځې دوه وخته خوراک ورکړي نو په دې سره به دده کفاره اداء شي . (۳)

---

(۱) قوله: "أو فقيرا" ولا يجزىء إطعام غير المراهق . حاشية الطحطاوي على مراقي الفلاح شرح نور الإيضاح ٦٧٠/١ كتاب الصوم فصل في الكفارة وما يسقطها ، فتاوى محمودية ج١٥ ص ١٩٩ .

(۲) مراقي الفلاح ٢٥١/١ فصل في الكفارة وما يسقطها عن الذمة بعد الوجوب ، فتاوى عثمانيه ج۴ ص ١٩٠ كتاب الصوم

(۳) ولو أطعم فقيرا ستين يوما أجزأه لأنّه بتجدد الحاجة بكل يوم يصير بمنزلة فقيرا آخر . مراقي الفلاح شرح متن نور الإيضاح ٢٥٠/١ فصل في الكفارة وما يسقطها عن الذمة بعد الوجوب ، طحطاوي كتاب الصوم فصل في الكفارة ص٥٢٢ ، ملتقي الابحر ١٢٥/٢ كتاب الطلاق باب الظهار ، النهر الفائق ۴٦٠/٢ كتاب الطلاق باب الظهار فصل في الكفارة، فتاوى محموديه ج١٥ ص ٢٠١ ، و ص ٢٠٣ روزوں كى قضاء اور كفاره . فتاوى دار العلوم ديوبند ج٦ ص ٢٨١ روزے كا كفاره .

## په کفاره کې که د روژو نيولو طاقت يې وُ نو په خوراک ورکولو سره کفاره نه اداء کيږي

که په يو کس باندې د رمضان المبارک د روژو کفاره لازم شوې وه ، او دده د کفارې (دوه مياشتې مسلسل) روژو نيولو طاقت وُ نو په کفاره کې شپېته مسکينانو ته خوراک ورکولو سره کفاره نه اداء کيږي ، البته که د څه بيماري يا بوډاوالي په وجه يې روژې نه شوی نيولی نو بيا به په کفاره کې شپيته مسکينانو ته دوه وخته په مړه خېټه خوراک ورکړي .(۱)

## د يو رمضان يا د ډيرو رمضانونو د کفارو په مينځ کې تداخُل

که چيرته يو کس د يو رمضان څو روژې قصدًا ماتې کړې وی (مثلا په څو روژو کې قصدًا جماع کړې وي) ، او يا يې د ډيرو رمضانونو روژې قصدًا ماتې کړې وی ، او تر اوسه يې د يوې روژې کفاره هم نده اداء کړی نو اوس ده ته ددې ټولو خوړل شوو روژو په عِوض کې يوه کفاره اداء کول کافي ده ، خو چې څومره روژې يې ماتې کړې وي د هماغومره ورځو قضائي به خامخا راګرځوي .(يعنی په دې کفارو کې تداخُل راغی خو چې هر څومره روژې يې قصدًا ماتې کړې وي د هغې قضاء به خامخا راګرځوي) ، د احنافو په نزد باندې همدا ظاهرُ الرّواية او مختار قول دی .(۲)

---

(۱) كَفَّارَةُ الْفِطْرِ وَكَفَّارَةُ الظِّهَارِ وَاحِدَةٌ ، وَهِيَ عِتْقُ رَقَبَةٍ مُؤْمِنَةٍ أَوْ كَافِرَةٍ ، فَإِنْ لَمْ يَقْدِرْ عَلَى الْعِتْقِ فَعَلَيْهِ صِيَامُ شَهْرَيْنِ مُتَتَابِعَيْنِ ، وَإِنْ لَمْ يَسْتَطِعْ فَعَلَيْهِ إِطْعَامُ سِتِّينَ مِسْكِينًا كُلَّ مِسْكِينٍ صَاعًا مِنْ تَمْرٍ أَوْ شَعِيرٍ أَوْ نِصْفَ صَاعٍ مِنْ حِنْطَةٍ. الفتاوى الهندية ۱/۲۱۵ مَسَائِلُ فِي الاِعْتِكَافِ .

قال ابن عابدينؒ : (قَوْلُهُ: كَكَفَّارَةِ الْمُظَاهِرِ) مُرْتَبِطٌ بِقَوْلِهِ وَكَفَّرَ أَيْ مِثْلُهَا فِي التَّرْتِيبِ فَيُعْتِقُ أَوَّلًا ، فَإِنْ لَمْ يَجِدْ صَامَ شَهْرَيْنِ مُتَتَابِعَيْنِ ، فَإِنْ لَمْ يَسْتَطِعْ أَطْعَمَ سِتِّينَ مِسْكِينًا . رد المحتار على الدر المختار ۲/۴۱۲ كتاب الصوم بَابُ مَا يُفْسِدُ الصَّوْمَ وَمَا لَا يُفْسِدُهُ مَطْلَبٌ فِي الْكَفَّارَةِ ، ومثله في طحطاوي ص فصل في الكفارة و ما يسقطها عن الذمة بعد الوجوب . فتاوى عثمانيه ج۴ ص ۲۲۳ ، و ص ۲۳۱ كتاب الصوم . فتاوى حقانيه ج۴ ص ۱۷۶ .

(۲) وَلَوْ جَامَعَ فِي رَمَضَانَ مُتَعَمِّدًا مِرَارًا بِأَنْ جَامَعَ فِي يَوْمٍ ثُمَّ جَامَعَ فِي الْيَوْمِ الثَّانِي ثُمَّ فِي الثَّالِثِ وَلَمْ يُكَفِّرْ فَعَلَيْهِ لِجَمِيعِ ذَلِكَ كُلِّهِ كَفَّارَةٌ وَاحِدَةٌ عِنْدَنَا.... ←←←←←←←←←←←←

ځکه د کفارې بُنيادي مقصد دادی چې دې انسان ته د خپل جُرم او کمزورۍ احساس اوشي ، د بندګانو په داسې سخت مقشت کې اچول مقصود ندي چې بيا يې طاقت نه لري ، اوس که د هرې روژې په عوض کې کفاره لازم شي نو دا د انسان د وَس نه بهر ده .

ألبته که يو ځل ده کفاره اداء کړې وه او بيا ده قصدا روژه ماته کړه نو اوس په ده باندې دوباره کفاره لازم ده . (۱)

---

←←←←← وَلَوْ جَامَعَ فِيْ رَمَضَانَيْنِ وَلَمْ يُكَفِّرْ لِلْأَوَّلِ فَعَلَيْهِ لِكُلِّ جِمَاعٍ كَفَّارَةٌ فِيْ ظَاهِرِ الرِّوَايَةِ. وَذَكَرَ مُحَمَّدٌ فِي الْكَيْسَانِيَّاتِ أَنَّ عَلَيْهِ كَفَّارَةً وَاحِدَةً . وَكَذَا حَكَى الطَّحَاوِيُّ عَنْ أَبِي حَنِيْفَةَ رحمه الله . بدائع الصنائع في ترتيب الشرائع ۱۰۱/۲ كتاب الصوم فَصْلٌ حُكْمُ فَسَادِ الصَّوْمِ ، هكذا في حاشية الطحطاوي علي مراقي الفلاح فصل في العوارض ص ۵۴۶ .

وَلَوْ تَكَرَّرَ فِطْرُهُ وَلَمْ يُكَفِّرْ لِلْأَوَّلِ يَكْفِيْه وَاحِدَةٌ وَلَوْ فِيْ رَمَضَانَيْنِ عِنْدَ مُحَمَّدٍ وَعَلَيْهِ الْإِعْتِمَادُ بَزَّازِيَّةٌ وَمُجْتَبٰى وَغَيْرُهُمَا وَاخْتَارَ بَعْضُهُمْ لِلْفَتْوٰى أَنَّ الْفِطْرَ بِغَيْرِ الْجِمَاعِ تَدَاخَلَ وَإِلَّا لَا . الدر المختار ۴۱۳/۲ كتاب الصوم بَابُ مَا يُفْسِدُ الصَّوْمَ وَمَا لَا يُفْسِدُه. البحر الرائق ۲۷۷/۲ باب مايفسد الصوم ومالايفسده ، فتاوی عثمانيه ج۴ ص ۱۹۰ ، فتاوی محموديه ج۱۵ ص ۲۰۵ ، وص ۲۳۰ كتاب الصوم . فتاوی حقانيه ج۴ ص ۱۸۰ ، فتاوی فريديه ج۴ ص ۱۴۹ .

(۱) وَلَوْ جَامَعَ فِيْ يَوْمٍ ثُمَّ كَفَّرَ ثُمَّ جَامَعَ فِيْ يَوْمٍ آخَرَ فَعَلَيْهِ كَفَّارَةٌ أُخْرٰى فِيْ ظَاهِرِ الرِّوَايَةِ .... اَلزَّجْرُ يَحْصُلُ بِكَفَّارَةٍ وَاحِدَةٍ بِخِلَافِ مَا إِذَا جَامَعَ فَكَفَّرَ ثُمَّ جَامَعَ لِأَنَّهُ لَمَّا جَامَعَ بَعْدَ مَا كَفَّرَ عُلِمَ أَنَّ الزَّجْرَ لَمْ يَحْصُلْ بِالْأَوَّلِ. بدائع الصنائع في ترتيب الشرائع ۱۰۱/۲ كتاب الصوم فَصْلٌ حُكْمُ فَسَادِ الصَّوْمِ

# د رمضان المبارک د روژو قضاء راوړلو بیان

که د چا نه د څه شرعي عُذر په وجه روژې پاتې شي نو په ده باندې د دې قضاء لازم ده . (۱)

## د قضاء روژو د پاره مُعین وخت نشته

د رمضان المبارک د روژو قضاء د پاره څه مُعین وخت نشته ، د اخترونو او ایامِ تشریق نه علاوه په نورو ټولو ورځو کې د دې قضاء راوړل صحیح ده . (۲)

تر دې چې که یو کس د روژو قضاء رانه وړه او دویم رمضان هم راغی نو دې به د دې دویم رمضان روژې اونیسي ، د دینه پس به د فوت شوو روژو قضاء راوړي . (۳)

**نوټ** : بلا عُذره د روژو قضاء روستو کول بنه خبره نده ، بلکه چې څومره ممکن وي زر یې قضاء راوړل په کار دي ، خو که روستو یې قضاء راوړه نو هم صحیح ده .

خو د رمضان روژو قضاء راوړلو د پاره د شپې نه د روژې نیت ، او د تعین نیت دواړه

---

(۱) أَمَّا أَصْلُ الْوُجُوْبِ فَلِقَوْلِهِ تَعَالَى {فَمَنْ كَانَ مِنْكُمْ مَرِيْضًا أَوْ عَلَى سَفَرٍ فَعِدَّةٌ مِنْ أَيَّامٍ أُخَرَ . البقرة: ۱۸۴} فَأَفْطَرَ فَعِدَّةٌ مِنْ أَيَّامٍ أُخَرَ، وَلِأَنَّ الْأَصْلَ فِي الْعِبَادَةِ الْمُؤَقَّتَةِ إِذَا فَاتَتْ عَنْ وَقْتِهَا أَنْ تُقْضَى . وَسَوَاءٌ فَاتَهُ صَوْمُ رَمَضَانَ بِعُذْرٍ أَوْ بِغَيْرِ عُذْرٍ لِأَنَّهُ لَمَّا وَجَبَ عَلَى الْمَعْذُوْرِ فَلِأَنْ يَجِبَ عَلَى الْمُقَصِّرِ أَوْلَى. وَلِأَنَّ الْمَعْنَى يَجْمَعُهُمَا وَهُوَ الْحَاجَةُ إِلَى جَبْرِ الْفَائِتِ بَلْ حَاجَةُ غَيْرِ الْمَعْذُوْرِ أَشَدُّ . بدائع الصنائع في ترتيب الشرائع ۱۰۳/۲ كِتَابُ الصَّوْمِ فَصْلُ حُكْمُ الصَّوْمِ الْمُؤَقَّتِ إِذَا فَاتَ عَنْ وَقْتِهِ

(۲) وَأَمَّا وَقْتُ وُجُوْبِهِ فَوَقْتُ أَدَائِهِ. وَقَدْ ذَكَرْنَاهُ وَهُوَ سَائِرُ الْأَيَّامِ خَارِجَ رَمَضَانَ سِوَى الْأَيَّامِ السِّتَّةِ لِقَوْلِهِ تَعَالَى {فَمَنْ كَانَ مِنْكُمْ مَرِيْضًا أَوْ عَلَى سَفَرٍ فَعِدَّةٌ مِنْ أَيَّامٍ أُخَرَ . البقرة: ۱۸۴} أَمَرَ بِالْقَضَاءِ مُطْلَقًا عَنْ وَقْتٍ مُعَيَّنٍ فَلَا يَجُوْزُ تَقْيِيْدُهُ بِبَعْضِ الْأَوْقَاتِ إِلَّا بِدَلِيْلٍ. بدائع الصنائع في ترتيب الشرائع ۱۰۴/۲ كِتَابُ الصَّوْمِ فَصْلُ حُكْمُ الصَّوْمِ الْمُؤَقَّتِ إِذَا فَاتَ عَنْ وَقْتِهِ .

(۳) (وَقَضَاءُ رَمَضَانَ إِنْ شَاءَ فَرَّقَهُ وَإِنْ شَاءَ تَابَعَهُ) لِإِطْلَاقِ النَّصِّ، لَكِنَّ الْمُسْتَحَبَّ الْمُتَابَعَةُ مُسَارَعَةً إِلَى إِسْقَاطِ الْوَاجِبِ (وَإِنْ أَخَّرَهُ حَتَّى دَخَلَ رَمَضَانُ آخَرُ صَامَ الثَّانِيَ) لِأَنَّهُ فِي وَقْتِهِ (وَقَضَى الْأَوَّلَ بَعْدَهُ) لِأَنَّهُ وَقْتُ الْقَضَاءِ (وَلَا فِدْيَةَ عَلَيْهِ) . الهداية في شرح بداية المبتدي ۱۲۲/۱ كتاب الصوم بَابُ مَا يُوجِبُ الْقَضَاءَ وَالْكَفَّارَةَ.

ضروري دي. (۱)

# که مسافر په سفر کې او مريض په مريضتيا کې وفات شي

که يو مسافر په سفر کې وفات شي، يا مريض په مريضتيا کې وفات شي، يا يو بل معذور د عُذر په دَوران کې وفات شي او دوی ته د روژې نيولو موقع ملاؤ نشي نو د دوی نه ددې روژو فرضيت ساقط دی، يعنی په دوی باندې ددې قضاء نشته، همدارنګې په دوی باندې د مرګ په وخت کې ددې روژو فِديه ورکولو وصيت هم لازم نه دی.

البته دده د پاره مستحب دي چې د فديې ورکولو وصيت اوکړي نو دا به دده د مال د دريمې حصې نه ورکولې شي.

او که چاته د سفر يا عُذر نه پس د تولو خوَړل شوو روژو موقع ملاؤ شوه نو په ده باندې ددې قضاء لازم ده، خو که ده د سستۍ په وجه قضاء رااُونه ګرځولو نو د مرګ په وخت په ده باندې د فِديې ورکولو وصيت لازمي دي، که وصيت يې اونکړو او وارثانو په خپله خوَښه د خپلې حصې نه دده د طرف نه فِديه ورکړه نو اُميد شته چې دده ذِمه فارغه شي. (۲)

---

(۱) وَأَمَّا شَرَائِطُ جَوَازِ الْقَضَاءِ فَمَا هُوَ شَرْطُ جَوَازِ أَدَاءِ صَوْمِ رَمَضَانَ فَهُوَ شَرْطُ جَوَازِ قَضَائِهِ إِلَّا الْوَقْتَ وَتَعْيِينَ النِّيَّةِ مِنَ اللَّيْلِ. فَإِنَّهُ يَجُوزُ الْقَضَاءُ فِي جَمِيعِ الْأَوْقَاتِ إِلَّا الْأَوْقَاتَ الْمُسْتَثْنَاةَ. وَلَا يَجُوزُ إِلَّا بِنِيَّةٍ مُعَيَّنَةٍ مِنَ اللَّيْلِ بِخِلَافِ الْأَدَاءِ. بدائع الصنائع في ترتيب الشرائع ۱۰۴/۲ كِتَابُ الصَّوْمِ فَصْلُ حُكْمُ الصَّوْمِ الْمُؤَقَّتِ إِذَا فَاتَ عَنْ وَقْتِهِ

(۲) وَأَمَّا بَيَانُ شَرَائِطِ وُجُوبِهِ فَمِنْهَا الْقُدْرَةُ عَلَى الْقَضَاءِ حَتَّى لَوْ فَاتَهُ صَوْمُ رَمَضَانَ بِعُذْرِ الْمَرَضِ أَوِ السَّفَرِ وَلَمْ يَزَلْ مَرِيضًا أَوْ مُسَافِرًا حَتَّى مَاتَ لَقِيَ اللهَ وَلَا قَضَاءَ عَلَيْهِ. لِأَنَّهُ مَاتَ قَبْلَ وُجُوبِ الْقَضَاءِ عَلَيْهِ. لَكِنَّهُ إِنْ أَوْصَى بِأَنْ يُطْعَمَ عَنْهُ صَحَّتْ وَصِيَّتُهُ وَإِنْ لَمْ يَجِبْ عَلَيْهِ، وَيُطْعَمُ عَنْهُ مِنْ ثُلُثِ مَالِهِ لِأَنَّ صِحَّةَ الْوَصِيَّةِ لَا تَتَوَقَّفُ عَلَى الْوُجُوبِ كَمَا لَوْ أَوْصَى بِثُلُثِ مَالِهِ لِلْفُقَرَاءِ أَنَّهُ يَصِحُّ، وَإِنْ لَمْ يَجِبْ عَلَيْهِ شَيْءٌ كَذَا هٰذَا. فَإِنْ بَرِئَ الْمَرِيضُ أَوْ قَدِمَ الْمُسَافِرُ وَأَدْرَكَ مِنَ الْوَقْتِ بِقَدْرِ مَا فَاتَهُ يَلْزَمُهُ قَضَاءُ جَمِيعِ مَا أَدْرَكَ. لِأَنَّهُ قَدَرَ عَلَى الْقَضَاءِ لِزَوَالِ الْعُذْرِ. فَإِنْ لَمْ يَصُمْ حَتَّى أَدْرَكَهُ الْمَوْتُ فَعَلَيْهِ أَنْ يُوصِيَ بِالْفِدْيَةِ. بدائع الصنائع في ترتيب الشرائع ۱۰۳/۲ كِتَابُ الصَّوْمِ فَصْلُ حُكْمُ الصَّوْمِ الْمُؤَقَّتِ إِذَا فَاتَ عَنْ وَقْتِهِ.

وفي الهندية: وَلَوْ فَاتَ صَوْمُ رَمَضَانَ بِعُذْرِ الْمَرَضِ أَوِ السَّفَرِ وَاسْتَدَامَ الْمَرَضُ وَالسَّفَرُ حَتَّى مَاتَ لَا قَضَاءَ عَلَيْهِ لَكِنَّهُ إِنْ أَوْصَى بِأَنْ يُطْعَمَ عَنْهُ صَحَّتْ وَصِيَّتُهُ، وَإِنْ لَمْ تَجِبْ عَلَيْهِ وَيُطْعَمُ ←←←←←←←←

## چې قضاء رانه وړې نو د مرګ په وخت د فديې وصيت لازمي دی

که يو کس د مرض، سفر يا بل عُذر په وجه روژې خوړلې وی، بيا ده ته ددې عُذر او سفر ختميدو نه پس د روژو نيولو موقع ملاؤ شوه خو ده د سستۍ په وجه تر مرګه پورې روژې او نه نيولی نو د مرګ په وخت په ده باندې فرض دي چې وصيت اوکړي چې " زما په ذِمه دومره روژې باقي دي تاسو زما د مال نه ددې فِديه ورکړئ " نو وارثان به د ثُلث مال (يعنی دده د مال د دريمې حصې) نه فِديه ورکړي. (۱)

که د مرګ په وخت يې وصيت اونکړو نو د وصيت په نه کولو سره ګناهګار ـ وارِثانو باندې دده د طرفه د فوت شوو روژو فِديه ورکول واجب نده، خو که وارِثانو د خپل

---

←←←← عَنْهُ مِنْ ثُلُثِ مَالِهِ فَإِنْ بَرِئَ الْمَرِيضُ أَوْ قَدِمَ الْمُسَافِرُ، وَأَدْرَكَ مِنَ الْوَقْتِ بِقَدْرِ مَا فَاتَهُ فَيَلْزَمُهُ قَضَاءُ جَمِيعِ مَا أَدْرَكَ فَإِنْ لَمْ يَصُمْ حَتَّى أَدْرَكَهُ الْمَوْتُ فَعَلَيْهِ أَنْ يُوصِيَ بِالْفِدْيَةِ . الفتاوى الهندية ٢٠٧/١ كِتَابُ الصَّوْمِ الْبَابُ الْخَامِسُ فِي الْأَعْذَارِ الَّتِي تُبِيحُ الْإِفْطَارَ.

قال ابن نجيمؒ : ( قَوْلُهُ: وَلَا قَضَاءَ إنْ مَاتَا عَلَيْهِمَا ) أَيْ وَلَا قَضَاءَ عَلَى الْمَرِيضِ وَالْمُسَافِرِ إذَا مَاتَا قَبْلَ الصِّحَّةِ وَالْإِقَامَةِ ؛ لِأَنَّهُمَا لَمْ يُدْرِكَا عِدَّةً مِنْ أَيَّامٍ أُخَرَ فَلَمْ يُوجَدْ شَرْطُ وُجُوبِ الْأَدَاءِ فَلَمْ يَلْزَمِ الْقَضَاءُ . البحر الرائق شرح كنز الدقائق ٣٠٥/٢ كِتَابُ الصَّوْمِ فَصْلٌ فِي عَوَارِضِ الْفِطْرِ فِي رَمَضَان

قال الحصكفيؒ : ( فَإِنْ مَاتُوا فِيهِ ) أَيْ فِي ذَلِكَ الْعُذْرِ ( فَلَا تَجِبُ ) عَلَيْهِمْ ( الْوَصِيَّةُ بِالْفِدْيَةِ ) لِعَدَمِ إدْرَاكِهِمْ عِدَّةً مِنْ أَيَّامٍ أُخَرَ ( وَلَوْ مَاتُوا بَعْدَ زَوَالِ الْعُذْرِ وَجَبَتْ ) الْوَصِيَّةُ بِقَدْرِ إدْرَاكِهِمْ عِدَّةً مِنْ أَيَّامٍ أُخَرَ الدر المختار ٤٢٤/٢ كتاب الصوم بَابُ مَا يُفْسِدُ الصَّوْمَ وَمَا لَا يُفْسِدُهُ فَصْلٌ فِي الْعَوَارِضِ الْمُبِيحَةِ لِعَدَمِ الصَّوْمِ . ومثله في الفتاوى التاتارخانية ج ص فصل في الاسباب المبيحة للفطر . فتاوى عثمانيه ج۴ ص ۲۲۲ ، و ص ۱۸۷ ، و ص ۲۲۴ كتاب الصوم فتاوى حقانيه ج۴ ص ۱۸۷ ، فتاوى محموديه ج۱۵ ص ۲۱۷ و ص ۲۰۸ ، و ص ۲۱۰ ، فتاوى دارالعلوم ديوبند ج۶ ص ۲۹۰ كتاب الصوم.

(۱) فَإِنْ بَرِئَ الْمَرِيضُ أَوْ قَدِمَ الْمُسَافِرُ وَأَدْرَكَ مِنَ الْوَقْتِ بِقَدْرِ مَا فَاتَهُ يَلْزَمُهُ قَضَاءُ جَمِيعِ مَا أَدْرَكَ. لِأَنَّهُ قَدَرَ عَلَى الْقَضَاءِ لِزَوَالِ الْعُذْرِ. فَإِنْ لَمْ يَصُمْ حَتَّى أَدْرَكَهُ الْمَوْتُ فَعَلَيْهِ أَنْ يُوصِيَ بِالْفِدْيَةِ. بدائع الصنائع في ترتيب الشرائع ١٠٣/٢ كِتَابُ الصَّوْمِ فَصْلٌ حُكْمُ الصَّوْمِ الْمُؤَقَّتِ إِذَا فَاتَ عَنْ وَقْتِهِ . الفتاوى الهندية ٢٠٧/١ كِتَابُ الصَّوْمِ الْبَابُ الْخَامِسُ فِي الْأَعْذَارِ الَّتِي تُبِيحُ الْإِفْطَارَ.

طرف نه ددې روژو فِديه ورکړه نو دا به د دوی د طرفه تبرّع او اِحسان وي ، اُميد شته چې دده ذِمه فارغه شي . (۱)

## چې ډير عُمر يې روژې نه وي نيولی ، د هغې د راګرځولو طريقه

که يو کس د بالِغ کيدو نه پس مثلا لس (۱۰) کاله مونځونه نه وي کړي او روژې يې هم نه وي نيولي ، اوس د هغې قضاء راګرځول غواړي نو ددې آسانه طريقه داده چې د اوس نه به ددې قضاء راګرځول شروع کړي ، په هره ورځ به د پنځه فرض مونځونو او يو وِتر واجب قضاء راګرځوي .

همدغه شان د روژو قضاء به هم شروع کړي ، د هر رمضان په عِوض کې به يوه مياشت روژې اونيسي (خو په دې کې تسلسل ضروري ندی) ،البته په نيت کې به د هر رمضان تعين کوي . د هر رمضان د روژو نيت به داسې کوي :

" د اول رمضان روژې چې په ما باندې فرض شوې وی او ما ندي نيولي هغه نيسم " په دې نيت سره به يوه مياشت روژې اونيسي .

بيا به د بل رمضان د پاره هم همداسې نيت اوکړي ، او دهغې روژې به اونيسي ، په همدې انداز به د ټولو روژو قضاء رااوګرځوي .

يا به داسې نيت اوکړي : " د آخِري رمضان روژې چې په ماباندې فرض شوې وی او ما ندي نيولي هغه نيسم " په همدې طريقه نيت به ددې نورو د پاره هم اوکړي .

---

(۱) قال ابن نجيمؒ : لَوْ صَحَّ الْمَرِيضُ أَوْ أَقَامَ الْمُسَافِرُ وَلَمْ يَقْضِ حَتّٰى مَاتَ لَزِمَهُ الْإِيصَاءُ بِقَدْرِهِ وَهُوَ مُصَرَّحٌ بِهِ فِي بَعْضِ نُسَخِ الْمَتْنِ لِوُجُودِ الْإِدْرَاكِ بِهٰذَا الْمِقْدَارِ . البحر الرائق شرح كنز الدقائق ۳۰۵/۲ كِتَابُ الصَّوْمِ فَصْلٌ فِي عَوَارِضِ الْفِطْرِ فِي رَمَضَانَ ، و مثله في خلاصة الفتاوی ج۱ ص ۲٦۲ كتاب الصوم الفصل الرابع النذر ، فتاوی حقانيه ج۴ ص ۱۷۸ .

قال الحصكفيؒ ... وَإِلَّا فَلَا يَلْزَمُ الْوَلِيُّ ذٰلِكَ لِأَنَّهَا عِبَادَةٌ فَلَا بُدَّ فِيهَا مِنْ الِاخْتِيَارِ . فَإِذَا لَمْ يُوصِ فَاتَ الشَّرْطُ ... ثُمَّ اعْلَمْ أَنَّهُ إذَا أَوْصٰى بِفِدْيَةِ الصَّوْمِ يُحْكَمُ بِالْجَوَازِ قَطْعًا لِأَنَّهُ مَنْصُوصٌ عَلَيْهِ . وَأَمَّا إذَا لَمْ يُوصِ فَتَطَوَّعَ بِهَا الْوَارِثُ فَقَدْ قَالَ مُحَمَّدٌ فِي الزِّيَادَاتِ إنَّهُ يُجْزِيهِ إنْ شَاءَ اللّٰهُ تَعَالٰى ، فَعَلَّقَ الْإِجْزَاءَ بِالْمَشِيئَةِ لِعَدَمِ النَّصِّ . رد المحتار على الدر المختار ۷۲/۲ بَابُ قَضَاءِ الْفَوَائِتِ ، فتاوی عثمانيه ج۴ ص ۲۲۰ كتاب الصوم .

همدغه شان نيت به د مانځه د پاره هم کوي. (۱)

## په قضاء روژو کې تتابع شرط نده

که د چا نه د عُذر په وجه روژې پاتې شوې وي او اوس د هغې قضاء راګرځوي نو په دې کې تتابُع يعنى پرله پسې مسلسل روژې نيول شرط ندي.

مثلا مسافريا مريض يا معذور د عُذرپه وجه لس روژې اوخوړې نو د دې لس روژو مسلسل قضاء راګرځول ضروري نده ، بلکه که پنځه په يوه مياشت کې اونيسي ، او پنځه په بله مياشت کې اونيسي نو دا هم جائزده. (۲)

( نوټ: د کفارې روژې نيولو کې تتابع شرط ده. ( دا مسئله مخکې په تفصيل سره تېره شوی. ابوالشمس عفي عنه)

---

(۱) وإذا كثرت الفوائت يحتاج لتعيين كل صلاة "فإن أراد تسهيل الأمر عليه نوى أول ظهر عليه" أدرك وقته ولم يصله فإذا نواه كذلك فيما يصليه يصير أولا فيصح بمثل ذلك وهكذا "أو" إن شاء نوى "آخره" فيقول أصلي آخر ظهر أدركته ولم أصله بعد. فإذا فعل كذلك فيما يليه يصير آخرا بالنظر لما قبله فيحصل التعيين ... "وكذا الصوم" الذي عليه "من رمضانين" إذا أراد قضاءه يفعل مثل هذا. مراقي الفلاح شرح نور الإيضاح ۱۷۳/۱ باب قضاء الفوائت ، المحيط البرهاني ۳۴۴/۳ الفصل الثالث ما يتعلق بالنية ، تاتارخانية ۳٦٠/۲ كتاب الصوم الفصل الثالث في النية ، فتاوى محمودية ج۱۵ ص ۱۹۵ روزں کی قضاء اور کفاره.

(۲) ( قَوْلُهُ: وَقَضَيَا مَا قَدَرَا بِلَا شَرْطِ وِلَاءٍ ) أَيْ لَا يُشْتَرَطُ التَّتَابُعُ فِي الْقَضَاءِ لِإِطْلَاقِ قَوْله تَعَالَى {فَعِدَّةٌ مِنْ أَيَّامٍ أُخَرَ. البقرة: ۱۸۴} . البحر الرائق شرح كنز الدقائق ۳۰۷/۲ كِتَابُ الصَّوْمِ فَصْلٌ فِي عَوَارِضِ الْفِطْرِ فِي رَمَضَانَ . فتاوى عثمانيه ج۲ ص ۲۱۸ كتاب الصوم.

# د فِديې بيان

د فِديې متعلق ضروري مسائل درته ذکر کوم:

## د فِديې د وُجوب علت

د احنافو په نزد باندې د فِديې د وجوب د پاره عِلت داسې "دائمي عِجز" دی چې ددې په موجود والي سره ټول عُمر د روژې نيولو اُميد نه وي. دا عِجز که د ډير بوډاوالي په وجه پيدا شوی وي، او که د دائمي مرض په وجه پيدا شوی وي. دوی به فِديه اداء کوي.

خو که دې شيخ فاني يا دائمي مريض ته د فِديې اداء کولو نه پس په روژو باندې قوّت حاصل شو نو فِديه يې باطله شوه اوس به د روژو قضاء راګرځوي.

د عامو عُذرونو (لکه سفر، غير دائمي مرض، حمل، ماشوم ته سينه ورکول يا نورو عامو عُذرونو) راپيخيدو په وجه فِديه نه واجب کيږي، ځکه ددې عُذرونو نه پس انسان ته د روژو نيولو قوّت حاصليږي. بلکه د فِديې د وجوب د پاره دائمي عِجز شرط دی. (۱)

عام مريض که د بيمارۍ نه ښه شو نو قضاء به يې راګرځوي، او که قضاء يې هم رانه ګرځوله نو د مرګ په وخت به د فِديې وصيت اوکړي، لهذا په عام مرض کې فِديه لازم نده. (۲)

---

(۱) وَأَمَّا وُجُوبُ الْفِدَاءِ: فَشَرْطُهُ الْعَجْزُ عَنِ الْقَضَاءِ عَجْزًا لَا تُرْجَى مَعَهُ الْقُدْرَةُ فِي جَمِيعِ عُمْرِهِ فَلَا يَجِبُ إِلَّا عَلَى الشَّيْخِ الْفَانِي. وَلَا فِدَاءَ عَلَى الْمَرِيضِ وَالْمُسَافِرِ وَلَا عَلَى الْحَامِلِ وَالْمُرْضِعِ وَكُلِّ مَنْ يُفْطِرُ لِعُذْرٍ تُرْجَى مَعَهُ الْقُدْرَةُ لِفَقْدِ شَرْطِهِ وَهُوَ الْعَجْزُ الْمُسْتَدَامُ، وَهٰذَا لِأَنَّ الْفِدَاءَ خَلَفٌ عَنِ الْقَضَاءِ، وَالْقُدْرَةُ عَلَى الْأَصْلِ تَمْنَعُ الْمَصِيرَ إِلَى الْخَلَفِ كَمَا فِي سَائِرِ الْأَخْلَافِ مَعَ أُصُولِهَا، وَلِهٰذَا قُلْنَا: إِنَّ الشَّيْخَ الْفَانِي إِذَا فَدٰى ثُمَّ قَدَرَ عَلَى الصَّوْمِ بَطَلَ الْفِدَاءُ. بدائع الصنائع في ترتيب الشرائع ۱۰۵/۲ كِتَابُ الصَّوْمِ فَصْلٌ حُكْمُ الصَّوْمِ الْمُؤَقَّتِ إِذَا فَاتَ عَنْ وَقْتِهِ. فتاوى عثمانيه ج۲ ص۱۸۸ كتاب الصوم.

وَلَوْ قَدَرَ عَلَى الصِّيَامِ بَعْدَ مَا فَدٰى بَطَلَ حُكْمُ الْفِدَاءِ الَّذِي فَدَاهُ حَتّٰى يَجِبَ عَلَيْهِ الصَّوْمُ هٰكَذَا فِي النِّهَايَةِ. الفتاوى الهندية ۲۰۷/۱ كِتَابُ الصَّوْمِ اَلْبَابُ الْخَامِسُ فِي الْأَعْذَارِ الَّتِي تُبِيحُ الْإِفْطَارَ.

(۲) (وَلِلشَّيْخِ الْفَانِي الْعَاجِزِ عَنِ الصَّوْمِ الْفِطْرُ وَيَفْدِي) وُجُوبًا. الدرالمختار ... ثُمَّ عِبَارَةُ الْكَنْزِ وَهُوَ يَفْدِي إِشَارَةٌ إِلَى أَنَّهُ لَيْسَ عَلَى غَيْرِهِ الْفِدَاءُ لِأَنَّ نَحْوَ الْمَرَضِ وَالسَّفَرِ فِي عُرْضَةِ الزَّوَالِ ←←←←←←←← ←←←←←←←

عام مريض که فِديه ورکړي نو په دې سره دده غاړه نه خلاصيږي ، بيا هم په ده باندې قضاء لازم ده . (۱)

## د فِديې مقدار

د يوې روژې د فِديې مقدار پاؤ کم دوه سيره غنم يا ددې قيمت دی . (۲)

شيخ فاني يا داسې کس چې د روغيدو امکان يې نه وي دوی به د هرې روژې په عِوض کې يوه فِديه ورکوي . ( يعنی يا به د هرې روژې په عِوض کې پاؤ کم دوه سيره غنم ورکوي، يا چې په بازار کې ددې پاؤ کم دوه سيره غنمو موجوده وخت څه قيمت وي هغه به ورکوي )

يا به د هرې روژې په عِوض کې فقير ته دوه وخته ( غرمه او ماښام ) په مړه خېټه خوراک ورکوي . فقير که په يوه ورځ هر څومره ډير خوراک اوکړي ، يا هر څو ډېرې اوخوري نو دا به يوه فِديه حسابيږي . د دوه وخته خوراک په ځای قيمت ورکول صحيح ندی . (۳)

## ټوله فِديه يو کس ته ورکول

د ټولې مياشت فِديه يَک مُشت (په يو ځل) يو فقير ته ورکول جائز ده ، ځکه په فِديه کې د " مدفوع اليه " تعدّد شرط ندی . (۴)

---

←←←← فَيَجِبُ الْقَضَاءُ وَعِنْدَ الْعَجْزِ بِالْمَوْتِ تَجِبُ الْوَصِيَّةُ بِالْفِدْيَةِ . رد المحتار على الدر المختار ۴۲۷/۲ كتاب الصوم فَصْلٌ فِي الْعَوَارِضِ الْمُبِيحَةِ لِعَدَمِ الصَّوْمِ ، فتاوى فريديه ج۴ ص ۱۷۹ باب الفدية .

(۱) فتاوى دارالعلوم ديوبند ج٦ ص ۳۰۰ .

(۲) فتاوى دارالعلوم ديوبند ج٦ ص ۲۹۳ ، فتاوى فريديه ج۴ ص ۱۷۸ باب الفدية ، فتاوى عثماليه ج۴ ص ۱۸۸

(۳) عالمكيري ۲۱۵/۱ المتفرقات مطلب بيان الكفارة ، فتاوى فريديه ج۴ ص ۱۷۸ ، و ص ۱۸۵ . بدائع الصنائع كتاب الكفارات فصل في شروط الجواز ، مراقي الفلاح مع حاشية الطحطاوي فصل في العوارض ص ٥٦٧ ، فتاوى عثمانيه ج۴ ص ۱۸۸ كتاب الصوم .

(۴) "ويجوز الفطر لشيخ فان وعجوز فانية وتلزمهما الفدية" ثم إن شاء أعطى في أول رمضان وإن شاء أعطى في آخره . ولا يشترط في المدفوع إليه العدد . حاشية الطحطاوي على مراقي الفلاح ٦٨٨/۱ فصل في العوارض ، عالمكيري ۲۰۷/۱ الباب الخامس في الاعذار ، شامي ۴۲۴/۲ فصل في العوارض المبيحة ، فتاوى محموديه ج١٥ ص ۲۱۴ روزں کی قضاء اور کفاره . فتاوى عثماليه ج۴ ص ۱۸۹ كتاب الصوم .
←←←←←←←←←

البته د يوې روژې فِديه (يعنى پاؤكم دوه سيره غنم يا ددې قيمت) به په دوه يا زياتو فقيرانو باندې نه تقسيموي، بلكه هر فقير ته به كم از كم د يوې روژې فديه پوره وركوي (۱)

**د مانځه د فديې حُكم**: د مانځه فِديه هم د روژې په شان ده، د هر فرض مانځه او وِتر واجب په عِوض كې به يوه فديه وركوي، نو د يو شواروز مونځونو په عِوض كې به شپږ فِديې وركوي. (۲)

همدارنګې د ټولو مونځونو فِديه يو كس ته په يو ځل باندې وركول هم جائز ده، خو د يو مانځه فِديه به په دوه فقيرانو باندې نه تقسيموي. (۳)

**نوټ**: كه مريض په اشاره باندې هم مونځ نه شو كولې، او دې په همدې حالت كې وفات شو، د مونځونو راګرځولو موقع ورته ملاؤ نه شوه نو په ده باندې ددې فِديه لازم نه ده. (۴)

---

←←←← "ويجوز إعطاء فدية صلوات" وصيام أيام ونحوها "لواحد" من الفقراء "جملة بخلاف كفارة اليمين" حيث لا يجوز أن يدفع للواحد أكثر من نصف صاع في يوم للنص على العدد فيها. وكذا ما نص على عدده في كفارة". مراقي الفلاح شرح متن نور الإيضاح ۱۷۱/۱ باب صلوة المريض. فتاوى محمودية ج۱۵ ص ۲۱۱.

(وَلِلشَّيْخِ الْفَانِي الْعَاجِزِ عَنِ الصَّوْمِ الْفِطْرُ وَيَفْدِي) وُجُوبًا وَلَوْ فِي أَوَّلِ الشَّهْرِ وَبِلَا تَعَدُّدِ فَقِيرٍ كَالْفِطْرَةِ. الدر المختار ۴۲۷/۲ فَصْلٌ فِي الْعَوَارِضِ الْمُبِيحَةِ لِعَدَمِ الصَّوْمِ.

(۱) فتاوى محمودية ج۱۵ ص ۲۱۱ روزں كی قضاء اور كفاره.

(۲) (وَلَوْ مَاتَ وَعَلَيْهِ صَلَوَاتٌ فَائِتَةٌ وَ أَوْصَى بِالْكَفَّارَةِ يُعْطَى لِكُلِّ صَلَاةٍ نِصْفَ صَاعٍ مِنْ بُرٍّ) كَالْفِطْرَةِ (وَكَذَا حُكْمُ الْوِتْرِ) وَالصَّوْمِ. الدر المختار ۷۳/۲ باب قضاء الفوائت، فتاوى محمودية ج۱۵ ص ۲۱۰ روزں كی قضاء اور كفاره.

(۳) فتاوى محمودية ج۱۵ ص ۲۱۱ روزں كی قضاء اور كفاره.

(۴) (وَإِنْ تَعَذَّرَ الْإِيمَاءُ) بِرَأْسِهِ (وَكَثُرَتِ الْفَوَائِتُ) بِأَنْ زَادَتْ عَلَى يَوْمٍ وَلَيْلَةٍ (سَقَطَ الْقَضَاءُ عَنْهُ) وَإِنْ كَانَ يُفْهَمُ فِي ظَاهِرِ الرِّوَايَةِ (وَعَلَيْهِ الْفَتْوَى) كَمَا فِي الظَّهِيرِيَّةِ لِأَنَّ مُجَرَّدَ الْعَقْلِ لَا يَكْفِي لِتَوَجُّهِ الْخِطَابِ. الدر المختار.

قال ابن عابدين: فَلَوْ مَاتَ وَلَمْ يَقْدِرْ عَلَى الصَّلَاةِ لَمْ يَلْزَمْهُ الْقَضَاءُ حَتَّى لَا يَلْزَمَهُ الْإِيصَاءُ بِهَا كَالْمُسَافِرِ إِذَا أَفْطَرَ وَمَاتَ قَبْلَ الْإِقَامَةِ كَمَا فِي الزَّيْلَعِيِّ. قَالَ فِي الْبَحْرِ: وَيَنْبَغِي أَنْ يُقَالَ مَحَلُّهُ مَا إِذَا لَمْ يَقْدِرْ فِي مَرَضِهِ عَلَى الْإِيمَاءِ بِالرَّأْسِ. أَمَّا إِنْ قَدَرَ عَلَيْهِ بَعْدَ عَجْزِهِ فَإِنَّهُ يَلْزَمُهُ الْقَضَاءُ وَإِنْ كَانَ مُوَسَّعًا لِتَظْهَرَ فَائِدَتُهُ فِي الْإِيصَاءِ بِالْإِطْعَامِ عَنْهُ. رد المحتار على الدر المختار ۹۹/۲ بَابُ صَلَاةِ الْمَرِيضِ، فتاوى محمودية ج۱۵ ص ۲۱۱ روزں كی قضاء اور كفاره.

## شيخِ فاني به د روژو په ځای فديه ورکوي

کوم کس چې دومره بُوډا شوی وي چې د ډېر بُوډاوالي په وجه روژې نشي نيوی نو دی به د روژو په ځای فِديه ورکوي ، يعنی د هرې روژې په عِوض کې به پاؤ کم دوه سېره غنم يا ددې قيمت ورکوي . (۱)

## د فِديې ورکولو نه پس چې په روژه قدرت حاصل شي

که شيخِ فاني يا داسې مريض چې د هغه په ظاهره باندې د جوړېدو اُميد نه وي دوی دواړه د روژو فِديه ورکړه ، څه وخت پس شيخ فاني ته د روژو نيولو قوت حاصل شو يا مريض د خپل مرض نه شو او دوی ته دومره وخت ملاؤ شو چې دوی په کې روژې نيولې شوی نو اوس د فِديې حُکم باطل شو ، په دوی باندې د خوړل شوو روژو قضاء لازم ده . (۲)

---

(۱) الشيخ الهرم الفاني الذي لا يقدر على الصوم في جميع فصول السنة يفطر وتجب عن كل يوم فدية طعام مسكين . الفقه على المذاهب الأربعة كتاب الصيام الأعذار المبيحة للفطر حكم الفطر لكبر السن .

قال في الهندية : فَالشَّيْخُ الْفَانِي الَّذِيْ لَا يَقْدِرُ عَلَى الصِّيَامِ يُفْطِرُ وَيُطْعِمُ لِكُلِّ يَوْمٍ مِسْكِينًا كَمَا يُطْعِمُ فِي الْكَفَّارَةِ كَذَا فِي الْهِدَايَةِ. وَالْعَجُوزُ مِثْلُهُ كَذَا فِي السِّرَاجِ الْوَهَّاجِ. وَهُوَ الَّذِيْ كُلَّ يَوْمٍ فِيْ نَقْصٍ إِلَى أَنْ يَمُوْتَ كَذَا فِي الْبَحْرِ الرَّائِقِ. ثُمَّ إِنْ شَاءَ أَعْطَى الْفِدْيَةَ فِيْ أَوَّلِ رَمَضَانَ بِمَرَّةٍ ، وَإِنْ شَاءَ أَخَّرَهَا إِلَى آخِرِهِ كَذَا فِي النَّهْرِ الْفَائِقِ . الفتاوى الهندية ۲۰۷/۱ كِتَابُ الصَّوْمِ اَلْبَابُ الْخَامِسُ فِي الْأَعْذَارِ الَّتِي تُبِيحُ الْإِفْطَارَ ، و مثله في بدائع الصنائع ۱۰۵/۲ كِتَابُ الصَّوْمِ فَصْلٌ حُكْمُ الصَّوْمِ الْمُؤَقَّتِ إِذَا فَاتَ عَنْ وَقْتِهِ . فتاوى حقانيه ج۴ ص ۱۷۷ . فتاوى دارالعلوم ديوبند ج۶ ص ۲۹۰ .

قال العلامة الحصكفيّ : ( وَلِلشَّيْخِ الْفَانِي الْعَاجِزِ عَنِ الصَّوْمِ الْفِطْرُ وَيَفْدِيْ ) وُجُوْبًا وَلَوْ فِيْ أَوَّلِ الشَّهْرِ وَبِلَا تَعَدُّدِ فَقِيرٍ كَالْفِطْرَةِ لَوْ مُوْسِرًا ، وَإِلَّا فَيَسْتَغْفِرُ اللهَ . الدرالمختار ۴۲۷/۲ فَصْلٌ فِي الْعَوَارِضِ الْمُبِيحَةِ لِعَدَمِ الصَّوْمِ .

وَكَذَا كِبَرُ السِّنِّ حَتَّى يُبَاحَ لِلشَّيْخِ الْفَانِيْ أَنْ يُفْطِرَ فِيْ شَهْرِ رَمَضَانَ لِأَنَّهُ عَاجِزٌ عَنِ الصَّوْمِ وَعَلَيْهِ الْفِدْيَةُ عِنْدَ عَامَّةِ الْعُلَمَاءِ. بدائع الصنائع ۹۷/۲ كِتَابُ الصَّوْمِ فَصْلٌ حُكْمُ فَسَادِ الصَّوْمِ . فتاوى دارالعلوم ديوبند ج۶ ص ۲۹۱

(۲) ... وَلَوْ قَدَرَ عَلَى الصِّيَامِ بَعْدَ مَا فَدَى بَطَلَ حُكْمُ الْفِدَاءِ الَّذِيْ فَدَاهُ حَتَّى يَجِبَ عَلَيْهِ الصَّوْمُ هٰكَذَا فِي النِّهَايَةِ ... فَإِنْ بَرِئَ الْمَرِيْضُ أَوْ قَدِمَ الْمُسَافِرُ ، وَأَدْرَكَ مِنَ الْوَقْتِ بِقَدْرِ مَا فَاتَهُ فَيَلْزَمُهُ قَضَاءُ جَمِيْعِ مَا أَدْرَكَ فَإِنْ لَمْ يَصُمْ حَتَّى أَدْرَكَهُ الْمَوْتُ فَعَلَيْهِ أَنْ يُوْصِيَ بِالْفِدْيَةِ. الفتاوى الهندية ۲۰۷/۱ كِتَابُ الصَّوْمِ . فتاوى عثمانيه ج۴ ص ۲۱۷/۱ ←←←←←←←←

## فدیه د رمضان په اول او آخر دواړو کې ورکولې شي

د شیخ فاني او دائمي مریض د پاره جائز دي چې فِدیه د رمضان په اول کې ورکړي، او که په آخر کې، همدارنګې ټوله فِدیه یَک مُشت یو فقیر ته هم ورکول جائز دي، په دې کې څه خاص پابندي نشته. (۱)

## فدیه دِینداره عالِم ته ورکول افضل ده

کوم عالِم چې دِینداره او حاجت مَند وي نو هغه ته فِدیه ورکول ډېر افضل دي. (۲)

## فِدیه به د میراث دریمې حصې نه اداء کولې شي

که یو کس د مرګ په وخت د فِدیې ورکولو وصیت اوکړو نو دا به دده د مالِ متروکه د دریمې حصې نه اداء کولې شي. (۳)

---

←←←← إِنَّ الشَّيْخَ الْفَانِي إِذَا فَدٰى ثُمَّ قَدَرَ عَلَى الصَّوْمِ بَطَلَ الْفِدَاءُ. بدائع الصنائع في ترتيب الشرائع ۱۰۵/۲ كِتَابُ الصَّوْمِ فَصْلٌ حُكْمُ الصَّوْمِ الْمُؤَقَّتِ إِذَا فَاتَ عَنْ وَقْتِهِ .

(۱) "ويجوز الفطر لشيخ فانٍ وعجوز فانيةٍ وتلزمهما الفدية" ثم إن شاء أعطى في أول رمضان وإن شاء أعطى في آخره . ولا يشترط في المدفوع إليه العدد . حاشية الطحطاوي على مراقي الفلاح ۶۸۸/۱ فصل في العوارض، عالمكيري ۲۰۷/۱ الباب الخامس في الاعذار ، شامي ۴۲۴/۲ فصل في العوارض المبيحة ، فتاوى محمودية ج۱۵ ص ۲۱۴، وص ۲۱۷ روزں کی قضاء اور کفارہ.

(۲) اَلتَّصَدُّقُ عَلَى الْفَقِيْرِ الْعَالِمِ أَفْضَلُ مِنَ التَّصَدُّقِ عَلَى الْجَاهِلِ . الفتاوى الهندية ۱۸۷/۱ كِتَابُ الزَّكَاةِ اَلْبَابُ السَّابِعُ فِي الْمَصَارِفِ. طحطاوي على المراقي ص ۵۹۴ باب المصرف ، شامي ج۲ ص ۳۵۴ باب المصرف فصل في العوارض المبيحة ، فتاوى محمودية ج۱۵ ص ۲۱۴ روزں کی قضاء اور کفارہ.

(۳) (وَفَدٰى) لُزُوْمًا (عَنْهُ) أَيْ عَنِ الْمَيِّتِ (وَلِيُّهُ) الَّذِيْ يَتَصَرَّفُ فِيْ مَالِهِ (كَالْفِطْرَةِ) قَدْرًا (بَعْدَ قُدْرَتِهِ عَلَيْهِ) أَيْ عَلَى قَضَاءِ الصَّوْمِ (وَفَوْتِهِ) أَيْ فَوْتِ الْقَضَاءِ بِالْمَوْتِ فَلَوْ فَاتَهُ عَشْرَةُ أَيَّامٍ فَقَدَرَ عَلَى خَمْسَةٍ فَدَاهَا فَقَطْ (بِوَصِيَّتِهِ مِنَ الثُّلُثِ). الدرالمختار (قَوْلُهُ مِنَ الثُّلُثِ) أَيْ ثُلُثِ مَالِهِ بَعْدَ تَجْهِيْزِهِ وَإِيْفَاءِ دُيُوْنِ الْعِبَادِ رد المحتار على الدرالمختار ۴۲۴/۲ كِتَابُ الصَّوْمِ فَصْلٌ فِي الْعَوَارِضِ الْمُبِيحَةِ لِعَدَمِ الصَّوْمِ ، مراقي الفلاح مع الطحطاوي ص ۳۵۵ باب صلوة المريض فصل في اسقاط الصلوة والصوم ، البحر الرائق ۹۱/۲ باب قضاء الفوائت .

که په ده باندې فِديه زياته لازم وه او دده د دريمې حصې نه نه پوره کيدله نو په وارِثانو باندې د دريمې حصې نه زياته فديه ورکول لازم نده.

البته که بالِغ وارثان د ميراث د خپلې حصې نه دا زياتي حصه فِديه ورکوي نو د ابه د دوی د طرفه اِحسان وي، خو د نابالغ وارِث د حصې نه به يې نه ورکوي.(١)

## که د فِديې طاقت يې نه ؤ نو اِستغفار به وايي

شيخ فاني يا داسې مريض چې د جوړيدو اِمکان يې نه وي دوی به فِديه ورکوي، اوس که چيرته د ډير غُربت په وجه د دوی د فِديې وَس (او طاقت) نه ؤ نو دوی به اِستغفار وايي.(٢)

---

(١) "فيخرج عنه وليه من ثلث ما ترك" الموصي لأنّ حقه في ثلث ماله حال مرضه وتعلق حق الوارث بالثلثين فلا ينفذ قهرا على الوارث إلا في الثلث إن أوصى به، وإن لم يوص لا يلزم الوارث الإخراج. فإن تبرع جاز. مراقي الفلاح ١/١٦٩ باب صلاة المريض فصل في إسقاط الصلاة والصوم، عالمكيري ١/١٢٥ الباب الحادي عشر في قضاء الفوائت، شامي ٢/٧٢ باب قضاء الفوائت مطلب في اسقاط الصلوة عن الميت. فتاوى محمودية ج١٥ ص ٢١٦ روزں کی قضاء اور کفارہ.

فَلَوْ زَادَتِ الْفِدْيَةُ عَلَى الثُّلُثِ لَا يَجِبُ الزَّائِدُ إِلَّا بِإِجَازَةِ الْوَارِثِ. رد المحتار على الدر المختار ٢/٤٢٢ كِتَابُ الصَّوْمِ فَصْلٌ فِي الْعَوَارِضِ الْمُبِيحَةِ لِعَدَمِ الصَّوْمِ.

(٢) قال الحصكفيّ: (وَلِلشَّيْخِ الْفَانِي الْعَاجِزِ عَنِ الصَّوْمِ الْفِطْرُ وَيَفْدِي) وُجُوبًا وَلَوْ فِي أَوَّلِ الشَّهْرِ وَبِلَا تَعَدُّدِ فَقِيرٍ كَالْفِطْرَةِ لَوْ مُوسِرًا وَإِلَّا فَيَسْتَغْفِرُ اللهَ. الدر المختار ٢/ ٤٢٧ كتاب الصوم فَصْلٌ فِي الْعَوَارِضِ الْمُبِيحَةِ لِعَدَمِ الصَّوْمِ.

(قَوْلُهُ: وَلِلشَّيْخِ الْفَانِي وَهِيَ يَفْدِي فَقَط) ... وَإِنْ لَمْ يَقْدِرْ عَلَى الْإِطْعَامِ لِعُسْرَتِهِ يَسْتَغْفِرُ اللهَ تَعَالَى. البحر الرائق شرح كنز الدقائق ٢/٣٠٨ كتاب الصوم فَصْلٌ فِي عَوَارِضِ الْفِطْرِ فِي رَمَضَان، فتاوى حقانيه ج٤ ص ١٨٦. فتاوى فريديه ج٣ ص ١٨٠، وص ١٨٣ باب الفدية، فتاوى عثمانيه ج٣ ص ٢٢٥ كتاب الصوم. فتاوى دارالعلوم ديوبند ج٦ ص ٢٩٣، فتاوى عثمانيه ج٣ ص ١٨٨ كتاب الصوم.

# د رمضان متعلق مُتفرِّق فقهي مسائِل

اوس درته د رمضان متعلق يو څو نور مُتفرّق فقهي مسائل ذکر کوم:

## د رمضان په مياشت کې د حيض بندو لو دوائي استعمالول

د ښځې حيض راتلل يو طَبعي او فِطري آمر دی، اسلامي شريعت په دې وخت کې ښځه معذوره ګنړلې، په دې وخت کې په دې باندې شريعت د عبادت ذِمه داري نده ايخې، دغه وجه ده چې په جديد او قديم طِب کې حيض د ښځې د پاره د صِحت او تندرستی نخه ده، که چيرته يوه ښځه په رمضان کې د دوايانو په ذريعه خپل حيض بند کړي نو اګرچې بيا په دې باندې مونځ او روژه لازميږي ځکه ښځه د حيض نه پاکه ده، روژه يې صحيح ده خو دا د حيض بنديدو دوايانې د صِحت د پاره نقصاني دي، لهذا ځان په زوره په مشقت کې اچول ندي په کار، د داسې دوايانو نه ځان ساتل په کار دي. (۱)

بعضې زَنانه دا سوچ کوي چې د رمضان په مياشت کې د روژو نيولو ثواب زيات وي نو ځکه دوی د حيض بندولو دوايانې استعمالوي چې د رمضان روژې پوره اونيسي.

نو دوی ته دا ويل په کار دي چې حيض راتلل غير اِختياري څيز دی، شريعت دا ښځه معذوره ګرځولې، او په صحيح احاديثو کې دا خبره صراحةً ذکر ده چې کله د يو چا نه د عُذر په وجه يو عبادت پاتې شي نو ده ته ددې ثواب پوره ورکولې شي، نو که دا په نورو مياشتو کې ددې روژو قضاء راوړي نو الله تعالی به ورته پوره ثواب ورکوي. (۲)

---

(۱) قال عالم بن العلاء": و شرط صحة الأداء وهو الوقت القابل وهو اليوم المتعرّي عن الأكل والشرب و طهارة المؤديين من الحيض والنفاس. الفتاوى التاتارخانية كتاب الصوم ۲/ ۲٦۱،.

قال طاهر ابن احمد بن عبدالرشيد": اعلم بأنّ الصوم هو الكف عن المفطرات شرعًا في وقته بنيّة يشرط من اهله. و اهله العاقل البالغ المسلم. وفى المرأة الطهارة من الحيض والنفاس. خلاصة الفتاوى ج۱ ص ۲۵۱ كتاب الصوم الفصل الثاني فى المقدمة، و مثله فى البحر الرائق ج۲ ص ۲۵۹ كتاب الصوم. فتاوى حقانيه ج۴ ص ۱۵۸. فتاوى عثمانيه ج۴ ص ۱۷۱ كتاب الصوم.

(۲) عَنْ أَنَسِ بْنِ مَالِكٍ رضي الله عنه أَنَّ رَسُوْلَ اللهِ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ قَالَ: « لَقَدْ تَرَكْتُمْ بِالْمَدِيْنَةِ أَقْوَامًا مَا سِرْتُمْ مَسِيْرًا، وَلَا أَنْفَقْتُمْ مِنْ نَفَقَةٍ، وَلَا قَطَعْتُمْ مِنْ وَادٍ إِلَّا وَهُمْ مَعَكُمْ فِيْهِ » ←←←←←←←←←←←←←←←←←←←←

لهذا د حیض بندیدو دوايانې استعمالول ځان په زوره په تکلف او سختۍ کې اچول دي. (۱)

اګر چې بذاتِ خود دداسې دوايانو استعمالول نه مطلوب دي او نه ممنوع. ځکه په احاديثو کې ددينه سکوت راغلی. (۲)

## په رمضان کې د فصل رِيبلو د پاره روژه پريخودل جائز نده

که په رمضان کې فصل ( غنم يا بل فصل ) پوخ شي ، که دا د رمضان تر آخره پورې

---

←←←← قَالُوا: يَا رَسُولَ اللهِ! وَكَيْفَ يَكُونُونَ مَعَنَا، وَهُمْ بِالْمَدِينَةِ؟ فَقَالَ: «حَبَسَهُمُ الْعُذْرُ». سنن ابي داود كِتَابُ الجِهَادِ بَابٌ فِي الرُّخْصَةِ فِي القُعُودِ مِنَ العُذْرِ رقم الحديث ۲۵۰۸. قال الالباني: صحيح.

وَعَنْ أَنَسٍ رضي الله عنه: أَنَّ رَسُولَ اللهِ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ رَجَعَ مِنْ غَزْوَةِ تَبُوكَ فَدَنَا مِنَ الْمَدِينَةِ فَقَالَ: «إِنَّ بِالْمَدِينَةِ أَقْوَامًا مَا سِرْتُمْ مَسِيرًا وَلَا قَطَعْتُمْ وَادِيًا إِلَّا كَانُوا مَعَكُمْ». وَفِي رِوَايَةٍ: «إِلَّا شَرِكُوكُمْ فِي الْأَجْرِ». قَالُوا: يَا رَسُولَ اللهِ وَهُمْ بِالْمَدِينَةِ؟ قَالَ: «وَهُم بِالْمَدِينَةِ حَبَسَهُمُ الْعُذْرُ». رَوَاهُ الْبُخَارِيّ، مشكوة المصابيح رقم الحديث ۳۸۱۵ [۲۹] كتاب الجهاد الفصل الأول.

(۱) فمن المقاصد الجليلة في التشريع أن يسد باب التعمق في الدين لِئَلَّا يعضوا عليها بنواجذهم، فيأتي من بعدهم قوم، فيظنوا أنها من الطاعات السماوية المفروضة عليهم، ثم تأتي طبقة أخرى، فيصير الظن عندهم يقينا والمحتمل مطمأنا به، فيظل الدين محرفا، وهو قوله تعالى: {رَهْبَانِيَّةً ابتدعوها ما كتبناها عليهم}. حجة الله البالغة ۳۴/۲ الاقتصاد في العمل.

(۲) عَنِ ابْنِ عَبَّاسٍ رضي الله عنهما قَالَ: «كَانَ أَهْلُ الْجَاهِلِيَّةِ يَأْكُلُونَ أَشْيَاءَ وَيَتْرُكُونَ أَشْيَاءَ تَقَذُّرًا» فَبَعَثَ اللهُ تَعَالَى نَبِيَّهُ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ وَأَنْزَلَ كِتَابَهُ، وَأَحَلَّ حَلَالَهُ، وَحَرَّمَ حَرَامَهُ، فَمَا أَحَلَّ فَهُوَ حَلَالٌ، وَمَا حَرَّمَ فَهُوَ حَرَامٌ، وَمَا سَكَتَ عَنْهُ فَهُوَ عَفْوٌ" وَتَلَا {قُلْ لَا أَجِدُ فِيمَا أُوحِيَ إِلَيَّ مُحَرَّمًا} إِلَى آخِرِ الْآيَةِ. سنن ابي داود كِتَابُ الأَطْعِمَةِ بَابُ مَا لَمْ يُذْكَرْ تَحْرِيمُهُ رقم الحديث ۳۸۰۰ قال الالباني: صحيح الإسناد.

عَنْ سَلْمَانَ قَالَ: سُئِلَ رَسُولُ اللهِ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ عَنِ السَّمْنِ وَالْجُبْنِ وَالْفِرَاءِ، فَقَالَ: الْحَلَالُ مَا أَحَلَّ اللهُ فِي كِتَابِهِ، وَالْحَرَامُ مَا حَرَّمَ اللهُ فِي كِتَابِهِ، وَمَا سَكَتَ عَنْهُ فَهُوَ مِمَّا عَفَا عَنْهُ. سنن الترمذي أَبْوَابُ اللِّبَاسِ عَنْ رَسُولِ اللهِ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ بَابُ مَا جَاءَ فِي لُبْسِ الفِرَاءِ رقم الحديث ۱۷۲۶. فتاوى فريديه ج۴ ص ۱۱۷ باب تعريف الصوم و انواعه.

پرېږدي نو خرابيږي ، او په رمضان کې يې رېبل سخت وي ، خو ددې خبرو باوجود بيا هم انسان ته د فصل رېبلو د پاره روژه نه نيول څه شرعي عُذر ندی (يعنی ددې د پاره به روژه نه پرېږدي ، بلکه نيسي به يې ) ، ځکه نن صبا د فصل رېبلو د پاره نوي نوي مشينونه هم راأوتي دي .

همدغه رنګې که خپله يې نشي رېبلی نو بل چاته يې په مزدورۍ باندې هم ورکولې شي چې هغه يې ورله أورېبي . (۱)

همدغه رنګې مراهِق (کوم چې پوره بالِغ نه وي ، او روژې نه نيسي ) هم دا فصل رېبلې شي . همدغه شان د پيشمني کولو نه پس تر د لسو (۱۰) بَجو پورې هم فصل رېبلې شي .

لهذا فصل رېبل څه شرعي عُذر ندی ، ددې په وجه روژه پرېخودل جائز نده ، او څوک چې ددې اِجازت ورکوي نو دا د بې باکۍ دروازه کلاؤوي . (۲)

خو په " فتاوی دارالعلوم ديوبند " کې ذکر دي که د زميندار فصل په ګرمۍ کې راأورسي ، او په روستو کولو سره فصل مکمل ختميږي ، او زميندار د سختۍ ګرمۍ په وجه روژه نشي نيولی (او بل څه اِنتظام يې هم نه شو کيدلی ) نو ددې مجبورۍ په وجه ده ته روژه خوړل جائز دي ، بيا به ددې قضاء راأوګرځوي . (۳)

---

(۱) وَفِي الْقُنْيَةِ لَا يَجُوزُ لِلْخَبَّازِ أَنْ يَخْبِزَ خَبْزًا يُوصِلُهُ إلَى ضَعْفٍ مُبِيحٍ لِلْفِطْرِ بَلْ يَخْبِزُ نِصْفَ النَّهَارِ وَيَسْتَرِيحُ فِي النِّصْفِ . قِيلَ لَهُ لَا يَكْفِيهِ أُجْرَتُهُ أَوْ رِبْحُهُ . فَقَالَ هُوَ كَاذِبٌ وَهُوَ بَاطِلٌ بِأَقْصَرِ أَيَّامِ الشِّتَاءِ . البحر الرائق شرح كنز الدقائق ۳۰۴/۲ كِتَابُ الصَّوْمِ بَابُ مَا يُفْسِدُ الصَّوْمَ وَمَا لَا يُفْسِدُهُ فَصْلٌ فِي الْعَوَارِضِ .

قال عالم بن العلاء" : سألتُ اباحامد عن خباز يخبز في شهر رمضان و يضعف في آخر النهار . هل يجوز له ان يعمل هذا العمل ؟ فقال : لا يجوز له بأن يعمل ما يوصله الى هذا النوع من الضعف ولكن يخبز نصف النهار و يستريح في النصف الباقي . قيل له : اذا كان لا يكفيه ما ياخذ في نصف النهار . فقال : هو كاذب فإنّ ايّام الشتاء اقصر الايام فما يفعل في تلك الايّام يفعله اليوم . فتاوى تاتارخانية ج۲ ص ۳۸۵ الفصل السابع الاسباب المبيحة للفطر ، و مثله في بدائع الصنائع ج۲ ص ۱۰۱ كتاب الصوم فصل في فساد الصوم . فتاوى حقانيه ج۴ ص ۱۶۱

(۲) فتاوى فريديه ج۴ ص ۱۰۴ .

(۳) قال ابن عابدين" : وَعَلَى هٰذَا الْحَصَادِ إِذَا لَمْ يَقْدِرْ عَلَيْهِ مَعَ الصَّوْمِ وَيَهْلِكُ الزَّرْعُ بِالتَّأْخِيرِ لَا شَكَّ فِي جَوَازِ الْفِطْرِ وَالْقَضَاءِ وَكَذَا الْخَبَّازُ . رد المحتار على الدر المختار ۴۲۰/۲ كِتَابُ الصَّوْمِ فُرُوعٌ فِي الصِّيَامِ . فتاوى دارالعلوم ديوبند ج۶ ص ۳۰۲ آٹھواں باب طبع دارالاشاعت كراچی .

## چې څوک مونځ نه کوي او روژه نيسي د هغه روژه صحيح ده

که يو کس په رمضان کې روژه نيسي خو مونځ نه کوي نو دا روژه يې په خپل ځای باندې صحيح ده ، ځکه مونځ او روژه دوه جدا جدا فرض دي ، يو په بل باندې موقوف ندي . البته د مونځ په نه کولو ګناهګار دی ، د مانځه قضاء ورباندې لازم ده . (۱)

## په رمضان کې د رُوژه ماتي په وجه د ماښام مونځ لږ روستو کول

بعضې خلق د رمضان المبارک په مياشت کې د روژه ماتي په وجه د ماښام مونځ لږ روستو کوي ددې د پاره چې خلق په جَمع کې ټول شريک شي ، نو ددې حُکم دادی چې :

د وخت داخليدو نه پس د ماښام په مانځه کې د دوه رکعتونو په مقدار تاخير کول بالاتفاق جائز دی ، ددې نه زيات تاخير کول مکروهِ تنزيهي دی ، البته په رمضان المبارک کې چې کله اُولږه يا تنده زياته وي نو بيا د روژه ماتي په وجه يو څو مِنټه تاخير کول جائز دی، ځکه د ولږې په حالت کې مونځ کول مکروه دی . خو دا تاخير به دومره زيات نه کوي چې ټول ستوري راښکاره شي او اُوپرقيږي . (۱)

---

(۱) وَفِيهَا قَرَأَ الْقُرْآنَ وَلَمْ يَعْمَلْ بِمُوجَبِهِ يُثَابُ عَلَى قِرَاءَتِهِ كَمَنْ يُصَلِّي وَيَعْصِي .الدرالمختار . ( قَوْلُهُ : يُثَابُ عَلَى قِرَاءَتِهِ ) وَإِنْ كَانَ يَأْثَمُ بِتَرْكِ الْعَمَلِ فَالثَّوَابُ مِنْ جِهَةٍ وَالْإِثْمُ مِنْ أُخْرَى . رد المحتار على الدر المختار ۳۹۷/۶ كِتَابُ الْحَظْرِ وَالْإِبَاحَةِ فَصْلٌ فِي الْبَيْعِ . فتاوی دارالعلوم دیوبند ج٦ ص ۴۹۹ ، روزے کے مسائل کاانسائکلوپیڈیا ص ۵۱ .

(۱) قال العلامة الحصكفي رحمه الله : ( كُرِهَ ) أَيْ التَّأْخِيرُ لَا الْفِعْلُ لِأَنَّهُ مَأْمُورٌ بِهِ ( تَحْرِيمًا ) إلَّا بِعُذْرٍ كَسَفَرٍ ، وَكَوْنِهِ عَلَى أَكْلٍ . الدرالمختار . قال ابن عابدين : ( قَوْلُهُ: إلَّا بِعُذْرٍ ) ... وَعِبَارَتُهُ إلَّا مِنْ عُذْرٍ كَسَفَرٍ وَمَرَضٍ وَحُضُورِ مَائِدَةٍ أَوْ غَيْمٍ . رد المحتار على الدر المختار ۱ / ۳۶۹ كِتَابُ الصَّلَاةِ . هكذا في مراقي الفلاح ص ۷۳ كتاب الصلوة .

قال العلامة عالم بن العلاء الانصاري رحمه الله : وأمّا المغرب فيكره تاخيرها إذا غربت الشمس ، وفي السراجية : الا بعذر السفر او بأن كان على المائدة . فتاوی تاتارخانيه ج ۱ ص ۴۰۶ كتاب الصلاة المواقيت . فتاوی حقانيه ج۳ ص ۴۲ .

ويستحب تعجيل الافطار قبل طلوع النجم .... ويعجل الافطار ولايصلي المغرب قبل الافطار لانه سنة. فتاوی جامع الفوائد ص ۷٦ ، فتاوی رحيميه ج٦ ص ۲۴۴ . روزے کے مسائل کاانسائکلوپیڈیا ص ٦۵ .

# د ماښام د وخت مقدار

په دې کې شک نشته چې د ماښام په مانځه کې تادي کول بهتر ده ، ليکن د دينه د بعضې خلقو ذِهن ته دا خبره راځي چې ګني د ماښام وخت ډير مختصر دی ، حالانکه داسې نده ، ځکه د فِقه حنفي مطابق د ماښام وخت د امام محمد او امام ابويوسف رحمهما الله په نزد د نمر پريوتو نه شروع کيږي تر د شَفقِ اَحمر غائِب کيدلو پوری ، او د امام اعظم ابو حنيفه رحمه الله په نزد تر د شفقِ اَبيض غائب کيدو پورې .

خو مُفتیٰ بِهِ قول د صاحبينو دی ، يعنی د ماښام وخت د شفقِ اَحمر د غائب کيدو پورې دی ، په مُعتدلو ورځو کې د خطِ استواء په درمياني علاقو کې شفقِ احمر پنځه څلويښت (۴۵) مِنټه پس غائب کيږي ، او شفقِ ابيض اُووه پنځوس (۵۷) مِنټه پس غائب کيږي .

په بعضې ځايونو کې د دې نه زيات وخت اخلي ، ځکه د ماښام وخت د موسم او علاقو د قُرب و بُعد په وجه مُتأثِر کيږي ، د غه وجه ده چې په ځنې علاقو کې د ماښام وخت يوه ګهنټه وي ، په ځنو علاقو کې يوه ګهنټه او درې مِنټه وي، په ځنې علاقو کې يوه ګهنټه او پنځلس مِنټه وي ، او په ځنې علاقو کې يوه ګنټه او شل مِنټه وي . خو عام طور د ماښام او ماسخوتن په مينځ کې پاؤ باندې يوه ګنټه وقفه په کار ده .

ليکن د ماښام مونځ د شفقِ احمر نه مخکې کول په کار دی چې د اختلاف نه خبره اُووځي. البته د مسافرو او يا صاحبِ عُذر د پاره د شفقِ ابيض پورې د ماښام مونځ کولو رُخصت شته . (۱)

---

(۱) وَ وَقْتُ الْمَغْرِبِ مِنْهُ إِلَى غَيْبُوبَةِ الشَّفَقِ وَهُوَ الْحُمْرَةُ عِنْدَهُمَا وَبِهِ يُفْتَى . هٰكَذَا فِي شَرْحِ الْوِقَايَةِ وَعِنْدَ أَبِي حَنِيفَةَ : اَلشَّفَقُ هُوَ الْبَيَاضُ الَّذِي يَلِي الْحُمْرَةَ. هٰكَذَا فِي الْقُدُورِيِّ ، وَقَوْلُهُمَا أَوْسَعُ لِلنَّاسِ ، وَقَوْلُ أَبِي حَنِيفَةَ رَحِمَهُ اللهُ أَحْوَطُ ، لِأَنَّ الْأَصْلَ فِي بَابِ الصَّلَاةِ أَنْ لَا يَثْبُتَ فِيهَا رُكْنٌ وَلَا شَرْطٌ إِلَّا بِمَا فِيهِ يَقِينٌ. كَذَا فِي النِّهَايَةِ نَاقِلًا عَنِ الْأَسْرَارِ وَمَبْسُوطِ شَيْخِ الْإِسْلَامِ. الفتاوى الهندية ۱ / ۵۱ كِتَابُ الصَّلَاةِ اَلْبَابُ الْأَوَّلُ فِي مَوَاقِيتِ الصَّلَاةِ اَلْفَصْلُ الثَّانِي فِي بَيَانِ فَضِيلَةِ الْأَوْقَاتِ . ومثله في البحر الرائق ج۱ ص ۲۴۶ مواقيت الصلاة .
فتاوى حقانيه ج۳ ص ۴۵ ، وص ۴۲ .

## درمضان په آخِري جُمعه کې مُروّجه قضاء عُمري کول بدعت ده

په دې کې هيڅ شک نشته چې د رمضان المبارک په آخِري جُمعه کې مُروّجه قضاء عُمري کول بدعت ده ، او ددې د جواز د پاره چې کوم حديث پيش کولې شي په اتفاق د علماؤ سره هغه حديث موضوعي دی .

(( نوټ : ددې مسئلې پوره دلائل او د جانبِ مقابل د دلائلو نه جوابات په تفصيل سره ما ددې "اِصْلَاحِيْ مُدَلَّلْ تَقْرِيْرُوْنه " کتاب په آتم جلد د صفحه ۱۹۸ نه تر صفحه ۲۱۵ پورې ذکر کړي ، هلته يې ضرور او ګوره . ابوالشمس علي عنه ))

## د رمضان په دروېشتمه (۲۳) شپه باندې د سورة عنکبوت او سورة رُوم تخصيص بِدعت دی

په **فتاوی حقانيه** کې ذکر دي : په بعضې علاقو کې دا رِواج دی چې "د رمضان المبارک په درويشتمه (۲۳) شپه باندې د تراويحو نه پس د جُمات امام يا يو قاري سورة عنکبوت او سورة الرّوم اولولي ، بيا يې په مټهائي وغيره باندې دَم کړي ، بيا دا مټهائي په حاضرينو باندې تقسيم کړې شي "

نو ددې په باره کې حُکم دادی چې د رمضان المبارک په درويشتمه شپه باندې د قرآن کريم بعضې سورتونه ( سورة عنکبوت او سورة روم ) په مُتعيّنې طريقې سره ويل او په مټهايانو باندې دَمول او بيا په حاضرينو تقسيمول بې اصل او بدعت دی ، په شريعتِ مُقدّسه کې ددې هيڅ ثبوت نشته ، لهذا ددې نه ځان ساتل په کار دي .

اګر چې قرآن کريم بذاتِ خود ويل او آوريدل ثواب دی ( خو ددې تخصيص په وجه بدعت دی )

لما قال العلامة ابن نجيم المصري رحمه الله : وَلِأَنَّ ذِكْرَ اللهِ تَعَالَى إِذَا قُصِدَ بِهِ التَّخْصِيْصُ بِوَقْتٍ دُوْنَ وَقْتٍ أَوْ بِشَيْءٍ دُوْنَ شَيْءٍ لَمْ يَكُنْ مَشْرُوْعًا حَيْثُ لَمْ يَرِدِ الشَّرْعُ بِهِ ، لِأَنَّهُ خِلَافُ الْمَشْرُوْعِ . (۱)

(۱) البحر الرائق شرح کنز الدقائق ۲ /۱۷۲ بَابُ الْعِيْدَيْنِ مَا يَفْعَلُهُ يَوْمَ الْفِطْرِ

قال العلامة ابن عابدين رحمه الله : وَبِأَنَّ تَخْصِيْصَ الذِّكْرِ بِوَقْتٍ لَمْ يَرِدْ بِهِ الشَّرْعُ غَيْرُ مَشْرُوْعٍ. (۱)

په **فتاوى فريديه خلورم جلد** کې ذکر دي : د قرآن کريم تلاوت کول يا ددې اوريدل عظيم عبادت دی ، ليکن د خپل طرف نه ديو سورة يا د وخت تخصيص کول مکروه دی . (۲) ځکه بيا عوام دا ګمان کوي چې ګني په دې کې ثواب زيات دی . نو ځکه د رمضان په درويشتمه (۲۳) شپه باندې سورة عنکبوت يا سورة روم په خصوصي طريقې سره ويل بدعت دی .

البته که يو کس دا دواړه سورتونه د ثواب د نيت نه بغير د دُشمنانو د دَفع کولو د پاره وايي نو بيا مباح دي . (۳)

**نوټ** : په ارشاد الطالبين ص ۲۲۳ کې چې د رمضان په درويشتمه شپه د سورة عنکبوت او سورة روم ويلو کومه خبره شوی نو د هغې د پاره نه څه دليل شته او نه د فقهاؤ جزيه .

بل دا چې په ارشاد الطالبين کې ( بعضې خبرې د شريعت خلاف دي ، ځکه په هغې ) خو د څلورو ښځو نه د زياتو سره نکاح هم جائز شوی ، او همدارنګې د مطلقه ثلاثه سره بغير د تحليل نه دوباره نکاح هم جائز شوی ، حالانکه دا په شريعت کې ناجائز دي . لهذا د ارشاد الطالبين خبره نده معتبره . (۴)

---

(۱) رد المحتار على الدر المختار ۲/ ۱۷۰ بَابُ الْعِيدَيْنِ ، فتاوى حقانيه ج ۱ ص ۸۵ کتاب البدعة والرسوم .

(۲) وَلِأَنَّ ذِكْرَ اللهِ تَعَالَى إِذَا قُصِدَ بِهِ التَّخْصِيْصُ بِوَقْتٍ دُوْنَ وَقْتٍ أَوْ بِشَيْءٍ دُوْنَ شَيْءٍ لَمْ يَكُنْ مَشْرُوْعًا حَيْثُ لَمْ يَرِدِ الشَّرْعُ بِهِ ، لِأَنَّهُ خِلَافُ الْمَشْرُوْعِ . البحر الرائق شرح کنز الدقائق ۲ /۱۷۲ بَابُ الْعِيدَيْنِ مَا يَفْعَلُهُ يَوْمَ الْفِطْرِ

(۳) مولانا اشرف علي تهانوي رحمه الله فرمايي : قرآن شريف برائے کشائش رزق يا قضاء حاجت کے لئے قرات کرنا درست ہے ، جيسا کہ حديث ميں سورة واقعہ کی يہی خاصيت وارد ہوئی ہے ، جو صريح دليل ہے جواز کی . امداد الفتاوی ۴/ ۸۹ باب تعويذات واعمال .

(۴) فتاوی فريديه ج۲ ص ۱۲۰ باب تعريف الصوم والواعه .

په **فتاوي فريديه اول جلد** کې ذکر دي چې د رمضان په درويشتمه شپه باندې د سورة عنکبوت ويلو په باره کې کوم حديث پيش کولې شي نو د هغې حديث نه سَنَد معلوم دی، او نه يې څه مَخرج معلوم دی، دا صحيح ثابت حديث ندی.(۱)

د احاديثو او فقهاؤ د جزئي نه تخصيص هم ندې ثابت، لهذا د ثواب په نيت باندې دا ويل بدعتِ سَيِّئَه دی. البته د عملياتو په طور ويل نه مطلوب دی او نه ممنوع.(۲)

(۱) هغه حديث دا پيش کولې شي " څوک چې د رمضان په درويشتمه شپه سورة عنکبوت اووايي نو د هغه د اُووه کالو گناهونه معاف کيږي، او په دې کې هيڅ شک نشته، څوک چې په کې شک اوکړي نو هغه کافر شو " مفتي صاحب ليکلي چې ددې حديث نه سَنَد معلوم دی، او نه مخرج، بلکه دا غير ثابت دی.

(۲) فتاوی فريديه ج۱ ص ۳۱۲ کتاب السنة والبدعة.

بِسْمِ اللّٰهِ الرَّحْمٰنِ الرَّحِيْمِ

# د تراویحو متعلق ضروري فِقهي مسائِل

**نوټ** : د تراویحو متعلق درته یو څو ضروري او ډیر راپیښیدونکي فِقهي مسائل ذکر کوم ، مُقرّرِین حضرات د وخت او مُوقع مناسب ددې مَسائلو نه هم د ځان د پاره اِنتخاب کولې شي ، چې د تقریر په دَوران یا آخر کې یې بیان کړي. ابوالشمس عفي عنه

# د تراويحو د جماعت حُکم

په فتاوی حقانيه کې ذکر دي : د تراويحو مونځ په خپله سُنتِ مؤکده دی ، ليکن د جَمعې سره کول يې سُنتِ کفايه دی ، که چيرته د مَحلې څه کسان تراويح په جَمعې سره اداء کړي نو د جَمعې نه د ټولو ذِمه فارغيږي ، او که ټول خلق په خپلو کورونو کې ځانله ځانله تراويح اوکړي او هيڅوک هم دا په جَمعې سره اداء نکړي نو د جَمعې په پريخودو ټول ګناهګاريږي . لهذا که چيرته څوک جُمات ته لاړ نشي او په کور کې ځانله تراويح اوکړي نو په دې سره سُنت خو اداء شو ليکن د جَمعې ثواب نه به محروم وي . (۱)

په فتاوی عثمانيه کې ذکر دي : علامه مرغيناني رحمه الله ليکلي چې د تراويحو جَمعه د هر کس د پاره مستقل سُنت ده ، خو علامه حصکفيؒ ، علامه شاميؒ ، عالمګيري ، او صدرالشهيدؒ د تراويحو جَمعې ته سُنتِ کفايه وايي ، ځکه د بعضې صحابه کرامو او تابعينو نه ځانله تراويح کول هم ثابت دي ، همدا قول د اکثرو فقهاؤ په نزد باندې صحيح دی د جَمعې سره تراويح کول اګر چې افضل دي خو که کوم کس جَمعې ته رانشي نو په هغه باندې نه ملامتيا شته او نه هغه د سُنتو پريخودونکې ګڼړلې شي .

البته که يو کس د خلقو په نظرونو کې د مقتداء او پيشوا حيثيت لري او دده جَمعې ته حاضريدو په وجه جَمعه ډيريږي نو بيا دداسې کس د پاره د تراويحو جَمعه پريخودل مناسب نده .

(۱) قال الحصكفيؒ : ( وَالجَمَاعَةُ فِيهَا سُنَّةٌ عَلَى الكِفَايَةِ ) فِي الأَصَحِّ، فَلَوْ تَرَكَهَا أَهْلُ مَسْجِدٍ أَثِمُوا إِلَّا لَوْ تَرَكَ بَعْضُهُمْ. وَكُلُّ مَا شُرِعَ بِجَمَاعَةٍ فَالمَسْجِدُ فِيهِ أَفْضَلُ . الدرالمختار

قال ابن عابدينؒ : ( قَوْلُهُ : وَالجَمَاعَةُ فِيهَا سُنَّةٌ عَلَى الكِفَايَةِ ) أَفَادَ أَنَّ أَصْلَ التَّرَاوِيحِ سُنَّةُ عَيْنٍ، فَلَوْ تَرَكَهَا وَاحِدٌ كُرِهَ، بِخِلَافِ صَلَاتِهَا بِالجَمَاعَةِ فَإِنَّهَا سُنَّةُ كِفَايَةٍ ، فَلَوْ تَرَكَهَا الكُلُّ أَسَاءُوا ، أَمَّا لَوْ تَخَلَّفَ عَنْهَا رَجُلٌ مِنْ أَفْرَادِ النَّاسِ وَصَلَّى فِي بَيْتِهِ فَقَدْ تَرَكَ الفَضِيلَةَ، وَ إِنْ صَلَّى أَحَدٌ فِي البَيْتِ بِالجَمَاعَةِ لَمْ يَنَالُوا فَضْلَ جَمَاعَةِ المَسْجِدِ . رد المحتار على الدر المختار ۴۵/۲ بَابُ الوِتْرِ وَالنَّوَافِلِ مَبْحَثُ صَلَاةِ التَّرَاوِيحِ . و مثله في فتح القدير ج۱ ص ۴۰۹ فصل في قيام رمضان .

همدغه رنګې که د يو ځای ټول خلق د تراويحو جَمعه پرېږدي نو د سُنتو په پرېخودو سره ټول ګناهګارېږي ، خو که څه خلق تراويح د جَمعې سره اداء کړي او نور يې ځان له ځان له اوکړي نو د ټولو ذِمه د جَمعې نه فارغيږي ( البته د هر کس د پاره ځانله ځانله کول اوس هم سُنتِ مؤکد دي ) ، خو په کور کې ځانله ځانله کولو سره انسان د جَماعت د ثواب نه محرومه کيږي . (۱)

## په کور کې په جَمعه د تراويحو کولو حُکم

د تراويحو جَمعه او په دې کې د قرآن کريم ختم کول سُنت دی ، خو که څه خلق په کور کې په جَمعې سره تراويح اوکړي او د پَردې لحاظ ساتلو سره په دې کې ښځې هم شريکې شي نو دا جائز دي ، خو دسړو د پاره بهتر دادی چې په جُمات کې تراويح اوکړي ، او ښځې دې په کور کې ځانله ځانله اوکړي .

لهذا که څوک په کور کې تراويح په جَمعې سره کوي نو دوی ته د جَمعې ثواب حاصليږي

---

(۱) رد المحتار على الدر المختار بَابُ الوِتْرِ وَالنَّوَافِلِ مَبْحَثُ صَلَاةِ التَّرَاوِيحِ ۲/۴۵ ، مراقي الفلاح مع حاشية الطحطاوي فصل في صلوة التراويح ص ۳۳۵ ، ۳۳۶ ، فتاوى عثمانية ج۲ ص ۳۳۶ باب التراويح .

وَنَفْسُ التَّرَاوِيحِ سُنَّةٌ عَلَى الْأَعْيَانِ عِنْدَنَا كَمَا رَوَى الْحَسَنُ عَنْ أَبِي حَنِيفَةَ رَحِمَهُ اللهُ تَعَالَى وَقِيلَ : تُسْتَحَبُّ وَالْأَوَّلُ أَصَحُّ . وَالْجَمَاعَةُ فِيهَا سُنَّةٌ عَلَى الْكِفَايَةِ، كَذَا فِي التَّبْيِينِ وَهُوَ الصَّحِيحُ، كَذَا فِي مُحِيطِ السَّرَخْسِيِّ. لَوْ أَدَّى التَّرَاوِيحَ بِغَيْرِ جَمَاعَةٍ أَوِ النِّسَاءِ وَحْدَهُنَّ فِي بُيُوتِهِنَّ يَكُونُ تَرَاوِيحَ ، كَذَا فِي مِعْرَاجِ الدِّرَايَةِ. وَلَوْ تَرَكَ أَهْلُ الْمَسْجِدِ كُلُّهُمُ الْجَمَاعَةَ فَقَدْ أَسَاءُوا وَأَثِمُوا، كَذَا فِي مُحِيطِ السَّرَخْسِيِّ. وَإِنْ تَخَلَّفَ وَاحِدٌ مِنَ النَّاسِ وَصَلَّاهَا فِي بَيْتِهِ فَقَدْ تَرَكَ الْفَضِيلَةَ وَلَا يَكُونُ مُسِيئًا وَلَا تَارِكًا لِلسُّنَّةِ . وَأَمَّا إِذَا كَانَ الرَّجُلُ مِمَّنْ يُقْتَدَى بِهِ وَتَكْثُرُ الْجَمَاعَةُ بِحُضُورِهِ وَتَقِلُّ عِنْدَ غَيْبَتِهِ فَإِنَّهُ لَا يَنْبَغِي لَهُ تَرْكُ الْجَمَاعَةِ ، كَذَا فِي السِّرَاجِ الْوَهَّاجِ. وَإِنْ صَلَّى بِجَمَاعَةٍ فِي الْبَيْتِ اخْتَلَفَ فِيهِ الْمَشَايِخُ وَالصَّحِيحُ أَنَّ لِلْجَمَاعَةِ فِي الْبَيْتِ فَضِيلَةً ، وَلِلْجَمَاعَةِ فِي الْمَسْجِدِ فَضِيلَةً أُخْرَى فَإِذَا صَلَّى فِي الْبَيْتِ بِجَمَاعَةٍ فَقَدْ حَازَ فَضِيلَةَ أَدَائِهَا بِالْجَمَاعَةِ وَتَرَكَ الْفَضِيلَةَ الْأُخْرَى ، هٰكَذَا قَالَهُ الْقَاضِي الْإِمَامُ أَبُو عَلِيٍّ النَّسَفِيُّ، وَالصَّحِيحُ أَنَّ أَدَاءَهَا بِالْجَمَاعَةِ فِي الْمَسْجِدِ أَفْضَلُ . الفتاوى الهندية كتاب الصلوة الباب التاسع فصل في التراويح ۱/۱۱۶ .

ليکن په جُمات کې د مونځ کولو ثواب ورته نه حاصليږي . (۱)

## تراويح د ماسخوتن د مانځه نه مخکې نه کيږي

د احنافو د صحيح قول مطابق د تراويحو وخت د ماسخوتن د مانځه نه پس شروع کيږي او د سهر داخليدو پورې وي . لهذا د ماسخوتن مونځ اداء کولو نه مخکې تراويح نه کيږي ، اگرچې د ماسخوتن وخت داخل شوې وي .

پس که څوک د ماسخوتن مانځه اداء کولو نه مخکې تراويح اوکړي نو دا نه صحيح کيږي ، ددې راگرځول واجب دي . (۲)

## پاتې شوې تراويح د وِتر واجبو نه پس اداء کول هم صحيح دي

د تراويحو د پاره بهترين وخت د ماسخوتن د مانځه نه پس او د وِتر واجبو نه مخکې دی ، خو که د يو کس نه يو څو تراويح تللې وي او اوس امام وِتر واجبو ته اُودريږي نو دده د پاره

---

(۱) وَإِنْ صَلَّى بِجَمَاعَةٍ فِي الْبَيْتِ اِخْتَلَفَ فِيْهِ الْمَشَايِخُ وَالصَّحِيْحُ أَنَّ لِلْجَمَاعَةِ فِي الْبَيْتِ فَضِيْلَةً وَلِلْجَمَاعَةِ فِي الْمَسْجِدِ فَضِيلَةً أُخْرٰى فَإِذَا صَلَّى فِي الْبَيْتِ بِجَمَاعَةٍ فَقَدْ حَازَ فَضِيلَةَ أَدَائِهَا بِالْجَمَاعَةِ وَتَرَكَ الْفَضِيْلَةَ الْأُخْرٰى، هٰكَذَا قَالَهُ الْقَاضِي الْإِمَامُ أَبُوْ عَلِيٍّ النَّسَفِيُّ، وَالصَّحِيْحُ أَنَّ أَدَاءَهَا بِالْجَمَاعَةِ فِي الْمَسْجِدِ أَفْضَلُ . الفتاوى الهندية ۱۱۶/۱ فَصْلٌ فِي التَّرَاوِيحِ

إِمَامَةُ الرَّجُلِ لِلْمَرْأَةِ جَائِزَةٌ إِذَا نَوَى الْإِمَامُ إِمَامَتَهَا وَلَمْ يَكُنْ فِي الْخَلْوَةِ ، أَمَّا إِذَا كَانَ الْإِمَامُ فِي الْخَلْوَةِ فَإِنْ كَانَ الْإِمَامُ لَهُنَّ أَوْ لِبَعْضِهِنَّ مُحْرِمًا فَإِنَّهُ يَجُوْزُ وَيُكْرَهُ. الفتاوى الهندية ۸۵/۱ اَلْبَابُ الْخَامِسُ فِي الْإِمَامَةِ اَلْفَصْلُ الثَّالِثُ فِي بَيَانِ مَنْ يَصْلُحُ إِمَامًا لِغَيْرِهِ . فتاوى عثمانية ج۲ ص۳۴۸ باب التراويح .

(۲) وَالصَّحِيْحُ أَنَّ وَقْتَهَا مَا بَعْدَ الْعِشَاءِ إِلَى طُلُوْعِ الْفَجْرِ قَبْلَ الْوِتْرِ وَبَعْدَهُ .... فَإِنَّ وَقْتَهَا (اي التراويح) بَعْدَ أَدَاءِ الْعِشَاءِ فَلَا يُعْتَدُّ بِمَا أُدِّيَ قَبْلَ الْعِشَاءِ . الفتاوى الهندية ۱۱۵/۱ فَصْلٌ فِي التَّرَاوِيحِ . فتاوى عثمانية ج۲ ص ۳۴۲ باب التراويح .

قال الشيخ ابراهيم الحلبيؒ : وقال القاضي الامام النسفي الصَّحِيْحُ أَنَّ وَقْتَهَا (اي التراويح) بَعْدَ الْعِشَاءِ لاتجوز قبلها سواء كانت بعد الوِتْرِ او قبله ، و هو المختار . غنية المستملي ج۲ ص۴۴ باب التراويح ، و مثله في رد المحتار ج۲ ص۴۳ مبحث صلوة التراويح . فتاوى حقانيه ج۳ ص ۲۷۲ ، فتاوى عثمانيه ج۲ ص ۳۳۵ باب التراويح ، فتاوى فريديه ج۲ ص ۵۹۲ باب التراويح .

بهتره داده چې د امام سره وتر واجب په جمعه اوکړي او دا پاتې شوې تراويح د وترو نه پس اوکړي . (۱)

## د هر څلور رکعته تراويحو کولو نه پس کيناستل مستحب دي

د هر څلور رکعته تراويحو اداء کولو نه پس کيناستل ( يعنى جلسهٔ اِستراحت کول ) مستحب دي ، همدارنګې د شل رکعته تراويحو پوره کيدو نه پس يعنى د وِترو نه مخکې هم کيناستل مستحب دي . په دې کې تسبيح و تهليل ويل ضروري ندي ، خو که چيرته دا دُعا " سُبْحَانَ ذِي الْمُلْكِ وَالْمَلَكُوتِ ... " ورته ياده وي نو دا به اووايي ، او که دا ورته نه وي ياده نو نور تسبيح و تهليل او درود شريف هم ويلې شي ، او چپ کيناستلو سره هم سُنّت اداء کيږي . خو که خلقو ته په ډير کيناستلو او انتظار کولو کې تکليفږ نو بيا به ډير اُوږد نه کيني . (۲)

## په پيشمني کې د تراويح کولو حکم

د تراويحو مستحب وخت ثُلثُ الليل (د شپې دريمه حصه) يا نِصفُ الليل (نيمه شپه)

---

(۱) وَإِذَا فَاتَتْهُ تَرْوِيحَةٌ أَوْ تَرْوِيحَتَانِ فَلَوْ اشْتَغَلَ بِهَا يَفُوتُهُ الْوِتْرُ بِالْجَمَاعَةِ يَشْتَغِلُ بِالْوِتْرِ ثُمَّ يُصَلِّي مَا فَاتَ مِنَ التَّرَاوِيحِ وَبِهِ كَانَ يُفْتِي الشَّيْخُ الْإِمَامُ الْأُسْتَاذُ ظَهِيرُ الدِّينِ. الفتاوى الهندية ۱۱۷/۱ فَصْلٌ فِي التَّرَاوِيحِ . فتاوى عثمانية ج۲ ص ۳۴۲ باب التراويح .

(۲) قال الحصكفيّ : ( يَجْلِسُ ) نَدْبًا ( بَيْنَ كُلِّ أَرْبَعَةٍ بِقَدْرِهَا وَكَذَا بَيْنَ الْخَامِسَةِ وَالْوِتْرِ) وَيُخَيَّرُونَ بَيْنَ تَسْبِيحٍ وَقِرَاءَةٍ وَسُكُوتٍ وَصَلَاةٍ فُرَادَى . الدرالمختار قال ابن عابدينّ : ( قَوْلُهُ : بَيْنَ تَسْبِيحٍ ) قَالَ الْقُهُسْتَانِيُّ: فَيُقَالُ ثَلَاثَ مَرَّاتٍ « سُبْحَانَ ذِي الْمُلْكِ وَالْمَلَكُوتِ، سُبْحَانَ ذِي الْعِزَّةِ وَالْعَظَمَةِ وَالْقُدْرَةِ وَالْكِبْرِيَاءِ وَالْجَبَرُوتِ، سُبْحَانَ الْمَلِكِ الْحَيِّ الَّذِي لَا يَمُوتُ، سُبُّوحٌ قُدُّوسٌ رَبُّ الْمَلَائِكَةِ وَالرُّوحِ. لَا إِلَهَ إِلَّا اللهُ نَسْتَغْفِرُ اللهَ. نَسْأَلُكَ الْجَنَّةَ وَنَعُوذُ بِكَ مِنَ النَّارِ » كَمَا فِي مَنْهَجِ الْعِبَادِ. رد المحتار ۴۶/۲ بَابُ الْوِتْرِ وَالنَّوَافِلِ مبحث صلوة التراويح

وَيُسْتَحَبُّ الْجُلُوسُ بَيْنَ التَّرْوِيحَتَيْنِ قَدْرَ تَرْوِيحَةٍ وَكَذَا بَيْنَ الْخَامِسَةِ وَالْوِتْرِ. كَذَا فِي الْكَافِي وَهَكَذَا فِي الْهِدَايَةِ . وَلَوْ عَلِمَ أَنَّ الْجُلُوسَ بَيْنَ الْخَامِسَةِ وَالْوِتْرِ يَثْقُلُ عَلَى الْقَوْمِ لَا يَجْلِسُ. هَكَذَا فِي السِّرَاجِيَّةِ ثُمَّ هُمْ مُخَيَّرُونَ فِي حَالَةِ الْجُلُوسِ إِنْ شَاءُوا سَبَّحُوا وَإِنْ شَاءُوا قَعَدُوا سَاكِتِينَ . الفتاوى الهندية ۱۱۵/۱ فَصْلٌ فِي التَّرَاوِيحِ . فتاوى عثمانية ج۲ ص ۳۳۸ باب التراويح .

پورې دی. د نیمې شپې نه روستو کولو ته بعضې فقهاؤ مکروه وايي، خو صحيح قول دادی چې د نيمې شپې نه روستو کول هم بغير د کراهت نه جائز دي، ځکه تراويح "صلوة الليل" دي، او په "صلوة الليل" کې تاخير جائز دی.

علامه شامي ليکلي چې که په روستو کولو د فوت کيدو خطره وه نو بيا بهتر دادی چې مخکې (يعنی د ماسخوتن د مانځه نه پس) اداء کړې شي. (۱)

## چې تراويح مکمل فوت شي نو ددې قضاء نشته

که د چا نه يوه شپه مکمل تراويح فوت شي نو ددې قضاء نشته، نه ځانله ددې قضاء شته او نه د جَمعې سره. (۲)

---

(۱) وَالْمُسْتَحَبُّ تَأْخِيْرُهَا إِلَى ثُلُثِ اللَّيْلِ أَوْ نِصْفِهِ. وَاخْتَلَفُوْا فِي أَدَائِهَا بَعْدَ النِّصْفِ اَلْأَصَحُّ أَنَّهُ لَا يُكْرَهُ. الفتاوى الهندية ۱/۱۱۵ فَصْلٌ فِي التَّرَاوِيحِ.

قَالَ الحصكفيّ: (وَيُسْتَحَبُّ تَأْخِيْرُهَا إِلَى ثُلُثِ اللَّيْلِ) أَوْ نِصْفِهِ، وَلَا تُكْرَهُ بَعْدَهُ فِي الْأَصَحِّ. الدر المختار

قَالَ ابن عابدينّ (قَوْلُهُ: وَلَا تُكْرَهُ بَعْدَهُ فِي الْأَصَحِّ)، وَقِيْلَ تُكْرَهُ لِأَنَّهَا تَبَعٌ لِلْعِشَاءِ فَصَارَتْ كَسُنَّةِ الْعِشَاءِ. وَالْجَوَابُ أَنَّهَا وَإِنْ كَانَتْ تَبَعًا لِلْعِشَاءِ لٰكِنَّهَا صَلَاةُ اللَّيْلِ وَالْأَفْضَلُ فِيْهَا آخِرُهُ. فَلَا يُكْرَهُ تَأْخِيْرُ مَا هُوَ مِنْ صَلَاةِ اللَّيْلِ، وَلٰكِنَّ الْأَحْسَنَ أَنْ لَا يُؤَخِّرَ إِلَيْهِ خَشْيَةَ الْفَوَاتِ. رد المحتار على الدر المختار ۲/۴۴ بَابُ الْوِتْرِ وَالنَّوَافِلِ مَبْحَثُ صَلَاةِ التَّرَاوِيحِ. هكذا في بدائع الصنائع كتاب الصلوة فصل في قدر التراويح ۲/۲۷۵، و مراقي الفلاح مع حاشية الطحطاوي فصل في صلوة التراويح ص ۳۳۶. فتاوى حقانيه ج۳ ص ۲۶۷ باب التراويح، فتاوى عثمانيه ج۲ ص ۳۳۵ باب التراويح.

(۲) إِذَا فَاتَتِ التَّرَاوِيْحُ لَا تُقْضَى بِجَمَاعَةٍ وَلَا بِغَيْرِهَا وَهُوَ الصَّحِيْحُ. هٰكَذَا فِي فَتَاوٰى قَاضِيْ خَانْ. الفتاوى الهندية ۱/۱۱۷ فَصْلٌ فِي التَّرَاوِيحِ.

(وَلَا تُقْضٰى إِذَا فَاتَتْ أَصْلًا) وَلَا وَحْدَهُ فِي الْأَصَحِّ (فَإِنْ قَضَاهَا كَانَتْ نَفْلًا مُسْتَحَبًّا وَلَيْسَ بِتَرَاوِيحَ) كَسُنَّةِ مَغْرِبٍ وَعِشَاءٍ. الدر المختار قَالَ ابن عابدينّ: أَيْ حُكْمُ التَّرَاوِيحِ فِي أَنَّهَا لَا تُقْضٰى إِذَا فَاتَتْ إِلَخْ كَحُكْمِ بَقِيَّةِ رَوَاتِبِ اللَّيْلِ لِأَنَّهَا مِنْهَا لِأَنَّ الْقَضَاءَ مِنْ خَوَاصِّ الْفَرْضِ، وَسُنَّةُ الْفَجْرِ بِشَرْطِهَا. رد المحتار على الدر المختار ۲/۴۳ بَابُ الْوِتْرِ وَالنَّوَافِلِ مَبْحَثُ صَلَاةِ التَّرَاوِيحِ

## د ښځې د پاره د تراويحو امامت کول مکروهه دی

د فقهٔ حنفي موافق د ښځې د پاره نورو ښځو ته د تراويحو امامت کول مکروه دی ، تر دې پورې چې که يوه ښځه حافظه وي او په تراويحو کې د قرآن کريم ختم نه کولو په وجه ددې نه د قرآن کريم هېريدو خطره وي نو بيا هم ددې د پاره د تراويحو امامت کول نورو ښځو ته مکروه دی ، بلکه ښځې به ځانله ځانله تراويح کوي . او که د حافظې ښځې نه د قرآن کريم هيريدو يَره وي نو د امامت نه بغير به همداسې تلاوت کوي . (۱)

دا مسئله د فِقهې په کتابونو متونو او شروحو کې صراحتًا ذکر ده . لکه په نورالايضاح قدوري ، کنزالدقائق ، طحطاوي ، بحر ، زيلعي ، رمز ، هداية ، مجمع الانهر ، درمختار ، ردالمحتار ، فتح القدير ، نهايه ، کفاية ، او عناية کې . (۲)

( **نوټ** : "د ښځو د امامت مسئله" پوره تفصيل او دلائلو سره ما ددې (اِصْلَاحِيْ مُدَلَّلْ تَقْرِيْرُوْنه) کتاب په اتم (۸) جلد کې د صفحه ۳۶۲ نه صفحه ۳۶۷ پورې ذکر کړی ، هلته يې اوګوره . ابوالشمس عفي عنه)

## په تراويحو کې د نابالغه ماشوم ، او مُراهق د اِمامت حُکم

( **نوټ** : دا مسئله پوره تفصيل او دلائلو سره ما ددې (اِصْلَاحِيْ مُدَلَّلْ تَقْرِيْرُوْنه) کتاب په اتم (۸) جلد کې د صفحه ۳۲۸ نه صفحه ۳۳۰ پورې ذکر کړی ، هلته يې اوګوره . ابوالشمس عفي عنه)

---

(۱) قَال الحصكفيّ: (وَ) يُكْرَهُ تَحْرِيْمًا (جَمَاعَةُ النِّسَاءِ) وَلَوْ فِي التَّرَاوِيْحَ . الدرالمختار ۱ / ۵۶۵ باب الامامة ، فتاوی عثمانيه ج۲ ص ۳۴۶ باب التراويح .

(۲) نورالايضاح ص ۹۵ فصل في الاحق بالامامة و ترتيب الصفوف ، قدوري ص ۲۹ باب صفة الصلاة ، كنزالدقائق ص۲۸ باب الامامة ، طحطاوي ص ۲۴۶ فصل في بيان الاحق بالامامة ، بحرالرائق ج۱ ص ۳۵۱ باب الامامة ، زيلعي ج۱ ص ۱۳۵ باب الامامة ، رمز الحقائق ج۱ ص ۳۹ ، هداية ج۱ ص ۱۲۳ باب الامامة ، مجمع الانهر ج۱ ص ۱۶۴ باب صفة الصلاة فصل في الجماعة ، رد المحتار ج۱ ۵۶۵ باب الامامة مطلب اذا صلى الشافع قبل الحنفي ، فتح القدير ج۱ ص ۳۵۲ ، بناية ج۲ ص ۳۹۶ ، كفاية ج۱ ص ۲۵۲ ، عناية ج۱ ص ۳۵۲ باب الامامة ، فتاوی محموديه ج۹ ص ۴۳۹ عورتوں کی جماعت .

## د يو کس د پاره په دوه ځايونو کې د تراويحو امامت کول ناجائز دی

د يو امام د پاره په دوه جُماتونو کې د تراويحو امامت کول ناجائز دی. خو که مقتدي په جُمات کې د امام پسې تراويح اوکړي او اوس په بل جُمات کې د بل امام پسې تراويح اداء کوي نو دا جائز دي، خو وِتر واجب به دوباره نه اداء کوي.(۱)

## په تراويحو کې يو ځل د قرآن کريم ختم کول سُنت دی

د رمضان په مياشت کې په تراويحو کې يو ځل ختم کول سُنت دی، لهذا دا به د قوم د سستۍ په وجه نشي پريخودی، دويمه ځل ختم کول فضيلت دی، او دريمه ځل (يعنی په هره عشره کې يو ختم کول) ډير افضل دی.(۲)

---

(۱) إِمَامٌ يُصَلِّي التَّرَاوِيحَ فِي مَسْجِدَيْنِ فِي كُلِّ مَسْجِدٍ عَلَى الْكَمَالِ لَا يَجُوزُ. كَذَا فِي مُحِيطِ السَّرَخْسِيِّ وَالْفَتْوَى عَلَى ذٰلِكَ، كَذَا فِي الْمُضْمَرَاتِ. وَالْمُقْتَدِي إِذَا صَلَّاهَا فِي مَسْجِدَيْنِ لَا بَأْسَ بِهِ وَلَا يَنْبَغِي أَنْ يُوتِرَ فِي الْمَسْجِدِ الثَّانِي. الفتاوى الهندية ۱۱۶/۱ فَصْلٌ فِي التَّرَاوِيحِ. هكذا في بدائع الصنائع فصل في سننها ۲۷۸/۲، حاشية الطحطاوي على مراقي الفلاح فصل في صلاة التراويح ص ۳۳۵، فتاوى عثمانيه ج۲ ص ۳۳۷ باب التراويح

(۲) وفي الهندية: اَلسُّنَّةُ فِي التَّرَاوِيحِ إِنَّمَا هُوَ الْخَتْمُ مَرَّةً فَلَا يُتْرَكُ لِكَسَلِ الْقَوْمِ. كَذَا فِي الْكَافِي..... وَالْخَتْمُ مَرَّتَيْنِ فَضِيلَةٌ، وَالْخَتْمُ ثَلَاثَ مَرَّاتٍ أَفْضَلُ. كَذَا فِي السِّرَاجِ الْوَهَّاجِ. الفتاوى الهندية ۱ / ۱۱۷ فَصْلٌ فِي التَّرَاوِيحِ.

قال ابن نجيم: وَالْجُمْهُورُ عَلَى أَنَّ السُّنَّةَ الْخَتْمُ مَرَّةً فَلَا يُتْرَكُ لِكَسَلِ الْقَوْمِ وَيُخْتَمُ فِي اللَّيْلَةِ السَّابِعِ وَالْعِشْرِينَ لِكَثْرَةِ الْإِخْبَارِ أَنَّهَا لَيْلَةُ الْقَدْرِ. وَمَرَّتَيْنِ فَضِيلَةٌ وَثَلَاثُ مَرَّاتٍ فِي كُلِّ عَشْرٍ مَرَّةً أَفْضَلُ كَذَا فِي الْكَافِي. البحر الرائق شرح كنز الدقائق ۷۴/۲ بَابُ الْوِتْرِ وَالنَّوَافِلِ صَلَاةُ التَّرَاوِيحِ

قال العلامة الحصكفي رحمه الله: (وَالْخَتْمُ) مَرَّةً سُنَّةٌ، وَمَرَّتَيْنِ فَضِيلَةٌ، وَثَلَاثًا أَفْضَلُ. (وَلَا يُتْرَكُ الْخَتْمُ (لِكَسَلِ الْقَوْمِ) لٰكِنْ فِي الْإِخْتِيَارِ الْأَفْضَلُ فِي زَمَانِنَا قَدْرُ مَا لَا يَثْقُلُ عَلَيْهِمْ، وَأَقَرَّهُ الْمُصَنِّفُ وَغَيْرُهُ. وَفِي الْمُجْتَبٰى عَنِ الْإِمَامِ: لَوْ قَرَأَ ثَلَاثًا قِصَارًا أَوْ آيَةً طَوِيلَةً فِي الْفَرْضِ فَقَدْ أَحْسَنَ وَلَمْ يُسِئْ. فَمَا ظَنُّكَ بِالتَّرَاوِيحِ؟ وَفِي فَضَائِلِ رَمَضَانَ لِلزَّاهِدِيِّ: أَفْتَى أَبُو الْفَضْلِ الْكِرْمَانِيُّ وَالْوَبَرِيُّ أَنَّهُ إِذَا قَرَأَ فِي التَّرَاوِيحِ الْفَاتِحَةَ وَآيَةً أَوْ آيَتَيْنِ لَا يُكْرَهُ، وَمَنْ لَمْ يَكُنْ عَالِمًا بِأَهْلِ زَمَانِهِ فَهُوَ جَاهِلٌ. الدر المختار ۲/ ۴۶ بَابُ الْوِتْرِ وَالنَّوَافِلِ مَبْحَثُ صَلَاةِ التَّرَاوِيحِ.

بعضې مشائخ وايي چې که دا ختم په اُووه ويشتمه (۲۷) شپه د رمضان باندې خلاص شي نو بهتره به وي. (۱)

## په رمضان کې يو قاري ډېر ختمونه کولې شي

( **نوټ**: دا مسئله پوره تفصيل او دلائلو سره ما ددې (اِصْلَاحِيْ مُدَلَّلْ تَقْرِيْرُوْنه) کتاب په اتم (۸) جلد کې د صفحه ۳۷۲ نه صفحه ۳۷۴ پورې ذکر کړې، هلته يې ضرور اوګوره. ابوالشمس عفي عنه)

(۱) وَيَنْبَغِيْ لِلإِمَامِ إِذَا أَرَادَ الْخَتْمَ أَنْ يَخْتِمَ فِيْ لَيْلَةِ السَّابِعِ وَالْعِشْرِيْنَ. كَذَا فِي الْمُحِيْطِ.... وَحُكِيَ أَنَّ الْمَشَايِخَ رَحِمَهُمُ اللهُ تَعَالٰى جَعَلُوا الْقُرْآنَ عَلٰى خَمْسِ مِائَةٍ وَأَرْبَعِيْنَ رُكُوْعًا وَأَعْلَمُوْا ذٰلِكَ فِي الْمَصَاحِفِ حَتّٰى يَحْصُلَ الْخَتْمُ فِيْ لَيْلَةِ السَّابِعِ وَالْعِشْرِيْنَ. الفتاوى الهندية ۱۱۸/۱ فَصْلٌ فِي التَّرَاوِيْحِ.

بِسْمِ اللّٰهِ الرَّحْمٰنِ الرَّحِيْمِ

# د خُوشحالۍ خبر

**د لسم (۱۰) جلد مُسَوّده تیاره شوې ده اِنْ شَاءَ اللّٰه هغه به هم ډیر زر راأووځي ، د الله ﷻ په توفیق سره به دا سلسله همداسې جاري وي ، ځکه تر اوسه ډیرې اَهمې موضوع ګانې د لیکلو نه پاتې دي .**

په خپلو خصوصي دُعاګانو کې مو یاد ساتئ

سناسو ورور

ابوالشمس نورالهدا عفی عنه

موبائل نمبر : ۰۳۰۶ ۵۴۴۷۱۷۴

بِسْمِ اللهِ الرَّحْمٰنِ الرَّحِيْمِ

# د تقرير شروع کولو نه مخکې يو څو نورې خطبې

د تقرير شروع کولو نه مخکې چې کومه خطبه ويلې شي هغه ما د هر تقرير په شروع کې ليکلې ده ،خو دلته درته يو څو نورې نوې خُطبې ليکم ،خطيبان د تقرير شروع کولو نه مخکې دا خطبې هم ويلې شي . د هرې موضوع موافق آيت او حديث دې ورسره ملګرې کوي

اَلْحَمْدُ لِلّٰهِ رَبِّ الْعَالَمِيْنَ ، وَالصَّلَاةُ وَالسَّلَامُ عَلَى الْمَبْعُوْثِ رَحْمَةً لِّلْعَالَمِيْنَ ، وَعَلٰى آلِهٖ وَأَصْحَابِهٖ وَمَنِ اهْتَدٰى بِهَدْيِهِمْ ، وَسَارَ عَلٰى نَهْجِهِمْ ، وَاتَّبَعَ طَرِيْقَتَهُمْ إِلٰى يَوْمِ الدِّيْنِ .
اَمَّا بَعْدُ فَأَعُوْذُ بِاللهِ مِنَ الشَّيْطٰنِ الرَّجِيْمِ بِسْمِ اللهِ الرَّحْمٰنِ الرَّحِيْمِ. قَالَ اللهُ تَبَارَكَ وَتَعَالٰى فِى الْقُرْآنِ الْمَجِيْدِ وَالْفُرْقَانِ الْحَمِيْدِ ......................
وَقَالَ رَسُوْلُ اللهِ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ ......................
صَدَقَ اللهُ الْعَظِيْم

---

اَلْحَمْدُ لِلّٰهِ ، وَالصَّلَاةُ وَالسَّلَامُ عَلٰى سَيِّدِنَا رَسُوْلِ اللهِ ، وَعَلٰى آلِهٖ وَصَحْبِهٖ وَمَنْ وَالَاهُ .
اَمَّا بَعْدُ فَأَعُوْذُ بِاللهِ مِنَ الشَّيْطٰنِ الرَّجِيْمِ بِسْمِ اللهِ الرَّحْمٰنِ الرَّحِيْمِ. قَالَ اللهُ تَبَارَكَ وَتَعَالٰى فِى الْقُرْآنِ الْمَجِيْدِ وَالْفُرْقَانِ الْحَمِيْدِ ......................
وَقَالَ رَسُوْلُ اللهِ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ ......................
صَدَقَ اللهُ الْعَظِيْم .

---

حَمْدًا لِلّٰهِ ، وَصَلَاةً وَسَلَامًا عَلٰى رَسُوْلِ اللهِ .
اَمَّا بَعْدُ فَقَدْ قَالَ اللهُ تَبَارَكَ وَتَعَالٰى فِى الْقُرْآنِ الْمَجِيْدِ وَالْفُرْقَانِ الْحَمِيْدِ : ..........

وَقَالَ رَسُوْلُ اللهِ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ ..........................

صَدَقَ اللهُ الْعَظِيْم.

---

اَلْحَمْدُ لِلّٰهِ رَبِّ الْعَالَمِيْنَ، وَصَلَاتُهُ وَسَلَامُهُ عَلَى مُحَمَّدٍ خَاتَمِ النَّبِيِّيْنَ، وَآلِهِ أَجْمَعِيْنَ.

أَمَّا بَعْدُ فَأَعُوْذُ بِاللهِ مِنَ الشَّيْطٰنِ الرَّجِيْمِ بِسْمِ اللهِ الرَّحْمٰنِ الرَّحِيْمِ. قَالَ اللهُ تَبَارَكَ وَتَعَالٰى فِي الْقُرْآنِ الْمَجِيْدِ وَالْفُرْقَانِ الْحَمِيْدِ: ..........................

وَقَالَ رَسُوْلُ اللهِ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ ..........................

صَدَقَ اللهُ الْعَظِيْم.

---

اَلْحَمْدُ لِلّٰهِ رَبِّ الْعَالَمِيْنَ، وَالصَّلَاةُ وَالسَّلَامُ عَلَى أَشْرَفِ الْمُرْسَلِيْنَ، سَيِّدِنَا مُحَمَّدِ الصَّادِقِ الْوَعْدِ الْأَمِيْنِ، وَعَلَى آلِهِ وَأَصْحَابِهِ وَمَنِ اهْتَدٰى بِهَدْيِهِمْ إِلٰى يَوْمِ الدِّيْنِ.

أَمَّا بَعْدُ فَقَدْ قَالَ اللهُ تَبَارَكَ وَتَعَالٰى فِي الْقُرْآنِ الْمَجِيْدِ وَالْفُرْقَانِ الْحَمِيْدِ: ..........

وَقَالَ رَسُوْلُ اللهِ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ ..........................

صَدَقَ اللهُ الْعَظِيْم.

---

**نوټ**: د جُمعې د تقرير څه نورې خطبې د دې (اِصْلَاحِيْ مُدَلَّلْ تَقْرِيْرُوْنه) کتاب د پنځم جلد په آخر کې د صفحه ۳۴۴ نه تر ۳۴۶ پورې هم ذکر دي، هلته يې اوګوره.

ابو الشمس عفي عنه

په مختلفو ژبو ( یعنی پښتو ، اردو ، عربي ، فارسي او انګریزي )
کې د تقریر استعداد پیدا کولو د پاره اَولني ، بې مِثله ، نایاب ، جامِع ،
عِلمي او تحقیقي کتاب :

# هر تقریر په مُختلفو ژبو کې

## کُلُّ خُطبَةٍ بِلُغَاتٍ مُختَلِفَةٍ

## ہر تقریر مختلف زبانوں میں

## هر تقریر در زبان های مختلف

## Every speech in different Languages

تالیف


اَبو الشَّمس مولانا نُورُ الهُدیٰ عُفِيَ عَنهُ

مُدَرِّس دَارُ العلوم فیضُ القُرآن اکاخیل کالونی مردان

علماء، طلباء، مقرّرین، اور عام مسلمانوں کے لئے مختلف موضوعات پر تقاریر کا ایک مُفصّل، مُستند، علمی اور تحقیقی ذخیرہ:

# اِصلاحی مُدلّل تقاریر

تالیف

ابوالشمس مولانا نور الھدیٰ عفی عنہ

مدرّس دار العلوم فیض القرآن اکاخیل کالونی مردان

مترجم

مولانا مفتی شکیل احمد صاحب

مدرّس دار العلوم عثمانیہ ادینہ صوابی

متخصص جامعہ فاروقیہ کراچی، ایم اے عربی عبدالولی خان یونیورسٹی مردان

## اول جلد

١. د توبې اَهميت ، فضيلت او احکام
٢. د الله ﷻ رحمت او مهرباني
٣. د ګناهونو نقصانات
۴. د عِلم فضيلت او اَهميت
۵. د علماؤ او طلباؤ مقام
٦. د درودِ شريف فضيلت او اَهميت

## دويم جلد

١. حقوق الوالدين ( يعنى د مور او پلار حقوق )
٢. عُقوقُ الوالدين ( يعنى د مور او پلار نافرماني او د هغې سزا )
٣. د مرګ بيان
۴. د صبر فضيلت او اَهميت
۵. د قبر عذابونه او نعمتونه

## دريم جلد

١. د زکوة اَهميت ،فضيلت او احکام
٢. د زکوة نه ورکوونکي عذابونه
٣. د صدقې ورکولو فضيلت او فوايد
۴. د خرچ کولو اَهميت ، او د سخاوت فضيلت
۵. په مخلوقاتو کې د الله ﷻ د قدرت نخې

## څلورم جلد

١. د نبي ﷺ اتباع او اطاعت
٢. نبي ﷺ سره د مَحبت کولو وُجوب او لزوم
٣. د نبي ﷺ په سُنتو باندې د عمل کولو سائنسي او طِبي فوائد
۴. د ګيرې پريخودلو اَهميت ، او د خرِيلو يا قبضې نه د کمولو سزاګانې

## پنځم جلد

١. د قرآن کريم د تلاوت کولو فضائِل او فوائد
٢. د حافظانو او د قرآن کريم سره د تعلق لرونکو خلقو مقام
٣. د قرآن کريم اعجاز
۴. قرآن کريم يو انقلابي او مُؤثِر کتاب دی
۵. د قرآن کريم د تعظيم او عمل په وجه الله ﷻ قومونو ته ترقي ورکوي

## شپږم جلد

١. د حلال کسب اَهميت او فوائد
٢. د حلال خوراک اَهميت او فوائد
٣. د حرام خوراک سزاګانې او نقصانات
۴. د مُشتبه شيانو نه ځان ساتل
۵. د سُود خوړلو سزاګانې او نقصانات
٦. د نبي ﷺ معجزات
٧. نبي ﷺ ته د مخکينې پيغمبرانو په نسبت بهترينې معجزې ورکړې شوې دی
٨. د علم او کماله ډکه رساله

## اووم جلد

١. په اسلام کې د مانځه اَهميت او مقام
٢. د مانځه فضائِل او فوائد
٣. بغير عُذره د مونځ پريخودلو سزاګانې او نقصانات
۴. په جمعې سره د مونځ کولو اَهميت او فضائِل
۵. بغير عذره د جمعې پريخودو سزاګانې
٦. په مانځه کې د خشوع اَهميت
٧. د ټول مونځ معنٰی

## اتم جلد

١. د مانځه متعلق ضروري بحثونه
٢. د مانځه متعلق ضروري فِقهي مسائل
٣. د سجدهٔ سهوې متعلق ضروري مسائل
۴. د مسبوق څنې ضروري مسائِل
۵. د قضا مونځونو باره کې فِقهي مسائل
٦. د مانځه متعلق مُتفرق فِقهي مسائِل
٧. د مسافر د مانځه متعلق ضروري فِقهي مسائِل
٨. د امامت متعلق څنې ضروري مسائل

## نهم جلد

١. د رمضانُ المبارک د مياشتې فضيلت
٢. د رمضانُ المبارک د روژو اهميت او بغير عُذره د پريخودو سزاګانې
٣. د رمضان المبارک د روژو فضائِل فوائِد او حکمتونه
۴. د شَل رکعته تراويحو ثبوت او فضائِل
۵. د روژې متعلق فِقهي مسائل
٦. د تراويحو متعلق فِقهي مسائل




مکتبه اعزازیه
جاده میوند پخته فروشی کابل: 0764857797